د میرویس اباسین لخوا سکین شو

# عزیز التفاسیر

د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

[illegible]

[illegible]

ناشر

دار الکنوز العلمیة

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بسم الله الرحمن الرحیم

- د دې کتاب لیکنه د الله ﷻ په توفیق په دار الهجرة (پېښور - پاکستان) کې په ۱٤۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳٦۹/٦/۲ هـ ش نیټه د جمعې د شپې په دوه بجو پیل، او په ۱٤۲٦/٤/۱۲ هـ ق = ۱۳۸٤/۱/۳۱ هـ ش نیټه پای ته ورسیده.
- په ۱٤۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸٦/۱۰/۲۰ هـ ش نیټه یې بیا کتنه، تصحیح او ډیزاین ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.
- له شروع نه تر پایه ورباندې اوولس کاله، څلور میاشتې او اوولس ورځې تیرې شوي، البته په دې حساب کې هره میاشت د دیرشو ورځو په لحاظ نیولې شوې ده.
- کمپوز: مولوي تبیان الحق عزیز حقاني. تصحیح: قاضي اسامه عزیز، د (دکتور اظهار الحق عزیز، نبراس الحق عزیز او حذیفه عزیز) په همکارۍ. ډیزاین: نبراس الحق عزیز، د حذیفه عزیز په همکارۍ.

# څلورم چاپ

## ۱٤۳۷ هـ ق / ۱۳۹۵ هـ ش

**د دې کتاب ټول حقوق محفوظ دي**

.................................................................................................

د اړیکو پتې:

۱) برېښنالیک azizultafasir@gmail.com

۲) ګرځنده تلفون (۰۰۹۲۳۰۰۵۸۴۶۳۵۱)، (۰۰۹۲۳۱۶۵۲۷۹۳۰۳)

د لاسته راوړلو پتې:

۱) رشیدیه کتب خانه ، کابل، افغانستان.

ګرځنده تلفون (۰۷۷۱۹۶۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹۶۲۸۰۷)

۲) رشیدیه کتب خانه ، صدف پلازه، محله جنګي، د قصه خواني شاته، پېښور، پاکستان.

تلفون (۰۹۱۲۵٦٥٥۳۸)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

بسم الله الرحمن الرحيم

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ أَفَرَءَيۡتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلۡعُزَّىٰ ﴿١٩﴾ وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ ﴿٢٠﴾ أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلۡأُنثَىٰ ﴿٢١﴾
تِلۡكَ إِذٗا قِسۡمَةٞ ضِيزَىٰٓ ﴿٢٢﴾ إِنۡ هِيَ إِلَّآ أَسۡمَآءٞ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا
مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَمَا تَهۡوَى ٱلۡأَنفُسُۖ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ ٱلۡهُدَىٰٓ
﴿٢٣﴾ أَمۡ لِلۡإِنسَٰنِ مَا تَمَنَّىٰ ﴿٢٤﴾ فَلِلَّهِ ٱلۡأٓخِرَةُ وَٱلۡأُولَىٰ ﴿٢٥﴾ وَكَم مِّن مَّلَكٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ لَا
تُغۡنِي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـًٔا إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ أَن يَأۡذَنَ ٱللَّهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرۡضَىٰٓ ﴿٢٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا
يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ لَيُسَمُّونَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ تَسۡمِيَةَ ٱلۡأُنثَىٰ ﴿٢٧﴾ وَمَا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِن يَتَّبِعُونَ
إِلَّا ٱلظَّنَّۖ وَإِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغۡنِي مِنَ ٱلۡحَقِّ شَيۡـٔٗا ﴿٢٨﴾ ﴾

[۱۹] (ای مشرکانو! مونږ ته) خبر راکړئ چې ایا نو تاسو د لات او عُزی (په نومونو بوتانو) ته.

[۲۰] او (هم) د مناة (په نامه) دریم وروستني بوت ته (د بنات الله لقب ورکوئ او د عبادت مستحق یې ګڼئ)؟

[۲۱] ایا ستاسو دپاره نارینه (اولادونه) دي او الله ﷻ ته ښځینه (اولادونه) دي؟.

[۲۲] دغه (وېش) په دغه وخت کښې بې عدالته وېش دی (او د بې انصافۍ او نواقصو ډک دی).

[۲۳] دا بوتان نه دي مګر محض نومونه دي چې تاسو او ستاسو پلرونو (پرې) نومولي دي (او هیڅ واقعیت نه لري او عقل یې نه شي قبلولی او په دې باندې علاوه) الله ﷻ ورباندې (د ثبوت په هکله) هیڅ دلیل نه دی نازل کړی (که بالفرض واقعیت یې درلودی نو په نقلي دلیل به یې ضرور ثبوت موندلی وی).

(نو په همدې بنیاد) مشرکان پیروي نه کوي مګر د ګومان (خیال) او د هغه شي کوم چې د دوی نفسونه یې غواړي، حال دا چې دوی ته د خپل رب ﷻ د پلوه پوره لارښودانه ورغلې ده (خو دوی د پښو لاندې کړې ده او په وهمیاتو پسې ځغلي).

[۲۴] ایا انسان ته هغه شی شته (لاس ته ورځي) د کوم چې آرزو کوي؟

[۲۵] (دغسې نه ده) ځکه چې خاص الله ﷻ لره وروستنۍ دنیا او اولنۍ دنیا ده (په دواړو کښې فقط د همده ﷻ حکم چلېږي او بس).

[۲۶] (د همدې کبله) په اسمانونو کښې ځومره ډېرې پرښتې دي چې شفاعت یې (هیچا ته) د هیڅ شي ګټه نه شي رسولی، مګر د هغه ځخه وروسته چې الله ﷻ ورته د هغه چا دپاره اجازه وکړي کوم ته یې چې اراده وشي او (په شفاعت کولو یې) راضي شي. (حال دا چې د کفارو شفاعت ته نه الله ﷻ اراده کوي او نه ورباندې راضي کېږي).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۷] یقیناً کوم کسان چې په وروستني کور باندې باور نه کوي هرومرو هغوی پرښتې د ښځینه مخلوق په نوم سره نوموي (او د بنات الله لقب ورکوي).

[۲۸] حال دا چې هغوی ته په دغه (نومولو) باندې هیڅ (عقلي او نقلي) علم شتون نه لري. (بلکې) هغوی پیروي نه کوي مګر د ګومان (او وهم)، او یقیناً ګومان (او وهم) د حق (او واقعیت) څخه هیڅ شی نه شي افاده کولی (او حقیقت ته هیڅ تغیر نه شي کولی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د اسلام د دین حقانیت او عجیبه کیفیات نازل شوي وه او په دې ایتونو کښې د مشرکانو د خرافي دین خو ټکو ته اشاره کېږي، ترڅو هغوی د مقایسې په توګه د خپل دین په بطلان باندې اعتراف وکړي. نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه او د پوښتنې په توګه ورته ووایه چې:

۱ـ ای مشرکانو! ایا نو تاسو د اسلامي دین په حقانیت باندې د پوهېدلو سره-سره د بوتانو عبادت ته ادامه ورکوئ؟ یا په بل عبارت: ایا تاسو د لات او عُزی په نومونو او هم د وروستني درېیم منات په نوم بوتانو عبادت کوئ حال دا چې په ثبوت باندې یې ستاسو په لاس کښې هیڅ برهان او دلیل نشته؟

۲ـ ایا ستاسو دپاره نارینه اولادونه غوره برېښي حال دا چې همدا ستاسو په نزد د الله ﷻ دپاره زنانه اولادونه دي چې پرښتو ته بلا دلیله د لورګانو لقب ورکوئ؟. دغه وېش په دغه وخت کښې چې ستاسو د ګومان مطابق دی، ډېر بد وېش او بد قسمت دی، چې په حقیقت کښې خپلو ځانونو ته په الله ﷻ باندې فضیلت ورکوئ. ایا دغه کار الله ﷻ ته په کم نظر کتل نه دي چې د یو پلوه د ولدیت په ثابتولو د جنایت مرتکب وګرځېدلئ او د بله پلوه مو د تحقیر او سپک نظر جنایت په غاړه واخست؟.

۳ـ ای مشرکانو! حقیقت دا دی چې ستاسو بوتان نه دي مګر محض نومونه دي چې تاسو او ستاسو پلرونو ورباندې ایښي دي او هیڅ واقعیت نه لري، او دا ځکه چې واقعیت هغه شی درلودلی شي په کوم باندې چې الله ﷻ څه دلیل او برهان نازل کړی وي، لکه څنګه یې چې د اسلام د دین په واقعیت باندې نازل کړی دی. اما د دغو بوتانو او باطلو معبودانو په واقعیت باندې الله ﷻ هیڅ دلیل نه دی نازل کړی او نه یې په ثبوت کوم دلیل شته.

۴ـ نو ای پیغمبره! په همدې بنیاد مشرکان د هیڅ ثابت شي پیروي نه کوي مګر د خپل ګومان پیروي کوي او په هغه شي پسې روان دی او ورپسې ځغلي کوم یې چې نفسونه او شهوتونه غواړي. حال دا چې همدوی ته د خپل رب ﷻ د پلوه ښه پوره هدایت ورغلی دی او په براهینو سره ورته حقاني دین نازل شوی دی، خو دوی ورته شا کړې ده او په باطلو پورې کلک نښتي دي.

۵ـ مشرکان خو د دې کبله د بوتانو عبادت ته ادامه ورکوي چې د شفاعت کولو تمه ورته لري، حال دا چې هره یوه آرزو واقعیت نه شي موندلی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت: ایا انسان ته هر هغه شی لاس ته ورځي د کوم چې آرزو کوي؟ واقعیت دا دی چې د دنیا او آخرت کارونه ټول د الله ﷻ د ارادې پورې اختصاص لري، نو بدون د ده ﷻ د ارادې څخه نه په دنیا کښې ګټه او تاوان صورت نیولی شي او نه په آخرت کښې کوم شی په درد خوري او ځوک خپلې آرزو ته رسېدلی شي.

۶_ نو د همدې کبله په اسمانونو کښې څومره ډېرې لوړ رتبه پرښتې دي چې په آخرت کښې یې شفاعت کول هیڅا ته ګټه نه شي رسولی او نه د چا په درد دوا کېږي، مګر هله چې الله ﷻ ورته د شفاعت کولو اذن وکړي، او پوره واضحه ده چې د الله ﷻ د پلوه د هغه چا په هکله د شفاعت کولو اذن صورت نیسي کوم ته چې الله ﷻ اراده وکړي او کوم ته چې همدی ﷻ په شفاعت کولو راضي شي، حال دا چې الله ﷻ نه د کفارو شفاعت ته اراده کوي او نه یې په شفاعت کولو باندې خوښ او راضي دی، او دا ځکه چې هغوی په دنیا کښې د توحید عقیده نه وه خپله کړې او په شرکي عقیده کلک وه.

۷_ ای پیغمبره! کوم کسان چې په آخرت عقیده نه لري د هغوی کفریات یوازې په بوت پرستی کښې منحصر نه دی بلکې هغوی نورې کفري خبرې هم کوي. د مثال په توګه: هغوی وایي چې لات، عُزی، مناة درېواړه بوتان د الله ﷻ لورګانې دي، او همدارنګه هغوی په پرښتو باندې هم د ښځینه مخلوق اطلاق کوي او وایي چې دوی د الله ﷻ لورګانې دي، حال دا چې الله ﷻ په ﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴾ باندې موصوف دی.

په دې باندې علاوه هغوی ته د خپلې ذکرې شوې خبرې په ثبوت باندې څه علم نشته چې د کوم عقلي یا نقلي دلیل څخه یې سرچینه اخستې وي او ،، هغوی د پرښتو د خلق په وخت کښې موجود وه چې په خپلو سترګو یې لیدلې وي. بلکې فقط هغوی پرته د کوم دلیله د ګومان او وهم پیروي کوي حال دا چې دغه کار د حق څخه هیڅ شی نه شي افاده کولی او نه حقیقت او واقعیت ته څه بدلون ورکولی شي.

## توضیحات

۱_ که څه هم مشرکانو زښت ډېر بوتان درلودل خو په ﴿ أَفَرَءَيْتُمُ ٱللَّٰتَ ﴾ الآية- کښې د درېو بوتانو نومونه ځکه یاد کړی شوه چې دا ډېر مشهور وه او په عبادت یې زښت ډېر خلک اخته وه.

۲_ د دغو درېواړو بوتانو (اللّات، العُزّى، المَناة) په ارتباط مفسرینو کرامو په متعددو لحاظونو سره بحثونه کړي دي[1]، د مثال په توګه: ځینو یې صرفي تحلیل (اشتقاق) ته توجه کړې ده او په دغو نومونو سره یې د نومولو وجوهو ته اشاره کړې ده، ځینو یې اشکال شرحه کړي دي چې څنګه-څنګه څېرې یې درلودې، ایا مشرکانو په خپلو لاسونو جوړ کړي وه او که صنعت پکښې څه دخل نه

(1) روح المعاني ج۲۷ ص۵۵: تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۱۰۰: تفسیر الکشاف ج۴ ص۴۲۳: تفسیر القاسمي ج۱۵ ص۲۳۹: تفسیر الطبري ج۲۷ ص۶۰: اللباب في علوم الکتاب ج۱۸ ص۱۷۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درلود بلکې اصلي دېرې او ونې وې؟ او بالآخره ذکر شوي بوتان په کومو کومو وطنونو کښې معبودان ګرځولی شوي وه او په کومو کومو ځایونو کښې یې موقعیت درلود او داسې نور.

خو مونږ په همدې اړوند فقط د لاندې څلورو ټکو په لیکلو باندې اکتفاء کوو:

اول: د اُحد د غزا په پای کښې اَبو سفیان ـچې په دغه وخت کښې د "رضي الله عنه" لایق نه وهـ په صحابه وو کرامو ﷺ باندې غږ وکړ چې: "لَنَا الْعُزّٰى وَلَا عُزّٰى لَكُمْ" یعنې مونږ د عُزی په نوم بوت لرو او تاسو عُزی نه لرئ. نو نبي کریم ﷺ مجاهدینو ته جواب ورزده کړ چې ووایي: «اللهُ مَوْلَانَا وَلَا مَوْلَى لَكُمْ»[1] یعنې الله ﷻ زمونږ ناصر (مددګار) دی او تاسو ته ناصر نشته.

دوهم: د جاهلیت په زمانه کښې د همدغو بوتانو په نامه هم مشرکانو سوګندونه یادول او په همدې باندې عادت شوي وه، چې د اسلام څخه وروسته به هم د ځینو په ژبه بلا اختیاره کله-کله دغه ډول سوګندونو جریان پیدا کاوه. نو د همدې کبله نبي کریم ﷺ ورته په یوه حدیث کښې ارشاد وفرمایه چې: «مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ وَاللَّاتِ وَالْعُزّٰى فَلْيَقُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ»[2] یعنې هر چا چې د سوګند یادولو په وخت کښې بلا اختیاره په لات او عُزی باندې سوګند یاد کړ نو سمدستي دې د توحید کلمه ووایي او د شرکي وخت عادت دېورباندې د منځه یوسي.

درېم: کله چې مکه معظمه فتحه شوه نو ذکر شوي درېواړه بوتان د نبي کریم ﷺ په امر د مجاهدینو په لاس میده میده شوه او د منځه لاړه[3].

څلورم: د وخت مشرکانو لکه څنګه چې پرښتو ته د بنات الله لقب ورکاوه همدارنګه یې ذکر شوي درېواړه بوتان هم په همدغه لقب باندې بلل[4]؛ د همدې کبله الله ﷻ د دغو بوتانو د نومونو په تعقیب د ﴿ أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلْأُنثَىٰ ﴾ ایت هم نازل کړ.

## نحوي تحلیلونه

۳ـ په دې مقام کښې باید لاندې تحلیلونه په نظر کښې ونیولی شي:

الف: په ﴿ أَفَرَءَيْتُمُ ٱللَّٰتَ ﴾ کښې د ﴿ أَفَرَءَيْتُم ﴾ کلمه ـلکه څنګه چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام: ۴۰] ایت لاندې لیکلي دي ـ د "أَخْبِرُونِي" معنی ورکوي، چې دوه مفعوله غواړي: لومړی مفعول یې په دې مقام کښې د خپلو معطوفاتو سره د ﴿ ٱللَّٰتَ ﴾ کلمه ده، او په دوهم مفعول کښې یې مفسرینو کرامو متعدد اقوال کړي دي[5] مونږ ته پکښې دا غوره برېښي چې دوهم مفعول به یې مقدر وي چې په "أَهُنَّ بَنَاتُ اللهِ" سره ترې تعبیر کېدلی شي.

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۵۷۹
(۲) صحيح البخاري ص۲ ص۷۲۱
(۳) تفسير ابن كثير ج۴ ص۲۵۴
(۴) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۲۶۷
(۵) تفسير ابي السعود ج۸ ص۱۵۸؛ تفسير القاسمي ج۱۵ ص۲۴۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په ﴿ وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلْأُخْرَىٰٓ ﴾ کښې د "أُخْرَیٰ" کلمه لاندې دوه احتماله درلودلی شي:

اول: چې دا کلمه د "آخَر" ـ لکه "آزَر" ـ دپاره مؤنثه وګڼله شي[۱]، په دې تقدیر به د "مَنَاة" دپاره د ﴿ ٱلثَّالِثَةَ ﴾ غوندې تاکیدي صفت وګرځي چې دواړه صفتونه د "مغایرة" معنی ورکوي کوم چې پوره واضحه دی او بیان ته څه اړتیا نه لري.

دوهم: چې دا کلمه د "آخِر" ـ لکه "کَتِف" ـ دپاره مؤنثه کلمه وګڼله شي چې د وروسته پاتې (حقیر) معنی ورکوي[۲].

د ذکرو شوو تحلیلونو په نظر کښې نیولو سره به یې د معنی حاصل داسې راوخېژي چې:

ای مشرکانو! د دې څخه وروسته چې د الله ﷻ د عالي شان بیان مو واورېد اوس مونږ ته خبر راکړئ چې ایا دغه بوتان ـ چې مناة بوت یې په شمېر کښې درېیم او مغایر او هم وروسته پاتې بوت دی، خو په ناتوانۍ او حقارت کښې درېواړه یو برابر دي ـ بنات الله جوړېدلی شي او د عبادت لیاقت درلودلی شي؟ ایا تاسو د خپلو ځانونو دپاره نارینه اولادونه خوښوئ او ستاسو په ګومان د الله ﷻ دپاره لورګانې دي چې پرښتې دي او ذکر شوي بوتان دي؟.

ج: په ﴿ تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰٓ ﴾ کښې د ﴿ تِلْكَ ﴾ کلمه هغه "قِسْمَة" ته اشاره ده په کوم باندې چې وړاندېنی کلام دلالت کوي. او د ﴿ ضِيزَىٰ ﴾ کلمه پکښې د "ضَيْز" ـ لکه "بَيْع" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د جور (ظلم) او بې عدلۍ معنی ورکوي[۳].

یعني ای مشرکانو! کله چې تاسو د الله ﷻ په هکله دغسې ویشل وکړه نو تاسو د بې عدالتۍ او بې انصافۍ په لاره روان شوئ او د یوې سپینې سترګې د پاسه مو بله سپینه سترګي اختیاره کړه چې ولد مو ورته نسبت کړ او په ولد کښې مو بیا ورته لورګانې تجویز کړې.

## ماثور تفسیر

۴ـ نبي کریم ﷺ دا ایت شریف ﴿ أَمْ لِلْإِنسَٰنِ مَا تَمَنَّىٰ ﴾ د بر بنه تفسیر کړی دی چې فرمایلي یې دي: «إِذَا تَمَنَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَنْظُرْ مَا يَتَمَنَّى فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي مَا يُكْتَبُ لَهُ مِنْ أُمْنِيَّتِهِ»[۴] یعني کله چې ستاسو یو کس څه آرزو کوي نو ودې ګوري چې د څه شي آرزو کوي (قابل د ورکړې ده او که نه؟) ځکه چې یقیناً شان دا دی چې نوموړی کس نه پوهېږي چې د ده دپاره به د آرزو کړې شوي شي څخه څومره برخه ولیکلی شي (او وربه کړی شي)؟.

﴿ فَأَعْرِضْ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ مَبْلَغُهُم مِّنَ

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۵۶
(۲) لسان العرب ج۴ ص۱۵؛ نظم الدرر ج۷ ص۳۲۲
(۳) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۲۶۷؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۸ ص۱۸۳
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۲۷۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلْعِلْمِ ۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ ٱهْتَدَىٰ ﴿٣٠﴾ وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ لِيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔوا۟ بِمَا عَمِلُوا۟ وَيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ بِٱلْحُسْنَى ﴿٣١﴾ ٱلَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلْإِثْمِ وَٱلْفَوَٰحِشَ إِلَّا ٱللَّمَمَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ وَٰسِعُ ٱلْمَغْفِرَةِ ۚ هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ وَإِذْ أَنتُمْ أَجِنَّةٌ فِى بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ ۖ فَلَا تُزَكُّوٓا۟ أَنفُسَكُمْ ۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ ﴿٣٢﴾ ﴾

**[۲۹]** (ای پیغمبره!) نو ته د هغه چا څخه څنګ وکړه کوم چې زمونږ د ذکر (قرآن کریم) څخه مخ اړوي او د حقیر (او نژدې) ژوند څخه پرته نور څه نه غواړي. (او دا ځکه چې:)

**[۳۰]** د پوهې د حیثه د دوی د رسېدلو ځای (فقط) دغه (حقیر ژوند) دی (په اخروي امورو نه پوهېږي). یقیناً ستا رب ﷻ همدې په هغه چا باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې د ده ﷻ د لارې څخه بې لارې شوی دی او همدې ﷻ په هغه چا باندې هم ډېر ښه پوهېږي کوم چې په سمه لاره روان دی.

**[۳۱]** او یوازې په الله ﷻ پورې هغه مخلوقات (د ملکیت په حیث) اختصاص لري کوم چې په اسمانونو کښې موجود دي او کوم چې په ځمکو کښې شتون لري.

(نو الله ﷻ د همدغه کامل قدرت او کامل ملکیت په بنیاد) د دې دپاره (قیامت قائموي) ترڅو هغو کسانو ته په خپلو کړو وړو سره جزا ورکړي کومو چې بدۍ کړې دي (او د جنایتونو مرتکب شوي دي) او هغو کسانو ته په ښایسته مراتبو سره جزا ورکړي کومو چې احسان کړی وي (او خپله عقیده او عمل یې سوچه ګرځولې وي).

**[۳۲]** (دا محسنین) هغه کسان دي کوم چې د لویو ګناهونو او بې شرمه ګناهونو څخه ډډه کوي مګر وړې ګناهونه (چې دا ورته د دې کبله عفوه کړی شوي دي چې:) یقیناً ستا رب ﷻ د پراخه مغفرت درلودونکی دی.

(ای خلکو!) همدی ﷻ لا په هغه وخت کښې په تاسو باندې پوهېد کله یې چې تاسو د ځمکې څخه (د آدم ﷺ په پیدا کولو سره په اول ځل) پیدا کړئ، او په هغه وخت کښې هم کله چې تاسو د مورګانو په ګېډو کښې پټ (پراته) وئ (او هر یوه د جنین لقب درلود).

نو تاسو خپل ځانونه (په قول سره د الله ﷻ په حضور کښې) مه تزکیه کوئ (بلکې په عمل سره یې تزکیه کړئ)، الله ﷻ په هغه چا باندې ډېر ښه علم لري کوم چې (لږ یا ډېر او یا بالکل د ګناهونو څخه) خپل ځان بچ ساتلی وي (او په هر حیث یې تقوی خپله کړې وي).

## د مطلب خلاصه

د مشرکانو د کفریاتو د بیان څخه وروسته په دې ایتونو کښې د ارشاداتو مخ نبي کریم ﷺ ته

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اړولی شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! د خپلې تسلي دپاره لاندې ارشاداتو ته متوجه شه:
۱ـ څرنګه چې مشرکان عناد نیولی دی او د شرکي عقیدې څخه لاس نه اخلي نو د هغه چا څخه مخ واړوه او ناندرۍ ورسره مه وهه (خپل قیمتي وخت ورباندې مه ضائع کوه) کوم چې د لاندې خاصیتونو درلودونکي دي:
الف: چا چې زمونږ ذکر (قرآن کریم) ته شا کړې وي او د جادو او کوډو نوم ورباندې ېږدي.
ب: چا چې دغه حقیر ژوند اصلي هدف نیولی وي او آخرت یې بالکل هېر کړی وي بلکې د دغه نړدې ژوند څخه پرته د بل هیڅ شي اراده نه لري او د هیڅ شي پرواګیر نه وي. یا په بل عبارت: د چا چې دغه د حقیر ژوند کارونه او مزې چړچې د پوهې منتهي وي او د دې څخه وړاندې د هیڅ پوهې درلودونکی نه وي او همدارنګه نه غواړي چې دغه ډول پوهه ترلاسه کړي.
۲ـ ای پیغمبره! د دغسې خلکو په بې ایمانۍ باندې څکه ډېر مه غمژن کېږه چې ستا رب ﷻ په هغه چا باندې ډېر ښه پوه دی کوم چې د همده ﷻ د لارې څخه بې لارې شوي دي، حال دا چې ستا رب ﷻ په هغه چا باندې هم د ښې پوهې درلودونکی دی کوم چې په سمه لاره روان وي او ستا ارشادات یې قبول کړي وي.
۳ـ او دا څکه چې د هغو ټولو مخلوقاتو ملکیت په الله ﷻ پورې اختصاص لري کوم چې په اسمانونو کښې شتون لري او هم کوم چې په ځمکو کښې موقعیت لري، نو د همدغه کامل ملکیت او کامل قدرت په اساس به د قیامت ورځ قائمه کړي ترڅو:
الف: هغو کسانو ته په خپلو بدو عملونو سره جزا ورکړي کومو چې بدي کړې وي او خپله عقیده او عمل یې د جنایتونو څخه نه وي تصفیه (تزکیه) کړی.
ب: او هغو کسانو ته په ډېرو ښایسته مراتبو سره بدله ورکړي کومو چې د عقیدې او عمل په هکله ښایسته لاره غوره کړې وي او په شریعت باندې کلک ولاړ وي.
۴ـ البته دغه په ښایسته لارې باندې تلونکي د هغو کسانو څخه عبارت دي چې:
الف: کومو چې توحیدي عقیده خپله کړې وي او په همدغې عقیدې باندې کلک وي.
ب: کوم چې د کبیره ګناهونو او هم د بې شرمه معاصیوو څخه ځان په څنګوي. مګر د صغیره ګناهونو ارتکاب د هغوی د ښایسته مراتبو په ورکړه باندې کوم اغېز نه اچوي چې ستا د رب ﷻ مغفرت ډېر پراخه دی، که نه نو د صغیره ګناهونو په ارتکاب باندې به یې هم نیولي وی او په دې تقدیر به د معصومو بندګانو څخه پرته هیڅوک د نیونې څخه نه وي بچ شوی. او دا څکه چې:
۵ـ په تاسو باندې خپل رب ﷻ ډېر ښه کامل علم لري بلکې تاسو لا ورته په هغه وخت کښې معلوم وئ په کوم کښې یې چې تاسو د آدم ﷺ په پیدایښت سره د ځمکې څخه پیدا کړئ، او په هغه وخت کښې مو هم ورته حالات ښه پوره معلوم وه کله چې تاسو د مورګانو په ګېډو کښې د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بچیانو په حیث قرار درلود او د یوه حالت څخه بل حالت ته په حرکت کښې وئ. نو ستاسو د پیدایښت او طبیعت سره د صغیره ګناهونو ارتکاب ډېر نژدې دی او څه فاصله ترې نه لري.

۶ـ نو ای بنیادمانو! څرنګه چې الله ﷻ ته ستاسو ټول حالات ښه پوره څرګند دي او په هغه ځا باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې د تقوی خاوند وي، برابره ده چې تقوی یې عقیدوي ښه لري او که عملي، نو تاسو خپل ځانونه مه تزکیه کوئ او د الله ﷻ په وړاندې د تقوی دعوی مه کوئ.

## توضیحات

۱ـ د ذکرو شوو ایتونو څخه د ړومبنیو دوارو ایتونو مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې د خپل اُمت د تعلیم دپاره اشاره کړې ده او فرمایلي دي چې: «وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا»[۱] یعنې ای الله! ته زمونږ دپاره دنیا ډېر مهم مطلوب ونه ګرځوي او نه یې زمونږ د علم (پوهې) منتهي وګرځوې، چې آخرت هېر کړو او ټولې هلې ځلې مو په دنیا پورې خانګړې ګرزولي وي.

## څو نکات

۲ـ په ﴿ٱلَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلْإِثْمِ وَٱلْفَوَٰحِشَ﴾ الآیة- کښې باید لاندې نکاتو ته توجه وکړه شي:

الف: د "اَلْفَوَاحِش" کلمه د "فَاحِشَة" جمعه ده او د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران:۱۳۵] ایت لاندې پوره شرحه شوې ده چې د هغو ګناهونو څخه عبارت ده چې بدي یې د حده زیاته وي او هر څوک یې پېژني، څه لرې نه ده چې په بې شرمه ګناهونو سره ترې تعبیر وکړی شي.

ب: په ﴿إِلَّا ٱللَّمَمَ﴾ کښې د "إِلَّا" توری د منقطعي استثناء دپاره دی[۲].

ج: د "لَمَم" کلمه د لږوالي دپاره وضعه شوې ده لکه چې عرب وایي: "فُلَانٌ يَفْعَلُ كَذَا لَمَمًا" یعنې فلانی سړی دغه کار کله-کله کوي، او هم وایي: "زِيَارَتُهُ اِلْمَامٌ"[۳]. یعنې د فلاني سړي زیارت ډېر لږ دي.

د: د "لَمَم" کلمه علماوو کرامو په دې مقام کښې په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده چې تقریبًا شپږو ته رسېږي[۴]، مګر ظاهره دا ده چې دلته ترې وړې ګناهونه (صغائر) مطلب شي[۵].

هـ: هو! کله-کله یې په مطلق ګناه باندې هم اطلاق کېږي لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنْ تَغْفِرِ اللَّهُمَّ تَغْفِرْ جَمًّا وَأَيُّ عَبْدٍ لَكَ لَا أَلَمَّا»[۶] یعنې ای الله! چې ته مغفرت کوې نو ډېر مغفرت وکړه او دا ځکه چې ستا دپاره کوم یو بنده دی چې هیڅ ګناه یې نه وي کړې (الا من شاء الله). یا په بل عبارت: ستا د شان سره د ډېرو ګناهونو مغفرت زیات تناسب لري چې مهرباني دې ډېره پراخه ده.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۸
(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۶۲
(۳) مفردات الرغب ص۴۷۴
(۴) زاد المسير ج۷ ص۲۳۲
(۵) تفسير القاسمي ج۱۵ ص۲۴۹
(۶) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و: د وړې ګناه او د غټې ګناه د فرق په باب مونږ د [النساء:۳۱] ایت لاندې ښه تحقیقي بحث کړی دی والحمد لله ﷻ، چې بیا تحقیقولو ته یې څه اړتیا نه ګورو.

نو د ایت شریف مضمون به داسې راوخېژي چې: محسنان هغه کسان دي کوم چې د کبیره ګناهونو څخه عمومًا او د بې شرمه کبیره وو ګناهونو څخه خصوصًا اجتناب کوي مګر صغیره ګناهونه ورته د الله ﷻ د پلوه عفوه دي، خو د دې کبله نه چې دا ډول ګناهونه معاصي نه دي بلکې د دې کبله ورته عفوه دي چې یقینًا ستا د رب ﷻ مغفرت ډېر پراخه دی.

## تزکیه څه معنی؟

۳ـ په ﴿ فَلَا تُزَكُّوٓاْ أَنفُسَكُمْ ﴾ کښې د ﴿ فَلَا تُزَكُّوٓاْ ﴾ کلمه د "تَزْكِيَة" ـلکه "تكرمة"ـ څخه إشتقاقه شوې ده چې په ډېرو معناوو سره یې أستعمال موندلی دی لکه زیادت او برکت، تصفیه او ستاینه او داسې نور[۱].

د خپل ځان تزکیه دوه صورتونه درلودلی شي[۲]:

الف: یو ډول په فعل سره تزکیه ده، او په ایت شریف کښې دا ډول مطلب نه ده بلکې د هر چا فریضه ده چې خپل ځان په صالحو عملونو او طاعتونو سره تزکیه او تصفیه کړي. الله ﷻ همدغه ډول ته داسې اشاره کړې ده چې: ﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ﴾ [الشمس:۹] یعنې یقینًا هغه چا کامیابي مونده کړه چې خپل نفس یې (په طاعتونو او عبادتونو سره) تزکیه او تصفیه کړه.

ب: بل ډول په قول سره تزکیه ده، چې په ایت شریف کښې همدغه ډول تزکیه ممنوعه ګرځولې شوې ده او په بل ایت کښې ورته داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ قُلْ أَتُعَلِّمُونَ ٱللَّهَ بِدِينِكُمْ ﴾ [الحجرات:۱۶] یعنې ای پیغمبره! اعرابو ته (د الله ﷻ د پلوه) ووایه چې: ایا تاسو بل چا ته نه بلکې الله ﷻ ته د خپل دین ښودانه کوئ (چې مونږ کامل مؤمنان یاستو) حال دا چې الله ﷻ په هغو ټولو مخلوقاتو باندې پوره علم لري کوم چې په اسمانونو کښې دي او کوم چې په ځمکو کښې دي.

لنډه دا چې د الله ﷻ په وړاندې د خپل ځان تزکیه کول جواز نه لري، اما د بندګانو په وړاندې د ضرورت په وخت کښې او د څه اصلاحي موخې په ملحوظ جائزه ده خو په دې شرط چې تکبر او ریاکاري ورسره ملګرتیا ونه لري. د ښه وضاحت دپاره لاندې ټکي ولولئ:

اول: الله ﷻ د یوسف علیه السلام څخه حکایت نازل کړی دی چې: ﴿ إِنِّى حَفِيظٌ عَلِيمٌ ﴾ [یوسف:۵۵] یعنې ای پاچا! ما په خزانو باندې وټاکه، یقینًا زه ښه ساتونکی (امانتګر او په مالي چارو کښې) ښه پوه یم.

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا

---

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۳۵۸

(۲) مفردات الراغب ص۲۱۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَخْرَ»[۱] يعنې زه به د قيامت په ورځ د آدم ﷺ د اولادې (د ټولو بنيادمانو) غوره (مشر) يم، حال دا چې (ماته ورباندې) هيڅ فخر (تکبر) نشته.

دريم: د خپل ځان څخه د اتهام او تهمت د مخنيوي په غرض هم د خپل ځان تزکيه بدکار نه دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ»[۲] يعنې هرڅوک چې د خپل مال څخه په دفاع کښې ووژل شي نو هغه شهيد دی. (چې د خپل مال څخه دفاع شرعي حق دی حال دا چې د خپل پت او عزت ساتل د مال څخه په رتبه کښې وړاندې دي).

## د مؤمن ورور تزکيه کول

۴ـ که څوک وايي چې د خپل ځان څخه په غير د بل مؤمن ورور يا خور تزکيه څه حکم لري؟

مونږ وايو چې: د دغې موضوع حکم د ملحوظاتو او حالاتو په نظر کښې نيولو سره مختلف ډولونه لري، چې وضاحت يې لاندې لوستلی شی:

الف: د يوه حديث لنډ مضمون دی چې يو خل أم العلاء رضي الله عنها د عثمان بن مظعون رضي الله عنه جنازه ـچې په مهاجرينو کښې لومړنی جنازه وه ـ مخاطبه کړه چې: زه په تاباندې شهادت اداء کوم (زما دې سوګند وي) چې يقيناً ته الله ﷻ معزز او مکرم ګرځولی يې.

نبي کريم ﷺ ذکره شوې تزکيه رده کړه او تزکيه کوونکې بي بي رضي الله عنها ته يې وويلې چې: «وَمَا يُدْرِيكِ أَنَّ اللهَ قَدْ أَكْرَمَهُ»[۳] يعنې او ته څه شي پوه کړې چې (يقيناً) الله ﷻ عثمان بن مظعون رضي الله عنه مکرم ګرځولی دی؟.

ب: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَادِحًا أَخَاهُ لَا مَحَالَةَ فَلْيَقُلْ أَحْسِبُ فُلَانًا وَاللهُ حَسِيبُهُ وَلَا أُزَكِّي عَلَى اللهِ أَحَدًا»[۴] يعنې هرڅوک چې د خپل ورور ضرور مدحه کوونکی (تزکيه کوونکی) وي، نو ودې وايي چې زه په فلاني باندې (دغسې) ګومان کوم او الله ﷻ يې حساب کوونکی دی (چې هر څه ورته معلوم دي) او زه په الله ﷻ باندې (په يقين سره) هيڅوک نه تزکيه کوم.

ج: په تزکيه کښې مبالغه هم جواز نه لري او دا ځکه چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ واورېده چې يو سړی د بل کس ستاينه کوي او په مدحه کښې مبالغه کوي، نو نبي کريم ﷺ وويلې چې: «أَهْلَكْتُمْ أَوْ قَطَعْتُمْ ظَهَرَ الرَّجُلِ»[۵] يعنې تاسو (په دغې مبالغې سره د دين په لحاظ) سړی هلاک کړ او يا مو ملا ورماته کړه.

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۶۰۳
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۶۱
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۱۶۶؛ مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۴۰۹
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۳۶۶
(۵) صحيح البخاري ج۲ ص۸۹۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: که تزکیه کوونکی باور لري چې په تزکیه باندې یې مؤمن ورور تکبر نه خپلوي او په اصطلاح خان ترې نه ورکېږي (چې د معنوي هلاکت سره مخامخ شي) نو مناسبه مدحه یې جائزه ده.

د ښه وضاحت دپاره د نبي کریم ﷺ سره د أبو بکر ﷺ لاندې مباحثه ولولئ:

نبي کریم ﷺ: هرڅوک چې خپل لنګ د تکبر د کبله په ځمکه راکاږي (او د ښنګرو څخه یې ښکته کړي) نو الله ﷻ به ورته د قیامت په ورځ (د رحمت) نظر ونه کړي.

آبو بکر ﷺ: ای د الله رسوله! یقیناً زما د لنګ یوه څنډه (بلااختیاره) زوړندېږي (او د ښنګرو څخه ښکته کېږي) مګر چې حفاظت یې وکړم (او ورته متوجه شم، ایا زه هم په ذکر شوي وعید کښې شامل یم).

نبي کریم ﷺ: «إِنَّكَ لَسْتَ مِمَّنْ يَصْنَعُ ذَلِكَ خُيَلَاءَ»[۱] یعنې یقیناً ته د هغو کسانو څخه نه یې کوم چې دغه کار د تکبر د کبله کوي (نو ته په وعید کښې شامل نه یې).

ه: امیر المؤمنین ته جائزه ده چې د خپل مقرر کړی شوی حاکم یا قومندان تزکیه وکړي ترڅو یې اطاعت ته عوام خلک او مجاهدین غاړې کېږدي چې اختلاف پیدا نه شي. لاندې مثال یې ولولئ:

أسامه بن زید ﷺ د یوې غزا دپاره د مجاهدینو مشر ټاکلی شوی وه خو خلکو ورباندې خپله ناخوښي څرګنده کړې وه، نو نبي کریم ﷺ ـ په یوه حدیث کښې ـ دغه ناخوښي رده کړه او نوموړی صحابي ﷺ یې داسې تزکیه کړ چې: «...وَإِنَّ ابْنَهُ هَذَا مِنْ بَعْدِهِ لَأَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ فَاسْتَوْصُوا بِهِ خَيْرًا فَإِنَّهُ مِنْ خِيَارِكُمْ»[۲] یعنې یقیناً زید بن حارثه ﷺ د امارت دپاره لیاقت درلود او ماته ډېر ګران وه، او یقیناً د ده زوی (أسامه بن زید ﷺ) د هغه د وفات څخه وروسته ماته ډېر ګران (او محبوب) دی نو تاسو د ده په هکله د خیر توصیه قبوله کړئ (او اطاعت یې وکړئ) ځکه چې نوموړی ستاسو د غوره کسانو څخه دی.

و: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الحجرات:۱۲] ایت لاندې په دلایلو سره لیکلي دي چې: په ځینو مواردو کښې غیبت کول جواز لري. په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې په همغو مواردو کښې په همغو دلایلو سره تزکیه هم جائزه ده، لکه راویان، شاهدان او داسې نور. نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## په اشارې سره تزکیه

۵ـ په ایت شریف کښې هغه تزکیه هم د ممنوعیت په حیث شمولیت لري کومه چې د اشارې په توګه صورت ونیسي[۳]، او دا ځکه چې زینب بنت أبي سلمه ﷺ وایي چې: په ماباندې خپل پلار د بَرَّة (نېکه ښځه) نوم اېښی وه، خو نبي کریم ﷺ زما پلار ته ارشاد وکړ چې: «لَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمُ اللهُ أَعْلَمُ

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۲۹۸
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۴۳۵
(۳) روح المعاني ج۲۷ ص۶۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِأَهْلِ الْبِرِّ مِنْكُمْ» يعنې تاسو خپل ځانونه مه تزکيه کوئ، الله ﷻ په أهل البر (د نېکيو په خاوندانو باندې ډېر ښه پوهېږي. نو بيا هغه ووېل چې «مَا نُسَمِّيهَا؟» څه نوم پرې کېږدو؟. نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې: «سَمُّوهَا زَيْنَبَ»[۱] زينب نوم پرې کېږدئ.

"زَيْنَب" د "زَنَب" ـلکه "شَرَف"ـ څخه اشتقاق موندلی دی چې د ښايسته خوشبويه ونې معنی ورکوي[۲].

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې نبي کريم ﷺ ځينې نومونه تبديل کړي دي حال دا چې په هغو کښې به د اشارې په توګه هم تزکيې موجوديت نه درلود لکه چې په هغه سړي باندې يې (سهل) نوم کېښود د کوم چې "حُزن" نوم وه[۳]، په ځينو احاديثو کښې د دغه ډول نومونو يوه مجموعه روايت شوې ده[۴]؛ نو پوښتنه دا ده چې په دغه بدلون کښې څه حکمت وه؟

مونږ وايو چې: نبي کريم ﷺ ذکر شوي بدلون ته د نېک فال په توګه صورت ورکړی دی هيله ده چې د فال په ارتباط عموماً او د نېک فال په اړه خصوصاً لاندې څو وضاحتونو ته توجه وکړئ:

الف: مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الإعراف:۱۳۱] ايت لاندې ليکلي دي چې د جاهليت په زمانه کښې به خلکو د مرغانو د الوزولو په ذريعه خپل کارونه اجراء کول هغه داسې چې: که مرغه به ښي طرف ته پرواز وکړ نو مطلوب کار ته به يې اقدام کاوه چې دا کار ګټور دی، او که چپ طرف ته به يې الوتنه پيل کړه نو د مطلوب کار څخه به يې صرف نظر کاوه چې دا کار ګټور نه دی بلکې تاوان پکښې نغښتی دی.

لنډه دا چې هغوی د مرغه الوتنه د کارونو په ګټه او تاوان کښې اغېزمنه ګڼله.

ب: د ذکرې شوې عمليې اجراء کول لکه چې د تطير په نامه يادېږي همدارنګه ورته د فال کلمه هم وضعه شوې ده، چې په ښتو کښې لومړي شق ته نېک فال وايي او دوهم شق د بد فال په نامه يادېږي چې د (سپېره) نوم هم ورته اخلي، کله-کله د فال کلمه د اول شق پورې اختصاص پيدا کوي، او يوازې دوهم شق د تطير په نامه يادېږي[۵].

ج: نبي کريم ﷺ د فال دواړه شقونه بې اثره اعلان کړل په يوه حديث کښې يې وفرمايل چې: «لَا عَدْوَى وَلَا طِيَرَةَ»[۶] يعنې نه د مريض څخه بل چاته د مرض سرايت شته او نه تطير "فال" شته (دواړه بې اثره دي).

---

(۱) سنن ابي داوُد ج۲ ص۳۲۱
(۲) لسان العرب ج۱ ص۴۵۳
(۳) مسند أحمد بن حنبل ج۹ ص۱۷۰
(۴) سنن ابي داوُد ج۲ ص۳۲۱
(۵) لسان العرب ج۱۱ ص۵۱۳
(۶) سنن ابن ماجه ص۲۵۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا طِيَرَةَ وَخَيْرُهَا الْفَالُ» يعنې تطير نشته (بې اثره دی) او بهتر يې (لومړی شق) فال دی. چا وويلې: «يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا الْفَالُ؟» ای د الله رسوله! فال څه شی دی؟. نبي کريم ﷺ په جواب کښې وويلې چې: «الْكَلِمَةُ الصَّالِحَةُ يَسْمَعُهَا أَحَدُكُمْ»[1] فال د صالحې خبرې څخه عبارت دی چې ستاسو کوم يو يې واوري (او ورته خوشاله شي).

ه: او په يوه بل حديث کښې يې فرمايلي دي چې: «وَيُعْجِبُنِي الْفَالُ الصَّالِحُ الْكَلِمَةُ الْحَسَنَةُ»[2] يعنې او زما صالح فال خوښېږي چې د ښايسته خبرې څخه عبارت دی.

و: «كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَتَفَاءَلُ وَلَا يَتَطَيَّرُ وَيُعْجِبُهُ الِاسْمُ الْحَسَنُ»[3] يعنې رسول الله ﷺ وه چې نېک فال يې نيوه او بد فال يې نه نيوه او (د همدې کبله يې) ښايسته نوم خوښاوه.

ز: «كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُعْجِبُهُ الْفَالُ الْحَسَنُ وَيَكْرَهُ الطِّيَرَةَ»[4] يعنې نبي کريم ﷺ وه چې نېک (ښايسته) فال يې خوښاوه او بد فال يې نه خوښاوه (که څه هم دواړه بې اثره دي).

ح: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَيُعْجِبُنِي الْفَالُ الصَّالِحُ وَالْفَالُ الصَّالِحُ الْكَلِمَةُ الْحَسَنَةُ»[5] او صالح فال ما په تعجب کښې اچوي (خوښېږي مې) او صالح فال د ښايسته خبرې څخه عبارت دی.

ط: کله چې د حديبيه په مقام کښې د سُهيل په نوم يو سړی د مشرکانو د استازي په حيث صلحې ته راغی نو نبي کريم ﷺ يې په نامه باندې نېک فال ونيوه (اساني يې ترې فهمه کړه) او صحابه کرام ﷺ يې مخاطب کړه چې: «قَدْ سَهُلَ لَكُمْ مِنْ أَمْرِكُمْ»[6] يعنې تاسو ته ستاسو کار اسان کړی شو (موضوع حل شوه).

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٧_ که څوک وايي چې: څرنګه چې فال نيول مطلقًا (ښه وي او که بد وي) بې اثره دی نو څه وجه ده چې د نبي کريم ﷺ فقط نېک فال خوښېده او بس؟

مونږ وايو چې: نېک فال په أميد دلالت کوي او د بد فال څخه د نااُميدۍ بوی پورته کېږي، او پوره څرګنده ده چې الله ﷻ ته أميد کول بهتر کار دی چې سړی ورباندې داده کېږي. لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: که څه هم د مرضۍنو د معالجې په ځای کښې شفا (رغبدل) او مرګ دواړه پېښېږي خو د نېک تفاءل په توګه دغه ځای ته په عربي ژبه کښې "مستشفى" وايي چې په پښتو کښې د روغتون

---

(١) صحيح مسلم ج٢ ص٢٣١
(٢) صحيح البخاري ج١ ص٨٥٦
(٣) مسند احمد بن حنبل ج١ ص٦٥١
(٤) سنن ابن ماجه ص٢٥٢
(٥) سنن ابي داوٗد ج٢ ص١٩٠
(٦) صحيح البخاري ج١ ص٣٧٩

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په نامه یادېږي او په فارسي کښې د شفاخانې په نامه نومول کېږي ترڅو مریض ته ډاډ ورکړی شي. او مهلک یا هلاکخانه ورته نه وایي چې د مریض زړه ونه لوېږي.

ب: په بیابان او خالي بیدیا کښې د هلاکت خطر ډېر وي خو په عربي ژبه کښې ورته د نېک فال په توګه د "مفازة" نوم اېښودلی شوی دی چې د "فوز" څخه یې اشتقاق موندلی دی او د کامیاب ځای معنی ورکوي[1]، ترڅو سفر کوونکي خلک د زړه اطمنان ترلاسه کړي او ورخطا نه شي.

## یادونه

۸ـ زمونږ په خیال که څوک په خپلو اولادونو باندې د تزکیه کولو په نیت نه بلکې د نېک فال نیولو په نیت د "صالح، سعید" او نور داسې نومونه کېږدي چې د اشارې په توګه ترې تزکیه څرګندېږي نو هغه به ښه کار کړی وي، ان شاء الله ﷻ.

## یوه اشاره

۹ـ د ﴿ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ ﴾ د جملې څخه د اشارې په توګه څرګندېږي چې په بنیادمانو کښې داسې بندګان هم شته چې د ټولو ګناهونو څخه یې تقوی او پرهیزګاري کړې وي، شاید چې د دې جملې په نزول کښې به پیغمبرانو ته اشاره وي، والله ﷻ أعلم وعلمه أتم وأكمل.

﴿ أَفَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾ وَأَعۡطَىٰ قَلِيلٗا وَأَكۡدَىٰٓ ﴿٣٤﴾ أَعِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡغَيۡبِ فَهُوَ يَرَىٰٓ ﴿٣٥﴾
أَمۡ لَمۡ يُنَبَّأۡ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَإِبۡرَٰهِيمَ ٱلَّذِي وَفَّىٰٓ ﴿٣٧﴾ أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰ
﴿٣٨﴾ وَأَن لَّيۡسَ لِلۡإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَنَّ سَعۡيَهُۥ سَوۡفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجۡزَىٰهُ ٱلۡجَزَآءَ
ٱلۡأَوۡفَىٰ ﴿٤١﴾ وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلۡمُنتَهَىٰ ﴿٤٢﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَضۡحَكَ وَأَبۡكَىٰ ﴿٤٣﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَمَاتَ
وَأَحۡيَا ﴿٤٤﴾ وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾ مِن نُّطۡفَةٍ إِذَا تُمۡنَىٰ ﴿٤٦﴾ وَأَنَّ عَلَيۡهِ
ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰ ﴿٤٧﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَغۡنَىٰ وَأَقۡنَىٰ ﴿٤٨﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ ٱلشِّعۡرَىٰ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّهُۥٓ أَهۡلَكَ
عَادًا ٱلۡأُولَىٰ ﴿٥٠﴾ وَثَمُودَاْ فَمَآ أَبۡقَىٰ ﴿٥١﴾ وَقَوۡمَ نُوحٖ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ هُمۡ أَظۡلَمَ وَأَطۡغَىٰ
﴿٥٢﴾ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَةَ أَهۡوَىٰ ﴿٥٣﴾ فَغَشَّىٰهَا مَا غَشَّىٰ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارَىٰ ﴿٥٥﴾ ﴾

[۳۳] (ای پیغمبره!) ایا نو ته هغه کس ګورې کوم چې (د ایمان څخه) مخ واړاوه (او مرتد شو)؟
[۳۴] او (چې مقرر کړی شوی) مال یې لږ ورکړ او سختي یې وکړه (متباقي مال یې ورنه کړ).

---

۱) مفردات الراغب ص۴۰۱

[۳۵] ایا د هغه په نزد غیبي علم (وحې) موجودیت لري نو (خپله لاره حقه) ګوري (خپل خان ورته حق په جانب برېښي)؟.

[۳۶] او ایا هغه ته په هغو (احکامو) سره خبر نه دی ورکړی شوی کوم چې د موسی ﷺ په صحیفو کښې (نازل شوي) وه؟.

[۳۷] او (کوم چې) د هغه ابراهیم ﷺ (په صحیفو کښې نازل شوي وه) چې (د الله ﷻ په ټولو ارشاداتو باندې) یې پوره وفا کړې وه (او ټول یې عملي کړي وه).

[۳۸] (هغه احکام دا وه) چې: یقیناً هیڅ بار پورته کوونکی نفس د بل نفس (د ګناه) پېټی نه پورته کوي (هرڅوک د خپلې ګناه پخپله مسئول دی او بس).

[۳۹] او (دا هم وه چې) یقیناً بنیادم ته هیڅ استحقاق نشته مګر د هغه (عمل ثواب) چې پخپله یې کوښښ کړی وي (او بس، خو د الله ﷻ فضل بېله خبره ده).

[۴۰] او (دا هم وه چې) یقیناً د هر بنیادم کوښښ کړی شوی (عمل) به (ورته) وروليد کړی شي (پټ به پرېښنبودل شي).

[۴۱] بیا به نوموړي ته په خپل عمل سره جزا ورکړی شي، پوره جزا.

[۴۲] او (دا هم وه چې) بې شکه ستا رب ﷻ ته (د قیامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو) انتهاء ده (چې ټول به بیا ژوندي کړی شي).

[۴۳] او (دا هم وه چې) یقیناً ستا رب ﷻ همدی ﷻ خندول او ژړول کوي.

[۴۴] او (دا هم پکښې وه چې) یقیناً ستا رب ﷻ همدی ﷻ مړه کول کوي او ژوندي کول کوي.

[۴۵] او (دا هم پکښې وه چې) بې شکه ستا رب ﷻ همده ﷻ جوړه پیدا کړې ده چې د نر او ښځې څخه عبارت ده.

[۴۶] البته د یوه څاڅکي اوبو څخه کله چې (په رحم کښې) وڅڅولی شي.

[۴۷] او (دا هم پکښې وه چې) یقیناً ستا په رب ﷻ باندې بل ځل پیدا کول شته دي (په خپل اقدس ذات باندې یې ضرور ګرځولی دی).

[۴۸] او (دا هم پکښې وه چې) یقیناً ستا رب ﷻ (د فقیرانو) غني کول کوي او سرمایه دار جوړول (یې هم) کوي (د احتیاج څخه اضافه مال ورکوي).

[۴۹] او (دا هم پکښې وه چې) یقیناً ستا رب ﷻ همدی ﷻ د شِعرَی (ستوري) رب هم دی (چې مشرکان یې عبادت کوي).

[۵۰] او (دا هم پکښې وه چې) یقیناً ستا رب ﷻ همده ﷻ رومبني عادیان هلاک کړي دي.

[۵۱] او ثمودیان (یې هم هلاک کړي دي) چې هیڅوک یې (ژوندي) باقي نه دي پرېښې.

[۵۲] او د نوح ﷺ قوم یې (د عادیانو او ثمودیانو څخه) مخکښې (هلاک کړي) دي، بې شکه دوی چې وه همدوی ډېر ظالمان او ډېر سرکشان وه.

[۵۳] او (دا هم پکښې وه چې) ستا رب ﷻ (د لوط ﷺ د قوم) سرچپه کړی شوي ښارونه (د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اوچتولو څخه وروسته په خمکه باندې سر په څرې) راوغورزول.

**[۵۴]** نو بیا یې په هغومره قرتکانو باندې پټ کړه په څومره یې چې پټ کړه (اندازه یې یوازې ستا رب ﷻ ته معلومه ده او بس).

**[۵۵]** نو (ای انسانه!) ته د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه په کوم یوه کښې شک کوې (او باور ورباندې نه کوې)؟.

## ارتباط او شان نزول

۱ـ د وړاندېنیو ایتونو په مضامینو کښې دا مضمون هم شامل وه چې د قیامت په ورځ به هرڅوک د خپلو کړو وړو مسئول وي او جزا به یې ګالي، په دې ایتونو کښې د هغه چا عقیده رده شوې ده کوم چې د ذکر شوي مضمون په خلاف تمه درلوده چې د خپلو جنایتونو بار به په بل چا باندې ورواچوي او خپلې اوږې به ترې سپکې کړي.

۲ـ همدې مطلب ته د شان نزول په روایت کښې اشاره شوې ده چې مونږ یې د الله ﷻ په توفیق په لاندې ډول رالنډوو:

یوه ورځې ولید بن المغیره د نبي کریم ﷺ د دین پیروي قبوله کړه او ایمان یې ورباندې راووړ، کله چې ورباندې مشرکان خبر شوه نو د همدوی څخه یو سړی ورغی او لاندې سوال جواب یې ورسره وکړ:

ولید: ما په محمد ﷺ باندې ایمان راوړی دی.

مشرک سړی: ایا تا د خپلو پلرونو دین پرېښود او هغوی کفار بولې چې په دوزخ کښې دي؟

ولید: هو، ما د پلرونو دین پرېښی دی او هغوی په اور کښې ګڼم.

مشرک سړی: په تا باندې څه باعث وه چې دغه کار ته دې اقدام وکړ؟

ولید: زه د الله ﷻ د عذابه وډار شوم البته کله چې شرکي عقیده باطله وي.

مشرک سړی: ته ډارېږه مه، ستا د جنایتونو زه ضامن یم او زه یې متحمل کېږم خو په دې شرط چې ماته څه مال راکړې او بېرته خپلې پلرنۍ عقیدې ته ورتاو شې.

نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[۱]، چې حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د قیامت د بیان څخه وروسته د یوه مشرک څه حالت په خپل اُمت باندې قرائت کړه. هغه دا چې:

۱ـ ایا نو هغه څوک تا لیدلی دی او ته یې د عجیب حالت څخه خبر راکولی شې، کوم چې د آخرت څخه مخ اړوي او خپل جنایات د څه مال په مقابل کښې د بل چا په اوږو وربار وي؟. حال دا

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۲۶۷؛ تفسیر المراغي ج۲۷ ص۶۳؛ المحرر الوجیز ج۱۵ ص۲۷۶؛ تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۱۱۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د وعده کړی شوي مال د لږ برخې د ورکړې څخه وروسته یې د بخل د کبله د متباقي مال په ورکړه باندې لاس ونیوه او خپل لوظ یې مات کړ، مګر کفري عقیده یې پرېنښودله او وربانديې کلک پاتې شو.

۲_ ایا نوموړی خپلې تګلارې ته د څه غیبي علم په بنیاد صورت ورکوي او په وحې سره ورته ثابته شوې ده چې یو کس د بل کس د جنایتونو پېټی پورته کولی شي، نو ځکه ورته خپل ځان حق په جانب برېښي؟

۳_ ایا نوموړي ته په هغو ارشاداتو باندې خبر نه دی ورکړی شوی کوم چې د موسی ﷺ او ابراهیم ﷺ په صحیفو کښې نازل شوي وه؟ البته هغه ابراهیم ﷺ چې د خپل رب ﷻ په ټولو ارشاداتو باندې یې پوره وفا کړې وه او وربانديې کلک ولاړ وه. لندهٔ دا چې په پیغمبرانو علیهم السلام باندې خو د ذکرې شوې عقیدې بطلان نازل شوی دی، خو نوموړې مشرک وربانديې خپل ځان ګول اچولی دی چې ماته پرې نه چا خبر راکړی دی او نه پرې پخپله خبر یم.

۴_ د موسی ﷺ او ابراهیم ﷺ دواړو په صحیفو کښې لاندې ارشادات نازل شوي وه:

اول: د قیامت په ورځ هیڅوک د بل چا د ګناه پېټی نه شي اوچتولی بلکې په دغې ورځ کښې به د هر چا ګناه په خپله غاړه پرته وي.

دوهم: او همدارنګه په دغې ورځ کښې هیڅ انسان استحقاق نه لري مګر د هغه عمل چې پخپله یې ورته کوښښ کړی وي او پخپله یې ګټلی وي. اما د الله ﷻ فضل د استحقاق څخه علاوه خبره ده چې چاته پرته د استحقاقه د بل چا په طفیل یا په غیر طفیل څه اجر ورکړي، څوک یې مخه نه شي بندولی.

درېم: په دغې ورځ کښې به هر چا ته خپل هغه کړه وړه ورولیده کړی شي کومو ته یې چې په دنیا کښې صورت ورکړی وي، برابره خبره ده چې ښه وي او که بد. بیا به نو د همدغو کړو وړو په سبب پوره جزا ورکړی شي برابره خبره ده چې ثواب وي او که عقاب.

څلورم: دا خبره هم نازله شوې وه چې: یقیناً ستا رب ﷻ ته د هر چا منتهي ده چې هرڅوک به یوازې د همده ﷻ په حضور کښې د حساب کتاب دپاره درولی کېږي.

پنځم: یقیناً یوازې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هم خندول کوي او هم ژړول کوي، ښادي او غم یوازې د همده ﷻ په قدرت کښې قرار لري او بس، غیر الله پکښې هیڅ مداخله نه شي کولی لکه چې مشرکان خیال لري.

شپږم: الله ﷻ بالیقین مړه کول کوي او ژوندي کول کوي، مرګ او ژوند فقط د همده ﷻ په واک او قدرت کښې دي او بس.

اووم: شان دا دی چې یقیناً یوازې ستا رب ﷻ نارینه او ښځینه پیدا کړي دي او په خپل کامل قدرت باندې یې دلایل ګرځولي دي. او دا ځکه چې: دغه دواړه مختلف مخلوقات د اختلاف سره-سره فقط د یوې نطفې څخه په هغه وخت کښې پیدا کوي چې کله په رحمونو کښې واچوله شي.

لندهٔ دا چې الله ﷻ د یوې نطفې څخه په یوه رحم کښې نارینه او ښځینه مخلوقات پیدا کوي حال

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا چې دغه دواړه ډوله مخلوقات د ډېر شدید اختلاف درلودونکي دي.

اتم: هلته دا خبر هم نازل شوی وه چې یقینًا الله ﷻ په خپل اقدس ذات باندې د مخلوقاتو بیا راژوندي کول ضروري کړي دي چې دغه کار ته به هرومرو صورت ورکوي او قیامت به قائموي.

نهم: دې خبرې هم پکښې موجودیت درلود چې یقینًا یوازې الله ﷻ بنیادم مالدار ګرځوي (فقري يې د منځه وړي) او هم یې سرمایه دار جوړوي چې د اړتیا وو څخه اضافه ثروت ورکوي، دغه کارونه د همده ﷻ څخه په غیر د هیچا د لاسه پوره نه دي.

لسم: یقینًا ستا رب ﷻ یوازې همدی ﷻ د شعرٰی د ستورې رب هم دی، نو خلکو ته په کار دي چې د دغه ستوري عبادت ونه کړي بلکې د ده د رب ﷻ عبادت خپل کړي.

یوولسم: بې شکه الله ﷻ ړومبني عادیان هم د کفریاتو په سبب هلاک کړي دي چې ډېر قوتناک او دنګ-دنګ خلک وه.

دولسم: وروستني عادیان (ثمودیان) یې هم د هلاک سره د بل شي د کبله نه بلکې د کفریاتو د کبله مخامخ کړي او پوپنا کړي دي، چې یو کس یې هم ژوندی نه دی پرېښی.

دیارلسم: د عادیانو او ثمودیانو څخه وړاندې یې لا د نوح ﷺ قوم هم هلاک او تباه کړي دي چې ډېر سخت ظالمان او ډېر سخت سرکشان وه، حتی چې د نهه نیم سوه کاله دعوت د اثر لاندې هم واقع نه شوه او د کفریاتو او شرکیاتو څخه یې لاسونه وانخستل.

خوارلسم: الله ﷻ د لوط ﷺ د قوم کلي ښارونه ړنګ او سرچپه وګرځول او د پاسه یې ورباندې د کاڼو باران ووراوه، او داسې یې پکښې پټ کړه چې اندازه یې یوازې همده ﷻ ته معلومه ده او بس، چې د قرتګانو تعداد به څومره نه رسېده.

نو ای انسانه! د ذکر شوي بیان څخه وروسته ته د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه په کوم یوه نعمت کښې شک کوې چې په ناشکرۍ باندې کلک ولاړ یې، ایا ته په خپل ځان باندې د عادیانو او ثمودیانو د مهلک عذاب غوندې عذابه نه ډارېږې چې د خپل رب ﷻ د پلوه به درباندې درنازل کړی شي او بنیاد به دې ویاسي؟

## توضیحات

۱ـ په ﴿ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰ ﴾ کښې د "أَكْدَى" کلمه اصلاً د "كُدْيَة" ـ لکه "قُدْرَة" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "كُدْيَة" په خمکه کښې هغه کلکوالي ته وضعه شوې ده په کوم باندې چې کولنګ اثر نه شي کولی. عرب وایي چې: "حَفَرَ فَأَكْدَى"[1] یعنې فلاني سړي کوهی وکنود خو ډېر کلک ځای ته ورسېد چې د اضافه کنودلو توان یې نشته.

ذکره شوې کلمه د کنایې په توګه په زیات بخل کښې استعمالېږي چې دلته همدغه استعمال مطلب دی.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۴۴۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعنې ایا ته هغه سړی ګورې چې د خپلو جنایتونو د تحمل دپاره یې یو کس ته څه مال ورکړ او بیا یې بخل وکړ (د ورکړې څخه یې لاس ونیوه) خو په ذکره شوې عقیده کلک پاتې شو؟.

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په دې مقام کښې باید لاندې سوالونه او جوابونه په ذهن کښې وساتل شي:

الف: که څوک وایي چې: په څه ملحوظ دلته د موسی ﷺ او ابراهیم ﷺ په نومونو باندې صراحت وکړی شو چې د دوی دواړو په صحیفو کښې دا خبره نازله شوې وه چې د یوه کس د ګناه پېټی بل کس په اوږو نه شي اخستی؟

مونږ وایو چې: د ځینو علماوو کرامو په قول د نوح ﷺ په شریعت کښې په دنیا کښې یو کس د بل کس په ګناه باندې نیول کېدی شو خو د ابراهیم ﷺ په شریعت کښې دغه حکم منسوخ وګرځولی شو او همدغې نسخې د موسی ﷺ په شریعت (تورات) کښې هم ادامه وکړه[1]، نو ځکه د دغو دواړو پیغمبرانو په نومونو باندې صراحت نازل شوی دی.

مګر دغه جواب چندان مزه ناک نه دی، ځکه چې په سیاق او سباق (وړاندې ېبرته) کښې اُخروي مواخذه (نیونه) نفې شوې ده او په همدې کښې بحث روان دی، اما دنیاوي مواخذه دلته هیڅ مطرحه نه ده.

نو بهتر جواب دا دی ـوالله ﷻ أعلمـ چې د دغو دواړو پیغمبرانو علیهم السلام په نومونو باندې ځکه صراحت نازل شوی دی چې په موسی ﷺ باندې تورات نازل شوی وه چې د قرآن کریم څخه دوهم لمبر اسماني کتاب دی او جهاني شهرت لري، او ابراهیم ﷺ خو د ټولو أهل الآدیانو په نزد مقبول شخصیت وه او ټولو ورته د قدر په نظر کتل او لا ورته ګوري.

ب: که څوک وایي: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «يُعَذَّبُ الْمَيِّتُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ»[2] یعنې مړی په دې سبب معذبېږي چې خپل اقارب ورباندې ژاړي (ویر کوي)، نو معلومه شوه چې د یو کس د بل کس په جنایت باندې اُخروي (د مرګ څخه وروسته) مواخذه شته؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال دپاره علماوو کرامو زښت ډېر جوابونه کړي دي او د ایت او حدیث تطبیق ته یې صورت ورکړی دی[3]، هیله ده چې اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړی شي، مونږ دلته یوازې د عائشې رضی الله عنها د جواب په ذکر باندې اکتفاء کوو. هغه دا چې: «إِنَّمَا كَانَتْ يَهُودِيَّةٌ مَاتَتْ فَسَمِعَهُمُ النَّبِيُّ ﷺ يَبْكُونَ عَلَيْهَا قَالَ إِنَّ أَهْلَهَا يَبْكُونَ عَلَيْهَا وَإِنَّهَا تُعَذَّبُ فِي قَبْرِهَا»[4] یعنې یوه یهودۍ ښځه مړه شوې وه چې خپلوانو یې ورباندې ژړل او نبي کریم ﷺ یې ژړا واورېده نو ویې فرمایل چې په

---

(۱) البحر المحیط ج۱۰ ص۲۳

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۸۵؛ سنن النسائي ج۱ ص۲۶۲

(۳) شرح النووي علی صحیح مسلم ج۱ ص۳۰۲

(۴) سنن ابن ماجه ص۱۱۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغې مړې ښځې باندې خپلوان ژاړي حال دا چې دا په خپل قبر کښې معذبېږي.

یا په بل عبارت: هغه په قبر کښې د خپلو کفریاتو د کبله د تعذیب لاندې ده[1]، خو خپلوان یې په تعذیب باندې نه ژاړي بلکې په مرګ باندې یې ژاړي چې په تعذیب یې خبر نه دي.

ج: که څوک وایي چې: د ﴿ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴾ څخه څرګندېږي چې انسان ته فقط خپل عمل ګټه رسولی شي او د بل چا د عمل ورته هیڅ ګټه نه رسېږي، حال دا چې ځینو مفسرینو کرامو تقریبًا شل (۲۰) مثالونه راغونډ کړي دي چې ټول په ګټه رسونه باندې دلالت کوي[2]، په دې باندې علاوه، په [الطور: ۲۱] ایت کښې ورباندې صراحت نازل شوی دی چې الله ﷻ د ځینو پلرونو په نېک عملي سره د هغوی اولادونه هم لوړو درجو ته اوچتوي. نو پوښتنه دا ده چې: ایا په همدې موضوع کښې د نصوصو تناقض صورت نه نیسي؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو د دغه تناقض د منځه وړلو دپاره زښت ډېر غیر متبادر جوابونه کړي دي مثلاً: د انسان څخه کافر انسان مطلب دی، یا د "ل" توری د "علی" معنی ورکوي او داسې نور[3]. مګر بهتر جواب دا دی چې: په ﴿ لِلْإِنسَٰنِ ﴾ کښې د "ل" توری د انتفاع دپاره نه دی ترڅو اعتراض وارد شي، دلته د انتفاع موضوع هیڅ مطرحه نه ده، بلکې د استحقاق دپاره دی[4] چې په همدې معنی باندې په بل ایت کښې استعمال شوی دی چې: ﴿ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ ﴾ [آل عمران: ۱۲۸] یعنې ای پیغمبره! تاته د تکویني امر څخه هیڅ شی نشته (ته په تکویناتو کښې د تصرف کولو هیڅ استحقاق نه لرې).

نو د معنی حاصل به یې داسې راوځېږي چې: هلته (د موسی ﷺ او ابراهیم ﷺ په شریعتونو کښې) دا حکم هم ثبت وه چې د بنیادم دپاره د هیڅ شي استحقاق نشته مګر د هغه شي د کوم په هکله یې چې پخپله سعې او کوښښ کړی وي، او پخپله یې ګټلی وي، نو الله ﷻ دغه شی نه ضائع کوي. اما د الله ﷻ د فضل ساحه ډېره پراخه ده چا ته یې چې اراده وشي نو پرته د استحقاقه او کوښښه فقط په خپل فضل سره ورته ثوابونه او آجرونه ورکوي، که څه هم دغه فضلي ثوابونه او آجرونه ورته د بل چا د عمل په ذریعه ترلاسه شوي وي.

د: که څوک وایي چې: ایا داسې احادیث شته چې په ذکر شوي بهتر جواب باندې دلالت وکړي؟

مونږ وایو چې: په ذکر شوي بهتر جواب باندې زښت ډېر احادیث دلالت کوي، د مثال په ډول:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَيُّمَا مَيِّتٍ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ فَلْيَصُمْهُ عَنْهُ وَلِيُّهُ»[5] یعنې هر مړی

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۵۶۷
(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱۸ ص۲۰۶
(۳) روح المعاني ج۲۷ ص۶۶؛ زاد المسیر ج۷ ص۲۳۷؛ أضواء البیان ج۷ ص۷۰۹؛ تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۶۴؛ حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۴۱۶
(۴) مفردات الراغب ص۴۶۴
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۳۴۰؛ صحیح مسلم ج۱ ص۳۶۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ده ښځه دې خپل اقارب چې په داسې حال مړ شوی وي چې فرضي روژې ورباندې پاتې وي نو د هغه (خپلوان) روژه ونیسي.

دوهم: یو ځل یوې زنانه د نبي کريم ﷺ ښځه پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! زما مور په داسې حال کښې وفاته شوې ده چې د حج فریضه یې نه وه اداء کړې نو ایا زه د هغې ښځه د حج فریضه اداء کړم؟ نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «نَعَمْ حُجِّي عَنْهَا»(۱) یعنې هو، د هغې ښځه د حج فریضه اداء کړه.

دریم: د یوه حدیث لنډ مضمون دی چې یوه ورځې نبي کريم ﷺ ته یوه ښځه ورغله او عرض یې وکړ چې زما مور په خپل ځان باندې د حج اداء کول نذر کړي وه خو د نذر د پوره کولو ښځه وړاندې مړه شوه، ایا زه د هغې ښځه حج وکړم (چې نذر یې پوره شي)؟ نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «نَعَمْ حُجِّي عَنْهَا»(۲) هو، د هغې ښځه حج اداء کړه.

څلورم: د سلفو صالحینو ښځه یو سړی وایي چې: مونږ د حج کوونکو په حیث په سفر تللي وو، چې د یوه سړي سره مخامخ شوو (مونږ نه پېژانده چې دا ابو هریره ؓ دی)، نوموړي مونږ مخاطب کړو چې: ایا په تاسو کښې داسې څوک شته چې ماته ضمانت وکړي چې په هغه "مَسْجِدُ الْعَشَّارِ" کښې زما دپاره دوه رکعته یا څلور رکعته لمونځ اداء کړي کوم چې ستاسو په وطن کښې واقع دي، او بیا ووایي چې دا لمونځ دې د ابو هریره وي؟ او دا ځکه چې ما د خپل دوست آبو القاسم ﷺ ښځه اورېدلي دي چې: «إِنَّ اللهَ يَبْعَثُ مِنْ مَسْجِدِ الْعَشَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُهَدَاءَ لَا يَقُومُ مَعَ شُهَدَاءِ بَدْرٍ غَيْرُهُمْ»(۳) یعنې یقینًا الله ﷻ به د قیامت په ورځ د مسجد العشار ښځه داسې شهیدان را اوچت کړي چې د بدر د شهیدانو سره به د همدوی ښځه په غیر نور څوک ونه درېږي.

## فریادرس الله ﷻ دی

۳_ یوه شاعر د ﴿ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ﴾ مضمون څومره ښه تمثیل کړی دی چې:

خو چې خاورو لره ورشي برابر شي :: که چا غوندی وي اغوستی که اطلس
هم هغه مې خندوي چې ژړوي مې :: بل څوک نشته د رحمان فریادرس(۴).

## دوه لغات

۴_ په ﴿ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَغْنَىٰ وَأَقْنَىٰ ﴾ کښې د "أَقْنَىٰ" کلمه د "قِنْيَة" _لکه "فِدْيَة"_ ښځه اشتقاقه شوې ده او د هغه مال معنی ورکوي کوم چې د کفایت ښځه وروسته ذخیره او سرمایه کړی شي(۵). یعنې او یقینًا الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې غني کول کوي (د مخلوقاتو اړتیاوې ورپوره کوي) او هم

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۱۸۶
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۸۸
(۳) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۳۶
(۴) د عبد الرحمن مومند دیوان ص۷۱
(۵) لسان العرب ج۱۵ ص۲۰۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سرمایه دار ګرځول کوي چې د اړتیا څخه اضافه مالونه هم ورکوي.

او په ﴿ وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ ٱلشِّعْرَىٰ ﴾ کښې د "شِعْرَىٰ" کلمه د یوه ستوري نوم ده چې مشرکانو به یې عبادت کاوه[۱]، شاید چې د نورو ستورو د جملې څخه به یې د "همدغه معبودیت" د کبله په نامه باندې صراحت نازل شوی وي. یعنې او یقیناً الله ﷻ همدی ﷻ د ستاسو د معبود (شعرَی ستوري) هم رب دی لکه څنګه چې ستاسو او نورو ټولو مخلوقاتو رب دی.

## هېر مو نه شي

۵_ په دې مقام کښې باید لاندې مطالب هېر نه کړی شي:

الف: د موسی ﷺ او ابراهیم ﷺ د صحیفو مضامین د ﴿ أَلَّا تَزِرُ ﴾ الآیة- څخه پیل او په ﴿ تَتَمَارَىٰ ﴾ باندې ختم شوي دي چې په اتلسو ایتونو کښې نازل شوي دي[۲].

ب: په ﴿ وَٱلْمُؤْتَفِكَةَ أَهْوَىٰ ﴾ کښې د "مُؤْتَفِكَة" کلمه د لوط ﷺ د هلاک کړی شوي قوم د سرچپه ښارونو څخه عبارت ده چې د [التوبة: ۷۰] ایت لاندې ښه تحلیله شوې ده.

ج: په ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكَ ﴾ کښې د ﴿ ءَالَآءِ ﴾ د کلمې تحلیل هم د [الأعراف:۶۹] ایت لاندې تېر شوی دی _والحمد لله ﷻ_، چې د نعمتونو معنی ورکوي.

د: که څه هم په وړاندېنیو ایتونو کښې د عذابونو ذکر ته هم اشاره شوې ده خو د عبرت اخستلو په لحاظ عذابونه هم نعمتونه ګڼلی کېږي.

ه: په ﴿ رَبِّكَ ﴾ کښې په "ک" سره مطلق انسان[۳] او یا کافر انسان مخاطب دی[۴].

و: د ﴿ تَتَمَارَىٰ ﴾ کلمه اصلاً د "مِرية" _لکه "فِدْيَة"_ څخه مشتقه شوې ده چې د شدید شک معنی ورکوي[۵].

ز: په دې مقام کښې د ﴿ تَتَمَارَىٰ ﴾ څخه د "تَفَاعُل" د باب خاصیت تجرید کړی شوی دی او د مبالغې په ملحوظ فقط په یوه فاعل باندې تمامېږي او بس[۶].

﴿ هَٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ ٱلنُّذُرِ ٱلْأُولَىٰٓ ﴿٥٦﴾ أَزِفَتِ ٱلْـَٔازِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ أَفَمِنْ هَٰذَا ٱلْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴿٦٠﴾ وَأَنتُمْ سَٰمِدُونَ ﴿٦١﴾ فَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ وَٱعْبُدُوا۟ ۩ ﴿٦٢﴾ ﴾

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۲۸۳
(۲) البحر المحیط ج۱۰ ص۲۸
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۱۱۹
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۱۲۱
(۵) مفردات الراغب ص۴۸۷
(۶) روح المعاني ج۲۷ ص۷۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۶] دغه (محمد ﷺ) د پخوانیو ډارونکو (پیغمبرانو) د جملې څخه یو ډارونکی دی.
[۵۷] رانژدې کېدونکی قیامت رانژدې شو (چې محمد ﷺ مبعوث شو).
[۵۸] دغه (قیامت) ته د الله ﷻ څخه پرته هیڅ لوڅوونکی (نفس یا حالت) نشته (یوازې الله ﷻ ته معلوم دی چې کله به قائمېږي).
[۵۹] ایا نو تاسو (ای مشرکانو!) د دغې خبرې (قرآن کریم) څخه تعجب کوئ؟
[٦۰] او (ایا) تاسو (د همدغه قرآن کریم څخه) خندا کوئ او ژړا نه کوئ؟
[٦۱] حال دا چې (د قرآن کریم د تلاوت په وخت کښې هر ډول) عبثیات کوونکي (او تکبر کوونکي) یاست.
[٦۲] نو تاسو (ټول) خاص الله ﷻ ته په سجده پرېوځئ او (خاص همده ﷻ ته) عبادت (او بندګي) وکړئ.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د یو پلوه د وړاندېنیو ایتونو مضامین تائید شوي دي او د بل پلوه پکښې مشرکانو ته توبیخ ورکړی شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د الله ﷻ د طرفه خپل دعوتي اُمت په لاندې مطالبو باندې مخاطب کړه:

۱ـ ای مشرکانو! دغه (محمد ﷺ) بل څوک نه دی بلکې د پخوانیو پیغمبرانو او ډارونکو څخه یو پیغمبر او ډارونکی دی، او د هغوی غوندې وربادې اسماني کتاب نازل شوی دی (په بنیادي احکامو کښې د هغوی څخه هیڅ فرق نه لري).

یا په بل عبارت: لکه څنګه چې د هغوی په شریعتونو کښې د قیامت قیام او بعث بعد الموت ضروري ښودلی شوی وه، همدارنګه د ده ﷺ په شریعت کښې هم حتمي ښودل کېږي، چې د الله ﷻ څخه پرته هیڅوک یې مخنیوی نه شي کولی، او چې کله واقع شي نو د همده ﷻ څخه په غیر یې هیڅوک د منځه نه شي وړلی، حال دا چې الله ﷻ یې مخنیوی نه کوي او چې کله یې واقع کړي نو بیا یې د منځه نه وړي چې حساب کتاب او جزا او سزا ناتمامه پرېږدي، په دې باندې علاوه د همده ﷻ څخه په غیر یې د قیام په وخت هیڅوک نه پوهېږي.

۲ـ د محمد ﷺ په شریعت کښې د قیامت قیام ډېر نژدې دی چې پخپله د همده ﷻ مبعوثیت یې د ډېر نژدېوالي غټ دلیل دی، چې وروستنی پیغمبر دی او وروسته ترې بل پیغمبر نه مبعوث کېږي، ته به وایې چې دغه دی راغی.

۳ـ ای مشرکانو! ایا تاسو د دغه قرآن کریم څخه ـچې د قیامت د قیام په خبر مشتمل دی او تاسو ته د نجات د لارې ښودانه کوي ـ تعجب کوئ، او د مسخرو او ملنډو په توګه وربادې خاندئ؟ تاسو ته په کار دي چې د خندا په عوض په خپل درېښېدونکي حالت باندې وژاړئ. حال دا چې تاسو په غفلت او جهالت کښې پراته یاست او د قرآن کریم د اورېدلو څخه په لهو لعب او

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سرودونو باندې مشغول یاست چې راتلونکې ژوند مو هېر کړی دی.

۴ـ ای خلکو! تاسو د غفلت د خوبه راویښ شئ او خاص الله ﷻ ته سر په سجده شئ او خاص همده ﷻ ته د عبادت او بندګۍ ځرګندونه وکړئ.

## توضیحات

۱ـ ځینو علماوو کرامو په ﴿ هَـٰذَا نَذِيرٌ ﴾ کښې د ﴿ هَـٰذَا ﴾ اشاره قرآن کریم ته ګڼلې ده[1] یعنې دغه قرآن کریم ډاروونکی دی، خو مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به په ﴿ هَـٰذَا ﴾ سره نبي کریم ﷺ ته اشاره وي، چې په یوه حدیث کښې نبي کریم ﷺ خپل ځان د «النَّذِيرُ الْعُرْيَانُ»[2] سره تشبیه کړی دی. یعنې دغه پیغمبر د پخوانیو ډاروونکو څخه یو ډاروونکی دی. او النذیر العریان (بربنډ ډاروونکی) د هغه چا څخه کنایي دی کوم چې خپل قوم په ډېر اخلاص سره د ډېر خطرناک دښمن څخه ډاروي.

## أزف څه معنی؟

۲ـ په ﴿ أَزِفَتِ ٱلْآزِفَةُ ﴾ کښې د "أزِفَتْ" او "آزِفَة" دواړه کلمې د "أزَف" ـ لکه "شَرَف" ـ څخه اشتقاقي شوې دي، چې د نژدېوالي معنی ورکوي[3]، یعنې نژدې کېدونکې ورځ ډېره نژدې شوې ده چې د قیامت د ورځې څخه عبارت ده. د دغې ورځې نژدېکت د احادیثو په رڼا کښې د الله ﷻ په توفیق د [الأحزاب:۶۳] ایت لاندې ښه پوره تشریح شوی دی.

## د کَاشِفَة معنی

۳ـ په ﴿ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴾ کښې د ﴿ كَاشِفَةٌ ﴾ کلمه مفسرینو کرامو په متعددو ډولونو سره تفسیره کړې ده[4]، خو کوم تفسیر چې مونږ ته غوره برېښي هغه په لاندې تکو کښې خلاصه کوو:

الف: ذکره شوې کلمه د "كَشْف" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د لوځولو او د پوهېدلو معنی ورکوي[5].

ب: د ﴿ كَاشِفَةٌ ﴾ کلمه د خپل موصوف (نفس، حَالَة) په ملحوظ د ﴿ لَيْسَ ﴾ دپاره خبر ده[6]. یعنې د قیامت د ورځې دپاره د الله ﷻ څخه پرته هیڅ نفس یا هیڅ حالت نشته چې وخت یې رالوڅ کړي چې په فلانکي وخت کښې به قیام وکړي.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۱۲۱
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۲۴۸
(۳) مفردات الراغب ص۱۳
(۴) روح المعاني ج۲۷ ص۷۱؛ تفسیر الکشاف ج۴ ص۴۲۹
(۵) لسان العرب ج۹ ص۳۰۰
(۶) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۲۸۸

همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ لا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَآ إِلَّا هُوَ ﴾ [الأعراف: ۱۸۷] يعنې د قيامت د قيام علم زما رب ﷻ د خپل اقدس ذات سره پټ ساتلی دی حتی چې په خپل وخت کښې يې هم نه څرګندوي (تحقق نه ورکوي) مګر همدی ﷻ او بس (او هيڅوک وربانديې علم نه لري).

## د الله ﷻ له ډاره ژړل

۴_ په ﴿ وَلَا تَبْكُونَ ﴾ کښې مشرکان توبيخ کړی شوي دي چې د قرآن کريم د قرائت په وخت کښې ملنډې وهي او خندنې کوي، حال دا چې ورته په کار وه چې په خپلو راتلونکو بدو حالاتو بانديې ژړلي وی او د الله ﷻ څخه ډار شوي وی.

د هغې ژړا په هکله د نبي کريم ﷺ څخه ډېر احاديث روايت شوي دي کومه چې د الله ﷻ د ډاره صورت نيسي چې مونږ يې دلته په لاندې دوه مثالونو باندې اکتفاء کوو:

الف: «لَا يَلِجُ النَّارَ رَجُلٌ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ وَلَا يَجْتَمِعُ غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ»[1] يعنې هغه سړی به دوزخ ته داخل نه شي کوم چې د الله ﷻ د ډاره وژاړي آن ترديې چې شوده بېرته غولانزې ته ننوځي (چې دا کار محال دی)، او هم به د الله ﷻ په لار کښې ګرد او د دوزخ لوږی سره يو ځای نه شي. يا په بل عبارت: په کوم اندام باندې چې د جهاد ګرد لوېدلی وي الله ﷻ به هغه د دوزخ څخه وساتي.

ب: «لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا»[2] يعنې که چرته تاسو په هغه حالاتو باندې پوهېدلی په کومو باندې چې زه پوهېږم نو تاسو به لږ خندلي وی او ډېر به مو ژړلي وی.

## سُمُود څه معنی؟

۵_ په ﴿ وَأَنتُمْ سَـٰمِدُونَ ﴾ کښې د ﴿ سَـٰمِدُونَ ﴾ کلمه د "سُمُود" _لکه "نُزُول"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "سُمُود" ډېرې معناوې لري لکه اعراض، غفلت، تکبر، سندرې ويل او داسې نور[3].

څه لري نه ده چې په دې مقام کښې د "سُمُود" څخه د بدليت په لحاظ ټولې معناوې بلکې ټول عبثيات اراده کړی شي، او دا ځکه چې مشرکانو به د قرآن کريم د نه اورېدلو په غرض په حرم شريف کښې د هر ډول عبثياتو څخه کار اخست، چې ځينو مثالونو ته يې د الله ﷻ په توفيق د [الأنفال: ۳۵] او د [حم السجدة: ۲۶] ايتونو لاندې اشارې شوې دي.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ای مشرکانو! ايا تاسو د بلې خبرې څخه نه بلکې د قرآن کريم څخه په داسې حال تعجب او خندا کوئ، چې اعراض کوونکي، غفلت کوونکي، تکبر

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۹۲
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۴۲۵
(۳) لسان العرب ج۳ ص۲۱۹؛ القاموس المحيط ج ص۶۰۹؛ الدر المنثور ج۷ ص۶۶۷؛ زاد المسير ج۷ ص۲۴۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوونکي، سندرې ویونکي، شپېلۍ غږوونکي او غومبر وهونکي، شور او غوغاکوونکي، لاسونه پړقوونکي او بالآخره د تخرګونو څخه اواز ویستونکي یاست.

## د تلاوت دولسمه سجده

۶ـ که څه هم د ﴿ فَٱسْجُدُواْ لِلَّهِ وَٱعْبُدُواْ ﴾ ایت سجده د تلاوت دولسمه سجده ده چې د الله ﷻ په توفیق یې څېنې ضروري احکام د [الأعراف:۲۰۶] آیت لاندې لیکلی شوي دي، مګر په نزول کښې لومړنۍ سجده ده. د همدې کبله کله چې په ذکر شوي ایت کښې د سجدې کولو آمر نازل شو نو ټول حاضرین بلا اختیاره په سجده پرېوتل ـإلا من شاء اللهـ که څه هم څېنې پکښې مشرکان او کفار وه.

د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: «سَجَدَ النَّبِيُّ ﷺ بِالنَّجْمِ وَسَجَدَ مَعَهُ الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ»(۱) یعنې نبي کریم ﷺ د "النَّجَمْ" سورت په تلاوت سره سجده وکړه او همدارنګه ورسره مسلمانانو او مشرکانو او هم پیریانو او بنیادمانو سجده وکړه.

ب: عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي چې: «أَوَّلُ سُورَةٍ أُنْزِلَتْ فِيهَا سَجْدَةُ النَّجْمِ فَسَجَدَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَسَجَدَ مَنْ خَلْفَهُ إِلَّا رَجُلُ رَأَيْتُهُ أَخَذَ كَفًّا مِنْ تُرَابٍ فَسَجَدَ عَلَيْهِ فَرَأَيْتُهُ بَعْدَ ذَلِكَ قُتِلَ كَافِرًا وَهُوَ أُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ»(۲) یعنې لومړنی سورت چې سجده پکښې نازله کړې شوه د "النَّجْمْ" سورت وه، نو نبي کریم ﷺ د تلاوت سجده وکړه او هغه چا هم کوم چې د نبي کریم ﷺ وروسته وه (مسلمانان وه او که مشرکان وه) مګر یو سړی مې ولید چې یو موټی خاورې یې (خپلې تندې ته) اوچتې کړې او سجده یې ورباندې وکړه (چې همدا راته کفایت کوي)، نو بیا مې وروسته نوموړی سړی (د أحد په غزا کښې) ولید چې د کفر په حال ووژلی شو، دغه سړی أمیه بن خلف وه.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا لَكَ مِنَ السَّاجِدِيْنَ الْعَابِدِيْنَ الْمُخْلِصِيْنَ. آمِينَ.

د "النَّجْمْ" سورت په پښتو ژبه ژباړه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

۱۴۲۴/۹/۲۰ هـ ق - ۱۳۸۲/۸/۲۴ هـ ش.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۱

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۱؛ صحیح مسلم ج۱ ص۲۱۵

# القمر (٥٤)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (الْقَمَر) د لومړي ایت څخه اخستلی شوی دی او په همدې نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا کړی شوی دی.

۲ـ دا سورت د جمهورو علماوو کرامو په نزد مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳ـ د دې سورت عددونه په لاندې ډول دي[۲]:

الف: ایتونه یې پنځه پنځوس (۵۵) دي.

ب: کلمات یې دري سوه او دوه څلوېښتو (۳۴۲) ته رسېږي.

ج: د تورو تعداد یې یو زر څلور سوه او درویشتو (۱۴۲۳) تورو ته پورته شوی دی.

۴ـ د دې سورت محتویات د نورو مکي سورتونو غوندې د عقیدوي احکامو په محور څرخېږي، لکه وعد او وعید، توحید او نبوت، بعث بعد الموت او د قیامت قیام او داسې نور.

۵ـ دا سورت (الْقَمَر) د وړاندېني سورت (النَّجْمْ) سره قوي تناسب لري. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: دواړه مکي سورتونه دي او د عقیدوي بحثونو پورې کلک تړاو لري.

ب: دواړه په نومونو کښې هم متشابه دي، چې د هغه نامه ژباړه "ستوری" ده او د دې نوم په "سپوږمی" سره ترجمه کېږي، چې ستوری او سپوږمی (دواړه) په یوه فضاء کښې دي.

ج: هلته د څلورو هلاکو شوو قومونو نومونه اخستل شوي وه لکه عادیان، ثمودیان، د نوح ﷺ قوم او د لوط ﷺ قوم، خو دلته پرته د ترتیبه څلورو واړو ته لږ څه تفصیل ورکړی شوی دی او بیا د فرعونیانو بنیاد ویستلو ته هم اشاره شوې ده.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ ﴿١﴾ وَإِن يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴿٢﴾
وَكَذَّبُوا وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ ۚ وَكُلُّ أَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣﴾ وَلَقَدْ جَاءَهُم مِّنَ الْأَنبَاءِ مَا فِيهِ
مُزْدَجَرٌ ﴿٤﴾ حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ ۖ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ﴿٥﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ۘ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ إِلَىٰ شَيْءٍ
نُّكُرٍ ﴿٦﴾ خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ﴿٧﴾ مُّهْطِعِينَ
إِلَى الدَّاعِ ۖ يَقُولُ الْكَافِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴿٨﴾ ﴾

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۱۲۵

(۲) تفسیر الخازن ج۶ ص۱۲۰؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۸ ص۲۲۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] د قیامت ورځ ډېره نژدې شوه او سپوږمۍ وچاوده (دوه ټوټې شوه).

[۲] او که چرته مشرکان (کفار د توحید او نبوت) یوه نښه وګوري، نو سمدستي ترې اعراض کوي او وایي چې دا دوامداره (یا قوي) جادو دی (چې همدا لقب یې په شق القمر باندې هم کېښود).

[۳] او (همدارنګه یې پیغمبر ﷺ ته) د دروغژن نسبت وکړ او د خپلو خواهشاتو پیروي یې وکړه (او دوام یې ورکړ)، حال دا چې هر کار قرار نیوونکی دی (نهایي هدف ته رسېدونکی دی، چې د همدې قبیلې څخه د اسلام پرمختګ هم دی).

[۴] او یقینًا کفارو ته د خبرو څخه هغه خبرونه ورغلي دي په کومو کښې چې (د عبرت په لحاظ) منعه پرته ده.

[۵] (دغه د پخوانیو هلاکو شوو قومونو خبرونه) سراسري حکمت (او په ګټه رسونه کښې نهایت ته) رسېدلي دي، خو (عنادي کفارو ته) ډاروونکي (عبرتي خبرونه او درسونه) ګټه نه رسوي.

[۶] نو (ای پیغمبره!) د دغو (عنادیانو کفارو) څخه مخ واړوه (مګر خپل دعوت ته ادامه ورکړه او) هغه ورځ ورته یاده کړه چې کله یوه ناآشنا شي ته بلونکی بلل وکړي (چې هغه د قیامت ورځ ده).

[۷] حال دا چې د کفارو سترګې به (په دغه وخت کښې) ذلیله وي (او) د قبرونو څخه به په داسې کیفیت سره بهر راوځي لکه چې یقینًا دوی خواره واره (تیت پرک) مولخان وي.

[۸] حال دا چې دوی به (د ډارېدونکي) بلونکي خوا ته ورځغلېدونکي وي، کفار به وایي چې دغه ډېره سخته ورځ ده.

## ارتباط او شان نزول

۱ـ د وړاندېنۍ سورت (النَّجْمْ) په وروستنیو ایتونو کښې د ﴿ أَزِفَتِ ٱلْآزِفَةُ ﴾ په نزول سره د قیامت قیام ته اشاره شوې وه چې ډېر نژدې راروان دی، په دې ایتونو کښې په عین مطلب باندې د یوې څرګندې نښې په صورت کښې صراحت نازل شوی دی.

۲ـ د شان نزول په هکله یې انس رضي الله عنه وایي چې: «سَأَلَ أَهْلُ مَكَّةَ أَنْ يُرِيَهُمْ آيَةً فَأَرَاهُمُ انْشِقَاقَ الْقَمَرِ»(۱) یعنې یوه شپه د مکې خلکو د نبي کریم ﷺ څخه وغوښتل چې د خپل نبوت یوه معجزه ورته ورولیده کړي، نو نبي کریم ﷺ هغوی ته د سپوږمۍ دوه پړقه چوول ور وښودل.

بیا الله ﷻ همدا موضوع په قرآن کریم کښې یاده کړه او د ﴿ ٱقْتَرَبَتِ﴾ څخه تر ﴿ مُّسْتَمِرٌّ ﴾ پورې دوه ایتونه یې نازل کړه(۲).

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د قیامت د قیام په ارتباط په خپل اُمت باندې دغه ارشادات قرائت کړه:

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۲
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ د قیامت د ورځې تحقق ډېر رانژدې شوی دی او لږ وخت ورته پاتې دی چې ظهور وکړي، او دا ځکه چې سپوږمۍ وچاوده او دوه ټوټې وګرځېده خو د څه وخت څخه وروسته بېرته وصله شوه او دواړه ټوټې یې سره یو ترېله ونښتلې. خو داسې وخت نژدې راروان دی چې د سپوږمۍ په شمول به ټول ستوري د اسمانه راودوړېږي او پرچه پرچه او تیت پرک به جوړ شي چې همدا به د قیامت قیام وي.

۲ـ سپوږمۍ وچاوده او د قیامت په قیام باندې یې ښودانه وکړه او هم یې د پیغمبر ﷺ د صداقت دپاره د معجزې په توګه ظهور وکړ، مګر مشرکانوورباندې ایمان رانهووړ او د پیغمبر په صفت یې قبول نه کړ. د مشرکانو همدغه خاصیت یوازې د شق القمر په نسبت صورت نه نیسي بلکې هغوی که هره معجزه او د نبوت هره نښه وګوري د ایمان راوړلو څخه انکار کوي او عناداً کفر او شرک ته ادامه ورکوي، او د بهانې نیولو په منظورورباندې د جادو نوم ږدي چې دا هم د هغه جادو څخه یو ډول جادو دی چې محمد ﷺ یې په دوامداره توګه ښودانه کوي.

۳ـ نو په همدغسې بهانو نیولو باندې خپلو خانونو ته قناعت ورکوي او د نبوت په تکذیب باندې کلک پاتې کېږي او د خپلو خواهشاتو پیروي لا کلکوي.

۴ـ ای پیغمبره! که مشرکان هرڅومره هلې ځلې وکړي او ستا د دین د منځه وړلو دپاره هر څومره دسیسې په کار واچوي هم هیڅ ګټه به ورته ونه شي رسولی او ډېر لږ وخت وروسته به ستا د دین حقانیت او د شرکي عقیدې بُطلان د لمر په شان څرګند شي، او دا ځکه چې هر کار خپلې انتهاء ته رسېدونکی دی او په خپل نهایي منزل کښې قرار نیوونکی دی، چې په دغه وخت کښې د هر کار ټول کیفیات راڅرګندېږي برابره خبره ده چې حق وي او که باطل.

۵ـ یقینًا کفارو ته د غیبي خبرونو څخه هومره ورغلي او ورته ابلاغ شوي دي چې د کفر د مخنیوي دپاره یې کفایت کوي البته په هغه وخت کښې چې د عناد څخه لاس واخلي او حقایقو ته په دقت سره وګوري. او دا ځکه چې: ذکر شوي غیبي خبرونه د هغو حکمتي خبرونو څخه عبارت دي چې په خپل احکام او قوت او هم په خپل صداقت او واقعیت کښې نهایت ته رسیدلي دي، لکه د پخوانیو قومونو د حالاتو بیان او یا لکه د راتلونکو کیفیاتو څرګندوالی.

۶ـ خو د دې سره-سره کفار په خپل کفر باندې کلک دي او ډاروونکي خبرونه ورته هیڅ ګټه نه شي رسولی او د کفري او شرکي عقیدې اصلاح یې نه شي کولی. نو ته د دغو عنادیانو څخه مخ واړوه او په ناندریو سره یې وخت مه ضائع کوه او مه یې په کفر باندې ډېر زیات غمژن کېږه.

۷ـ ای پیغمبره! مشرکانو ته یو ځل بیا حکمتي خبرونه ابلاغ کړه او د قیامت د ورځې څه حالات ورباندې قرائت کړه هغه دا چې:

الف: هغه ورځ ورته یاده کړه په کومې چې هغوی یوه ناآشنا شي ته وبللی شي، چې هلې: د قبرونو څخه په زغرده اوچت شي: او د حساب، کتاب دپاره د محشر په میدان کښې ودرېږي.

ب: نو په دغه وخت کښې به په داسې حال کښې د قبرونو څخه بهر شي چې سترګي به یې ذلت او حقارت احاطه کړې وي او د خجالت سره به مخ وي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: نو د پتنګانو غوندې به په ډېر زيات ازدحام کښې د قبرونو څخه راپورته شي او د خورو ورو ملخانو په څېر به د ځمکې مخ پټ کړي.

د: په عين حال کښې به د حشر ميدان ته په تلوار او توندۍ سره د بلونکي اجابت کوونکي وي چې: هلئ ژر شئ هلته وروځغلئ.

هـ: نو په دغه وخت کښې به کفار او مشرکان ووايي چې دغه ده ناآشنا ورځ او دغه ده ډېره سخته ورځ چې مونږ ترې په دنيا کښې په غفلت کښې پراته وو او باور مو ورباندې ونه کړ.

## توضيحات

۱ـ د شق القمر (د سپوږمۍ د چاودلو) په ارتباط د مقام په ملحوظ لاندې معلومات ولولئ:

الف: کله چې يو شی خپل نهايي عمر ته ورنژدې شي نو د زوال نښې پکښې راڅرګندېږي، لکه چې د ځوان سړي ويښتان سپينېږي او ملا يې کږېږي او داسې نور. د همدې کبله د قيامت د نژدېکت دپاره د سپوږمۍ انشقاق د نژدېکت يوه نښه وګڼله شوه، چې د دنيا عمر لږ پاتې دی او ډېر ژر به قيامت قائم شي. په همدغه نژدېکت باندې د الله ﷻ په توفيق د احاديثو په رڼا کښې د [الأحزاب:۶۳] ايت لاندې بحث تېر شوی دی، هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

ب: ډېر لږ مفسرين کرام په ﴿ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ ﴾ کښې د "انْشَقَّ" ماضي کلمه د "يَنْشَقُّ" مضارع کلمې په معنی تفسيروي چې: انشقاق القمر تېر شوی نه دی بلکې په آينده کښې د قيامت د قيام په مهال به صورت ونيسي[۱]. دغه ډول تفسير په دې مقام کښې د وړاندېنۍ جملې ﴿ ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ ﴾ او هم د وروستنۍ جملې ﴿ وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةً يُعۡرِضُواْ ﴾ سره ښه پيوند نه اخلي، د همدې کبله جمهورو مفسرينو کرامو ذکره شوې ماضي په خپله معنی سره اخستې ده، چې انشقاق القمر تېر شوی دی[۲].

ج: د جمهورو مفسرينو کرامو نظر په زښتو ډېرو احاديثو کښې هم روايت شوی دی چې که متواتر نه وي لکه چې ځينې مفسرين کرام وايي[۳]، نو شهرت ته خو رسېدلي دي، د دې احاديثو راويان دولس تنه عظيم الشان صحابه کرام ﷺ دي چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او عبد الله بن مسعود ﷺ هم پکښې شموليت لري[۴].

د: څرنګه چې په دې موضوع کښې د احاديثو په تواتر کښې اشتباه ده او د مفسرينو کرامو اجماع هم يقيني نه ده، نو د شق القمر منکر نه کافر کېږي[۵] چې وايي د سپوږمۍ انشقاق تر اوسه نه دی پېښ شوی او په راتلونکي کښې به پېښ شي.

هـ: د قرآن کريم او احاديثو په بنياد شق القمر واقع شوی دی نو د تواريخو عدم ذکر ورباندې هيڅ

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۷ ص۱۲۶
(۲) زاد المسير ج۷ ص۲۴۲
(۳) تفسير ابن کثير ج۴ ص۲۶۱
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۴۱۴
(۵) روح المعاني ج۲۷ ص۷۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



منفي اثر نه شي اچولی. لکه څنګه چې د ذو القرنين بند په قرآن كريم او احاديثو سره په اثبات رسېدلی دی نو د دنياوالو عدم موندل وربانديي څه منفي اغېز نه شي غورزولی. نو د همدې کبله څه اړتيا نشته چې مونږ د معاندينو د قناعت دپاره ځينو جوابونو ته لاس واچوو، لکه[۱]:

اول: شق القمر د عربستان په مطلع کښې صورت نيولی وه او د مطالعو اختلاف او وړاندېوالی وروستوالی خو د هيچا څخه پټ نه دی.

دوهم: امکان لري چې په دغه وخت کښې به په نورو مطالعو کښې اسمان وريځ وه او سپوږمۍ به څرګنده نه ښکاره کېدله.

درېم: شق القمر د شپې واقع شوي وه او د شپې د پلوه خو ټولو خلکو اسمان ته سترګې نه وي نيولې چې څه پېښېږي؟ حال دا چې خلک مخکښې خبر شوي هم نه وه چې داسې کار کېدونکی دی.

څلورم: په دې باندې علاوه شق القمر د اوږده وخت دپاره دوام هم نه وه کړی لکه څومره چې خسوف دوام کوي، حتی په خسوف باندې هم ټول خلک د څرمې خبر نه وي چې ټول يې په خپلو سترګو وګوري. د نن[۲] څخه تقريباً پنځه شپې وړاندې سپوږمۍ تندر نيولې وه (خسوف واقع شوی وه) خو ټولو خلکو ونه ليده بلکې سبا ته وربانديي يو د بل د خولې څخه خبر شوه.

و: کله چې شق القمر واقع شو نو مشرکانو يې د منلو څخه انکار وکړ او د جادو نوم يې وربانديي کېښود که څه هم په عين حال کښې ابو جهل نورو ته مخ وروااړاوه چې تاسو په دغه لقب ورکولو سره عجله مه کوئ، يو خل د خپلو هغو کسانو څخه چې په بيديا کښې اوسېږي او خپل څاروي څروي پوښتنه وکړئ[۳]، او ځينو نورو مشرکانو وويلې چې د هغو خلکو څخه هم معلومات واخلئ کوم چې په نورو وطنونو کښې د سفر په حال دي[۴]، چې هغوی ذکر شوی صورت حال ليدلی دی او که نه؟، حتی ځينو کسانو په دې پلټنه باندې زيات ټينګار وکړ په دې دليل چې که محمد ﷺ جادو کړی وي نو په مونږ باندې به يې کړی وي، په ټولو خلکو باندې خو جادو نه شي کولی[۵].

که څه هم د مشرکانو پلټنو مثبته نتيجه ورکړه مګر دوی د جادو په لقب ورکولو باندې کلک ودرېده، لکه چې په ايت شريف کښې ورته اشاره شوې ده.

ز: شق القمر واقعه په اسمان کښې پېښه شوې ده چې سپوږمۍ په دوه وو ټوټو سره جدا شوه او بيا دواړه ټوټې همدلته سره بېرته وصلې شوې (ځمکې ته يې کومه ټوټه نه ده راکوزه شوې).

د همدې کبله عبد الله بن مسعود ﷺ وايي چې: «انْشَقَّ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ حَتَّى رَأَيْتُ الْجَبَلَ مِنْ بَيْنِ فُرْجَتَيْ الْقَمَرِ»[۶] يعنې د نبي کريم ﷺ په زمانه کښې سپوږمۍ په دوه وو ټوټو سره

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۷۶
(۲) ۱۴۲۴/۹/۲۵ هـ ق
(۳) البحر المحيط ج۱۰ ص۳۲
(۴) تفسير ابن كثير ج۴ ص۲۶۲
(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۴
(۶) مسند أحمد بن حنبل ج۲ ص۸۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وچاوده حتی چې ما د سپوږمۍ د دواړو ټوټو ترمنځ غر ولید (چې په منځکښې یې حائل شوی وه او واضحه لیده کېده).

ح: که څوک وایي: أنس ﷺ ویلي دي چې: «أَنَّ أَهْلَ مَكَّةَ سَأَلُوا رَسُولَ اللهِ ﷺ أَنْ يُرِيَهُمْ آيَةً فَأَرَاهُمُ انْشِقَاقَ الْقَمَرِ مَرَّتَيْنِ»[1] یعنې د مکې خلکو د نبي کریم ﷺ څخه وغوښتل چې یوه معجزه ورته ور ولیده کړي، نو نبي کریم ﷺ هغوی ته د سپوږمۍ چاودېدل دوه کرته وروليد کړه. نو پوښتنه دا ده چې ایا شق القمر یو کرت صورت نیولی دی او که دوه کرته؟

مونږ وایو چې: په حدیث شریف د «مَرَّتَيْنِ» کلمه په «انْشِقَاقَ» پورې تعلق نه نیسي ترڅو اعتراض وارد شي چې انشقاق دوه کرته صورت نیولی دی، بلکې په «فَأَرَاهُمْ» پورې متعلقه ده چې ورلیدلو یې دوه کرته تحقق وموند چې یو کرتِ یې سترګې پټې کړې او بیا یې بېرته کړې او شق القمر لا باقي وه وصل شوی نه وه.

ط: په ذکر شوي جواب باندې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما یو روایت ډېر ښه دلالت کوي چې په لاندې پنځو ټکو کښې خلاصه شوی دی:

اول: أهل مکه نبي کریم ﷺ ته ورغله او ویې ویلې چې: ایا داسې کومه معجزه شته چې مونږ ورباندې ستا نبوت تصدیق کړو چې ته په حقه پیغمبر یې؟

دوهم: په دغه وخت کښې جبرائیل ﷺ راښکته شو او نبي کریم ﷺ ته یې وویل چې: ای محمده! أهل مکه وو ته ووایه چې که دوی دغه راتلونکې شپه د خپلو ځایونو څخه بې ځایه شي (بیدیا ته ووځي) نو د نبوت غټه معجزه به وګوري.

درېم: کله چې نبي کریم ﷺ هغوی خبر کړل نو د میاشتې په څوارلسمه ورځ باندې دوی ټول بیدیا ته ووتل او سپوږمۍ یې د صفا او مروه په مقام کښې ولیده چې دوه پړقه شوه.

څلورم: اهل مکه وو ورته ښه په خیر سره وکتل بیا یې ترې سترګې راواړولې او ښې یې وموښلې چې: ایا رښتیا سپوږمۍ دوه پړقه ده که په نظر کښې مو څه نقصان پېښ شو؟ نو د موښلو څخه وروسته یې بیا ورته وکتل چې سپوږمۍ دوه پړقه ده.

پنځم: هغوی په درېم ځل هم د سترګو موښل تکرار کړه او په درېم ځل باندې یې هم سپوږمۍ د انشقاق په حال کښې ولیده نو ویې ویلې چې: "يَا مُحَمَّدُ! مَا هَذَا إِلَّا سِحْرٌ ذَاهِبٌ"[2] یعنې ای محمده! دغه انشقاق نه دی مګر روان جادو دی چې ډېر ژر به تېر شي (یا په بل عبارت: دا هم ستا د جادوګرۍ یو قوي ډول دی).

ي: که څوک وایي چې: د الله ﷻ قانون دی چې کله کوم قوم د غوښتلې شوې معجزې څخه انکار وکړي نو د هغوی ټولو بنیاد وباسي لکه چې د صالح ﷺ د قوم بنیاد یې وویست. نو پوښتنه دا ده

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۷۳
(۲) الدر المنثور ج۷ ص۶۷۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د څه حکمت په بنیاد په أهل مکه وو (کفارو) باندې ذکر شوی قانون تطبیق نه کړی شو چې پوښنا کړی شوې وی؟

مونږ وایو[۱] چې: د یو پلوه انشقاق القمر د یوې لحظې کار وه او د صالح ﷺ د اعجازي ناقې (اوښې) غوندې اوږد مهالي نه وه، او د بله پلوه د معجزې فرمایش د ټولو خلکو د پلوه صورت نه وه نیولی بلکې د یوې ډلې کار وه، نو ځکه الله ﷻ هغوی په عذاب سره پوښنا نه کړه، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال وإليه المرجع والمآل.

یا: بالآخره، شق القمر د نبي کریم ﷺ د نبوت د اظهار دپاره په مکه معظمه کښې د بعثت په پنځم کال صورت نیولی وه[۲] اما په مکه معظمه کښې یې ځینو علماوو کرامو د مِنا مقام ښودلی دی[۳] او ځینې وایي چې دغه پېښه د صفا او مروه د دوه وو غونډیو په اسمان کښې رامنځته شوې ده[۴].

## د ځو لغاتو معناوې

۲_ په دې مقام کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف: په ﴿ سِحْرٌ مُسْتَمِرٌّ ﴾ کښې د ﴿ مُسْتَمِرٌّ ﴾ کلمه د اشتقاق په لحاظ لاندې دوه احتماله درلودلی شي:

اول: چې اصلاً د "مِرَّة" _لکه "هِرَّة"_ څخه اشتقاقه وګڼلی شي چې د قوت او محکموالي معنی ورکوي[۵]. یعنې مشرکانو شق القمر ته اشاره وکړه او ویې ویلې چې دا ډېر قوي او محکم جادو دی.

دوهم: چې اصلاً د "مُرُور" _لکه "عُبُور"_ څخه مشتقه کړی شي چې د تېرېدلو معنی ورکوي. یعنې هغوی وویلې چې: شق القمر یو تېرېدونکی جادو دی، ادامه نه لري تاسو د خپلې پلارنۍ عقیدې څخه لاس مه اخلئ.

ب: په ﴿ وَكُلُّ أَمْرٍ مُسْتَقِرٌّ ﴾ کښې د ﴿ مُسْتَقِرٌّ ﴾ کلمې اصلا د "قَرَار" _لکه "شَرَاب"_ څخه اشتقاق موندلی دی، چې د ثبات او عدم حرکت معنی ورکوي. یعنې هر کار استقرار او ثبات نیوونکی دی چې کله نهایي هدف ته ورسېږي، د همدې کبله د نبي کریم ﷺ دین هم مخ په کمال روان دی او ډېر ژر خپل هدف ته رسېدونکی دی چې په ټوله نړۍ کښې به نشر شي، که تاسو یې پیروي وکړئ نو دا کار به فقط ستاسو په ګټه تمام شي او بس.

ج: په ﴿ مَا فِيهِ مُزْدَجَرٌ ﴾ کښې د ﴿ مُزْدَجَرٌ ﴾ کلمه اصلاً د "زَجْر" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د منعې معنی ورکوي[۶]، په دغې کلمه کښې د "د" توری د "ت" د توري څخه بدل دی،

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۵ ص۲۶۱؛ حواشي صحيح البخاري ج۱ ص۵۱۳
(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۷۴
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۱۷۷
(۴) الدر المنثور ج۷ ص۶۷۲
(۵) مفردات الراغب ص۴۸۵؛ القاموس المحيط ج۴ ص۲۲۶
(۶) لسان العرب ج۴ ص۳۱۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې په اصل کښې "مُزْدَجَرٌ" وه. یعنې: مشرکانو ته د پخوانیو هلاکو شوو قومونو د خبرونو څخه زښت ډېر خبرونه ورغلي او په قرآن کریم کښې ورباندې قرائت شوي دي، همدغه خبرونه کفایت کوي چې د هغوی د شرکي عقیدې مخه ونیسي او د غیر الله د اتباع څخه یې منعه کړي، خو هغوی ترې عبرت نه اخلي او خپلې کفرې لارې ته ادامه ورکوي.

## یو نحوي تحلیل

۳ـ د ﴿ حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ ﴾ په اعراب کښې خو مفسرینو کرامو متعدد تحلیلونه لیکلي دي[۱]، مونږ ته بهتره دا برېښي چې دلته به د "هِيَ" کلمه مقدره وي چې مبتدا ده او د ﴿ ٱلْأَنۢبَآءِ ﴾ کلمې ته راجع ده. یعنې کوم خبرونه چې په کفارو باندې د عبرت دپاره قرائت کړی شوي دي هغه سراسري حکمت دی او په قوت او محکموالي کښې لوړې درجې ته رسېدونکي دي، خو افسوس چې د عنادي کفارو څخه ډاروونکي د څه عذاب مخه نه شي نیولی چې د جنایتونو څخه یې منعه کړی شي.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَمَا تُغْنِى ٱلْءَايَـٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴾ [یونس: ۱۰۱] یعنې او دلایل او ډاروونکي د داسې قوم څخه د عذاب مخه نه شي نیولی کوم چې (عناداً او قصداً) ایمان نه راوړي.

## هېر مو نه شي

۴ـ هېر مو نه شي چې په دې سورت (القمر) کښې د "نُذُر" کلمه یوولس خله نازله شوې ده، چې د لغت کتابونو په لاندې درې ډوله سره تحلیله کړې ده[۲]:

الف: دغه کلمه "نُذُر" د هغه "نَذِیر" جمعه ده کوم چې د "مُنْذِر" معنی ورکوي، لکه چې "بَدِیع" د "مُبْدِع" معنی ورکوي.

ب: دا کلمه د هغه نذیر جمعه ده کوم چې د "إِنْذَار" سره مرادفه ده.

ج: بالآخره، دا کلمه پخپله مصدر ده، مفرده ده او د بلې کلمې جمعه نه ده.

که څه هم په درېواړو تحلیلونو کښې په اصلي مطلب باندې چندان اثر نه پرېوځي خو مونږ ته لومړی تحلیل غوره برېښي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ذکره شوې کلمه (نُذُر) ټولو ډاروونکو ته شامله ده، برابره خبره ده چې پیغمبران وي، که معجزات، یا اسماني عذابونه، یا د پخوانیو هلاکو شوو کفارو تهدیدي خبرونه او داسې نور. نو مونږ په دغو یوولسو واړو ځایونو کښې د همدغې کلمې (نُذُر) دپاره یوه یا دوه معناوې د مثال په توګه لیکلي دي او حصر مو مطلب نه دی.

---

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۷۹

(۲) القاموس المحیط ج۴ ص۳۵۲، لسان العرب ج۵ ص۲۰۱، مفردات الراغب ص۵۰۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

٥ـ په ﴿ مُّهْطِعِينَ إِلَى ٱلدَّاعِ ﴾ كښې د ﴿ مُّهْطِعِينَ ﴾ كلمه د "إِهْطَاع" ـ لكه "إِكْرَام" ـ څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [إبراهيم:٤٣] ايت لاندې ليكلي دي چې "إِهْطَاع" هغې منډې او څغاستې ته ويل كېږي د كومې سره چې ډار هم ملګرى وي. يعنې كله چې مشركان او كفار د قيامت په ورځ د حشر ميدان ته وروبلل شي نو په داسې حال به هلته څغلېدونكي وي چې زړونه به يې له ډاره ډک وي او خړې (ذليلې) سترګې به يې نيولې وي.

﴿ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا۟ عَبْدَنَا وَقَالُوا۟ مَجْنُونٌ وَٱزْدُجِرَ ﴿٩﴾ فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنِّى
مَغْلُوبٌ فَٱنتَصِرْ ﴿١٠﴾ فَفَتَحْنَآ أَبْوَٰبَ ٱلسَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴿١١﴾ وَفَجَّرْنَا ٱلْأَرْضَ عُيُونًا
فَٱلْتَقَى ٱلْمَآءُ عَلَىٰٓ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ﴿١٢﴾ وَحَمَلْنَٰهُ عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَٰحٍ وَدُسُرٍ ﴿١٣﴾ تَجْرِى بِأَعْيُنِنَا
جَزَآءً لِّمَن كَانَ كُفِرَ ﴿١٤﴾ وَلَقَد تَّرَكْنَٰهَآ ءَايَةً فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿١٥﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِى وَنُذُرِ
﴿١٦﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿١٧﴾ ﴾

[٩] د دې زمانې د مشركانو څخه مخكښې د نوح ؑ قوم (ټولو پيغمبرانو ته) د دروغو نسبت وكړ نو (پخپله) زمونږ بنده (نوح ؑ) يې هم تكذيب كړ او ويې ويلې چې (دا) ليونى دى او (د دعوت څخه په رجم سره) منعه كړى شوى (او تهديد كړى شوى) دى.

[١٠] نو نوح ؑ خپل رب ﷻ ته سوال وكړ چې: (اى ربه!) يقينًا زه (د دعوت په هكله) مغلوب يم (زما دعوت ونه منل شو) نو (د مشركانو څخه زما) انتقام واخله (او عذاب ورباندې نازل كړه).

[١١] نو مونږ په بهېدونكو اوبو سره د اسمان دروازې ببرته كړې (چې وربانډې ور ونه ورېدې بلكې وربانډې ورتوى شوې).

[١٢] او ځمكه مو د چينو د حيثه څېرې كړه (ټوله مو چينې چينې وګرځوله)، نو (د اسمان او ځمكې دواړو) اوبه په هغه كار باندې سره پيوسته شوې كوم چې (په ازل كښې) اندازه كړى شوى (او مقدر كړى شوى) وه (هغه دا چې:)

[١٣] (مونږ ټول مشركان غرق كړه) او نوح ؑ مو (د خپلو ملګرو په شمول) د لرګيو د تختو او ميخونو خاونده (بېړۍ) كښې اوچت كړ (جوړښت يې د همدغو شيانو څخه وه).

[١٤] دا (بېړۍ) زمونږ په حفاظتونو سره (په اوبو كښې) چلېدله (او د غرق څخه بچ وه) دا ټول كارونه مو د دې دپاره وكړه چې مونږ هغه چا ته (په نجات سره او د دښمن په هلاک سره) جزا وركړو (او غچ ورته واخلو) كوم چې وه چې ناشكري يې كړى شوې وه (كوم چې د نوح ؑ څخه عبارت وه).

[١٥] او يقينًا مونږ ذكره شوې بېړۍ (د وروستنيو قومونو دپاره د خپل قدرت) لويه نښه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وګرځوله، نو ایا کوم عبرت اخستونکی شته؟

[۱۶] نو (وګوره) زما عذاب او زما ډاروونکي څنګه (سره یو تربله نژدې) وه؟

[۱۷] او یقیناً مونږ دا قرآن کریم د پند اخستلو دپاره اسان کړی دی (چې حقائق مو پکښې هو بهو نازل کړي دي) نو ایا پند اخستونکی (او عبرت اخستونکي) څوک شته؟

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې دا مضمون هم شامل وه چې مشرکانو او کفارو ته د پخوانیو کافرو هلاکو شوو قومونو ډېر عبرتي درسونه ورغلي دي. د دې ایتونو څخه نیولې آن تر [۴۲] ایت پورې په (۳۴) ایتونو کښې د عبرت او پند اخستلو په منظور، د پخوانیو کفري هلاک کړی شوو قیصو ته د مثال په توګه اشارې شوې دي چې تفصیل یې په نورو سورتونو کښې تېر شوی دی او یا پکښې راروان دی. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل دعوتي اُمت باندې د عبرت اخستلو دپاره د نوح ﷺ د هلاک کړی شوي قوم څه لنډ حالات قرائت کړه هغه دا چې:

۱ــ د نوح ﷺ قوم د مکې معظمې د مشرکانو څخه وړاندې د ټولو پیغمبرانو تکذیب وکړ چې بالکل د نبوت څخه انکاري شوه او همدغه انکار ته یې تر ډېرې زمانې پورې ادامه ورکړه. نو د همدغه کلک انکار په بنیاد زمونږ د بنده (نوح) په تکذیب باندې هم باقي پاتې شوه آن تر دې چې:

۲ــ د نوح ﷺ په هکله یې سره یو تربله وویلې چې: نوموړی لیونی دی، که نه نو مونږ خو ورته اخطار ورکړی دی چې که نوموړی خپل دعوت ته ادامه ورکړي نو هرومرو به په ډېرو باندې ووژلی شي. که نوموړی لیونی نه وی نو ذکر شوی اخطار به یې په نظر کښې نیولی وی او په لوی لاس به یې خپل خان نه رجم کولی او مونږ به یې نه مجبورولی چې خپل اخطار ورباندې عملي کړو.

۳ــ نو په دغه وخت کښې نوح ﷺ خپل رب ته د سوال لاسونه پورته کړه چې: ای ربه! زه د کفارو د پلوه مغلوب کړی شوی یم، او زه په هغوی باندې د خپل دعوت په قبول کښې پاتې راغلم، بلکې زه باور لرم چې هغوی په راتلونکي کښې هم زما د دعوت قبلولو ته تیار نه دي. نو د مهربانی د مخې د هغوی څخه په دنیا کښې زما انتقام واخلې او یو کس یې هم په ځمکه باندې ژوندي پرېنږدې (ټول پوپنا کړې).

۴ــ مونږ د نوح ﷺ سوال قبول کړ او هغوی مو د ځرمې غرق کړل هغه داسې چې:

الف: د ډېرو اوبو په مخ مو د اسمان دروازې بېرته کړې او په شدت سره مو ورباندې وربنت پیل کړ.

ب: د ځمکې څخه مو هم په ډېر قوت سره اوبه راوخوټولې او ټوله ځمکه مو ځېرې-ځېرې کړه او چینې-چینې مو وګرځوله چې فوارې یې هوا ته پورته کېدلې.

ج: نو د اسمان او ځمکې اوبو سره لاس یو کړ او په هغه کار باندې متفقې شوې چې د الله ﷻ د پلوه مقدر کړی شوې او په ازل کښې لیکل شوی وه نو هغوی ټول غرق کړی شوه او ټوله ځمکه دریاب وګرځېده.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: خو په عین حال کښې مونږ نوح ﷺ او د ده سره ملګري مؤمنان په هغې بېړۍ کښې سواره کړل او نجات مو ورکړ، کومه چې د تختو او مېخونو خاونده وه. یا په بل عبارت: د کومې د لرګي تختې چې د اوسپنې په میخونو باندې میخ کړی شوې وې او سوري یې په ډېر ښه شان سره بند کړی شوي وه.

ه: دغه بېړۍ زمونږ د حفاظتونو لاندې جوړه کړی شوې وه او زمونږ د حفاظتونو لاندې په عظیم الشان دریاب کښې بې خطره چلېده.

و: دا کار مونږ د دې دپاره عملي کړ ترڅو هغو ناشکرانو ته په دنیا کښې د راتلونکو قومونو د عبرت دپاره جزا ورکړو او د دې دپاره هم چې د هغه چا انتقام ترې واخلو د کوم چې ناشکري کړی شوې وه، کوم چې ورته نهه نیم سوه کاله نصیحتي دعوت چلولی وه.

بالآخره، مونږ ذکره شوې بېړۍ د خپل کامل قدرت یوه نښه پرېښودله چې ځینو خلکو په خپلو سترګو ولیده چې په جودي نومې غره باندې ولاړه وه او د قیامت تر قیامه پورې نور خلک ورباندې خبر کړی شو چې عبرتي درس ترې واخلي. نو ایا کوم عبرت اخستونکی او پند اخستونکی شته چې عبرت او پند ترې واخلي؟.

۵ـ نو زما عذاب څنګه وه؟ چا یې مخه ونیوله شوه؟ او زما د ډارونکو څخه انکار کول او ناشکري کول څنګه وه؟ ایا بنیاد ویستونکی عذاب یې په تعقیب کښې صورت ونه نیوه؟.

۶ـ ای پیغمبره! بې شکه مونږ دا قرآن کریم د عبرت اخستلو دپاره اسان کړی دی او هرڅوک کولی شي چې په اسانۍ سره ترې عبرتي ګټې اوچتې کړي. نو ایا کوم عبرت اخستونکی او پند اوچتوونکی شته چې عبرت ترې واخلي او پند ترې اوچت کړي؟.

یا په بل عبارت: مونږ د قرآن کریم په نزول سره د پخوانیو کفري هلاک کړی شوو قومونو څخه د عبرت اخستل اسان کړي دي، چې پخواني حوادث مو پکښې هوبهو او کټ مټ نازل کړي دي. که بالفرض مونږ دا کار نه وی کړی نو د هغوی حالات به یاد وروستنیو خلکو څخه بالکل پټ پاتې وي یا به ورته کټ مټ نه وي رسېدلي او بالآخره یا به د هغوی د هلاک وجه کفر نه وی ښودلي شوې. نو په دغو درېواړو صورتونو کښې به د هغوی د حالاتو څخه عبرتي درس اخستل اسان کار نه وی.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي: د ﴿ فَكَذَّبُوا عَبۡدَنَا ﴾ د جملې مضمون خو د ﴿ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٍ ﴾ د جملې په مضمون کښې شامل دی، نو د ذکر شوي مضمون په تکراري نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو[1]:

الف: په اولنۍ جمله کښې اجمال دی او په دوهمه جمله کښې همدغه اجمال د منځه وړل شوی دی او پوره واضحه ده چې د اجمال څخه وروسته تفصیل په اذهانو کښې ډېر ښه تقرر نیسي.

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۸۱؛ تفسیر القاسمي ج۱۵ ص۲۶۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په هغې جمله کښې د ﴿ كَذَّبَتْ ﴾ مفعول مقدر دی چې مونږ ترې په "الرُّسُلْ" سره تعبیر کولی شو او ټولو پیغمبرانو ته شمولیت لري، او په دوهمه جمله کښې یوازې نوح ﷺ ته تکذیب متوجه دی چې د زیات ترحم دپاره ترې په ﴿ عَبْدَنَا ﴾ سره تعبیر صورت نیولی دی. یعنې د نوح ﷺ قوم خاص د نوح ﷺ په تکذیب باندې اکتفاء نه وه کړې، بلکې د عامو پیغمبرانو څخه انکاري وه چې بالکل نبوت ثبوت نه لري.

۲ـ په ﴿ مَجْنُونٌ وَٱزْدُجِرَ ﴾ کښې د "اِزْدُجِرَ" کلمه د "اِزْدِجَار" ـلکه "اِفْتِعَال"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د [القمر:۴] ایت لاندې لږ وړاندې تحلیله شوې ده ـوالحمد لله ﷻـ او د منعې معنی ورکوي. یعنې مشرکانو وویلې چې: نوح ﷺ لیونی دی او د دعوت څخه زمونږ د پلوه منعه کړی شوی دی چې په رجم سره اخطار ورکړی شوی دی، د نوموړي د لیونتوب یوه نښه دا ده چې د دعوت څخه لاس نه اخلي او مونږ مجبوروي چې خپل اخطار او تهدید ورباندې عملي کړو.

د هغوی تهدید او اخطار ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ قَالُوا۟ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمَرْجُومِينَ ﴾ [الشعراء:۱۱۶] یعنې مشرکانو وویلې چې: ای نوحه! که چرته زمونږ په غوښتنه ته د خپل دعوت څخه منعه نه شې، نو هرومرو او ضرور به ته زمونږ د پلوه د رجم کړی شوو کسانو د ډلې څخه وګرځولی شې.

## إنهمار څه معنی؟

۳ـ په ﴿ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴾ کښې د ﴿ مُّنْهَمِرٍ ﴾ کلمه د "اِنْهِمَار" ـلکه "اِنْصِرَاف"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د اوبو د بهېدلو معنی ورکوي[۱]. یعنې مونږ د اوبو په مخ د اسمان دروازې پرانستلې چې راورېدلې نه بلکې رابهېدلې او په شدت سره په ډېره لویه پیمانه کښې رابښکته کېدلې.

## د دسار معنی

۴ـ په ﴿ ذَاتِ أَلْوَٰحٍ وَدُسُرٍ ﴾ کښې د "دُسُر" کلمه د "دِسَار" ـلکه "كِتَاب"ـ جمعه ده چې د مېخ معنی ورکوي[۲]. یعنې مونږ نوح ﷺ او د ده ﷺ ملګري په بېړۍ کښې اوچت کړل او د غرق څخه مو وساتل، البته هغه بېړۍ چې د لرګي د تختو څخه د مېخونو په ذریعه زمونږ په هدایت جوړه کړی شوې وه.

نو په دې مقام کښې د بېړۍ څخه د صفاتو په ذکر سره اکتفاء کړی شوې ده.

په همدغه مضمون باندې په بل ایت کښې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلْمَآءُ حَمَلْنَٰكُمْ فِى ٱلْجَارِيَةِ ﴾ [الحاقة:۱۱] یعنې یقیناً کله چې اوبو طغیان وکړ (او بنې ډېرې شوې) مونږ تاسو په بېړۍ کښې پورته کړئ (چې په اوبو کښې چلېدله).

---

(۱) لسان العرب ج۵ ص۲۶۶

(۲) مفردات الراغب ص۱۷۱؛ المحرر الوجيز ج۱۵ ص۲۹۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یو نحوي تحلیل

۵_ د ﴿ جَزَآءً لِّمَن كَانَ كُفِرَ ﴾ جمله په لاندې دول تحلیله کېدلی شي:

الف: د ﴿ جَزَآءً ﴾ کلمه د ﴿ فَفَتَحۡنَا ﴾، ﴿ وَفَجَّرۡنَا ﴾، ﴿ وَحَمَلۡنَٰهُ ﴾ درېواړو افعالو دپاره د تنازع په توګه د "مفعول له" په حیث منصوبه ده[1].

ب: په ﴿ لِّمَن﴾ کښې د "ل" توری په ﴿ جَزَآءً ﴾ پورې تعلق نیسي او د "مَن" کلمه د نوح ﷺ څخه کنایي ده.

ج: د ﴿ كُفِرَ ﴾ کلمه مجهوله ماضي ده او د اشتقاق په ملحوظ دوه احتماله درلودلی شي[2]: یو دا چې د "كُفْرَان" څخه متشقه فرض کړی شي کوم چې د شکر نقیض دی او پخپله متعدي دی. او بل دا چې دا د "كُفْر" څخه مشتقه فرض کړی شي کوم چې د ایمان نقیض دی او په "ب" سره متعدي ګرځي او په "کفر به" سره ترې تعبیر کېدلی شي.

نو د پاسني تحلیل په نظر کښې نیولو سره د ذکرې شوې جملې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: مونږ وراندېنې کارونه د دې دپاره ترسره کړه ترڅو هغه کس ته د دښمنانو په هلاک او د مؤمنانو په نجات جزا ورکړو او انتقام ورته واخلو کوم کس چې ناشکره کړی شوی وه (بې قدري يې شوې وه) او یا وربانديې ایمان نه وو راوړو شوی، چې هغه کس د نوح ﷺ څخه عبارت دی.

## یو صرفي تحلیل

۶_ په دې سورت (القَمَر) کښې د ﴿ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴾ جمله د موضوعاتو په ملحوظ شپږ کرته نازله شوې ده، او په ټولو جملو کښې د ﴿ مُّدَّكِرٖ ﴾ کلمې اصلاً د "ذِکر" څخه اشتقاق موندلی دی، چې په اصل کښې "مُذۡتَكِر" _لکه "مُكۡتَسِب" _ وه، بیا په ټولو کلمو کښې د صرفي قانون په بنیاد[3] د "ذ، ت" دواړو تورو د "د" په تورو سره د تخفیف دپاره ابدال موندلی دی او بیا په هره یوه کلمه کښې د "د" توري سره ادغام شوی دی او د هرې یوې کلمې څخه د "مُدکِر" کلمه جوړه شوې ده.

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې: په دې سورت کښې د ذکرې شوې مجموعې دوه وروستني ایتونه [۱۶، ۱۷] څلور څلور کرتې نازل شوي دي، نو په دغه تکراري نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې:

الف: که څه هم ظاهراً ذکر شوي ایتونه تکرار برېښي مګر په حقیقت کښې پکښې تکرار نشته،

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۱۳۲؛ تفسیر الکشاف ج۴ ص۴۳۵
(۲) لسان العرب ج۵ ص۱۴۴
(۳) صرف العزیز ص۲۷۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دا څکه چې په لحاظونو سره د یوه ځای ایت د بل ځای د ایت څخه مغایر دی او په اعتباراتو او لحاظونو سره څو ځیزونه تغیر مومي.

د همدې کبله یوه ورځې نبي کریم ﷺ د غوا هغې غوښې ته اشاره وکړه کومه چې بریرې رضی الله عنها ته د خیرات (صدقې) په توګه ورکړه شوې وه او هغې بیا أم المؤمنین عائشې رضی الله عنها ته د سوغات (تحفې) په توګه ورکړې وه، حال دا چې په نبي کریم ﷺ باندې د خیرات (صدقات) اخستل حرام وه او سوغات (هدیه) ورته حلاله وه، نو ویې فرمایل چې: «هَذَا لِبَرِيرَةَ صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ»[1] یعنې دغه غوښه بریرې رضی الله عنها ته خیرات (او صدقه) ده او زمونږ دپاره (د هغې د خوا څخه) سوغات (او تحفه ده).

ب: په دې باندې علاوه ذکرو شوو دوارو ایتونو د زیات اهتمام دپاره بیا بیا نزول موندلی دی او د دغسې غرض دپاره خو تکرار څه ناآشنا کار نه دی. لکه:

اول: نبي کریم ﷺ د حجة الوداع په اوږده حدیث کښې لاندې کلمات څو واره تکرار کړه چې: «فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا»[2] یعنې نو (ای مؤمنانو!) یقینًا ستاسو وینې او ستاسو مالونه او ستاسو عزتونه په تاسو باندې داسې حرام (او محترم) دي لکه ستاسو د دغې ورځې حراموالی (او احترام، البته) ستاسو په دغه ښار (مکه معظمه) کښې، ستاسو په دغې میاشت (ذو الحجه) کښې.

دوهم: ابو بکرة رضی الله عنه وایي: یو ځل نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې وفرمایل چې: «...وَشَهَادَةُ الزُّورِ أَوْ قَوْلُ الزُّورِ»[3] یعنې او په لویو ګناهونو (کبائرو) کښې د ډېرو لویو ګناهونو څخه د دروغو شهادت یا دروغ خبره هم ده. په دغه وخت کښې نبي کریم ﷺ تکیه وهلې وه نو راکښناست حال دا چې «شهادة الزور» یا «قول الزور» کلمه یې تکراروله، آن تردې چې مونږ وویلې چې ای کاش! چې نبي کریم ﷺ چپ شوی وی او تکرار یې بس کړی وی.

دریم: انس رضی الله عنه په یوه حدیث کښې وایي چې: «كَانَ إِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلَاثًا حَتَّى تُفْهَمَ عَنْهُ»[4] یعنې یقینًا نبي کریم ﷺ وه چې کله به یې یوه مهمه خبره کوله نو درې کرته به یې تکراروله ترڅو چې ترې فهم کړی شي (او ترې زده کړی شي).

﴿كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾ تَنزِعُ النَّاسَ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٢٢﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِالنُّذُرِ ﴿٢٣﴾ فَقَالُوا أَبَشَرًا

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۵۴۳
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲۲۴
(۳) صحیح مسلم ج۱ ص۶۴
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۲۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مِنَّا وَٰحِدًا نَّتَّبِعُهُۥٓ إِنَّآ إِذًا لَّفِي ضَلَٰلٍ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾ أَءُلْقِيَ ٱلذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنۢ بَيْنِنَا بَلْ هُوَ
كَذَّابٌ أَشِرٌ ﴿٢٥﴾ سَيَعْلَمُونَ غَدًا مَّنِ ٱلْكَذَّابُ ٱلْأَشِرُ ﴿٢٦﴾ إِنَّا مُرْسِلُوا۟ ٱلنَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ
فَٱرْتَقِبْهُمْ وَٱصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾ وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ ٱلْمَآءَ قِسْمَةٌۢ بَيْنَهُمْ ۖ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾ فَنَادَوْا۟
صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً
وَٰحِدَةً فَكَانُوا۟ كَهَشِيمِ ٱلْمُحْتَظِرِ ﴿٣١﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٣٢﴾ ﴾

[۱۸] عادیانو (د هود ﷺ په شمول ټولو پیغمبرانو ته) د دروغو نسبت کړی وه، نو (وګوره چې) زما عذاب او زما ډارول څنګه وه (څه نتیجه یې ورکړه)؟.

[۱۹] یقیناً مونږ ورباندې ډېر تېز باد د پرله پسې بدۍ په وخت کښې ورولېږه (چې اوه شپې او اته ورځې یې ادامه ولرله).

[۲۰] چې دغه باد به خلک (د ثمودیانو نارینه، ښځینه، غټان او ماشومان د پټو ځایونو څخه) راویستل (او په ځمکه به یې داسې غورزول) لکه چې یقیناً دوی د بېخه راوتلي د خرما وو ډډونه وي (او په ځمکه غځولی شوي وي).

[۲۱] نو (وګوره چې) زما عذاب او زما ډاروونکی څنګه (سره یو تربله نژدې) وه.

[۲۲] او یقیناً مونږ قرآن کریم د پند اخستلو دپاره اسان کړی دی (چې حقایق پکښې هوبهو او د واقع مطابق نازلوو) نو ایا څوک پند اخستونکی شته؟.

[۲۳] ثمودیانو هم ډاروونکو ته د دروغو نسبت کړی وه (چې نه یې پیغمبر قبول کړه او نه یې په معجزه باندې عقیده خپله کړه).

[۲۴] نو ثمودیانو (د ډاروونکو په هکله) وویلې چې: ایا زمونږ د جملې څخه یوه سړي لره مونږ پیروي وکړو (چې په مونږ باندې هیڅ بهتري نه لري)؟ یقیناً مونږ به په دغه وخت کښې هرومرو په ګمراهۍ او لیونتوب کښې اخته یاستو.

[۲۵] ایا په دغه (یوه سړي) باندې زمونږ د ټولو د منځ څخه پند وراچولی کېږي (وحې ورته کېږي او بل هیچا ته وحې نه کېږي)؟

(نو معلومه شوه چې نوموړی د نبوت په دعوه کښې رښتینی نه دی) بلکې ډېر دروغژن متکبر دی (غواړي چې ځان ته مشري کسبه کړي).

[۲۶] (مونږ صالح ﷺ ته وحې وکړه چې:) ثمودیان به سباته (د عذاب د نزول په ورځ) ډېر ژر پوه شي چې ډېر دروغژن متکبر څوک دی؟.

[۲۷] یقیناً مونږ د امتحان دپاره ثمودیانو ته (په خارق العاده توګه) د اوښې ورلېږونکي یاستو،

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ته دوی ته منتظر اوسه او (په ستغو سپورو خبرو يې) صبر ته ادامه ورکړه.
[۲۸] او ثموديان خبر کړه چې يقيناً د دوی او د اوښې ترمنځ اوبه ويشلې شوې (په نوبت) دي، چې د اوبو هر نوبت (ته وارګړی) حاضر کړی شوی دی (يو لوری به پر بل لوري تجاوز نه کوي).
[۲۹] نو (په نتيجه کښې) ثموديانو خپل ملګري ته (د اوښې د هلاکولو دپاره) غږ وکړ، نو هغه راونيوه نو زخمي يې کړ (او بيا يې قتله کړه).
[۳۰] نو (وګوره! چې) زما عذاب او زما ډاروونکي سره څنګه (پياوړې) اړيکې لري؟.
[۳۱] يقيناً مونږ په ثموديانو باندې (د جبرائيل ﷺ) يوه کړيکه ورواستوله نو (هغوی ټول سمدستي) د شپول جوړوونکي د ميده کړی شوو خاشاکو غوندې وګرځېدل (او په ځمکه باندې خواره واره پرېوتل).
[۳۲] او يقيناً مونږ قرآن کريم د پند اخستلو دپاره اسان کړی دی نو ايا څوک پند اخستونکي شته؟

## د مطلب خلاصه

يعنې ای پيغمبره! د عبرتي درسونو په لړ کښې څه نور بيان په خپل اُمت باندې قرائت کړه:
۱_ عاديانو ټولو پيغمبرانو ته عموماً او هود ﷺ ته خصوصاً د دروغو نسبت کړی وه. نو وګوره چې زما عذاب او زما ډاروونکي سره يو تربله څومره نژدې اړيکې لري؟ ايا د ډاروونکو د تکذيب په تعقيبورباندې بنياد ويستونکي عذاب ورنازل نه شو؟.
۲_ يقيناً مونږ په هغوی باندې د تکذيب په نتيجه کښې په لاندې ډول مهلک عذاب ورولېږه:
الف: دا عذاب داسې سوزوونکی او تېز باد وه چې په عاديانو باندې اوه شپې او اته ورځې وچلېد چې نه يې د هغوی غټان ژوندي پرېښودل او نه ماشومان، بلکې ټول يې د څرمې هلاک کړه.
ب: دا عذاب داسې تېز باد وه چې خلک (د عاديانو نارينه او ښځينه) به يې (د پټو ځايونو څخه راويستل او په ځمکه باندې به يې په شدت سره غورزول، تا به ويل لکه چې دوی د بېخونو څخه راوتلي د خرما ډډونه دي چې اوږده اوږده غزېدلي پراته دي.
۳_ نو ای پيغمبره! ته د عاديانو د حال څخه تعجب وکړه او وګوره چې د تکذيب په نتيجه کښې پرې څومره قوي عذاب ورنازل شو او زما د عذاب او زما د ډاروونکو ارتباط سره څومره قوي دي.
۴_ يقيناً مونږ قرآن کريم د پند اخستلو دپاره اسان کړی دی او حقايق مو پکښې هوبهو او کټ مټ نازل کړي دي، نو ايا څوک شته چې پند ترې واخلي او ګټې ترې پورته کړي؟ که بالفرض مونږ په قرآن کريم کښې د حقايقو بيان پوره نه وی نازل کړی نو عبرت او پند اخستل به هم ترې اسان کار نه وی.
۵_ ای پيغمبره! د عاديانو په تعقيب ثموديانو هم د ټولو پيغمبرانو عموماً او د صالح ﷺ خصوصاً تکذيب وکړ او ټول ډاروونکي يې دروغ وګڼل. نو په تعجب سره يې وويلې چې:
الف: ايا مونږ د يوه بنيادم پيروي وکړو حال دا چې زمونږ او د هغه ترمنځ په بشريت کښې هيڅ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



توپیر نشته؟ که بالفرض نوموړی پیغمبر وی نو بشر به نه وی او یا به مونږ ټول پیغمبران وی. همدارنګه نوموړی په مونږ کښې یو سړی دی (پیروان نه لري)، که بالفرض نوموړی په خپله د نبوت په دعوه کښې رښتینی وی نو څه پیروان خو به یې درلودلي وی.

ب: نوموړی مونږ په دوزخ سره تهدیدوي چې که ایمان مو رانه وړ ضرور به په سوزوونکي اور کښې معذب کړی شئ. حال دا چې مونږ په دې عقیده یاستو که بالفرض مونږ په نوموړي باندې ایمان راوړو نو په دغه وخت کښې به په ګمراهۍ کښې یاستو. بلکې د عقل څخه به خلاص (لیونیان) یاستو. نو په همدې بنیاد د نوموړي پیروي د اور څخه د نجات وسیله نه ده بلکې د لیونتوب سبب دی.

ج: ایا دا عجیبه نه ده چې زمونږ د ټولو د جملې څخه یوازې په صالح ﷺ باندې وحې نازله شوه او یوازې همدی پیغمبر وګرځولی شو؟ حال دا چې په مونږ کښې ډېر کسان موجود دي چې د نوموړي څخه د مال او عزت د حیثه زیات دي او د نبوت دپاره ترې زیات استحقاق لري.

د: نو د همدې کبله مونږ په دې عقیده یاستو چې نوموړی په خپله نبوتي دعوه کښې دروغژن دی، بلکې نوموړی دروغژن متکبر دی چې د دروغو په ذریعه په مونږ باندې خپل ریاست قائمول غواړي.

۶_ مونږ صالح ﷺ ته وحې وکړه چې د کفارو په ستغو سپورو لقبونو باندې مه متاثر کېږه، چې ډېر ژر به سبا ته (بله ورځ) پوه شي چې دروغژن متکبر د چا لقب دی؟ دا د هغه چا لقب دی کوم چې د عذاب د نزول په ورځ په عذاب اخته شي، نه د هغه چا چې په دغې ورځ کښې نجات مونده کړي.

۷_ د عذاب د نزول ورځ رانژدې ده او دا ځکه چې یقینًا مونږ ثمودیانو ته د ازمېښت په حیث د معجزانه اوښې لېږونکي یاستو چې په همدغې ازموینه کښې به هغوی د ناکامۍ سره مخامخ شي او د عذاب د نزول لاره به ورته برابره شي. نو په همدې بنیاد ته همدغې ورځ ته منتظر اوسه او د هغوی په سپکو سپورو لقبونو باندې صبر وکړه او خپل ثبات او استقامت ته ادامه ورکړه.

۸_ ای صالحه! د معجزانه اوښې په هکله ثمودیانو ته خبر ورکړه چې: دا اعجازي اوښه ده، تاسو یې د خوراک او څښاک مخه مه نیسئ او په اوبه خور باندې ورسره نوبت وتړئ چې یو وخت به دغه اوښه اوبه څښکي او بله ورځ به ستاسو څاروي د اوبو څخه استفاده کوي. لنډه دا چې هر وارګړی به خپل وار (نوبت) ته حاضرېږي او د یوه طرفه به هم په بل طرف باندې په اوبو څښلو کښې مزاحمت او تعرض نه وی.

۹_ ثمودیانو د اوبو د نوبت کولو خبره هم قبوله نه کړه او د نوبت مراعات یې ونه ساته نو د همدې کبله یې خپل بدبخته انډیوال ته غږ وکړ ترڅو ذکره شوې اوښه قتله کړي. نو همدغه شریر سړی ورغی او اوښه یې راونیوه او زخمي یې کړه او بالآخره په قتل یې ورسوله، حتی چې د الله ﷻ د عذاب د نزول خبره ورباندې ثابته شوه او د هلاک مستحق وګرځېده.

۱۰_ نو وګوره چې زما د عذاب او زما د ډاروونکو اړیکې څومره نژدې او کلکې دي؟. یا په بل

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عبارت: کله چې ثمودیانو زما د ډاروونکو او د صالح ﷺ په شمول زما د معجزانه دلیل سپکاوی وکړ نو سمدستي مو ورباندې یوه تېزه کړیکه مسلطه کړه چې ټول ورباندې د شپول جوړوونکي د شپول د خاشاکو او خرانګو غوندې میده‌میده په خمکه باندې خواره واره او تیت پرک ولویدل.

١١ـ ای پیغمبره! یقیناً مونږ دا قرآن کریم د پند اخستلو دپاره ډېر اسان کړی دی چې په مستمره توګه یکښې بیا بیا حقایق نازلوو. نو ایا څوک شته چې د عبرت درس ترې واخلي او د خپلې عقیدې د اصلاح دپاره ترې استفاده وکړي؟ وخت او فرصت تېرېدونکی دی او د ارمان ورځ راروانه ده.

## توضیحات

١ـ په ﴿فِي يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ﴾ کښې د ﴿نَحْسٍ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفیق د [حم السجدة: ١٦] ایت لاندې په تحلیله شوې ده چې د غمونو او دردونو څخه د ډکې ورځې معنی ورکوي په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې دلته د ﴿يَوْمِ﴾ څخه مطلق وخت مطلب دی[١]. او دا ځکه چې په عادیانو باندې یوه ورځ باد نه وه چلېدلی بلکې اوه شپې او اته ورځې یې ادامه درلوده.

یعني مونږ په عادیانو باندې تېز سوزونکی باد ورواستاوه چې د غمونو په وخت کښې یې څو ورځې مسلسله ادامه درلوده.

## د "سُعُر" معنی

٢ـ که څه هم په ﴿إِنَّآ إِذًا لَّفِي ضَلَـٰلٍ وَسُعُرٍ﴾ کښې د "سُعُر" کلمه د تېز اور معنی ورکوي، د همدې کبله په یوه اوږده حدیث کښې نبي کریم ﷺ ابو بصیر ؓ نومي صحابي ته د «مِسعَر حَرب» لقب ورکړی دی[٢]. چې نو مونږ اور لروونی دی (اور ورباندې تازه کېږي او تېزېږي)

مګر ذکر شوې کلمه د جنون (لیونتوب) دپاره هم وضعه شوې ده[٣]. او په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده. یعني که بالفرض مونږ د صالح ﷺ پیروي خپله کړو نو مونږ به په دغه وخت کښې په ګمراهۍ او لیونتوب کښې اخته یاستو.

## د "أَشِر" معنی

٣ـ په ﴿بَلْ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ﴾ او په ﴿مَنِ الْكَذَّابُ الْأَشِرُ﴾ کښې د "أشِر. أشِر" دواړه کلمې صفت مشبه دی[٤]. او د "أشَر" ـلکه "بَطَر"ـ څخه اشتقاقي شوي دي چې د تکبر د شدت او هواپرستی معنی ورکوي[٥]. یعني ثمودیانو وویلې چې صالح ﷺ دروغژن او هواپرست متکبر دی. خو الله ﷻ

---

(١) روح المعاني ج٢٧ ص٨٤
(٢) صحیح البخاري ج٢ ص٣٨١
(٣) لسان العرب ج٤ ص٣٦٦
(٤) القاموس المحیط ج١ ص١٥٠
(٥) مفردات الراغب ص١٤

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جواب ورزده کړه چې د عذاب د نزول په ورځ به خبره سپینه شي چې دروغژن او هواپرست متکبر څوک دی؟ (دا به همغه کس وي کوم چې په عذاب اخته شي).

## په یاد ولرئ

۴ـ په یاد ولرئ چې په ﴿ أَنَّ ٱلۡمَآءَ قِسۡمَةُۢ بَيۡنَهُمۡ ﴾ کښې د "هُمْ" ضمیر د ذو العُقُولو دپاره وضعه شوی دی او په دې مقام کښې ثمودیانو او د معجزې اوښې ته راجع دی. که څه هم دغه اوښه د ذوالعقولو څخه نه وه مګر د تغلیب په توګه د ذوالعقولو څخه ګرځولې شوې ده او دا ډول ګرځول په تولو ژبو کښې او په تېره بیا په عربي ژبه کښې په کثرت سره صورت نیسي.

## تَعَاطي څه ته وايي؟

۵ـ په ﴿ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴾ کښې د "تَعَاطَى" کلمه د "تَعَاطِي" ـ لکه "تَعَالِي" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "تَعَاطِي" د هغه شي په رانیولو کښې استعمالېږي د کوم رانیول چې ناحقه وي او جواز نه لري[1]. یعنې د ثمودیانو شریر سړي د خپل قوم بلنه ومنله او ناجائز (ناروا) کار ته یې لاس واچاوه چې د معجزې اوښه یې زخمي او بیا قتله کړه.

## "مُحۡتَظَر" څه صیغه ده؟

۶ـ په ﴿ فَكَانُواْ كَهَشِيمِ ٱلۡمُحۡتَظِرِ ﴾ کښې د "هَشِيمِ" کلمه خو د الله ﷻ په توفیق د [الکهف:۴۵] ایت لاندې ښه پوره تحلیله شوې ده چې د هغه پوست او نرم شي څخه عبارت ده کوم چې میده-میده او مات-مات شي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د "مُحۡتَظِر" کلمه د اسم فاعل صیغه ده چې د حظیرة جوړوونکي معنی ورکوي، "حَظِيرَة" هغې احاطې ته وضعه شوې ده کومه چې د غنو، یا درمو، یا د ونو د ښاخونو (څانګو) څخه د ګډو او نورو څارویو د حفاظت دپاره جوړوله کېږي[2]، چې په پښتو کښې ورته "شپول" یا "منډو" وايي. نو لکه څنګه چې ذکرې شوې غنې او د رمې او یا د ونو څانګې په پای کښې د څارویو د پښو لاندې میده-میده ګرځي همدارنګه د جبرائیل ﷺ د تېزې کړېکې څخه وروسته ثمودیان هم میده-میده او په ځمکه خواره واره پرېوتل.

﴿ كَذَّبَتۡ قَوۡمُ لُوطِۭ بِٱلنُّذُرِ ٣٣ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ حَاصِبًا إِلَّآ ءَالَ لُوطٍۖ نَّجَّيۡنَٰهُم بِسَحَرٖ
٣٤ نِّعۡمَةٗ مِّنۡ عِندِنَاۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي مَن شَكَرَ ٣٥ وَلَقَدۡ أَنذَرَهُم بَطۡشَتَنَا فَتَمَارَوۡاْ
بِٱلنُّذُرِ ٣٦ وَلَقَدۡ رَٰوَدُوهُ عَن ضَيۡفِهِۦ فَطَمَسۡنَآ أَعۡيُنَهُمۡ فَذُوقُواْ عَذَابِي وَنُذُرِ ٣٧ وَلَقَدۡ

(۱) لسان العرب ج۱۵ ص۷۰
(۲) مفردات الراغب ص۱۲۲؛ لسان العرب ج۴ ص۲۰۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صَبَّحَهُم بُكۡرَةً عَذَابٞ مُّسۡتَقِرّٞ ﴿٣٨﴾ فَذُوقُواْ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾ وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ
لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدۡ جَآءَ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ ٱلنُّذُرُ ﴿٤١﴾ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا كُلِّهَا
فَأَخَذۡنَٰهُمۡ أَخۡذَ عَزِيزٖ مُّقۡتَدِرٍ ﴿٤٢﴾ ﴾

[۳۳] د لوط ﷺ قوم ډاروونکو ته د دروغو نسبت وکړ.

[۳۴] (نو) یقینًا مونږ په هغوی باندې ډبرې وروونکی باد ورواستاوه، مګر د لوط ﷺ ټبر، چې مونږ ورته په سهار (چرګبانګ) کښې نجات ورکړ.

[۳۵] (البته چې دغه نجات ورته) زمونږ د نزده د انعام (او نعمت) په توګه (صورت ونیوه). مونږ دغه ډول جزا هغه چا ته ورکوو کوم چې شکرګزاري کوي (دا به د قیامت تر ورځې پورې جاري وي).

[۳۶] او یقینًا لوط ﷺ زمونږ د کلکو نیولو څخه هغوی ډارولي وه (چې عذاب به وریاندې نازل شي) خو هغوی ډاروونکو (په ډارولو) کښې شک خپل کړ (او هیڅ پروا یې وریاندې ونه لرله).

[۳۷] او د همدې کبله هغوی غوښتل چې په لوط ﷺ باندې د مېلمنو د کبله غلبه مونده کړي (او د ده ﷺ د کوره یې وباسي)، نو مونږ د هغوی سترګې محوه (ړندې) کړې نو (ورته وویلی شوه چې) زما د عذاب مزه وڅکئ او زما د ډاروونکو (د تکذیب) نتیجه (وګورئ).

[۳۸] او بې شکه د سهار په وخت کښې ورته قرار نیوونکی عذاب ورغی (او) د ورځې تر اوله (لمرخاته) پورې (یې ادامه وکړه).

[۳۹] نو (یو ځل بیا ورته وویلی شوه چې) زما د عذاب او زما د ډاروونکو (نتایج) وڅکئ!.

[۴۰] او یقینًا مونږ قرآن کریم د پند اخستلو دپاره اسان کړی دی نو ایا پند اخستونکی څوک شته (چې ګټه ترې پورته کړي)؟.

[۴۱] او یقینًا د فرعون ټبر (او د ده اراکینو) ته ډاروونکي (دوه پیغمبران او معجزات) ورغلي وه.

[۴۲] (خو) هغوی زمونږ ټولو دلایلو ته (د پیغمبرانو او معجزاتو په شمول) د دروغو نسبت وکړ، نو مونږ (د غرق په عذاب سره) ونیول، د کلکې ارادې (او) مقتدر ذات نیول (چې په هیڅ وجه بې نجات مونده نه کړ).

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د عبرتي درسونو په لړ کښې څه نور مثالونه هم په خپل اُمت باندې قرائت کړه هغه دا چې:

۱ ـ د لوط ﷺ قوم هم ډاروونکو ته د دروغو نسبت وکړ چې نه یې د پیغمبر دعوت قبول کړ او نه یې معجزې ته د واقعیت په نظر وکتل، بلکې د کفر سره ـ سره یې فاحشو جنایتونو ته هم ادامه ورکړه.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ مونږ د لوط ﷺ په قوم باندې د هغه وروسته چې د دوی ټول ښاروونه مو سرچپه په ځمکه وغورزول، وروونکی باد هم مسلط کړ چې د توهین دپاره یې وربانديې د قرتکانو باران وکړ.

۳ـ البته دغه عذاب د سهار په وخت کښې نازل شو او تر لمر خاته پورې یې ادام وکړ، خو په همدغه مهال مو لوط ﷺ او د ده مسلماني کورنۍ ته نجات ورکړ، چې همدغه نجات او د کفارو هلاک د لوط ﷺ دپاره زمونږ په نزد یو لوی عظیم الشان نعمت وه.

۴ـ ای پیغمبره! دغه نجات یوازې د لوط ﷺ پورې اختصاص نه درلود، بلکې مونږ هر هغه چا ته په دنیا او آخرت کښې نېکه جزا ورکوو کوم چې زمونږ شکریه کوي او د سمې عقیدې درلودونکی وي، برابره خبره ده چې په هره زمانه کښې او د هر ځای اوسېدونکی وي.

۵ـ د ذکر شوي عذاب د وقوع څخه وړاندې لوط ﷺ هلاک شوی قوم زمونږ د نیولو څخه ډارولی وه، چې د کفر څخه لاس واخلئ او د توحید عقیده خپله کړئ که نه نو الله ﷻ به دربانديې بنیاد ویستونکی عذاب درنازل کړي، خو هغوی د ټولو ډاروونکو په هکله جګړې کولې او د شک په نظر یې ورته کتل چې نه یې پیغمبر ومانه، نه معجزه او نه یې نصیحت ته غوږ ایښود.

۶ـ دغه هلاک کړی شوی قوم د لوط ﷺ څخه د مېلمنو د کبله ډېره کلکه غوښتنه وکړه چې زمونږ په لاس یې راکړه ترڅو ورسره مونږ هغه کار اجراء کړو کوم چې زمونږ خوښ دی.

هغوی اراده درلوده چې په همدغې مطالبه کښې بریالي شي که نه نو د زور څخه به کار واخلي او خپل مطلب ته به ځانونه ورسوي. خو مونږ د هغوی سترګې ړندې کړې چې ځای په ځای ودرېدل او هیڅ توان یې ونه شو درلودلی چې کوم لور ته حرکت وکړي.

۷ـ د الله ﷻ د پلوه ورته په همدغه حالت کښې وویلی شوه چې د بنیاد ویستونکي عذاب څخه وړاندې زما د دغه عذاب مزه هم وڅکئ او زما د ډاروونکو د تکذیب خوند هم واخلئ.

۸ـ په دغه فاجر قوم باندې په اول سهار کښې بنیاد ویستونکی عذاب ورنازل شو او ورپورې ونښت، چې د هغه څخه د ځان د بچ کولو وسه په هیچا کښې موجوده نه شوه او په ټولو باندې یې استقرار ونیوه او د لمرخاته پورې یې دوام وکړ.

۹ـ په دغه وخت کښې ورته یو ځل بیا د الله ﷻ د پلوه د توبیخ او تخجیل دپاره وویلی شوه چې زما د عذاب مزه وڅکئ او زما د ډاروونکو د تکذیب خوند واخلئ.

۱۰ـ یقیناً مونږ دا قرآن کریم د پند اخستلو دپاره اسان کړی دی چې په ډېره څرګنده توګه پکښې هوبهو حقایق بیانوو، نو ایا څوک شته چې د دغو حقایقو څخه ګټه پورته کړي او پند ترې واخلئ؟.

۱۱ـ ای پیغمبره! یقیناً د فرعون ټبر او د ده اراکینو ته هم ډاروونکي ورغلي وه، چې موسی ﷺ او هارون ﷺ ورته متعددې معجزې او د نبوت براهین څرګند کړه ترڅو هغوی کفري عقیده پرېږدي او توحیدي عقیده خپله کړي.

۱۲ـ هغوی زمونږ ټولو دلایلو ته د دروغو نسبت وکړ چې نه یې د نبوت معجزه قبوله کړه او نه یې موسی ﷺ او هارون ﷺ ومنل بلکې د جادو او جادوګرانو په لقب ورکولو باندې کلک ودرېده.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱۳ـ نو په نتيجه کښې ټول فرعونيان مونږ د غرق په عذاب سره ونيول او د ځرمې مو هلاک کړل، البته چې دا نيول د بل چا نيول نه وه چې څوک ترې خان بچ کړی شي، بلکې دا د الله ﷻ نيول وه چې د کلکې ارادې درلودونکي دي او هيڅوک نه شي کولی چې د ارادې په اجراء کښې ورته خنډ واقع کړي، او همدارنګه د پوره کامل قدرت درلودونکی دی چې هر شی يې د توانه پوره دی او هر څه کولی شي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ حَاصِبًا ﴾ کښې د "حَاصِب" کلمه هغه تېز باد ته وضعه شوې ده کوم چې خاورې او شګې پورته کوي[۱]، په دې مقام کښې د هغو قرتکانو باران ته اشاره ده په کوم باندې چې په [هود:۸۲] ايت کښې صراحت نازل شوی دی. يعنې مونږ د لوط ؑ د قوم په ښارونو باندې د سرچپه کولو څخه وروسته د قرتکانو باران ووراوه.

## طَمس څه معنی؟

۲ـ په ﴿ فَطَمَسۡنَآ أَعۡيُنَهُمۡ ﴾ کښې د "طَمَسۡنَا" کلمه د "طَمۡس" ـلکه "ضَرۡب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د [يونس:۸۸] ايت لاندې ليکلي دي چې: "طَمۡس" د يوه شي د اثارو د منځه وړلو څخه عبارت دی، په دې مقام کښې اکثرو مفسرينو کرامو همدغه معنی غوره کړې ده[۲]. يعنې: نو مونږ د هغوی سترګې بالکل د منځه يووړې حتی چې په مخونو کښې يې ژوروالی ورک شو تابه ويل چې بالکل يې سترګې نه درلودې.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَلَقَدۡ صَبَّحَهُم بُكۡرَةً عَذَابٞ مُّسۡتَقِرّٞ ﴾ کښې د ﴿ صَبَّحَهُم ﴾ کلمه د "تَصۡبِيح" څخه اشتقاقه شوې ده چې د سبا (سهار) په وخت کښې ورتللو ته وضعه شوې ده[۳]، او د ﴿ بُكۡرَةً ﴾ کلمه د ورځې اولني وخت (لمرخاته) معنی ورکوي[۴]؛ نو پوښتنه دا ده چې ايا ذکر شوې دواړه کلمې سره څه منافات نه لري؟

مونږ وايو چې: په ﴿ صَبَّحَهُم ﴾ کښې د عذاب شروع ته اشاره ده او په ﴿ بُكۡرَةً ﴾ کښې د "إلى" په تقدير سره د عذاب ختم مطلب دي. يعنې د لوط ؑ په قوم باندې سهار (سبا) د عذاب نزول پيل شو او په لمرخاته سره ختم شو.

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۳۲۰
(۲) تفسير البغوي ج۴ ص۲۶۳؛ تفسير القرطبي ج۱۷ ص۱۴۲
(۳) لسان العرب ج۲ ص۵۰۲
(۴) مفردات الراغب ص۵۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدغه مضمون باندې په [الحجر: ۶۶، ۷۲] ایتونو کښې صراحت نازل شوی دی، هیله ده چې د ښه پوهېدلو دپاره هلته یو خل مراجعه وکړی شي.

﴿ أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُولَٰئِكُمْ أَمْ لَكُم بَرَاءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴿٤٤﴾ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾ ﴾

[۴۳] (ای د مکې اوسېدونکو!) ایا ستاسو کفار د هغو کفارو څخه بهتر دی (د کومو چې په هلاکو شوو کښې لږ وړاندې نومونه واخستل شوه)؟ یا ستاسو (د کفارو) دپاره په پخوانیو اسماني کتابونو کښې برائت موجود دی (چې دوی به د هغوی غوندې په کفر نه نیولی کېږي)؟

[۴۴] یا ستاسو کفار وایي چې: مونږ متفق (یو ټولګی او هم د خپلو غلیمانو څخه) انتقام اخستونکي یاستو (چې د هیڅا زور راباندې د پاسه نه دی)؟

[۴۵] ډېر ژر به دغه د کفارو جمعیت مات کړی شي او (د جنګ میدان ته) به شاګانې واړوي (او وبه تښتي).

[۴۶] (دغه دنیاوي عذاب د کفارو وروستی عذاب نه دی) بلکې (د عذاب) موعد یې د قیامت ورځ ده، حال دا چې دغه ورځ (د عذاب د حیثه) زښته ډېره دهشتناکه او ډېره زیاته ترخه ده.

## د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د څینو هلاکو شوو کفري قومونو ذکر وه او په دې ایتونو کښې په همدغې موضوع باندې یوې تبصرې ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د مکې خلکو ته لاندې پوښتنې راجع کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ ای د مکې معظمې اوسېدونکو! ایا ستاسو کفار او د شرکي کفري عقیدې درلودونکي د پخوانیو هلاکو شوو کفارو څخه بهتر دي؟ ایا د هغوی څخه یې ثروت او مالداري زیاته ده او هم د هغوی څخه د عمرونو او بدني قوتونو د حیثه اوچت دي او کولی شي چې په خپل بدني او مالي قوت سره د عذاب مخه د خپلو خانونو څخه واړوي؟

۲ـ ایا ستاسو کفارو ته په اسماني کتابونو کښې د عذاب څخه برائت او خلاصون ورکړی شوی دی چې تاسو په کفر باندې نه نیولی کېږئ بلکې ستاسو کفر د هغوی څخه خفیف دی؟.

پوره واضحه ده چې د ذکرو شوو دواړو پوښتنو جوابونه منفي دي، چې د دې زمانې کفار نه د هغوی څخه بهتر دي او نه یې کفر د هغوی څخه خفیف دی او بالآخره نه د خپل نجات دپاره کوم پیغمبري منقول سند په لاس کښې لري. نو بیا ولې د هغوی څخه عبرت نه اخلي او په څه دلیل په کفري عقیده کلک ولاړ دی؟

۳ـ ایا د مکې د خلکو کافره ډله وایي چې مونږ ټول متفق یاستو او خبره مو یوه ده (بې اتفاقي په مونږ کښې سرایت نه شي کولی) بلکې مونږ د خپل هر یو غلیم او دښمن څخه انتقام اخستونکي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یاستو زمونږ زور په هر چا باندې د پاسه دی؟.

۴_ ای پیغمبره! دغسې نه ده لکه چې دوی خیال کوي بلکې ډېر ژر به یې جمعیت مات شي او د خپلو ځانونو د نجات او انتقام هیڅ توان به ونه لري او د شکست سره به مخامخ شي، نو د جنګ میدان ته به شاګانې ورواړوي او ټول به ښه سخته ماتې وخوري.

په دغه دنیاوي عذاب باندې علاوه، د دغو کفارو دپاره د تعذیب بله موقع او بل وخت د قیامت ورځ ده چې د دغې ورځې عذاب ډېر دهشتناک او ډېر تریخ دی چې هیڅ انقطاع او خاتمه نه لري، حال دا چې هیڅوک ترې ځان نه شي بچ کولی.

## توضیحات

۱_ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو په ﴿ أَكُفَّارُكُمْ ﴾ کښې د "كُمْ" په کلمې سره مطلق "عربو" ته خطاب ګڼلی دی[۱]، مګر ظاهره دا ده چې دا خطاب به اهل مکه وو ته متوجه وي[۲]، چې په مستقیمه توګه په همدوی کښې بحث روان دی.

## د نبوت یو بل دلیل

۲_ دغه دوه ایتونه د ﴿ سَيُهْزَمُ ﴾ څخه نیولې تر ﴿ وَأَمَرُّ ﴾ پورې په لاندې شرحې سره د نبي کریم ﷺ د نبوت یو بل دلیل دی چې:

الف: دا ایتونه د بدر د غزا څخه اوه کاله وړاندې په مکه معظمه کښې نازل شوی وه[۳]، په دغه وخت کښې د چا په خیال کښې هم نه تېرېده چې د قریشو ټولګی به د ماتې سره مخامخ شي.

ب: حتی امیر المؤمنین عمر ؓ وایي چې: زه د ایتونو د نزول په وخت کښې هیڅ نه پوهېدم چې کوم جمعیت به د ماتې سره مخ شي[۴]، خو کله چې د بدر د غزا په مهال نبي کریم ﷺ د وروکې خیمې څخه رابهر شو او ذکر شوي دوه ایتونه یې لوستل نو زه پوه شوم چې هرو مرو به د مشرکانو جمعیت ماتې وخوري، چې ماتې یې وخوړه او د نبي کریم ﷺ وړاندوینې تحقق وموند.

ج: د بدر د غزا په مهال د ذکرو شوو دواړو ایتونو قرائت د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه هم روایت شوی دی[۵].

## دَاهِيَة څه معنی؟

۳_ په ﴿ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴾ کښې د ﴿ أَدْهَىٰ ﴾ کلمه د "دَاهِيَة" دپاره د تفضیل صیغه ده[۶]، په "دَاهِيَة"

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۷ ص۱۴۵
(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۹۲
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۱۸ ص۲۷۷
(۴) الدر المنثور ج۷ ص۶۸۱؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۲۶۴
(۵) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۲
(۶) نظم الدرر ج۷ ص۲۶۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېږي د "ت" توری د تانیث دپاره نه دی چې اسم تفضیل يې باید د "فُعلی" ـ لکه "نُصری" ـ په وزن استعمال شوی وي، بلکې د (مبالغې) دپاره دی.

"دَاهِيَة" د هغه هولناک او دهشتناک شي معنی ورکوي د کوم چې مخنيوي امکان نه لري[۱].
یعنې د مشرکانو د جمعیت دنیاوي شکست وړوکی عذاب دی چې په مرګ سره ختمېږي، خو د قیامت د ورځې عذاب يې ډېر زیات او ډېر خطرناک دی چې دائمي دی او اختتام نه لري او په دې باندې علاوه د دنیاوي عذاب په پرتله ډېر تریخ هم دی.

﴿ إِنَّ ٱلْمُجْرِمِينَ فِى ضَلَـٰلٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِى ٱلنَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا۟ مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾ إِنَّا كُلَّ شَىْءٍ خَلَقْنَـٰهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ وَمَآ أَمْرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٌ كَلَمْحٍۭ بِٱلْبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَآ أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ شَىْءٍ فَعَلُوهُ فِى ٱلزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُّسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّـٰتٍ وَنَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِى مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍۭ ﴿٥٥﴾ ﴾

[۴۷] یقیناً مجرمان (کفار) په ګمراهۍ او سوزېدلو کېښې (واقع) دي.

[۴۸] (البته) په هغې ورځ چې په مخونو باندې په اور کېښې کشولی کېږي (او د تخجیل دپاره ورته ویل کېږي چې) د ذوب کوونکي دوزخ عذاب وڅکئ.

[۴۹] یقیناً مونږ هر شی (پیدا کړی)، پیدا کړی مو دی په ټاکلې (ازلي) اندازې سره.

[۵۰] او زمونږ امر (د سرعت د حیثه) نه دی مګر یوه کلمه (کُنْ) ده، لکه په سترګو سره اشاره (بلکې لا د دې څخه هم په زیات سرعت سره تحقق مومي).

[۵۱] او (ای مشرکانو!) یقیناً مونږ (په پخوانیو زمانو کېښې) ستاسو امثال (ډېر) هلاک کړي دي نو (په تاسو کېښې) کوم عبرت اخستونکی (او پند اخستونکی) شته؟

[۵۲] او هر شی چې هغوی کړي دي (هغه يې) په اعمالنامو کېښې ثبت دي.

[۵۳] او هر وړوکی عمل او لوی عمل (يې په لوح محفوظ کېښې) لیکلی شوی دی.

[۵۴] یقیناً متقیان په جنتونو او ویالو کېښې دي.

[۵۵] (او هم) د صدق په مقاعدو (ناست خایونو کېښې (ناست) دي، (البته) د واکدار قدرتمند (الله ﷻ) په نزد.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د وړاندېنیو ایتونو په تعقیب په خپل اُمت باندې د قیامت د ورځې په ارتباط څه نور مطالب هم قرائت کړه:

---

(۱) البحر المحیط ج۱۰ ص۴۸؛ لسان العرب ج۱۴ ص۲۷۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ یقیناً مجرمان او کفري جنایتکاران په ګمراهۍ کښې واقع دي چې کفري تدابیر به ورته هیڅ ګټه ونه شي رسولی، او همدارنګه په سوزوونکي اور کښې پراته دي.

دا به په هغې ورځ کښې ښه په څرګنده ولیدل شي چې هغوی به د دوزخ په داخل کښې په مخونو باندې راکشول کېږي او په عین حال کښې به ورته د توبیخ او تخجیل دپاره ویل کېږي چې د دوزخ مسه کول او د دوزخ عذاب وڅکئ چې تاسو ورباندې په دنیا کښې عقیده نه درلوده.

۲ـ ای پیغمبره! مونږ هر شی په قدر سره پیدا کړی دی چې په ازل کښې مو د هر شي د موجودېدلو وخت او نور کیفیات په اندازه کړي دي، چې د هماغې اندازې په مطابق موجودیت صورت نیسي.

نو د قیامت د ورځې مقدر وخت نه دی رارسېدلی ځکه ټال ده، که نه نو کله یې چې ټاکلی وخت پوره شي نو هلته به بیا د سترګو په رپ کښې قائمه شي او دا ځکه چې زمونږ امر د یوه شي په موجودولو کښې نه دی مګر فقط یوه کلمه ده چې د "کُنْ" څخه عبارت ده، او د سترګو په رپ کښې تحقق مومي.

۳ـ زمونږ د پلوه کفارو ته ابلاغ کړه چې یقیناً مونږ ستاسو غوندې ډېرې کفرې ډلې هلاکې کړې دي، البته چې کله یې د هلاکت وخت رارسېدلی دی. نو کله چې ستاسو د هلاکت وخت راورسېږي نو تاسو به هم په بنیادي هلاک سره د منځه یوسو. نو ایا څوک پند او عبرت اخستونکی شته چې د هغوی د هلاک څخه عبرت او پند واخلي او د کفري (شرکي) عقیدې څخه لاس په سر شي؟

۴ـ د هغوی تعذیب په دنیاوي هلاک باندې نه دي ختم شوي، بلکې مونږ د هغوی هر عمل په اعمالنامو کښې ثبت کړی دی،

او په دې باندې علاوه د هغوی هر وړوکی او غټ عمل مو په لوح محفوظ کښې ساتلی دی.

۵ـ دا خو د مجرمانو اُخروي حال وه او د متقیانو څه اُخروي حال دا دی چې:

الف: یقیناً دوی به په آخرت کښې په جنتونو (باغونو) او څلور ډوله ویالو کښې استوګن وي.

ب: دوی به د مقتدر الله ﷻ په نزد چې د هر شي مالک دی او په هر شي قادر دی، په رښتینې مقامونو کښې په کرسیو باندې ناست وي (او د الله ﷻ په دیدار به مشرف شي).

## توضیحات

۱ـ په ﴿ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴾ کښې د ﴿ مَسَّ ﴾ کلمه د عذاب او درد څخه کنایي ده[۱]، او د ﴿ سَقَرَ ﴾ کلمه د ذوب کوونکي معنی ورکوي[۲] چې د دوزخ د نومونو څخه یو نوم دی[۳]، کوم چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء:۱۴۵] ایت لاندې لیکلي دي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۷ ص۹۳

(۲) مفردات الراغب ص۲۴۰؛ لسان العرب ج۴ ص۳۷۲

(۳) تفسیر الطبري ج۲۷ ص۱۱۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعني اوس نو د ذوب کوونکي دوزخ درد او عذاب وڅکئ کوم چې تاسو د خپلو خانونو دپاره ګټلي دي.

## څو نکات

۲ـ په دې مقام کښې باید لاندې نکات په ذهن کښې وساتل شي:

الف: یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته د مکې مشرکان ورغله چې په ازلي قدر کښې یې ورسره جګړه کوله، نو د ﴿ يَوْمَ يُسْحَبُونَ ﴾ څخه نیولې تر ﴿ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ﴾ پورې ایتونه نازل شوه[1].

ب: د ازلي قدر په ارتباط ځینو مفسرینو کرامو زښت ډېر احادیث راغونډ کړي دي[2]، چې مونږ د لاندې احادیثو په رانقلولو سره اکتفاء کوو:

الف: په یوه اوږده حدیث کښې جبرائیل ﷺ د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ایمان څه شی دی؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَبِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ»[3] یعني ایمان دې ته ویل کېږي چې په الله ﷻ سره ایمان راوړې او په پرښتو سره یې هم او د ده ﷻ په کتابونو هم او په وروستنۍ ورځې هم (او بالآخره) په ازلي قدر باندې هم، د خیر وي او که د شر (چې ټول د الله ﷻ د پلوه په ازل کښې ټاکل شوي دي).

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «كُلُّ شَيْءٍ بِقَدَرٍ حَتَّى الْعَجْزُ وَالْكَيْسُ»[4] یعني هر شی په ازلي قدر سره دي آن تر دې چې بې عقلي او هوښیاري هم (په ازل کښې لیکلي شوې ده).

درېم: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ویلي دي چې: «كُلُّ شَيْءٍ بِقَضَاءٍ وَقَدَرٍ حَتَّى وَضَعْتَ يَدَكَ عَلَى خَدِكَ»[5] یعني هر شی د الله ﷻ په قضاء او قدر سره صورت نیسي حتی ته چې په خپل مخ باندې لاس ږدې (دا هم په قضاء او قدر کښې ثبت دي).

## "مَقْعَدِ صِدْقٍ" د کوم مقام نوم دی؟

۳ـ په ﴿ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيكٍ مُقْتَدِرٍ ﴾ کښې د ﴿ مَقْعَدِ ﴾ کلمه اسم جنس ده[6] چې د "مَقَاعِد" معنی ورکوي. یعني جنتیان به د جنت په داخل کښې په داسې ځایونو کښې کښېنولی شي کومو ته چې هغوی د صدق او قوي ایمان په برکت رسېدلي وي.

نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې همدغه "مَقَاعِد" ډېر ښه تفسیر کړي دي[7]، چې مونږ یې د

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۴
(۲) تفسیر الخازن ج۶ ص۱۳۱
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۷۰
(۴) صحیح مسلم ج۲ ص۳۳۶
(۵) الدر المنثور ج۷ ص۶۸۴
(۶) البحر المحیط ج۱۰ ص۴۹
(۷) جامع الترمذي ج۲ ص۸۱؛ سنن ابن ماجه ص۳۲۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځينو برخو خلاصه په لاندې ټکو کښې وړاندې کوو:

الف: الله ﷻ به ټولو جنتيانو ته د جنت د روضو څخه په يوه روضه کښې خپل اقدس ديدار ورعنايت کړي.

ب: نو د ديدار کولو دپاره به ممبرونه (کرسۍ) کېښودلی شي، چې ځينې به د نُور څخه جوړې وي، ځينې د ملغلرو څخه، ځينې د ياقوتو څخه، ځينې د زبرجدو څخه، ځينې د سرو زرو څخه او ځينې د سپينو زرو څخه.

ج: که څه هم په جنتيانو کښې ادنی نشته خو د همدوی ادنی جنتي به د مشکو او کافورو په غونډيو باندې کېنولی شي.

د: دغو په غونډيو باندې ناستو کسانو ته به داسې نه برېښي چې په کرسيو باندې ناست جنتيان د دوی څخه د ناستې د حيثه بهتر دي (هر څوک به دا ګومان کوي چې د ده څخه بهتر بل څوک نشته).

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيكٍ مُقْتَدِرٍ

د "اَلْقَمَرْ" سورت پښتو ترجمه او تفسير په همدې ځای د الله ﷻ په توفيق بشپړه شوه.

۱۴۲۴/۱۰/۷ هـ ق - ۱۳۸۲/۹/۹ هـ ش.

# الرحمن (۵۵)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت دپاره خپله اولنۍ کلمه ﴿ ٱلرَّحۡمَٰنُ ﴾ نوم ګرځولې شوې ده او د نورو سورتونو څخه ورباندې جدا کړې شوی دی. څرنګه چې په دې سورت کښې د الله ﷻ ډېرو نعمتونو ته اشاره شوې ده نو په هغو ټولو باندې د دې سورت نوم "الرّحْمن" په اجمالي توګه اشتمال لري.

۲ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دی[۱]:

الف: ټول ایتونه یې اته اویا (۷۸) دي.

ب: د کلمو شمېر یې درې سوه یو پنځوس (۳۵۱) دی.

ج: د حرفونو تعداد یې یو زر شپږ سوه شپږ دېرشو (۱۶۳۶) ته رسېږي.

۳ـ دا سورت د جمهورو علماوو کرامو په نزد مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۲]. د دې سورت په مکیتوب باندې د اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنهما څخه روایت شوی حدیث هم دلالت کوي چې مضمون یې لاندې لوستلی شئ:

اسماء رضي الله عنها وایي چې: نبي کریم ﷺ لا مامور شوی نه وه چې خپل دعوت علني وګرځوي چې ما ترې دا ایت ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ واورېد چې په لمانځه کښې یې قرائت کاوه، «وَالْمُشْرِكُونَ يَسْتَمِعُونَ»[۳] یعنې حال دا چې مشرکانو ورته غوږ اینبی وه.

۴ـ په دې سورت کښې هم د نورو مکي سورتونو غوندې په عقیدوي موضوعاتو پورې زیات تماس نیولی شوی دی، لکه د الله ﷻ عالي صفات، د قیامت (بعث بعد الموت) څه کیفیات او داسې نور.

۵ـ دا سورت "الرّحْمن" د وړاندېني سورت (الْقَمَر) سره په دې کښې تناسب لري چې دواړه مکي دي او دواړه د عقیدوي موضوعاتو سره تړاو لري. په دې باندې علاوه، دا سورت د هغه سورت د وروستنیو ایتونو دپاره د تفصیل حیثیت لري چې هلته د مجرمانو او متقیانو أخروي حالاتو ته څه اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې یې ښه پوره تفصیل نازل شوی دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دغو دواړو سورتونو کښې په مکرر ډول سره خلک توبیخ کړی شوي دي، خو هلته په دې توبیخ شوي وه چې د پخوانیو هلاک کړی شوو کفري قومونو څخه عبرت نه اخلي، او دلته تکراراً په دې توبیخېږي چې د الله ﷻ قدرداني او شکریه نه کوي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ ٱلرَّحۡمَٰنُ ۝١ عَلَّمَ ٱلۡقُرۡءَانَ ۝٢ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ ۝٣ عَلَّمَهُ ٱلۡبَيَانَ ۝٤ ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ

---

(۱) تفسیر الخازن ج۶ ص۱۳۵؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۸ ص۲۹۱

(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۹۶؛ تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۱۵۱

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۲۷۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِحُسْبَانٍ ﴿٥﴾ وَٱلنَّجْمُ وَٱلشَّجَرُ يَسْجُدَانِ ﴿٦﴾ وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ ٱلْمِيزَانَ ﴿٧﴾ أَلَّا
تَطْغَوْا۟ فِى ٱلْمِيزَانِ ﴿٨﴾ وَأَقِيمُوا۟ ٱلْوَزْنَ بِٱلْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا۟ ٱلْمِيزَانَ ﴿٩﴾ وَٱلْأَرْضَ
وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ ﴿١٠﴾ فِيهَا فَٰكِهَةٌ وَٱلنَّخْلُ ذَاتُ ٱلْأَكْمَامِ ﴿١١﴾ وَٱلْحَبُّ ذُو ٱلْعَصْفِ وَٱلرَّيْحَانُ
﴿١٢﴾ فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٣﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] (ملیک مقتدر الله ﷻ) زښت ډېر مهربان دی.

[۲] ډېر مهربان الله ﷻ (هغه چا ته) قرآن کریم ښودلی (کوم ته يې چې اراده شوې ده لکه پرښتې، بنیادمان او پیریان).

[۳] بنیادم يې پیدا کړی دی.

[۴] بنیادم ته يې بیان ښودلی دی (چې په ژبه او لیک سره د زړه خبره څرګندولی شي).

[۵] لمر او سپوږمۍ (د خلکو د ګټو د پاره) په حساب سره (د الله ﷻ په امر چلېږي او وختونو ته تغیر ورکوي).

[۶] او ستورې او ونې (بوټي) دواړه (الله ﷻ ته) سجدې کوي (او ارشاداتو ته يې غاړه اېښودونکي دي).

[۷] او (الله ﷻ) اسمان (اوچت کړی دی) اوچت کړی يې دی (بلکې اوچت يې پیدا کړی دی) او (په اسمان او ځمکه کښې) يې عدل اېښی دی.

[۸] (البته دا د دې دپاره) چې تاسو په اختیاري عدل (تله) کښې طغیان ونه کړئ.

[۹] او (تاسو ته ارشاد دی چې) تاسو وزن (تول) په انصاف سره ودروئ (صورت ورکړئ) او تله مه کموئ (چې ډنډې پکښې ووهئ او یا ناقص کاڼي استعمال کړئ).

[۱۰] او الله ﷻ ځمکه (اېښې ده) د پیریانو او انسانانو دپاره يې اېښې ده.

[۱۱] په ځمکه کښې میوجات شتون لري او د کجورې ونې هم چې د شخولو درلودونکي دي.

[۱۲] او د بوسو (وښو) درلودونکې دانې او کشمالي (خوش بویه بوټي) هم (پکښې شته).

[۱۳] نو (ای پیریانو او بنیادمانو!) تاسو د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه ناشکري کوئ (کوم یو د تکذیب او ناشکرۍ لیاقت لري)؟

## ارتباط او د مطلب خلاصه

داسې برېښي لکه چې ذکر شوي ایتونه د هغه سوال دپاره د جواب په حیث نازل شوي وي کوم نې د وړاندېنې سورت (القَمَر) د وروستني ایت څخه د چا په ذهن کښې ګرځېده، هغه دا چې د ملیك مقتدر) الله ﷻ صفات کوم کوم دي؟ نو حاصل يې داسې راځېږي:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! په "بسم الله الرحمن الرحیم" سره په خپل اُمت باندې د الله ﷻ په هکله څه نور معلومات هم قرائت کړه چې:

۱_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې برسېره په کامل مالکیت او کامل اقتدار د لاندې عالي صفاتو او عالي شان درلودونکی هم دی:

الف: د کامل قدرت او کاملې واکمنۍ سره-سره الله ﷻ ډېر زیات مهربان دی بلکې مهرباني او رحمت یې په غضب باندې مخکښې دی.

ب: د همدغې زیاتې مهربانۍ په بنیاد یې د قرآن ښودانه کړې ده چې د ټول بشریت دپاره عالي شان معنوي نعمت دی او د قیامت تر ورځې پورې د نبوت لویه معجزه ده، که د ده ﷻ مهرباني نه وی شوې او خلکو ته یې په ژبو باندې قرآن کریم نه وی اسان کړی نو مخلوق چرته او د الله ﷻ کلام چرته؟

ج: مقتدر اقدس ذات ﷻ انسان د خاورې او بیا د نطفې څخه پیدا کړی دی او په ځمکه کښې یې مکرم ګرځولی دی، د همده ﷻ څخه په غیر د بل هیچا د وسې نه ده پوره چې د خړو خاورو څخه یو ګل پیدا کړي پاتې خو لا اِنسان.

د: همدغه مقتدر اقدس ذات ﷻ انسان ته د ما في الضمیر د څرګندولو توان هم وربښلی دی چې عقل یې ورکړی دی او د نطق قوت یې ورپېرزو کړی دی، چې هم په ژبه په مختلفو لغاتو سره بیان کولی شي او هم په لیکنه او تصویر سره خپلې څرګندونې کوي.

۲_ د انسان د بدن څخه بهر هم الله ﷻ ټوله دنیا پوره منظمه پیدا کړې ده چې هیڅ ډول بې نظمي پکښې څوک نه شي موندلی. د مثال په توګه: لمر او سپوږمۍ د الله ﷻ په امر په دقیق حساب او دقیقې اندازې سره هر یو په خپل-خپل مدار کښې ګرځېږي، چې د یوې ذرې په اندازه نه وړاندې کېږي او نه ښېرته پاتې کېږي، حال دا چې همدغه جریان د پیدایښت د وخت څخه جاري دی او د قیامت تر وخته پورې به جاري وي.

۳_ ای پیغمبره! هر یو ستوری الله ﷻ ته سجده کوي او ورته منقاد دی چې په دوامداره توګه په خپل مدار کښې چورلېږي.

همدارنګه د ځمکې ټول نباتات، برابره خبره ده چې په ځمکه باندې خواره واره پراته وي چې ډډونه نه لري او یا د ځمکې څخه اوچت وي چې ډډونه لري، د الله ﷻ امر ته منقاد دی او د همده ﷻ د امر په مطابق نشوء او نما کوي او د مختلفو کیفیاتو سره مخامخ کېږي.

۴_ الله ﷻ اسمان اوچت پیدا کړی چې هیڅوک ورته د رسېدلو توان نه لري، او د رالوېدلو څخه یې محفوظ هم ګرځولی دی.

۵_ الله ﷻ اسمان اوچت پیدا کړي دي خو د دې سره-سره یې پکښې عدل پیاده کړی دی، چې هر یوه اسماني مخلوق ته یې خپل-خپل حق ورکړی دی او هم یې هر یوه ستوري ته خاص خاص مدار ټاکلی دی چې نه یو د بل په مدار باندې تجاوز کوي او نه یې لاره بندوي چې ټکر ته مجبوریت پېښ شي، همدارنګه یې په ځمکني مخلوقاتو کښې هم په طبعي ډول عدل ته صورت ورکړی دی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت: الله ﷻ په مخلوقاتو کښې عدل طبعي شی ګرځولی دی، البته دا د دې دپاره چې تاسو ترې عبرت واخلئ او په اختیاري أمورو کښې د طغیان (سرکشی) څخه خپل خانونه بچ وساتئ او هر چاته خپل- خپل حق پوره ورکړي.

۶ـ الله ﷻ ځمکه د ځمکنیو مخلوقاتو دپاره ارامه ایښې (ګرځولې) ده چې د ټولو د ژوندانه اسباب یې پکښې ځای په ځای کړي دي او د ټولو په روزیو باندې یې مشتمله جوړه کړې ده، چې د هر شي د اړتیا وړ شیان یې پکښې تعین کړي دي. د مثال په توګه:

الف: په دغې ځمکه کښې هر ډول میوجات شتون لري چې بنیادمان ترې د خوراک استفاده کوي.

ب: او د کجورو ونې هم شته چې د شخولو درلودونکي دي، نو د کجورو څخه یې تاسو د خوراک استفاده کوئ او شخولې او د کجورو زړي په خپلو څارویو خوروئ.

ج: په ځمکه کښې هر ډول دانې رازرغونېږي چې ډول-ډول وابنه هم ورسره ملګري دي لکه بوس، پاڼې او داسې نور، چې ستاسو او ستاسو د څارویو ګوزاره وربانډې روانه ده.

د: بالآخره، په ځمکه کښې داسې خوشبویه بوټی هم موجودیت لري چې تاسو ترې د خوراک څخه په غیر د بویولو ګټه اوچتوئ لکه د کشمالي بوټي، د ګلاب غوندې ګلونه او داسې نور.

۷ـ نو ای بنیادمانو او پیریانو! تاسو د الله ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ (تاسو ته پکښې کوم دروغ برېښي)؟ پوره څرګنده ده چې جواب منفي دی، نو په څه دلیل تاسو کفري او شرکي عقیده خپله کړې ده او لا روان یاست ادامه ورکوئ؟.

## توضیحات

۱ـ ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي[۱] چې د ﴿ ٱلرَّحۡمَٰنُ ﴾ کلمه مبتدأ ده او د ﴿ عَلَّمَ ٱلۡقُرۡءَانَ ﴾ جمله ورته خبر واقع کېږي، چې د ﴿ عَلَّمَ ﴾ دوهم مفعول یې ﴿ ٱلۡإِنسَٰنَ ﴾ ښودلی دی. یعنې: ډېر مهربان الله ﷻ انسان ته قرآن کریم ښودلی دی چې عظیم الشان نعمت دی او د ډېرې مهربانۍ څخه نمایندګي کوي.

خو مونږ ته بهتر برېښي چې ذکره شوې کلمه به د هغه مقدر (هُوَ) دپاره خبر وي کوم چې د وړاندېنې سورت (القمر) په وروستني ایت کښې ﴿ مَلِيكٖ مُّقۡتَدِرِۭ ﴾ ته راجع دی، یعنې ملیک مقتدر ﷻ زښت ډېر مهربان دی. مونږ ځکه دا وجه بهتره وګڼله چې د ﴿ ٱلرَّحۡمَٰنُ ﴾ کلمه مستقل ایت ښودلی شوی دی او په ایت کښې غوره دا ده چې د پوره معنی درلودونکی وي نه دا چې په بل ایت سره یې معنی تمامه شي[۲].

همدارنګه مونږ ته دا غوره څرګندېږي چې د ﴿ عَلَّمَ ﴾ دوهم مفعول به "پیریان او انسانان" وي چې په دې سورت کښې یو دېرش (۳۱) کرته همدوی دواړو جنسونو ته خطاب متوجه شوی دی.

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۹۸
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۸ ص۲۹۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## بیان څه معنی؟

۲_ په ﴿ عَلَّمَهُ ٱلْبَيَانَ ﴾ کښې د "بَيَانَ" کلمه د هغه کشف څخه عبارت ده کوم چې د نطق څخه عام دی[۱] او کتابت ته هم شامل دی. همدغه غوره تفسیر دی که څه هم نور تفسیرونه هم لري[۲] خو په بل ایت کښې یوازې په کتابت باندې صراحت شوی دی چې: ﴿ ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ ﴾ [العلق:۴] یعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په قلم سره یې هم ښودانه کړې ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ عَلَّمَهُ ٱلْبَيَانَ ﴾ ایت د ﴿ خَلَقَ ٱلْإِنسَـٰنَ ﴾ ایت دپاره تفسیر واقع شوی دی، ته به وایې چې د انسان پیدایښت د بیان د پیدایښت سره یو برابر دی، یا په بل عبارت: د بیان په درلودلو سره د ځارویو څخه انسان ممتاز ګرځېدلی دی. همدې مطلب ته یوه عربي شاعر اشاره کړې ده چې وايي:

لِسَانُ الْفَتَى نِصْفٌ وَنِصْفٌ فُؤَادُهُ :: فَلَمْ يَبْقَ إِلَّا صُورَةُ اللَّحْمِ والدَّمِ

یعنې نیمايي ځوان (انسان) ژبه ده، او نیمايي نور یې زړه دی (په همدغو داوړو سره انسان تکمیل دی)، نو باقي پاتې نه شوه مګر غوښه او وینه (چې ځاروي هم غوښې او وینې لري).

## د حُسبَان معنی

۳_ په ﴿ ٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ﴾ کښې د "حُسْبَان" کلمه ډېرې معناوې درلودلی شي خو په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په "حِسَاب" سره تفسیره کړې ده[۳]. دا د یو پلوه، او د بله پلوه دلته د "يَجْرِيَان" کلمه مقدره ده چې په ﴿ بِحُسْبَانٍ ﴾ کښې د "ب" توری ورپورې تعلق نیسي[۴].

یعنې لمر او سپوږمۍ دواړه په حساب سره چلېږي ترڅو ترې مختلف فصلونه پیدا شي او هم په ورځو او شپو باندې اثر واچوي.

## دوه ډوله تفسیر

۴_ په ﴿ وَٱلنَّجْمُ وَٱلشَّجَرُ يَسْجُدَانِ ﴾ کښې د "النَّجْم" کلمه په لاندې دوه ډوله تفسیره شوې ده:

الف: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او ځینو نورو مفسرینو کرامو د "الشَّجَر" مناسبت ته کتلي دي او ویلي یې دي چې دلته د "النَّجْم" څخه هغه نباتات مطلب دي کوم چې د "شَجَر" په شان ساق (ډډ) ونه لري او په ځمکه باندې خواره خواره پراته وي[۵]، لکه هندوانه، مرغونې او داسې نور. یعنې: په ځمکه باندې پراته نبات (بې ساقه) او په ځمکه باندې اوچت ولاړ (ساقدار) نبات ټول الله ﷻ ته سجدې کوي او امر ته یې غاړې ایښودونکي دي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۶۶

(۲) زاد المسیر ج۷ ص۲۷۴

(۳) الدر المنثور ج۷ ص۶۹۱

(۴) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۷۶

(۵) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۷۰؛ المحرر الوجیز ج۱۵ ص۳۲۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: او ځینې علماء کرام وایي چې دلته "النَّجْم" کلمه په خپله مشهوره معنی سره ده[۱]، چې ستوری دی. یعنې ټول ستوري او ټولې ونې الله ﷻ ته په مستمره توګه سجدې کوي.

## تبصره

۵ـ څرنګه چې ذکر شوې دواړه تفسیرونه سره څه منافات نه لري او ممکنه ده چې د "مَا يطلق عليه النَّجم" په لحاظ دواړه اراده کړی شي، نو زمونږ په نزد به دواړه مراد وي، والله ﷻ اعلم.

## د میزان معنی

۶ـ د "مِيزَان" د کلمې مشهوره معنی هغه آله ده په کومې سره چې تلل (تول) کولی شي کومه چې په دې زمانه کښې زښت ډېر ډولونه او شکلونه لري، چې په پښتو کښې ورته (تله) وایي. خو د دغې مشهورې معنی سره یې عدل (حق پوره ورکول) بالکل لازم دی[۲]، نو د همدې کبله ذکره شوې کلمه د عدل په معنی سره هم زښته ډېره استعماله شوې ده او لا استعمالېږي[۳].

په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه درې خله نازله شوې ده چې په لاندې ټکو کښې واضحه کېږي:

الف: په ﴿ وَوَضَعَ ٱلْمِيزَانَ ﴾ کښې د "مِيزَان" کلمه د عدل معنی ورکوي[۴]. یعنې الله ﷻ په اسمانونو او ځمکو کښې ټولو مخلوقاتو ته خپل-خپل حقونه ورکړی دي او هر یوه ته یې ټاکلی شوی حق طبعي ګرځولی دی چې نه د خپله حقه تجاوز کوي او نه د بل په حق طغیان او تېری کوي.

ب: په ﴿ أَلَّا تَطْغَوْاْ فِي ٱلْمِيزَانِ ﴾ کښې د "مِيزَان" کلمه د ټولو اشکالو او ډولونو په ملحوظ خپله مشهوره معنی ورکوي چې د "تلې" څخه عبارت ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په همدغه ایت کښې د "أن" توری مصدریه دی او د "لا" توری پکښې د نفي دپاره دی خو د اجلیه "ل" توری ورسره مقدر دی چې په وړاندېنې ایت کښې په "وَضَع" پورې تعلق نیسي[۵]، ته به وایې چې داسې نازل شوي دي چې: "لِأَنْ لا تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ" یعنې ای بنیادمانو او پیریانو! الله ﷻ د اسمانونو او ځمکو په ټولو مخلوقاتو کښې د دې دپاره عدل ایښی دی او ټولو ته یې طبعي ګرځولي دي چې تاسو ترې عبرت واخلئ او د اختیاري کارونو په ارتباط په تله کښې طغیان (د حق څخه تجاوز) ونه کړئ او هر چا ته په کنده باندې برابر حق ورکړئ.

ج: په ﴿ وَلَا تُخْسِرُواْ ٱلْمِيزَانَ ﴾ کښې د "مِيزَان" کلمه هم همدغه مشهوره (تله) معنی ورکوي.

که څه هم د عربي ژبې د قواعدو غوښتنه دا ده چې دغه کلمه د دوهم خل دپاره په ضمیر سره "وَلا تُخْسِرُوهُ" نازل شوې وی، خو شاید ـ والله ﷻ اعلم ـ چې دوهم خل به یې په نامه باندې د زیات

---

(۱) اضواء البیان ج۷ ص۷۲۷
(۲) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۳۲۳
(۳) لسان العرب ج۱۳ ص۴۴۶؛ القاموس المحیط ج۴ ص۶۰۷
(۴) تفسیر القاسمي ج۱۵ ص۲۸۰؛ زاد المسیر ج۷ ص۲۵۵؛ الدر المنثور ج۷ ص۶۹۲؛ تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۱۵۴
(۵) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۷۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاکید دپاره صراحت نازل شوی وي، چې تاسو ډېر زيات متوجه اوسئ چې په تله کښې نقصان واقع نه کړئ چې یا ډنډې ووهئ، یا سپک کانړي وکاروئ او یا پکښې بل ډول نقصان پېښ کړئ.

## د "أنام" معنی

۷ـ په ﴿ وَٱلۡأَرۡضَ وَضَعَهَا لِلۡأَنَامِ ﴾ کښې که څه هم د "أنام" کلمه د هغو ټولو مخلوقاتو دپاره وضعه شوې ده کوم چې د ځمکې په مخ شتون لري(۱)، او همدارنګه د پیریانو او انسانانو مجموعې ته هم وضعه شوې ده(۲).

مونږ ته ـوالله ﷻ اعلمـ په دې مقام کښې همدغه دوهمه معنی په زړه پورې برېښي او دا ځکه چې په ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ کښې همدغه دواړه ډلې مخاطبې ګرځولی شوې دي او بس.

## د څو لغاتو معناوې

۸ـ په دې مقام کښې باید د لاندو لغاتو معناوې په ذهن کښې وساتلی شي:

الف: په ﴿ ذَاتُ ٱلۡأَكۡمَامِ ﴾ کښې د "أَكْمَام" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [حم السجدة:۴۷] ایت لاندې تشریح کړې ده چې جمعه ده او د شخولو معنی ورکوي په کومو کښې چې کجورې یا نورې مېوې په ونه کښې نغښتلې زرغونېږي. یعني الله ﷻ په ځمکه کښې د خرما ونې هم پیدا کړې دي چې کجورې یې په عجیب کیفیت سره په شخولو کښې پټې وي.

ب: په ﴿ ذُو ٱلۡعَصۡفِ وَٱلرَّيۡحَانُ ﴾ کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ویلي دي(۳)، چې د "عَصْف" د بوسو (وچو وښو) معنی ورکوي او "رَيْحَان" د هغه نبات څخه عبارت دی کوم چې ښه بوی لري او د بویولو دپاره ترې کار اخستلی کېږي، چې په پښتو کښې ورته کشمالي وايي.

ج: په ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ کښې د ﴿ ءَالَآء ﴾ کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف: ۶۹] ایت لاندې ښه پوره تحلیله کړې ده چې د نعمتونو معنی ورکوي، هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹ـ که څوک وايي چې دغه ایت شریف ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ په دې سورت کښې بیا دېرش (۳۱) کرته نازل شوي دي، نو په دغه تکراري نزول کښې یې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی سوال د الله ﷻ په توفیق د [القمر:۱۷] ایت لاندې جواب شوی دی چې په اعتباراتو سره د یو شي عینیت د منځه ځي او په تکرار کښې عینیت ضرور دی، نو د دې سورت

(۱) لسان العرب ج۱۲ ص۳۷
(۲) القاموس المحیط ج۱ ص۱۹۰
(۳) الدر المنثور ج۷ ص۶۹۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(الرّحمن) یو دیرش (۳۱) ایتونه یو د بل څخه د خپل متعلق په اعتبار سره غیر دي، "عَین" نه دی ترڅو اعتراض وارد شي.

په دې باندې علاوه په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو[۱] د عربي منظوم کلام او غیر منظوم کلام څه مثالونه راحکایت کړي دي چې دغه ډول تکرار د فصاحت او بلاغت سره څه منافات نه لري بلکې کله ورته ضرورت پېښېږي[۲].

## د پیریانو جواب

۱۰ـ د یوه حدیث شریف مضمون دی چې: یوه ورځې نبي کریم ﷺ د خپله کوره راووت او په خپلو صحابه وو کرامو ﷺ باندې یې د "الرّحمن" سورت د اول څخه تر آخره پورې قرائت کړ، خو صحابه کرامو ﷺ فقط غوږ نیولی وه او ټول چپ ناست وه. نبي کریم ﷺ هغوی مخاطب کړل چې: دغه سورت ما په پیریانو باندې هم په "لیلة الجن" کښې قرائت کړی وه، خو هغوی ستاسو څخه د جواب د حیثه بهتر وه، څکه هر کله به چې زه ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ ته ورسېدم نو پیریانو به د همدغې الهي پوښتنې په جواب کښې ویل چې: «لَا بِشَيْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ»[۳] یعنې ای زموږ ربه! ستا د نعمتونو څخه موږ په یوه شي باندې هم تکذیب نه کوو (چې ناشکري یې وکړو) نو تاته حمد دی.

﴿ خَلَقَ ٱلْإِنسَـٰنَ مِن صَلْصَـٰلٍ كَٱلْفَخَّارِ ﴿١٤﴾ وَخَلَقَ ٱلْجَآنَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ ﴿١٥﴾ فَبِأَيِّ
ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٦﴾ رَبُّ ٱلْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ ٱلْمَغْرِبَيْنِ ﴿١٧﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ
﴿١٨﴾ مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ﴿٢٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ
﴿٢١﴾ يَخْرُجُ مِنْهُمَا ٱللُّؤْلُؤُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴿٢٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٣﴾ وَلَهُ ٱلْجَوَارِ
ٱلْمُنشَـَٔاتُ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَـٰمِ ﴿٢٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٥﴾ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ
﴿٢٦﴾ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو ٱلْجَلَـٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴿٢٧﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢٨﴾ يَسْـَٔلُهُۥ
مَن فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِى شَأْنٍ ﴿٢٩﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٠﴾ ﴾

[۱۴] الله ﷻ د خامې وچې اواز کوونکې خټې څخه انسان (آدم ﷺ) پیدا کړی دی چې د کردوني (په اور باندې د پخې شوې خټې) غوندې کلکه وه.

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۹۷؛ تفسیر الخازن ج۶ ص۱۳۸
(۲) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۱۶۴
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۵] او الله ﷻ پیری (د پیریانو پلار) د سوچه اور څخه پیدا کړی دی (چې لوګی یې نه درلود).

[۱۶] نو (ای پیریانو او بنیادمانو!) تاسو د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) په کوم یوه باندې تکذیب کوي (او ترې انکاري جوړېږئ)؟.

[۱۷] الله ﷻ د دواړو مشرقونو (د اوړي او ژمي) او د دواړو مغربونو (د اوړي او د ژمي) رب ﷻ دی (ټول واک یې د همده ﷻ په اختیار کښې دي).

[۱۸] نو (ای پیریانو او انسانانو!) تاسو د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) په کوم یوه سره تکذیب خپلوئ (او ناشکري یې کوئ)؟.

[۱۹] الله ﷻ دوه دریابونه په داسې حال کښې خوشي کړي (بهولي) دي چې یو تربله پیوسته کېږي (مګر ګډېږي نه. او دا څکه چې:)

[۲۰] د دغو دواړو دریابونو (خوږ او تریو) ترمنځ (د الله ﷻ د پلوه) ډېره قوي پرده پرته ده چې یو دریاب پر بل بغاوت نه کوي (چې ورسره ګډ او خلط ملط شي).

[۲۱] نو (ای پیریانو او بنیادمانو!) تاسو د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) کوم یوه ته د دروغو نسبت کوئ؟ (چې د توحید د قبول څخه انکاري یاست)؟

[۲۲] (د الله ﷻ په امر سره) د دغو دواړو دریابونو څخه ملغلرې او مرجان (وړې ملغلرې) راوځي (او تاسو ترې ګټې اخلئ).

[۲۳] نو (ای پیریانو او بنیادمانو!) تاسو د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) په کوم یوه سره (ناشکري او) تکذیب کوئ؟

[۲۴] او خاص الله ﷻ لره (د ملکیت په لحاظ) په دریاب کښې د غرونو غوندې اوچتې کړی شوې بېړۍ دي

[۲۵] نو (ای پیریانو او انسانانو!) تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ (د نعمتونو څخه) د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ؟

[۲۶] هر هغه څوک (هر شي) چې په ځمکه باندې (موجود) دی، فاني کېدونکی (او د منځه تلونکی) دی.

[۲۷] او (أبد الآباد) یوازې ستا د رب ﷻ اقدس ذات باقي پاتې کېږي چې د جلال (پاکۍ) او د عزت ورکولو خاوند دی (همدا یې د باقي پاتې کېدلو دلیل او برهان دی).

[۲۸] نو (ای پیریانو او بنیادمانو!) تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ (د نعمتونو څخه) د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ؟.

[۲۹] الله ﷻ ته (د حال او قال په ژبو) هغه کسان (او شیان) سوال کوي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې (موجود) دي.

(نو د همدې کبله) الله ﷻ هره ورځ (هر وخت) په عالي کار کښې دي (چې چا ته یو شی ورکوي او چا ته بل شی).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۰] نو (ای پیریانو او انسانانو!) تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) کوم یوه ته د دروغو نسبت کوئ (او ترې انکاري کرځئ)؟.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د یو پلوه د ذکرو شوو څینو نعمتونو تفصیل نازل شوی دی او د بله پلوه پکښې د الله ﷻ څه نورو عالي صفاتو او عالي شان ته اشاره شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د الله ﷻ د عالي صفاتو او عالي شان د بیان په ضمن کښې د انسان او پیري د خلق (پیدا کولو) موضوع هم په وضاحت سره قرائت کړه چې:

۱ـ الله ﷻ انسان د داسې سختې وچې کلکې ختې څخه پیدا کړي دي چې کردونې غوندې وه، تابه ویل چې په اور باندې پخه شوې او کلکه شوې ده. خو د دغه وچوالي سره-سره چې کله ترې آدم ﷺ جوړ شو نو رطوبت پکښې وچلېد او وینه یې په غوښو او رګونو کښې جاري شوه.

۲ـ او پیري یې د داسې اور څخه پیدا کړی دی چې لوګی یې نه درلود او سوچه تېز اور وه، خو د پیري د پیدایښت سره سم پکښې هغه رطوبت موجودیت مونده کړ کوم چې د اور سره بالکل تناقض او منافات لري.

۳ـ نو ای انسانانو او پیریانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ او ترې منکرېږئ؟.

۴ـ الله ﷻ د اوري او د ژمي ـد دواړوـ مشرقونو رب دی بلکې د هغو مشرقونو رب هم دی کوم چې د ذکرو شوو دواړو مشرقونو ترمنځ تحقق مومي او د کال په اوږدو کښې یې دوه خله مجموعه کمال ته رسېږي (یو خل د ژمي په آخر کښې او بل خل د اوري په پای کښې).

همدارنګه الله ﷻ د هغو دواړو مغربونو رب هم دی کوم چې د مشرقونو غوندې په اوري او ژمي کښې خپل ځایونه بدلوي او مخلوقاتو ته ګڼ شمېر فایدې او ګټې رسوي.

۵ـ نو ای انسانانو او پیریانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ (د نعمتونو څخه) د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ او ناشکري یې خپلوئ؟ ایا تاسو د دغو نعمتونو څخه انکار کولی شئ؟

۶ـ الله ﷻ دوه دریابونه (یو خوږ او بل تریو) په داسې حال خوشي کړي او بهولي دي چې یو تربله پیوسته کېږي مګر ګډېږي نه، چې دواړه خپل-خپل خاصیت پرېږدي چې یا دواړه خواږه شي او یا دواړه تروه او بالآخره یا ترې میخوش دریابونه جوړ شي.

او دا څکه چې الله ﷻ د دواړو دریابونو ترمنځ قوي پرده قائمه کړې ده چې یو هم په بل باندې بغاوت نه کوي چې اوبه یې ورسره ګډې وډې شي.

۷ـ نو ای انسانانو او پیریانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو د جملې څخه د کوم یوه نعمت ناشکري کوئ او ترې منکرېږئ؟ ایا په دغو کښې کوم یو د انکار او کفران لیاقت لري؟

۸ـ د الله ﷻ په امر د همدغو دواړو دریابونو څخه ـچې یو خوږ دی او بل تریو دیـ کوچنی

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ملغلرې او غمې ملغلرې راوځي چې تاسو ترې د ګاڼو استفاده کوئ او هم يې په بازارونو کښې پلورئ او خپل اقتصاد ورباندې پياوړی کوئ.

۹ـ نو ای انسانانو او پيريانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم يوه نعمت تکذيب کوئ؟ کوم يو درته نعمت او د شکرګزارۍ لايق نه برېښي؟.

۱۰ـ په دریابونو کښې د دنګو-دنګو بېړيو چلول هم په الله ﷻ پورې اختصاص لري چې د ډېر ثقل سره-سره نه ډوبېږي او داسې اوچتې پکښې چلېږي لکه چې غرونه د اوبو په مخ روان وي.

۱۱ـ نو ای پيريانو او انسانانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم يوه نعمت ناشکري کوئ او کفران ته يې ملاوې تړئ چې توحيد ته شاوې ګرځوئ او کفر (شرک) ته مخونه وراړوئ؟

۱۲ـ د نورو ټولو شيانو په شمول هرځومره انسانان او هرځومره پيريان چې د ځمکې پر مخ موجوديت لري، ټول پناکېدونکي دي او هيڅوک بقا نه شي درلودلی. مګر يوازې ستا د رب ﷻ ازلي اقدس ذات د ابد او همېشه دپاره باقي پاتې کېدونکی دی چې د لويي او انعام خاوند دی او د پنا په شمول د هر ډول عيب او نقص څخه پاک او منزه دی.

۱۳ـ نو ای انسانانو او پيريانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه په کوم يوه نعمت باندې ناشکري کوئ چې په کفرياتو او شرکياتو باندې ډېر کلک ولاړ ياست؟

۱۴ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هغه ټول مخلوقات ورته احتياج دي او خپل ضروريات ترې غواړي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې موجوديت لري، او د ټولو اړتياوې د همېشه دپاره په مستمره توګه پوره کوي. نو الله ﷻ هره ورځ او هر وخت د خپلو عالي شانونو څخه په يو شان کښې دی چې چا ته يو نعمت ورکوي او چا ته بل، د چا يو ډول احتياج پوره کوي او د چا بل ډول. خو د دې سره-سره چې د يو کس اړتيا پوره کوي په عين وخت کښې د بل کس د اړتيا وو پوره کولو مخه نه نيسي چې نوبت ورته ونه رسېږي.

۱۵ـ نو ای انسانانو او پيريانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه په کوم يوه نعمت باندې انکار خپلوئ؟ کوم درته د شکرګزارۍ لايق نه برېښي؟.

## توضيحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الحجر:۲۶] ايت لاندې ليکلي دي چې د "صَلْصَال" کلمه د هغې کلکې ټنګېدونکې خټې څخه عبارت ده کومې ته چې اور نه وي رسېدلی. او کومه خټه چې په اور سره کلکه وګرځي لکه کردونې نو هغې ته د "فَخَّار" کلمه وضعه شوې ده. يعني الله ﷻ آدم ﷺ د داسې کلکې خټې څخه پيدا کړي دي چې بدون د اوره دومره کلکه وه او ټنګار يې کاوه تا به ويل چې په اور باندې پخه شوې ده.

دا د يو پلوه، او د بل پلوه مونږ هلته هغه سوال جواب کړی دی کوم چې د آدم ﷺ په اصليت

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې وارديږي چې په ښځينو ځايونو کښې خاوره ښودلې شوې ده، په ښځينو کښې خټه او په ښځينو کښې نور شيان. همدارنګه مونږ هلته د پرښتو او جن او د آدم ﷺ د پيدايښت په هکله د نبي کريم ﷺ يو حديث هم ليکلی دی چې بيا ليکلو ته يې څه اړتيا نه ګورو، والحمد لله ﷻ.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په [الحجر:۲۷] ايت کښې الله ﷻ اشاره کړې ده چې "جَان" د "سَمُوم" څخه پيدا کړی شوی دی چې د هغه سوځه اور څخه عبارت دی د کوم سره چې لوګی ملګری نه وي، حال دا چې په ﴿ وَخَلَقَ ٱلْجَآنَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ ﴾ کښې د نومووړي اصل هغه اور ښودلی شوی دی کوم چې د لوګي سره خلط ملط وي، او دا ځکه چې د ﴿ مَّارِجٍ ﴾ کلمه د "مَرَج" ـلکه "ضَرَب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ګډ او خلط معنی ورکوي؟

مونږ وايو: د "مَارِج" کلمه هغه اور ته هم استعماله شوې ده کوم چې بالکل لوګی نه لري[1] او همدغه معنی په دې مقام کښې مراده ده چې د "سَمُوم" د کلمې سره مرادفه ده، نو اعتراض نه وارديږي.

## دوه مشرقونه او دوه مغربونه

۳ـ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الصافات:۵] ايت لاندې په ﴿ رَبُّ ٱلْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ ٱلْمَغْرِبَيْنِ ﴾ کښې د "مَشْرِقَيْن" کلمه ډېر ښه تحليله کړې ده چې په عين تحليل سره د "مَغْرِبَيْن" کلمه هم تحليلدلی شي نو مستقل تحليل ته يې څه اړتيا نه ګورو.

لنډه دا چې دلته د اوړي دوه مشرقونه (اول او آخر) او هم د ژمي دوه مغربونه (اول او آخر) مراد دي چې دواړه د مابين په مشرقونو او مغربونو باندې اشتمال لري.

## مَرَج څه معنی؟

۴ـ په ﴿ مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ ﴾ کښې د ﴿ مَّارِجٍ ﴾ کلمه د "مَرَج" ـلکه "ضَرَب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د خوشې کولو معنی ورکوي. عرب وايي چې: "مَرَجْتُ الدَّابَّةَ فِي الْمَرْعَى"[2] يعني خپل څاروی مې په څرځای کښې خوشې کړی وه چې ازاد پکښې (ګډوډ) وګرځي راوګرځي.

يعني الله ﷻ دوه دريابونه خوشې کړي دي چې دواړه يو د بل سره د قوي پردې د کبله فقط اتصال کولی شي او يو هم بغاوت نه کوي چې په بل باندې وروخېژي او د اوبو مزه يې د منځه يوسي.

پاتې شوه دا خبره چې دغه دواړه درياب‌ونه د کومو-کومو درياب‌ونو څخه عبارت دي؟ نو دا موضوع د الله ﷻ په توفيق د [الفرقان:۵۳] ايت لاندې ښه پوره څېړلې شوې ده چې په بيا څېړلو باندې يې کتاب اوږدېږي هيله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص۳۶۶

(۲) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۳۲۹؛ النهايه في غريب الحديث والاثر ج۴ ص۳۱۴؛ لسان العرب ج۲ ص۳۶۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "لُؤْلُؤ" او "مَرْجَان" معناوې

۵_ په ﴿ يَخْرُجُ مِنْهُمَا ٱللُّؤْلُؤُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴾ کښې د "لُؤْلُؤ" کلمه مطلق ملغلرو ته وضعه شوې ده، برابره خبره ده چې وړې وي او که غټې، اما د "مَرْجَان" کلمه د وړو (کوچنیو) ملغلرو معنی ورکوي[۱].

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په درياب کښې يو ډول حيوانات (ساکښان) ژوند کوي چې د هر يوه ته يې "صَدَف" ويل کېږي، دغه حيوانات د ملغلرو دپاره د غلافونو او معادنو حيثيت لري[۲]. او دا ځکه چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايلي دي: "إِذَا أَمْطَرَتِ السَّمَاءُ فُتِحَتِ الْأَصْدَافُ فِي الْبَحْرِ أَفْوَاهَهَا، فَمَا وَقَعَ فِيهَا فَهُوَ اللُّؤْلُؤ"[۳] يعنې کله چې په درياب باندې اسمان وورېږي نو صدفونه (د ملغلرو غلافونه) په درياب کښې خپلې خولې پرانستې ونيسي نو هغه څاڅکی چې د هغو په خولو کښې ولوېږي نو د هغه څاڅکي څخه (د هغو په ګېډه کښې) ملغلره جوړېږي (او د جوړښت څخه وروسته په درياب کښې پرېوځي).

## هېر مو نه شي

۶_ هېر مو نه شي چې که څه هم جمهور علماء کرام په دې عقيده دي چې ملغلرې او مرجان يوازې په تروه درياب کښې موندلی کېږي چې غواصان (لامبو وهونکي) يې ترې راوباسي، او په خواږه درياب کښې شتون نه لري چې غواصانو پکښې نه دي موندلي[۴]. مګر بهتره دا ده چې د غواصانو د عدم استخراج او عدم وجدان د کبله ايت شريف ته داسې تاويل ورنه کړی شي[۵] چې: په ﴿ يَخْرُجُ مِنْهُمَا ﴾ کښې د "هُمَا" ضمير په وړاندېنې ايت کښې د ﴿ ٱلْبَحْرَيْنِ ﴾ کلمې ته راجع دی خو مطلب پکښې يوازې يو بحر (ترېو) دی او دواړه (خوږ او ترېو) بحرونه مطلب نه دی.

ذکر شوی مضمون په بل ايت کښې په صراحت سره نازل شوی دی چې د تاويل مخه يې بنده کړې ده، الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ﴾ [فاطر:۱۲] يعنې او تاسو د هر يوه درياب (خوږ او ترېو) څخه د ماهيانو تازه غوښې خورئ او داسې ګاڼې ترې راوباسي چې تاسو يې اغوندئ.

## د "نشأ" معنی

۷_ په ﴿ وَلَهُ ٱلْجَوَارِ ٱلْمُنشَـَٔاتُ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَـٰمِ ﴾ کښې د "مُنْشَآت" کلمه د اسم مفعول صيغه ده چې اصلاً د هغه "نَشَأَ" _لکه "ضَرَبَ"_ څخه اشتقاقه شوې ده کوم چې د اوچتولو معنی ورکوي[۶]. شايد چې

(۱) القاموس المحيط ج۴ ص۲۲۲؛ لسان العرب ج۲ ص۱۵۰
(۲) لسان العرب ج۹ ص۱۸۸
(۳) تفسير ابن کثير ج۴ ص۲۷۲
(۴) تفسير القرطبي ج۷ ص۱۶۳؛ المحرر الوجيز ج۱۵ ص۳۳۳
(۵) اضواء البيان ج۷ ص۷۴۸
(۶) لسان العرب ج۱ ص۱۷۲؛ القاموس المحيط ج۴ ص۷۷۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بېړيو ته په خکه دغه لقب ورکړی شوی وي چې خلک د بېړيو د پاسه لرګی اوچت دروي او بيا يې په کېړو باندې پوښوي ترڅو هوا واخلي او د بېړيو په چلښت کښې ګړندیتوب او سرعت زيات کړي.

يعنې خاص الله ﷻ ته د خلق او ملک په حيث هغه بېړۍ هم دي کومې چې په لرګيو او کېړو سره اوچتې کړی شوې وي او د لوړو غرونو په شکل په دريابونو کښې چلېږي.

## يادونې

۸ـ په دې مقام کښې بايد لاندې يادونې په ذهن کښې وساتلی شي چې د الله ﷻ په توفيق د [القصص:۸۸] ايت لاندې تېرې شوې دي:

الف: دلته په ﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴾ کښې د "فَانٍ" کلمه چې په اصل کښې "فَانِي" ده او د "هَالِك" د کلمې سره په مصداق کښې متحده ده چې دواړه د معدوميت څخه نمايندګي کوي(۱).

نو څرنګه چې هلته واضحه شوې ده چې هر شی د خپل ذات په اعتبار سره هالک دی، او د الله ﷻ د ارادې په لحاظ باقي دی، همدارنګه هر شی د خپل ذات په اعتبار سره فاني هم دی او د الله ﷻ د ارادې په لحاظ باقي دی.

ب: په ﴿ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ﴾ کښې د ﴿ وَجْهُ ﴾ څخه د الله ﷻ اقدس ذات مطلب دی او ﴿ رَبِّكَ ﴾ ته يې اضافت بياني دی، چې په ﴿ ذُو ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾ کښې ورته د "ذُو" کلمه صفت واقع شوې ده د همدې کبله مرفوعه نازله شوې ده.

که بالفرض دغه کلمه د ﴿ وَجْهُ ﴾ دپاره صفت نه وی بلکې په ﴿ رَبِّكَ﴾ کښې د "رَبّ" دپاره صفت وی، نو ضرور به مجروره نازله شوې وی لکه چې په ﴿ تَبَٰرَكَ ٱسْمُ رَبِّكَ ذِى ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾ [الرحمن: ۷۸] کښې مجروره نازله شوې ده.

ج: د "ذَات" څخه په ﴿ وَجْه ﴾ سره په تعبير کښې دېته اشاره ده چې الله ﷻ څکه ازلي او ابدي دی او هيڅ زوالورباندې نه شي ورتلای چې وجود يې ذاتي دی، او د نورو موجوداتو وجود ذاتي نه دی بلکې د الله ﷻ د پلوه دی، چې دغه کلمه په اشرفيت دلالت کوي.

د: د ﴿ وَجْهُ ﴾ څخه د "ذَات" مرادول په ټولو لغاتو کښې متبادر دي او تاويلي معنی هغه ده کومه چې متبادره نه وي، نو د دې اعتراض مخنيوی وکړی شو چې دا تاويلي معنی ده. خو د مقام په لحاظ دلته ورباندې لاندې وضاحتونه وراضافه کوو:

اول: په ﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴾ کښې د "مَن" کلمه د تغليب په توګه هغو ټولو موجوداتو شامله ده کوم چې د ځمکې په مخ موجوديت لري، برابره خبره ده چې ساکښان وي او که نه(۲).

دوهم: په همدې عبارت کښې د "هَا" ضمير ځمکې ته راجع دی چې څو ايتونه وړاندې ذکره ده او

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۱۰۸
(۲) المحرر الوجيز ج۱۵ ص ۳۳۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې ایت کښې وربانديې بحث دلالت کوي، ته به وایې چې حکمًا ذکره ده.

دریم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَلِظُّوا بِيَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَام»[1] یعني تاسو په خپلو دعاگانو کښې په «يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَام» ویلو سره کلک او ثابت اوسئ (مه یې هېروئ).

څلورم: نبي کریم ﷺ هغه سړی مخاطب کړ کوم چې په خپله دعاء کښې د "يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَام" کلمات لوستل: «لَقَدْ سَأَلْتَ اللهَ بِاسْمِ اللهِ الْأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى»[2] یعني یقینًا تا د الله ﷻ څخه د الله ﷻ په هغه نامه سره سوال وکړ چې کله وربانديې وبلل شي (عبادت یې وکړی شي) هغه قبلوي او کله چې ترې وربانديې سوال وکړی شي هغه ورکوي.

## مجاهد علیه الرحمة څه وایي؟

۹ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یونس: ۶۱] ایت لاندې په ﴿ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ ﴾ کښې د ﴿ شَأْنٍ ﴾ کلمه واضحه کړې ده چې د هغه کار څخه عبارت ده کوم چې ډېر اهمیت او عالي رتبه ولري. خو په دې مقام کښې مجاهد علیه الرحمة داسې تفسیره کړې ده چې: "كُلَّ يَوْمٍ يُجِيبُ دَاعِيًا وَيَكْشِفُ كَرْبًا وَيُجِيبُ مُضْطَرًّا وَيَغْفِرُ ذَنْبًا"[3] یعني الله ﷻ هر ورځ (هر وخت) د عبادت کوونکي اجابت کوي (عبادت یې قبلوي) او (د غمژن څخه) غم لرې کوي او د مجبور اجابت کوي (سوال یې قبلوي) او بالآخره گناه ببښي.

شاید چې نومړي مفسر علیه الرحمة به محض د څو مثالونو ذکر مطلب وي او حصر به یې مطلب نه وي ځکه چې هر څه د الله ﷻ په اراده موجودېږي او معدومېږي.

﴿ سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَ الثَّقَلَانِ ﴿٣١﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٢﴾ يَٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَن تَنفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ فَانفُذُوا لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَٰنٍ ﴿٣٣﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٤﴾ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴿٣٥﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٦﴾ ﴾

[۳۱] ډېر ژر به مونږ ستاسو (د محاسبې) دپاره اوزگار شو (د دنیا کارونه به ختم کړو او ستاسو د محاسبې وخت به راورسېږي) ای دوه وو درنو ډلو!.

[۳۲] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟

[۳۳] ای پیریانو او انسانانو! که تاسو وسه لرئ چې د اسمانو او ځمکو د څنډو څخه بهر ووځئ (او د أخروي محاسبې یا د دنیاوي مرگ څخه خانونه بچ کړئ) نو ووځئ (څنډ مه کوئ)، تاسو بهر

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۵۶۸؛ مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۱۸۷
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۲۴۱
(۳) الدر المنثور ج۷ ص۷۰۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه شئ تلی مگر په تسلط (او قوت) سره (چې تاسو یې درلودونکی نه یاست).

[۳۴] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ.

[۳۵] (د تښتېدلو په صورت کښې به د الله ﷻ د جانبه) په تاسو دواړو (تښتېدونکو) ډلو باندې د اور څخه بې لوګي اور او بې اوره لوګی دروا ستولی شي نو تاسو دواړه (تښتېدونکې) ډلې به نصرت مونده نه کړئ (او نه به یوه د بلې سره مرسته وکړئ چې انتقام او بدل ورته واخلئ او یا نجات ورکړئ).

[۳۶] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ (چې په غیبي حالاتو باندې یې خبر درکې)؟

## ارتباط د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د الله ﷻ د عالي شان هغو مثالونو ته اشاره شوې وه کومو چې د دنیاوي اُمورو سره تړاو درلود، او په دې ایتونو کښې یې د عالي شان څه هغو مثالونو ته اشاره کېږي کوم چې په اُخروي کارونو پورې ارتباط لري. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه پیریان او انسانان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ ای پیریانو او انسانانو! هغه وخت ډېر ژر تېرېدونکی دی کوم چې مونږ د دنیاوي اُمورو دپاره ټاکلي دي او هغه وخت ډېر ژر راتلونکی دی په کوم کښې چې مونږ اُخروي کارونه پیل کوو. یا په بل عبارت: مونږ به ډېر ژر د هغو کارونو څخه اوزګار شو (هغه به ختم کړو) او په دې کارونو باندې به شروع وکړو، تاسو ته د هغه وخت پورې اختیار دی څه مو چې خوښه وي هغه وکړئ خو د عکس العمل سره به یې مخامخ شئ.

۲ـ نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه انکاري یاست؟ ایا دا تاسو ته لوی نعمت نه دی چې په اُخروي عاقبت باندې یې خبر کړئ؟.

۳ـ ای پیریانو او بنیادمانو! په دغې ورځ کښې به تاسو ته د تعجیز او تخجیل دپاره وویلې چې: که تاسو د اسمانونو او ځمکو د څنډو څخه د وتلو توان لرئ چې وتښتئ او زمونږ د نیونې څخه خانونه بچ کړئ نو ډېل مه کوئ، وتښتئ او خپل خانونه وباسئ چې مونږ مو په عذاب اخته نه کړو. خو حقیقت دا دی چې تاسو دواړه ډلې دغه کار نه شئ کولی او نه ستاسو سره توان شته چې دغه کار ترسره کړئ، ځکه چې دغه کار په قوت او سلطې پورې اړه لري چې تاسو په الله ﷻ باندې سلطه ولرئ حال دا چې په الله ﷻ باندې سلطه درلودل محال او نه کېدونکی کار دی.

۴ـ نو ای دغو دواړو ډلو! تاسو د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه په کوم یوه نعمت باندې انکار خپلوئ؟ ایا تاسو ته دا لوی نعمت نه برېښي چې په هغې خبره باندې نن ورځ په دنیا کښې مخاطب وګرځولی شوئ په کومو باندې به چې په آخرت کښې مخاطب ګرځولی کېږئ، ترڅو تاسو د اُخروي تخجیل او توهین څخه خپل خانونه بچ کړئ او په توحید باندې کلکې منګولې ولګوئ (کفري او شرکي عقیده د پښو لاندې کړئ)؟.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵ـ په دغې ورخ کښې به په تاسو دواړو ډلو باندې (کومو چې نن کفري عقيده خپله کړې ده) د الله ﷻ د پلوه د نورو عذابونو په ضمن کښې لاندې عذابونه هم دروا ستولی شي:

الف: د اور څخه به په تاسو باندې سوچه لمبې دروا ستولی شي چې لوګی به ورسره نه وي.

ب: همدارنګه به په تاسو باندې د اور څخه سوچه لوګی دروا ستولی شي چې لمبې به ورسره موجوديت نه لري. نو په دغه وخت کښې به تاسو نه د مرستې غوښتنه وکړی شئ او نه به د تعذيب انتقام واخستلی شئ، او په همدغو دواړو عذابو سره به مو د تښتېدلو مخه بنده کړی شي.

۶ـ نو ای دواړو ډلوا تاسو د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم يو نعمت انکار او تکذيب کوئ؟ ايا دا نعمت د انکار قابل دی چې په دنيا کښې يې په أخروي عذاب باندې خبر کړئ ترڅو ترې په صحيح ايمان راوړلو سره ځانونه بچ کړئ البته د هغې ورځ څخه وراندې چې د بچ کېدلو ټولې دروازې ترلې شوې وي؟

## توضيحات

۱ـ په دې مقام کښې لاندې ټکي په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: په ﴿ سَنَفْرُغُ لَكُمْ ﴾ کښې د ﴿ سَنَفْرُغُ ﴾ کلمه د "فَرَاغ" ـلکه "عَذَاب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د اوزګارېدلو معنی ورکوي[۱]، او د قدرت په محدوديت باندې دلالت کوي، لکه چې بندګان د يوه کار کولو په وخت کښې بل کار نه شي کولی مثلاً چې هم ليکل وکړي او هم خياط جوړ شي.

په دې مقام کښې مطلب دا دی چې دنيا د تکليف دار دی او آخرت د جزا دار دی، نو د دواړو دارونو کارونه سره منافات لري کله چې يو ختم شي بل به شروع کېږي، نو ډېر ژر به مونږ تکليفي کارونه ختم کړو او قيامت به قائم کړو او د هر چا سره به د حساب تصفيه پيل کړو چې تاسو ورباندې عقيده نه لرئ.

لنډه دا چې په ذکره شوې جمله کښې کفار تهديد شوی دی چې دارالتکليف مخ په ختمېدلو دی او د دار الجزاء پيل کېدل نژدې شوي دي، نو ډېر ژر به د خپلو کړو وړو نتائج وګورئ.

ب: په دې مقام کښې پيريان او انسانان د مجموع په لحاظ د جمعې په ضمير سره مخاطب کړی شوي دي، لکه ﴿ لَكُمْ ﴾، ﴿ فَٱنفُذُوا ﴾ او د دوه وو ډلو په ملحوظ د مثنی په ضمير سره مخاطب ګرځولی شوی دی لکه ﴿ رَبِّكُمَا ﴾، ﴿ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴾، نو دواړه تعبيرونه په اصل مطلب او مصداق باندې څه اثر نه غورزوي[۲].

ج: په ﴿ أَيُّهَ ٱلثَّقَلَانِ ﴾ کښې د "ثقل" کلمه مثنی ده چې د پيريانو او انسانانو دپاره لقب ګرځولی شوې ده، لکه چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: کافر يا منافق به په قبر کښې د دواړو غوږونو ترمنځ د اوسپنې په ګورز باندې وهل کېږي، «فَيَصِيحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيهِ إِلَّا

(۱) مفردات الراغب ص۳۹۱
(۲) التفسير الکبير ج۲۹ ص۱۱۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الثَّقَلَيْنِ»[۱] نو داسې تېرې چغې به وهي چې ورسره نژدې ټول کسان به يې اوري په غير د پېريانو او انسانانو څخه (ترڅو ايمان بالغيب يې بالعيان جوړ نه شي او مکلفيت يې د منځه لاړ نه شي).

شايد چې ذکرو شوو دوارو ډلو ته به دغه لقب د دې کبله ورکړی شوی وي چې دوی دواړه ډلې د ځمکې په مخ مکلفې ډلې دي او تکليفي احکام يې پر اوږو بار دي او د قيامت په ورځ د سوال جواب سره مخامخ کېدونکی دی.

## دوه ډوله تفسير

۲ـ د ﴿ يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ ﴾ الآية- په تفسير کښې د علماء کرامو دوه نظره ولولئ:

الف: جمهور علماء کرام وايي چې: ذکر شوی خطاب به هلته (په آخرت کښې) هغه وخت صورت ونيسي چې کله کفار -پېريان وي او که انسانان- د تعذيب څخه د نجات هڅه وکړي، نو د تعجيز دپاره به ورته وويلی شي چې د اسمانونو او ځمکو د څنډو څخه بهر شئ که توان لرئ[۲]. خو هغوی به په خپلې ناتوانۍ اعتراف وکړي او وبه وايي چې: ﴿ أَيۡنَ ٱلۡمَفَرُّ ﴾ [القيامة: ۱۰] يعنې نن ورځ د تښتېدلو ځای چېرته دی (يقيناً د تښتېدلو او پنا وړلو ځای نشته).

ب: د ځينو علماوو کرامو نظر دا دی چې ذکر شوی خطاب په دنيا کښې کفارو ته -برابره خبره ده چې پېريان وي او که بنيادمان وي- متوجه دي[۳] چې: ای کفاروا که تاسو د مرګ څخه او زمونږ د ارادې څخه د پنا اخستلو او تښتېدلو څه اراده لرئ نو صرفه مه کوئ، چېرته پنا واخلئ او خپلو ځانونو ته نجات ورکړئ. خو حقيقت دا دی چې دا کار به ستاسو د لاسه هغه وخت پوره شوی وی چې تاسو په الله ﷻ باندې زورور وی او قدرت موورباندې د پاسه وی.

همدې مضمون ته په بل ايت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴾ [العنکبوت: ۲۲] يعنې او ای کفاروا تاسو نه په ځمکه کښې د الله ﷻ عاجز کرځوونکي ياست او نه په اسمان کښې (چې زور مو پرې دپاسه شي او د اسمان او ځمکو د څنډو څخه بهر شئ).

او داسې اشاره هم ورته شوې ده چې: ﴿ أَيۡنَمَا تَكُونُواْ يُدۡرِككُّمُ ٱلۡمَوۡتُ وَلَوۡ كُنتُمۡ فِي بُرُوجٖ مُّشَيَّدَةٖ ﴾ [النساء:۷۸] يعنې په هر ځای کښې چې تاسو ياست هلته به مو مرګ ومومي (ترې خلاص به نه شئ) اګر که تاسو په محکمو ماڼيو (قلاګانو) کښې ياست.

## تبصره

۳ـ مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره هيڅ تضاد نه لري، نو که د بدليت په لحاظ دواړه اراده کړی شي هيڅ باک يې نشته بلکې بهتره ده.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۷۸؛ مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۲۵۳
(۲) تفسير ابن کثير ج۴ ص۲۷۲؛ التفسير الکبير ج۱۹ ص۱۱۲؛ تفسير القرطبي ج۱۷ ص۱۶۹؛ البحر المحيط ج۱۰ ص۶۴
(۳) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۳۳۷؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۸ ص۳۳۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د شُوَاظ او نُحَاس معناوې

۴ـ په ﴿ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ ﴾ الآية- کښې د ﴿ شُوَاظٌ ﴾ کلمه هغه اورته وضعه شوې ده کوم چې لوګی نه لري. او په همدې ایت کښې د "نُحَاس" کلمه د هغه لوګي معنی ورکوي د کوم سره چې اور ملګری نه وي[1]. دغه ایت شریف د ارتباط په لحاظ په لاندې دوه ډوله تفسیریدلی شي:

الف: چې د ﴿ يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ ﴾ الآية- سره ارتباط ورنه کړی شي (مستقل حکم وګڼلی شي). نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای د دواړو ډلو کفارو! د قیامت په ورځ به په تاسو دواړو ډلو باندې د ، وچه اور او یا د سوچه لوګي عذاب هم درواستلی شي او تاسو دواړه ډلې به ترې هیڅ نجات موندنه نه کړئ.

ب: چې د ذکر شوي ایت سره اړونده وګڼلی شي. نو حاصل به داسې راوخېژي چې: ای پیریانو او انسانانو! که بالفرض تاسو په آخرت کښې د تعذیب څخه او یا په دنیا کښې د مرګ څخه د بچ کېدلو په غرض وتښتئ او د نجات هڅې وکړئ نو هرومرو به مونږ په تاسو باندې یوازې اور او هم یوازې لوګی درواستوو او د ناکامۍ سره به مو مخامخ کړو، او د تښتېدلو لاره به مو کلکه بنده کړو چې په خجالت سره بېرته راستانه شئ.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: په ذکرو شوو ایتونو کښې تهدید او تعجیز او هم تعذیب ته اشاره شوې ده، حال دا چې ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پکښې درې کرته نزول موندلی دی چې په یوه کرت کښې هم نعمت موجودیت نه لري؟

مونږ وایو چې: که څه هم تهدید، تعجیز او تعذیب یو هم د خپل ذات په اعتبار سره نعمت نه دی مګر د اطلاع او اخبار په لحاظ سره هر یو لوی نعمت دی ترڅو خلک په خپل عجز او ناتوانۍ باندې اعتراف وکړي او د متکبرانه ویناوو او افعالو څخه او هم د کفري عقائدو څخه خپل ځانونه بچ وساتي او یا یې ترې بچ کړي.

## هېر مو نه شي

۶ـ هېر مو نه شي چې په دې مقام کښې مطلب دا دی چې هیڅوک د اسمانونو او ځمکو د احاطې څخه بهر نه شي وتلی (پیری وي او که بنیادم).

اما ستورو ته د ختلو او نه ختلو موضوع دلته هیڅ مطرحه نه ده، نو که څوک ستورو ته وروخېژي هم د ایتونو سره هیڅ منافات نه لري، بلکې اسمان ته د ختلو دعوه لا تر اوسه پورې هیچا نه ده کړې او نه به یې وکړي پاتې لا د اسمان د څنډو څخه د وتلو دعوه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۰۶، لسان العرب ج۷ ص۴۴۶، القاموس المحیط ج۱ ص۷۷۶

﴿فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتۡ وَرۡدَةٗ كَٱلدِّهَانِ ﴿٣٧﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٨﴾
فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يُسۡـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ إِنسٞ وَلَا جَآنّٞ ﴿٣٩﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٠﴾
يُعۡرَفُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ بِسِيمَٰهُمۡ فَيُؤۡخَذُ بِٱلنَّوَٰصِي وَٱلۡأَقۡدَامِ ﴿٤١﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ
﴿٤٢﴾ هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٤٣﴾ يَطُوفُونَ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَ حَمِيمٍ ءَانٖ ﴿٤٤﴾
فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٥﴾﴾

[۳۷] نو کله چې اسمان وچوي نو د سرې څرمنې غوندې تک سور شي (نو دغه وخت به ډېر دهشتناک وخت وي).

[۳۸] نو (ای پیریانو او انسانانو!) تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۳۹] نو په دغې ورځ کښې به هیڅ انسان د خپلې گناه څخه ونه پوښتلی شي او نه هیڅ پیری.

[۴۰] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۴۱] مجرمان (کفار) به (په دغې ورځ) په خپلو نښانو سره پېژاندل کېږي نو په تندو او قدمونو سره به (د پرښتو د پلوه) نیولی کېږي (او دوزخ ته به وراچولی کېږي).

[۴۲] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۴۳] (په دغې ورځ کښې به کفارو ته ورواورولی شي چې): دغه هغه جهنم دی کومې ته چې مجرمانو (کفارو) د دروغو نسبت کاوه.

[۴۴] مجرمان (کفار) به د جهنم (د اور) ترمنځ او د ډېرو گرمو (خوټېدونکو) اوبو ترمنځ گرځي راگرځي (خې راخې چې کله به په یوه معذبیبږي او کله به په بل)!

[۴۵] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د هغو کارونو څو نور مثالونه هم قرائت کړه کوم به چې د دنیا د اختتام څخه وروسته په آخرت کښې صورت ونیسي، هغه دا چې:

۱ـ نو کله چې د اسمان قوت ختم شي او وچوي او رنگ یې تک سور واوړي لکه سره څرمن، نو دغه وخت به ډېر دهشتناک او خطرناک وخت وي.

۲ـ نو ای بنیادمانو او پیریانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ؟ ایا دا لوی نعمت نه دی چې د قیامت د ورځې د ځینو حالاتو څخه یې خبر کړئ چې تیاري ورته ونیسئ.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ نو په دغې ورځ کښې به نه انسان د ګناه د حیثه پوښتلی کیږي او نه پیری، چې تا څه ګناه کړې ده او ته په څه ګناه باندې اخته وې.

۴ـ نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه په کوم یوه نعمت باندې ناشکري کوئ او انکاري ترې جوړیږئ؟ ایا دا یو نعمت نه دی چې د مرګ څخه په وروسته حال باندې خبر کړی شوئ؟

۵ـ په دغې ورځ کښې به مجرمان (کفار) په کفري نښو او علامو سره پیژندل کیدی شي، او پرښتې به دې ته څه اړتیا نه لري چې د هغوی د پیژندلو په غرض پوښتنه وکړي چې دوی کوم کوم کسان دي. نو په همدې بنیاد به د پوښتنې پرته د سر او پښو څخه نیولی کیږي او د یوې غونډوسکې په څیر به دوزخ ته وراچول کیږي.

۶ـ نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ؟ تاسو ته په کار دي چې د همدغه خبر شکریه وکړئ او داسې عقیده او عمل خپل کړئ چې د ذکر شوي حالت څخه نجات مونده کړئ.

۷ـ په عین وخت کښې به مجرمان (کفار) په غوږ وهل کیږي او ورته به وراورولی کیږي چې دا هغه ورځ ده چې مجرمانو (کفارو) یې تکذیب کاوه او په دنیا کښې یې وریاندې عقیده نه درلوده.

۸ـ ای پیغمبره! کفارو ته په دوزخ کښې د ګرم اور څخه په غیر نور ډیر ډولونه تعذیبونه متوجه وي، حتی چې دوی به د دوزخ په داخل کښې د ګرم اور د ډیرو ګرمو خوټیدونکو اوبو ترمنځ تګ راتګ کوي، چې کله به په یوه عذاب باندې معذبیږي او کله په بل.

۹ـ نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه په کوم یوه نعمت سره تکذیب کوئ؟ ایا دا لوی نعمت نه دی چې په دنیا کښې د دوزخ د عذابونو څخه تاسو ته خبر درکړی شو ترڅو ترې په توحیدي عقیدې سره خپل ځانونه بچ کړئ؟

## توضیحات

۱ـ په ﴿ فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ ﴾ الآیة- کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ وَرۡدَةً ﴾ کلمه د سره رنګ معنی ورکوي، شاید چې د ګلاب ګل ته به خکه د "وَرْد" کلمه نوم اینبودلی شوی وي چې دغه ګل سور رنګ لري[۱].

ب: د "دِهَان" کلمه د سرې څرمنې دپاره وضعه شوې ده[۲].

ج: ذکر شوی ایت شریف شرطیه جمله ده چې جواب یې مقدر دی[۳]، څه لرې نه ده چې مونږ ترې په "تَحَقَّقَ هَوْلٌ عَظِیمٌ" سره تعبیر وکړو.

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۵۷؛ روح المعاني ج۲۷ ص۱۱۳

(۲) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۳۳۹؛ لسان العرب ج۱۳ ص۱۶۲؛ القاموس المحیط ج۲ ص۲۲۶

(۳) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۳۳۹؛ تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۸۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعنې کله چې اسمان د شنه رنګ په عوض تک سور شي او داسې جوړ شي لکه سره څرمن، نو په دغه وخت کښې به د هر لوی ډار او وارخطايي تحقق وومي.

## يو نحوي تحقيق

۲ـ په ﴿ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ إِنسٌ وَلَا جَآنٌّ ﴾ کښې د ﴿ ذَنۢبِهِۦٓ ﴾ ضمير د ﴿ إِنسٌ ﴾ کلمې ته راجع دی چې د ﴿ جَآنٌّ ﴾ کلمه وروباندې عطفه ده، که څه هم دغه مرجع د ضمير څخه په ذکر کښې وروسته ده مګر په رتبه کښې وړاندې مخکښې ده چې د ﴿ لَّا يُسْـَٔلُ ﴾ دپاره د نائب فاعل په حيث مرفوع ده او د ضمير د ارجاع دپاره رتبوي تقدم هم کفايت کوي.

دا د يو پلوه، او د بل پلوه په ايت شريف کښې د مجرمانو (کفارو) څخه هغه پوښتنې نفي کړی شوې دي کومې چې د معلوماتو د ترلاسه کولو دپاره صورت نيسي، چې د هغوی جرم به څرګند وي. اما د توبيخ او تخجيل دپاره خو به هغوی ضرور وپوښتلی شي چې تاسو د دغو جرمونو ولې مرتکب شوي ياست؟ دا هم څه لرې نه ده چې پوښتنې په ځينو ځينو مواقفو کښې صورت ونيسي نه په ټولو کښې.

د همدې موضوع په ارتباط د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف:۶] ايت لاندې څه تحقيق تېر شوی دی، او ځينو مفسرينو کرامو پکښې دلته هم ډېر ښه تحقيقي بحث کړی دی[۱].

## د کفارو د پېژاندلو نښې

۳ـ په ﴿ يُعْرَفُ ٱلْمُجْرِمُونَ بِسِيمَٰهُمْ ﴾ کښې د "سِيمَا" کلمه هغو نښو ته اشاره ده په کومو سره به چې د قيامت په ورځ کفار د ورايه پېژاندل کېږي، په دغو نښو باندې په نورو ايتونو کښې صراحت نازل شوی دی. د ښه وضاحت دپاره يې لاندې مثالونه ولولئ:

الف: ﴿ وُجُوهُهُم مُّسْوَدَّةٌ ﴾ [الزمر:۶۰] يعنې د قيامت په ورځ به ته هغه کسان ګورې چې مخونه به يې تک تور وي کومو چې په دنيا کښې په الله ﷻ باندې دروغ تپلي وي.

ب: ﴿ وَنَحْشُرُ ٱلْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴾ [طه:۱۰۲] يعنې مونږ به د قيامت په ورځ مجرمان (کفار) په داسې حال حشر کړو چې سترګې به يې تکې شنې وي (نه به پکښې تور وي او نه به پکښې سپين).

## يادونې

۴ـ په دې مقام کښې بايد لاندې يادونې هېرې نه کړی شي:

الف: مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الحج:۱۹] ايت لاندې په ﴿ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ ءَانٍ ﴾ کښې د ﴿ حَمِيمٍ ﴾ کلمه د يوه حديث په رڼا کښې شرحه کړې ده چې د خوټېدونکو اوبو څخه عبارت ده. نو څرنګه چې په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د ﴿ ءَانٍ ﴾ په کلمې سره هم تاکيده شوې ده او "آن" ـ لکه "زام" ـ

(۱) اضواء البيان ج۷ ص۷۵۳؛ تفسير القاسمي ج۱۵ ص۲۹۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د هغو ګرمو اوبو معنی ورکوي کومې چې په تودوخې کښې انتهاء ته رسېدلې وي[۱]، نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې: کفار به د دوزخ په داخل کښې د اور او ډېرو سختو خوټېدونکو اوبو ترمنځ څي راځي چې کله به په اور باندې معذبېږي او کله په ګرمو خوټېدونکو اوبو باندې.

همدې مضمون ته په بل ايت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ تُسْقَىٰ مِنْ عَيْنٍ ءَانِيَةٍ ﴾ [الغاشية:۵] يعنې ځينې مخونه (کفار) به په ګرمو خوټېدونکو اوبو سره خړوبولی کېږي.

ب: د ايتونو د وړاندېنۍ مجموعې د پنځمې توضيح سوال جواب بايد کټ مټ د دغې مجموعې په هکله هم تطبيق کړی شي په کومه کښې چې بحث پای ته ورسېد.

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٧﴾ ذَوَاتَآ أَفْنَانٍ
﴿٤٨﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٩﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴿٥٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ﴿٥١﴾ فِيهِمَا مِن كُلِّ فَٰكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴿٥٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٣﴾ مُتَّكِـِٔينَ
عَلَىٰ فُرُشٍۭ بَطَآئِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ۚ وَجَنَى ٱلْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ
﴿٥٥﴾ فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٥٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ﴿٥٧﴾ كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴿٥٨﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٩﴾ هَلْ
جَزَآءُ ٱلْإِحْسَٰنِ إِلَّا ٱلْإِحْسَٰنُ ﴿٦٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦١﴾ ﴾

[۴۶] او خاص د هغه چا دپاره (په آخرت کښې) دوه جنتونه دي کوم چې د خپل رب ﷻ (په حضور کښې د محاسبې) د درېدلو څخه ډارېږي (او د مناهيو څخه ډډه کوي).

[۴۷] نو (ای پيريانو او بنيادمانو!) تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم يوه تکذيب کوئ؟

[۴۸] (دا دواړه جنتونه) د (ډېرو اوږدو) څانګو خاوندان دي.

[۴۹] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم يوه تکذيب کوئ؟.

[۵۰] په دغو دواړو جنتونو کښې د شرابو دوه چينې بهېږي.

[۵۱] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم يوه تکذيب کوئ؟.

[۵۲] په دغو دواړو جنتونو کښې د هرې مېوې څخه دوه ډوله شته دي (چې يو ډول به يې په زړه کښې تېرې شوې وي او بل ډول به يې په زړه کښې هم نه وي تېرې شوې).

[۵۳] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم يوه تکذيب کوئ؟.

---

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۴۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۴] حال دا چې (ذکر شوي ډارېدونکي) به په داسې فرشونو باندې تکیه وهونکي وي چې د هغو استرونه به د غټو وریښمنو څخه (جوړ) وي (او د هغو مخونه به په لېدلو پورې اړه لري)، او (په دې باندې علاوه) د دواړو جنتونو راشکولې شوې مېوه به (جنتیانو ته) نږدې وي (چې په هر حال به ترې استفاده کولی شي).

[۵۵] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۵۶] په دغو جنتونو کښې به (په خپلو خاوندانو پورې) نظر لنډوونکې حورې وي (چې بل چا ته به نه ګوري)، دا حورې به د خپلو خاوندانو څخه مخکښې نه انسان مسه کړې وي او نه پیري (چې جنسي ارتباط یې ورسره نیولی وي، نو دوی به ورسره اولني ارتباط نیوونکي وي).

[۵۷] نو (ای پیریانو او بنیادمانو!) تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۵۸] (دا حورې به په صفایی او ښایست کښې داسې وي) لکه چې دوی یاقوت او مرجان (کوچنی ملغلرې) وي.

[۵۹] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۶۰] ایا د احسان جزا ده؟ (نه ده) مګر احسان (د نېکو کارانو جزا نه ده مګر نېکي ده).

[۶۱] نو (ای پیریانو او بنیادمانو!) تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د مجرمانو د أخروي حالاتو د بیان په تعقیب په خپل اُمت باندې د متقیانو څه أخروي حالات هم قرائت کړه، چې د مقایسې په توګه پکښې تفکر وکړي هغه دا چې:

۱ ـ د قیامت په ورځ د هغه چا دپاره کوم چې د خپل رب ﷻ په حضور کښې د درېدلو څخه ډارېږي، د جنت په داخل کښې دوه ډوله جنتونه تیاکلی شوي وي چې یو به د سرو زرو څخه جوړ وي او بل به د سپینو زرو څخه، برابره خبره ده چې ډارېدونکی کس انسان وي او که پېری.

نو ای انسانانو او پیریانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت ناشکري او تکذیب کوئ؟ ایا دغه نعمتونه د ناشکرۍ لیاقت لري؟.

۲ ـ ذکر شوي دواړه جنتونه او باغونه د زښتو ډېرو ښاخونو او څانګو درلودونکي دي.

نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ او تیاری ورته نه نیسئ؟.

۳ ـ په دغو دواړو جنتونو کښې دوه چینې دي چې تل پکښې بهېږي او دوامداره جریان لري، چې دواړه چینې د شرابو څخه دي.

نو ای پیریانو او انسانانو! تاسو د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت ناشکري او تکذیب کوئ، او موندلو پسې یې هڅې نه کوئ؟.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ په دغو دواړو جنتونو کښې د هرې میوې څخه دوه ډوله موجودیت لري چې جنتیانو به په دنیا کښې د یوه ډول نوم اورېدلی وي او د بل ډول به یې لا نوم هم نه وي اورېدلی.

نو ای پیریانو او انسانانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ او د لاس ته راوړلو هڅې یې نه کوئ؟.

۵ـ جنتیان به په جنت کښې په داسې فرشونو باندې ناست وي او تکیاګانې به یې پرې لګولي وي چې د هغو فرشونو استرونه به د غټو وربښمنو څخه جوړ وي، نو یوازې الله ﷻ پوهېږي چې د دغو فرشونو مخونه به د څه ډول رختونو څخه چمتو کړی شوي وي. دا د یو پلوه، او د بله پلوه د جنتي ونو څخه به جنتیانو ته راشکول شوي میوجات ډېر نژدې وي، چې په ناسته او ملاسته بلکې په ټولو حالونو سره ترې استفاده صورت نیولی شي.

نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ او د موندلو هڅې یې نه کوئ؟!

۶ـ په جنتونو کښې د جنتیانو دپاره داسې حورې هم شتون لري چې د هغوی کتل او نظر کول به خپلو-خپلو خاوندانو ته خانګړی وي، بلکې دوی به پرې عاشقانې وي په دې باندې علاوه د دغو حورو لومړنی مسه کوونکي به همدوی وي چې د دوی څخه وړاندې به هغوی ته نه بنیادم لاس وروړی وي او نه پیري. یا په بل عبارت: د ذکرو شوو حورو سره به یوازې همدوی د جنسي ارتباط نیوونکي وي او بس، چې نه به ورسره پخوا چا ارتباط نیولی وي او نه به یې ورسره د دوی څخه پرته وروسته څوک ونیسي.

نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت ناشکري کوئ او ورباندې کافر کېږئ؟.

۷ـ ذکرې شوې جنتي حورې به داسې ښایسته او سپېڅلې وي لکه چې یاقوت او ملغلرې سپېڅلې او ډولي دي.

نو ای پیریانو او انسانانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت څخه انکاري جوړېږئ او په موندلو پسې یې زیار نه باسئ؟.

۸ـ ای پیغمبره! دغه نعمتونه (چې وړاندې بیان شوه) د احسان کوونکو او مخلصو بندګانو جزا ده چې د خپل رب ﷻ د پلوه په آخرت کښې ورکوله کېږي. ایا احسان کوونکو ته د احسان څخه په غیر بله جزا شته؟ بله جزا ورته مناسبه ده؟، پوره واضحه ده چې جواب منفي دی نو ځکه ورته خپل رب ﷻ دغسې لویه جزا چمتو کړې ده.

نو ایا پیریانو او انسانانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ؟ کوم یو درته دروغ برېښي؟.

## توضیحات

۱ـ په ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ﴾ کښې مفسرینو کرامو د ﴿مَقَامَ﴾ کلمه په ډېرو ډولونو

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره تحليله كړې ده[۱]، خو مونږ فقط د دوه وو تحليلونو په ذكر باندې اكتفاء كوو[۲] چې دواړه متبادر برېښي او په مصداق كښې سره دواړه متحد دي، نو كه دواړه د بدليت په لحاظ اراده كړى شي غوره به وي. هغه دا چې:

الف: د ﴿ مَقَامَ ﴾ كلمه مصدر ده او د بنده صفت ده خو د ﴿ رَبِّهِۦ ﴾ كلمې ته يې د كوچني تړاو د كبله اضافت مونډلى دى. يعني: د هغه چا دپاره د الله ﷻ په نزد دوه جنتونه دي كوم چې د خپل رب ﷻ په حضور كښې د حساب كتاب دپاره د خپلو درېدلو څخه ډارېږي او د جنايتونو څخه ډډه كوي.

همدغه مضمون په بل ايت كښې داسې نازل شوى دى چې: ﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ﴾ [النازعات: ۴۰] يعني او هر هغه څوک چې د خپل رب ﷻ په حضور كښې د خپل قيام څخه ډارېږي او خپل نفس د خواهشاتو څخه منعه كوي (نو جنت د همدغو كسانو دپاره استوګنځاى دى).

ب: ذكره شوې كلمه مصدر ده او د الله ﷻ صفت ده چې د مراقبت معنى وركوي. يعني: هغه څوک چې د خپل رب ﷻ د مراقبت څخه ډارېږي او د ګناهونو څخه ډډه كوي هغه ته د الله ﷻ په نزد دوه جنتونه تياكلي شوي دي.

همدا مضمون په ډېرو نورو ايتونو كښې هم نازل شوي دي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: ﴿ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلْمِرْصَادِ ﴾ [الفجر:۱۴] يعني يقيناً ستا رب ﷻ په مراقبت خاى كښې دى (د بندګانو ټول كړه وړه د نظر لاندې ساتي).

دوهم: ﴿ أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ﴾ [الرعد:۳۳] يعني ايا نو هغه څوک چې په هر نفس باندې د هغه د كسب كړي عمل په سبب قائم (مراقبت كوونكى) دى (د هغه چا غوندې كېدلى شي چې هيڅ مراقبت يې په توان كښې نشته)؟

## ماثور تفسير

۲_ كه څه هم په ذكر شوي ايت شريف كښې د ﴿ جَنَّتَانِ ﴾ كلمه په راتلونكو ايتونو كښې ښه پوره تفسيره شوې ده چې دواړه جنتونه د دغو او هاغو صفاتو درلودونكي دي.

خو شايد _والله ﷻ اعلم_ چې نبي كريم ﷺ به هم په خپل يوه حديث كښې همدغو دواړو جنتونو ته اشاره كړې وي چې: «جَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَجَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا»[۳] يعني دوه جنتونه چې دي د هغو لوښي او څه شيان چې پكښې شتون لري هغه ټول به د سپينو زرو څخه جوړ كړى شوي وي او دوه جنتونه چې دي د هغه لوښي او څه شيان چې پكښې شتون لري هغه به ټول د سرو زرو څخه تيار كړى شوي وي.

---

(۱) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج ص۴۳۴؛ تفسير المظهري ج۹ ص۱۵۶
(۲) اضواء البيان ج۷ ص۷۵۶
(۳) صحيح مسلم ج۱ ص۱۰۰؛ صحيح البخاري ج۲ ص۷۲۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځرنګه چې په دغه حدیث کښې د څلورو جنتونو ذکر روایت شوی دی، نو شاید چې دوه وو جنتونو ته به په همدغه ایت کښې اشاره شوې وي په کوم کښې چې بحث روان دی او دوه وو نورو ته به په راتلونکي [الرحمن: ۶۲] ایت کښې اشاره صورت ونیسي. والله ﷻ اعلم.

۳ــ پاتې شوه دا خبره چې د ذکرو شوو دواړو جنتونو ورکړه به هغوی ته په څه مناسب صورت ونیسي؟ نو د دې خبرې په جواب کښې مفسرینو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۱]، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

خو مونږ ته داسې برېښي ــ والله ﷻ اعلم ــ چې: یو جنت به ورته د رجا (أمید) په سبب ورکړی شي چې طاعتونه او عبادتونه یې کړي دي، او دوهم جنت به ورته د خوف (ډار) په سبب ورکړی شي چې د هغو مناهیوو څخه یې اجتناب کړی دی کوم یې چې د قدرت لاندې وه او کولی یې شوه چې پکښې اخته شي.

## د "أفنان" تفسیر

۴ــ په ﴿ ذَوَاتَآ أَفْنَانٍ ﴾ کښې د ﴿ ذَوَاتَآ ﴾ کلمه په صرفي ملحوظ سره د [سبا: ۱۶] ایت لاندې ښه پوره تحلیله شوې ده ــ والحمد لله ﷻ ــ او د ﴿ أَفْنَانٍ ﴾ کلمه د "فَنّ" ــ لکه "شَدّ" ــ جمعه ده چې د ونې د څانګو معنی ورکوي[۲] او نبي کریم ﷺ ډېره ښه تفسیره کړې ده چې فرمایلي یې دي: «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَا يَقْطَعُهَا»[۳] یعني یقینًا په جنت کښې ضرور داسې ونه هم شته چې سور کس یې (په سوري کښې) سل کاله مزل وکړي هم پرې به یې نه کړي (پای ته به یې ونه رسېږي).

## د شرابو دوه چینې

۵ــ په ﴿ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴾ کښې د ﴿ عَيْنَانِ ﴾ په کلمې سره د شرابو هغو دوه وو چینو ته اشاره ده چې د یوې "سَلْسَبِيل" نوم دی او بلې ته د "تَسْنِيم" نوم ایښودلی شوی دی. د ښه وضاحت دپاره لاندې ایتونه ولولئ:

الف: ﴿ عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا ﴾ [الدهر: ۱۸] یعني "زَنْجَبِيل" په جنت کښې د شرابو یوه چینه ده چې په "سلسبیل" سره نومولې شوې ده.

ب: ﴿ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ ﴾ [المطففین: ۲۷] یعني د مهر کړی شوو شرابو سره به د "تَسْنِيم" په نوم چینې څخه څه شراب ګډ کړی شوي وي.

---

(۱) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۴۳۵؛ نظم الدرر ج۷ ص۳۹۳
(۲) لسان العرب ج۱۳ ص۳۲۷
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۹۷۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د میوجاتو دوه ډولونه

۶ـ په ﴿ فِيهِمَا مِن كُلِّ فَٰكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴾ کښې د ﴿ زَوْجَانِ ﴾ کلمه د دوه وو ډولونو څخه عبارت ده[1]. یعني جنتیانو ته به په جنت کښې د هرې میوې څخه دوه ډوله شتون ولري، چې یو ډول به هغه وي د کوم نوم یې چې په دنیا کښې اورېدلی وي او د بل ډول نوم به یې نه وي اورېدلی چې دا به د هغه څخه غوره وي، چې نه به د چا په زړه کښې تېر شوی وي او نه به یې غوږونو اورېدلی وي او بالآخره نه به یې په سترګو لیدلی وي. همدغه دوهم ډول ته په یوه قدسي حدیث کښې اشاره شوې ده کوم چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [السجدة:۱۷] ایت لاندې کتې متې رانقل کړی دی.

## جَنَا څه معنی؟

۷ـ په ﴿ وَجَنَى ٱلْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴾ کښې د "جَنَا" کلمه ـلکه "عَصَى"ـ صفت مشبهه ده او یا د هغې مېوې دپاره اسم ده کومه چې د پوخوالي په وخت کښې د ونې څخه راشکوله کېږي[2] د همدغې مېوې څخه په [مريم:۲۵] ایت کښې د "جَنِيًّ" تعبیر نازل شوی دی.

همدغې پخې مېوې ته د "قُطُوف" لقب هم ورکړی شوی دی چې: ﴿ قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ ﴾ [الحاقة:۲۳] یعنې د جنت مېوې به جنتیانو ته نژدې وي (چې په هر حال کښې به ترې استفاده کولی شي).

دغه دواړه کلمې (جَنَى، جَنِيٌّ) د "جِنَايَة" ـلکه "كِرَامَة"ـ څخه اشتقاقې شوې دي چې د راکشولو معنی ورکوي[3]. شاید چې ګناهونو ته به څکه د "جنایاتو" لقب ورکولی کېږي چې جنایتکار خپل ځان ته ورباندې عذاب راکشوي او راکاږي.

ذکره شوې جمله عبد الله بن عباس رضي الله عنهما داسې تفسیره کړې ده چې: «تَدْنُوا الشَّجَرَةَ حَتَّى يَجْتَنِيَهَا وَلِيُّ اللهِ إِنْ شَاءَ قَائِمًا وَإِنْ شَاءَ قَاعِدًا»[4] یعنې د جنت وُنه (جنتي ته) ورنژدې کېږي آن تر دې چې د الله ﷻ دوست به یې په هر حال راشکولی شي او استفاده به ترې کولی شي که په ولاړه یې خوښه شي او که په ناسته (حتی که په ملاسته).

## طَمث څه معنی؟

۸ـ په ﴿ فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴾ ایت کښې د ﴿ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ ﴾ کلمات په [الصافات:۴۸] ایت کښې هم نازل شوي دي او همله یې د الله ﷻ په توفیق شرحه تېره شوې ده، چې د جنت د حورو نظرونه او کتل به فقط په خپلو-خپلو خاوندانو پورې قصر وي بلکې په همدوی به عاشقانې وي.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۷۷
(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۱۱۸؛ القاموس المحیط ج۱ ص۵۴۴
(۳) لسان العرب ج۱۴ ص۱۵۵
(۴) تفسیر البغوي ج۴ ص۲۷۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په همدې ایت کښې د ﴿ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ ﴾ کلمه د "طَمْثٌ" ـ لکه "ضَرْبٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د "حیض د وینې" او یا د "بکارت د ازالې" معنی ورکوي[۱]، خو په دې مقام کښې دوهمه معنی مراده ده او د جنسي ارتباط نیولو څخه کنایي ده. یعني د جنتي حورو سره به د خپلو-خپلو خاوندانو څخه وړاندې نه بنیادم جنسي ارتباط نیولی وي او نه پیري، بلکې انسي او جني جنتیان (دواړه) به د خپلو-خپلو حورو سره اولنی جنسي ارتباط نیوونکي وي.

## ماثور تفسیر

۹ـ د ﴿ كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴾ ایت شریف نبي کریم ﷺ په خپل یوه حدیث کښې تفسیر کړی دی چې: «فَأَمَّا الْيَاقُوتُ فَإِنَّهُ حَجَرٌ لَوْ أَدْخَلْتَ فِيهِ سِلْكًا ثُمَّ اسْتَصْفَيْتَهُ لَأُرِيتَهُ مِنْ وَرَائِهِ»[۲] یعنې هر چې یاقوت دی نو یقیناً دا یوه سپېځلې ډبره ده، نو که ته پکښې مزی (تار) داخل کړې، بیا یې (د خارجي کثافتونو څخه) صافه کړې نو ضرور به تاته پکښې مزی (تار) د ورایه درولیدل کړی شي (او درڅرګند به شي).

## متقیان پیریان هم جنت ته داخلېږي

۱۰ـ اکثره علماء کرام وایي چې متقیان پیریان هم د متقیانو بنیادمانو غوندې جنت ته داخلېږي او هلته د ټولو نعمتونو څخه استفاده کوي[۳]. او دا ځکه چې:

الف: په ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴾ کښې د "مَنْ" کلمه عامه ده او پیریانو ته هم شامله ده[۴].

ب: او همدارنګه د ﴿ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴾ جمله هم په همدغه مطلب باندې بالاشاره دلالت کوي[۵]، نو په کار دي چې د الله ﷻ پراخه رحمت محدود نه کړی شي.

﴿ وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ﴿٦٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٣﴾ مُدْهَآمَّتَانِ ﴿٦٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٥﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ ﴿٦٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٧﴾ فِيهِمَا فَٰكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ ﴿٦٨﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٩﴾ فِيهِنَّ خَيْرَٰتٌ حِسَانٌ ﴿٧٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧١﴾ حُورٌ مَّقْصُورَٰتٌ فِى ٱلْخِيَامِ ﴿٧٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٣﴾ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٧٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۱۶
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۸۰
(۳) روح المعاني ج۲۷ ص۱۲۰
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۷۶
(۵) تفسیر الطبري ج۲۷ ص۱۵۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تُكَذِّبَانِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ﴿٧٧﴾ تَبَٰرَكَ ٱسْمُ رَبِّكَ ذِى ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴿٧٨﴾

[۶۲] او د دغو (دواړو جنتونو) څخه کم رتبه دوه جنتونه (نور هم) شته.

[۶۳] نو (ای پیریانو او بنیادمانو!) تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۶۴] (دا کم رتبه جنتونه د ډېرو خړوبوولو د کبله) دواړه تک شنه دي (چې د ډېر شینوالي د امله تور ښکارېږي).

[۶۵] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۶۶] په دغو دواړو (کم رتبه جنتونو) کښې د شرابو دوه مخپورته داري وهونکې چینې دي (لکه فوارې).

[۶۷] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۶۸] په دغو دواړو (جنتونو) کښې میوجات دي او د کجورو ونې او د انارو ونې هم.

[۶۹] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۷۰] په دغو جنتونو کښې نېک خویه ښایسته ښځې دي.

[۷۱] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۷۲] (دا ښځې) داسې حورې دي چې په (جنتي) خېمو کښې پټې ساتلې شوې دي.

[۷۳] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۷۴] دا حورې به د خپلو-خپلو خاوندانو څخه مخکښې نه انسان مسه کړې وي او نه پیرې (چې جنسي ارتباط یې ورسره نیولی وي).

[۷۵] نو (ای پیریانو او بنیادمانو!) تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۷۶] (ذکر شوي جنتونه خپلو خاوندانو ته) په داسې حال (ورکولی کېږي) چې په تکو شنو بالښتونو او په نهایت ښایسته وو فرشونو باندې به تکیا وهونکي وي.

[۷۷] نو تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو (څخه) د کوم یوه تکذیب کوئ؟.

[۷۸] (ای پیغمبره! نو) ستا د رب ﷻ نوم برکتناک دی چې د لویې او د عزت ورکولو خاوند دی.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د متقیانو څه نور اُخروي حالات هم قرائت کړه هغه دا چې:

۱- په آخرت کښې د متقیانو دپاره د ذکرو شوو دواړو جنتونو څخه په غیر او د هغو دواړو څخه په رتبه کښې ښکته دوه نور جنتونه هم موجودیت لري.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ؟.

۲_ دغه دواړه جنتونه به ډېر تازه او شنه ولاړ وي، حتی چې د ډېر شینوالي څخه به د ورایه لیدونکو ته تور ځرګندېږي.

نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یو نعمت تکذیب کوئ.

۳_ په دغو دواړو باغونو کښې به دوه چینې وي چې راخوټېږي به او مخپورته به د فوارو په شکل دارې وهي.

نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ؟

۴_ په دغو دواړو جنتونو کښې به عمومًا هر ډول میوجات موجودیت لري او خاصتاً کجورې او هم انار به پکښې ښه پرېمانه موجود وي.

یا په بل عبارت: هلته به د کجورو او انارو د ګڼو ونو باغونه وي او خپل‌خپل میوجات به پکښې ښه پرېمانه وي.

نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ؟.

۵_ په دغو جنتونو کښې به غوره (نېک خویه) او ښایسته ښځې وي چې نېک سیرته او نېک صورته (د دواړو صفتونو) درلودونکې به وي.

نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ؟!

۶_ ذکرې شوې ښځې د داسې حورو څخه عبارت دي کومې به چې په خیمو کښې د خپلو خاوندانو دپاره پټې ساتلې شوې وي، او همدوی ته به منتظرې کړی شوې وي.

نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ؟.

۷_ ذکرې شوې حورې به د خپلو-خپلو خاوندانو څخه مخکښې نه انسان مسه کړې وي او نه به پیری لاس وروړی وي، هیچا به ورسره جنسي ارتباط نه وي نیولی وي، او خپل خاوندان به یې ورسره اولنی جنسي ارتباط نیوونکی وي، برابره خبره ده چې خاوندان یې پیریان جنتیان وي او که انسانان جنتیان وي.

نو ای پیریانو او بنیادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم یوه نعمت تکذیب کوئ؟.

۸_ د ذکرو شوو دوه وو جنتونو د خاوندانو څخه هغه متقیان (جنتیان) مراد دي کومو به چې به

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



تکو شنو بالښتونو او په نهايت ښايسته وو فرشونو باندې تکياګانې وهلې وي، او بې غمه به ورباندې استوګنه کوي.

نو اى پيريانو او بنيادمانو! تاسو دواړه ډلې د خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه د کوم يوه نعمت تکذيب کوئ؟.

۹ـ اى پيغمبره! کله چې ستا رب ﷻ د ذکرو شوو ټولو نعمتونو ورکوونکى دى نو ستا د رب ﷻ نوم ډېر برکتناک دى او د ټولو ښېګڼو مرکز دى، او دا ځکه چې ستا رب ﷻ د جلال خاوند دى او د ټولو نواقصو او عيبونو څخه پاک او منزه دى او همدارنګه ستا رب ﷻ د ډېر انعام او اکرام درلودونکى دى چې ټول مخلوقات د همده ﷻ په نعمتونو سره پانيږي او يوازې د همده ﷻ په کرامت ورکولو سره د کرامت خاوندان ګرځي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ﴾ کښې د "دُون" کلمه د هغه شي دپاره وضعه شوې ده کوم چې د بل شي په مقابل کښې قاصر او ټيټ رتبه وي[۱]. يعنې د ذکرو شوو دواړو جنتونو څخه په غير دوه نور جنتونه هم موجوديت لري کوم چې د هغو دواړو څخه په رتبه او فضيلت کښې قاصر او کم رتبه دي.

## "دُهْمَة" څه معنى؟

۲ـ ﴿مُدْهَآمَّتَانِ﴾ کلمه اصلاً د "دُهْمَة" ـ لکه "قُدْرَة" ـ څخه اشتقاق شوې ده چې د "ل" تضعيف پکښې د "اِفعِيلال" د باب د کبله صورت نيولى دى. "دُهْمَة" د ونو هغه شينوالي ته ويل کېږي کوم چې د ډېرو خړوبوولو په وجه توروالى بربښي[۲]. د همدې کبله د عراق تروتازه سيمې ته د "سواد العراق" لقب ورکړى شوى دى.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿مُدْهَآمَّتَانِ﴾ کلمه د مقدرې مبتدا دپاره خبر واقع شوې ده چې مونږ ترې په "هُمَا" سره تعبير کولى شو[۳]. يعنې دغه دوهم لمبر جنتونه د اول لمبر جنتونو غونډې د ځانګو د اوږدوالي د حيثه د توصيف قابل نه دى بلکې د شينوالي د حيثه د ذکر وړ دى چې کتونکي ته به تور بربښي.

## د "نَضخ" معنى

۳ـ په ﴿فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ﴾ کښې د ﴿نَضَّاخَتَانِ﴾ کلمه د "نَضَّاخَة" مثنى ده او د مبالغې صيغه ده چې د "نَضخ" ـ لکه "ضَرب" ـ څخه اشتقاق شوې ده، "نَضخ" د ښه وايې چې اوبه د راوتلو په وخت کښې د لاندې څخه پورته اوچتېږي[۴] څه لرې نه ده چې مونږ ترې په فوارې سره تعبير وکړو.

(۱) مفردات الراغب ص ۱۷۷
(۲) لسان العرب ج ۱۲ ص ۲۰۹
(۳) روح المعاني ج ۲۷ ص ۱۲۱
(۴) لسان العرب ج ۳ ص ۶۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعنې په دغو دوهم لمبر جنتونو کښې به د شرابو دوه چینې وي چې د فوارو په شکل به ترې شراب اوچتېږي، او همدغه فوارې یې د ذکر وړ دي، نه بهېدل.

## یادونه

۴_ که څه هم په ﴿ فِيهِمَا فَٰكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ ﴾ کښې د ﴿ فَٰكِهَةٌ ﴾ کلمه د خرما او انارو د ونو مېوجاتو ته هم شامله ده چې کجورې او انار د "فاکِهَة" د مصداقاتو څخه دي، مگر د زیات اهتمام د کبله وربانديې صراحت نازل شوی دی، لکه څنگه چې په [البقرة:۹۸] ایت کښې د "مَلَائِكَة" کلمې څخه وروسته د زیات اهتمام دپاره په "جِبْرِيل، مِيكَال" باندې صراحت صورت نیولی دی حال دا چې ذکره شوې کلمه دغو پرښتو ته هم شامله ده.

## جنتي خیمې

۵_ په ﴿ حُورٌ مَّقْصُورَٰتٌ فِى ٱلْخِيَامِ ﴾ کښې د "خِيَام" کلمه د "خَيْمَة" جمعه ده. دنیاوي خیمه په پښتو، فارسي او عربي کښې د یوه شي څخه عبارت ده چې هر چاته معلومه ده، اما جنتي خیمه په احادیثو کښې ښه پوره شرحه شوې ده. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ خَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ مُجَوَّفَةٍ عَرْضُهَا سِتُّونَ مِيلًا فِي كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا أَهْلٌ مَا يَرَوْنَ الْآخَرِينَ»[۱] یعنې یقینًا په جنت کښې د یوې مجوفې (گنبده لرونکې) ملغلرې یوه خیمه ده چې عرض (پلنوالی) یې شپېته میله دی؛ د دې خیمې څخه په هر کونج کښې (جنتي) اهل (حورې) دي چې د یوه کونج حورې به نورې نه گوري (او مؤمن به په دغو ټولو باندې گرځي راگرځي).

ب: په یو بل حدیث کښې یې فرمایلي دي چې: «الْخَيْمَةُ دُرَّةٌ مُجَوَّفَةٌ طُولُهَا فِي السَّمَاءِ ثَلَاثُونَ مِيلًا فِي كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا لِلْمُؤْمِنِ مِنْ أَهْلٍ لَا يَرَاهُمُ الْآخَرُونَ»[۲] یعنې جنتي خیمه یوه مجوفه (گنبده لرونکې) ملغلره ده چې په اسمان کښې اوږدوالی (ارتفاع) یې دېرش میله ده (په طول او عرض باندې یې یوازې الله ﷻ خبر دی)؛ د دې خیمې په هره زاویه (کونج) کښې د مؤمن سړي دپاره داسې کوروالا (حورې) دي چې نورې (د بل کونج کور والا) یې نه گوري.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د "فِي" په توري کښې دلته دوه احتماله صورت نیولی شي، نو که د بدلیت په لحاظ دواړه اراده کړی شي بهتره ده.هغه دا:

اول: چې دغه "فِي" په ﴿ مَّقْصُورَٰتٌ ﴾ پورې تعلق ونیسي، نو په دې صورت کښې به د ﴿ مَّقْصُورَٰتٌ ﴾ کلمه د "مَسْتُورَات" معنی ورکړي[۳]. یعنې جنتیانو ته به هلته داسې حورې وي چې به

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۴
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۴۶۰؛ صحیح مسلم ج۲ ص۳۸۰؛ سنن الدارمي ج۲ ص۲۴۳
(۳) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۳۵۰؛ روح المعاني ج۲۷ ص۱۲۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خیمو کښې به مستورې او پټې وي (په اصطلاح هغوی به کوځه ګشتې نه وي).

دوهم: چې دغه توری په مقدر صفت "مَسْتُورَات" پورې تعلق ولري[۱]، نو په دې صورت کښې به د ﴿ مَّقْصُورَٰتٌ ﴾ کلمه په خپله معنی سره پاتې شي. یعنې هلته به جنتیانو ته داسې حورې وي چې په خپلو خپلو خاوندانو پورې به یې نظرونه بند کړی شوي وي چې بل به هیڅا ته نه شي کتلی او نه به ورته ګوري او هم به هغوی په خیمو کښې مستورې وي (او کوځه ګشتې به نه وي).

## څو ټکي

۶_ په ﴿ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿رَفْرَفٍ﴾ کلمه د "رَفْرَفَة" جمعه ده _لکه "حَنْظَل، حَنْظَلَة"_ او یا یې اسم جمعه ده[۲]، نو د همدې کبله د "خضر" په کلمې سره موصوفه شوې ده چې د "خَضْرَاء" جمعه ده.

ب: مفسرینو کرامو د ﴿ رَفْرَفٍ ﴾ کلمه په ډېرو معناوو سره تفسیره کړې ده، لکه بالښتونه، روجایيګانې او داسې نور[۳].

ج: د "عَبْقَرِيّ" کلمه جمعه ده او مفرد یې "عَبْقَرِيَّة" دی، د همدې کبله په ﴿ حِسَانٍ ﴾ سره توصیفه شوې ده چې د "حسناء" جمعه ده[۴]، او یا اسم جنس ده چې په مفرد او جمعې دواړو باندې یې اطلاق کېږي[۵].

د: په دې کلمه کښې د "ي" توری نسبتي دی. او دا څکه چې: په عربو کښې مشهوره وه چې د پیریانو ښار (عبقر) نومېږي، نو کوم شی به چې هغوی ته ډېر عجیب ښکاره شو نو هغه به یې هماغه ښار ته نسبتاوه او د "عَبْقَرِيّ" په لقب سره به یې یاداوه[۶].

هـ: مفسرینو کرامو دغه کلمه ﴿ وَعَبْقَرِيٍّ ﴾ هم په ډېرو معناوو سره تفسیره کړې ده[۷]، خو مونږ یې فقط د یوې معنی په ذکر باندې اکتفاء کوو هغه دا چې: "عَبْقَرِيّ" هغه شي یا شیانو ته ویل کېږي د کوم یا کومو څخه چې په خپل جنس کښې بل شی یا نور شیان اوچت نه وي[۸].

و: په دې مقام کښې د ﴿ مُتَّكِـِٔينَ ﴾ د کلمې څخه څرګندېږي _والله ﷻ اعلم_ چې ذکره شوې کلمه ﴿وَعَبْقَرِيٍّ ﴾ د عجیبه فرشونو څخه عبارت ده.

نو پورتنیو ټکو ته په پام سره به د ایت شریف د معنی حاصل داسې راوځېږي چې:

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۸۷؛ تفسیر البغوي ج۴ ص۲۷۷؛ زاد المسیر ج۷ ص۲۷۲

(۲) التفسیر الکبیر ج۲۹ ص۱۲۶؛ تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۸۷

(۳) تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۱۹۰؛ الدر المنثور ج۷ ص۷۲۳؛ القاموس المحیط ج۱ ص۵۷۵

(۴) تفسیر البغوي ج۴ ص۲۷۸

(۵) روح المعاني ج۲۷ ص۱۲۴

(۶) تفسیر الکشاف ج۴ ص۴۵۴

(۷) تفسیر الخازن ج۶ ص۱۵۰

(۸) لسان العرب ج۴ ص۵۳۵؛ القاموس المحیط ج۳ ص۱۴۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جنتیانو ته به په داسې حال کښې ذکر شوي نعمتونه ورکړی شي چې دوی به په تکو شنو بالښتونو او یا روجاییګانو باندې ډډه وهونکي وي او هم به په ډېرو ښایسته وو توشکونو باندې تکیه کوونکي وي (او هیڅ غم او اندېښنه به ورسره موجودیت نه لري).

## د جنتونو په باب څه معلومات

۷ـ په دې مقام کښې د جنتونو په باب د سوال جواب په شکل کښې لاندې معلومات ولولئ:

الف: که څوک وایي چې: په [الرحمن ۴۶] ایت کښې دوه وو جنتونو ته اشاره شوې ده او په [الرحمن ۶۲] ایت کښې د دوه وو نورو ذکر نازل شوی دی. نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه او هاغه جنتونه سره یو برابر دي؟ ایا د دواړو مستحقین جدا-جدا دي؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو[1] په دلایلو سره لیکلي دي چې اولني دواړه جنتونه اول لمبر دي او دوهم دواړه جنتونه دوهم لمبر دی، نو هغه دواړه د مقربینو جنتیانو استحقاق دی او دغه دواړه به اصحاب الیمین ته ورکړی شي چې په دوهمه درجه کښې واقع دي.

ب: که څوک وایي چې: ایا د جنتونو تعداد څلور دی لکه چې د ذکرو شوو دواړو ایتونو د اشاراتو څخه څرګندېږي؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې د جنتونو تعداد یوولسو (۱۱) ته پورته شوی دی[2]، مګر مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الحجر:۴۴] ایت لاندې د احادیثو په رڼا کښې لیکلي دي چې د جنتونو دروازې اته دي.

ج: که څوک وایي چې: تاسو د [الرحمن:۴۶] ایت لاندې یو حدیث رانقل کړی دی چې د جنتونو تعداد پکښې څلور ښودلی شوی دی؟

مونږ وایو چې: همدغه حدیث په بل روایت کښې شرحه شوی دی چې دغه تعداد د مطلق جنت نه دی ترڅو اعتراض وارد شي، بلکې یوازې د هغه جنت تعداد دی کوم چې د فردوس په نامه یادېږي. هغه دا چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ أَرْبَعٌ ثِنْتَانِ مِنْ ذَهَبٍ حِلْيَتُهُمَا وَآنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَثِنْتَانِ مِنْ فِضَّةٍ حِلْيَتُهُمَا وَآنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا»[3] یعنې د فردوس په نوم جنتونه څلور دي چې دوه جنتونه د سرو زرو څخه جوړ دي، ګاڼې یې او لوښي یې او بالآخره هغه ټول شیان کوم چې پکښې شتون لري، او دوه جنتونه د سپینو زرو څخه جوړ دي، ګاڼې یې او لوښې یې او بالآخره هغه ټول شیان چې هلته موجود دي.

همدغه مضمون ته په یو بل حدیث کښې هم اشاره شوې ده هغه دا چې:

یوه ورځ نبي کریم ﷺ یوه ښځه چې زوی یې (حارثه ﷺ) شهید شوی وه مخاطبه کړه چې: «يَا أُمَّ

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۷۹، حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۴۳۶

(۲) التذکرة في احوال الموتی وامور الآخرة للقرطبي ج۲ ص۴۵۶

(۳) سنن الدارمي ج۲ ص۲۴۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حارِثَة! إِنَّهَا لَيْسَتْ بِجَنَّةٍ وَاحِدَةٍ وَلَكِنَّهَا جِنَانٌ كَثِيرَةٌ وَإِنَّهُ فِي الْفِرْدَوْسِ الْأَعْلَى»[۱] يعني ای د حارثه موري! يقيناً جنتونه يو جنت نه دی بلکې جنتونه زښت ډېر دي او يقيناً ستا زوی (حارثه ﷺ) په لوړ فردوس کښې قرار لري (په اول نمبره جنت الفردوس کښې دي).

## د الله ﷻ اجلال

۸ـ په ﴿ ذِى ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾ کښې الله ﷻ خپل جلال (لويي) ته اشاره کړې ده، نو مونږ مکلف ياستو چې جلال (لويي) ورته نسبت کړو. په همدې هکله لاندې نبوي احاديث ولولئ:

اول: «أَجِلُّوا اللهَ يَغْفِرْ لَكُمْ»[۲] يعني تاسو الله ﷻ ته جلال (پاکي او لويي) نسبت کړئ (د توحيد عقيده ورباندې وکړئ) چې الله ﷻ تاسو ته مغفرت وکړي.

ب: «إِنَّ مِنْ إِجْلَالِ اللهِ إِكْرَامَ ذِي الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ وَحَامِلِ الْقُرْآنِ غَيْرِ الْغَالِي فِيهِ وَالْجَافِي عَنْهُ وَإِكْرَامَ ذِي السُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ»[۳] يعني د الله ﷻ د اجلال څخه د مسلمان سپين روبي (سپين ږيري) اکرام او عزت کول دي، او د قرآن کريم د حامل عزت کول هم دي چې نه په قرآن کريم کښې غلو کوي او نه ترې لرېوالی کوي (افراط او تفريط دواړو څخه پکښې د خپل ځان ساتونکی وي)، او (بالآخره) د عادل امارت څښتن (پاچا) عزت کول هم (د الله ﷻ اجلال) دی.

د "الرَّحْمن" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق پای ته ورسېد.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ يُجِلُّونَكَ وَيَخَافُونَ مَقَامَكَ، إِنَّكَ أَنْتَ ذُو الْجَلَالِ وَالإِكْرَامِ.

۱۳۸۲/۱۰/۲ هـ ش - ۱۴۲۴/۱۱/۱ هـ ق.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۵۴۱: صحيح البخاري ج ص بمعناه
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۱۷۱
(۳) سنن ابي داود ج۲ ص۳۰۹

# الواقعة(٥٦)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

١_ په دې سورت باندې د خپل اولني ایت د "الواقعة" کلمه نوم ایښودلی شوی ده او په همدې نامه سره د قرآن کریم د نورو سورتونو څخه جدا کړی شوي دي.

٢_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دی(١):

الف: ټول ایتونه یې شپږ نوي (٩٦) دي.

ب: ټولې کلمې یې درې سوه او اته اویا (٣٧٨) وو ته رسېږي.

ج: ټول توري یې یو زر اوه سوه او درې (١٧٠٣) توري دي او بس.

٣_ دا سورت د اکثرو علماوو کرامو په نزد مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی(٢).

٤_ د دې سورت محتویات د نورو مکي سورتونو د محتویاتو غوندې د عقیدوي او اُخروي موضوعاتو په محور څرخېږي خو زیات زور پکښې د قیامت په حالاتو اچولی شوی دی.

٥_ دا سورت (الواقعة) او وړاندېنی سورت (الرَّحمن) سره یو تربله ډېرې نژدې اړیکې لري چې په دواړو کښې (د ترتیب د مراعات څخه په غیر) اُخروي حالات نازل شوي دي، او همدارنګه پکښې اول خل پیداکېدلو او بیا فناکېدلو ته اشارې شوې دي، او بالآخره هلته د مکلفینو د ټولګیو څه اجمال نازل شوی وه او دلته یې پخپله ټولګې ښه شرحه شوي دي او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ إِذَا وَقَعَتِ ٱلْوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿٣﴾ إِذَا رُجَّتِ ٱلْأَرْضُ رَجًّا ﴿٤﴾ وَبُسَّتِ ٱلْجِبَالُ بَسًّا ﴿٥﴾ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنۢبَثًّا ﴿٦﴾ وَكُنتُمْ أَزْوَٰجًا ثَلَٰثَةً ﴿٧﴾ فَأَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴿٨﴾ وَأَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴿٩﴾ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ﴿١٠﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿١١﴾ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿١٢﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[١] هغه وخت (یاد کړه) چې کله (غټه) پېښېدونکې واقعه (د قیامت ورځ) پېښه شي.

[٢] (نو په دغه وخت کښې به) د قیامت ورځې ته دروغ ویونکې (انکار کوونکې) نه وي (که څه هم په دنیا کښې انکار کوونکي لري).

[٣] (د قیامت ورځ اشخاصو او اجرامو ته) ښکته کوونکې (او) پورته کوونکې ده.

(١) تفسیر الخازن ج٦ ص١٥١؛ اللباب في علوم الکتاب ج١٨ ص٣٦٧

(٢) زاد المسیر ج٧ ص٢٧٥

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴] هغه وخت (یاد کړه) چې ځمکه وجړقولی شي جړقول (سخته زلزله پیل شي).
[۵] او غرونه میده میده کړی شي، میده-میده کول.
[۶] نو دا (غرونه) به خوره وره کړی شوې دوړه (او ګرد) وګرځي.
[۷] او تاسو (ټول بنیادمان) به (په دغې وخت کښې) درې ډلې جوړې شئ (چې دوه ډلې به مو جنتیان او یوه ډله به مو دوزخیان وي).
[۸] نو د ښې طرف ملګري چې دي څومره (د عالي شان) د ښي طرف ملګري دي؟.
[۹] او د چپ طرف ملګري چې دي څومره (د بد حال) د چپ طرف ملګري دي؟.
[۱۰] او وړاندې کېدونکي کسان چې دي وړاندې کېدونکي کسان دي (چې لوړ درجات یې په برخه دي).
[۱۱] دغه (وړاندې کېدونکي کسان الله ﷻ ته) نژدې کړی شوي دي.
[۱۲] (دغه ډله) د نعمتونو په جنت کښې دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنې سورت (الرّحمن) په وروستنۍ برخه کښې د جنتیانو څخه دوه وو ډلو (مقربینو او اصحاب الیمین) ته اشاره شوې ده او د دې سورت (الوّاقعة) په لومړۍ برخه کښې د اصحاب الشمال په شمول په ذکرو شوو دواړو ډلو باندې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده. نو حاصل یې داسې راځېږي.

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته په خپل اُمت باندې د قیامت د ورځې څه حالات قرائت کړه او په دغې ورځ کښې په دریوو ګروپونو سره د خلکو د ویشل کېدلو موضوع هم ورته پورته واضحه کړه:

۱ ـ کله چې دغه هولناکه او هیبتناکه واقعه پېښه شي نو:

الف: هلته به ورته هیڅوک انکار کوونکی او دروغ ګڼونکی پاتې نه شي، بلکې ټول به د خرمې اعتراف وکړي چې دا خبر رښتیا وه. یا په بل عبارت: مؤمنان به خپل دنیاوي اقرار یو خل بیا تازه کړي او کفار به په دغه وخت کښې یقین وکړي چې په دنیا کښې د قیامت د قیام او د بعث بعد الموت خبره رښتیا وه، مونږ ورباندې اوس باور لرو. خو دغه باور او ایمان به ورته په هیڅ ګټه تمام نه شي او په درد به یې ونه خوري.

ب: دغه واقعه ښکته کوونکې او او چتوونکې ده، چې د دنیا لوړ غرونه به سرچپه کړي او هم به ژورې ډکې کړي او لوړې به وربښکته کړي چې د ځمکې مخ به هوار میدان جوړ کړي. لنډه دا چې:

۲ ـ ای پیغمبره! ته هغه ورځ خلکو ته ور په یاده کړه چې کله ځمکه په ډېر شدت سره ولړزولی شي په ډېر شدت سره لړزول، او کله چې غرونه په همدغې لړزونې (زلزلې) سره میده-میده کړی شي میده-میده کول. نو دغه (لوړ-لوړ او محکم-محکم) غرونه به د خپلو-خپلو ځایونو څخه راوویستلی شي او په هوا کښې به ترې خورې ورې دوړې او ګردونه جوړ شي. او په فضا کښې به تیت پرک وګرځي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ په دغه وخت کښې به تاسو ټول (ای پخوانیو او اوسنیو او هم راتلونکو بنیادمانو!) په درېوو ګروپونو باندې ووېشلی شئ، چې دغه درېواړه ګروپونه د اصحاب الیمین، اصحاب الشمال او السابقونو څخه عبارت دي. نو:

الف: نو اصحاب الیمین چې دي د دوی به په دغې ورځ کښې څومره عالي شان وي او څومره به خوشال وي؟.

ب: بالمقابل اصحاب الشمال چې دي په دغې ورځ کښې به د دوی څومره بد حال وي؟ او د څومره لوی غم او اندېښنې سره به مخامخ وي؟.

ج: بالآخره هلته خو په دنیا کښې وړاندېني کسان په نعمتونو او درجاتو کښې هم وړاندې دي او په نورو باندې د پاسه او اول نمرګان دي.

یا په بل عبارت: همدغه سابقین کسان الله ﷻ ته نژدې کړی شوي دي او د اوچتو درجاتو خاوندان دي او د نعمتونو په جنت کښې داخلېدونکي او اوسېدونکي دي.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ إِذَا وَقَعَتِ ٱلْوَاقِعَةُ ﴾ کښې د "إذا" توری په مقدر "اذکُر" پورې متعلق دي[۱].

ب: د قیامت د نومونو څخه یو نوم د "الْوَاقِعَة" کلمه ده چې د دغې ورځې په زیات هیبت او خطر باندې دلالت کوي، خو په دې مقام کښې ترې ځینو مفسرینو کرامو د دوهمې شپېلۍ وخت اراده کړې دي[۲]، په کوم کښې چې ټول خلک د قبرونو څخه راپورته کړی شي.

ج: ذکره شوې جمله ﴿ إِذَا وَقَعَتِ ﴾ شرطیه جمله ده او د ﴿ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴾ جمله یې جزا ده.

د: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو په جزائیه جمله کښې د ﴿ كَاذِبَةٌ ﴾ په کلمه کښې د مصدریت احتمال هم لیکلي دي ـلکه "عَافِيَة، عَاقِبَة"ـ، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دغه کلمه اسم فاعل وګڼله شي چې موصوف یې د "نَفْس" کلمه شي.

یعنې کله چې د قیامت خطرناکه او هیبتناکه پېښه رامنځته شي چې په دوهمې شپېلۍ سره ټول مړي د قبرونو څخه راپورته شي او په غړولو سترګو حالات وګوري، نو که څه هم په دنیا کښې د همدغې پېښې خبر ډېر دروغژنان درلوده چې باور یې وربانديې نه کاوه مګر هلته به د همدغو دروغژنانو د جملې څخه ذکر شوی خبر هیڅ دروغژن کس ونه لرې او ټول به یې په رښتیاتوب باندې باوري جوړ شي. خو د دغه وخت باور به یې په درد دوا نه شي. لکه چې همدغسې اضطراري ایمان او باور کفارو ته په دنیا کښې هم په درد نه دواکېږي او د مقبولیت مقام ته نه رسېږي. الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَـٰنُهُمْ لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا ﴾ [المؤمن:۸۵] یعنې نو د هلاکو شوو کفار ایمان (باور)

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۲۹ ص۱۴۰

(۲) تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۱۹۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه وه چې ګټه ورته ورسوي (او د عذابه نجات درکړي) البته په هغه وخت کښې چې کله هغوی په خپلو سترګو زمونږ عذاب ولید.

## دوه ډوله تفسیر

۲_ مفسرینو کرامو د ﴿ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴾ کلمات په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسیر کړي دي(۱):

الف: د قیامت ورځ د اشخاصو ښکته کوونکې او پورته کوونکې ده، چې کفار به په دوزخ کښې وروغورزوي او مؤمنان به د جنت لوړو درجو ته اوچت کړي.

ب: دغه ورځ به اَجرام ښکته او پورته کړي، چې د اسمان ستوري به ښکته راودوړوي او غرونه به هوا ته د ګردونو په شکل اوچت کړي او هم به لوړ ځایونه ژورو ځایونو ته ورواچوي او ژور ځایونه به وربانديې اوچت کړي ترڅو ټوله ځمکه هواره وګرځي او داسې نور.

## تبصره

۳_ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسیرونه یو تربله څه منافات نه لري او د بدلیت په ملحوظ دواړه اراده کېدلی شي مګر د وروستنیو ایتونو سره دوهم تفسیر ډېر ښه پیوند اخلي، والله ﷻ اعلم.

## د "رَجّ" او "بَس" معناوې

۴_ په ﴿ إِذَا رُجَّتِ ٱلْأَرْضُ رَجًّا ﴾ کښې د "رَجّ" کلمه په شدت سره د یوه شي ښورولو ته وضعه شوې ده چې د اضطراب او ګډوډۍ سره مخامخ شي(۲). یعنې هغه وخت یاد کړه کله چې ځمکه په شدت سره وجړقولی شي جړقول (او د قیامت د ورځې زلزله پیل شي).

او په ﴿ وَبُسَّتِ ٱلْجِبَالُ بَسًّا ﴾ کښې د "بَس" کلمه د میده-میده کولو دپاره وضعه شوې ده(۳). یعنې هغه وخت هم خلکو ته یاد کړه کله چې په شدیدې زلزلې سره غرونه د اوړو غوندې میده-میده وګرځولی شي او په هوا کښې تیت پرک او خواره واره جوړ شي.

## څو نکات

۵_ د دغو درېوو ډلو په ارتباط کومو ته چې په ایتونو کښې اشاره شوې ده، لاندې نُکات په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: په ﴿ فَأَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴾ کښې د ﴿ فَأَصْحَٰبُ ﴾ کلمه اولنی مبتدا ده او د "ما" استفهامیه کلمه دوهمه مبتدا ده چې د همدغې دوهمې مبتدا دپاره د ﴿ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴾ کلمه خبر واقع شوې ده، بیا همدغه جمله د "ما" کلمې سره د اولنی مبتدا دپاره خبر ده(۴).

(۱) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۳۵۶؛ اضواء البيان ج۷ ص۷٦۵
(۲) مفردات الراغب ص۱۹۲
(۳) لسان العرب ج٦ ص۲۷
(۴) التفسير الكبير ج۲۹ ص۱۴۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د ﴿ ٱلۡمَيۡمَنَةِ ﴾ کلمه میمي مصدر ده چې د برکت او هم د ښي طرف معنی ورکوي[۱]. یعنې د برکت یا ښي طرف ملګري چې دي دوی څومره د عالي شان او څومره د لوړو صفاتو درلودونکي دي؟.

ج: د ﴿ وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ ﴾ په ایت کښې د وړاندېني ایت نحوي تحلیل کټ مټ تطبیقېږي.

د: د ﴿ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ ﴾ کلمه هم میمي مصدر ده[۲] چې د بې برکته او چپ طرف معنی ورکوي[۳]. یعنې د بې برکتۍ او یا چپ طرف ملګري چې دي دوی څومره د بد حال او رذیلو صفاتو خاوندان او درلودونکي دي؟.

ه: د ذکرو شوو دواړو ډلو په تعین کښې ـ چې څوک ـ څوک دي ـ علماوو کرامو ګڼ شمېر اقوال کړي دي[۴]، چې تقریبًا اتو قولونو ته رسېږي خو په مصداق کښې سره چندان تفاوت نه لري، لکه هغه کسان چې اعمالنامې په ښیو لاسونو ورکړی شي او داسې نور.

اما مونږ په همدې هکله د لاندې یوه حدیث په ذکر باندې اکتفاء کوو:

نبي کریم ﷺ د معراج په اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: ما د معراج په شپه په لومړي اسمان کښې آدم ﷺ ولید چې د اولادونو ځینې کسان یې ښي طرف ته وه او ځینو یې چپ طرف ته قرار درلود، نو جبرائیل ﷺ راته وویلې چې: «فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ»[۵] یعنې دغه د ښي طرف والا کسان جنتیان دي، او هغه ډله کسان چې د آدم ﷺ چپ طرف ته دي دوزخیان دي.

و: د ﴿ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ﴾ په إعراب کښې علماوو کرام متعدد تحلیلونه کړي دي[۶]، خو مونږ د یوه تحلیل په ذکر باندې اکتفاء کوو هغه دا چې ذکرې شوې دواړه کلمې مبتدا او خبر دي[۷]، یعنې وړاندېني کسان چې دي هغوی وړاندېني کسان دي چې په وړاندېتوب کښې کمال ته رسېدلي دي.

دغه جمله د عربو دې جملې ته ورته ده چې "شِعْرِي شِعْرِي" یعنې زما شعر چې دی زما شعر دی چې په فصاحت او بلاغت کښې کامل دی او نړیوال شهرت لري.

ز: څرنګه چې وړاندېتوب اضافي صفت دی، نو د دغو کسانو په تعین کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۸] چې: وړاندېني کسان د پیغمبرانو څخه عبارت دي، یا هغه کسان دي کومو چې دوه هجرتونه کړي دي: یو حبشې ته او بل مدینې منورې ته، یا هغه ډله ده چې جومات ته

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۱۳۱ ؛ مفردات الراغب ص۵۷۸
(۲) القاموس المحيط ج۲ ص۶۶۲
(۳) لسان العرب ج۱۲ ص۳۱۵
(۴) زاد المسير ج۷ ص۲۷۷
(۵) صحيح البخاري ج۱ ص۴۷۱ ؛ صحيح مسلم ج۲ ص۹۲
(۶) تفسير الكشاف ج۴ ص۴۵۸ ؛ تفسير القرطبي ج۱۷ ص۲۰۰
(۷) تفسير القاسمي ج۱۶ ص۷ ؛ البحر المحيط ج۱۰ ص۷۹ ؛ التفسير الكبير ج۲۹ ص۱۴۵
(۸) تفسير ابن كثير ج۴ ص۲۸۳ ؛ روح المعاني ج۲۷ ص۱۳۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او جهاد ته د نورو څخه وړاندې وي او داسې نور.

خو نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې دغه ډله تفسيره كړې او تعينه كړې ده هغه دا چې: «الَّذِينَ إِذَا أُعْطُوا الْحَقَّ قَبِلُوهُ وَإِذَا سُئِلُوهُ بَذَلُوهُ وَحَكَمُوا لِلنَّاسِ كَحُكْمِهِمْ لِأَنْفُسِهِمْ»[۱] يعني د قيامت په ورځ ظل الله (د الله ﷻ رحمت) ته وړاندې كېدونكي هغه كسان دي كوم چې كله ورته حق وركړى شي نو سمدستي يې قبلوي (تكبر ترې نه خپلوي)، او كله چې ترې حق وغوښتلى شي نو سمدستي يې ورپرېږدي (وركوي)، او بالآخره هغوى د خلكو دپاره داسې حكم كوي لكه د خپلو ځانونو دپاره د دوى حكم كول.

﴿ ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ وَقَلِيلٌ مِّنَ ٱلْآخِرِينَ ﴿١٤﴾ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّوْضُونَةٍ ﴿١٥﴾ مُّتَّكِـِٔينَ عَلَيْهَا مُتَقَٰبِلِينَ ﴿١٦﴾ يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَٰنٌ مُّخَلَّدُونَ ﴿١٧﴾ بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ ﴿١٩﴾ وَفَٰكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢١﴾ وَحُورٌ عِينٌ ﴿٢٢﴾ كَأَمْثَٰلِ ٱللُّؤْلُؤِ ٱلْمَكْنُونِ ﴿٢٣﴾ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴿٢٥﴾ إِلَّا قِيلًا سَلَٰمًا سَلَٰمًا ﴿٢٦﴾ ﴾

[۱۳] (دغه مقربين جنتيان) د ړومبنيو كسانو د جملې څخه غټه ډله ده (اكثريت يې د همدوى څخه جوړ دي).

[۱۴] او (دغه مقربين) د وروستنيو كسانو څخه لږ دي (اقليت يې همدوى تشكيلوي).

[۱۵] (مقربين به) په داسې تختونو باندې (ناست وي) چې (په سرو زرو او جواهرو سره) به جړاو كړى شوي (ښايسته كړى شوي) وي.

[۱۶] (البته) په داسې حال كښې (به ورته نعمتونه وركولى كېږي) چې په تختونو باندې به تكيه ګانې وهونكي يو بل ته مخكوونكى وي (يو به بل ته شا نه وراړوي چې د كينې او عداوت څخه نمايندګي كوي).

[۱۷] په دغو (جنتيانو باندې) به (د خدمت دپاره) داسې هلكان تاوېږي راتاوېږي چې د همېش دپاره به په يوه منګ (عمر) پاتې كړى شوي وي (څه تغير به پكښې صورت نه نيسي).

[۱۸] (البته دغه هلكان به) د بهيدونكو شرابو څخه په ډكو بې لاستو ګيلاسونو او لاستې لرونكو پيالو او هم جامونو سره (د شرابو د وركولو په خدمت كښې لګيا وي).

[۱۹] (داسې بهېدونكي شراب چې) نه به د هغو (د څښلو) د كبله د سرونو په درد باندې اخته كول كېږي او نه به (ورته) بې هوښي (او بې عقلي) پېښېږي.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۳۳۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۰] او (هم به ذکر شوي هلکان په مقربينو باندې) د داسې مېوو څخه (په ورکولو سره خدمت ترسره کوي) کومې چې هغوی خوښوي.

[۲۱] او (هم) د داسې مرغانو د غوښو په ورکولو سره کومو ته چې د هغوی اشتهاء کېږي.

[۲۲] او (په مقربينو باندې به) تور سترګې غټ سترګي ښځې هم (تاوېږي راتاوېږي).

[۲۳] (البته داسې ښځې) چې د پټو ساتلو شوو ملغلرو په شان (به صافې سپېڅلې) وي.

[۲۴] (مقربينو ته) په دې سبب (ذکره شوې جزا ورکوله کېږي) جزا ورکول چې هغوی (په دنيا کښې) وه چې (نېک) عملونه به يې کول.

[۲۵] هغوی به په جنت کښې نه چټې خبرې اوري او نه داسې خبرې چې (په دنيا کښې) د ګناه سبب ګرځي.

[۲۶] مګر (هغوی به هلته) د سلام سلام ويلو وينا اوري (چې السلام عليکم، السلام عليکم او داسې نور).

## ارتباط او مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د اجمال په توګه د خلکو درېوو ډلو ته اشاره شوې ده چې د قيامت په ورځ به صورت ونيسي، او په دې ايتونو کښې آن تر [۴۸] ايت پورې ذکرې شوې درېواړه ډلې تفصيل کړی شوی دی، خو د ترتيب مراعات د نظره غورزولی شوی دی چې دا ډول بيان هم د بلاغتې بيان يو ډول دی. نو حاصل يې داسې راځېږي چې:

ای پيغمبره! د هر څه څخه وړاندې په خپل اُمت باندې د سابقينو جنتيانو څه حالات قرائت کړه:

۱ـ د سابقينو جنتيانو ډله به د دوه وو برخو څخه تشکيله شي: د دوی ستره برخه به د جنتيانو هغه ډله وي کوم چې ړومبنې دي او ستا د بعثت څخه وړاندې تېر شوي دي چې پخواني ټول پيغمبران پکښې شموليت لري. او د دوی وړه برخه به د جنتيانو هغه کسان وي کوم چې ورستني دي او ستا د بعثت څخه وروسته (د قيامت تر ورځې پورې) زمانو پورې مربوط دي.

۲ـ سابقين جنتيان به په جنت کښې د زښتو ډېرو نعمتونو خاوندان وي، خو ښېلګې يې دا دي:

الف: دوی به په جنت کښې په داسې تختونو باندې کښېني کوم به چې په ملغلرو او نورو جواهرو باندې جړاو کړی شوي او ښايسته کړی شوي وي.

ب: د دوی ترمنځ به کينه او عداوت موجوديت نه لري چې يو د بل څخه مخ واړوي، بلکې دوی به په ذکرو شوو تختونو باندې مخ په مخ ناسته ولاړه کوي.

ج: په دغو جنتيانو باندې به داسې هلکان د خدمتګارانو په حيث تاوېږي او راتاوېږي چې د همېشه دپاره به په همدغه منګ باندې وي او د وخت تېرېدل به يې په څېرو باندې کوم اثر نه غورزوي، لکه چې په دنيا کښې يې ورباندې غورزوي او زړېږي.

د: دغه خدمتګاران به ورباندې د شرابو ډک ګيلاسونه او جامونه د څښلو دپاره ګرځوي.

هـ: په دغو لوښو کښې به داسې شراب وي چې د دنياوي شرابو غوندې به خبيث عواقب نه لري،

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو نه به ورته شراب څښل سردرد پیدا کوي او نه به یې بې هوښه کوي چې عقل یې د منځه یوسي.

و: همدارنګه به ذکر شوي خدمتګاران جنتیانو ته هغه میوجات هم وړاندې کوي کوم یې چې خوښېږي او زړه یې ورته کېږي.

ز: او هم به ورته د مرغانو د غوښو څخه هغه غوښې مخې ته ږدي کومو ته یې چې اشتها وشي.

ح: دغو جنتیانو ته به هلته حورې ورکړې شي چې د ښایسته سترګو درلودونکې به وي، او په سپېڅلتوب کښې به هغو ملغلرو ته ورته وي کومې چې د ګرد ګورد څخه پټې ساتلې شوې وي او نه وربانديې د چا لاس لګېدلی دی.

۳ـ ای پیغمبره! ذکر شوي نعمتونه به سابقینو جنتیانو ته په دې سبب ورکولی کېږي چې دوی په دنیا کښې وه چې نېک عملونه به یې کول او د تقوی لاره به یې خپلوله. نو دوی ته به په ذکرو شوو مادي نعمتونو باندې علاوه روحي نعمتونه هم ورکړې شي. د مثال په توګه:

الف: هغوی به په جنت کښې چټې خبرې او هغه ډول وېناوې نه اورې په کومو باندې چې بنیادم په دنیا کښې ګنهګارېږي او مخاطب وربانديې خپه کېږي، بلکې دغه ډول خبرې او وېناوې هلته هیڅ موجودیت نه لري.

ب: هغوی به هلته د خوشالۍ خبرې اورې، د مثال په توګه هغوی به د هره طرفه خوږې وېناوې اورې چې: السلام علیکم او داسې نور.

## توضیحات

۱ـ که څه هم په ﴿ ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ کښې د ﴿ ثُلَّةٌ ﴾ کلمه د خلکو د ډلې دپاره وضعه شوې ده[۱]، خو څرنګه چې دلته یې په مقابل کښې په ﴿ وَقَلِيلٌ مِّنَ ٱلْآخِرِينَ ﴾ کښې د "قلیل" کلمه نازله شوې ده، نو شاید چې دلته به ترې ډېره غټه ډله مطلب وي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾، ﴿ ٱلْآخِرِينَ ﴾ د کلماتو په تفسیر کښې علماء کرام په لاندې درېوو ګروپونو سره ویشلي شوي دي[۲]:

الف: دغه دواړه کلمې په همدې آخر الزمان اُمت پورې ارتباط لري. یعني د مقربینو جنتیانو اکثریت د دې اُمت د وړاندېنیو کسانو (لکه صحابه کرام ﷺ او د دوی تابعین) څخه جوړ دي او اقلیت یې د قیامت تر ورځې پورې د وروستنیو مؤمنانو څخه جوړېږي.

همدې مطلب ته نبي کریم ﷺ په خپل یوه حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «إِنَّ خَيْرَكُمْ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ»[۳] یعني ای مؤمنانو! یقینًا ستاسو بهتر کسان زما د زمانې کسان (صحابه کرام ﷺ) دي، بیا دوی ته ورنژدې کسان (تابعین) بهتر دي بیا دوی ته ورنژدې

(۱) لسان العرب ج۱۱ ص۹۰
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۸۴؛ تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۲۰۰؛ زاد المسیر ج۷ ص۲۷۹؛ اضواء البیان ج۷ ص۷۷۰
(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۳۰۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کسان (تبع تابعين) بهتر دي، بيا دوی ته ورنژدې کسان (تبع تبع تابعين) بهتر دي.

ب: په هر يو أمت کښې د مقربينو جنتيانو اکثريت په وړاندېنيو کښې دي او اقليت يې په وروستنيو کښې تشکلېږي.

ج: "أوّلين" هغه کسان دي کوم چې د آدم ﷺ څخه شروع کېږي او د نبي کريم ﷺ تر بعثت پورې دوام پيدا کوي. يعنې د مقربينو جنتيانو غټه ډله د پيغمبرانو په شمول د پخوانيو أمتونو څخه جوړه ده، او وړکې ډله يې د نبي کريم ﷺ په شمول د دې أمت څخه جوړېږي چې د قيامت تر ورځې پورې اوړدېږي.

## سوال جواب

۲ــ که څوک وايي چې: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَهْلُ الْجَنَّةِ عِشْرُونَ وَمِائَةُ صَفٍّ ثَمَانُونَ مِنْهَا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَأَرْبَعُونَ مِنْ سَائِرِ الْأُمَمِ»[۱] يعنې ټول جنتيان يو سلو شل (۱۲۰) صفه دي چې اتيا (۸۰) صفونه يې د همدې آخر الزمان أمت دي او فقط څلوېښت (۴۰) صفونه يې د نورو أمتونو دي.

نو پوښتنه دا ده چې ايا د دريم ګروپ علماوو کرامو نظر د دغه حديث شريف سره ټکر نه لري؟

مونږ وايو چې: په حديث شريف کښې ټول جنتيان ښودلی شوي دي، برابره خبره ده چې مقربين وي او که غير مقربين، او په ايت شريف کښې يوازې مقربينو جنتيانو ته اشاره شوې ده.

نو څه لرې نه ده چې مقربين جنتيان د پخوانيو أمتونو ډېر وي (چې يو لک څلېرشت زره ـ زيات يا کم ـ پيغمبران پکښې شموليت لري) او مطلق جنتيان د دې أمت زيات وي.

## تبصره

۳ــ که څه هم ذکر شوي درېواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري، کېدی شي چې د بدليت په لحاظ درېواړه اراده کړی شي مګر مونږ ته دريم تفسير په زړه پورې برېښي ځکه چې:

الف: همدغه دواړه کلمې ﴿ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾، ﴿ ٱلْآخِرِينَ ﴾ په [الواقعة:۴۹] ايت کښې هم نازلې شوې دي او په همدغه دريم تفسير سره تفسيرېږي او بس.

ب: په ﴿ وَكُنتُمْ أَزْوَٰجًا ثَلَٰثَةً ﴾ [الواقعة:۷] کښې د "كُنتُمْ" په ضمير سره د تغليب په توګه وړاندېنې او وروستنې ټول بنيادمان مخاطب کړی شوي دي[۲]، نو متبادره دا ده چې ذکرې شوې درېواړه ډلې به هم د آدم ﷺ څخه نيولې د قيامت تر ورځې پورې ټولو انسانانو ته شموليت ولري، والله ﷻ أعلم وعلمه أتقن وأحكم.

## وَضن څه معنی؟

۴ــ په ﴿ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّوْضُونَةٍ ﴾ کښې د ﴿ مَّوْضُونَةٍ ﴾ کلمه د "وَضن" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۸۱
(۲) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۳۵۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي ده چې د اوبدلو معنی ورکوي[۱]. يعنې مقربين جنتيان به په داسې پاچاهي تختونو باندې د خوشالۍ په حال کښې ناست وي کوم چې په سرو زرو او ملغلرو او هم په نورو جواهرو سره جړاو کړی شوي[۲] او جوړ کړی شوي (ښايسته کړی شوي) وي.

## يادونې

۵ـ د دې مقام ځينې اړونده وضاحتونه د الله ﷻ په توفيق وړاندې تېر شوي دي چې بيا ليکلو ته يې څه اړتيا نه ګورو هغه دا چې:

الف: په ﴿ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ﴾ کښې د ﴿ وِلْدَان ﴾ کلمه د "غِلْمَان" د کلمې سره په مصداق کښې متحده ده چې د [الطور:۲۴] ايت لاندې د احاديثو په رڼا کښې ښه پوره تفسيره شوې ده، چې د هغو جنتي خدمتګارانو معنی ورکوي کوم چې د همېش دپاره په يوه منګ وي او د وخت په تېرېدلو سره تغير نه مومي.

ب: په ﴿ بِأَكْوَابٍ ﴾ کښې د "أَكْوَاب" کلمه د [الزخرف: ۷۱] ايت لاندې تېره شوې ده چې د بې لاستو ګيلاسونو معنی ورکوي.

ج: په ﴿ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴾ کښې د "كَأْس، مَعِين" دواړه کلمې د [الصافات:۴۵] ايت لاندې واضحه کړی شوی دی چې بالترتيب د شرابو څخه د ډکې پيالې او د جاري شرابو معناوې ورکوي.

د: د دنياوي شرابو کومو مفاسدو ته چې په ﴿ لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ ﴾ کښې اشاره شوې ده هغه د [الصافات:۴۷] ايت لاندې ښه مشرح بيان شوی دی.

هـ: په ﴿ وَحُورٌ عِينٌ ﴾ کښې د "حُور" کلمه د [الدخان:۵۴] ايت لاندې معنی شوې ده چې د تور سترګو ښځو لقب دی او د "عِين" کلمه د [الصافات:۴۸] ايت لاندې تشريح شوې ده چې د غټ سترګو ښځو معنی ورکوي.

## د "إبريق" معنی

۶ـ په ﴿ بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ ﴾ کښې د "أَبَارِيق" کلمه د "إِبْرِيق" ـلکه "إِنْجِيل"ـ جمعه ده، "إِبْرِيق" د هغه لوښي نوم دی کوم چې لاستی لري[۳]. يعنې په جنتيانو باندې به خپل خدمتګاران په دوه ډوله لوښو کښې شراب څښوي چې يو ډول به لاستي نه لري او بل ډول به د لاستو درلودونکي وي.

## د جنت مرغان

۷ـ کومو مرغانو ته چې په ﴿ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴾ کښې اشاره شوې ده د هغو په هکله نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې داسې فرمايلي دي چې: «إِنَّ طَيْرَ الْجَنَّةِ كَأَمْثَالِ الْبُخْتِ تَرْعَى فِي شَجَرِ

(۱) مفردات الراغب ص۵۶۳
(۲) تفسير البغوي ج۴ ص۲۸۰؛ تفسير ابن کثير ج۴ ص۲۸۶
(۳) لسان العرب ج۱۰ ص۱۷؛ تفسير الطبري ج۲۷ ص۱۷۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الجَنَّةِ»[۱] یعنې یقینًا د جنت مرغان داسې دي لکه مایه اوښان، چې د جنت په ونو کښې څرې (گرځي راگرځي). او ای ابو بکره! زه اُمید کوم چې ته به د هغو کسانو د جملې څخه جوړ شې کوم چې د ذکرو شوو مرغانو د غوښو څخه خوراک کوي.

## یو اعرابي تحلیل

۸ـ په ﴿ إِلَّا قِيلًا سَلَٰمًا سَلَٰمًا ﴾ کښې د ﴿ سَلَٰمًا سَلَٰمًا ﴾ کلمات د اعراب په حیث په لاندې دوه وو ډولونو سره تحلیل کېدلی شي[۲] چې دواړه په مصداق کښې متحد دي:

الف: چې دغه دواړه کلمې د ﴿ قِيلًا ﴾ څخه بدل واقع شي. یعنې جنتیان به په جنت کښې نه اوري مگر وینا، چې دغه وینا د ﴿ سَلَٰمًا سَلَٰمًا ﴾ څخه عبارت ده.

ب: چې دغه دواړه کلمې د ﴿ قِيلًا ﴾ دپاره مفعول به وگڼلی شي. یعنې هغوی به په جنت کښې نه اوري مگر د ﴿ سَلَٰمًا سَلَٰمًا ﴾ ویل.

خو په دواړو تحلیلونو سره دغه دواړه کلمې د "السَّلامُ عَلَيكُمْ، السَّلامُ عَلَيكُمْ" څخه کنایي دي او تکریر یې په ډېروالي باندې دلالت کوي.

﴿ وَأَصْحَٰبُ ٱلْيَمِينِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْيَمِينِ ﴿٢٧﴾ فِى سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴿٢٨﴾ وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ ﴿٢٩﴾
وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴿٣٠﴾ وَمَآءٍ مَّسْكُوبٍ ﴿٣١﴾ وَفَٰكِهَةٍ كَثِيرَةٍ ﴿٣٢﴾ لَّا مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ ﴿٣٣﴾
وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾ إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً ﴿٣٥﴾ فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴿٣٧﴾
لِّأَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿٣٨﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٩﴾ وَثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْءَاخِرِينَ ﴿٤٠﴾ ﴾

[۲۷] او د ښي لاس (یا ښي طرف) ملگري چې دي څومره د عالي شان د ښي لاس (یا ښي طرف) ملگري دي ؟.

[۲۸] (هغه دا چې دوی) به د بې اغزیو (پستو) بېرو (په باغونو) کښې وي.

[۲۹] او د کېلو په داسې ونو کښې چې څېنې به په څېنو نورو باندې (د مېوجاتو د حیثه) د پاسه دراچولی شوي وي (گڼ مېوجات به لري).

[۳۰] او په ډېرو اوږدو کړی شوو سورو کښې به وي (چې د باغونو ونې به یې ډېر اوږده ښاخونه لري او سوري به یې تر ډېره ځایه غزېدلي وي).

[۳۱] او په بهولی شوي اوبو کښې (به وي چې لښتې به پکښې جاري وي).

[۳۲] او په ډېرو مېوجاتو کښې (به وي).

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۴۴۱
(۲) تفسیر الکشاف ج۴ ص۴۶۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۳] (داسې مېوجات) چې نه به پرې کول شوي وي (چې موسم يې تېر شي) او نه به (ترې) منعه کړل شوي وي (چې دا مه خورئ).

[۳۴] او په اوچت کړی شوو فرشونو کښې (به وي).

[۳۵] يقيناً مونږ جنتي ښځې (حورې وي او که غير حورې) پيدا کړې دي (يو خاص ډول) پيدا کول.

[۳۶] (هغه دا چې) نو دوی مو بکرې (پېغلې) گرځولې دي (چې پېغلتوب يې انتهاء نه لري).

[۳۷] (دوی مو پر خپلو خاوندانو) عاشقانې (او ورته) همزولې (گرځولې دي).

[۳۸] (دوی مو) د اصحاب اليمين (د استفادې) دپاره (پيدا کړې دي).

[۳۹] (اصحاب اليمين) د پخوانيو اُمتونو څخه ښه غټه ډله ده.

[۴۰] او (همدوی) د وروستنيو کسانو (آخر الزمان اُمت) څخه هم ښه غټه ډله ده (مگر اکثريت او پوره ډېروالی به د همدې اُمت په برخه وي).

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د اصحاب اليمين په حالاتو باندې څه رڼا اچولې شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي چې:

ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې د هغو کسانو څه اُخروي حالات قرائت کړه کوم چې د آدم ﷺ په ښي څنگ کښې قرار لري او هم ورته اعمالنامې په ښيو لاسونو ورکولی کېږي. هغه دا:

۱_ اصحاب اليمن چې دي، اصحاب اليمن، څومره عالي شان لري چې لاندې نعمتونه ورکولی کېږي؟:

الف: هغوی به په داسې جنت کښې اوسېږي چې هلته به د بېرو داسې ونې وي چې اغزې به نه لري (پستې مستې به وي) او په مېوجاتو باندې به ښې پوره ډکې وي.

ب: هغوی به د کېلو په باغ کښې وي چې گڼې کېلې به لري او څېنې به د څېنو د پاسه پرتې وي.

ج: هغوی به په داسې ونو کښې اوسېږي کومې چې ډېرې اوږدې څانگې لري او د اوږده سوري درلودونکي وي.

د: هغوی به په داسې ځای کښې اوسي چې هلته به د اوبو فوارې وي او اوبه به پکښې بهېږي.

ه: د هغوی د اوسېدانې په ځای کښې به زښتې ډېرې مېوې موجوديت لري چې د څېنو نظاير به يې په دنيا کښې ليدلي وي او څېنې به يې په دنيا کښې نظير نه لري، د ليدلو پورې ارتباط لري.

و: دغه ډېرې مېوې به ختمېدونکي نه وي چې خاص موسم ولري او د موسم په تېرېدلو سره يې لاس ته راوړل قطعه شي.

ز: ذکرې شوې مېوې به په هيڅ ډول منعه کړی شوې هم نه وي چې يا خامې وي، يا ورستې وي او بالآخره يا جنتيان د هغو د خوراک څخه منعه کړی شي چې دغې او هاغې مېوې ته به لاس نه وروړئ، لکه څنگه چې آدم ﷺ د خاصې ونې څخه منعه کړی شوی وه.

ح: هغوی به په داسې فرشونو باندې ناسته او ملاسته کوي کوم چې د مراتبو د حيثه او همدارنگه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د مکان او ځای د حیثه ډېر اوچت او پورته وي.

۲ـ مونږ د اصحاب اليمين دپاره په لاندې صفاتو سره هلته ښځې هم ورکوو چې:

الف: نو مونږ ذکرې شوي ښځې (برابره خبره ده چې دنیاوي ښځې وي او یا حورې وي) هغوی ته بکرې ګرځوو چې د بکر د ماتېدلو څخه وروسته به سمدستي د پخوا په شان د بل ځل دپاره بکرې (پېغلې) جوړېږي.

ب: دغه جنتي ښځې به په خپلو-خپلو خاوندانو باندې عاشقانې وي چې د همدوی څخه په غیر به یې سترګې د هیچا په طرف نه اوړي، او نه به ورته د همدوی څخه په غیر بل څوک بهتر برېښي.

ج: دغه جنتي ښځې به د خپلو-خپلو خاوندانو سره همزولې وي او هم به ورسره په قد او قامت کښې پوره برابرې وي او هم به په خپلو منځو کښې هم په عمرونو او قدونو کښې مساوي وي.

۳ـ ای پیغمبره! دغه اصحاب اليمن د مقربینو غوندې نه دي چې د وروستنیو کسانو څخه لږ دي او اکثریت یې د ړومبنیو کسانو څخه تشکیلېږي، بلکې دوی به د ړومبنیو څخه هم ښه ډېر وي او وروستنیو کسانو څخه به هم ښه پرېمانه وي.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام کښې د لاندې لغاتو وضاحتونه ولولئ:

الف: په ﴿ سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴾ کښې د ﴿ سِدْرٍ ﴾ کلمه مشهوره ده چې د بېرې نوم دی او د ﴿ مَّخْضُودٍ ﴾ کلمه د "خَضْدٌ" ـلکه "ضَرْبٌ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ماتوالي (پوستوالي) معنی ورکوي[۱].

یعنې د جنت بېرې د دنیا د بېرو په شان اغزي لرونکي نه دي بلکې بې اغزیو (پستې) او ډېرې بهترې مېوې درلودونکي دي.

ب: په ﴿ وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ ﴾ کښې د "طَلْح" کلمه د کېلې د ونې نوم دی[۲]. او د ﴿ مَّنضُودٍ ﴾ کلمه د "نَضْد" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه مشتقه ده چې په یو شي باندې د پاسه د بل شي د ایښودلو دپاره وضعه شوې ده[۳]، خو په دې مقام کښې د ګڼوالي او د ډېروالي څخه نمایندګي کوي. یعنې د جنت د کېلو ونې به د مېوې څخه داسې ډکې وي لکه چې ځینې کېلې د ځینو نورو کېلو د پاسه ایښودلې شوې دي.

ج: په ﴿ وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴾ کښې د ﴿ مَّمْدُودٍ ﴾ کلمه نبي کريم ﷺ په یوه قدسي حدیث کښې ډېره ښه تفسیره کړې ده چې: «وَفِي الْجَنَّةِ شَجَرَةٌ يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَا يَقْطَعُهَا وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ وَظِلٍّ مَمْدُودٍ»[۴] یعنې او په جنت کښې داسې ونه هم شته چې د هغې په سورې کښې (د هغې د یوې خوانګې څخه لاندې) به په "اس" باندې سور بنیادم سل کاله تلل کوي او نه به یې شي قطعه کولی

(۱) مفردات الراغب ص۱۵۰
(۲) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۳٦۸
(۳) لسان العرب ج۳ ص۴۲۳
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱٦۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(آخر ته به یې نه شي رسېدلی) تاسو د ﴿ وَظِلٍ مَّمْدُودٍ ﴾ ایت ولولئ.

د: په ﴿ وَمَآءٍ مَّسْكُوبٍ ﴾ کښې د ﴿ مَّسْكُوبٍ ﴾ کلمې د "سَكَبَ" ـ لکه "ضَرَبَ" ـ څخه اشتقاق موندلی دی، چې د اوبو د توبولو معنی ورکوي[1]، خو په دې مقام کښې ترې بهېدونکې (روانې) اوبه مرادې دي، شاید چې د ﴿ مَّسْكُوبٍ ﴾ په کلمې سره به ترې په دې مقام کښې د دې کبله تعبیر نازل شوی وي چې د جنت اوبه د دنیا د اوبو غوندې ویالې نه غواړي بلکې په هوار خای باندې داسې بهېږي چې ته به وایې چې په ویالې (لښتې) کښې روانې دي[2].

هـ: په ﴿ وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴾ کښې د ﴿ مَّرْفُوعَةٍ ﴾ کلمه نبي کریم ﷺ داسې تفسیر کړې ده چې: «ارْتِفَاعُهَا كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَمَسِيرَةُ مَا بَيْنَهُمَا خَمْسُ مِائَةِ عَامٍ»[3] یعنې د جنتي فرشونو لوړوالی داسې دی لکه د اسمان او ځمکې د ما بین فاصله، حال دا چې د اسمان او ځمکې د ما بین فاصله د پنځه سوه کاله د مزله فاصله ده.

## سوالونه او جوابونه

٢ـ په دې مقام کښې لاندې سوالونو او جوابونو ته توجه وکړئ:

الف: که څوک وایي چې په ﴿ إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً ﴾ کښې د "هُنَّ" ضمیر جنتي ښځو ته راجع دی حال دا چې وړاندې د هغوی ذکر نشته؟

مونږ وایو چې: د ضمیر دپاره د مرجع حکمي ذکر هم کفایت کوي او په دې مقام کښې د مرجع همدغه ډول ذکر شته چې بحث په جنتي ښځو کښې شروع دی.

څرنګه چې د ذکر شوي ایت دپاره د ﴿ فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴾ ایت تفصیل واقع شوی دی، نو حاصل به یې داسې راوځېږي چې: یقینًا مونږ جنتي ښځې په خاص ډول پیدا کولو سره پیدا کړې دي. هغه دا چې مونږ هغوی ټولې بکرې (پېغلې) ګرځوو.

د همدې ایت لاندې ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې: "كُلَّمَا أَتَاهُنَّ أَزْوَاجُهُنَّ وَجَدُوهُنَّ أَبْكَارًا"[4] یعنې په هر وخت کښې چې هغوی ته خپل خاوندان ورتګ وکړي نو هغوی به بکرې موندې کوي. یا په بل عبارت: د ورتګ څخه وروسته سمدستي د بل ورتګ دپاره بکرې ګرځي او پېغلې جوړېږي.

ب: که څوک وایي چې ایا دغه صفت (چې د خاوندانو د ورتګ څخه وروسته بکرې ګرځي) د کوم ډول جنتي ښځو صفت دی، د حورو صفت دی او که د مؤمنو دنیاوي ښځو؟

مونږ وایو چې: په دې باره کښې علماء کرام په دوه ډلو باندې ویشلی شوي دي[5]: یوه ډله علماء

---

(١) لسان العرب ج١ ص٤٦٩

(٢) تفسیر ابن کثیر ج٤ ص٢٩٠؛ روح المعاني ج٢٧ ص١٤٠

(٣) جامع الترمذي ج٢ ص١٦٥

(٤) تفسیر البغوي ج٤ ص٢٨٣

(٥) تفسیر القرطبي ج١٧ ص٢١٠

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه صفت په مؤمنو دنیاوي ښځو پورې خاص ګرځوي، او بله ډله وايي چې دغه صفت حورو ته هم شامل دی، مونږ ته همدغه دوهم نظر غوره ښکاري.

ج: که څوک وايي چې: ایا د ذکرو شوو ایتونو په ارتباط د نبي کریم ﷺ څخه څه احادیث روایت شوي دي؟

مونږ وایو چې: په دې ارتباط د نبي کریم ﷺ څخه ډېر احادیث روایت شوي دي، د مثال په ډول:

اول: «إِنَّ مِنَ الْمُنْشَآتِ اللَّائِي كُنَّ فِي الدُّنْيَا عَجَائِزَ عُمْشًا رُمْصًا»[۱] یعنې یقینًا د هغو ښځو د جملې څخه کومو ته چې په ﴿ إِنَّآ أَنشَأۡنَٰهُنَّ إِنشَآءٗ ﴾ کښې اشاره شوې ده هغه ښځې هم دي کومې چې په دنیا کښې زړې (بوډۍ) کم نظرې چخړنې وې (چې دا به خوانې سترګورې وګرځي).

دوهم: یوه ورځې نبي کریم ﷺ هغې بوډۍ ښځې ته وویلې کومې چې جنت ته د داخلېدلو دعاء غوښتله چې: «يا أُمَّ فُلان! إِنَّ الْجَنَّةَ لا تَدْخُلُهَا عَجُوزٌ»[۲] یعنې ای د فلانکي مورې! یقینًا جنت ته زړې (بوډۍ) ښځې نه داخلېږي.

نو هغه بېرته ستنه شوه او په ژړاه شوه، نبي کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ مخاطب کړل چې تاسو دغه بوډۍ خبره کړئ چې جنت ته په داسې حال کښې بوډۍ ښځې نه داخلېږي چې بوډۍ وي (بلکې هلته خوانېږي)، بیا یې د استشهاد په توګه ذکر شوی ایت شریف قرائت کړ.

دریم: «أَبْنَاءَ ثَلاثٍ وَثَلاثِينَ عَلَى خَلْقِ آدَمَ سِتُّونَ ذِرَاعًا فِي عَرْضِ سَبْعِ أَذْرُعٍ»[۳] یعنې جنتیان به جنت ته په داسې حال کښې داخل شي، لکه چې دوی هر یو دري دېرش کلن وي او هم به یې د اجسامو اندازه د آدم ﷺ د جسم په اندازه وي چې شپېته ګزه به یې لوړوالی وي او اوه ګزه به یې پلنوالی وي.

د: که څوک وايي چې د ﴿ عُرُبًا أَتۡرَابٗا ﴾ دواړه کلمې څه څه معناوې لري؟

مونږ وایو چې: د "عُرُب" کلمه د "عَرُوب" ـلکه "غَفُور" ـ جمعه ده، د "عَرُوب" کلمه د هغې ښځې دپاره وضعه شوې ده کومې ته چې خپل خاوند ډېر ګران او محبوب وي[۴]. او د "أَتْرَاب" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [ص: ۵۱] ایت لاندې ښه پوره تحلیله کړې ده چې د همزولو معنی ورکوي. یعنې جنتي ښځې به په خپلو خاوندانو عاشقانې وي (او خاوندان به په دوی باندې عاشقان وي)، او هم به ورسره همزولې وي چې ټول به دري دېرش کلن وي چې د پوره قوت عمر دی.

ه: که څوک وايي چې په ﴿ لِّأَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ﴾ کښې د "ل" توری په څه شي پورې تعلق نیسي؟

مونږ وایو چې: د دغه توري په متعلق کښې لاندې دوه احتماله صورت نیولی شي[۵]:

اول: چې په ﴿ أَتۡرَابٗا ﴾ پورې تعلق ونیسي، یعنې جنتي ښځې به د اصحاب الیمن (خپلو خاوندانو

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۵
(۲) شمائل الترمذي ص۱۶
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۱۵۱
(۴) القاموس المحیط ج۳ ص۱۸۱
(۵) تفسير ابن كثير ج۴ ص۲۹۳؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۸ ص۴۰۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره همزولې وي، نه به وايي چې په يوه ورځ تولد شوي دي.

دوهم: چې په ﴿ إِنَّآ أَنشَأۡنَٰهُنَّ إِنشَآءً ﴾ پورې متعلق شي، يعنې ذکر شوې جنتي ښځې مونږ د اصحاب اليمين دپاره پيدا کړې دي چې حورې مو بدون د تولده په جنت کښې پيدا کړې دي او مؤمني ښځې مو په دوهم ځل په خاص کيفيت سره راژوندۍ کړې دي.

و: که څوک وايي چې: وړاندې د [الواقعة:١٤] ايت لاندې د يوه حديث په رڼا کښې تېر شوه چې د آخر الزمان اُمت مقربين به د پخوانيو اُمتونو د مقربينو څخه لږ وي، اما اصحاب اليمين به يې د هغوی د اصحاب اليمين څخه ډېر وي، حال دا چې د دې مقام څخه د دواړو مساوات معلومېږي چې په دواړو کښې د "ثُلَّةٌ، ثُلَّةٌ" کلمې نازلې شوې دي، چې د غتې ډلې معناوې ورکوي؟.

مونږ وايو چې: په وړاندېني مقام کښې د پخوانيو د مقربينو او د وروستنيو د مقربينو مقايسه مطلب وه، د همدې کبله د "ثُلَّةٌ" په مقابل کښې د "قَلِيلٌ" کلمه نازله شوې ده. او په دې مقام کښې مقايسه مطلب نه ده ترڅو اعتراض وارد شي بلکې د دواړو کثرت ته اشاره شوې ده.

لنډه دا چې دلته په اثبات رسېدلې ده چې د وړاندېنيو او وروستنيو اُمتونو اصحاب اليمين محض په کثرت کښې يو برابر دي، اما د اکثريت په هکله ايت شريف ساکت دی، خو په احاديثو کښې واضحه کړې شوې ده چې د دې اُمت اصحاب اليمين اکثريت تشکيلوي حتی چې په څلورو برخو کښې درې برخې جوړوي.

د دغه ايت شريف يو نظر وړاندې تېر شوی دی چې: ﴿ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهۡدِي بِهِۦ كَثِيرًا ﴾ [البقرة:٢٦] يعنې الله ﷻ د دغسې مثالونو په بيانولو سره ډېر خلک ګمراه کوي او ډېرو ته ورباندې هدايت کوي.

دلته ګمراهان او مهتديان په کثرت کښې يو برابر دي مګر په اکثريت کښې يو برابر نه دي، بلکې ګمراهان اکثريت دی او مهتديان اقليت دی.

ز: که څوک وايي چې: عاصيان مؤمنان په کومه ډله کښې شامل دي، په اصحاب اليمين کښې که په اصحاب الشمال کښې؟

مونږ وايو چې: عاصيان مؤمنان که څه هم دوزخ ته لاړ شي نو د دغې دوزخي دورې څخه وروسته ورته هغه نعمتونه ورکولی کېږي کوم چې اصحاب اليمين ته ټاکلی شوي دي، نو ظاهره دا ده چې دوی په اصحاب اليمين کښې شامل دی، نه په اصحاب الشمال کښې[١].

﴿ وَأَصۡحَٰبُ ٱلشِّمَالِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلشِّمَالِ ﴿٤١﴾ فِي سَمُومٖ وَحَمِيمٖ ﴿٤٢﴾ وَظِلّٖ مِّن يَحۡمُومٖ ﴿٤٣﴾ لَّا بَارِدٖ وَلَا كَرِيمٍ ﴿٤٤﴾ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُتۡرَفِينَ ﴿٤٥﴾ وَكَانُواْ يُصِرُّونَ عَلَى ٱلۡحِنثِ

(١) روح المعاني ج٢٧ ص١٤٣

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلْعَظِيمِ ﴿٤٦﴾ وَكَانُوا۟ يَقُولُونَ أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَـٰمًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿٤٧﴾
أَوَءَابَآؤُنَا ٱلْأَوَّلُونَ ﴿٤٨﴾ ﴾

[۴۱] د چپ طرف (يا چپ لاس) ملګري چې دي څومره د بد حال د چپ لاس (يا چپ طرف ملګري دي؟.

[۴۲] (دوی) په ډېر ګرم تېز اور او خوټېدونکو (ګرمو) اوبو کښې دي (کله چې دوزخ ته داخل کړی شي).

[۴۳] (دوی هلته) د تورو لوګيو په سيوري کښې دي (چې ترې چاپېر شوي به وي).

[۴۴] (دغه لوغړن سيوری) نه سوړ دی او نه راحت بښونکی دی (بلکې توهينوونکی دی).

[۴۵] (دا ځکه چې:) يقيناً اصحاب الشمال ته د آخرت څخه مخکښې (په دنيا کښې) نعمتونه ورکړی شوي وه (په نعمتونو باندې مستان وه).

[۴۶] او (هلته) دوی وه چې په ډېره لويه ګناه (کفر او شرک) باندې به يې همېشه والی کاوه (او تر مرګه پورې پرې کلک وه).

[۴۷] او دوی (اصحاب الشمال) وه چې (په دنيا کښې) به يې ويلي چې: ايا کله چې مونږ مړه شو او خاورې او هډوکې وګرځو، ايا يقيناً مونږ هرومرو (د قبرونو څخه بيا) راپورته کړی شوي (او ژوندي کړی شوي) ياستو؟

[۴۸] او ايا زمونږ ړومبني پلرونه هم؟

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د اصحاب المشئمه حالاتو ته څه تفصيل ورکړی شوی دی چې حاصل يې داسې راځېږي چې: ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې د هغو کسانو څه حالات قرائت کړه کومو ته چې اعمالنامې په چپو لاسونو ورکولی شي او هم د آدم ﷺ په چپ طرف کښې قرار لري. هغه دا چې:

۱ـ کومو خلکو ته چې په چپو لاسونو عملنامې ورکولی شي او د آدم ﷺ په چپ طرف کښې قرار لري دغه د چپ لاس ملګري چې دي څومره د ناکاره او سختو عذابونو سره مخکښېدونکي دي؟. د مثال په توګه:

الف: دوی (اصحاب الشمال) په ډېر ګرم دوزخي اور کښې دي او په ډېرو ګرمو خوټېدونکو اوبو کښې دي چې د بدن ټولې غوښې او پوستکي به ورباندې پخېږي او توېږي (البته کله چې دوزخ ته داخل کړی شي).

ب: دوی به په داسې سيوري کښې استوګن وي چې د تک تور لوګي څخه به تشکيل شوي وي، دغه لوګی به نه سوړ وي چې څه اسودګي ترې واخلي او نه به کرامت ولري بلکې توهين به ورسره نژلې وي، او بالآخره نه به راحت ورکوونکي وي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ اصحاب الشمال ته څکه ذکر شوي عذابونه تیاکل شوي دي چې:

الف: دوی په دنیا کښې ښه پوره مالداران وه او پرېمانه نعمتونه ورکړی شوي وه چې په دغو نعمتونو باندې مست وه او د قیامت د قیام څخه انکاري وه.

ب: نو د همدې کبله دوی په عظیمه ګناه باندې کلک وه چې دغه عظیمه ګناه د کفر او شرک څخه عبارت ده، او په همدې شرکي او کفري عقیده باندې مړه شوه.

ج: دوی ته د مرګ څخه وروسته بیا راژوندي کېدل دروغ او نه کېدونکی کار ښکارېد، نو څکه به يې په تعجب سره په دنیا کښې خپلو خپلو پیغمبرانو ته پوښتنې راجع کولې چې: ایا کله چې مونږ مړه شو او په ځمکه کښې د خاورو سره خاورې شو او هم مو هډوکي د غوښې څخه وځنډل شي او تیت پرک جوړ شي، نو ایا یقینًا مونږ به بیا راژوندي کړی شوي یاستو؟ ایا زمونږ پخواني تیر شوي او خاورې شوي پلرونه به هم بیا راژوندي کړی شوي وي؟ ایا هغوی به هم بېرته راژوندي شي؟.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَظِلٍّ مِّن يَحْمُومٍ ﴾ کښې د ﴿ يَحْمُومٍ ﴾ کلمه د تک تور لوګي دپاره وضعه شوې ده[۱].

یعنې أَصْحَابُ الشِّمَالِ به برسېره په تېزګرم اور او خوټېدونکو اوبو باندې په تورو لوخړو او لوګیو کښې پټ وي او داسې سورې به يې ورباندې جوړ کړي وي چې نه به د تودوښې مخنیوی کولی شي او نه به پکښې څه راحت او (کرامت) عزت وي.

## حنث څه معنی؟

۲_ په ﴿ وَكَانُوا۟ يُصِرُّونَ عَلَى ٱلْحِنثِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ کښې د "حِنث" کلمه د ګناه معنی ورکوي[۲]، خو څرنګه چې په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْعَظِيمِ ﴾ په کلمې سره توصیفه شوې ده نو دلته ترې ډېره لويه ګناه اراده کېږي، او پوره واضحه ده چې ډېره لويه ګناه د کفر او شرک څخه عبارت ده چې په همدې معنی سره عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دلته تفسیره کړې ده[۳] لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾ [لقمان:۱۳] یعنې یقینًا د الله ﷻ سره په شریک باندې عقیده خپلول ډېر لوی ظلم (او ګناه) ده.

﴿ قُلْ إِنَّ ٱلْأَوَّلِينَ وَٱلْءَاخِرِينَ ﴿٤٩﴾ لَمَجْمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَـٰتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٥٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ
أَيُّهَا ٱلضَّآلُّونَ ٱلْمُكَذِّبُونَ ﴿٥١﴾ لَـَٔاكِلُونَ مِن شَجَرٍ مِّن زَقُّومٍ ﴿٥٢﴾ فَمَالِـُٔونَ مِنْهَا ٱلْبُطُونَ ﴿٥٣﴾
فَشَـٰرِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْحَمِيمِ ﴿٥٤﴾ فَشَـٰرِبُونَ شُرْبَ ٱلْهِيمِ ﴿٥٥﴾ هَـٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴿٥٦﴾ ﴾

---

(۱) القاموس المحیط ج۱ ص۷۱٦
(۲) لسان العرب ج۲ ص۱۳۸
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۹۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۹] (کفارو ته) ووایه چې: یقینًا رومبني خلک او وروستني خلک (مبعوث کړی شوي دي).

[۵۰] (دوی ټول) هرومرو د معلومې ورځې ټاکلي وخت ته ورغونډ کړی شوي دي (ټول به ورغونډ کړی شي).

[۵۱] بیا ای ګمراهانو! د دروغو نسبت کوونکو! یقینًا تاسو چې یاست.

[۵۲] هرومرو د ونې څخه خوړونکي یاست چې (دا) د زقوم څخه عبارت ده.

[۵۳] نو (د ډېر تریخوالي سره-سره) تاسو د همدې (زقوم) څخه د خپلو ګېډو ډکوونکي یاست.

[۵۴] نو (بیا) وربانديې (د پاسه) تاسو د خوټېدونکو اوبو څښونکي یاست.

[۵۵] نو د ډېرو تږو اوښانو د څښکلو په څېر (د همدغو اوبو) څښونکي یاست.

[۵۶] (ای پیغمبره!) دغه (ذکر شوي عذاب) د جزا په ورځ د مشرکانو (کفارو) مېلمستیا ده.

## د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ایتونو کښې د مشرکانو هغه پلمه هم راحکایت شوې وه د کومې په سبب چې هغوی په شرکي عقیده باندې کلک ولاړ دي او د بعث بعد الموت څخه انکاري دي، هغه دا چې: ایا کله چې مونږ خاورې او هډوکې وګرځو نو بیا به بېرته راژوندي کړی شو؟ او ایا زمونږ د پلرونو وراسته هډوکې به هم د دوهم خل دپاره راژوندي کړی شي؟.

په دې ایتونو کښې د یو پلوه د همدغې پلمې رد نازل شوی دی، او د بل پلوه پکښې د همدغو پلمه نیوونکو په ارتباط ښه شدید وعید ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د مشرکانو شرکي پلمه او بهانه رده کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ یقینًا ټول خلک به ضرور مبعوث کړی شي او په اجتماعي توګه به د هغې ورځې ټاکلي وخت ته ورغونډ کړی شي دومره چې یوازې الله ﷻ ته معلومه ده او بس. که څه هم دغه کار تاسو ته نه کېدونکی بریښي مګر دا هرومرو واقع کېدونکی دی چې هیڅوک به په قبره کښې پټ پاتې نه شي.

۲ـ ای پیغمبره! د بعث بعد الموت انکار کوونکي مخاطب کړه او دا هم ورته ووایه چې: ای ګمراهانو او قیامت ته د دروغو نسبت کوونکو! بیا به تاسو د دغو حالاتو سره مخامخ کړی شئ:

الف: تاسو به په دوزخ کښې وروغورزولی شئ او هلته به تاسو د یوې زیاتې ترخې ونې د مېوې څخه خوړونکي وګرځئ چې هغه د زقوم ونه ده.

ب: تاسو به هلته د همدې د زقوم د ونې څخه د خپلو ګېډو ډکوونکي جوړ شئ چې هلته به ستاسو همدا خوراک وي.

ج: بیا به تاسو د همدغې ونې (زقوم) دپاسه د ډېرو ګرمو او خوټېدونکو اوبو څښونکي وګرځئ چې په همدغو اوبو سره به ستاسو د بدن غوښې ټولې ښکته توی شي او محض د هډوکو اسکلټ به مو پاتې شي، خو د تعذیب د ادامې دپاره به مو بیا غوښې رازرغونې کړی شي.

د: لنډه دا چې تاسو به د همدغو خوټېدونکو اوبو په داسې ډول سره څښونکي وګرځئ لکه چې ډېر تږي اوښان په اوبو باندې ورخوشې کړی شي حال دا چې هلته نورې اوبه موجودیت ونه لري.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ ای پیغمبره! دغه د زقوم خوراک او د خوټېدلو اوبو څښاک د دغو مشرکانو دپاره مېلمستیا ده او دا د دوی احترام دی، البته د قیامت په ورځ (په هغې ورځ په کومه کښې چې هر چاته د خپلو کړو وړو بدله ورکوله کېږي).

## توضیحات

۱_ په ﴿ لَمَجْمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَٰتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴾ کښې د "إِلَىٰ" توری د "لِ" د توري په معنی سره دی چې په بل ایت کښې پرې صراحت نازل شوی دی چې ﴿ ذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ ٱلنَّاسُ ﴾ [هود:۱۰۳] یعنې دغه د قیامت ورځ داسې ورځ ده چې ټول خلک ورغونډ کړی شوي دي (ټول خلک به ورغونډ کړی شي).

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ مِيقَٰتِ ﴾ د کلمې اضافت ﴿ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴾ ته بیاني إضافت دی یعنې وړاندېنې او وروستنې ټول خلک یوه ټاکلې وخت ته هرو مرو ورغونډ کړی شوي دي چې دغه ټاکلی وخت (د الله ﷻ په نزد) د معلومې ورځې څخه عبارت دی

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ مِنْهَا ٱلْبُطُونَ ﴾ کښې د ﴿ مِنْهَا ﴾ ضمیر او په ﴿ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْحَمِيمِ ﴾ کښې د ﴿ عَلَيْهِ ﴾ ضمیر کوم کوم شي ته راجع دی؟

مونږ وایو چې: د دغو دواړو ضمیرونو په مرجع کښې علماوو کرامو متعدد أقوال کړي دي لکه[1]:

الف: دغه دواړه ضمیرونه په ﴿ مِن شَجَرٍ مِّن زَقُّومٍ ﴾ کښې د ﴿ شَجَرٍ ﴾ کلمې ته راجع دی چې دا کلمه اسم جنس ده او اسم جنس ته مذکر او مونث دواړه ضمیرونه راجع کېږي.

ب: د ﴿ مِنْهَا ﴾ ضمیر همدغې د ﴿ شَجَرٍ ﴾ کلمې ته راجع دی چې سماعي مونثه ده، او د ﴿ عَلَيْهِ ﴾ ضمیر هغه ماکول ته راجع دی په کوم باندې چې د ﴿ لَأَكِلُونَ ﴾ کلمه دلالت کوي او کوم چې د خوړلی شوي زقوم څخه عبارت دی.

مونږ د الله ﷻ په توفیق د ﴿ زَقُّومٍ ﴾ کلمه د حدیث په رڼا کښې د [الصافات:۶۲] ایت لاندې په پوره تشریح کړې ده چې بیا تشریح کولو ته یې اړتیا نه ګورو.

## "أَهْيَمُ" څه معنی؟

۳_ په ﴿ شُرْبَ ٱلْهِيمِ ﴾ کښې د "هِيمِ" کلمه د "أَهْيَمُ" _لکه "أَرْزَلُ"_ جمعه ده، "أَهْيَمُ" هغه تږي اوښ ته ویل کېږي کوم چې په اوبو باندې د مرض د کبله نه مړېږي[2].

نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: دوزخیان به د ډېرې سختې لوږې د مجبوریت د امله د ترخه

(۱) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۳۷۶؛ تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۹۶؛ البحر المحیط ج۱۰ ص۸۶

(۲) لسان العرب ج۱۲ ص۶۲۷؛ مفردات الراغب ص۵۴۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زقوم څخه ګېډې ډکوي او د ډېرې سختې تندې د مجبوریت د امله به په خوټېدونکو اوبو باندې داسې ورلوېږي او تېل به یې پرې جوړ کړي وي لکه ترې اوښان چې په اوبه خور باندې ورلوېږي.

﴿نَحْنُ خَلَقْنَٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُونَ ۝٥٧ أَفَرَءَيْتُم مَّا تُمْنُونَ ۝٥٨ ءَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلْخَٰلِقُونَ ۝٥٩ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ ٱلْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ۝٦٠ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ أَمْثَٰلَكُمْ وَنُنشِئَكُمْ فِى مَا لَا تَعْلَمُونَ ۝٦١ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلنَّشْأَةَ ٱلْأُولَىٰ فَلَوْلَا تَذَكَّرُونَ ۝٦٢ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ۝٦٣ ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ۝٦٤ لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَٰهُ حُطَٰمًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ ۝٦٥ إِنَّا لَمُغْرَمُونَ ۝٦٦ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ۝٦٧ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلْمَآءَ ٱلَّذِى تَشْرَبُونَ ۝٦٨ ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ ٱلْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنزِلُونَ ۝٦٩ لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنَٰهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ ۝٧٠ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلنَّارَ ٱلَّتِى تُورُونَ ۝٧١ ءَأَنتُمْ أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَآ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنشِـُٔونَ ۝٧٢ نَحْنُ جَعَلْنَٰهَا تَذْكِرَةً وَمَتَٰعًا لِّلْمُقْوِينَ ۝٧٣ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ۝٧٤﴾

[۵۷] (ای خلکو!) مونږ (په لومړي ځل) تاسو پیدا کړي یاست نو تاسو (زمونږ په بیا پیدا کولو باندې) ولې باور نه خپلوئ (چې تیاری ورته وکړئ).

[۵۸] ایا نو (مونږ ته) تاسو خبر راکړئ: هغه (نطفې) چې تاسو یې (په رحمونو کښې) اچوئ (او هلته ترې بنیادمان جوړېږي).

[۵۹] ایا تاسو د هغو څخه (بنیادمان) پیدا کوئ او که مونږ (یې ترې) پیدا کوونکي یاستو؟.

[۶۰] مونږ ستاسو ترمنځ (د) مرګ (مودې) په اندازه کړې دي حال دا چې مونږ مسبوق نه یاستو (چې څوک وړاندې شي او زمونږ ټاکلو اندازو ته تغییر ورکړي).

[۶۱] مونږ په دې باندې قدرت لرو چې (تاسو پوپنا کړو او) په بدل کښې ستاسو امثال راولو (او ستاسو په عوض ورباندې خمکه اباده کړو) او (په دې باندې هم چې) تاسو (په دوهم ځل سره) په هغه (کم او کیف) کښې پیدا کړو چې تاسو ورباندې (اوس) پوهه نه لرئ.

[۶۲] او (ای خلکو!) تاسو خو په (خپل) اول ځل پیدا کولو باندې. یقینًا علم لرئ نو تاسو ولې پند نه اخلئ (چې په دوهم ځل پیداکولو باندې هم یقین وکړئ)؟.

[۶۳] ایا نو تاسو خبر راکړئ: هغه (توخمونه) کوم چې تاسو یې کرئ.

[۶۴] ایا تاسو هغه رازرغونوئ او که مونږ (یې) زرغونوونکي یاستو؟.

[۶۵] که زمونږ اراده وشي نو هغه (توخمونه) به مونږ میده-میده (وچ کلک) وګرځوو (د زرغونېدلو صلاحیت به ترې واخلو) نو تاسو به تعجب کوونکي او حیران جوړ شئ.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۶] (او په دغه وخت کښې به وایاست چې) یقینًا مونږ هرومرو تاوان کړی شوي یاستو.

[۶۷] بلکې مونږ (د هرې ګټې څخه) بې برخې کړی شوي یاستو (چې توخم مو ضائع شو او څه حاصل لاس ته رانغی).

[۶۸] ایا نو تاسو خبر راکړئ: هغه اوبه چې تاسو یې څښئ؟.

[۶۹] ایا تاسو هغه د وریځې څخه رانښکته کړي (وروِلي) دي او که مونږ (یې) نازلوونکي (وروونکي) یاستو؟.

[۷۰] که زمونږ اراده وشي نو مونږ به دا (باراني اوبه) تروې وګرځوو، نو تاسو ولې شکر نه کوئ؟

[۷۱] ایا نو تاسو خبر راکړئ: هغه اور چې تاسو یې بلوئ (او خپلې اړتیاوې پرې پوره کوئ).

[۷۲] ایا تاسو هغه ونه پیدا کړې ده او که مونږ (یې) پیدا کوونکي یاستو؟.

[۷۳] مونږ دا (دنیاوي اوروونه د آخرت د اور دپاره) تذکره (او یادول) ګرځولي دي (چې د عبرت درس ترې واخستلی شي)، او (هم مو) په بیدیا کښې د داخلېدونکو دپاره ګټور (ګرځولي دي چې دوی ترې د نورو په نسبت ډېره ګټه اوچتوي).

[۷۴] نو (ای پیغمبره!) د خپل عظیم الشان رب نامه ته د پاکۍ نسبت کوه (او تل یې د نعمتونو شکریه کوه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د سورت د اول سر څخه تردې خایه پورې ټولو ایتونو د قیامت د ورځې پورې ارتباط درلود او په دې ایتونو کښې د قیامت په وقوع او هم د الله ﷻ په وحدانیت باندې دلایل اقامه کړی شوي دي، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې څه دلایل قرائت کړه ترڅو دوی د یو پلوه د قیامت په وقوع باندې عقیده وکړي او د بله پلوه د خپل رب ﷻ په وحدانیت باندې، نو زمونږ د پلوه یې مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ ای خلکو! تاسو په خپلو خانونو کښې څه فکر وکړئ او همدغه فکر د بعث بعد الموت په ثبوت باندې دلیل وګرځوئ، هغه دا چې: تاسو خو مونږ د نشت څخه پیدا کړي یاست نو تاسو ولې باور نه کوئ چې مونږ به تاسو د دوهم ځل دپاره د قبرونو څخه ژوندي راپورته کړو؟ ایا بیا راژوندي کول د لومړي ځل پیدا کولو څخه ګران او سخت دي؟.

۲ـ نو ای خلکو! تاسو مونږ ته خبر راکړئ چې: کومې نطفې چې تاسو یې په رحمونو کښې وراچوئ او ورغورزوئ، ایا تاسو د هغو څخه بنیادمان پیدا کوئ او که مونږ ترې د بنیادمانو (ماشومانو) پیدا کوونکي یاستو؟ ایا تاسو په همدغو نطفو کښې د ورغورزولو څخه په غیر نور څه تصرف کولی شئ؟ ایا ستاسو توان شته چې د هغو څخه بنیادمان جوړ کړئ او یا ورته نرتوب یا ښځتوب وبښئ؟.

۳ـ په دې باندې علاوه مونږ ستاسو ترمنځ تدریجي مرګ اندازه کړی او ټاکلی دی، چې څوک په یوه عمر مري او څوک په بل عمر، حال دا چې مونږ مسبوق نه یاستو چې کوم کس راڅخه

سابق «وړاندې» شي او د مړګونو په ټاکلو اندازو کښې لاسوهنه وکړي چې خینې وړاندې کړي او خینې وروسته.

۴ـ مونږ قدرت درلودونکي یاستو او په دې باندې توان لرو چې په تدریجي توګه نه بلکې په اجتماعي توګه تاسو د مرګ سره مخامخ کړو او ستاسو په عوض په نورو ستاسو غوندې بنیادمانو باندې ځمکه اباده کړو، په دې باندې هم قدرت درلودونکي یاستو چې په دوهم ځل تاسو په داسې کیفیاتو سره پیدا کړو په کومو باندې چې تاسو سمدستي علم نه لرئ بلکې هلته به ورباندې پوه شئ چې کله د همدغو کیفیاتو سره مخامخ شئ.

یا په بل عبارت: مونږ کولی شو چې په دنیا کښې تاسو په نورو خلکو باندې عوض کړو او یا په آخرت کښې ستاسو دنیاوي ژوند په بل اُخروي ژوند باندې عوض کړو. څرنګه چې مونږ هغه کار کولی شو نو ضرور دغه کار هم کولی شو، او تاسو ته د همدغه کار په کولو باندې خبر هم درکوو، نو تاسو ترې په څه وجه انکاري یاست؟.

۵ـ نو ای خلکو! تاسو په خپل اولنی پیدایښت باندې علم لرئ چې چا پیدا کړي یاست او په څه کیفیاتو یې پیدا کړي یاست، نو بیا ولې پند نه اخلئ چې په دوهم ځل پیدا کولو باندې باور او یقین وکړئ؟.

۶ـ ای خلکو! کله چې تاسو د خپل ژوند او مرګ څخه عبرت او پند نه اخلئ نو ایا د خپل زراعت څخه هم پند اخستونکي نه یاست؟ نو تاسو مونږ ته خبر راکړئ چې کوم توخمونه چې تاسو کرئ او په خاورو کښې یې پټوئ، ایا تاسو هغه رازرغونوئ او که مونږ د هغو رازرغوونکي یاستو؟ ایا تاسو په هغو کښې د کرلو څخه په غیر بل تصرف کولی شئ؟.

تاسو پکښې هیڅ نه شئ کولی بلکې دلته ټول تصرفات زمونږ په اراده صورت نیسي، نو په همدې بنیاد که زمونږ اراده وشي نو توخمونه به د ځمکې په داخل کښې میده- میده او وچ کلک کړو چې بالکل د تبغ وهلو صلاحیت ونه لري، نو په دغه وخت کښې به ستاسو حال دا وي چې:

الف: تاسو به حیران او تعجب کوونکي وګرځئ چې دغه توخمونه ولې رازرغون نه شوه؟.

ب: او په نتیجه کښې به وایاست چې یقینًا مونږ تاوان کړی شوي یاستو چې د یو پلوه مو تخمونه ضائع شوه او د بله پلوه څه حاصل لاس ته رانغی بلکې یقینًا مونږ د هر څه څخه بې برخې وګرځېدلو.

۷ـ ای خلکو! که تاسو د خپل زراعت څخه هم پند نه اخلئ نو د باران څخه خو پند واخلئ: نو په همدې بنیاد تاسو ته پوښتنه متوجه کېږي چې مونږ ته د هغو اوبو څخه خبر راکړئ کومې چې تاسو د خپلو زراعتونو په خړوبولو باندې علاوه څښئ هم، چې: ایا دغه اوبه تاسو د بل طرف څخه نه بلکې د اسمان د طرفه د وریځې څخه رانښکته کړې او وروله دي او که مونږ یې رانښکته کوونکي یاستو؟ ایا ستاسو توان شته چې یو څاڅکی اوبه د اسمانه پر ځمکې راوڅڅوئ؟.

۸ـ که زمونږ اراده وشي نو دغه باراني اوبه به مونږ تروې او تروشې وګرځوو چې د څښلو صلاحیت به پکښې پرېنږدو. که بالفرض مونږ دغه کار وکړو، نو ایا تاسو توان لرئ چې ترېوالی یې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د منخه یوسئ او خورئ (مزه ناکې) یې وګرځوئ؟.

نو کله چې نه باران کولی شئ او نه یې د تریووالې مخه نیوالی شئ نو بیا ولې د خپل رب ﷻ شکرګزاري نه کوئ چې توحیدي عقیده خپله کړئ؟.

۹ـ ای خلکو! که تاسو د باران څخه هم عبرت نه اخلئ نو ایا د هغه اور څخه هم عبرت اخستونکي نه یاست کوم چې تاسو بلوئ او خپل احتیاجات ورباندې پوره کوئ؟، یا په بل عبارت: نو ایا هغه اور چې تاسو یې بلوئ ایا تاسو د هغه ونه پیدا کړې ده او که مونږ د هغې پیداکوونکې یاستو؟

پوره واضحه ده چې دغه آتشي ونه مونږ پیدا کړې ده او هغه اور چې د همدغې ونې د دوه وو ښاخونو د موږلو د کبله راپیداکیږي هغه مونږ په دنیا کښې عبرت او پند ګرځولی دی چې خلکو ته د دوزخ اور ورپه زړه کړي ترڅو ورته تیاري ونیسي. همدارنګه مونږ دغه اور ـ چې د ونې په شنو لښتو کښې پټ دی او حمل او نقل یې په اسانۍ سره بې تکلفه صورت نیولی شي ـ د مسافرینو دپاره او د هغو خلکو دپاره نفعه او ګټه ګرځولی دی کوم چې په بیدیا او بیابان کښې واقع شي.

۱۰ـ نو کله چې ذکر شوي کارونه ټول یوازې ستا د رب ﷻ په واک کښې دي او بس، نو ای پیغمبره! د خپل لوی رب ﷻ تسبیحات وایه او پاکي ورته نسبتوه چې د خپل عالي شان او د خپل وحدانیت د اثبات دپاره یې څومره ډېر دلایل اقامه کړې دي، حال دا چې مشرکانو او کفارو ورباندې خپل خانونه ړانده او کاڼه اچولي دي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ نَحْنُ خَلَقْنَٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُونَ ﴾ کښې د "لَوْلَا" توری د تحضیض (تېزولو) دپاره دی، چې د "لِمَ لَا" معنی ورکوي[1]. او د ﴿ تُصَدِّقُونَ ﴾ کلمه متعدي ده خو مفعول یې ذکر نه دی، چې لاندې دوه احتماله درلودلی شي[2] او دواړه سره څه منافات نه لري، د بدلیت په لحاظ د دواړو اراده کول ښه کار دی هغه دا:

الف: چې د "الْخَلْق" کلمه ورته مقدره کړی شي، په کومې باندې چې په عین ایت کښې د ﴿ خَلَقْنَٰكُمْ ﴾ جمله دلالت کوي. یعنې مونږ تاسو پیدا کړي یاست نو زمونږ په پیدا کولو باندې ولې داسې باور نه کوئ چې ستاسو په عقیدې او عمل باندې مثبت اثر وکړي او د انحراف څخه یې وژغوري (په سمه لاره باندې مو سوق کړي).

ب: چې د "الْبَعْث" کلمه ورته مقدره وګڼله شي په کومې باندې چې ورانديني بحث دلالت کوونکي دي. یعنې مونږ تاسو په اول خل پیدا کړي یاست چې تاسو هم ترې انکار نه کوئ، نو په دوهم خل پیدا کولو (بعث بعد الموت) باندې ولې تصدیق او باور نه کوئ؟ ایا (ستاسو په خیال) بیا پیدا کول د لومړي خل پیدا کولو څخه سخت دي؟.

---

(۱) نظم الدرر ج۷ ص۴۱۵
(۲) د روح المعاني ج۲۷ ص۱۴۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## غوره تفسیر

۲_ د ﴿ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ أَمۡثَٰلَكُمۡ وَنُنشِئَكُمۡ فِي مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴾ ایت علماوو کرامو په متعددو دولونو سره تفسیر کړی دی[۱]، که څوک د ټولو د لوستلو شوق لري نو همغه دې مراجعه وکړي، کوم ډول تفسیر چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی هغه د الله ﷻ په توفیق په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: د ﴿ عَلَىٰٓ ﴾ توری په مقدر "نَحۡنُ ٱلۡقَٰدِرُونَ" کښې په "ٱلۡقَٰدِرُونَ" پورې تعلق نیسي.

ب: د ﴿ أَمۡثَٰلَكُمۡ ﴾ څخه نور داسې قومونه مطلب دي په کومو باندې چې د مخاطبینو غوندې خمکه اباد بدلی شي.

ج: په ﴿ فِي مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴾ کښې د "مَا" کلمه د هغو أخروي کیفیاتو څخه عبارت ده په کومو باندې چې په دنیا کښې د چا سر نه خلاصېږي، بلکې په لیدلو پورې اړه لري. د مثال په توګه:

اول: هلته ځینې خلک (کفار) په سرونو باندې تلل کوي او پښې به یې اوچتې وي.

دوهم: هلته مرګ نشته که څه هم د مهلکو حالاتو سره مخامخ شي.

دریم: هلته څوک نه زړېږي.

څلورم: هلته هر څوک لوستونکي جوړېږي او خپلې خپلې اعمالنامې پخپله لوستلی شي.

پنځم: هلته ټول اندامونه خبرې کولی شي او دغسې به ګونګان نه وي لکه چې په دنیا کښې ګونګان دي او داسې نور.

نو د ذکرو شوو ټکو په ملحوظ د ایت شریف د معنی حاصل داسې راخېژي چې: ای خلکو! مونږ په دې د قدرت درلودونکي یاستو چې تاسو ټول د منځه یوسو او په بدل (عوض) کښې ستاسو غوندې نور خلک پیدا کړو او ځمکه ورباندې اباده کړو، لکه چې د پخوانیو خلکو په عوض مو په تاسو باندې اباده کړې ده. همدارنګه مونږ د قدرت والا یاستو چې د مرګ څخه وروسته په دوهم ځل تاسو په هغو کیفیاتو سره پیدا کړو په کومو باندې چې تاسو نن ورځ نه پوهېږئ او سرونه مو پرې نه خلاصېږي.

## "تفکه" څه معنی؟

۳_ په ﴿ فَظَلۡتُمۡ تَفَكَّهُونَ ﴾ کښې د ﴿ تَفَكَّهُونَ ﴾ کلمه د "تَفَكُّه" _لکه "تَخَيُّر"_ څخه اشتقاقه شوې ده، د "تفکه" د ډېرو معناوو څخه یوه معنی "تعجب" ده[۲] چې په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما همدغه معنی خوښه کړې ده[۳].

یعنې ای خلکو! که زمونږ اراده وشي نو ستاسو کرلی شوی تخم یا نیالګی به وچ کلک او میده میده وګرځوو او د شین کېدلو صلاحت به ترې واخلو، نو بیا به تاسو په حیرانتیا سره وایاست او د

(۱) أضواء البيان ج۷ ص۷۸۸؛ تفسير ابي السعود ج۸ ص۱۹۷؛ التفسير الكبير ج۲۹ ص۱۷۹؛ زاد المسير ج۷ ص۲۸۹
(۲) لسان العرب ج۱۳ ص۵۲۴
(۳) تفسير ابن كثير ج۴ ص۲۹۶؛ الدر المنثور ج۸ ص۲۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تعجب خبرې به کوئ چې یقینًا مونږ په تاوان کښې غورزولی شوي یاستو، چې توخم او زحمت مو دواړه ضائع شوه او د کرلی شوي شي حاصل لاس ته رانغی.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې په ﴿ مِنَ ٱلْمُزْنِ ﴾ کښې د "مُزْن" کلمه خو د سپینې وریځې دپاره وضعه شوې ده[1]، حال دا چې په بل ایت کښې الله ﷻ د باران نزول د اسمان څخه ښودلی دی چې: ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ [فاطر:۲۷] یعني ته نه ګورې چې الله ﷻ د اسمانه اوبه (باران) نازل کړې دی. نو پوښتنه دا ده چې ایا د دغو دواړو ایتونو ترمنځ منافات نشته؟

مونږ وایو چې د "سَمَاء" کلمه هر هغه شي ته ویل کېږي کوم چې اوچت وي[2]، او وریځ هم اوچته ده چې د "سَمَاء" اطلاق ورباندې کېږي، نو د دواړو ایتونو ترمنځ منافات نشته، اسمان او وریځ دواړه اوچت دي.

## د "إِيْرَاء" معنی

۵ـ په ﴿ ٱلَّتِي تُورُونَ ﴾ کښې د ﴿ تُورُون ﴾ کلمه د "إِيْرَاء" ـ لکه "إِيْعَاد" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "إِيْرَاء" دېته وایي چې هغه دواړه لښتې یوه په بلې باندې وموښلی شي د کومو دواړو څخه چې اور پیدا کېږي[3].

د دغو دواړو لښتو پاسنۍ لښتې ته عربان "زند" وایي او لاندېنۍ لښته د "زنده" په نامه یادوي[4]، د همدغه اور په ارتباط د الله ﷻ په توفیق د [یس: ۸۰] ایت لاندې څه تفصیل تېر شوی دی، چې هلته یو ځل مراجعه کول ښه کار دی.

## د دواړو اورونو نسبت

۶ـ په ﴿ جَعَلْنَـٰهَا تَذْكِرَةً ﴾ کښې د ﴿ تَذْكِرَةً ﴾ کلمه دېته اشاره ده چې باید سړی د دنیاوي اور څخه عبرت واخلي او د دوزخ د اور څخه د نجات په لاره لاړ شي. او دا خکه چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «نَارُكُمْ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ »[5] یعنې ستاسو (دنیاوي) اور د دوزخ د اور د برخو څخه اویایمه برخه ده (هغه ورباندې په نهه شپېته برخو سره زیات دی).

## د "قِوَاء" معنی

۷ـ په ﴿ وَمَتَـٰعًا لِّلْمُقْوِينَ ﴾ کښې د "مُقْوِين" کلمه د افعال د باب څخه ده او اصلاً د "قِوَاء" ـ لکه

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۸۷؛ الدر المنثور ج۸ ص۲۴
(۲) لسان العرب ج۱۴ ص۳۹۸
(۳) القاموس المحیط ج۴ ص۴۸۰
(۴) تفسیر الکشاف ج۴ ص۴۹۷
(۵) صحیح البخاري ج۱ ص۴۶۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"ثِرَاءٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، د دې باب يو خاصيت دا دی چې په "مُشتق منهٗ" کښې د فاعل په داخلېدلو باندې دلالت کوي لکه چې عرب وايي: "أَتْرَبَ فُلَانٌ" يعنې فلانکی سړی په خاورو کښې داخل شو. "قِوَاءٌ" د بيابان او بيديا دپاره وضعه شوی دی[1].

نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې مونږ دا اورونه په بيديا کښې د داخلېدونکو کسانو دپاره نفعه او ګټه ګرځولي دي.

که څه هم د اور څخه ټول خلک استفاده کوي مګر شايد چې په بيديا کښې د داخلېدونکو په ذکر باندې به د دې کبله صراحت نازل شوی وي، چې دوی ترې د ښاريانو په پرتله ډېره ګټه اخلي او هم يې ورته انتقال بې تکلفه او بې خطره دی چې په خپلو بارونو کښې يې ايښودلی شي.

﴿ فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ۝٧٥ وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ ۝٧٦ إِنَّهُۥ لَقُرۡءَانٌ كَرِيمٌ ۝٧٧ فِي كِتَٰبٍ مَّكۡنُونٍ ۝٧٨ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ ۝٧٩ تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٨٠ أَفَبِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَنتُم مُّدۡهِنُونَ ۝٨١ وَتَجۡعَلُونَ رِزۡقَكُمۡ أَنَّكُمۡ تُكَذِّبُونَ ۝٨٢ ﴾

[۷۵] نو نه ده داسې (د قرآن کريم په حقانيت کښې هيڅ شک نشته)، زه د (بې شمېره) ستورو په موقعتونو باندې سوګند کوم.

[۷٦] او يقيناً دا سوګند ډېر لوی سوګند دی که تاسو پوهېږئ.

[۷۷] چې يقيناً دا (کتاب) لوستل شوی (او) د کرامت والا دی.

[۷۸] په يوه پټ ساتلی شوی کتاب (لوح محفوظ) کښې (ثبت) دی (شيطانان ورته د لاس وروړلو توان نه لري).

[۷۹] دا (لوح محفوظ) نه مسه کوي مګر هغه پرښتې (يې مسه کوي) کومې چې (د ګناهونو څخه) پاکې ساتلې شوې دي (حتی چې د ګناه استعداد هم نه لري).

[۸۰] (دا جلي وحي يا قرآن کريم) د رب العالمين د پلوه (د عالمونو د تربيت دپاره په دفعاتو سره) نازل کړی شوی دی.

[۸۱] نو (ای مشرکانو!) ايا تاسو په دغې خبرې (قرآن کريم) سره غوړمالي کوونکي (کفر غوره کوونکي) ياست؟.

[۸۲] او (ايا) تاسو (د دې قرآن کريم ګټور کتاب څخه د شکرګزارۍ) خپله برخه همدا ګرځوئ چې تکذيب يې وکړئ (او د حقانيت عقيده ورباندې خپله نه کړئ)؟.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د الله ﷻ د وحدانيت او د بعث بعد الموت دلايل نازل شوي وه، او په

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۳۵؛ لسان العرب ج۱۵ ص۲۱۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دې ایتونو کښې د قرآن کریم حقانیت او د نبي کریم ﷺ د نبوت اثبات ته اشاره کېږي. نو حاصل يې داسې راځي:

ای پیغمبره! اوس نو خپل اُمت د قرآن کریم حقانیت ته متوجه کړه چې ستا د رسالت حقانیت او ستا صداقت پکښې نغښتی دی، نو د خپل رب ﷻ د پلوه ورته ورسوه چې:

۱ـ لکه څنګه چې الله ﷻ د خپلو بندګانو دپاره د پیدا کولو څخه وروسته د مادیاتو بندوبس کړی دی او په زراعت او باران او هم د اور په پیدا کولو سره يې ورته مادي ضروریات پوره کړي دي، همدارنګه يې د دوی معنوي ضروریات هم د نظره نه دي غورزولي او د قرآن کریم په نازلولو سره يې ورپوره کړي دي.

۲ـ نو ای مشرکانو! دغسې نه ده لکه چې تاسو خیال کوئ چې قرآن کریم دروغین کتاب دی او د بنده تصنیف دی. او دا څکه چې: زه د ستورو په پرېوتلو او په راپورته کېدلو باندې سوګند کوم، او که تاسو پوهېږئ دا ډول سوګند ډېر لوی سوګند دی، چې:

الف: دا قرآن کریم دروغین کتاب نه دی چې شیطانانو او جوګیانو نازل کړی وي لکه چې تاسو خیال کوئ، بلکې دا کتاب په لوست سره نازل شوی دی او د کرامت څخه ډک دی چې د دنیا او آخرت ټولې ښېګڼې پکښې نغښتې دي (د شیطانانو او جوګیانو سره تناسب نه لري).

ب: دا قرآن کریم په یو بل عالي شان کتاب (لوح محفوظ) کښې ثبت دی او هلته پکښې ساتلی شوی دی، چې دغه عالي شان کتاب ته د پاکو پرښتو څخه په غیر بل څوک نه وروړاندې کېدلی شي او نه يې مسه کولی شي، بلکې هغه د شیطانانو څخه بالکل محفوظ دی.

هو! دا قرآن کریم د ذکر شوي عالي شان کتاب څخه پرښتو د پیغمبر ﷺ په مبارک زړه باندې رانازل کړی دی.

ج: لنډه دا چې دا قرآن کریم د رب العالمین د پلوه نازل کړی شوی دی، دا قرآن کریم نه د شیطانانو او جوګیانو سره تناسب لري او نه يې هغوی په نزول باندې خوښ دي، بلکې دا د ټولو عالمونو دپاره رحمت دی.

۳ـ ای مشرکانو! اوس نو تاسو ته لاندې پوښتنې متوجه کېږي چې:

الف: ایا تاسو په بل کتاب باندې نه بلکې په دې قرآن کریم باندې انکار کوونکي ګرځئ کوم چې تاسو ته خپل حقانیت پخپله په اثبات رسوي، چې په حقه د رب العالمین ﷻ د پلوه نازل شوی دی؟

ب: ایا تاسو د همدغه قرآن کریم څخه همدا ګټه پورته کوئ او همدا برخه ترې اخلئ چې د دروغو نسبت ورته وکړئ او د دروغین کتاب لقب ورکړئ؟.

۴ـ ای مشرکانو او کفارو! که تاسو په خپل همدغه دریغ باندې کلک پاتې شوئ او د مرګ تر وخته پورې مو خپله تګلاره سمه نه کړه، نو ډېر ژر به د پښېمانتیا سره مخامخ شئ، د قیامت ورځ ډېره نژدې راروانه ده هلته به په خپلو غلطیو باندې پوه شئ خو د دغه وخت پوهه به درته هیڅ ګټه ونه شي رسولی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ ـ په دې مقام کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ فَلَآ أُقۡسِمُ ﴾ کښې د "لا" په هکله علماء کرام په لاندې درېوو ډلو وېشلی شوي دي[۱]:

اول: دغه توری (لا) زاید دی، څه معنی نه ورکوي، ته به وایې چې "فَأُقۡسِمُ" نازل شوی دی.

خو دا نظر چندان مزناک نه دی او دا ځکه چې د امکان تر حده پورې باید د قرآن کریم په یوه کلمه باندې هم د زیادت او بې معنی توب حکم ونه کړی شي.

دوهم: دغه توری په خپل اصلیت باندې پاتې دی او فقط ملفوظه جمله منفي ګرځوي. یعنې نو زه په مواقع النجوم باندې سوګند نه کوم.

دا نظر هم کمزوری دی چې د ﴿ وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ ﴾ د تعقیب سره ظاهرًا منافي برېښي.

درېم: دغه توری په مقدره جمله باندې داخل دی او همدغه مقدره جمله یې منفي ګرځولې ده، ته به وایې چې داسې عبارت نازل شوی دی: "فَلَا رَيۡبَ فِيهِ كَمَا تَرۡتَابُونَ أُقۡسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُوم" یعنې ای مشرکانو! په دې قرآن کریم کښې هیڅ شک نشته لکه چې تاسو پکښې شک کوئ چې دا جادو دی او یا دا د بنده تصنیف دی، زه په مواقع النجوم باندې سوګند یادوم.

ب: د "مَوَاقِع" کلمه د "مَوۡقِع" جمعه ده چې د ظرف صیغه ده او د "وُقُوع" څخه یې اشتقاق موندلی دی. په عربي کلام کښې "وُقُوع" په دوه وو معناوو کښې استعمالېږي چې یو ثبوت دی او بل سقوط دی[۲]، زمونږ په خیال ـ والله ﷻ اعلم ـ په دې مقام کښې ترې لومړی معنی مرادول غوره دي ترڅو د ستورو ټولو کیفیاتو ته شمولیت ولري لکه مطالع، مغارب، مدارونه او داسې نور.

ج: د ﴿ إِنَّهُۥ لَقُرۡءَانٌ كَرِيمٌ ﴾ جمله د ذکر شوي سوګند دپاره جواب واقع شوې ده، او د ﴿كَرِيمٌ﴾ کلمه دلته مفسرینو کرامو په "کثیر النفع" سره تفسیره کړې ده[۳].

یعنې زه د بې شمېره ستورو په موقعتونو باندې سوګند کوم چې دا کتاب په لوست سره نازل شوی او ګټور کتاب دی چې د دنیا او آخرت ښېګنې پکښې نغښتې دي. یا په بل عبارت: لکه څنګه چې الله ﷻ بې شمېره ستوري او نور فلکي اجرام په ډېره ښه توګه تنظیم کړي دي همدارنګه یې د بنیادمانو د دنیاوي او اُخروي تنظیم دپاره قرآن کریم نازل کړی دی، چې هغه تنظیم د دې تنظیم پوخ دلیل دی.

همدغه مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَن يُتۡرَكَ سُدًى ﴾ [القیامة: ۳٦] یعنې ایا انسان ګومان کوي چې په ځمکه کښې به مهمل پرېښودلی شي، نه به ورته امر وکړی شي او نه به د څه شي څخه منعه کړی شي (شریعت به ورته نازل نه کړی شي)؟.

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۹۷؛ المحرر الوجیز ج۱۵ ص۳۸۳؛ تفسیر ابي السعود ج۸ ص۱۹۹
(۲) مفردات الراغب ص۵٦۷
(۳) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۲۰۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: په ﴿فِى كِتَٰبٍ مَّكۡنُونٍ﴾ کښې د ﴿كِتَٰبٍ﴾ کلمه په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضی الله عنهما په لوح محفوظ سره تفسیره کړې ده[1]. یعنې قرآن کریم په لوح محفوظ (پټ ساتلې شوي کتاب) کښې دی چې شیطانان او جوګیان ورته د لاس وروړلو توان نه لري.

ه: د ﴿لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ﴾ ایت د ﴿فِى كِتَٰبٍ مَّكۡنُونٍ﴾ ایت دپاره تفصیل واقع شوی دی، او د ﴿ٱلۡمُطَهَّرُونَ﴾ څخه پرښتې مطلب دي[2] کومې چې الله ﷻ د ګناهونو څخه پاکې ساتلې دي بلکې د ګناه کولو استعداد یې نه دی ورکړی. عبد الله ﷺ عباس رضی الله عنهما هم د ﴿ٱلۡمُطَهَّرُونَ﴾ کلمه په پرښتو سره تفسیره کړې ده[3].

و: په دغو دواړو ایتونو کښې د مشرکانو هغه طعن رد شوی دی کوم به چې هغوی په قرآن کریم باندې لګاوه چې دا د جوګیانو قول دی او شیطانانو په محمد ﷺ باندې نازل کړی دی.

نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای مشرکانو! دغسې نه ده لکه څنګه چې تاسو د قرآن کریم په هکله خیال کوئ چې دا شیطانانو او جوګیانو نازل کړی دی، بلکې حقیقت دا دی چې دا قرآن کریم په بل خای کښې نه بلکې په لوح محفوظ کښې پټ ساتلی شوی دی چې شیطانان او جوګیان هغه ته لاس نه شي وروړی، هغه نه مسه کوي مګر پرښتې چې د ګناهونو او بې اطاعتۍ څخه پاکې ساتلی شوي دي، نو د همدغو پاکو پرښتو په لاس د رب العالمین د پلوه په محمد ﷺ باندې نازل شوی دی.

ز: همدغه مضمون ته په لاندې ایتونو کښې هم اشاره شوې ده:

اول: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿وَمَا تَنَزَّلَتۡ بِهِ ٱلشَّيَٰطِينُ ۝ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُمۡ وَمَا يَسۡتَطِيعُونَ﴾ [الشعراء: ۲۱۰، ۲۱۱] یعنې دا قرآن کریم (په نبي کریم ﷺ باندې) شیطانانو نه دی نازل کړی او نه هغوی د دې کار توان درلودلی شي، بلکې نه ورسره مناسبت او تناسب لري چې دا کار وکړي.

دوهم: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ۝ مَّرۡفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍۭ ۝ بِأَيۡدِى سَفَرَةٍ ۝ كِرَامِۭ بَرَرَةٍ﴾ [عبس: ۱۳ _ ۱٦] یعنې دا قرآن کریم په مکرمو اوچتو پاکو ساتلو شوو صحیفو کښې د داسې پرښتو په لاس (لیکلی شوی) دی چې د کرامت والا (او هم) د اطاعت والا دي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: ځینو مفسرینو کرامو د ﴿لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ﴾ ایت شریف د لاندې ټکو په ملحوظ تفسیر کړی دی، او متعدد احکام یې ترې استنباط کړي دي[4].

الف: د ﴿لَّا يَمَسُّهُۥٓ﴾ جمله که څه هم خبر ده خو د "نهي" معنی ورکوي او ضمیر (ه) پکښې "کتاب"

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۲۲۴؛ تفسیر الخازن ج۶ ص۱٦٦
(۲) تفسیر القاسمي ج۱٦ ص۲۰
(۳) الدر المنثور ج۸ ص۲٦
(۴) تفسیر المظهري ج۹ ص۱۸۱؛ احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۴۱٦؛ تفسیر القاسمي ج۱٦ ص۲۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته راجع نه دی چې قریب ذکر دی بلکې "قرآن" ته راجع دی چې بعید ذکر دی.

ب: د ﴿ ٱلْمُطَهَّرُونَ ﴾ څخه هغه مؤمنان مراد دي کوم چې بې اودسه او جنب نه وي او هم د نفاس او حیض په حالت کښې نه وي.

ج: د "قُرآن" څخه مصحف مطلب دی. یعنې هیڅوک دې دغه قرآن کریم ـ چې په صحیفو او پاڼو کښې لیکلی شوی دی ـ نه مسه کوي او لاس دې نه ور وړي مگر هغه کسان کوم چې د جنابت او بې اودسۍ څخه پاک وي. اما قرائت یې په بې اودسۍ سره جائز دی، نه په جنابت سره.

نو پوښتنه دا ده چې: په څه وجه تاسو دغه ډول تفسیر پرهښود؟

مونږ وایو چې: کوم تفسیر چې مونږ غوره کړی دی هغه غوره او جید تفسیر دی[1]، چې د وړاندې بېرته ایتونو سره ډېر ښه تړاو لري او د غیرو متبادرو ټکو ارتکاب پکښې نشته. اما کوم أحکام چې هغوی د ایت شریف څخه د ذکرو شوو ټکو په ملحوظ استنباط کړی دی هغه ثابت دي خو په ایت شریف نه، بلکې په احادیثو سره. د ښه وضاحت دپاره لاندې آحادیث ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تُسَافِرُوا بِالْقُرْآنِ فَإِنِّي لَا آمَنُ أَنْ يَنَالَهُ الْعَدُوُّ»[2] یعنې تاسو په قرآن کریم (مصحف) سره (د دښمن ځمکې ته) سفر مه کوئ ځکه چې یقینًا زه په آمن کښې نه یم چې دښمن به یې ترلاسه کړي (حال دا چې هغوی نجس دي).

دوهم: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى أَنْ يُسَافَرَ بِالْقُرْآنِ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ»[3] یعنې یقینًا رسول الله ﷺ منعه کړې ده چې د دښمن ځمکې ته په قرآن کریم سره سفر وکړی شي.

دریم: «كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَقْضِي حَاجَتَهُ ثُمَّ يَخْرُجُ فَيَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَأْكُلُ مَعَنَا اللَّحْمَ»[4] یعنې رسول الله ﷺ وه چې خپل انساني حاجت به یې اداء کړ بیا به (د بیت الخلاء څخه) راووت نو قرآن کریم به یې لوست او زمونږ سره به یې غوښه خوړه.

څلورم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تَقْرَأُ الْحَائِضُ وَلَا الْجُنُبُ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ»[5] یعنې نه دې حائضه ښځه د قرآن کریم څخه څه شی قرائت کوي او نه جنب کس.

## دوه لغتونه

۳ـ په ﴿ أَنتُم مُّدْهِنُونَ ﴾ کښې د ﴿مُّدْهِنُونَ﴾ کلمه د "إِدْهَان" ـ لکه "إِكْرَام" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د غوړولو معنی ورکوي[6]، خو په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما غوړول د تکذیب

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۹۸
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۱۳۱
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۴۲۰
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۱۸۲
(۵) جامع الترمذي ج۱ ص۳۴
(۶) لسان العرب ج۱۳ ص۱٦۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه کنايي اخلي[۱] او په ﴿ وَتَجْعَلُونَ رِزْقَكُمْ ﴾ کښې د "رزق" د کلمې معنی خو معلومه ده چې د روزۍ دپاره وضعه شوي ده خو د نصيب (برخې) په معنی هم استعمالېږي[۲]، خو په دې مقام کښې نبي کريم ﷺ په شکر سره تفسيره کړې ده[۳].

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: اى مشرکانو! ايا تاسو په بله خبره نه بلکې په دغې خبرې (قرآن کريم) باندې تکذيب کوونکي ياست؟ ايا تاسو ته مناسبه ده چې تکذيب يې وکړئ حال دا چې په اعجاز سره د خپل ځان حقانيت پخپله په اثبات رسوي. ايا تاسو د دې قرآن کريم څخه ـ چې عالي شان نعمت دى ـ همدا ګټه پورته کوئ چې په دوامداره توګه يې تکذيب کوئ؟! ايا د دغه نعمت شکريه ستاسو د پلوه همدا ده چې د دروغين کتاب لقب ورکړئ؟

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: په ﴿ أَنتُم مُّدْهِنُونَ ﴾ کښې په ﴿ أَنتُم ﴾ سره خو مشرکان مخاطب ګرځولى شوي دي حال دا چې په ځينو روايتونو کښې شته چې دغه آيتونه د هجرت څخه وروسته د باران په ارتباط نازل شوي دي[۴] چې ځينو خلک ستورو ته نسبتول؟

مونږ وايو چې سلفو صالحينو په مصداق باندې د شان نزول اطلاق کاوه[۵]، نو څه لرې نه ده چې د هجرت څخه وروسته د ايتونو يوه مصداق تحقق موندلى وي، خو په دې معنی سره نه چې ستورو ته د باران نسبت کوونکي مشرکان وه بلکې په دې معنی چې دغه ډول عمل د مشرکانو عمل ته ورته دى چې د قرآن کريم ناشکري کوي او بنده ته يې نسبتوي چې دا بشري دروغين کتاب دى.

﴿ فَلَوْلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلْحُلْقُومَ ﴿٨٣﴾ وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَـٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ﴿٨٥﴾ فَلَوْلَآ إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرْجِعُونَهَآ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ ﴿٨٧﴾ فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ ﴿٨٩﴾ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنْ أَصْحَـٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿٩٠﴾ فَسَلَـٰمٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَـٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿٩١﴾ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُكَذِّبِينَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٩٣﴾ وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ ﴿٩٤﴾ إِنَّ هَـٰذَا لَهُوَ حَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴿٩٥﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٩٦﴾ ﴾

[۸۳] نو ولې (نفس بېرته نه ستنوئ البته) کله چې ستونې ته ورسېږي؟.

[۸۴] حال دا چې تاسو ورته په دغه وخت کښې ګورئ.

---

(۱) الدر المنثور ج۸ ص۲۸، المحرر الوجيز ج۱۵ ص۳۸۸
(۲) مفردات الراغب ص۱۹۹
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۵
(۴) صحيح مسلم ج۱ ص۵۹، اسباب النزول للواحدي ص۲۷۰
(۵) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷، تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸۵] حال دا چې مونږ مرګوني کس ته (په علم او قدرت سره) له تاسو څخه ډېر ورنږدې یاستو (چې د زړه په حالاتو یې هم خبر یو) مګر تاسو بصیرت (د زړه سترګې) نه لرئ (چې زمونږ په نږدېکت باندې پوه شئ).

[۸۶] نو ولې، که چرته تاسو حساب کړی شوي (او مبعوث کړی شوي) نه یاست.

[۸۷] دغه نفس (روح) بېرته نه ستنوئ؟ که چرته تاسو (په خپل قول کښې) ریښتیني یاست (نو بېرته یې ستون کړئ).

[۸۸] نو هر چې (مړ شوی کس دی) که چرته هغه (د الله ﷻ په نزد) د مقربینو څخه وي.

[۸۹] نو (وروسته له مرګه ورته) راحت او خوشبویه (جنتي) کشمالي او د نعمتونو جنت دی.

[۹۰] او هر چې (مړ شوی کس دی) که چرته هغه د ښي لاس د ملګرو څخه وي.

[۹۱] نو (ورته به وویلی شي چې) تا لره سلامتیا ده (ځکه چې ته) د ښي لاس (یا ښي طرف) د ملګرو (د جملې) څخه یې.

[۹۲] او هر چې (مړ شوی کس دی) که چرته هغه د دروغو نسبت کوونکو ګمراهانو څخه وي.

[۹۳] نو (ده لره) د خوټېدونکو اوبو څخه مېلمستیا (تپاکلې شوې) ده.

[۹۴] او (هم ورته) سوزوونکی اور ته ورداخلول (مقرر شوي) دي.

[۹۵] یقینًا دغه (ذکر شوی بیان) هرومرو هغه حق دی کوم چې یقین دی (او هیڅ شک او شبه پکښې نشته).

[۹۶] نو (ای پیغمبره!) خپل لوی رب ﷻ ته (په دوامداره توګه) پاکي نسبتوه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

دا ایتونه د وړاندېنیو ایتونو په تعقیب د تفریع په توګه نازل شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د توحید او نبوت او هم د بعث بعد الموت د دلایلو څخه وروسته مشرکان مخاطب کړه چې:

۱ـ ای مشرکانو! کله چې تاسو په قرآن کریم باندې تکذیب کوونکي یاست او د دغه عظیم الشان نعمت ناشکري مو خپله کړې ده نو تاسو ته پوښتنه متوجه کېږي چې:

الف: کله چې ستاسو یو کس د مرګ په حالت کښې قرار ولري او سا (روح) یې مرۍ (ستوني) ته رسېدلې وي چې په سات ګړۍ کښې د دنیا څخه جدا کېدونکی وي، نو تاسو یې ولې د مرګ څخه نه بچ کوئ چې سا (روح) یې په بدن کښې بېرته خوره کړئ؟.

ب: په دغه وخت کښې تاسو نوموړی کس ګورئ چې د څومره مشکلاتو سره مخامخ دی نو د دغو مشکلاتو مخه یې ولې نه نیسئ؟.

ج: نوموړي ته مونږ ستاسو څخه ډېر نږدې یاستو چې باطني مشکلات یې راته هم معلوم دي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او په زره باندې يې هم علم لرو او هم مو د نوموړي روح (سا) ستوني ته راپورته کړې او رسولې ده، خو تاسو بصيرت نه لرئ چې زمونږ کامل علم او کامل قدرت د زړه په سترګو وګورئ او عبرت ترې واخلئ:

د: لنډه دا چې که چرته تاسو د مرګ څخه وروسته د خپلو کړو وړو د جزا سره مخامخ کېدونکي نه یاست او که چرته تاسو په همدغې خپلې خبرې کښې رښتيني یاست نو تاسو د خپل دوست روح "سا" په بدن کښې ولې بېرته نه خوروئ؟ او ولې مو پرېښې دی چې د آخرت په لور په ناليدلي لار باندې سفر پیل کړي؟.

ای مشرکانو! تاسو ته په کار دي چې د ذکر شوي مثال څخه لاندې مطالب ترلاسه کړئ:

اول: دغه کس ته الله ﷻ روح ورکړی وه (تاسو نه وه ورکړی)، اوس الله ﷻ اراده کړې ده چې په همدغه وخت کښې يې ترې بېرته واخلي، ايا تاسو يې د بېرته اخستلو په وړاندې خنډ جوړېدلی شئ؟.

دوهم: لکه څنګه چې تاسو د نوموړي څخه د مرګ مخه نه شئ نيولی همدارنګه تاسو خپل خانونه هم د مرګ څخه نه شئ بچ کولی.

درېیم: الله ﷻ کولی شي چې د نوموړي روح بېرته په بدن کښې خور کړي خو دنيا د ابدي ژوند ځای نه دی ځکه دغه کار نه کوي.

څلورم: لکه څنګه چې الله ﷻ په دنيا کښې د روح په بېرته ستنولو باندې قادر دی په دې باندې هم قدرت لري چې د وتلو څخه وروسته يې د دوهم ځل دپاره په بدن کښې داخل کړي او بيا يې ورباندې ژوندي کړي.

پنځم: لکه څنګه چې په دغه حالت کښې هيڅوک نه شي کولی چې د خپل روح او يا د بل چا د روح مخه ونيسي چې د بدن څخه بهر شي، همدارنګه د همدغه وتلي روح مخه هيڅوک نه شي بندولی چې د دوهم ځل دپاره د الله ﷻ په اراده خپل بدن ته داخل شي. او خپل بدن بيا ژوندی کړي چې محاسبې ته يې ودروي.

۲_ ای پيغمبره! خلکو ته دا هم ابلاغ کړه چې کله د دنيا ژوند ختم شي نو سمدستي به هلته د مړو شوو کسانو څخه لاندې درې ګروپونه تشکيل کړی شي:

الف: هر هغه مړی به هلته اول نمره او مقرب وي کوم چې په دنيا کښې د اول نمرګۍ ژوند تېر کړی وي، نو هغه ته به د اول نمرګۍ جزا ورکړی شي هغه دا چې: هغه به هلته په کامل راحت کښې وي چې نه به ورباندې غم ورځي او نه به ورته د کومه پلوه ډار متوجه وي، او هغه ته به جنتي خوشبويه کشمالې ورکړی شي. او هم به ورته د نعمتونو جنت ورعنايت کړی شي چې د هر ډول نعمتونو به پکښې پرېمانې وي.

ب: که همدغه روح قبض کړی شوی د دوهم نمره ګانو څخه او د ښي لاس ملګري وي نو هغه به د پرښتو د پلوه مخاطب کړی شي چې: په تاباندې سلامتيا ده په راتلونکي وخت کښې تاته به هيڅ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ډول مشکل نه پېښېږي، ته زمونږ د پلوه بشارت قبول کړه چې ته د أصحاب اليمين د ډلې څخه شمېرلی شوي يې.

ج: او که دغه روح قبض کړی شوی د تکذيب کوونکو او ګمراهانو څخه وي نو هغه به ضرور د سختو مشکلاتو سره مخامخ شي. د مثال په توګه: هغه ته به د ګرمو او خوټېدونکو اوبو مېلمستيا ورکړی شي چې دغه ستا څښاک دی، او هم به سوزوونکي اور ته داخل کړی شي چې دغه ستا ابدي استوګنځای دی.

۳_ ای پيغمبره! بې شکه ذکر شوی بيان هرومرو يقيني او د واقع سره مطابق دی، هيڅ شک او شبه پکښې موجوديت نه لري. خو د دې سره-سره پرې مشرکان او کفار باور نه خپلوي او ورته دروغ برېښي.

نو ته د دغو ګمراهانو او تکذيب کوونکو په پوچو ويناوو باندې ډېر مه متاثر کېږه او په دوامداره توګه خپل عظيم الشان رب ﷻ ته تسبيحات وايه او د هغو أقوالو څخه ورته پاکي نسبتوه په کومو باندې چې هغوی خولې ښوروي او ورپورې يې تپي.

## توضيحات

۱_ په دې مقام کښې مفسرينو کرامو متعدد تحليلونه کړي دي[۱] خو کوم تحليل چې پکښې مونږ ته غوره برېښي هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: د ﴿ فَلَوْلَآ ﴾ توری د تحضيض (تېزولو) دپاره دی او په يوه مقدره جمله باندې داخل دی چې مونږ ترې په "ترجعون النَّفْس" سره تعبير کولی شو.

ب: په ﴿ إِذَا بَلَغَتِ ﴾ کښې د "إذَا" توری په همدغې مقدرې جملې پورې تعلق نيسي، او مستتر ضمير پکښې د "النَّفْس" کلمې ته راجع دی کوم چې په مقدره جمله کښې مفعول واقع شوی دی.

ج: د ﴿ ٱلْحُلْقُومَ ﴾ کلمه د "حَلْق" _لکه "ضَرْب"_ د کلمې سره مرادفه ده او د هغه ځای نوم دی په کوم باندې چې خوراک او څښاک ګېډې ته وربښکته کېږي[۲] چې په پښتو کښې ورته مونږ "ستونی" وايو.

د: د ﴿ وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ ﴾ جمله د ﴿ بَلَغَتِ ﴾ د ضمير څخه اولنی حال واقع شوې ده او د ﴿ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ﴾ جمله ترې دوهم حال ده.

هـ: په دوهم حال کښې د ﴿ إِلَيْهِ ﴾ ضمير هغه کس ته راجع دی د کوم سا چې ستوني ته رارسېدلې وي او مرګونی وي چې د ﴿ ٱلْحُلْقُومَ ﴾ کلمه ورباندې دلالت کوي.

و: دوهم: ﴿ فَلَوْلَآ ﴾ توری اصلاً په ﴿ تَرْجِعُونَهَآ ﴾ باندې داخل دی خو د ﴿ إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴾ کلمات ترې د ايتونو د اختتام د يو رنګوالي دپاره راوړاندې کړی شوي دي.

(۱) الکشاف ج۴ ص۴۷۰؛ تفسير المظهري ج۹ ص۱۸۴، روح المعاني ج۲۷ ص۱۵۹، اللباب في علوم الکتاب ج۱۸ ص۴۴۲
(۲) لسان العرب ج۱۰ ص۵۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ز: دغه جمله "فَلَوْلَا تَرْجِعُونَهَا" د هغې جملې دپاره تاکید واقع شوې ده د کومې چې وړاندې کوچنۍ برخه ﴿ فَلَوْلَآ ﴾ مذکوره ده او غټه برخه "تَرْجِعُونَ النَّفْسَ" يې مقدره ده.

ح: د ﴿ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴾ کلمه په دې مقام کښې مفسرينو کرامو په "غَيْرَ مُحَاسِبِينَ" او "غَيْرَ مَمْلُوكِينَ" سره تفسيره کړې ده[1].

ط: د دغو دواړو شرطيه جملو ﴿ إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴾ او ﴿ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ دپاره تنازع په توګه جزائيه جمله مقدره ده په کومې باندې چې د ﴿ تَرْجِعُونَهَآ ﴾ مذکوره جمله دلالت کوي، چې مونږ ترې په "ارْجِعُوهَا" سره تعبير کولی شو.

نو پورتنيو ټکو ته په پام سره به د ايتونو د معنی حاصل داسې راوخيږي چې: نو ای مشرکانو! تاسو د مرګوني کس روح ولې بېرته نه ستنوئ البته کله چې د هغه روح ستونې ته ورسيږي او وتلو ته نژدې شي حال دا چې په دغه وخت کښې تاسو د نوموړي ظاهري حالات په غړولو سترګو ګورئ چې د څومره مشکلاتو سره مخامخ دي، او حال دا چې مونږ په علم او قدرت سره نوموړي ته ستاسو څخه ډېر نژدې ياستو چې باطني او قلبي مشکلات يې هم ګورو، مګر تاسو يې نه د سر په سترګو ګورئ او نه يې د زړه په سترګو کتلی شئ چې عبرت ترې واخلئ.

لنډه دا چې نو تاسو د مرګوني کس روح ولې بېرته بدن ته نه ستنوئ؟ که چرته تاسو (په خپل ګومان) غير محاسبين ياست چې حساب کتاب درسره نه کيږي (او د چا مملوکين نه ياست)، او هم که چرته تاسو په خپله همدغې وينا کښې رښتيني ياست چې تاسو به د محاسبې دپاره مبعوث نه کړی شئ، نو د ذکر شوي کس روح بېرته بدن ته ورتاو کړئ. ايا تاسو دا کار کولی شئ؟ کله چې دا کار نه شئ کولی او د مرګوني سړي روح بېرته بدن ته نه شئ ورستنولی نو معلومه شوه چې تاسو د بيا راژوندي کېدلو مخه هم نه شئ نيولی چې د دوهم ځل دپاره په خپل بدن کښې ورداخل شي او پکښې خور شي.

## د "رَوح" او "رَيحان" معناوې

۲ـ په ﴿ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ ﴾ کښې د "رَوْحٌ" کلمه د راحت او اسودګۍ معنی ورکوي[2]، او د "رَيْحَانٌ" کلمه خو څرګنده ده چې د خوشبويه نبات (کشمالي) معنی لري. دغه دواړه کلمې په ترتيب سره په لاندې احاديثو کښې ښې پوره تفسيرې شوې دي چې:

الف: يوه ورځې په نبي کريم ﷺ باندې يوه جنازه تېره کړی شوه نو وې فرمايل چې: «مُسْتَرِيحٌ أَوْ مُسْتَرَاحٌ مِنْهُ»[3] يعنې دغه مړی چې تېر کړی شو يا مستريح دی چې د دنيا د مشقتونو څخه خلاص شو او د الله ﷻ رحمت ته وصل شو که مومن وي، او يا د ده څخه بندګان او ښارونه او همدارنګه

---

(۱) تفسير الطبري ج۲۷ ص۲۱۰؛ المحرر الوجيز ج۱۵ ص۳۹۱؛ زاد المسير ج۷ ص۲۹۶

(۲) لسان العرب ج۲ ص۴۵۸

(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۹٦۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ونې او څاروي په راحت کښې شوه که کافر وي او ظالم وي.

ب: نبي کريم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمايلي دي چې: «...مَعَهُمْ كَفَنٌ مِنْ أَكْفَانِ الْجَنَّةِ وَحَنُوطٌ مِنْ حَنُوطِ الْجَنَّةِ»[1] يعنې مؤمن بنيادم ته د ځنکدن په حالت کښې پرښتې ورځي چې د جنت کفنونو څخه یو کفن ورسره وي او هم ورسره د جنت د خوشبویه شیانو څخه څه خوشبویه شیان وي، نو کله یې چې د بدن څخه روح جدا شي نو سمدستي یې په دغو کفنونو او دغو خوشبویه شیانو کښې ونغاړي.

## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې په ﴿ حَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴾ کښې د اضافت په ملحوظ مفسرينو کرامو ګڼ شمېر احتمالات ليکلي دي[2]، خو بهتره يې دا برېښي چې دغه بياني إضافت وي. يعنې يقيناً ذکر شوی بيان هرومرو هغه حق دی کوم چې يقين دی چې په هيڅ وجه پکښې نه شک شبه شتون لري او نه يې پکښې د شتون امکان شته.

## دوه حديثونه

۴ـ د ﴿ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴾ الآية- په ارتباط د ډېرو احاديثو څخه لاندې دوه حديثونه ولولئ:

الف: يو صحابي ﷺ وايي چې: کله ذکر شوی ایت شریف نازل شو نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «اجْعَلُوهَا فِي رُكُوعِكُمْ»[3] يعنې دغه ايت په خپلو رکوع کښې وګرځوئ (سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ پکښې ووایاست). او چې کله ﴿ سَبِّحِ ٱسْمَ رَبِّكَ ٱلْأَعْلَى ﴾ [الأعلى: ١] نازل شو نو نبي کريم ﷺ أمر وکړ چې چې دا په خپله سجوده کښې وګرځوئ ("سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى" پکښې ووایاست).

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «كَلِمَتَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ»[4] يعنې دوه کلمې دي چې ډېر مهربان الله ﷻ ته محبوبې دي، په ژبه باندې دواړه سپکې (اسانې) دي او (د قيامت په ورځ) په تله کښې درنې دي، هغه دا چې: "سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ".

د "الْوَاقِعَة" سورت ترجمه او تفسير په پښتو ژبه د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

اللهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِيْنَ رَضِيْتَ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْكَ.

۱۴۲۴/۱۲/۲ هـ ق - ۱۳۸۲/۱۱/۳ هـ ش.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۴۱۳

(۲) التفسير الكبير ج۲۹ ص۲۰۴؛ تفسير القرطبي ج۱۷ ص۲۳۴؛ المحرر الوجيز ج۱۵ ص۳۹۴

(۳) سنن ابن ماجه ص۶۳

(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۲۹

# الحديد (٥٧)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

۱ـ د دې سورت "اَلْحَدِيْد" نوم دی او دا نوم ورته د همدې سورت د [۲۵] ايت څخه اخستلی شوی دی، نو په همدغه نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا کړی شوی دی.

۲ـ د دې سورت د ايتونو او کلماتو او هم د حروفو شمېر په لاندې ډول دی[۱]:

الف: ټول ايتونه يې نهه ويشت (۲۹) دي.

ب: ټول کلمات يې پنځه سوه او څلور څلوېښتو (۵۴۴) ته رسېږي.

ج: ټول حرفونه يې دوه زره څلور سوه او شپږ اويا (۲۴۷۶) دي.

۳ـ که څه هم د دې سورت په مدنيتوب کښې څه اختلاف شته مګر د جمهورو مفسرينو کرامو په نزد دا سورت مدني سورت دی او د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی[۲].

## د دې سورت محتويات

۴ـ هيڅوک د سورتونو محتويات د تحديد په توګه نه شي ښودلی، خو مونږ د دې سورت د محتوياتو لاندې مثالونو ته اشاره کوو:

الف: په لومړنيو ايتونو کښې يې الله ﷻ تقريبًا د خپلو شلو صفاتو اجمالي بيان نازل کړی دی.

ب: په دې سورت کښې په سَبِيلِ الله مالي او ځاني جهادونو باندې زيات ترغيب نازل شوی دی.

لنډه دا چې په هغه سورت کښې د قيامت د ورځې په بيان باندې ټينګار وه او په دې سورت کښې همدغې ورځې ته په تياري نيولو باندې ډېر زور اچولی کېږي چې د تياري نيولو ډېره مهمه لاره يې جهاد دی، برابره خبره ده چې په مالونو سره وي او که په نفسونو سره، نو د همدغه تناسب د کبله دا سورت د هغه سورت په تعقيب ايښودلی شوی دی، والله ﷻ اعلم.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ۝ هُوَ ٱلۡأَوَّلُ وَٱلۡأٓخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلۡبَاطِنُۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ۝ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۚ يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۖ وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ۝ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ

[۱] تفسير الخازن ج۶ ص۱۷۱

[۲] روح المعاني ج۱۷ ص۱۶۴؛ تفسير القاسمي ج۱۶ ص۳۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَٱلْأَرْضِ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ۝ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ ۚ وَهُوَ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ۝ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] خاص الله ﷻ ته هغه مخلوقات د پاکۍ نسبت کوي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې موجود دي، او همدی ﷻ د ګلکي ارادې (او) د حکمت څښتن دی.

[۲] خاص الله ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو واکداري (ثابته) ده، ژوندي کول کوي او مړه کول کوي، او همدی ﷻ په هر شي باندې د ښه قدرت خاوند دی.

[۳] الله ﷻ (د ټولو موجوداتو څخه) اول دی (چې ازلي دی او ابتداء نه لري)، او (هم د ټولو څخه) اخر دی (چې ابدي دی او انتهاء نه لري)، او (د وجود په لحاظ په دلایلو سره) پوره څرګند دی او (د اقدس ذات په لحاظ بالکل) پټ دی (چې هيڅوک ورباندې علم نه لري)، او (بالآخره) الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت درلودونکی دی.

[۴] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې اسمانونه او ځمکې يې په شپږو ورځو کښې پيدا کړي دي بيا يې په عرش (العظيم) باندې (د خپل شان سره مناسبه) استواء کړې ده.

الله ﷻ په هغه ټولو شيانو باندې پوهېږي کوم چې په ځمکه کښې ننوځي او په هغو شيانو باندې هم کوم چې د ځمکې څخه وځي، او په هغو شيانو باندې هم کوم چې د اسمان څخه رابښکته کېږي او په هغو شيانو باندې هم کوم چې پکښې پورته کېږي.

او په هر ځای کښې چې تاسو یاست (په علم او قدرت سره) الله ﷻ تاسو سره دی.

او الله ﷻ په هغه شي سره ښه پوره ليدونکی (بينا) دی کوم چې تاسو يې کوئ.

[۵] خاص الله ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو واکداري (پاچاهي) ده، او خاص الله ﷻ ته ټول کارونه ورګرځولی کېږي (يوازې همدی ﷻ به پکښې فيصله کوي).

[۶] الله ﷻ شپه په ورځ کښې ننباسي او ورځ په شپه کښې ننباسي (چې څه برخې يې سره تبادله کوي)، او الله ﷻ په هغو (حالاتو باندې) پوه دی کوم چې د سينو خاوندان دي (او په زړونو کښې تېرېږي راتېرېږي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنی سورت (الْوَاقِعَة) په تسبيح باندې ختم شوی وه چې ای پيغمبره د خپل رب ﷻ تسبيحات وايه، او په دې ايتونو کښې د همدغه ارشاد وجې ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځيږي چې:

ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته په خپل أمت باندې د خپل رب ﷻ د عالي صفاتو څه برخه قرائت کړه هغه دا چې:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ هغه ټول مخلوقات د الله ﷻ تسبیحات وایي او پاکي ورته نسبتوي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې موجودیت لري، حتی کفار هم بلا اختیاره ورته د پاکۍ نسبت کوونکي دي خو یوازې د هغو تسبیحاتو ویوونکي نه دي په کومو باندې چې مکلفیت لري نو ځکه ورسره په عبادت کښې په شرک باندې معتقد دي.

۲_ الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی نو هیڅ شی یې د ارادې په وړاندې ځنډ نه شي واقع کېدلی، خو د دې سره-سره د حکمت څښتن هم دی چې هر کار یې د حکمت په بنیاد صورت نیسي.

۳_ فقط په الله ﷻ پورې د اسمانونو او ځمکو واکدارې اختصاص لري چې د همده ﷻ څخه په غیر پکښې هیڅوک تصرف نه شي کولی، نو ایجاد او اعدام هم همده ﷻ پورې مختص دی.

۴_ ژوندي کول او مړه کول یوازې د همده ﷻ په اختیار کښې دي او بس، چې د قیامت تر ورځې پورې همدغه سلسله په مخلوقاتو کښې جاري ساتي، بلکې همدی ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت خاوند دی.

۵_ الله ﷻ د ټولو موجوداتو څخه اول دی چې ازلي دی، او همدارنګه د ټولو موجوداتو څخه اخر دی چې زوال ورباندې نه ورځي او ابدي دی.

۶_ الله ﷻ پوره څرګند دی چې ټول مخلوقات یې په موجودیت باندې دلالت کوي، او د ټولو مخلوقاتو څخه پټ دی چې د هیچا د عقل لاندې نه راځي او هیڅوک ورباندې علمي احاطه نه شي کولی، بلکې مخلوقات یې فقط د صفاتو په هغې اندازې باندې پېژاندلی شي کومه چې ورته همده ﷻ ښودلې ده او بس. خو د دې سره-سره الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی. یا په بل عبارت: الله ﷻ د مخلوقاتو څخه پټ دی خو مخلوقات د ده ﷻ څخه پټ نه دي او ټول ورته معلوم دي.

۷_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ټول اسمانونه او ځمکې یې په شپږو ورځو کښې پیدا کړې دي چې همداسې یې ورته اراده شوې وه، او بیا یې په عرش العظیم باندې إستواء وکړه، څنګه چې ورسره مناسبه وه او څنګه چې ورسره مناسبه ده.

۸_ الله ﷻ په هغو ټولو مخلوقاتو باندې پوهېږي کوم چې روزمره په ځمکه کښې ننوځي او په هغو ټولو مخلوقاتو باندې هم پوهېدونکی دی کوم چې د ځمکې څخه په دوامداره توګه راوځي، د همده ﷻ څخه په غیر بل هیڅوک دغــې شامل علم نه لري.

۹_ همدارنګه الله ﷻ په هغو ټولو شیانو باندې پوهېږي کوم چې روزمره د اسمان څخه راښکته کېږي او په هغو باندې هم د پوهې درلودونکی دی کوم چې اسمان ته ور اوچتېږي او کوم چې په اسمانونو کښې د یوه اسمان څخه بل اسمان ته پورته کېږي.

۱۰_ الله ﷻ په عرش العظیم باندې د خپل اقدس ذات سره مناسبه إستواء کړې ده، خو د دې سره-سره تاسو چې په هر ځای کښې یاست الله ﷻ د علم او قدرت په ملحوظ درسره دی چې نه ترې پټېدلی شئ او نه یې د قدرت څخه وتلی شئ؛ نو په همدې بنیاد الله ﷻ د هغو ټولو کارونو لیدونکی دی کومو ته چې تاسو عملي بڼه ورکوئ او هغه ټول ګوري.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱۱_ د اسمانونو او ځمکو ټوله واکداري الله ﷻ پورې اختصاص لري او بل هيڅوک پکښې واکداري نه شي کولی، نو د همدې کبله ټول کارونه او ټول شيان خاص الله ﷻ ته ورګرځولی کېږي چې د خپلې ارادې مطابقې فيصلې ته پکښې صورت ورکړي.

۱۲_ د الله ﷻ د کاملې واکدارۍ يو مثال دا دی چې همدی ﷻ شپه په ورځ کښې ننباسي او ورځ په شپه کښې، شپه په ورځې باندې اوږدوي او ورځ په شپې باندې او همدارنګه د ورځې په تعقيب شپه چلوي او د شپې په تعقيب ورځ.

۱۳_ په دې ټولو باندې علاوه، الله ﷻ په هغو حالاتو باندې هم پوه دی کوم چې سينو پورې ارتباط لري او د خلکو په زړونو کښې تېرېږي راتېرېږي.

## توضيحات

۱_ د دې ايتونو ځينې اړونده وضاحتونه وړاندې تېر شوي دي ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بيا توضيح کولو ته يې څه اړتيا نه ګورو. هغه دا چې

الف. هر شی د حال په ژبه او هم د قال په ژبه د الله ﷻ تسبيح وايي، د [الإسراء ۴۴] ايت لاندې

ب. په ﴿ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ کښې د ﴿ مُلْكُ ﴾ کلمه د [آل عمران ۲۶] ايت لاندې

ج. په ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ کښې د ﴿ ٱسْتَوَىٰ ﴾ کلمه د [الأعراف ۵۴] ايت لاندې

### د الله ﷻ څلور نومونه

۲_ د الله ﷻ کومو څلورو نومونو ته چې په ﴿ هُوَ ٱلْأَوَّلُ وَٱلْءَاخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلْبَاطِنُ ﴾ کښې اشاره شوې ده، د هغو څلور واړو په هکله نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې «اللَّهُمَّ أَنْتَ الأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ»(۱)

دغه حديث شريف ځينو مفسرينو کرامو(۲) معنی کړی دی چې د همدغې معنی په مطابق يې مونږ په لاندې ډول خلاصه ليکو

الف. "الْأَوَّلُ" يعني الله ﷻ ازلي دی چې مخکښې ترې هيڅ شی نشته بلکې ابتداء نه لري

ب. "الآخِرُ" يعني الله ﷻ ابدي دی چې وجود يې انتهاء نه لري او تل باقي دی. د ده ﷻ څخه په غير نور ټول موجودات فاني دي او په ټاکلي وخت باندې انتهاء مومي

ج. "الظَّاهِرُ" يعني الله ﷻ پوره څرګند دی چې په څرګندوالي کښې د ده ﷻ څخه هيڅ شی اوچت نشته، او دا ځکه چې د ده ﷻ په وجود باندې هر يو مخلوق دلالت کوي، نو د موجوديت دلايل يې تر شمېر لاندې نه شي راتلای

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۴۸

(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۱۶۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: "اَلْبَاطِنُ" يعنې الله ﷻ د اقدس ذات په لحاظ پټ دی چې په پټوالي کښې د ده ﷻ څخه په غير بل هيڅ شی د بر پټ نشته، او دا څکه چې د هر شي په حقيقت او ذات باندې همدی ﷻ علم لري خو د ده ﷻ په اقدس ذات باندې هيڅ شی او هيڅوک علم نه لري. يا په بل عبارت: د هر شي په ذات باندې پوهېدل ممکن دي او د الله ﷻ په اقدس ذات باندې پوهېدل امکان نه لري.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې الله ﷻ د خپل عالي شان مطابق په عرش عظيم باندې استواء کړې ده، حال دا چې په عين ايت کښې د ﴿ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ ﴾ جمله دلالت کوي چې ای بنده ګانو! الله ﷻ تاسو سره دی او تاسو سره معيت لري، تاسو چې هر چرته ياست. نو پوښتنه دا ده چې ايا په دې مقام کښې د ايت اول د اخره سره مناقض نه دی؟

مونږ وايو چې: دغه جمله ټولو سلفو صالحينو ـ چې په سر کښې يې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما واقع دی ـ په علم او پوهې سره معنی کړې ده[۱]. نو حاصل يې داسې راځي چې: الله ﷻ د خپل اقدس ذات په اعتبار د خپل شان په مطابق په عرش عظيم باندې استواء کړې ده او د علم په اعتبار سره د ټولو مخلوقاتو سره معيت لري او ورسره دی او هيڅکله ترې نه جدا کېږي، چې د ټولو مخلوقاتو د جملې څخه ذکر شوي مخاطبين بنيادمان هم دي.

﴿ ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُوا۟ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ۖ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَأَنفَقُوا۟ لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ ۝٧ وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ ۙ وَٱلرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ لِتُؤْمِنُوا۟ بِرَبِّكُمْ وَقَدْ أَخَذَ مِيثَـٰقَكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ۝٨ هُوَ ٱلَّذِى يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبْدِهِۦٓ ءَايَـٰتٍۭ بَيِّنَـٰتٍ لِّيُخْرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَـٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ بِكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ۝٩ وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَا يَسْتَوِى مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ ٱلْفَتْحِ وَقَـٰتَلَ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ ٱلَّذِينَ أَنفَقُوا۟ مِنۢ بَعْدُ وَقَـٰتَلُوا۟ ۚ وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝١٠ مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقْرِضُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَـٰعِفَهُۥ لَهُۥ وَلَهُۥٓ أَجْرٌ كَرِيمٌ ۝١١ ﴾

[۷] (ای خلکو!) په الله ﷻ او د ده ﷺ په پيغمبر ﷺ ايمان راوړئ (او يا ايمان ته پرې ادامه ورکړئ)،

(۱) تفسير القاسمي ج۱۶ ص۳۵؛ الدر المنثور ج۸ ص۴۹؛ البحر المحيط ج۱۰ ص۱۰۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د هغو مالونو څخه برخه (د الله ﷻ په لاره کښې) مصرفه کړئ په کومو کښې چې الله ﷻ تاسو (د نورو خلکو) خلیفه ګان ګرځولي یاست.

نو هغه کسان کوم چې ستاسو د جملې څخه ایمان راوړي (یا ایمان ته ادامه ورکړي) او (د الله ﷻ په لاره کښې د خپلو مالونو څه برخه هم) خرڅه کړي، نو دوی لره (د الله ﷻ په وړاندې) ډېر لوی اجر (او ثواب) دی.

[۸] او (ای خلکو!) تاسو لره څه دي چې په الله ﷻ باندې (په توحید سره) ایمان نه راوړئ حال دا چې پیغمبر ﷺ (پخپله) تاسو دېته بلي چې په خپل رب ﷻ باندې ایمان راوړئ، او حال دا چې الله ﷻ ستاسو څخه کلکه وعده (او عهد) هم اخستی دی (چې قرآن کریم یې درنازل کړی دی او افاقي او انفسي دلایل یې درته اقامه کړي دي)؟

(نو) که تاسو ایمان درلودونکي یاست (خپل ایمان ته ادامه ورکړئ او که ایمان راوړلو ته اراده لرئ نو ایمان راوړئ، ډیل مه کوئ).

[۹] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په خپل بنده باندې یې د دې دپاره ځرګند دلایل نازلوي ترڅو تاسو (د کفر) د تیارو څخه (د اسلام) رڼا ته راوباسي. او یقینًا الله ﷻ په تاسو باندې هرومرو زښت ډېر نرمي کوونکی ډېر مهربان دی.

[۱۰] او تاسو لره څه دي چې د الله ﷻ په لاره کښې مال نه خرڅوئ حال دا دی چې خاص الله ﷻ لره د اسمانو او ځمکو میراث دی (ټول همده ﷻ ته پاتې کېدونکي دي او تاسو مړه کېدونکي یاست، حال دا چې):

ستاسو څخه هغه څوک یو برابر نه دی کومو چې د فتحې څخه مخکښې مال نفقه کړی وي او جهاد یې کړی وي، (البته د هغه چا سره چې دغه دوه کارونه یې نه وي کړي).

دغه کسان (چې ذکر شوي دوه کارونه یې کړي وي) د درجې د حیثه د هغو کسانو څخه ډېر لوی (لوړ) دي کومو چې د فتحې څخه وروسته مالي نفقه کړي وي او جهاد یې کړی وي.

او (دغو دواړو) د هرې یوې ډلې سره الله ﷻ د ښایسته حالت (جنت) وعده کړې ده.

او الله ﷻ په هغه کړو وړو خبردار دی کوم چې تاسو یې عملي کوئ.

[۱۱] هغه څوک دی (البته) هغه کس چې الله ﷻ ته حسنه قرض ورکوي (په ډېر اخلاص سره خپل مال في سبیل الله نفقه کوي)، نو چې الله ﷻ ورته همدا قرض غبرګ (چندونه) ورکړي؟ حال دا چې همدغه کس ته (د الله ﷻ په نزد په اخرت کښې) باکرامته اجر دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې په توحید، علم او قدرت باندې متعددو دلایلو ته اشاره شوې ده، په دې ایتونو کښې د همدغو دلایلو په رڼا کښې په ایمان او انفاق باندې ارشاد نازل شوي دي چې حاصل یې داسې راځي:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! د دلایلو د قرائت څخه وروسته اوس په خپل اُمت باندې د خپل رب ﷻ د پلوه څخه نور ارشادات قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ ای خلکو! تاسو د خپل رب ﷻ لاندې ارشاد عملي کړئ:

تاسو په پوره اخلاص سره په الله ﷻ او د ده ﷺ په پیغمبر باندې ایمان راوړئ او یا وړباندې سوچه ایمان ته ادامه ورکړئ. او هم تاسو د خپلو هغو مالونو څه برخه د الله ﷻ په لاره مصرفه او خرڅه کړئ په کومو کښې چې الله ﷻ تاسو د نورو خلیفه ګان ټاکلي یاست چې د هغوی د مرګ څخه وروسته بې تاسو د هغوی په ځای کېنولي یاست، او داسې وخت هم راتلونکی دی چې ستاسو په ځای به نور خلیفه ګان کېنوي.

نو ستاسو د جملې څخه چې کوم کسان ایمان راوړي او یا ایمان ته په اخلاص سره ادامه ورکړي او هم د خپلو مالونو څخه د الله ﷻ په لاره کښې څه برخه خرڅه کړي، نو دغو کسانو ته په دنیا او اخرت کښې د الله ﷻ په نزد ډېر لوی اجر ټاکلی شوی دی.

۲ـ ای خلکو! تاسو لره څه دي او تاسو ته څه مانع دی چې په الله ﷻ باندې ایمان نه راوړئ او یا ایمان ته په اخلاص سره ادامه نه ورکوئ؟ حال دا چې:

الف: په تاسو کښې د الله ﷻ پیغمبر موجود دی او خوارق بې روزمره ستاسو د نظره تېرېږي، نو هغه پیغمبر ﷺ تاسو ته بلنه درکوي چې په بل چا باندې نه بلکې په خپل رب ﷻ باندې ایمان راوړئ او ذکر شوي دلایل په نظر کښې وساتئ چې په ایمان راوړلو کښې درسره کومک وکړي.

ب: په دې باندې علاوه الله ﷻ ستاسو څخه په عالم الذر کښې د ایمان راوړلو وعده هم اخستې ده او په خپل توحید باندې یې درته بې شمېره عقلي دلایل هم قائم کړي دي.

ج: که چېرته تاسو ایمان راوړونکي یاست همدا مو د ایمان راوړلو ډېر ښه مساعد وخت دی چې عقلي او نقلي دواړه ډوله دلایل درته واورولی شوه.

۳ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په خپل بنده (محمد ﷺ) باندې یې څرګند او واضحه عقلي او نقلي دلایل د دې دپاره نازل کړي دي ترڅو تاسو د کفر د تیارو څخه د اسلام رڼا ته راوباسي او یا مو د اسلام په رڼا کښې د کفر د تیارو څخه ویستلی شوي وساتي.

او دا څکه چې الله ﷻ په تاسو باندې ډېر نرمي کوونکي او ډېر مهربان دی، نو تاسو ته په کار دي چې د همدغې نرمۍ او مهربانۍ څخه ګټه پورته کړئ او ناشکري خپله نه کړئ.

۴ـ ای خلکو! تاسو لره څه دي چې د الله ﷻ په لاره کښې خپل مالونه نه انفاق (خرڅ) کوئ؟ ایا تاسو دا رېږئ چې الله ﷻ به عوضونه درنه کړي؟ حال دا چې:

الف: الله ﷻ پورې د اسمانونو او ځمکو میراث اختصاص لري، چې ټول خلک به مړه شي او هیڅ مجازي خاوند به ونه لري، حتی تاسو به هم ژوندي پاتې نه شئ او نه به خپل مالونه قبرونو ته نقل کړئ.

ب: حال دا چې د مال انفاق ته اوس اشد ضرورت دی او د هرځومره زیات ضرورت په حال کښې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې مال انفاق کړی شي هومره زیات اجر او ثواب لري
د همدې کبله ستاسو د جملې څخه هغه څوک کوم چې د فتحې څخه وړاندې یې انفاق کړی دی او هم یې جهاد کړی دی د هغه چا سره یو برابر نه دی کوم چې د فتحې څخه وړاندې یې نه انفاق کړی دی او نه یې په جهاد کښې برخه اخستې ده. بلکې همدغه د خپلو مالونو انفاق کوونکي او جهاد کوونکي د درجو د حیثه د هغو کسانو څخه ډېر لوی دی کومو چې د فتحې څخه وروسته انفاق کړی دی او هم یې په جهاد کښې برخه اخستې ده.

۵_ هو! هغو او دغو دواړو ډلو ته الله ﷻ د درجو په تفاوت سره د ډېر ښایسته حالت وعده ورکوي او دا ځکه چې الله ﷻ د هغو ټولو کړو وړو په کیفیاتو باندې ښه خبردار دی کومو ته چې تاسو عملي ښه ورکوئ، نو د همدغو کیفیاتو په معیار تاسو ته اجرونه او ثوابونه درکوي

۶_ ای خلکو! هغه کس څوک دی څومره هوښیار دی کوم چې بل چا ته نه بلکې الله ﷻ ته حسنه قرض ورکوي او په اخلاص سره انفاق او نور طاعتونه کوي؟ نو ایا دغسې کس شته چې الله ﷻ ته حسنه قرض ورکړي ترڅو ورته همدغه قرض د کم په لحاظ په غبرګه توګه ښېرته ور اداء کړي؟ په دې باندې علاوه د همدغه کس دپاره د الله ﷻ په نزد د کیف په لحاظ هم د کرامت څخه ډک اجر شته دی، چې د قیامت په ورځ به یې ورباندې سترګې خوږې شي

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې په ﴿ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ الآیات- کښې د ځینو ارشاداتو خطاب مؤمنانو ته مناسب نه برېښي، لکه ﴿ ءَامِنُوا ﴾ ځکه چې د حاصل تحصیل راځي، او ځینې نور کفارو ته تناسب نه لري لکه ﴿ لَا يَسْتَوِي مِنكُم ﴾ ځکه چې کفارو خو نه د فتحې څخه وړاندې في سبیل الله انفاق کړی دی او نه وروسته. نو پوښتنه دا ده چې په دغو ایتونو کښې کومې ډلې ته خطاب متوجه دی. کفارو ته که مؤمنانو ته؟

مونږ وایو چې دلته خلکو ته خطاب متوجه دی چې کفارو او مؤمنانو (دواړو ډلو) ته شمولیت لري[1]، نو د توزیع په توګه هرڅوک په هغه ارشاد سره مخاطب ګرځولی کېږي کوم چې ورسره مناسب وي. د دغه طرز بیان یو نظیر د بنیادمانو په کلام کښې دا دی چې څوک یوه غټه ډله په متعددو احکامو سره مخاطبه وګرځوي چې غلامه کوئ، سود مه خورئ، مؤمن مه وژنئ، لمونځونه مه قضاء کوئ. زکاتونه ورکوئ. د حج فریضه اداء کوئ او داسې نور، چې هر چا ته د خپل حال سره مناسب حکم متوجه کېږي

## د استخلاف تفسیر

۲_ په ﴿ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ﴾ کښې د ﴿ مُّسْتَخْلَفِينَ ﴾ کلمه د استخلاف څخه اشتقاق

---

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۱۷۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي ده چې نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې دېره ښه تفسيره کړې ده هغه دا چې:

«يَقُولُ ابْنُ آدَمَ مَالِي مَالِي. وَهَلْ لَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مِنْ مَالِكَ إِلَّا مَا أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ أَوْ لَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ أَوْ تَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ»[1] يعني بنيادم وايي چې زما مال، زما مال. حال دا چې ای بنيادمه! ايا تالره د خپل مال څخه شته (بلکې نشته) مگر هغه مال چې تا خوړلی وي نو فاني کړي دې وي، يا دې اغوستی وي نو زوړ کړی دې وي، يا دې خيرات کړی وي نو وړاندې (آخرت ته) دې استولی وي؟.

يا په بل عبارت: د دغو درېواړو ډولونو څخه په غير نور مال ستا وارثانو ته پاتې دي، هغوی پکښې ستا خليفه گان دي لکه چې ته پکښې د نورو مړو شوو خلکو خليفه وې.

نو که ستا وارثان پکښې شرعي تصرف وکړي نو اجرونه به مونده کړي او ته به بې برخې تېر شوی يې، او که غير شرعي تصرف پکښې وکړي نو تا به په فسق او عصيان کښې د هغوی سره تعاون کړی وي، او د غلو سره به دې د جوال خوله نيولې وي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې په ﴿ وَقَدْ أَخَذَ مِيثَٰقَكُمْ ﴾ کښې د "مِيثَاق" په کلمې سره کوم ميثاق او عهد ته اشاره ده؟.

مونږ وايو چې دغه ميثاق مفسرينو کرامو په متعددو معناوو سره تفسير کړی دی[2]. لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: دلته هغه ميثاق مراد دی کوم چې صحابه وو کرامو ﷺ په ايمان راوړلو سره کړی وه او يا يې د قيامت تر ورځې پورې مؤمنان په ايمان راوړلو سره کوي، چې ايمان راوړل يو ډول عهد او ميثاق دی.

ب: دلته هغه ميثاق او عهد مطلب دی کوم چې په عالم الذر کښې د ټولو بنيادمانو څخه اخستلی شوی وه، چې بشپړ بيان يې د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف:۱۷۲] ايت لاندې تېر شوي دي.

ج: دلته د عهد او ميثاق څخه قرآني (سمعي) او عقلي دلايل اراده کېږي، چې د قرآن کريم اعجاز او د مخلوقاتو موجوديت د الله ﷻ په توحيد او د نبي کريم ﷺ په نبوت باندې دلالت کوي.

زمونږ په فکر ـ والله ﷻ اعلم ـ دغه د "مِيثَاق" کلمه به د "ما يطلق عليه الميثاق" په ملحوظ ذکرو شوو درېواړو ډولونو ته په مؤمنانو او کفارو باندې د توزيع په توگه شامله وي او ټولو ذکرو شوو ميثاقونو ته به شموليت ولري.

## دلته کومه فتحه مراده ده؟

۴ـ په ﴿ لَا يَسْتَوِى مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ ٱلْفَتْحِ وَقَٰتَلَ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْفَتْحِ ﴾ د کلمې د مصداق

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۴۰۷

(۲) تفسير ابن کثير ج۴ ص۳۰۵؛ تفسير الکشاف ج۴ ص۴۷۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هکله مفسرین کرام په دوه وو ډلو ویشلي شوي-دي[۱]:

الف: ځینې وایي چې دغه کلمه دلته د حدیبیې د صلحې څخه عبارت ده چې الله ﷻ همدغه صلحه په [الفتح: ۱] ایت کښې په همدې نامه یاده کړې ده.

ب: خو د جمهورو علماوو کرامو په نزد دغه کلمه ﴿ٱلْفَتْحِ﴾ په دې مقام کښې د مکې معظمې د فتحې معنی ورکوي د کومې ذکر چې په "النصر" سورت کښې په صراحت سره نازل شوی دی، د کومې په تحقق سره چې خلک په ډلییزه توګه په اسلام کښې داخل شوه، او دا ځکه چې په یو حدیث کښې راغلي دي چې: «وَكَانَتِ الْعَرَبُ تَلَوَّمُ بِإِسْلَامِهِمُ الْفَتْحَ فَيَقُولُونَ اتْرُكُوهُ وَقَوْمَهُ فَإِنَّهُ إِنْ ظَهَرَ عَلَيْهِمْ فَهُوَ نَبِيٌّ صَادِقٌ فَلَمَّا كَانَتْ وَقْعَةُ أَهْلِ الْفَتْحِ بَادَرَ كُلُّ قَوْمٍ بِإِسْلَامِهِمْ»[۲] یعنې او عرب وه چې خپل مسلمانېدل یې د مکې معظمې ته منتظر کړي وه، نو دوی به ویلې چې محمد ﷺ د خپل قوم سره پرېږدئ (چې ورسره وجنګېږي) نو که نوموړی یقیناً په خپل قوم باندې غالب شو نو دا صادق پیغمبر دی. نو کله چې مکه معظمه فتحه شوه (او نبي کریم ﷺ په خپل قوم باندې غالب وګرځېد) نو د عربو هر یوه قوم په خپل اسلام باندې توندي وکړه (چې ټول ډلې-ډلې په اسلام کښې داخل شوه).

## تبصره

۵ـ څرنګه چې ذکر شوي دواړه نظرونه یو تربله سره څه منافات نه لري نو که د بدلیت په لحاظ دواړه اراده کړی شي بهتره به وي، چې حاصل به یې داسې راوځېږي:

هغه صحابه کرام ﷺ، کومو چې د حدیبیې د صلحې څخه وړاندې او یا د مکې معظمې د فتحې څخه وړاندې په مالونو او خانونو سره جهاد کړی دی، په هغو صحابه وو کرامو ﷺ باندې په درجې کښې اوچت دی کومو چې دغه دواړه کارونه د حدیبیې د صلحې او یا د مکې معظمې د فتحې څخه وروسته اجراء کړي دي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وایي چې: په څه وجه د حدیبیې د صلحې او یا د مکې معظمې د فتحې څخه وړاندې په سر او مال سره جهاد کول د لوړ اجر سبب وګرځېدل؟

مونږ وایو چې: په هغو وختونو کښې په څه تفاوت سره د مجاهدینو مالي توان لږ وه او جهادي وسائل یې ډېر کمزوري وه حتی چې په ځینو وختونو کښې به د دوی ډېر کسان تش لاس او خلعي سلاح په جهاد مشغول وه، او پوره څرګنده ده چې په دغسې حالت کښې په سر او مال سره جهاد کول د لوی اجر او د لویې درجې سبب جوړېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: یوه ورځ د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې ای د الله رسوله! کوم یو خیرات ډېر بهتر دی؟

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۰۶؛ البحر المحیط ج۱۰ ص۱۰۳؛ روح المعاني ج۲۷ ص۱۷۲

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۱۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي كريم ﷺ جواب ورکړ چې: «جُهْدُ الْمُقِلِّ»(١) يعني هغه صدقه (خيرات) ډېر بهتر دی کوم چې د لږ مالي سړي په وسه او طاقت اداء کړی شي (چې په تنګ لاسي کښې خيرات وکړي).

ب: يو ځل نبي كريم ﷺ وفرمايل چې: «سَبَقَ دِرْهَمٌ مِائَةَ أَلْفِ دِرْهَمٍ» يعني يو درهم (خيرات) په سل زره (يو لک) درهمو (په خيرات باندې) مخکښې دی.

صحابه كرامو رضي الله عنهم پوښتنه وکړه چې دا څنګه؟ نبي كريم ﷺ جواب ورکړ چې: «كَانَ لِرَجُلٍ دِرْهَمَانِ تَصَدَّقَ بِأَجْوَدِهِمَا وَانْطَلَقَ رَجُلٌ إِلَى عُرْضِ مَالِهِ فَأَخَذَ مِنْهُ مِائَةَ أَلْفِ دِرْهَمٍ فَتَصَدَّقَ بِهَا»(٢) يو سړي ته فقط دوه درهمه وي (نو) يو درهم (نيم مال) خيرات کړي، او يو سړی د خپل بې‌حسابه مال څنګ ته لاړ شي نو سل زره درهمه ترې راواخلي نو خيرات يې کړي.

## صحابه كرامو رضي الله عنهم ته بشارت

٧_ که څه هم صحابه کرام رضي الله عنهم په خپلو منځو کښې د درجتو د حيثه تفاوت لري، مګر د نورو مؤمنانو په نسبت په عمومي توګه ټول د عالي شان او لوړو درجو خاوندان دي، په همدې مطلب باندې په ﴿وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ﴾ سره صراحت نازل شوی دی.

يعني د صحابه وو کرامو رضي الله عنهم هرې يوې ډلې ته، برابره خبره ده چې د حديبيې د صلحې يا د مکې معظمې د فتحې څخه وړاندې يې په سر او مال سره جهاد کړی وي او يا وروسته، الله ﷻ د ډېر ښايسته حالت او جنت وعده ورکړې ده چې هغه به يې وړاندې سترګې خوږې شي.

## يو نحوي تحليل

٨_ په ﴿مَّن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا﴾ کښې د "مَنْ" کلمه مبتدا ده او د "ذا" کلمه يې خبر ده. او د ﴿الَّذِي﴾ کلمه د خپلې صلې سره د "ذا" دپاره عطف بيان يا بدل واقع شوې ده(٣) يعني هغه څوک دی (البته) هغه چې الله ﷻ ته حسنه قرض ورکوي (او په اخلاص سره د الله ﷻ په لار کښې مال نفقه کوي)؟

﴿يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعَىٰ نُورُهُم بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِم بُشْرَاكُمُ الْيَوْمَ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١٢﴾ يَوْمَ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ لِلَّذِينَ آمَنُوا انظُرُونَا نَقْتَبِسْ مِن نُّورِكُمْ قِيلَ ارْجِعُوا وَرَاءَكُمْ فَالْتَمِسُوا نُورًا فَضُرِبَ بَيْنَهُم بِسُورٍ لَّهُ بَابٌ بَاطِنُهُ فِيهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهُ مِن

---

(١) سنن النسائي ج١ ص٣٤٩
(٢) سنن النسائي ج١ ص٣٥٠
(٣) روح المعاني ج٢ ص١٦٢

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قِبَلِهِ ٱلْعَذَابُ ﴿١٣﴾ يُنَادُونَهُمْ أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمْ فَتَنتُمْ أَنفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ
وَٱرْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ ٱلْأَمَانِيُّ حَتَّىٰ جَآءَ أَمْرُ ٱللَّهِ وَغَرَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿١٤﴾ فَٱلْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ
مِنكُمْ فِدْيَةٌ وَلَا مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مَأْوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ هِىَ مَوْلَىٰكُمْ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٥﴾ ﴾

[۱۲] (اى پيغمبره!) هغه ورځ (ياده کړه) کله چې ته مؤمنان او مؤمنانې ګورې چې رڼا يې په مخکښې او په ښې طرفو کښې يې ځغلي (چې د رڼا مرکز به د دوی همدغه ښي طرفونه وي، دوی ته به ويل کېږي چې) نن ورځ ستاسو زيری (او بشارت) داسې جنتونه دي چې لاندې ترې ويالې بهېږي، حال دا چې تاسو به پکښې د همېشه دپاره اوسېدونکي ياست.

(اى پيغمبره!) دغه (جنتونو ته داخلېدل) همدا ډېره لويه کاميابي ده.

[۱۳] هغه ورځ (هم ياده کړه) چې منافقان او منافقانې هغو کسانو ته وايي کومو چې ايمان راوړی دی چې: تاسو مونږ ته څه انتظار وکړئ ترڅو مونږ ستاسو د نور څخه څه رڼا واخلو (نو منافقانو ته به په جواب کښې) وويلی شي چې: تاسو خپلو شاګانو ته (بېرته) وګرځئ (دنيا ته لاړ شئ) نو (هلته) نور ولټوئ (زمونږ په نور کښې ستاسو برخه نشته).

نو (په عين حال کښې) به د دوی (د دواړو ډلو) ترمنځ داسې دېوال (او پرده) وهلی شي چې دروازه به ولري، (داسې دېوال چې) د هغه داخل به چې وي هلته به د الله ﷻ رحمت (جنت) وي او د هغه ظاهر (دباندې) به چې وي د همدې طرف څخه به د الله ﷻ عذاب (دوزخ) وي.

[۱۴] منافقان به (په دغه وخت کښې) مؤمنانو ته په لوړ اواز سره چيغې کړي چې: ايا مونږ تاسو سره (په دنيا کښې) يو ځاى شتون نه درلود؟ (نو نن مو ولې مونږ په تياره او عذاب کښې پرېښودلو)؟

مؤمنان به (منافقانو ته) وايي چې: ولې نه؟ (مونږ او تاسو په دنيا کښې يو ځاى اوسېدلو)، مګر تاسو خپل ځانونه په فتنه (کفر) کښې اچولي وه او تاسو (د اسلام زوال ته) انتظار کولو، او تاسو (د اسلام په حقانيت کښې) شک کاوه او تاسو (دروغينو) ارزوګانو غولولي وئ (چې کفر به غلبه ومومي. بالآخره تاسو همدغې کړنلارې ته ادامه ورکړه) ترهغه چې د الله ﷻ امر راغی (او روحونه مو قبض کړی شوه)، او تاسو په الله ﷻ سره غولوونکي شيطان غولولي وئ.

[۱۵] نو نن ورځ نه ستاسو څخه فديه اخستله کېږي (قبلېږي) او نه د هغو کسانو څخه چې (په څرګنده توګه) يې کفر غوره کړی دی.

ستاسو د اوسېدانې ځای اور (دوزخ) دی. همدا ستاسو کارساز (او ناصر) دی (بلکې تاسو کارساز او ناصر نه لرئ)، او دا (اور) د بېرته ورګرځېدلو ډېر بد ځای دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وراندېنې ايتونه په ﴿ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴾ باندې ختم شوي وه چې مؤمنانو ته به د قيامت په ورځ د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کرامت والا اجر ورکړی شي، او په دې ایتونو کښې د همدغه اجر یوه مثال ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د قیامت د ورځې څه حالات قرائت کړه او ورته ووایه چې

۱ـ تاسو هغه ورځ درپه یاده کړئ چې په هغې کښې د مؤمنانو سره (نارینه وي او که ښځینه) لاندې چال چلند صورت نیسي:

الف: په دغې سخته ورځ کښې به د هغوی په وړاندې رڼا خغلي او مخه به یې ورته روښانه کړې وي، حال دا چې دوی ته به اعمالنامې په خپلو ښي لاسونو کښې ورکړی شوې وي او هم به یې د رڼا مرکز ښي لاسونه وي.

ب: په همدغې خطرناکې ورځ کښې به هغوی ته د ډاډ په توګه ویل کېږي چې: تاسو به داسې جنتونو سره زېری قبول کړئ چې د هغو د ونو لاندې څلور ډوله لښتي بهېږي، حال دا چې تاسو به هلته همېشه یاست.

۲ـ ای پیغمبره! دغه حالت چې دی همدا ډېر لوی بری او ډېر لوی د کرامت والا اجر دی.

۳ـ په خپل اُمت باندې د منافقانو (نارینه وي او که ښځینه) څه اُخروي حالت هم قرائت کړه ترڅو پکښې په مقایسوي توګه فکر وکړي هغه دا چې: کله چې مؤمنانو ته رڼا ورکړی شي او منافقان (نارینه وي او که ښځینه) په تیاره کښې پاتې شي نو د مؤمنانو سره به لاندې سوال جواب وکړي:

الف: منافقان به مؤمنان مخاطب کړي او ورته به ووایي چې: تاسو مونږ ته لږ څه انتظار وکړئ او لږ وخت راته تم شئ چې مونږ درورسېږو او ستاسو سره ملګري شو چې ستاسو د رڼا څخه مونږ هم څه رڼا واخلو او په لاره باندې په تللو کښې ترې ګټه اوچته کړو، که نه نو مونږ خو په ډېره تکه توره شپه کښې پاتې شوو.

ب: د مؤمنانو د پلوه به هغوی ته جواب ورکړی شي چې: زمونږ د رڼا څخه نن ورځ تاسو استفاده نه شئ کولی، تاسو خپلو ځانونو ته خپله رڼا ولټوئ، هغه ځای ته بېرته ستانه شي په کوم ځای کښې چې د رڼا وېش کېږي یا بېرته دنیا ته لاړ شئ او هلته د شریعت په مطابق چال چلند خپل کړئ ترڅو دلته رڼا درکړی شي.

۴ـ ای پیغمبره! په دغه وخت کښې به د مؤمنانو او منافقانو ترمنځ یوه پرده او دېوال ووهلی شي چې دروازه (ور) درلودونکی به وي. دا به داسې دېوال وي چې دننه به پکښې د الله ﷻ رحمت او جنتونه وي او دباندې خوا ته به یې د الله ﷻ عذابونه او مشقتونه وي. نو مؤمنان به د همدغې دروازې په ذریعه د دېوال داخل ته ورننوځي او د الله ﷻ په رحمت کښې به داخل شي او منافقان به بهر په عذابونو کښې پاتې شي.

۵ـ کله چې د مؤمنانو او منافقانو ترمنځ داسې پرده ودروله شي او د همېشه دپاره یوه ډله د بلې ډلې څخه جدا کړی شي، نو په دغه وخت کښې به دواړه ډلې سره لاندې سوال جواب وکړي:

الف: منافقان به په لوړ اواز سره مؤمنانو ته چیغې کړي چې: ای مؤمنانو! ایا مونږ په دنیا کښې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ستاسو سره یو خای نه اوسېدلو؟ ایا زمونږ او ستاسو ترمنځ ګواښتوب شتون نه درلود؟ نو مونږ د خپلو خانونو سره دلته هم ګواښیان وګرځوئ او په دغو عذابونو او تورو تیارو کښې مو مه پرېږدئ.

ب. مؤمنان به د منافقانو په جواب کښې ووايي چې. ولې نه، مونږ او تاسو په دنیا کښې ګواښیان وو او یو تربله سره څنګ په څنګ اوسېدلو، خو زمونږ او ستاسو په عقاندو او طرز العمل کښې ډېر زیات تفاوت موجود وه هغه دا چې:

اول: تاسو خپل خانونه په منافقت سره او د دنیاوي مالونو په محبت سره په فتنه کښې اچولي وه، او مونږ تري د خپل رب ﷻ په توفیق خپل خانونه ساتلي وه.

دوهم: تاسو ایمان راوړل هېر کړي وه ترڅو چې په کفر باندې مړه شوئ، او مونږ په حقه او اخلاص ایمان راوړی وه، تاسو مؤمنانو ته مشکلات غوښتل چې ورته پېښ شي او د منځه پکښې لاړ شي او مونږ ورته د خیر غوښتونکي وو.

دریم: تاسو د اسلام په دین کښې شک خپل کړی وه او مونږورباندې باوري وو.

څلورم: تاسو دروغینو اُمیدونو غولولي وئ چې ډېر ژر به د اسلام دین منحل شي او د منځه به لاړ شي (د الله ﷻ وعدې درته دروغیني برېښېدلې) او مونږ د الله ﷻ په وعدو پوره باور درلود.

پنځم: تاسو خپلې ذکرې شوې کړنلارې ته ترهغه ادامه ورکړه ترڅو چې تاسو ته د الله ﷻ امر ورسېداو په همدغې عقیدې باندې مړه شوئ.

شپږم: تاسو ځکه دغه ذکره شوې کړنلاره د مرګ تر وخته پورې ټینګه کړې وه چې په الله ﷻ سره شیطان غولولي او دوکه کړي وئ چې الله ﷻ غفور او رحیم دی، او دې ته مو فکر نه کاوه چې الله ﷻ کفر او نفاق بالکل نه بښي.

اووم: ای منافقانو! نو نن ورځ نه ستاسو څخه فدیه اخستله کېږي چې د باطني کفر (منافقت) بدله ورکړئ او خپل خانونه د عذابه خلاص کړئ، او نه د ښکرګندو کفارو څخه فدیه اخستله کېږي (نن ورځ ستاسو او هغوی ترمنځ هیڅ فرق نشته).

اتم: ای منافقانو! نن ورځ د ښکرګندو کفارو په شمول ستاسو استوګنځای اور دی، همدا اور ستاسو تولو ناصر او مددګار دی او همدا اور ستاسو سره جوړېږي. یا په بل عبارت: که بالفرض کوم ناصر ولرئ نو هغه به همدغه اور وي چې د دغه اور څخه پرته تاسو بل انډیوال نه شئ درلودی.

نهم: دغه اور د ډېرته ورګرځېدلو ډېر بد ځای دی چې تاسو ورته ورګرځېدلي یاست او هیڅکله به تري نجات مونده نه کړئ.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ يَسْعَىٰ نُورُهُم ﴾ کښې چې کوم نور ته اشاره شوې ده دا به مؤمنانو ته د محشر په میدان کښې ورکړی شي. البته د اعمالو په تفاوت سره، چې چا ته به ډېره رڼا ورکړی شي او چا ته لږه[۱].

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۰۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوالونه او جوابونه

۲ـ په دې مقام کښې باید لاندې وضاحتونه په ذهن کښې وساتل شي.

الف: که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنیاد الله ﷻ په ﴿ يَسۡعَىٰ نُورُهُم بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِم ﴾ کښې د "نُور" دپاره د مؤمنانو ښي طرفونه هم وټاکل حال دا چې په لاره باندې د تللو دپاره فقط وړاندېنی نور کفایت کوي، چې لاره وړباندې لیدله کېږي؟

مونږ وايو چې: د همدغې کلمې ﴿ بِأَيۡمَٰنِهِم ﴾ په ارتباط علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي لاندې بیلګې يې ولولئ:

اول: دلته د "بِأَيْمَانِهِمْ" سره د "الصُّحُفْ" کلمه مقدره ده[۱]. يعنې د مؤمنانو په وړاندې به رڼا ځغلي او په ښیو لاسونو کښې به يې اعمالنامې ورکړی شوې وي.

دوهم: دغه دواړه طرفونه (وړاندې او ښي طرف) د حصر په توګه نه دي نازل شوي چې اعتراض وارد شي بلکې دا د مثال په توګه نازل شوي دي[۲]. يعنې د مؤمنانو څلورو خواوو ته به رڼا ځغلي.

درېم: د مؤمنانو د نور اصلي منبع به ښي طرفونه وي، نو د ﴿ بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ ﴾ په کلماتو باندې د دې دپاره صراحت نازل شوي دي چې په همدغه طرف کښې تلونکي مؤمنان رڼا ته ډېر ضرورت لري[۳].

مونږ ته همدغه درېم قول بهتر برېښي چې د هغه حديث سره مشابهت لري په کوم کښې چې د دوه وو صحابه وو کرامو ﷺ د همساګانو څخه د دوه وو ډيوو جوړېدل روايت شوي دي، چې په توره شپه کښې د نبي کريم ﷺ د حضور څخه رخصت شوه او په همدغو ډيوو (رڼاګانو) سره خپلو-خپلو کورونو ته ورسېدل[۴]، او دا ځکه چې غالبًا همسا په ښي لاس کښې نیوله کېږي.

ب: که څوک وايي چې: ايا ذکره شوې رڼا همدې اخر الزمان أمت پورې اختصاص لري؟

مونږ وايو: څرنګه چې د ﴿ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ﴾ کلمات مطلق نازل شوي دي نو ظاهره دا ده چې ذکر شوی نُور به ټولو مؤمنانو ته ورکړی شي، په هره زمانه کښې چې تېر شوي وي يا تېرېږي.

ج: که څوک وايي چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَأَعْرِفُهُمْ بِنُورِهِمْ يَسْعَى بَيْنَ أَيْدِيهِمْ»[۵] يعنې زه به د قيامت په ورځ خپل أمتيان په دې هم پېژنم چې نُور (رڼا) به يې په مخکښې ځغلي. نو معلومه شوه چې نور أمتونه به ذکر شوی نُور (رڼا) نه لري؟

مونږ وايو چې: څه لرې نه ده چې د دې أمت رڼا به د نورو أمتونو څخه اضافه وي او يا به پخپله رڼا کښې څه امتياز شتون ولري چې د نورو أمتونو د رڼا څخه به پرې جدا کېږي.

---

(۱) تفسير الطبري ج۲۷ ص۲۲۳؛ تفسير ابي السعود ج۸ ص۲۰۷

(۲) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۴۰۸

(۳) روح المعاني ج۲۷ ص۱۷۴

(۴) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۲۷۷

(۵) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۱۷۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: که څوک وايي چې نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ»[۱] يعنې زما أمت به د قيامت په ورځ په داسې حال وبللی شي چې د اوداسه د اثارو د کبله به يې تندې او لاسونه او پښې تک سپين ځلېږي. نو پوښتنه دا ده چې ايا په دغه حديث کښې هماغه نُور ته اشاره ده په کوم باندې چې په ايت کښې صراحت نازل شوی دی او که دا د هغه څخه علاوه بله رڼا ده؟

مونږ وايو ـوالله ﷻ اعلمـ چې: دغه او هغه بېل‌بېل نُورونه دي چې دواړه به د الله ﷻ د پلوه مؤمنانو ته ورکړی شي، څه دليل نشته چې دواړه متحد وګڼو.

## دلته د "وراءکم" کلمې تفسير

۳ـ په ﴿ ٱرْجِعُواْ وَرَآءَكُمْ ﴾ کښې د ﴿ وَرَآءَكُمْ ﴾ کلمه په دې مقام کښې علماوو کرامو په لاندې دوه معناوو سره تفسيره کړې ده[۲]:

اول: دلته هغه ځای ته په شاکېدل مطلب دي په کوم ځای کښې چې د حشر په ميدان کښې د نُور توزيع صورت نيولی وي. يعنې تاسو هغه ځای ته بېرته ستانه شئ په کوم ځای کښې چې مونږ ته نُور راکړی شوی دی.

دوهم: په دغه شاتګ کښې دنيا ته اشاره ده. يعنې مونږ دغه نُور د دنيا څخه د ځانونو سره راوړی دی تاسو هم بېرته دنيا ته ستانه شئ (که ستنبدلی شئ) او د خپلو ځانونو دپاره رڼا راوړئ.

که څه هم ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري او د بدليت په لحاظ دواړه اراده کېدلی شي مګر د زيات تخجيل د کبله دوهم تفسير غوره برېښي.

## د "سُور" کلمې تفسير

۴ـ په ﴿ فَضُرِبَ بَيْنَهُم بِسُورٍ لَّهُۥ بَابٌۢ ﴾ کښې د "سُور" کلمه د پردې او دېوال معنی ورکوي، خو په دې مقام کښې مفسرينو کرامو په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسيره کړې ده[۳]:

اول: دا "سُور" هغه دېوال او پرده ده کومه چې د حشر په ميدان پورې اختصاص لري او هغه دېوال نه دی کوم ته چې په [الأعراف: ۴۶] ايت کښې اشاره شوې ده.

دوهم: دغه دېوال عين همغه دېوال او پرده ده کوم چې په ذکر شوي سورت کښې په "الأعراف" سره تعبيره شوې ده، چې د محشر په ميدان کښې به په همدغه سور (دېوال) سره مؤمنان او منافقان جدا کړی شي او وروسته به د همدغه دېوال د هغې خوا او دېخوا څخه خبرې وکړي.

ځينو مفسرينو کرامو همدغه دوهم تفسير ډېر صحيح ګڼلی دی[۴].

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۲۵
(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۱۷۷
(۳) تفسير الکشاف ج۴ ص۴۷۵
(۴) تفسير ابن کثير ج۴ ص۳۰۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## فِدْيَةٌ څه معنی؟

۵_ په ﴿فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنكُمْ فِدْيَةٌ﴾ کښې د ﴿فِدْيَةٌ﴾ کلمه هغه مال ته وضعه شوې ده په کوم سره چې بنیادم خپل ځان د عذابه بچ کړي لکه د سوګند کفاره او داسې نور[1]

د دغه فدیې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې ډېره ښه تفسیر کړی دی چې فرمایلي یې دي: «يُقَالُ لِلْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَرَأَيْتَ لَوْ كَانَ لَكَ مِلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا أَكُنْتَ تَفْتَدِي بِهِ فَيَقُولُ نَعَمْ فَيُقَالُ لَهُ قَدْ سُئِلْتَ أَيْسَرَ مِنْ ذَلِكَ»[2] یعنې د قیامت په ورځ به یوه کافر ته وویلی شي چې ته خبر راکړه چې که بالفرض (نن ورځ) تا سره د ځمکې د ډکوالي په اندازه سره زر شتون درلودی نو ایا ته به فدیه کړي وو چې د عذابه پرې خلاص شوی وې؟ کافر به ووایي چې هو. (دا کار به مې کړی وو). نو بیا به ورته وویلی شي چې یقیناً ته خو د دې ځنې په اسانه خبره مسئول ګرځولی شوی وې چې ایمان راوړه خو تا ایمان رانه وړ.

## یوه پوښتنه او د هغې ځواب

۶_ که څوک وایي په ﴿هِيَ مَوْلَاكُمْ﴾ کښې د "هي" ضمیر ﴿النَّارُ﴾ دوزخ ته راجع دی، یعنې اې کفارو! دوزخ ستاسو کارساز او ناصر دی. نو پوښتنه دا ده چې ایا دوزخ د کفارو دپاره کارساز او ناصر جوړېدلی شي؟

ځواب: مونږ وایو ذکر شوی عبارت د دې څخه کنایه دی چې ستاسو ناصر او کارساز نه شته[3]، ځکه چې یو ایت کښې په همدغه مطلب باندې صراحت نازل شوی دی چې ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ﴾ [محمد ١١] یعنې دا ځکه چې یقیناً الله ﷻ د مومنانو کارساز او ناصر دی او یقیناً کفارو ته کارساز او ناصر نشته

د دغه ایت بل نظیر دا دی چې ﴿هَٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّينِ﴾ [الواقعة ٥٦] یعنې دغه عذاب د جزا په ورځ د کفارو مېلمستیا ده یا په بل عبارت هغوی مېلمستیا نه لري.

﴿أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَن تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿١٦﴾ اعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١٧﴾ إِنَّ الْمُصَّدِّقِينَ وَالْمُصَّدِّقَاتِ وَأَقْرَضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴿١٨﴾

---

(١) مفردات الراغب ص٣٨٩

(٢) صحيح مسلم ج٢ ص٣٧٣

(٣) اللباب في علوم الكتاب ج١٨ ص٣٢٨

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦٓ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصِّدِّيقُونَ ۖ وَٱلشُّهَدَآءُ عِندَ رَبِّهِمْ لَهُمْ أَجْرُهُمْ وَنُورُهُمْ ۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٩﴾

[۱۶] ایا هغو کسانو ته کومو چې ایمان راوړی دی د دې وخت نه دی رسېدلی چې زړونه یې د الله ﷻ د ذکر او د هغه شي د کبله خشوع (نرمي او عاجزي) وکړي کوم چې الله ﷻ نازل کړی دی چې د حق (قرآن کریم) څخه عبارت دی؟ او (هم د دې وخت نه دی رسېدلی) چې دوی د هغو کسانو غوندې ونه ګرځي کومو ته چې مخکښې کتاب (تورات او انجیل) ورکړی شوی وه نو په دوی باندې (په غفلت کښې) زمانه اوږده شوه نو زړونه یې کلک شوه (خشوع یې د لاسه ورکړه)؟ حال دا چې د دوی څخه ډېر کسان فاسقان (د شرعي چوکاټ څخه وتونکي) وه.

[۱۷] (ای مؤمنانو!) پوه شئ چې یقینًا الله ﷻ ځمکه د هغې د مرګ (وچوالي) څخه وروسته په باران سره) ژوندۍ کوي (نو همدارنګه مړه زړونه هم په قرآن کریم سره ژوندي کوي).

یقینًا موږ ستاسو دپاره (په قرآن کریم) دلایل (او براهین پوره) څرګند کړي دي، شاید چې تاسو د عقل څخه کار واخلئ (او خپلې قلبي ستونزې وربانديې حل او فصل کړئ).

[۱۸] یقینًا هغه نارینه کسان چې خیراتونه کوي او هغه زنانه کسانې چې خیراتونه کوي او (بالآخره هغه کسان کوم) چې الله ﷻ ته حسنه قرض ورکوي (او په اخلاص سره خیراتونو او نورو عباداتو ته ادامه ورکوي) دوی (ټولو) ته به (د الله ﷻ د پلوه د خیراتونو او عبادتونو جزا) څو چنده ورکړی شي او هم د دوی (ټولو دلو) دپاره (په آخرت کښې) د کرامت څخه ډک اجر (پاکلی شوی) دی.

[۱۹] او هغه کسان کومو چې په الله ﷻ او د هغه ﷻ په پیغمبرانو سره ایمان راوړی دی، دغه ډله کسان همدوی د خپل رب ﷻ په نزد ډېر رښتینې او (في سبیل الله) شهیدان دي.

او (بالمقابل) هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی او زموږ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي، دغه ډله (کسان) د سوزوونکي اور اندیوالان دي.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې مؤمنانو ته ارشاد نازل شوی دی چې په خپل ایمان باندې تر مرګه ټینګ پاتې شي او په مقتضی یې نیک عمل ته ادامه ورکړي، هسې نه چې په لا شعوري توګه ترې ایمان ضائع شي او د قیامت په ورځ د منافقانو غوندې بې نوره (بې رڼا) پاتې شي نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! په خپل اجابتي أمت باندې لاندې ارشادات قرائت کړه چې:

۱ ـ کومو کسانو چې ایمان راوړی دی او د نور د کتلو په لاره روان شوي دي هغوی ته په کار دي چې په خپلو عقیدو باندې بیا نظر وکړي او دا څکه چې

الف: ایا د دوی په زړونو کښې څه کلکوالی نه دی پیدا شوی؟ ایا دوی ته د دې خبرې وخت نه دی ور رسېدلی چې زړونه یې بیا د الله ﷻ د ذکر د کبله او د هغه شي د کبله عاجزي وکړي او

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورته نرم شي كوم چې الله ﷻ نازل كړى دى چې د حق څخه عبارت دى؟.

ب. ايا دوى ته د دې خبرې وخت نه دى رسيدلى چې دوى د اهل الكتابو غوندې چوړ نه شي هغه داسې چې دوى (اهل الكتاب) د وخت په تېريدلو سره منحرف شوه او زړونه يې كلك شوه او شرعي چوكاټ يې پرېښود. بلكې اكثريت يې فاسقان او د دين څخه وتلي وګرځېده

۲_ اى مؤمنانو! پوه شئ چې يقينًا الله ﷻ مړه ځمكه په باران سره بېرته راژوندى كوي. همدارنګه ستاسو زړونه هم په قرآن كريم او په نازل كړي حق سره ژوندي ګرځوي. نو په همدې بنياد د خپلو زړونو معالجه په همدې قرآن كريم سره وكړئ او د زنګونو څخه يې وربانديې تصفيه او پاک كړئ

يقينًا مونږ ستاسو دپاره په دې قرآن كريم كښې د هر څرګند دلايل نازل كړي او بيان كړي دي. شايد چې تاسو د عقل څخه كار واخلئ، او د كفرياتو څخه پرې خانونه په ځنګ وساتئ: د مثال په توګه:

۳_ يقينًا نارينه خيرات وركوونكي مؤمنان او زنانه خيرات وركوونكې مؤمنانې. بلكې هغه كسان كوم چې الله ﷻ ته حسنه قرض وركړي چې انفاق او نور عبادات يې د اخلاص په بنياد صورت نيسي، دوى ټولو ته به الله ﷻ همدغه قرض په چندونو سره غبرګ وركړي، او د همدغو كسانو دپاره د الله ﷻ په نزد د كرامت څخه ډک اجر تاكلى شوى دى چې په هغې رڼا باندې هم مشتمل دى كوم به چې د محشر په ميدان كښې ورته وركړى شي او منافقان به ترې محروم وګرځولى شي.

۴_ لنډه دا چې كومو كسانو چې په الله ﷻ او د ده ﷻ په پيغمبرانو باندې كامل ايمان راوړى وي همدغه كسان د خپل رب ﷻ په نزد د صديقينو او شهيدانو غوندې دي، ته به وايې چې صديقيت او شهادت يې ترلاسه كړي دي، او همدغو كسانو دپاره د خپل رب ﷻ په نزد د دوى لوى اجر او د دوى أخروي نور (رڼا) دواړه تاكلى شوي دي، چې د هر ژر به يې پرې سترګې يخې شي.

۵_ بالمقابل كومو كسانو چې كفر غوره كړى دى او زمونږ ايتونو ته يې د دروغو نسبت كړى دى او په خپل كفر او تكذيب باندې د مرګ تر وخته پورې كلک ولاړ دي نو همدغه كسان د سوزوونكي اور (دوزخ) دائمي ملګري دي چې هيڅكله به يې ورسره انديوالي پرې نه كړه شي.

## توضيحات

۱_ په ﴿ أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓا ﴾ الآية- كښې لاندې ټكو ته توجه وكړئ:

الف: د ﴿ أَلَمْ يَأْنِ ﴾ كلمه د "انى" _لكه "غنى"_ څخه اشتقاقه شوې ده. "انى" دې ته وضعه شوې ده چې يو شى خپلې منتهى ته ورسيږي[۱].

ب: په ﴿ لِذِكْرِ ٱللَّهِ ﴾ كښې د "ل" توري اجليه دى، او د "ذكر الله" څخه د الله ﷻ يادونه مطلب ده، چې ظهاريت يې په نظر كښې ونيولى شي.

ج: په ﴿ وَمَا نَزَلَ مِنَ ٱلْحَقِّ ﴾ كښې د ﴿ ٱلْحَقِّ ﴾ كلمه د قرآن كريم څخه عبارت ده، چې د الله ﷻ د پلوه نازل شوى دى.

---

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۴۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: د ﴿وَلَا يَكُونُوا﴾ جمله په ﴿تَخْشَعَ﴾ باندې عطفه ده چې د "أَنْ" د توري څخه لاندې ده.[1]

هـ: په ﴿فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ﴾ کښې د "أَمَدُ" کلمه د انتهاء په ملحوظ د زماني دپاره وضعه شوې ده.[2]

و: د ﴿وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَـٰسِقُونَ﴾ جمله په ﴿فَطَالَ عَلَيْهِمُ﴾ کښې د "هِمْ" د ضمير څخه حال واقع شوې ده کوم چې اهل الکتابو ته راجع دی.[3]

نو پورتنيو ټکو ته په پام سره به د ايت شريف مضمون داسې راوخيژي چې: ايا مؤمنانو ته د دې خبرې وخت نه دی رسېدلی (بلکې ورته رسېدلی دی) چې زړونه يې د الله ﷻ د يادونې د کبله او د قرآن کريم د اورېدلو او قرائت کولو د کبله نرم او عاجزي کوونکي وګرځي؟ او ايا د دې خبرې وخت ورته نه دی رسېدلی چې دوی د اهل الکتابو غوندې جوړ نه شي چې د عمرونو موده ورباندې په غفلت کښې اوږده شوه چې پيغمبران يې وفات شوې وه نو زړونه يې کلک شوه او خپل شريعت يې د پښو لاندې کړ، حال دا چې د دوی زيات کسان فاسقان وه، نو فسق ته يې لاس واچاوه او خپل کتابونه يې تحريف کړه.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي د ذکر شوې ايت په باب عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ويلي دي چې: «مَا كَانَ بَيْنَ إِسْلَامِنَا وَبَيْنَ أَنْ عَاتَبَنَا اللهُ بِهَذِهِ الْآيَةِ ﴿أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ﴾ إِلَّا أَرْبَعُ سِنِينَ»[4] يعنې زمونږ د مسلمانېدلو ترمنځ او د دې خبرې ترمنځ چې الله ﷻ مونږ ته د همدغه ايت په ذريعه عتاب راجع کړ، هيڅ وخت تېر نه وه مګر فقط څلور کاله.

نو پوښتنه دا ده چې ايا په دغې څلور کلنه موده کښې د صحابه وو کرامو رضي الله عنهم زړونه سخت شوي وه، او د اهل الکتابو خاصيت پکښې موجود شوی وه؟

مونږ وايو چې: د [البقرة:۷۱] ايت لاندې مونږ د الله ﷻ په توفيق ليکلي دي چې کله- کله د يوې ټولنې د څينو کسانو فعل (کار) ټولې ټولنې ته نسبت کېږي. نو په دې مقام کښې د همدغې قاعدې په بنياد ټول صحابه کرام رضي الله عنهم په دغه عتاب باندې مخاطب کړی شوي دي، چې په تاسو کښې دغسې کسان هم شتون لري. که نه نو د صحابه کرامو رضي الله عنهم مطلق اکثريت د مرګ تر وخت پورې په قلبي خشوع باندې کلک ولاړ وه او هيڅ تغير پکښې نه وه پېښ شوی.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه څه لرې نه ده ـوالله ﷻ اعلمـ چې په ايت شريف کښې دې ته اشاره مطلب نه وي چې د دوی په زړونو کښې خشوع کمه شوې ده، ترڅو اعتراض وارد شي، بلکې د ايت شريف مطلب دا وي چې: ايا اوس د دې خبرې وخت نه دی رارسېدلی چې تاسو ته ذکر شوی ارشاد

---

(۱) البحر المحيط ج۱۰ ص۱۰۸

(۲) لسان العرب ج۱۴ ص۷۴؛ روح المعاني ج۲۷ ص۱۸۱

(۳) تفسير المظهري ج۹ ص۱۹۸

(۴) صحيح مسلم ج۲ ص۴۲۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



واورولی شي ترڅو وربانديې د قیامت تر ورځې پورې ټول مؤمنان عمل وکړي او د اهل الکتابو پیروي خپله نه کړي؟

د همدغسې کسانو په هکله د ابو سعید ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې «لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتّٰى لَوْ سَلَكُوا جُحْرَ ضَبٍّ لَسَلَكْتُمُوهُ» یعنې هرومرو ضرور به تاسو د هغو خلکو د لارو پیروي وکړئ کوم چې ستاسو څخه مخکښې تېر شوي دي، لوېشت په لوېشت او ګز په ګز، آن تردې که بالفرض هغوی د سمساري په سوره کښې ننوځي نو ضرور به تاسو هم وررننوځئ.

مونږ وویلې چې: «يَا رَسُولَ اللّٰهِ الْيَهُودَ وَالنَّصَارٰى؟» یعنې ای د الله رسوله! ته په وړاندېنیو تېرو شوو کسانو سره یهود او نصاری اراده کوې؟.

نبي کریم ﷺ په جواب کښې وویلې: «فَمَنْ؟»[1] یعنې چې دوی نه اراده کوم نو څوک اراده کوم؟.

## د زنګنو زړونو تصفیه

۳ـ په ﴿ اَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يُحْىِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ﴾ الآیة- کښې دېته اشاره ده، چې الله ﷻ لکه چې د مړې ځمکې د ژوندي کولو دپاره د اسمانه باران نازل کړی دی. همدارنګه یې د زنګ وهلو زړونو د تصفیه کولو دپاره قرآني دلایل نازل کړي دي ترڅو خلک پکښې د عقل څخه کار واخلي.

همدې موضوع ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «إِنَّ هٰذِهِ الْقُلُوبَ تَصْدَأُ كَمَا يَصْدَأُ الْحَدِيدُ إِذَا أَصَابَهُ الْمَآءُ» یعنې یقیناً دغه زړونه زنګ نیسي لکه چې اوسپنه په هغه وخت کښې زنګ نیسي چې کله ورته اوبه ورسېږي.

نبي کریم ﷺ ته وویلی شوه چې: «يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا جِلَاؤُهَا؟» یعنې ای د الله رسوله! او هغه څه شی دی کوم چې د زړونو تصفیه کولو سبب جوړېږي؟.

نبي کریم ﷺ په جواب کښې وویلې چې: «كَثْرَةُ ذِكْرِ الْمَوْتِ وَتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ»[2] هغه د مرګ ډېر یادول دي او د قرآن کریم ډېر تلاوت دی.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: د ﴿ وَأَقْرَضُوا۟ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ﴾ جمله په کومه جمله باندې عطفه ده؟

مونږ وایو چې: په ﴿ ٱلْمُصَّدِّقِينَ وَٱلْمُصَّدِّقَٰتِ ﴾ کښې د "ال، ال" دواړه کلمې موصولي اسمونه دي چې د "مُصَّدِّقِين، مُصَّدِّقَات" دواړه کلمې ورته د فعلونو په تاویل سره صلې واقع شوې دي چې دواړه تاویلي جملې دي.

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۹۱

(۲) مشکوة (د شعب الایمان په حوالې سره) ج۱ ص۱۸۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ذکر شوي جمله په همدغو تاویلي جملو باندې عطفه ده او هم د همدغو دوارو تاویلي جملو دپاره تفسیر واقع شوې ده، ته به وایې چې داسې عبارت نازل شوی وي: "إِنَّ الَّذِينَ تَصَدَّقُوا وَاللَّاتِي تَصَدَّقْنَ وَأَقْرَضُوا اللهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعَفُ لَهُمْ" یعني یقیناً هغه نارینه مومنان چې خیراتونه کوي او هغه زنانه مومناني چې خیراتونه کوي او (یا په بل عبارت) دا دواړه ډلې چې الله ﷻ ته نېک قرض ورکوي (خیراتونه په اخلاص سره کوي) نو د الله ﷻ د پلوه به ورته غبرګ (په څېډونو سره اجرونه) ورکړی شي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وایي چې: د ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصِّدِّيقُونَ وَٱلشُّهَدَآءُ ﴾ ظاهري مضمون داسې راښېي چې هغه کسان ټول صدیقین او شهیدان دي کومو چې په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبرانو باندې ښه پوخ ایمان راوړی وي. نو پوښتنه دا ده چې محض په پوخ ایمان راوړلو باندې څوک د صدیقینو او شهیدانو درجې ته اوچتېدلی شي؟

موږ وایو چې: په ایت شریف کښې د مبالغې په توګه هغوی عین دوی ګڼلي شوي دي[1] چې د دواړو ډلو ترمنځ به د قیامت په ورځ ښه پخه انډیوالي صورت ونیسي.

د ذکرو شوو دواړو ډلو په انډیوالۍ باندې صراحت هم نازل شوی دی چې ﴿ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقًا ﴾ [النساء: ۶۹] یعني او هر هغه څوک چې د الله ﷻ او د پیغمبر ﷺ پوخ اطاعت وکړي نو دغه کسان به (د قیامت په ورځ) د هغو کسانو معیت (انډیوالي) ولري په کومو باندې چې الله ﷻ انعام کړی دی، کوم چې د پیغمبرانو او صدیقینو او شهیدانو او صالحینو څخه عبارت دي، نو دغه ډله د ملګرو د حیثه ډېره ښه او ښایسته ده.

﴿ ٱعْلَمُوٓاْ أَنَّمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرُۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِى ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَٰدِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ ٱلْكُفَّارَ نَبَاتُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَٰمًا وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنٌ وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلْغُرُورِ ۝٢٠ سَابِقُوٓاْ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ۝٢١ ﴾

[۲۰] (ای خلکو!) پوه شئ چې یقیناً نږدې (او حقیر) ژوند لوبې او مشغولتیا او (هم) ښایست او ...

---

[1] روح المعاني ج۲۷ ص۱۸۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپلو منځو کښې لويې (فخر) کول او (بالآخره) په مالونو او اولادونو کښې د ډېروالي غوښتل دي (په ډېر ژر فناکېدلو کښې دنيا) د داسې باران په مثل (ده) چې نباتات يې پخپله کروندګران هم په تعجب کښې اچوي (چې څومره ښايسته برېښي) بيا همدا (شنه نباتات) وچ شي نو ته يې (اى ليدونکيه!) تک زيړ ګورې، بيا (وروسته) ميده ميده وګرځي (او خمکه ترې خالي جوړه شي).

او (بالمقابل) په آخرت کښې سخت عذاب دى او (هم پکښې) د الله ﷻ د پلوه لويه ښښنه او ډېره لويه رضامندي (ده). او نړدې (او حقير) ژوند نه دى مګر د غولونې سبب دى (چې په تازګۍ پسې يې ډېر ژر فنا صورت نيسي).

[۲۱] (اى مؤمنانو! تاسو په فاني دنيا کښې مسابقه مه کوئ بلکې) د خپل رب ﷻ په لوى مغفرت کښې او داسې جنت کښې (په نېکو اعمالو سره) مسابقه وکړئ چې پلنوالى يې د اسمان او ځمکې د پلنوالي غوندې دى (او طول يې يوازې الله ﷻ ته معلوم دى).

دا جنت د الله ﷻ د پلوه) هغو کسانو ته تيار کړى شوى دى کومو چې په الله ﷻ او د ده ﷺ په پيغمبرانو سره ايمان راوړى دى.

(اى پيغمبره!) دغه (ذکر شوي شيان) د الله ﷻ فضل دى چې هغه چا ته يې ورکوي کوم ته يې چې اراده وشي (او هيڅوک يې د خپلو عبادتونو په عوض نه شي ګټلى که څه هم عبادت کوونکى پيغمبر وي)، او الله ﷻ د ډېر لوى فضل خاوند دى (چې مغفرت او جنت مؤمنانو ته وړيا ورکوي).

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د دنيا په حالت باندې څه رڼا اچولې شوې ده چې د يوه حيثه فاني ده او هيڅ په درد نه خوري او د بله حيثه وربانديې دائمي نعمتونه او جنتونه ګټلى کېږي. نو حاصل يې داسې راځي:

اى پيغمبره! په خپل اُمت باندې دې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ اى خلکو! تاسو پوه شئ او د خپلو عقلونو څخه کار واخلئ ترڅو تاسو ته ښه پوره څرګنده شي چې يقيناً حقير او نږدې ژوند بل شى نه دى بلکې د لاندې حقيرو شيانو مجموعه ده:

الف: دنيا د داسې کارونو څخه عبارت ده چې هغه محض لوبې او ساتېري وي، څه ګټه نه لري.

ب: په دې کښې داسې مشغولتيا ده چې ستاسو څخه وربانديې آخرت هېرېږي البته کله چې په سرودونو او ګډا او سندرو باندې مشغول شئ.

ج: دنيا د ډول او سنګار په معنى ده چې جامې، استوګنځايونه او نور يې ډولي او ښايسته وي.

د: اى خلکو! د دنيا ډېر مهم شى دا دى چې تاسو په خپلو منځو کښې سره يو تربله تفاخر وکړئ چې خينې په يوه شي وناز‌ېږئ او خينې نور په بل شي.

هـ: په دنيا کښې تاسو زور لګوئ چې يو په بل باندې په مالونو او اولادونو کښې زيات وګرځئ او د هر يوه زړه غواړي چې په دغو شيانو کښې ترې نور کسان کمزوري وي.

۲ـ دغه ذکر شوي تول شيان ژر فاني کېدونکي دي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ په دې مقام پورې اړونده لاندې مطالب وړاندې تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

الف: د "تیب" کلمه د [المائدة: ۵۷] ایت لاندې شرحه شوې ده چې د لوبو معنی ورکوي

ب: د "لَهْوٌ" کلمه د [الانعام ۳۲] ایت لاندې واضحه شوې ده چې د مشغولتیا دپاره وضعه شوې ده چې د لوړ وخت وروسته د منځه ځي

ج: د [الزمر ۲۱] ایت لاندې د ﴿ يَهِيجُ ﴾ او ﴿ حُطَٰمًا ﴾ دواړه کلمې بېړه څرګندې شوې دي چې بالترتیب د وچېدلو او میده میده کېدلو دپاره وضعه شوې دي

د: په ﴿ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ ٱلْكُفَّارَ ﴾ الآیة باندې د [یونس ۲۴] ایت لاندې خه ړنا اچولې شوې ده نو فیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي

هـ: بالآخره د ﴿ سَابِقُوٓاْ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ په هکله د [آل عمران ۱۳۳] ایت لاندې پنه تفصیلوار تحقیق تېر شوی دی، خو دلته وړاندې وراضافه کوو چې:

### جنت ته وروځغلئ:

۲ـ دلته د "سَارِعُوا" په عوض د ﴿ سَابِقُوٓاْ ﴾ کلمه نازله شوې ده، نو د دواړو کلمو مضمون داسې راځېږي چې: جنت ته یو د بل څخه وړاندې وروځغلئ او د بل مه کوئ چې فرصت مو د لاسه ونه وځي، او دا ځکه چې دغه فرصت په مرګ سره ختمېږي او مرګ ډېر نژدې دی.

په همدې هکله نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ وَالنَّارُ مِثْلُ ذَلِكَ»[1] یعني ضرور ستاسو هر یو کس ته د خپلې پښې د پیزوان څخه جنت ډېر نژدې دی او دوزخ هم ورته همدارنګه ډېر نژدې دی (چې فقط مرګ یې حائل دی او بس).

﴿ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ ۚ
إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٢٢﴾ لِّكَيْلَا تَأْسَوْاْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُواْ بِمَآ ءَاتَىٰكُمْ ۗ
وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿٢٣﴾ ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبُخْلِ ۗ وَمَن
يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٢٤﴾ لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ
وَٱلْمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلْقِسْطِ ۖ وَأَنزَلْنَا ٱلْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ
وَلِيَعْلَمَ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِٱلْغَيْبِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٢٥﴾ ﴾

---

[1] صحيح البخاري ج ۲ ص ۹۶۰، مسند احمد بن حنبل ج ۲ ص ۱۴۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۲] هیڅ مصیبت نه په ځمکه کښې رسیږي (واقع کیږي) او نه ستاسو په نفسونو کښې مګر هغه د دنیا د پیداکولو څخه وړاندې په عظیم الشان کتاب (لوح محفوظ) کښې (ثبت شوی) دی یقیناً دغه کار په الله ﷻ باندې ډېر اسان دی

[۲۳] (دا) د دې دپاره (هلته ثبت کړی شوی دی) ترڅو تاسو په هغه شي باندې غمژن نه شئ کوم چې ستاسو څخه فوت شي (او د لاسه مو ووځي)، او (هم) په هغه شي باندې (د تکبر په حیث) خوشاله نه شئ کوم چې الله ﷻ تاسو ته درکړی دی او (دا ځکه چې) الله ﷻ هر متکبر فخر کوونکی بنیادم نه خوښوي (چې نور ورته حقیر برېښي)

[۲۴] (متکبران او فخرکوونکي) هغه کسان دي کوم چې (په تکبر او فخر باندې علاوه) بخل (شومتیا) خپلوي او خلکو ته هم په بخل (شومتیا) کولو سره امر کوي (چې ملګري یې ډېر شي) او هر څوک چې (د الله ﷻ د احکامو او هم د انفاق څخه) مخ واړوي نو (هغه فقط خپل ځان په عذاب اخته کړ او دا ځکه چې) یقیناً الله ﷻ همدی ﷻ بې پروا (او) ستایلی شوی دی (نه د چا انفاق ته اړ دی او نه د چا تحمید او توصیف ته)

[۲۵] بې شکه مونږ خپل پیغمبران په دلایلو (او معجزاتو) سره لیږلي دي او د دوی سره مو جنس کتاب او تله (عدل) هم د دې دپاره نازل کړی دی چې خلک (وړاندې عمل وکړي او) په انصاف سره ودریږي (تجاوز ترې ونه کړي)

او مونږ اوسپنه هم نازله (پیدا) کړې ده، چې په دې کښې سخت جنګ (ډېر قوت) او د خلکو دپاره ګټې نغښتې دي (دا مو د دې دپاره پیدا کړې ده چې تاسو یې په وسلوال جهاد او خپلو ګټو کښې وکاروئ) او د دې دپاره چې الله ﷻ په هغه چا باندې (په ظهوري علم سره) عالم شي کوم چې د الله ﷻ (د دین) سره او هم د ده ﷻ د پیغمبرانو سره په غیبو (بدون د لیدلو) نصرت کوي (او په وسلوال جهاد کښې برخه اخلي) یقیناً الله ﷻ قوتناک (او) د کلکې ارادې خاوند دی (نو جهاد یې صرف د آزموینې دپاره فرض کړی دی او بس)

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې دا مضمون هم شامل وه چې باید انسان په خوشالیو او تکاثر کښې تکبر او تفاخر ونه کړي، په دې ایتونو کښې ورته توصیه کیږي چې په مصیبتونو کښې خپل ځانونه اداره کړي او صبر او استقامت خپل کړي نو حاصل یې داسې راځیږي

ای بیعصره! په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه

۱ـ هیڅ مصیبت نه په ځمکه کښې واقع کیږي او نه ستاسو بنیادمانو په نفسونو کښې (لکه طوفان، وچکالي، مرضونه او غمونه) مګر هغه ټول په لوح محفوظ کښې لا په هغه وخت کښې لیکلي شوي دي په کوم کښې چې مونږ هیڅ مخلوق نه وه پیدا کړی

ای بیعصره! دغه کار په الله ﷻ باندې ډېر اسان دی، هیڅ مشکل نه دی او دا ځکه چې د الله ﷻ هم علم کامل دی او هم یې قدرت کامل دی

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ ای خلکو! الله ﷻ د ذکر شوي ازلي لیک خبر تاسو ته د دې دپاره درکړ چې

الف: ترڅو په هغه شي باندې غمژن نه شئ کوم چې ستاسو د لاسه وتلی او فوت شوی وي، په دغسې موقع کښې خپل ځانونه په دې ډاډه کړئ چې دغه شی ضرور زمونږ د لاسه وتونکی وه.

ب. ترڅو په هغه شي باندې د تکبر او تفاخر خوشالي ونه کړئ کوم چې الله ﷻ تاسو ته درکړی دی، او هم په خپلو ځانونو باندې غره ونه ګرځئ چې دا مونږ ته د خپل کمال د کبله راکړی شوی دی، چې د خپلو ځانونو څخه قارونان جوړ کړئ.

۳ـ ای خلکو! تاسو پوه شئ چې الله ﷻ هر یو تکبر کوونکی او هر یو فخر کوونکی نه خوښوي. که بالفرض تاسو تکبر او تفاخر وکړئ نو په لوی لاس به خپل ځانونه د الله ﷻ په غضب اخته کړئ.

۴ـ الله ﷻ څکه متکبران او تفاخر کوونکي نه خوښوي چې د دوی د خاصیتونو څخه دا خاصیتونه هم شمېرل کېږي چې: دوی زیات بخل کوي او په خپلو مالونو کښې د فقیرانو حقوق نه اداء کوي. یا په بل عبارت: دوی نه د خپل رب ﷻ حق ته غاړه ږدي او نه د بندګانو حق ته. او دوی برسېره په بخل کولو باندې نورو خلکو ته هم په بخل کولو باندې امر کوي او په همدې شق کښې خپل ملګري ډېروي.

۵ـ هر څوک چې دغه خاصیت خپل کړي او د الله ﷻ ارشاداتو ته شا کړي او په بخل او شومتیا باندې کلک شي نو هغه په حقیقت کښې خپل ځان په بلا اخته کړ. او دا څکه چې یقیناً الله ﷻ د بندګانو د مالونو څخه بې پروا دی او هیڅ احتیاج ورته نه لري او هم ستایلی شوی دی چې د هیچا عبادت او ستاینې ته اړ نه دی.

۶ـ ای پیغمبره! هسې نه ده چې مونږ خلک په تیاره کښې پرېښي دي او د جنت د ګټلو او د دوزخ څخه د ځان د بچ کولو لارې مو ورته نه دي ښودلې. او دا څکه چې:

الف: یقیناً مونږ (یو لک څلیرشت زره زیات یا کم) پیغمبران د معجزاتو او دلایلو سره استولي دي، چې وخت په وخت یې خلکو ته هدایت کړی دی

ب: مونږ د پیغمبرانو سره د خلکو د ارشاد دپاره کتابونه هم نازل کړي دي. لکه تورات، انجیل، زبور او قرآن.

ج: همدارنګه مونږ دنیا ته عدل هم رالېږلی کړی چې محسوس مثال یې تله ده، البته دا د دې دپاره چې خلک په انصاف باندې کلک ودرېږي او تګي برګي ونه کړي.

۷ـ ای پیغمبره! مونږ په دنیا کښې اوسپنه هم پیدا کړې ده، لکه چې د اسمانه مو نازله کړې وي، چې په دغې اوسپنه کښې زښت ډېر حکمتونه نغښتي دي د مثال توګه: د دې په سبب شدید جنګ صورت نیولی شي او باید په هغه ځای کښې ترې کار واخستل شي په کوم کښې چې سرکشي زیاته شي او د خلکو د مسلمانېدلو مخه نیوله کېږي او یا په اسلامي دعوت باندې بندیز لګول کېږي. او په اوسپنه کښې د خلکو دپاره زښتې ډېرې ګټې پټې دي چې د ژوند په هره ساحه کښې ترې کار اخلي. نو په کار دي چې کفران او ناشکري یې خپله نه کړي شي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۸_ نو الله ﷻ اوسپنه د دې دپاره پیدا کړې ده چې تاسو يې په خپلو منافعو کښې وکاروئ او خپلې اړتیاوې وربانديې پوره کړئ، او هم يې د دې دپاره پیدا کړې ده چې الله ﷻ په خپل ظهوري علم سره په هغه چا باندې پوه شي کوم چې په وسلوال جهاد سره د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبرانو نصرت په داسې حال کښې کوي چې ایمان يې وربانديې په غائبانه توګه راوړی وي، او د جهاد اجرونه او ثوابونه يې لا په خپلو سترګو نه وي لیدلي.

۹_ لنډه دا چې الله ﷻ د آزموینې دپاره او د مجاهدینو د ګټو دپاره جهاد فرض کړی دی که نه نو یقینًا الله ﷻ ښه پوره زورآور دی چې د هیچا نصرت ته اړتیا نه لري، او ښه پوره د کلکې ارادې درلودونکی دی چې د ارادې په وړاندې يې هیڅوک خنډ نه شي جوړېدلی.

## توضیحات

۱_ که څه هم په لوح محفوظ کښې د قیامت تر ورځې پورې ټول واقع کېدونکي کارونه لیکل شوي دي مګر الله ﷻ په ﴿ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ ﴾ کښې د هغه مصیبت په ذکر باندې اکتفاء وکړه کوم چې د ځمکې او نفسونو پورې ارتباط لري، ځکه چې د انسان مصائب په همدغو دوارو پورې حصر دي لکه ناجوړتیا، اوچکالي او داسې نور.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: په ﴿ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ ﴾ کښې د "هَا" ضمیر څه شي ته راجع دی؟

مونږ وایو چې: د دغه ضمیر په مرجع کښې مفسرینو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[1]. لکه

الف: دغه ضمیر د ﴿ مُّصِيبَةٍ ﴾ کلمې ته راجع دی کومه چې په عین آیت کښې په صراحت سره ذکره ده او هم پکښې بحث روان دی.

ب: دا ضمیر د "أَنْفُس" کلمې ته راجع دی چې دا هم په صراحت سره ذکره ده.

ج: دا ضمیر د "الأَرْض" کلمې ته راجع کېږي چې سماعي مؤنثه ده.

د: دا ضمیر د "الْخَلِيقَة" کلمې ته رجوع مومي کومه چې د مقام څخه معلومېږي.

## تبصره

۳_ زمونږ په فکر ذکر شوی ضمیر چې هرې یوې مرجع ته راجع وګڼلی شي په اصل مطلب باندې کوم اثر نه غورزوي، هغه دا چې ټول مصائب د واقع کېدلو څخه پخوا لیکلی شوي دي او په ازلي کتاب کښې ثبت دي. همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «يَا أَبَا هُرَيْرَةَ! جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا أَنْتَ لَاقٍ»[2] یعني ای ابو هریره! په هغه شي باندې قلم وچ شوی دی (تغیر نه قبلوي) د کوم سره چې ته ملاقي کېدونکی يې.

---

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۱۸۶؛ البحر المحيط ج۱۰ ص۱۱۱؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۳۱۳

(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۹۷۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوالونه او جوابونه

۴ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف که څوک وايي چې پوره څرګنده ده چې الله ﷻ اوسپنه په ځمکه کښې پیدا کړې ده، نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد ترې په ﴿ وَأَنزَلْنَا ٱلْحَدِيدَ ﴾ سره تعبیر نازل شوی دی (ته به وايي چې د اسمانه نازله کړی شوې ده)؟

موږ وايو که څه هم ځينو مفسرينو کرامو د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روايت ليکلي دي چې آدم ﷺ د خپله خانه سره د اسمان څخه د اوسپنې د سامان درې بيلګې رانبکته کړې وې چې هغه د انبور، سندان او پلک (څټک) څخه عبارت دي[۱]؛ نو د دغو درېوارو بيلګو رانبکته کول داسې وګڼل شوه لکه چې اوسپنه مطلقًا د اسمانه رانبکته کړی شوې وي. مګر ځينو علماوو کرامو ذکر شوی اثر بالکل دروغ ګڼلی دی چې نوموړي صحابي ﷺ پورې تپل شوی دی[۲].

نو بهتر جواب هغه دی کوم ته چې د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف ۲٦] ایت لاندې اشاره شوې ده چې په قرآن کریم کښې د عام المنفعه شيانو د پیدا کولو څخه په رانبکته کولو سره تعبیر صورت نیسي، چې اوسپنه د همدغو شيانو د جملې څخه ده.

ب که څوک وايي چې الله ﷻ خو په هر شي باندې ازلي او ابدي علم لري حال دا چې د ﴿ وَلِيَعْلَمَ ٱللَّهُ ﴾ جمله د همدغه مطلب په خلاف دلالت کوي؟

موږ وايو چې دغه پوښتنه د الله ﷻ په توفیق د [البقرة ۱۴۳] ایت لاندې ښه پوره جواب شوې ده چې بیا جوابولو ته یې اړتیا نه ګورو.

ج که څوک وايي چې همدغه ﴿ وَلِيَعْلَمَ ٱللَّهُ ﴾ جمله په کومه جمله عطفه ده؟

موږ وايو د دغې جملې په عطف کښې لاندې دوه احتماله شتون لري

اول دا جمله په وړاندېنۍ مذکورې جملې ﴿ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلْقِسْطِ ﴾ باندې عطفه ده[۳]. يعنې موږ د خپلو پیغمبرانو سره کتاب او میزان د دې دپاره نازل کړ چې د یو پلوه خلک په انصاف باندې ودرېږي او یو پر بل ظلم او تیری ونه کړي. او د بله پلوه الله ﷻ هغه څوک وپېژني کوم چې د ده ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبرانو سره بالغیب نصرت کوي.

دوهم دا جمله په مقدره جمله باندې عطفه ده په کومې باندې چې د ﴿ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ ﴾ کلمات دلالت کوي[۴]. او موږ ترې په "تستعملوه في القتال والنفع" سره تعبیر کولی شو. يعنې موږ اوسپنه د دې دپاره پیدا کړې ده چې تاسو یې د ظالمانو سره په جهاد کښې او هم په خپلو

(۱) تفسير ابن كثير ج۴ ص۳۱۵
(۲) تفسير القاسمي ج۱۲ ص۵۵
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۸ ص۵۰۰
(۴) تفسير ابي السعود ج۸ ص۲۱۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شخصي مناقبو کښې دکاروئ او هم د دې دپاره چې الله ﷻ خپله غوښتنه، اراده څرګنده کړي چې د دې دین مرسته او هم د ده ﷻ د پیغمبرانو مرسته بالغیب (غیبي) تصدیق کوي.

تبصره

ف: که څه هم ذکر شوي دواړه جوابونه سره یو ځای له مناقات نه لري، د بلاغت په لحاظ دواړه اراده کېدلی شي، مګر مونږ له دوهم جواب په ذریعه ډېر نږدې ښکاري، والله ﷻ اعلم.

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرَاهِيمَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ ۖ فَمِنْهُم مُّهْتَدٍ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَىٰ آثَارِهِم بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَآتَيْنَاهُ الْإِنجِيلَ وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۖ فَآتَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا مِنْهُمْ أَجْرَهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿٢٧﴾ ﴾

[۲۶] او یقیناً مونږ نوح ﷺ او ابراهیم ﷺ (د پیغمبرانو په صفت) استولي وه او د دوی دواړو اولاده کښې مو نبوت او (اسماني) کتاب ګرځولی (نازل کړی) وه.

نو د دوی د اولادې څخه ځینې کسان لاره موندونکي وه او د هغوی د جملې څخه ډېر کسان فاسقان (له دین څخه وتلي) وه.

[۲۷] بیا مونږ د هغوی دواړو (او هم د لوط ﷺ) په تعقیب خپل ډېر پیغمبران یو په بل پسې واستول او (بالآخره بیا) مونږ عیسی بن مریم ﷺ (د هغوی ټولو) په وروسته ولېږه او (اسماني کتاب) انجیل مو ورته ورکړ او مونږ د هغو کسانو په زړونو کښې نرمي او مهرباني واچوله کوم چې د عیسی ﷺ پیروي خپله کړې وه.

او (بیا) د عیسی ﷺ پیروانو رهبانیت (د خپله ځانه اختراع کړ) د خپله ځانه یې اختراع کړ او مونږ ورباندې نه وه فرض کړی، مګر (هغوی د خپله ځانه) د الله ﷻ د رضامندۍ طلبولو دپاره (رهبانیت اختراع کړی وه) نو هغوی (د اکثریت په ملحوظ) د اختراع کړي رهبانیت ساتنه ونه کړه (البته) حقه ساتنه یې، (چې په خپل تعهد باندې قائم پاتې شوي دي).

نو مونږ د هغوی څخه هغو کسانو ته خپل اجر ورکړ کوم چې (په محمد ﷺ باندې) ایمان راوړی دی، (خو) د هغوی څخه ډېر کسان فاسقان (او د دین څخه وتلي) دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندې پنځو ایتونو مضمون د پیغمبرانو په لېږلو او د رسولانو جهاد په ضرورت باندې هم مشتمل وه، او په دې ایتونو کښې هم څه دواړه مطلبونه تعقیب شوي دي چې حاصل یې دا دی، اخېلاً

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! د خپل رب ﷻ د پلوه په خپل اُمت باندې لاندې مطالب هم قرائت کړه چې:

۱ـ کوم پیغمبران چې مونږ د خلکو هدایت ته استولي دي، د هغوی واضحه او تولو ته څرګند مثالونه نوح ﷺ او ابراهیم ﷺ دي، چې دوی دواړه د هغو ټولو پیغمبرانو پلرونه او نیکونه دي کوم چې د دوی دواړو څخه وروسته مبعوث شوي دي. د مثال په توګه

الف: نوح ﷺ د هغو ټولو پیغمبرانو پلار دی کوم چې د ده ﷺ څخه وروسته مبعوث شوي دي، چې ابراهیم ﷺ هم پکښې شامل دی.

ب: ابراهیم ﷺ د هغو ټولو پیغمبرانو پلار دی کوم چې د ده ﷺ څخه وروسته استولي شوي دي، چې محمد ﷺ هم پکښې شمولیت لري.

ج: لکه څنګه چې مونږ د همدوی دواړو په اولاده کښې نبوت جاري وساته همدارنګه مو د همدوی دواړو په اولاده کښې د اسماني کتابونو نازلولو ته هم اختصاص ورکړ، نو تورات، انجیل، زبور او قرآن د همدوی په اولاده کښې په پیغمبرانو باندې نازل شوي دي او یا یې نزول سمدستي هم جریان لري.

خو د نبوت د سلسلې او د کتابونو د نزول سره‌سره د ذکرو شوو دواړو پیغمبرانو ټولو اُمتیانو ایمان رانه وړ، چې ځینې کسان یې لاره موندونکي وګرځېده او اکثریت یې د شریعت د چوکاټ څخه وتلي پاتې شوه او یا ترې ووانه، نو د همدغـې فاسقانو د سمولو دپاره جهاد ته ضرورت وه نو ځکه مونږ اوسپنه پیدا کړې ده چې وسله ترې جوړه کړی شي او ځکه مو د جوړولو طریقه داوُد ﷺ ته ورزده کړه چې نور خلک یې د جوړولو طریقه تعقیب او پراخه کړي.

۲ـ ای پیغمبره! بیا مو د نوح ﷺ او د ابراهیم ﷺ په تعقیب نور پیغمبران واستول ترڅو د هغوی د شریعتونو پاتې اثار تعقیب کړي او پرې یې نه ږدي چې بالکل د منځه لاړ شي.

۳ـ آن ترديې چې د پیغمبرانو شمېر ستا په شمول د یو لک څلېرشت زره (۱۲۴۰۰۰) تنو شاوخوا ته ورسېد. د همدوی د جملې څخه چې کوم وروستنی پیغمبر دی چې ته د هغه په تعقیب مبعوث شوی یې او ستا او د هغه ترمنځ بل پیغمبر نه دی مبعوث شوی هغه عیسی بن مریم ﷺ دی.

۴ـ ای پیغمبره! مونږ عیسـی ﷺ د خلکو د هدایت دپاره مبعوث کړی وه او د انجیل په نوم کتاب مو هم ورته ورکړی وه نو د ده ﷺ د اُمت څه حالات دا دي:

الف: مونږ د هغو کسـانو په زړونو کښې زړه سوی او مهرباني اچولې وه کومو چې د عیسـی ﷺ پیروي خپله کړې وه، چې د عیسـی ﷺ د اوچتېدلو څخه وروسته هم تر څه وخته پورې دوی په مینه او محبت سره ژوند کاوه.

ب: خو کله چې ظالمانو د دوی د عبادت مخه ونیوله او فرصت یې نه ورکاوه چې دین ته دعوت وچلوي نو په کونج کښې کېناستل یې غوره کړه.

ج: په کونج کښې کیناستل او په بیدیا وو کښې د خلکو څخه جدا اوسېدل دوی هلا دلیله د دین برخه ګرځولې وه، هسې نه چې مونږ ورباندې فرض کړي وه.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د. د عیسی علیه السلام پیروانو دغه بدعت د خپله خانه د الله ﷻ د رضامندی حاصلولو دپاره اختراع کړی وه او په همدې سره یې تعهد کړی وه، خو د دې سره سره دوی په خپل لوظ ونه دریده او د اختراع کړی عبادت یې مناسب رعایت او ساتنه ونه کړه، او په پای کښې یې همدغه اختراعی عبادت په ځرکندو او واضحه جنایتونو تبدیل کړ

۵ـ ای پیغمبره! نو نن ورځ د عیسی علیه السلام د پیروی مدعیان په لاندې دوه ډلو ویشل کیږي

الف. کوچنۍ ډله یې هغه کسان دي کوم چې ستا رسالت قبول کړی دی او په تا باندې یې ایمان راوړی دی او یا یې درباندې راوړي. نو دغې ډلې ته موږ د خپل استحقاق څخه اضافه اجرونه ورکوو، لکه چې مخدستني مو ورکړي وي

ب. دوی غټه ډله او مطلق اکثریت فاسقان دي چې نه په تا باندې ایمان راوړی او نه د عیسی علیه السلام په پیروی کښې رښتیني دي. که نه نو ضرور به یې ایمان راوړی وی ځکه چې عیسی علیه السلام خو لا پخوا خپل اُمت ته ستا د مبعوثیت بشارت ورکړی وه

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې په ﴿ ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَىٰ ءَاثَٰرِهِم ﴾ کښې د "هِمْ" ضمیر نوح علیه السلام او ابراهیم علیه السلام ته راجع دی حال دا چې مرجع مثنی ده او ضمیر جمعه دی؟

موږ وایو: څرنګه چې لوط علیه السلام د ابراهیم علیه السلام سره په یوه زمانه کښې مبعوث شوی وه نو څه لرې نه ده چې هغوی دواړو ته د لوط علیه السلام په ملحوظ د جمعې ضمیر راجع کړی شوی وي. والله ﷻ اعلم

## څو نُکات

۲ـ په ﴿ وَرَهْبَانِيَّةً ٱبْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَٰهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ رِضْوَٰنِ ٱللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ﴾ کښې باید لاندې نُکات په ذهن کښې وساتل شي

الف. "رَهْبَانِيَّة" د دریوو برخو څخه مرکب دی چې شرحه یې لاندې لوستلی کیږي[1]

اول: د "رُهْبَان" کلمه د "رَهِبَ" ـ لکه "طَرِبَ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ډار معنی ورکوي دا کلمه د "عَلِمَ يَعْلَمُ" د باب څخه صفت مشبه ده لکه چې د "عَطْشَان" کلمه د همدې باب څخه صفت مشبه ده. دا کلمه د "رَاهِب" سره مرادفه ده خو مبالغه پکښې زیاته ده چې حرفونه یې ډیر دي یعنې زښت ډیر ډاریدونکی

دوهم. د "يّ" مشدد توری پکښې د نسبت دپاره دی او د تانیث "ة" پکښې د موصوف په تانیث باندې دلالت کوي. څه لرې نه ده چې موږ ترې په "وطريقة رهبانية" سره تعبیر وکړو

دریم. د همدغې کلمې نصب په مقدر "ابْتَدَعُوا" سره صورت نیولی دی چې نصب ورکوونکی

---

(۱) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۴۵۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فعل وروسته په ﴿ ٱبْتَدَعُوهَا ﴾ سره تفسير شوی دی[۱].

ب: "اِبْتَدَعُوا" اصلاً د "بِدْعَة" ـلکه "نِعْمَة"ـ څخه اشتقاق موندلی دی، "بِدْعَة" په لغت کښې هغه قول یا عمل ته ویل کېږي چې سابق مثل ونه لري، لکه چې الله ﷻ اسمانونه او ځمکې بدون د سابقه مثل څخه پيدا کړي دي، دغه ډول بدعة ځينو علماوو کرامو ښه پوره تشريح کړی دی[۲]. اما په دين کښې بدعة د هغه کار يا قول څخه عبارت دی کوم چې په ايت يا سنت کښې بنياد ونه لري خو د دې سره-سره د دين څخه وګڼلی شي او د اجر او ثواب مصدر هم وبلل شي.

ج: د همدغه "بِدْعَة" په هکله نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ»[۳] او هر يو بدعت ګمراهي ده (چې نتيجه يې دوزخ دی).

د: په ﴿ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ رِضْوَٰنِ ٱللَّهِ ﴾ کښې د "إِلَّا" توری په لاندې دوه ډوله تفسير کېدلی شي[۴]:

اول: جمهور علماء کرام وايي چې دا منقطعه استثناء ده. يعنې مونږ په راهبانو باندې ذکره شوې بدعتي طريقه نه وه فرض کړې، مګر هغوی د الله ﷻ د رضامندۍ د تحصيل په غرض د خپلو خانونو څخه بلا دليله اختراع کړې وه.

دوهم: ځينې علماء کرام وايي چې دا متصله استثناء ده. يعنې مونږ وربانديې د بل هيڅ وجې د کبله ذکره شوې بدعتي طريقه نه وه فرض کړې مګر د دې کبله چې دوی د الله ﷻ د رضامندۍ د تحصيل لټونه وکړي.

ه: که څوک وايي چې: د استثناء ذکر شوی دوهم صورت د ﴿ ٱبْتَدَعُوهَا ﴾ سره منافي برېښي، او دا ځکه چې کله وربانديې د الله ﷻ د پلوه فرض کړی شوي وه چې د همده ﷻ رضامندي حاصل کړي نو په دې تقدير خو په ذکرې شوې اختراعي طريقې باندې د بدعت نوم نه اېښودلی کېږي. بايد چې شرعي حکم وګڼل شي؟

مونږ وايو چې: په دې صورت کښې د ايت شريف مطلب داسې راځېږي چې: مونږ وربانديې ابتداءً نه وه فرض کړې خو کله يې چې هغوی التزام وکړ نو وربانديې فرض مو وګرځوله.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده او فرمايلي يې دي چې: «لَا تُشَدِّدُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ فَيُشَدَّدَ عَلَيْكُمْ فَإِنَّ قَوْمًا شَدَّدُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ فَشَدَّدَ اللهُ عَلَيْهِمْ فَتِلْكَ بَقَايَاهُمْ فِي الصَّوَامِعِ وَالدِّيَارِ»[۵] يعنې تاسو په خپلو خانونو باندې (په عبادت کښې) سختي مه درولئ چې په تاسو به سختي دروسته شي، او دا ځکه چې يقيناً يو قوم وه چې په خپلو خانونو باندې يې سختي وروسته نو الله ﷻ وربانديې

(۱) تفسير الكشاف ج۴ ص۴۸۱
(۲) شرح النووي على مسلم ج۱ ص۲۸۵
(۳) صحيح مسلم ج۱ ص۲۸۵
(۴) روح المعاني ج۲۷ ص۱۹۱؛ تفسير ابي السعود ج۸ ص۲۱۳؛ زاد المسير ج۷ ص۳۱۱
(۵) سنن ابي داود ج۲ ص۳۱۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سختۍ وروستیله (او همغه سخت عبادت یې ورباندې فرض وګرځاوه)، نو د دغې ډلې پاتې کسان اوس هم په خپلو عبادتخایونو کښې پراته دي (صوامع او دیار د راهبانو د عبادتخایونو نومونه دي) پیا نبي کریم ﷺ د ایت شریف دا جمله قرائت کړه چې ﴿ ورهبانیة ابتدعوها ﴾

و: په ﴿ فما رعوها حق رعایتها ﴾ کښې دېته اشاره ده چې څه وخت وروسته په راهبانو کښې داسې خلک وموندل شوه چې عبادتخانې یې په فسقخانو باندې بدلې کړې[1] که څوک په همدې ارتباط غواړي چې ډېر مثالونه یې ولولي نو خپلو اوردو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[1] چې هغه پوره تفصیل یې ورکړی دی

ز: که څوک وایي چې په نصاراوو باندې څه باعث وه چې رهبانیت ته یې لاس واچاوه او په پای کښې د ناکامۍ سره مخامخ شوه؟

مونږ وایو چې په هغوی باندې اصلي باعث دا وه چې په همدغه رهبانیت سره یې د جهاد څخه خپلې اوږې سپکې کړې[3]. او دغه دول تکلیفي عبادت یې د جهاد قائم مقام وباله چې په همدې رهبانیت باندې به د الله ﷻ رضامندي حاصله کړو. د همدې کبله نبي کریم ﷺ د رهبانیت په مقابل کښې په جهاد باندې ډېر زور اچولی دی، د بېلګې په توګه د ډېره یې لاندې حدیثونه ولولئ:

اول: «بُعِثْتُ بِالسَّيْفِ حَتَّى يُعْبَدَ اللهُ لا شَرِيكَ لَهُ وَجُعِلَ رِزْقِي تَحْتَ ظِلِّ رُمْحِي»[4] یعنې زه په توري سره مبعوث کړی شوی یم ترڅو چې یوازې د الله ﷻ عبادت وکړی شي چې هیڅ شریک نه لري. او زما روزي زما د نېزې د سوري لاندې ګرځولې شوې ده (چې د غنیمتونو څخه عبارت ده)

دوهم: «لِكُلِّ نَبِيٍّ رَهْبَانِيَّةٌ وَرَهْبَانِيَّةُ هَذِهِ الْأُمَّةِ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ»[5] یعنې هر یوه پیغمبر ته (په یو شکل کښې) رهبانیت وه او د دغه أمت رهبانیت د في سبیل الله جهاد څخه عبارت دی

## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې په ﴿ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ﴾ کښې د ﴿ فَمَا رَعَوْهَا ﴾ مستتر ضمیر ټولو راهبانو ته د اکثریت په ملحوظ راجع دی. نو د همدې کبله ذکره شوې جمله د ﴿ فَآتَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا مِنْهُمْ أَجْرَهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴾ په جملې سره تعقیبه شوې ده یعنې نو مونږ د راهبانو څخه هغو کسانو ته اجرونه ورکړه کومو چې په تاباندې ایمان راوړی دی او د خپل دین په بنیاد یې ستا رسالت قبول کړی دی، خو د راهبانو اکثریت فاسقان دي چې نه یې په عیسی ؑ باندې حقاني ایمان راوړی دی او نه یې د خپل رهبانیت څه پروا ساتلې ده او بالآخره نه یې په تاباندې ایمان راوړی دی

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص ۶۰
(۲) تفهیم القرآن ج۵ ص ۴۵
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص ۳۱۶
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص ۳۰۹
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص ۵۳۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَءَامِنُواْ بِرَسُولِهِۦ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِۦ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِۦ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٨﴾ لِّئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ أَلَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّن فَضْلِ ٱللَّهِ ۙ وَأَنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢٩﴾﴾

[٢٨] (د اهل الکتابو څخه) ای هغو کسانو کومو چې (په محمد ﷺ باندې) ایمان راوړی دی! تاسو د الله ﷻ څخه وډار شئ (دار ته ادامه ورکړئ) او د همده ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې ایمان راوړئ (وړباندې کلک شئ) ترڅو الله ﷻ تاسو ته د خپل رحمت څخه دوه برخې درکړي او (هم) درته داسې رڼا درکړي چې (د قیامت په ورځ به) پرې مزل (او تلل) کوئ. او (بالآخره) مغفرت به هم درته وکړي. او الله ﷻ ډېر بښونکی (او) ډېر مهربان دی.

[٢٩] (ذکر شوي دربګوني نعمتونه به) د دې دپاره (درکړي) چې ترڅو اهل الکتاب (کافران) پوه نه شي (داسې عقیده ونه کړي) چې یقیناً شان دا دی چې محمد ﷺ او محمدي اُمت د الله ﷻ د فضل څخه په هیڅ شي قدرت نه لري (هیڅ شی ورسره نشته بلکې ټولې ښېګنې زمونږ سره دي). او (هم د دې دپاره چې هغوی عقیده خپله کړي چې) یقیناً ټول فضل د الله ﷻ په (بلا کیف) لاس کښې دی (او زمونږ په لاس کښې هیڅ شی نشته). هغه چا ته یې ورکوي کوم ته یې اراده وشي او الله ﷻ د ډېر لوی فضل خاوند دی (فضل یې په یوې ډلې پورې خانګړی نه دی).

## توضیحات او د مطلب خلاصه

١ـ مفسرین کرام د دغو ایتونو په تفسیر کښې په لاندې دوه وو لویو ډلو ویشلی شوي دي:

الف خینې مفسرین کرام وایي چې په ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ﴾ کښې د آخر الزمان اُمت ټول مؤمنان مخاطب کړی شوي دي[١]. یعنې: ای محمدي اُمته! تاسو د الله ﷻ څخه ډارېدلو او د ده ﷻ په پیغمبر (محمد ﷺ) باندې ایمان راوړلو ته ادامه ورکړئ. ترڅو الله ﷻ د خپل رحمت څخه تاسو ته دوه برخې درکړي او هم درته د قیامت په ورځ رڼا درکړي چې په وړاندې به مو خغلي او بالآخره ترڅو تاسو ته مغفرت هم درکړي، چې همدی ﷻ غفور او رحیم دی.

ب خینې نور علماء کرام وایي چې ذکر شوی خطاب اهل الکتابو ته متوجه دی[٢]. یعنې: ای هغو کسانو کومو چې په موسی ﷺ او هم په عیسی ﷺ باندې ایمان راوړی دی! تاسو د الله ﷻ څخه وډار شئ او د ده ﷻ په پیغمبر (محمد ﷺ) باندې هم ایمان راوړئ، ترڅو د خپل رحمت دوه برخې او د قیامت د ورځې رڼا او مغفرت درېواړه درکړي، چې همدی ﷻ غفور او رحیم دی.

---

(١) البحر المحیط ج ١٠ ص ١١٤
(٢) تفسیر القرطبي ج ١٧ ص ٢۶۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

۲_ مونږ ته ذکر شوي دواړه تفسیرونه په زړه پوري نه برېښي، لومړی د دې کبله چې د اجر او رحمت د دوه وو برخو د ورکړې وعده خو ټول محمدي أمت ته نه ده ورکړه شوې، بلکې هغو کسانو ته ورکړه شوې ده کوم چې د اهل الکتابو څخه په آخر الزمان پیغمبر ﷺ باندې ایمان راوړي په همدغې وعدې باندې په [القصص: ۵۴] ایت کښې صراحت نازل شوی دی چې مونږ د همدغه ایت لاندې همدا موضوع په یوه حدیث سره ښه پوره روښانه کړې ده والحمد لله ﷻ.

دوهم تفسیر راته ځکه په زړه پوری نه برېښي چې په قرآن کریم کښې د اهل الکتابو څخه په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ﴾ سره تعبیر صورت نه نیسي بلکې دغه ډول تعبیر د محمدي أمت په مؤمنانو پورې ځانګړی دی. د هغوي څخه په "يا أهل الكتاب" یا د دې په امثالو سره تعبیر نازل شوی دی.

زمونږ په نظر _والله ﷻ اعلم_ ذکر شوی خطاب هغو مؤمنانو ته راجع دی کوم چې د اهل الکتابو د جملې څخه په ایمان مشرف شوی وي، کومو ته چې په وړاندې [الحدید: ۲۷] ایت کښې اشاره شوې ده. نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای هغو کسانو چې د اهل الکتابو څخه دې او په محمد ﷺ باندې یې ایمان راوړی دی! تاسو د الله ﷻ څخه د وارېدلو او د ده ﷻ په پیغمبر (محمد ﷺ) باندې ایمان راوړلو ته ادامه ورکړئ ترڅو . (تر آخره پورې)

## ایا دلته د "لا" توری زاند دی؟

۳_ د ﴿ لِّئَلَّا يَعۡلَمَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ أَلَّا يَقۡدِرُونَ عَلَىٰ شَيۡءٖ مِّن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُ ﴾ په تفسیر کښې هم علماء کرام په دوه وو ډلو وېشلی شوي دي چې مونږ د هرې ډلې د تفسیر خلاصه په لاندې ډول سره د الله ﷻ په توفیق لیکو

الف: د ځینو مفسرینو کرامو د تفسیر مهم ټکي دا دي[1]:

اول: په ﴿ لِئَلَّا يَعۡلَمَ ﴾ کښې د "لا" توری زاند دی څه معنی نه لري، ته به وایې چې "لِيَعْلَمَ" نازل شوی وي. لکه چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه همدغسې قرائت روایت شوی هم دی[2].

دوهم: د ﴿ أَلَّا يَقۡدِرُونَ ﴾ کلمات د ﴿ لِئَلَّا يَعۡلَمَ ﴾ دپاره مفعول واقع شوي دي، او مستتر ضمیر پکښې اهل الکتابو ته راجع دی.

درېیم: د ﴿ وَأَنَّ ٱلۡفَضۡلَ ﴾ کلمات د ﴿ لِئَلَّا يَعۡلَمَ ﴾ کلمې په مفعول ﴿ أَلَّا يَقۡدِرُونَ ﴾ باندې عطف دی یعني ای مؤمنانو! ایمان ته د ادامې ورکولو په صورت کښې به تاسو ته د رحمت دوه برخې او هم نور او مغفرت درکړی شي ترڅو اهل الکتاب (چې په ایمان نه دي مشرف شوي) پوه شي (او عقیده خپله کړي) چې دوی د الله ﷻ د فضل څخه په هیڅ شي باندې هم قدرت نه لري چې چا ته یې ددکړي

---

(۱) روح المعاني ج۲۷ ص۱۹۳، اضواء البيان ج۷ ص۸۱۶
(۲) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۴۳۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او یا یې د چا څخه بېرته واخلي، او ترڅو پوه شي چې د الله ﷻ ټول فضل پوازې د همده ﷻ په لاس کښې دی، هغه چا ته یې ورکوي کوم ته یې چې اراده وشي. نو اهل الکتاب به د خپلې دعوې په غلطۍ باندې پوه شي چې وایې مونږ د الله ﷻ غوره بندګان یاستو او ټولې ښېګڼې پوازې په مونږ پورې اختصاص لري او بس.

ب. د ځینو نورو مفسرینو کرامو د تفسیر مهم بنیادونه دا دي[۱]:

اول: په ﴿لِّئَلَّا يَعْلَمَ﴾ کښې د "لا" توری زائد نه دی چې معنی ونه لري.

دوهم: په "أنْ لَا يَقْدِرُونَ" کښې د "أنْ" توری د "أنَّ" څخه مخفف کړی شوی دی او اسم یې د شان مقدر ضمیر دی، ته به وایې چې "أَنَّهُ لَا يَقْدِرُونَ" نازل شوی دی.

دریم: د "لَا يَقْدِرُونَ" مستتر ضمیر محمد ﷺ او د ده ﷺ إجابتي أمت ته راجع دی.

څلورم: د ﴿وَأَنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ﴾ کلمات د مقدر فعل دپاره مفعول واقع شوي دي چې مونږ ترې په "وَلِيَعْتَقِدُوا" سره تعبیر کولی شو.

یعنې ای د اهل الکتابو څخه تازه ایمان راوړونکو! الله ﷻ تاسو ته د رحمت دوه برخې او نور او مغفرت د دې دپاره درکوي چې غیر مسلمان اهل الکتاب پوه نه شي او عقیده خپله نه کړي چې محمد ﷺ او أمت یې د الله ﷻ د فضل څخه په یوه شي هم قدرت نه لري او هیڅ برخه یې ترې په لاس کښې نشته. او هم د دې دپاره چې هغوی عقیده خپله کړي چې ټول فضل خاص د الله ﷻ په لاس کښې دی او هر چا ته یې چې اراده وشي هغه ته یې ورکوي، حال دا چې هغوی پکښې هیڅ لاس وهنه نه شي کولی لکه چې خیال کوي او خپلو ځانونو ته د غوره بندګانو لقب ورکوي.

## تبصره

۴ـ مونږ ته همدغه دوهم تفسیر په زړه پوری برېښي، ځکه چې په لومړي تفسیر کښې د "لا" په توري باندې د زائد (بې معنی) حکم کړی شوی دی، او په کار ده چې د امکان تر حده پورې د قرآن کریم په یوه توري باندې هم دغسې حکم ونه کړی شي، والله ﷻ اعلم وعلمه اکمل واتقن.

د الله ﷻ په توفیق د "الحدید" سورت د پښتو ترجمې او تفسیر په ختمېدلو سره اوه ویشتمه سپاره هم پای ته ورسېده، والحمد لله ﷻ.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِيْنَ تُؤْتِيهِمْ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ، آمِينَ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ.

۱۴۲۴/۱۲/۱۸ هـ ق = ۱۳۸۲/۱۱/۲۰ هـ ش.

---

(۱) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۴۵۹؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۸ ص۵۱۱

# المجادلة (٥٨)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# سریزه

۱_ په دغه سورت باندې د "المُجَادلة" نوم ایښودلی شوی دی او په همدې نامه باندې د نورو سورتونو څخه جدا کړی شوی دی، چې په لاندې دوه وو ډولونو سره وربانديې تلفظ کېږي:

الف: یو د "د" په زور سره. په دې تلفظ کښې د مصدر صیغه ګرځي او په جګړه کولو سره معنی کېږي.

ب: دوهم تلفظ یې د "د" توری په زېر سره دی، چې اسم فاعل مونث جوړېږي او د جګړه کوونکې ښځې معنی ورکوي، همدغه دوهم تلفظ د لومړني تلفظ په نسبت معروف دی[۱].

۲_ د دې سورت ټول ایتونه دوه ویشت (۲۲) دي[۲].

۳_ د دې سورت د کلماتو شمېر څلور سوه او درې اویاوو (۴۷۳) ته رسېږي[۳].

۴_ او د حرفونو شمېر یې یو زر اوه سوه او دوه نوي (۱۷۹۲) تورو ته پورته شوی دی[۴].

۵_ که څه هم د دې سورت په مدینیتوب کښې څه اختلاف شته دی مګر تقریبا په اتفاق سره ټول ایتونه یې مدني دي او د هجرت څخه وروسته نازل شوي دي[۵].

۶_ د دې سورت اکثرې محتویات عملي احکام تشکیلوي خو په لاندې موضوعاتو او داسې نورو باندې پکښې ډېر ټینګار شوی دی:

الف: د ظهار پورې اړوند د جاهلیت د زمانې عادت ختمول او د کفاري تجویزول.

ب: د نبي کریم ﷺ او د نورو مؤمنانو سره د ادابو مراعات کول.

ج: د منافقانو او اسلام دښمنه ټولنو د عاداتو څخه خان بچ ساتل او تعلقات ورسره پرې کول.

۷_ هغه سورت (الحدید) مکي سورت وه او د اکثریت په لحاظ یې په عقیدوي احکامو پورې تعلق درلود، او دا سورت (المجادلة) مدني سورت دی او د اکثریت په ملحوظ د عملي احکامو سره تړاو لري، او پوره واضحه ده چې د دغو دواړو ډولونو احکامو تعلق د نوک او اوري غوندې نه بېلېدونکی مثال لري، بلکې عمل په عقیده باندې مرتب دی، نو ته به وایې چې دا سورت د هغه سورت نتیجه ده.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿قَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوۡجِهَا وَتَشۡتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ يَسۡمَعُ تَحَاوُرَكُمَآۚ

(۱) روح المعاني ج۲۸ ص۲
(۲) تفسیر الطبري ج۲۸ ص۲
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۱۹۴
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۱۸ ص۵۱۳
(۵) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۴۲۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ۝١ ٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَآئِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَٰتِهِمْۖ إِنْ
أُمَّهَٰتُهُمْ إِلَّا ٱلَّٰٓـِٔي وَلَدْنَهُمْۚ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ ٱلْقَوْلِ وَزُورًاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ
غَفُورٌ ۝٢ وَٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُواْ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن
يَتَمَآسَّاۚ ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِۦۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝٣ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ
شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَآسَّاۖ فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًاۚ ذَٰلِكَ
لِتُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ وَتِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِۗ وَلِلْكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٤ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] یقیناً الله ﷻ د هغې مېرمنې خبره واورېده (او قبوله یې کړه) کومې چې ستا سره د خپل خاوند په باره کښې جګړه کوله او الله ﷻ ته یې خپله پرېشان حالي وړاندې کوله، حال دا چې الله ﷻ ستاسو دواړو بحث (او خبرې اترې) اورېدلې (او دا څکه چې) یقیناً الله ﷻ ډېر ښه اورېدونکی (او) ډېر ښه بینا دی (نو دغه حکم یې نازل کړ).

[۲] هغه کسان کوم چې ستاسو د جملې څخه د خپلو ښځو (مېرمنو) څخه ظهار وکړي، نو مېرمنې یې خپلې مورګانې نه دي (په ظهار سره یې مورګانې نه ګرځي).
د دغو (کسانو) مورګانې نه دي مګر هغې ښځې دي کومو چې دوی زېږولي دي. او یقیناً دغه (کسان) چې دي هرومرو دوی د وینا څخه ناآشنا او دروغ خبره وایي.
او بې شکه الله ﷻ ضرور ډېر عفوه کوونکی (او) ډېر بښونکی دی.

[۳] او هغه کسان کوم چې د خپلو ښځو (مېرمنو) څخه (په یوه کلام سره) ظهار وکړي (او) بیا همغه کلام ته (په ماتولو سره) بېرته ورګرځي (ترڅو فوت شوی شی بیا ترلاسه کړي) نو (په دوی باندې) د مېرمنې او خاوند د تماس نیولو (جنسي ارتباط) څخه مخکښې د یوې رقبې (غلام یا وینځې) ازادول (واجب) دي.
(ای مؤمنانو!) دغه (د ازادولو حکم) چې دی تاسو ته پرې (د الله ﷻ د پلوه د زجر په توګه) پند درکولی کېږي (نو تاسو ته په کار دي چې په عمل کښې یې پیاده کړئ)، او الله ﷻ په هغو کارونو باندې خبردار دی کوم چې تاسو یې (روزمره) کوئ.

[۴] نو هرڅوک چې (غلام یا وینځه) ونه مومي (چې ازاده یې کړي) نو (په هغه باندې) د مېړه او مېرمنې د تماس نیولو (جنسي ارتباط) څخه مخکښې دوه میاشتې پرلپسې (پیوسته) روژې نیول (واجب) دي.
نو هغه څوک چې ونه توانیږي (چې دوه میاشتې پرلپسې روژه ونیسي) نو (په هغه باندې) شپېتو

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مسکینانو ته (په مړه ګېډه) خواړه ورکول (واجب) دي.

دغه (د کفارې حکم) د دې دپاره (په تاسو باندې واجب وګرځولی شو) چې تاسو په الله ﷻ او د هغه په پیغمبر ﷺ باندې ایمان راوړئ (خپل ایمان تهورباندې ادامه ورکړئ).

او دغه (ذکر شوي احکام) د الله ﷻ حدود دي (تاسو ترې تجاوز مه کوئ او د کفارو په لارو مه ځئ)، او (دا خکه چې) د کفارو دپاره (د الله ﷻ په نزد) دردناک عذاب (ټاکلی شوی) دی.

## ارتباط او شان نزول

۱ـ وړاندینی سورت په ﴿ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ باندې تمام شوی وه او د دې سورت په لومړیو ایتونو کښې د همدغه لوی فضل یوه مثال ته اشاره شوې ده چې په شان نزول کښې لږ څه واضحه شوی دی.

۲ـ د دې ایتونو په شان نزول کښې محدثینو کرامو زښت ډېر احادیث روایت کړي دي چې ځینو مفسرینو کرامو راغونډ کړي دي[۱]، خو مونږ د ام المؤمنین عائشې رضي الله عنها د روایت د لنډ مطلب په ذکر باندې اکتفاء کوو[۲] او څو وضاحتونه ورباندې وراضافه کوو، هغه دا چې:

الف: د جاهلیت په زمانه کښې د خپلې ماندینې سره ظهار کول ـ چې ان شاء الله ﷻ په توضیحاتو کښې یې وضاحت راروان دی ـ قطعي طلاق ګڼل کېده، چې رجوع کول ورته په قطعي صورت سره ممکن نه وه[۳].

ب: په اسلام کښې چې د ظهار کومه لومړنۍ واقعه پېښه شوې وه هغه د اوس بن الصامت ﷺ د ظهار واقعه ده[۴].

ج: د دغه صحابي ﷺ د خپلې ماندینې سره ـ چې د تره لور یې وه او خوله بنت ثعلبه رضي الله عنها نومېده ـ په څه موضوع خبره ترخه شوه او په نتیجه کښې یې مخاطبه کړه چې «أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي» یعنې ستا شا په ماباندې د خپلې مور د شا غوندې شوه. یا په بل عبارت: ته په ماباندې د خپلې مور په شان ابدي حرامه یې.

د: ذکره شوې ماندینه د خپل خاوند په خطابه ډېره خپه شوه او سمدستي نبي کریم ﷺ ته ورغله او ټوله قیصه یې ورته ټکي په ټکي بیانه کړه، چې ای د الله رسوله! ماته شرعي فیصله راکړه چې زما او د خاوند ترمنځ جدایي رامنځته نه شي.

هـ: عائشه رضي الله عنها (ام المؤمنین) وایي چې زه د همدې کوټې په یوه کونج کښې ناسته وم، د دغې بي بي رضي الله عنها خبرې مې چندان وانه ورېدلې چې څه غواړي، خو په عین وخت کښې ذکر شوي خلور

[۱] الدر المنثور ج۸ ص۷۱
[۲] مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۳۷۱؛ سنن النسائي ج۲ ص۱۰۷
[۳] تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۲۷۰
[۴] تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۲۰؛ تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۶۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راوړه ایتونه آن تر ﴿ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ پورې نازل شوه او موضوع روښانه شوه چې هغې د ظهار په هکله فیصله غوښتله، او دا فیصله الله ﷻ نازله کړه چې د قیامت تر ورځې به ترې ټول مؤمنان ګټه پورته کوي نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! بسم الله کړه او خپل امت ته د الله ﷻ د لوی فضل یو مثال قرائت کړه.

۱_ یقینًا الله ﷻ د هغې ښځې خبرې واورېدې او د هغې سوال او زارۍ یې قبولې کړې کومې چې ستا سره د خپل خاوند په هکله جګړه کوله او خپله پوښتنه یې ستا په حضور کښې تکراروله. حال دا چې هغې په عین وخت کښې خپل احتیاج الله ﷻ ته وړاندې کاوه، چې ای الله! د خپلې مهربانۍ او د خپل فضل د مخې په خپل پیغمبر باندې داسې حکم نازل کړه چې زه د خپل میړه (خاوند) څخه جدا نه شم.

۲_ ای پیغمبره! ستا او د ذکرې شوې زنانه ترمنځ چې کومو خبرو اترو صورت ونیوه هغه ټولې الله ﷻ واورېدلې او دا ځکه چې الله ﷻ ډېر ښه اورېدونکی دی او هم ډېر ښه بینا دی. چې د محتاجانو سوالونه اورې او احتیاجات یې ګورې، نو په همدې هکله یې یوه فیصله بیانه کړه چې د قیامت تر ورځې پورې ترې ټول مؤمنان ګټه پورته کړې هغه دا چې:

۳_ ای مؤمنانو! کوم کسان چې ستاسو د جملې څخه د خپلو مېرمنو څخه ظهار کوي او هغوی ته د خپلو مورګانو سره په تحریم کښې تشبیه ورکوي، نو هغوی یې په همدغې تشبیه سره مورګانې نه ګرځي او نه یې په حقیقت کښې مورګانې دي. د ظهار کوونکو مؤمنانو مورګانې نه دي مګر هغه زنانه دي کومو چې دوی حقیقتاً زېږولي دي، نه هغه مېرمنې کومې چې دوی په خپلو خانونو باندې په تحریم کښې د خپلو حقیقي مورګانو سره تشبیه کړې دي، او تشبیهًا یې د خپلو مورګانو لقب ورکړی دی.

لنډه دا چې مورولي او زوی ولي د خولې خبره نه ده ترڅوورباندې حقیقي تحریم مرتب شي. هو! دا یوه بده (نامعقوله) او دروغ خبره ده چې باید د دغې خبرې قائلین مجازات کړی شي، خو الله ﷻ ډېر عفوه کوونکی او ډېر ښښونکی دی نو د همدې کبله یې د دغه حکم د نزول څخه وړاندېنی ظهار کوونکی عفوه کړی دی او په ورستنیو ظهار کوونکو باندې یې کفاره فرض کړې ده ترڅو ورته د ګناه مغفرت وکړی شي. هغه دا چې:

۴_ کوم کسان چې د خپلو مېرمنو څخه ظهار وکړي او د خپلو مورګانو سره یې په تحریم کښې تشبیه کړي او بیا خپلې خبرې ته ورګرځي ترڅو یې ماته کړي او د منځه یې یوسي، نو هغوی دې کفاره ورکړي ترڅو د دروغین قول د ګناه څخه خلاص شي. کفاره یې دا ده:

الف. هغوی دې د خپلو مېرمنو سره د تماس (جنسي ارتباط) د نیولو څخه وړاندې یو غلام او یا یوه وینځه ازاده کړي، په هغوی باندې دغه کار واجب دی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای مؤمنانو! تاسو ته په دغه حکم سره پند درکول کېږي، دا کار ستاسو دپاره خير دی او دا ځکه چې الله ﷻ ستاسو په ټولو کړو وړو باندې خبردار دی.

ب: نو ستاسو څخه چې څوک غلام يا وينځه نه مونده کوي ترڅو يې ازاده يا ازاد کړي (توان يې نه لري) حال دا چې خپلې مېرمنې ته يې د ظهار کلمات اورولي وي او اراده هم لري چې خپله خبره ماته کړي او بېرته يې واخلي، نو په هغوی باندې پرلپسې دوه مياشتې روژه نيول لازم دي البته د هغه څخه وړاندې چې ظهار کوونکی د خپلې ظهار کړی شوې ښځې سره جنسي ارتباط ونيسي.

ج: نو کوم ظهار کوونکی سړی چې نه د غلام يا وينځې د ازادولو توان لري او فقير وي او نه دوه مياشتې پی درپی روژې نيولی شي چې بوډا يا مزمن مريض وي، هغوی دې شپېتو تنو مسکينانو ته خوراک ورکړي، او دوه وخته دې په ګېډه ماړه کړي.

نو په ذکرو شوو درېوو صورتونو کښې په ذکر شوي ترتيب سره ظهار کوونکی د ګناه څخه خلاصېږي او د دروغين کلام مخنيوی يې کېدلی شي.

۵_ ای مؤمنانو! الله ﷻ ذکر شوی حکم او ذکره شوې تشريع د دې دپاره تاسو ته درنازل کړ ترڅو تاسو په الله ﷻ او د ده ﷺ په پيغمبر باندې خپل ايمان ته ادامه ورکړئ او ذکر شوی حکم په عمل کښې پياده کړئ. او دا ځکه چې ذکر شوي کفاراتي احکام د الله ﷻ حدود دي چې د همدغه ﷻ د پلوه ټاکلي شوي دي، تاسو ته په کار دي چې د دغو حدودو څخه تېری ونه کړئ.

هو! څوک چې د دغو الهي حدودو څخه ورتېرېږي او مراعات يې نه ساتي نو هغوی د کفارو عادت خپل کړی دی او د کفارو دپاره دردناک عذاب ټاکلی شوی دی، نو څوک چې د کفارو په لاره تګ کوي هغه به هم د دردناک عذاب سره مخامخ شي که څه هم دائمي به نه وي، البته دا په هغه وخت کښې چې د حدود الله ﷻ څخه تجاوز يې حلال نه وي ګڼلی.

## توضيحات

۱_ د ﴿ قَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ ﴾ الآية- په تفسير کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ قَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ ﴾ کلمه د "قَدْ لَقَبِلَ اللهُ" معنی ورکوي لکه چې په لمانځه کښې د "سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ" هم همدغه معنی ده[1]. يعنې الله ﷻ د جګړه کوونکې ښځې خبره واورېده او قبوله يې کړه چې د قرآن کريم په نازلولو سره يې ورته جواب ورکړ.

ب: د کومې ښځې څخه چې په دې مقام کښې په ﴿ ٱلَّتِى ﴾ سره کنايي تعبير نازل شوی دی د هغې په نامه کښې علماء کرام اختلاف لري خو يوه غټه ډله علماء کرام -چې په سر کښې يې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما واقع دی- وايي چې د هغې نوم خوله بنت ثعلبه رضي الله عنها وه[2].

ج: د ﴿ تُجَٰدِلُكَ ﴾ کلمه د "جِدَال" څخه اشتقاقه شوې ده، د نوموړې ښځې جګړه او جدال دا وه

(۱) تفسير البغوي ج۴ ص۳۰۲
(۲) الدر المنثور ج۸ ص۷۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې خپله موضوع یې نبي کریم ﷺ ته په مکرر ډول وړاندې کوله چې: ای د الله رسوله! زما خاوند خو طلاق نه دی ذکر کړی، هغه د طلاق اراده نه درلوده او داسې نور. خو نبي کریم ﷺ به ورته په جواب کښې ویل چې: «مَا أُرَاكِ إِلَّا حُرِّمْتِ عَلَيْهِ وَلَمْ أُومَرْ فِي شَأْنِكِ بِشَيْءٍ»[1] یعنې زه تا نه ګورم مګر داسې چې ته په خپل خاوند باندې حرامه شوې یې، ستا په شان کښې زه په هیڅ شي باندې نه یم مامور شوی.

د: په ﴿ فِي زَوْجِهَا ﴾ کښې د ذکر شوې ښځې مېړه ته اشاره ده، چې علماء کرام یې په نامه کښې اختلاف لري خو اکثریت وایي چې د ده نوم "اوس بن الصامت ﷺ" وه[2] چې د خپلې ښځې د تره زوی کېده.

ه: ذکرې شوې بي بي رضي الله عنها خپله پرېشانحالي الله ﷻ ته داسې وړاندې کوله چې: «اللَّهُمَّ إِنَّ لِي مِنْهُ صِبْيَةً إِنْ ضَمَمْتُهُمْ إِلَيْهِ ضَاعُوا وَإِنْ ضَمَمْتُهُمْ إِلَيَّ جَاعُوا»[3] یعنې ای الله! یقینًا ماته د خپل خاوند څخه ماشومان اولادونه دي، که زه یې خپل خاوند ته ضمیمه کړم (هغه ته یې پرېږدم) نو ضائع او بې خدمته به شي او که خپل خان ته یې ضمیمه کړم نو وږي به شي (نفقه یې اشکال لري).

## ظهار څه معنی؟

۲ـ په ﴿ ٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَآئِهِم ﴾ کښې د ﴿ يُظَٰهِرُونَ ﴾ کلمه د "ظِهَار" ـ لکه "قِتَال" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأحزاب:۴] ایت لاندې د ظهار د کلمې شرعي تعریف لیکلی دی چې: "ظِهَار" په شریعت کښې دېته وایي چې څوک خپله منکوحه مخاطبه کړي چې: "أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي" یعنې ته په ماباندې داسې حرامه یې لکه د خپلې مور شا. یا په بل عبارت: تا سره جنسي ارتباط نیول په ماباندې داسې حرام دي لکه چې د خپلې مور سره جنسي ارتباط راباندې حرام دی.

خو په دې مقام کښېورباندې د ضرورت په بنیاد لاندې مطالب وراضافه کوو:

الف: ظهار کول یوازې د مور سره په تشبیه پورې اختصاص نه لري بلکې تولې ابدي حرامې ښځې پکښې یو برابرې دي او په تشبیه سره یې شرعي ظهار تحقق مومي، لکه خور، لور او داسې نورې.

ب: همدارنګه په شرعي ظهار کښې د ظهر (شا) ذکر ضرور نه دی، بلکې د محرمې ښځې د تول بدن او یا د هغه اندام سره تشبیه هم ظهار ګڼل کېږي په کوم سره چې د تول بدن څخه د کنایې توګه تعبیر صورت نیسي. لکه سر، څټ او داسې نور.

ج: د شرعي ظهار احکام او هم د همدغه ظهار د کفارې مسائل خینو مفسرینو کړاو[4] راغونډ کړي دي خو اصلي مرجع یې د فقهي کتابونه دي چې مربوط تول بحثونه او د کفارې په شمول تول

(۱) تفسیر البغوي ج۴ ص۳۰۴
(۲) روح المعاني ج۲۸ ص۳
(۳) البحر المحیط ج۱۰ ص۱۲۱
(۴) تفسیر المظهري ج۹ ص۲۰۹ـ۲۲۰؛ تفسیر الخازن ج۶ ص۱۹۶. ص۱۹۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اختلافات پکښې په پوره شرحه شوي دي. نو ښه به دا وي چې هغلته مراجعه وکړی شي، چې دلته رانقلول يې څه ضرور نه دي.

## د "عَوْد" معنى

٣_ په ﴿ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا ﴾ کښې د ﴿ يَعُودُونَ ﴾ کلمه د "عَوْد" _لکه "قَوْل"_ څخه اشتقاق شوې ده چې د بيرته ګرځېدلو معنى ورکوي خو په دې مقام کښې مفسرينو کرامو په ګڼو معناوو سره تفسيره کړې ده چې تقريباً اوو معناوو ته رسيږي[1]. کومه معنى چې موږ ته بهتره برېښېدلې ده هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو[2]:

الف: "عَوْد" په خپله معنى باندې باتې دی چې "بيرته ورګرځېدل" دي.

ب. په ﴿ لِمَا قَالُوا ﴾ کښې د "لِ" توری د "إلى" معنى ورکوي چې جاره حرفونه يو د بل په ځای استعمالېږي.

ج: د "مَا" کلمه د هغه کلام څخه کنايې ده په کوم باندې چې شرعي ظِهار انعقاد موندلی وه.

د: د "بِالنَّقْضِ" کلمات ورسره مقدر دي، نو په وايې چې داسې يې نزول موندلی دی چې "ثُمَّ يَعُودُونَ إلى مَا قَالُوا بِالنَّقْضِ" يعنې کوم کسان چې د خپلو ميرمنو څخه په څه کلام سره شرعي ظِهار نه صورت ورکړي او بيا هماغه کلام ته په نقض او ماتولو سره بيرته ورګرځي (په اصطلاح خپله خبره بيرته اخلي) نو هغوی دې په هغه ترتيب سره کفاره ورکړي کوم چې په ايتونو کښې نازل شوی دی.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ كُبِتُوا۟ كَمَا كُبِتَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ وَقَدْ أَنزَلْنَآ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ ۚ وَلِلْكَٰفِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ ۝٥ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓا۟ ۚ أَحْصَىٰهُ ٱللَّهُ وَنَسُوهُ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ۝٦ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۖ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا۟ ۖ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ۝٧ ﴾

[٥] يقيناً هغه کسان کوم چې د الله ﷻ او د ده ﷺ د پيغمبر د حدودو په مقابل کښې حدود (او احکام) وضعه کوي (او غواړي چې خپل حدود او احکام ورباندې غالب وګرځوي) دوی (په عذاب

---

[1] تفسير القرطبي ج١٧ ص٢٨٠، زاد المسير ج٧ ص٣١٧

[2] تفسير ابي السعود ج٨ ص٢١٦

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره) ذلیل (او خوار) کړی شوي دي، لکه څنګه چې هغه کسان ذلیل کړی شوي وو کوم چې د دوی نه مخکې وراندې (تېر شوي) دي

او یقیناً مونږ (د خپلو حدودو او احکامو د اثبات دپاره) څرګند دلایل (او براهین) نازل کړي دي او د (ټولو) کافرانو دپاره (په دنیا او عقبی دواړو کښې) سپکوونکی عذاب (تاکلی شوی) دی

[۶] هغه ورځ (یاده کړه) چې الله ﷻ (پکښې) ټول کفار د قبرونو څخه را اوچت کړي نو الله ﷻ به یې په هغو کارونو سره خبر کړي کوم یې چې (په دنیا کښې) عملي کړي دي

(او دا ځکه چې) الله ﷻ د کفارو ټول کړه وړه د شمېر لاندې راوستلي (ساتلي) دي او کفارو هېر کړي دي او الله ﷻ په هر شي باندې حاضر دی (چې هیڅ شی ترې نه شي غائب کرځېدلی)

[۷] آیا ته نه وینې (ته نه پوهېږې) چې یقیناً الله ﷻ په هغو مخلوقاتو باندې پوهېږي کوم چې په اسمانونو کښې دي او په هغو مخلوقاتو باندې هم کوم چې په ځمکه کښې (موجود) دي

(نو د همدې کبله) د درېوو کسانو هیڅ پټ راز نه موجودېږي مګر الله ﷻ یې (د علم په لحاظ) څلورم دی، او نه د پنځو کسانو (هیڅ پټ د راز مجلس موجودېږي) مګر الله ﷻ یې (د علم په لحاظ) شپږم دی، او نه د دغه (عدد) څخه کم او نه (ترې) زیات (عدد د راز مجلس تحقق مومي) مګر الله ﷻ (د علم په لحاظ) ورسره دی. په هر ځای کښې چې راز کوونکي (شورا کوونکي) وي

بیا به یې د قیامت په ورځ په هغو کړو وړو باندې خبر کړي کوم چې دوی (راز کوونکي) عملي کوي، (ځکه چې) یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېني متصل ایت مضمون تعقیب شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! د حدود الله په هکله په خپل امت باندې څه نور مطالب هم قرائت کړه هغه دا چې

۱ ــ یقیناً کوم کسان چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر سره دښمني او مقابله کوي او غواړي چې په نبوت باندې یې خاورې واروي، او کوم کسان چې زور لګوي ترڅو خپل بشري حدود د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ په حدودو باندې غالب وګرځوي او د منځه یې ورباندې یوسي، هغوی داسې خوار او ذلیل کړی شوي دي لکه څنګه چې د دوی څخه وړاندېني کسان خوار او ذلیل کړی شوي دي البته چې کله یې د نبوت او حدود الله په مقابل کښې دښمني غوره کړه. او دا ځکه چې مونږ څرګند دلایل نازل کړي دي چې نه څوک په نبوت باندې سترګې پټولې شي او نه څوک حدود الله ﷻ په دائمي توګه د منځه وړلی شي. په دې باندې علاوه، دغو کفارو ته په آخرت کښې د الله ﷻ په نزد سپکوونکی عذاب ټاکلی شوی دی چې د هر ژر ورسره مخامخ کېدونکی دی.

۲ ــ ای پیغمبره! کفارو ته هغه ورځ وریاده کړه چې کله الله ﷻ دوی ټول د قبرونو څخه راپورته کړي او د حساب کتاب دپاره یې په خپل حضور کښې ودروي. نو په دغې ورځ کښې به یې په هغو اعمالو باندې خبر کړي کوم چې دوی په دنیا کښې کړي دي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ کفارو خو خپل اعمال او خپل کړه وړه هېر کړي دي او خیال کوي چې د هیڅ جنایت نه دي مرتکب شوي، خو الله ﷻ د دوی ټول کړه وړه او ټول جنایات د شمېر لاندې راوستلي دي او بېسره په خپل ازلي علم باندې په اعمالنامو کښې یې هم مکرمو پرښتو لیکلي دي. او دا ځکه چې الله ﷻ په هر شي باندې حاضر دی او هیڅ شی ترې غیاب نه شي خپلولی چې علم ورباندې ونه لري.

۴_ ایا ته نه ګورې او ته نه پوهېږې چې:

الف: بې شکه الله ﷻ په هغو ټولو موجوداتو باندې پوهېږي او د ده ﷻ د علم څخه غیاب نه شي موندلی، کوم چې په اسمانونو کښې موجودیت لري او کوم چې په ځمکو کښې شتون لري.

ب: د درېوو کسانو هیڅ شوری موجودیت نه شي موندلی مګر الله ﷻ د هغوی سره د علم په لحاظ څلورم دی، او نه د پنځو نفرو شوری موجودېدلی شي مګر الله ﷻ یې د علم په لحاظ شپږم دی او بالآخره نه د ذکرو شوو عددونو څخه په لږ عدد سره او نه په زیات عدد سره شوری تحقق مومي مګر الله ﷻ د علم په لحاظ ورسره معیت لري. برابره خبره ده چې شوری کوونکی په پټ ځای کښې شوری ته ناست وي او یا په ښکاره ځای کښې.

ج: نو ایا د دې خبرې امکان شته چې د الله ﷻ د علم څخه دې په اسمانونو او یا په ځمکو کښې څه شی پټوالی خپل کړی شي؟.

۵_ بیا به الله ﷻ د خپل علم په مطابق د قیامت په ورځ ټول خلک په خپلو هغو کړو وړو خبر کړي کومو ته یې چې په دنیا کښې عملي بڼه ورکړې وي، چې تا دا کړي دي او ستا کړه وړه دا دي نو نن ورځ خپله اعمالنامه پخپله ولوله.

۶_ لنډه دا چې یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې په کامله توګه پوه دی او هیڅ شی ترې پټون او غیاب نه شي خپلولی.

## توضیحات

۱_ په ﴿كُبِتُوا كَمَا كُبِتَ﴾ کښې د "کُبِتُوا، کُبِتَ" دواړه کلمې د "کَبَتَ" _لکه "ضَرَبَ"_ څخه اشتقاقي شوې دي، "کَبَتَ" د یوه شي ذلیل ګرځولو او په عذاب سره نیولو ته ویل کېږي[1]. یعنې هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷺ دښمنۍ ته ولاړ وي او بشري احکام د الهي احکامو په ځای قائمول غواړي، نو هغوی به د الله ﷻ د پلوه ذلیل کړی شي او په عذاب باندې به ونیول شي لکه چې د پخوانیو سره همدغه چال چلند صورت نیولی دی، لکه فرعون او نور.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي: د څه حکمت په بنیاد الله ﷻ په ﴿ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ ﴾ کښې د درې کسیزې او پنځه کسیزې شورى په ذکر باندې

[1] لسان العرب ج۲ ص۷۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صراحت نازل کړ، حال دا چې د ﴿ وَلَآ أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ ﴾ کلمات ټولو شوراګانو ته شامل دي چې هرڅو کسیزه وي؟!

مونږ وایو: د دغه سوال د جوابولو دپاره علماوو کرامو ډېر جوابونه کړي دي[1]، د مثال په توګه:

الف: په درې کسيزې او پنځه کسيزې شوراګانو باندې د دې کبله صراحت شوی دی چې د ایتونو د نزول په وخت کښې منافقانو همدغه ډول شوراګانې کولې ترڅو مؤمنان غمژن کړي او په تشویش کښې یې واچوي[2].

د همدې جواب تائید دهغه شان نزول څخه هم لاس ته راځي کوم چې د [المجادلة ۸] ایت په هکله وروسته راروان دی.

ب: که څه هم شورئ په دوه کسانو سره هم صورت نیولی شي مګر لومړی مناسب عدد ورته درې کسان دي[3]، ته به وایې چې دوه کسان مدعیان دي او دریم کس ورته حَکَم او فیصله کوونکی دی. دغه درې کسیزه ډله په یوه حدیث کښې نبي کریم ﷺ د سفر دپاره هم مناسبه بنودلې ده چې: «وَالثَّلَاثَةُ رَكْبٌ»[4] یعنې د سفر دپاره مناسب ټولګی درې کسان دي چې په ښه ډول سره خپل احتیاجات پوره کولی شي او د خطراتو مخه نیولی شي.

او دوهم مناسب عدد د شورئ دپاره پنځه کسان دي، ته به وایې چې څلور کسان مدعیان دي او پنځم کس ورته خبره فیصله کوونکي دي.

## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې دغه ایت شریف په کوم کښې چې بحث روان دی د الله ﷻ د علم په بیان سره شروع شوی دی چې ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ او د همده ﷻ د علم په بیان سره ختم شوی دی چې ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴾. نو ټولو مفسرینو کرامو په اتفاق سره د ﴿ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا۟ ﴾ کښې د معیت څخه علمي معیت مراد کړی دی او هیڅ ترې مکاني معیت نه دی مراد کړی[5].

همدغه مطلب ته د [الحدید:۴] ایت لاندې هم څه اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نُهُوا۟ عَنِ ٱلنَّجْوَىٰ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُوا۟ عَنْهُ وَيَتَنَٰجَوْنَ بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَمَعْصِيَتِ ٱلرَّسُولِ وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ ٱللَّهُ وَيَقُولُونَ فِىٓ

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۲۹ ص۲۶۵
(۲) تفسیر الکشاف ج۴ ص۴۹۰
(۳) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۴۴۲؛ تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۷۴
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۶۱۲، ص۶۷۱
(۵) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۲۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَنفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُ ۚ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ يَصْلَوْنَهَا ۖ فَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٨﴾ يَـٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا تَنَـٰجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَـٰجَوْا۟ بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَمَعْصِيَتِ ٱلرَّسُولِ وَتَنَـٰجَوْا۟
بِٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٩﴾ إِنَّمَا ٱلنَّجْوَىٰ مِنَ ٱلشَّيْطَـٰنِ لِيَحْزُنَ
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَلَيْسَ بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١٠﴾

[٨] ايا ته هغو كسانو ته نه ګورې كوم چې د (مؤمنانو په ضد) د پټو جرګو څخه منعه كړى شوي وه (او) بيا همغو جرګو ته (په دوامداره توګه) ورګرځي د كومو څخه چې منعه كړى شوي وه او (د استمرار په توګه) په ګناه سره او (هم) په تجاوز (ظلم) او د پيغمبر څخه په عصيان سره پټې جرګې كوي، او (برسېره په دې) كله چې تاته درشي نو په هغو (الفاظو) سره تاته تحيه (تحفه) وړاندې كوي په كومو سره چې الله ﷻ پرې تاته تحيه (تحفه) نه ده دركړې (ستا په شريعت كښې يې نه دي ټاكلي) او (په عين وخت كښې) په خپلو ځانونو (زړونو) كښې وايي چې: الله ﷻ د هغو (الفاظو) په سبب مونږ ولې نه معذبوي كوم چې مونږ يې وايو (كه بالفرض دا په حقه پيغمبر وى نو مونږ به الله ﷻ ضرور معذب ګرځولي وى).

جهنم د همدغو دپاره كافي دى چې ورداخل به شي، نو (جهنم) د بېرته ورګرځېدلو ډېر بد ځاى دى.

[٩] اى هغو كسانو كومو چې ايمان راوړى دى! كله چې تاسو پټې جرګې كوئ نو (د منافقانو غوندې) په ګناه او تجاوز (ظلم) او (هم) د پيغمبر ﷺ څخه په عصيان (نافرمانۍ) سره جرګې مه كوئ، او په نېكيو او تقوى سره جرګې وكړئ، او د هغه الله ﷻ څخه وډار شئ چې خاص همده ﷻ ته به ورحشر كړى شئ (چې كله د حساب كتاب دپاره قيامت قائم كړى شي).

[١٠] يقيناً د منافقانو پټې جرګې د دې كبله د شيطان د پلوه صورت نيسي ترڅو هغه كسان غمژن (او خپه) كړي كومو چې ايمان راوړى دى حال دا چې (پټې خبرې) مؤمنانو ته د هيڅ شي ضرر نه شي رسولى مګر د الله ﷻ په اجازه (او امر). او خاص په الله ﷻ باندې دې نو مؤمنان توكل وكړي (او د هغوى په پسپسكو باندې دې نه خپه كېږي).

## شان نزول او ارتباط

١ـ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د قول په بنياد ذكرى شوى اولنى ايت د يهودانو او منافقانو په هكله نازل شوى دى چې په خپلو منځو كښې به يې پسپسكى كاوه او سترګكونه به يې وهل ترڅو صحابه كرام رضي الله عنهم په تشويش كښې واچوي. نبي كريم ﷺ د دې كار څخه منعه كړه خو دوى ترې منعه نه شوه او خپل عادت ته يې ادامه وركړه[١].

(١) زاد المسير ج٧ ص٣٢٠

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ په دې ایتونو کښې د وړاندېنې متصل ایت مضمون د مثالونو په ضمن کښې ښه پوره تشریح شوی دی چې الله ﷻ د علم د حیثه په هر یوه مجلس کښې حضور لري او هیڅ راز ترې پټ نه شي پاتې کېدلی. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! الله ﷻ د هر مجلس او هرې یوې شورۍ سره علمي معیت لري او د منافقانو او یهودانو ټول مجلسونه ورته هم معلوم دي نو:

۱_ ایا ته هغو کسانو ته نه ګورې کوم چې ستا د پلوه د پټو مجالسو څخه او د مؤمنانو په ارتباط د پسپسکو او سترګکونو څخه منعه کړی شوي وه، چې مؤمنانو ته تشویش مه وراچوئ او خپل دغه خاصیت پرېږدئ، خو ذکر شوي کسان بیا خپل خاصیت ته په دوامداره توګه ورتاوېږي او بیا-بیا د هغو جنایاتو مرتکب ګرځي د کومو چې پخوا مرتکب ګرځېدلي وه، خو د الله ﷻ څخه یو جنایت هم نه شي پټولی. د مثال په توګه:

۲_ یهودان او منافقان نورو پټو مجالسو ته هم صورت ورکوي چې هغه تاته معلوم نه دي خو الله ﷻ ورباندې کامل علم لري، هغه دا چې د دغو کسانو پټې شوراګانې د ګناهونو په موضوعګانو کښې صورت نیسي، چې د جنایت پېټې یې ورباندې درنېږي، او هم په دې باره کښې چې په مؤمنانو باندې تجاوز او تېری وکړي او د پیغمبر ﷺ څخه مخالفت او عصیان خپل کړي او ادامه ورکړي.

۳_ ای پیغمبره! هغوی چې کله تاته د سلام سوغات او تحفه وړاندې کوي نو داسې سوغات درته وړاندې کوي کوم چې الله ﷻ نه دی مشروع کړی او ته یې ورباندې نه یې مخاطب کړی، بلکې هغوی د مشروع سوغات په شکل کښې تا په غیر مشروع سوغات او تحفه باندې مخاطب ګرځوي، او وایي چې "السَّامُ عَلَيْكَ" یعنې په تاباندې دې مرګ وي.

خو په عین وخت کښې په خپلو زړونو کښې او په خپلو پټو مجالسو کښې یو تربله وایي چې که بالفرض محمد ﷺ رښتیانی پیغمبر وی نو هرومرو او ضرور به په دغه غیر مشروع سوغات سره الله ﷻ مونږ معذب کړي وی، کله چې مونږ د دغه تحقیر او توهین سره-سره نه معذبوي نو معلومه شوه چې نوموړی د نبوت په دعوه کښې دروغژن دی.

۴_ ای پیغمبره! د الله ﷻ په نزد هر شي په خپل ټاکلي وخت سره صورت نیسي، نو که مونږ هغوی د دغه تحقیر او توهین په سبب په دنیا کښې معذب وند ګرځوو نو د آخرت عذاب خو یې په مخکښې دی چې د دوزخ څخه عبارت دی. دغه دوزخ ورته کافي او مناسب دی چې د قیامت په ورځ به هلته ورداخل شي او د نجات لاره به ترې مونده نه کړي، نو دغه دوزخ د بېرته ورګرځېدلو ډېر بد ځای دی.

۵_ ای مؤمنانو! تاسو د منافقانو او یهودانو عادت او خاصیت مه خپلوئ او نه خپلولو ته یې ادامه ورکړئ. نو په همدې بنیاد کله چې تاسو پټ مجلس کوئ او پټو شوراګانو ته صورت ورکوئ نو الف: د ګناهونو مجالس مه کوئ او په خلکو باندې د ظلم او تیرې مجالس مه جوړوئ او بالآخره

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د پیغمبر د عصیان په مجالسو کښې مه کینئ او د اسلام په ضد پلانونه مه سازوئ.

ب: تاسو د نېکۍ مجالس جوړ کړئ او د الله ﷻ د تقوی په هکله سره کینئ او په همدې باره کښې يو تربله مشورې ورکړئ او پلانونه جوړ کړئ.

۶_ ای مؤمنانو! تاسو د هغه الله ﷻ څخه وډار شئ او د عذابه يې خپل ځانونه په وقايه کښې وګرځوئ چې د قيامت په ورځ به ټول ورغونډ کړی شئ او حساب کتاب به درسره وکړي.

۷_ ای پيغمبره! يقيناً د منافقانو او د اسلام دښمنو ټولنو پټ مجالس او هم پسپسکي او سرګکونه يو شيطاني کار دی چې د شيطان د پلوه ورته ښايسته کړی شوی دی. دغه کار ته انسي او جني شيطانان د دې غرض دپاره صورت ورکوي ترڅو ورباندې مؤمنان غمژن کړي، خو دغه کړنلاره مؤمنانو ته د هيڅ شي ضرر نه شي رسولی او نه ورباندې څه نتيجه ترتب موندلی شي مګر هله چې د الله ﷻ امر او اذن وشي او بس.

نو مؤمنانو ته په کار دي چې د دغسې دسيسو په مقابل کښې يوازې په الله ﷻ باندې توکل او اعتماد وکړي (همدغه توکل او اعتماد ته ادامه ورکړي).

## توضيحات

۱_ په احاديثو کښې د ﴿ وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوۡكَ بِمَا لَمۡ يُحَيِّكَ بِهِ ٱللَّهُ وَيَقُولُونَ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ لَوۡلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُ ﴾ کلمات ډېر ښه تفسير شوي دي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ الْيَهُودَ إِذَا سَلَّمُوا عَلَيْكُمْ يَقُولُ أَحَدُهُمْ السَّامُ عَلَيْكُمْ فَقُولُوا عَلَيْكَ»[1] يعنې يقيناً کله چې په تاسو باندې يهودان سلام اچوي نو يو نفر (سلام اچوونکی) يې وايي چې په تاسو باندې دې مرګ وي. نو (کله يې چې په تاسو باندې دغه ډول سلام واچاوه) نو تاسو (ورته په جواب کښې) ووايئ چې په تا باندې دې مرګ وي.

ب: د عبد الله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چې يهودانو به نبي کريم ﷺ ته (د سلام عليک په عوض) د "سام عليک" تحفه وړاندې کوله او د خپلو ځانونو سره به يې ويلې چې (که بالفرض محمد ﷺ پيغمبر وی نو) الله ﷻ مونږ د هغو کلماتو په ويلو سره ولې نه معذبوي په کومو سره چې مونږ نوموړی مخاطب ګرځوو؟ «فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ»[2] يعنې دغه ذکر شوی ايت شريف نازل شو او د هغوی خبره يې جوابه کړه.

ج: که څوک وايي: که څه هم د يوه روايت په بنياد نبي کريم ﷺ يهودانو ته (د تحريف سلام) جواب په "عَلَيْكُمْ" سره ورکړی دی[3]، يعنې مرګ دې په تاسو وي، مګر د بل روايت[4] په بنياد يې

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۲۱۳
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۷۸
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۸۹۰
(۴) صحيح مسلم ج۲ ص۲۱۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغوی ته په "وَعَلَيْكُمْ" سره جواب ورکړی دی حال دا چې د "وَ" توری په مشارکت باندې دلالت کوي، ته به وایې چې د خپل ځان دپاره یې هم د مرګ غوښتنه کړې وي؟!

مونږ وايو چې:

اول: د نبي کريم ﷺ په جواب (وَعَلَيْكُمْ) کښې د "وَ" توری د عطف دپاره نه دی چې په اشتراک باندې دلالت وکړي او اعتراض وارد شي، بلکې د استيناف دپاره دی خو جمله انشائيه ده. يعنې او مرګ دې په تاسو باندې وي، نه په مونږ باندې لکه چې تاسو يې غواړئ.

همدې جواب ته نبي کريم ﷺ په بل حديث کښې داسې اشاره کړې ده چې: «إِنَّا نُجَابُ عَلَيْهِمْ وَلَا يُجَابُونَ عَلَيْنَا»[1] يعنې يقيناً زمونږ سوال د هغوی په ضد قبلېدلی شي او د هغوی سوال زمونږ په ضد نه شي قبلېدلی.

دوهم: په "وَعَلَيْكُمْ" کښې د "وَ" توری د استيناف دپاره دی او همدغه کلمات د مقدرې مبتدا (وَعَلَيْكُمُ السَّامُ) په ملحوظ خبريه جمله ده. يعنې مرګ په تاسو باندې هم واقع کېدونکی دی، که زه مړ شم ـ لکه چې تاسو يې غوښتنه کوئ ـ نو تاسو به ژوندي پاتې شئ؟!

د: ﴿ حَيَّوْكَ ﴾، ﴿ لَمْ يُحَيِّكَ ﴾ دواړه کلمې د "تَحِيَّة" څخه اشتقاقي شوې دي او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النساء:۸٦] ايت لاندې دغه کلمه (تَحِيَّة) ډېره ښه تحليله کړې ده، او هم مو هلته د بوه حديث په رڼا کښې واضحه کړې ده چې شرعي تحيه او تحفه د "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" څخه عبارت ده.

په دې باندې علاوه په همدغه مطلب باندې الله ﷻ صراحت هم نازل کړی دی چې: ﴿ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ وَسَلَـٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَىٰٓ ﴾ [النمل:۵۹] يعنې او (ای پيغمبره!) ووايه چې ټولې ستاينې الله ﷻ پورې مختصې دي او هم د الله ﷻ په هغه بندګانو باندې سلام دی کوم چې همده ﷻ (د نبوت دپاره) غوره کړي دي.

## شيطاني جرګه

۲ـ په ﴿ إِنَّمَا ٱلنَّجْوَىٰ مِنَ ٱلشَّيْطَـٰنِ لِيَحْزُنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ کښې هغه جرګه شيطان ته منسوبه کړی شوې ده کومې ته چې د مؤمنانو د خپه کولو او غمژن کولو په موخه صورت ورکړی شي، لکه چې يو مثال ته يې د ذکرو شوو ايتونو په شان نزول کښې اشاره شوې ده.

خو د ايت شريف په عموم کښې لاندې جرګې هم شاملې دي او شيطاني جرګې دي:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ صَاحِبِهِمَا فَإِنَّ ذَلِكَ يُحْزِنُهُ»[2] يعنې کله چې تاسو درې کسان ملګري ياست نو دوه کسان دې په غير د خپل (دريم) ملګري څخه پټې خبرې (پسپسکی) نه کوي او دا ځکه چې دغه کار يې ملګری خپه کوي او غمژن کوي.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۱۸۷
(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۲۱۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: هغه پسپسکی هم شیطاني پسپسکی او شیطاني جرګه ده چې ذکر شوي دوه ملګري یې په داسې لغت سره ترسره کړي چې دریم ملګری ورباندې نه پوهېږي[۱].

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُواْ فِى ٱلْمَجَـٰلِسِ فَٱفْسَحُواْ يَفْسَحِ ٱللَّهُ لَكُمْ ۖ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُواْ فَٱنشُزُواْ يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ دَرَجَـٰتٍ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١١﴾ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَـٰجَيْتُمُ ٱلرَّسُولَ فَقَدِّمُواْ بَيْنَ يَدَىْ نَجْوَىٰكُمْ صَدَقَةً ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ ۚ فَإِن لَّمْ تَجِدُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾ ءَأَشْفَقْتُمْ أَن تُقَدِّمُواْ بَيْنَ يَدَىْ نَجْوَىٰكُمْ صَدَقَـٰتٍ ۚ فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُواْ وَتَابَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٣﴾ ﴾

[۱۱] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! کله چې تاسو ته وویلی شي چې په خپلو مجالسو کښې پراخي راولئ (ترڅو نور مؤمنان هم درسره کیني) نو پراخي (پکښې) راولئ (او د امر اجابت وکړئ) چې الله ﷻ ستاسو دپاره (په رزق، قبر، نعمتونو او سینه کښې) پراخوالی راولي.

او کله چې (تاسو ته) وویلی شي چې (د مجالسو څخه) اوچت شئ نو اوچت شئ (او د امر اجابت وکړئ) چې الله ﷻ ستاسو د جملې څخه هغو کسانو ته کومو چې ایمان راوړی دی او هغو کسانو ته کومو ته چې علم ورکړی شوی دی درجې (او مراتب) اوچت کړي.

او الله ﷻ په هغو (کړو وړو) خبردار دی کوم چې تاسو یې (روزمره) کوئ (نو موافقه جزا یا سزا به درکړي).

[۱۲] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! کله چې تاسو د پیغمبر ﷺ سره مناجات کوئ نو د خپل مناجات څخه مخکښې (د الله ﷻ په لاره کښې) څه خیرات وړاندې کړئ.

دغه کار ستاسو دپاره ښه ګټور او ښه پاکوونکی دی.

نو که تاسو (څه مال) ونه مونډ (چې خیرات یې کړئ) نو الله ﷻ ډېر ښښونکی (او) ډېر مهربان دی (په بې خیراته مناجات باندې به مو ونه نیسي).

[۱۳] ایا تاسو د خپل مناجات څخه مخکښې د خیراتونو د وړاندې کولو څخه ډارېږئ (چې په دوامداره توګه به یې ترسره نه کړی شئ)؟.

نو کله چې تاسو (د خیراتونو تقدیم بدون د ډاره) ونه کړی شو او الله ﷻ درباندې په رحمت سره رجوع وکړه (ذکر شوی حکم یې درڅخه تخفیف کړ) نو تاسو لمونځونه ودروئ او زکاتونه ورکړئ او

---

[۱] روح المعاني ج۲۸ ص۲۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(هم) د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړئ (چې دغه کار ستاسو دپاره په دوامداره توګه د هر ګټهور او د هر ښه پاکوونکی دی).

او الله ﷻ د هر ښه خبردار دی (البته) په هغو کړو وړو چې تاسو (پکښې) روزمره لګیا یاست.

## شان نزول او ارتباط

۱ـ د ذکرو شوو درېوو ایتونو د شان نزول په ارتباط مفسرینو لاندې معلومات لیکلي دي[۱]:

الف: څو کسه صحابه کرام رض د نبي کریم ﷺ حضور ته ورغله خو د کیناستلو ځایونه یې موندنه کړه او د ناستو کسانو د حلقې څخه بهر ولاړ پاتې شوه، نو الله ﷻ اولنی ایت شریف نازل کړ.

ب: ځینو کسانو د نبي کریم ﷺ سره په مناجات کښې اوږد وخت تېراوه حال دا چې خبره به هم چندانې مهمه نه وه، خو نبي کریم ﷺ د خپلو عالي اخلاقو د کبله نه شوه منعه کولی. نو الله ﷻ دوهم ایت نازل کړ.

ج: څرنګه چې د مناجات دپاره د خیرات ورکړه په هغوی باندې درنه تمامه شوه حال دا چې زیات شمېر فقیران وه، نو الله ﷻ درېم ایت نازل کړ او د مناجات دپاره یې د خیرات ورکړه منسوخه کړه.

۲ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د مناجات او پټو جرګو اداب ښودلي شوي وه، او په دې ایتونو کښې د یو پلوه په مجالسو کښې د اشتراک ادبونو ته اشاره کېږي او د بله پلوه پکښې خاص د نبي کریم ﷺ سره د مناجات کولو ارشاد نازل شوی دی. نو خلاصه یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه مؤمنان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ ای مؤمنانو! تاسو په ټولو مجالسو کښې او په تېره بیا د نبي کریم ﷺ په مجالسو کښې لاندې ارشادات په عمل کښې پیاده کړئ:

الف: کله چې تاسو ته (د تازه راتلونکو او یا د مجالسو د مشرانو د پلوه) وویلې چې دایره پراخه کړئ چې نورو کسانو ته هم د کیناستلو موقع په لاس ورشي نو تاسو دغه امر په لبیک سره قبول کړئ ترڅو الله ﷻ تاسو ته په اجرونو کښې پراخوالی او ډېروالی راولي او ښه پرېمانه ثوابونه درکړي.

ب: او که تاسو ته وویلی شي چې د مجالسو څخه بالکل اوچت شئ او خپل ځایونه نورو ته پرېږدئ نو دغه امر ته هم په لبیک سره جواب ورکړئ او قبول یې کړئ. نو په دې صورت کښې به هم الله ﷻ ستاسو د جملې څخه د هغو کسانو مراتب او درجات اوچت کړي کومو چې په اخلاص سره ایمان راوړی دی او هم ورته پوخ علم ورکړی شوی دی. یوازې دغه کسان د قوي ایمان او پوخ علم په ذریعه کولی شي چې تواضع غوره کړي او خپل ځایونه نورو ته خوشې کړي.

یا په بل عبارت: د مراتبو او درجاتو لوړوالی په دې باندې نه ترلاسه کېږي چې تاسو د مجالسو

---

(۱) الدر المنثور ج۸ ص۸۳؛ زاد المسير ج۷ ص۳۲۲؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۳۲۴؛ روح المعاني ج۲۸ ص۲۵؛ اسباب النزول للواحدي ص۲۷۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


په پراخولو کښې هڅه ونه کړئ او نبي کريم ﷺ او یا نورو مشرانو ته ډېر نژدې کينئ بلکې دغه کار په قوي ایمان او پوخ علم پورې اړه لري، برابره خبره ده چې تاسو د مجالسو په لرې څنډه کښې قرار ولرئ او که په نژدې څنډه کښې.

ج: لنډه دا چې الله ﷻ ستاسو په ټولو کارونو او کړو وړو باندې خبردار دی نو تاسو چې خپلو عملونو ته په هر کیف سره صورت ورکوئ د همغه مطابق به جزا یا سزا درکړي.

۲ـ ای مؤمنانو! تاسو د ایمان په رڼا کښې لاندې ارشاداتو ته هم توجه وکړئ:

الف: کله چې تاسو غواړئ چې د پیغمبر ﷺ سره مناجات وکړئ او پټ راز ورسره ترسره کړئ نو مخکښې د هغه څخه څه خیرات وکړئ او بیا په مناجات باندې خپل خانونه مشرف وګرځوئ. دغه کار ستاسو دپاره بهتر دی او پاکیزه جوړوونکی دی چې د منافقانو د زړونو څخه وربانديې جدا کېږئ او هیڅوک درباندې د منافقانو ګومان نه شي کولی.

ب: هوا که تاسو څه مال نه درلود او مناجات ته مو ضرورت پېښ شو، په دې صورت کښې بدون د مخکښې خیرات څخه هم تاسو ته جائزه ده چې په مناجات باندې مشرف جوړ شئ: او دا خکه چې الله ﷻ ډېر بښونکی او ډېر مهربان دی.

۳ـ ای مؤمنانو! ایا تاسو د مناجات څخه مخکښې د خیرات د ورکړې څخه ډارېږئ؟، یا په بل عبارت کله چې تاسو وډار شوئ چې د دغه کار په سرته رسولو کښې به پاتې راشئ او په دوامداره توګه به یې عملي نه کړی شئ (دغه کار درباندې درونډ تمام شو)، او په دې باندې علاوه، کله چې الله ﷻ په تاسو باندې په رحمت سره رجوع وکړه نو ذکر شوی حکم یې منسوخ وګرځاوه او ستاسو اوږو یې ترې سپکې کړې.

۴ـ ای مؤمنانو! نو تاسو ته په کار دي چې په غیر منسوخ احکامو باندې کلک پاتې شئ او زیاته توجه ورته وکړئ. د مثال په توګه:

الف: تاسو خپل لمونځونه ودروئ او خپل زکاتونه ورکړئ.

ب: تاسو په دوامداره توګه د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ اطاعت ته ادامه ورکړئ او لوړ مراتب او درجات حاصل کړئ.

ج: الله ﷻ ستاسو په هغو ټولو کړو وړو خبردار دی کوم چې تاسو یې په دوامداره توګه په عملي کولو باندې لګیا یاست، نو موافق چال چلند به درسره وکړي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُواْ فِى ٱلْمَجَٰلِسِ ﴾ الآیة- کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: که څه هم د شان نزول په بنیاد د ﴿ تَفَسَّحُواْ ﴾ ویونکي څخه نبي کریم ﷺ مطلب دی او په ﴿ ٱلْمَجَٰلِسِ ﴾ کښې د "ال" په توري سره د همده ﷺ مجالسو ته اشاره ده. یعنې ای مؤمنانو! که

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو ته د نبي کریم ﷺ د پلوه وویلی شي چې زما په مجالسو کښې پراخوالی او ارتوالی واقع کړئ ترڅو تازه راتلونکي مؤمنان هم ستاسو سره اشتراک وکړي او د فیوضاتو څخه استفاده وکړي. تو تاسو د دغه امر اطاعت وکړئ او په عمل کښې یې پیاده کړئ. مګر د ایت شریف مفهوم عام دی چې د قیامت تر ورځې پورې ټولو خیریه مجالسو ته شمولیت لري[1].

نو د هرچا د پلوه چې په دغسې مجالسو کښې د مؤمنانو څخه د پراخوالي غوښتنه وکړی شي په کار دي چې دوی یې اجابت وکړي.

ب: همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «لَا يُقِيمُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهِ فَيَجْلِسَ فِيهِ وَلَكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا»[2] یعني یو سړی دې بل سړی د خپل ځای څخه نه ولاړوي چې په خپله پکښې کیني، مګر تاسو (په مجالسو کښې) پراخي وکړئ او ارتوالي ته پکښې صورت ورکړئ چې نورو ته هم د کیناستلو موقع په لاس ورشي.

ج: په ﴿ يَفْسَحِ ٱللَّهُ لَكُمْ ﴾ کښې الله ﷻ د ﴿ يَفْسَحِ ﴾ په کلمې سره د اجر او ثواب څخه پخپله د عمل په لفظ سره تعبیر نازل کړ، ترڅو په زیات ترغیب باندې دلالت وکړي. یعني که تاسو دغه کار وکړ نو الله ﷻ به ستاسو سینې او قبرونه پراخه کړي او هم به مو په مالونو او جنتي منازلو کښې پراخوالی راولي.

د: دغه ډول تعبیر په ډیرو عملونو کښې صورت نیولی دی. د مثال په توګه، نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلَّهِ بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ مِثْلَهُ»[3] یعني هرڅوک چې خاص د الله ﷻ دپاره جومات جوړ کړي نو هغه ته به الله ﷻ د همدغه جومات غوندې کور په جنت کښې جوړ کړي.

هـ: که څوک وایي چې: د ﴿ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُوا۟ فَٱنشُزُوا۟ ﴾ مضمون دا دی چې که تاسو ته وویلی شي چې د مجالسو څخه اوچت شئ او خپل ځایونه نورو کسانو ته پرېږدئ نو دا کار وکړئ (چې الله ﷻ مو درجات اوچت کړي). نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه مضمون د وړاندېني (ب) حدیث شریف سره مناقض نه دی چې هیڅوک دې بل څوک د مجلس څخه نه ولاړوي؟

مونږ وایو چې: په ایت شریف کښې د مفهوم په اعتبار د ﴿ ٱنشُزُوا۟ ﴾ د کلمې ویونکي اولو الامر دي او په حدیث کښې ولاړوونکی سړی عادي سړی دی چې بل څوک اوچت کړي او پخپله هلته کیني همدا مضمون د حدیث شریف د کلماتو څخه په ډاګه څرګندېږي، نو تناقض موجودیت نه لري.

و: که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد الله ﷻ د مجالسو څخه د اوچت کړی شوو کسانو دپاره د ﴿ يَرْفَعِ ٱللَّهُ ﴾ د کلماتو په نزول سره د درجاتو د اوچتولو وعده ورکړه؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ اعلم ـ چې: څرنګه چې د دغه کار په قبول سره تواضع رامنځته کېږي نو د

---

[1] ... ج۲۸ ص۲۸
[2] ... حنبل ج۲ ص۳۴
[3] ... ۱ ص۲۰۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تواضع سره د درجاتو لوړوالی ډېر ښه تناسب لري، چې په دغه کار کښې توهين نشته بلکې د درجاتو لوړوالی پکښې نغښتی دی.

ز: همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې داسې اشاره کړې ده چې: «وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ»[۱] يعنې او هيڅوک د الله ﷻ دپاره تواضع نه کوي مګر الله ﷻ به يې اوچت کړي (او درجات به يې لوړ کړي).

ح: په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو د يو چا د احترام دپاره د ځايه د پورته کېدو موضوع مطرح کړې ده، چې ځينې علماء کرام يې جائز ګڼي او ځينې يې ناجائز بولي او بالآخره ځينې ورته په تفصيل قائل دي[۲]، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي چې دلته په رانقلولو سره يې کتاب اوږدېږي.

ط: که څوک وايي چې: په دې مقام کښې د ﴿ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ ﴾ دکلماتو په نزول کښې څه حکمت دی حال دا چې دلته د عالمانو موضوع هيڅ مطرح نه ده؟

مونږ وايو چې: دغه کلمات په ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ ﴾ باندې عطف دي[۳] او د زيات اهتمام دپاره کله-کله خاص په عام باندې عطفېږي لکه چې په [البقرة: ۹۸] ايت کښې د ﴿ وَجِبۡرِيلَ وَمِيكَىٰلَ ﴾ کلمات د ﴿ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ ﴾ په کلمه باندې عطف دي.

شايد -والله ﷻ اعلم- چې دلته به ذکرو شوو کلماتو د دې کبله نزول موندلی وي چې د مجلس څخه اوچتول او په ځای يې بل څوک کېنول په بنيادمانو باندې درانه تمامېږي او توهين ورته برېښي نو تحمل يې نه شي کولی، بوازې هغه کسان دا ډول کار زغملی شي کوم چې د ايمان سره-سره د پوهې خاوندان هم وي او کوم چې د تواضع او اطاعت په ګټو باندې پوهېږي او همدارنګه ورته د اخروي درجاتو لوړوالی ارزښت لري.

## د مجالسو آداب

۲- په دغو ايتونو کښې د مجالسو ادابو ته اشاره شوې ده چې د نبي کريم ﷺ په احاديثو کښې ډېر ښه تشريح شوي دي، د وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

الف: په يوه حديث کښې يې فرمايلي دي چې «لِيَلِيَنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهَى»[۴] يعنې ماته دې ستاسو د جملې څخه د عقلونو او هوښيارو خاوندان نژدې شي.

ب: «إِذَا تَنَاجَى اثْنَانِ فَلَا تَجْلِسْ إِلَيْهِمَا حَتَّى تَسْتَأْذِنَهُمَا»[۵] يعنې کله چې دوه کسان سره (په خپل

---

۱: صحيح مسلم ج۲ ص۳۲۱، جامع الترمذي ج۲ ص۲۳
۲: تفسير ابن کثير ج۴ ص۳۲۵، تفسير القاسمي ج۱۶ ص۸۰
۳: روح المعاني ج۲۸ ص۲۹
۴: صحيح مسلم ج۱ ص۱۸۱
۵: مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۴۵۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



منځ‌کښې) پټې خبرې کوي نو ته هغوی دواړو ته مه کښېنه ترڅو چې د دواړو څخه اجازه واخلې.

ج «لا يحلُّ للرّجلِ أنْ يُفرّقَ بينَ اثنينِ إلّا بإذنِهما»[1] يعنې هيڅ سړي ته روا نه دي چې د دواړو کسانو ترمنځ جدايي واقع کړي (چې ترمنځ يې کښېني) مګر د دواړو په اجازې سره.

## سوالونه او جوابونه

۳ـ په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَٰجَيۡتُمُ ٱلرَّسُولَ ﴾ الآية- کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي

الف که څوک وايي چې په ﴿ بَيۡنَ يَدَيۡ نَجۡوَىٰكُمۡ صَدَقَةٗ ﴾ کښې د "نجوى" کلمې ته د دوه لاسونو اضافت شوي دي حال دا چې "نجوى" خو لاسونه نه لري؟!

مونږ وايو چې دلته د ﴿ بَيۡنَ يَدَيۡ ﴾ کلمات د "قبل" د کلمې څخه کنايي دي[2] او دا ډول استعمال په عربي کلام کښې شائع دی، نو ته به وايې چې "قبل نجواكم" کلمات نازل شوي دي، يعنې د مناجات څخه مخکښې خيرات وړاندې کړئ.

ب که څوک وايي چې څومره صدقه (خيرات) واجب وه چې د مناجات څخه وړاندې بايد ورکړل شوي وی؟

مونږ وايو چې د دغه خيرات د اندازې په تعين کښې نبي کريم ﷺ د علي ﷺ سره مشوره وکړه چې خلاصه يې دا ده

نبي کريم ﷺ ای علي! ايا يو دينار بس دی؟ دا درته بنه برېښي؟

علي ﷺ خلک د يوه دينار وسه نه لري

نبي کريم ﷺ ايا! نيم دينار کفايت کوي؟

علي ﷺ د نيم دينار وسه هم خلک نه شي درلودلی.

نبي کريم ﷺ نو څومره خيرات بس دی؟

علي ﷺ فقط يوه اوربشه سره زر خيراتول کفايت کوي.

نبي کريم ﷺ يقيناً ته لږ مالی سړی يې (چې لږ خيرات دي وټاکه).

«فنزلت ﴿ ءَأَشۡفَقۡتُمۡ أَن تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيۡ نَجۡوَىٰكُمۡ صَدَقَٰتٖ ﴾ الآية قال فبي خفّف اللهُ عن هذه الأمّة»[3]

يعنې نو الله ﷻ دغه ايت نازل کړ. او علي ﷺ ويلي دي چې نو زما په سبب الله ﷻ د دغه امت څخه تخفيف وکړ (چې د خيراتونو تقديم يې منسوخ وګرځاوه).

ج که څوک وايي چې په ايت شريف کښې د ذکر شوي حکم منسوخ ګرځېدل د کومو کلماتو څخه څرګند برې؟

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۰۴

(۲) البحر المحيط ج۱۰ ص۱۳۹

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: په دغه تخفیف او نسخ باندې د ﴿وَتَابَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ﴾ کلمات دلالت کوي، یعنې او الله ﷻ په تاسو باندې په رحمت سره رجوع وکړه چې ذکر شوي حکم یې منسوخ وګرځاوه او تاسو یې د بار څخه خلاص کړئ چې پوره به یې نه کړی شئ.

د: که څوک وایي چې: دغه (ناسخ ایت) د هغه (منسوخ ایت) څخه څومره وخت وروسته نازل شو حال دا چې دواړه ایتونه په تلاوت کښې سره پیوسته دي او ترمنځ یې فاصله نشته؟.

مونږ وایو چې: ځینې علماء کرام وایي چې دغه د هغه څخه یو سات وروسته نازل شوی دی او ځینې وایي چې د دواړو ایتونو ترمنځ لس ورځې فاصله وه[1]، والله ﷻ اعلم.

ه: که څوک وایي چې: په ذکر شوي منسوخ حکم باندې (د نسخې څخه مخکښې) چا عمل کړی دی او که د عملې کېدو څخه وړاندې منسوخ ګرځولی شوی دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د علي ﷺ د خولې څخه روایت کړی دی چې په دغه حکم باندې یوازې ما عمل کړی دی او بس[2] (چې څه خیرات مې ورکړ او د نبي کریم ﷺ سره مې مناجات ته صورت ورکړ)، مګر ځینې نور مفسرین کرام وایي چې دا روایت کمزوری دی[3] او ذکر شوی حکم قبل العمل منسوخ ګرځولی شوی دی، والله ﷻ اعلم.

و: که څوک وایي چې: د ذکر شوي حکم په نزول کښې څه حکمت وه حال دا چې په ډېرې تونده سره منسوخ وګرځول شو؟

مونږ وایو چې: د دغه حکم حکمتونو ته په ﴿ذَٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ﴾ کلماتو سره اشاره شوې ده چې حاصل یې په لاندې ډول راځېږي:

اول: دا کار (د مناجات څخه وړاندې خیرات) بهتر دی چې د یو پلوه د فقیرانو سره مرسته ده او د بله پلوه پکښې د نبي کریم ﷺ د عالي شان تعظیم نغښتی دی.

دوهم: په دې کار سره مخلصان مؤمنان د منافقانو څخه جدا کېږي، چې منافقان دغه کار ته اقدام نه کوي.

درېیم: دغه کار د زړونو بنه ډېر پاک ګرځوونکی دی چې په لا شعوري توګه هم د نبي کریم ﷺ د زړونې څخه ورباندې سړی بچ ساتلی کېږي.

څلورم: په دغه کار سره د دنیا خوښوونکی د آخرت د خوښوونکو څخه په ډېره بنه توګه جدا ګرځي.

پنځم: په دغه کار سره مؤمنان پوه کړی شوه چې د غیرو مهمو مسائلو څخه پرته نبي کریم ﷺ ته تکلیف ورنه کړي.

[1] الدر المنثور ج۷ ص۸۴، المحرر الوجیز ج۱۵ ص۴۵۳
[2] تفسیر الخازن ج۶ ص۲۰۸؛ تفسیر الطبري ج۲۸ ص۲۰
[3] تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۳۰۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْا۟ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ عَلَى
ٱلْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾
ٱتَّخَذُوٓا۟ أَيْمَـٰنَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٦﴾ لَّن تُغْنِىَ عَنْهُمْ
أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَـٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿١٧﴾ يَوْمَ
يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًا فَيَحْلِفُونَ لَهُۥ كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ ۖ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ ۚ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ
ٱلْكَـٰذِبُونَ ﴿١٨﴾ ٱسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ ٱلشَّيْطَـٰنُ فَأَنسَىٰهُمْ ذِكْرَ ٱللَّهِ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ حِزْبُ ٱلشَّيْطَـٰنِ ۚ
أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱلشَّيْطَـٰنِ هُمُ ٱلْخَـٰسِرُونَ ﴿١٩﴾ ﴾

[١۴] ایا نه هغو (منافقانو) ته نه ګورې کوم چې د داسې قوم سره دوستي کوي چې الله ﷻ ورباندې غضب (نازل) کړی دی (چې د یهودانو څخه عبارت دی)

(دغه منافقان) دوی نه ستاسو څخه دي (چې په زړه کښې کفار دي) او نه د یهودانو څخه دي (چې په خولو طیبه کلمه وایي) او (همدارنګه) دوی په داسې حال کښې په دروغو سوګندونه کوي چې دوی پوهېږي (چې سوګندونه یې په دروغو صورت نیسي)

[١۵] د منافقانو دپاره الله ﷻ (په دوزخ کښې) ډېر سخت عذاب تیار کړی دی، (ځکه چې) یقیناً دوی چې دي هغه کارونه ډېر بد دي کوم چې دوی لګیا دي کوي یې

[١۶] منافقانو خپل سوګندونه د ډال په توګه جوړ کړي دي نو (په همدغو سوګندونو سره) دوی د الله ﷻ د لارې (خلک) اړوي (او پخپله هم ترې اوړي)، نو د همدوی دپاره ډېر سپکوونکی عذاب (تیاکلی شوی) دی

[١٧] هیڅکله به د دوی څخه خپل مالونه او خپل اولادونه د الله ﷻ (د عذابه) د هیڅ شي مخنیوی ونه کړی شي (چې نجات ورکړي)

دغه ډله (خلک)، د اور (دوزخ) اندېوالان دي. چې دوی به په دې (اور) کښې د تل دپاره وي

[١٨] هغه ورځ (یاده کړه) چې الله ﷻ (به پکښې) ټول منافقان (د قبرونو څخه ژوندي) راپورته کړي (او په خپل حضور کښې به یې د حساب کتاب دپاره ودروي) نو دوی به (په دغې ورځ کښې الله ﷻ ته سوګندونه وخوري (د خپل باطني کفر څخه به انکار وکړي) لکه څنګه چې (نن ورځ) تاسو ته سوګندونه خوري (او د خپلو کفریاتو څخه انکاري دي)، او دوی به (هلته هم) ګومان کوي چې یقیناً دوی په یوه (ګټور) شي باندې (استدلال نیوونکي) دي (او ګټه به ورته ورسوي)

اګاه اوسئ چې یقیناً منافقان چې دي همدوی (په دنیا او آخرت کښې) دروغژنان دي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۹] په منافقانو باندې شیطان سلطه کړې ده نو د الله ﷻ ذکر یې ترې هېر کړی دی (او د خپلې خوښې په لور یې روان کړي دي).
دغه (منافقان) د شیطان ډله ده، اګاه اوسئ چې یقیناً د شیطان ډله چې ده همدوی زیانکاران(او تاوانیان) دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندې په [المجادلة:۸] ایت کښې د منافقانو د څه خاصیتونو بیان نازل شوی وه او بیا مؤمنانو ته توصیه شوې وه چې د منافقانو د خاصیتونو څخه ډډه وکړي او په مجالسو کښې د اسلامي ادابو مراعات ته ادامه ورکړي. په دې ایتونو کښې د کلام مخ بېرته د منافقانو حال ته وراړولی شوی دی او څه رنګه ورباندې اچولې شوې ده. نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! ایا ته د منافقانو خاصیتونو او حالتونو ته نه ګورې؟ بلکې ورته وګوره او په خپل امت یې قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ منافقان داسې خلک دي کوم چې د هغو خلکو سره دوستي کوي چې په هغوی باندې د الله ﷻ غضب نازل شوی دی، چې د یهودانو څخه عبارت دي. منافقان د هغو کسانو سره دوستي نه خپلوي په کومو باندې چې د الله ﷻ رحمت نزول موندلی دی، چې تاسو یاست.

۲ـ دا د یو پلوه، او د بله پلوه منافقان که څه هم په خولو طیبه کلمه وایي خو ستاسو د جملې څخه نه دي چې په زړونو کښې یې کفر غوره کړی دی. همدارنګه دوی که څه هم د یهودانو سره دوستي کوي مګر د هغوی د جملې څخه هم نه دي چې په زړونو کښې یې یهودیت نه دی قبول کړی.

۳ـ منافقان د خپلو خانونو د تزکیه کولو دپاره په دروغو باندې سوګندونه کوي حال دا چې دوی پوهېږي. یا په بل عبارت: دوی په لا شعوري توګه په دروغو سوګندونه نه خوري بلکې په قصدي توګه یې دغه تګلاره خپله کړې ده.

۴ـ ای پیغمبره! الله ﷻ د منافقانو دپاره په دنیا او آخرت کښې ډېر سخت عذاب چمتو کړی دی او دا ځکه چې بې شکه هغه کړنلاره ډېره بده ده په کومه باندې چې دوی لګیا دي چې عمل پرې کوي.

۵ـ منافقانو د خپلو سوګندونو څخه د خپلو ځانونو دپاره ډالونه جوړ کړي دي ترڅو د یو پلوه ورباندې د مؤمنانو د تعذیب او جهاد څخه بچ شي او د بله پلوه پرې نور خلک د الله ﷻ د لارې څخه واړوي او د مؤمنانو په منځکښې د لستوني د مارانو غوندې ژوند وکړي، نو د همدې کبله ورته د الله ﷻ په نزد سپکوونکی او رسوا کوونکی عذاب ټاکلی شوی دی، چې د دوزخ په ټیټه پایه کښې به معذب کړی شي.

۶ـ د منافقانو څخه به نه د دوی مالونه او نه د دوی اولادونه د الهي عذاب مخه واړوي او په هیڅ درد به یې ونه خوري، بلکې دغه خلک د دوزخ د اور دائمي ملګري دي چې هلته به پکښې د تل دپاره پاتې وي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۷ـ ای پیغمبره! کله چې الله ﷻ د قیامت په ورځ ټول منافقان مبعوث کړي او د قبرونو څخه راپورته کړي په دغه وخت کښې به الله ﷻ ته همدغسې سوګندونه خوري لکه چې نن په دنیا کښې ستاسو په وړاندې په سوګندونو لګیا دي او غواړي چې په خپل نفاق باندې پرده واچوي.

نو د قیامت په ورځ به په سوګندونو سره وایي چې مونږ په زړونو کښې کفر نه وه غلی کړی بلکې مونږ په دنیا کښې سوچه او خالص مؤمنان وو. دوی به خیال کوي چې سوګندونه به ورته څه ورسوي او ګومان به کوي چې د الله ﷻ په نزد هم دروغین سوګندونه څه ګټه رسولی شي.

۸ـ لکه چې نن ورځ منافقان دروغژنان دي او په سوګندونو باندې یې منافقت نه شي پټېدلی همدارنګه به یې د قیامت په ورځ هم درباندې پټ نه شي کړی. یا په بل عبارت: اګاه اوسئ چې یقینًا منافقان په دنیا او په آخرت دواړو کښې دروغژنان دي. او دا ځکه چې:

۹ـ په منافقانو باندې شیطان غلبه کړې ده او د خپل تسلط لاندې یې راوستلي دي، نو د الله ﷻ ذکر یې ترې هېر کړي دي، نو د همدې کبله د الله ﷻ په حضور کښې هم غواړي چې په سوګندونو سره په منافقت باندې پرده واچوي.

۱۰ـ ای پیغمبره! دغه ډله (کومې چې الله ﷻ هېر کړی دی) همدغه د شیطان ډله ده، او اګاه اوسئ چې یقینًا د شیطان ډله چې ده همدا ډله زیانکاره او تاواني ډله ده چې د همېشه دپاره د تاوان سره مخامخه ده.

## توضیحات

۱ـ د ﴿مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ﴾ کلمات نبي کریم ﷺ ډېر ښه تفسیر کړي دي چې فرمایلي یې دي: «مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ الشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ تَعِيرُ إِلَى هَذِهِ مَرَّةً وَإِلَى هَذِهِ مَرَّةً»[1] یعني د منافق حالت د داسې ګډې (مېږې) د حالت په څېر دی چې د دوه وو رمو ترمنځ حیرانه وي، چې یو کرت دغې رمې ته ورځي او بل کرت دغې رمې ته. (د دواړو رمو ترمنځ تاوېږي راتاوېږي).

## دروغین سوګندونه

۲ـ د منافقانو د دروغینو سوګندونو ډېرو مثالونو ته په "التوبة" او نورو سورتونو کښې اشارې شوي دي خو د مقام په ارتباط یې دلته یو بل مثال هم ولولئ: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روایت د یوه حدیث لنډ مضمون دی چې:

الف: یوه ورځې یوه شین سترګي سړي ته نبي کریم ﷺ وویلې چې: «عَلَامَ تَشْتُمُنِي أَنْتَ وَأَصْحَابُكَ»[2] یعني ته او ستا ملګري ماته ولې کنځل کوئ؟.

ب: شین سترګی سړی سمدستي لاړ او خپل ملګري یې راوستل نو ټولو په یوه خوله په سوګند

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۷۰

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۷۴۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره وویلی چې په مو ته کښېناستي یې او په مو دا کار کړی دی.

ج نو الله ﷻ دغه آیت ﴿ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ جَمِيعًا فَيَحْلِفُونَ لَهُ كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ ﴾ الآية- نازل کړ او
د دغو مشرکانو د دغو سوګندونو یې تکذیب وکړ.

## حوذ څه معنی؟

۳- په ﴿ ٱسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ ٱلشَّيْطَٰنُ ﴾ کښې د ﴿ ٱسْتَحْوَذَ ﴾ کلمه اصلاً د "حوذ" لکه "قول"
څخه اشتقاقه شوې ده او موږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء ۱۴۱] ایت لاندې لیکلي دي چې "حوذ"
د څارویو سوقولو او تېزولو ته وایي. یعنې په دغو منافقانو باندې شیطان مسلط دی چې د خپلې
خوښې په طرف باندې یې په تېز روان کړي دي لکه چې څوک اوښان سوقوي او تېزوي
د ﴿ ٱسْتَحْوَذَ ﴾ کلمه په همدغې معنی سره په یوه حدیث کښې هم استعماله شوې ده چې نبي
کریم ﷺ فرمایلي دي: «ما من ثلاثة في قرية ولا بدو لا تقام فيهم الصلاة إلا قد استحوذ عليهم الشيطان»[1]
یعنې په ښار یا په بېدیا کښې هیڅ درې کسان نه دي چې په دوی کښې لمونځ (په جمعه سره) ونه
دریږي شي مګر په هغوی باندې شیطان مسلط دی (او کوم طرف ته یې چې خوښه شي همغسې یې
سوقوي، نه په وایي چې شیطان یې شپونکی دی او هغوی یې څاروي دي)

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ٱلْأَذَلِّينَ ⁽²⁰⁾ كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِىٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِىٌّ عَزِيزٌ ⁽²¹⁾ لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ يُوَآدُّونَ مَنْ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوْ كَانُوٓا۟ ءَابَآءَهُمْ أَوْ أَبْنَآءَهُمْ أَوْ إِخْوَٰنَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ كَتَبَ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱللَّهِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ⁽²²⁾ ﴾

[۲۰] یقیناً هغه کسان کوم چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ د حدودو په مقابل کښې حدود
او احکام وضعه کوي (او غواړي چې خپلو حدودو او احکامو ته ورباندې غلبه ورکړي) همدغه
کسان (د الله ﷻ په نزد) د ذلیلو خلکو په ډله کښې دي. (او دا ځکه چې)

[۲۱] الله ﷻ (په لوح محفوظ ازلي کتاب کښې لیکلي (او فیصله کړې) ده چې هرومرو ضرور
به زه او زما پیغمبران غالب وګرځو (او بری به ومومو). چې یقیناً الله ﷻ د ډېر قوت خاوند (او) د
کلکې ارادې درلودونکی دی.

---

[1] سنن ابي داود ج۱ ص۸۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۲] (ای پیغمبره!) ته به هیڅ داسې قوم مونده نه کړې چې په الله ﷻ او وروستنۍ ورځ باندې یې ایمان راوړی وي چې دوی به د هغو (کسانو) سره دوستي (او مینه محبت) وکړي کوم چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ سره دښمني کوي (او غواړي چې خپلو قوانینو ته په اسلامي احکامو باندې غلبه ورکړي)، (دوی به دغه کار ونه کړي) که څه هم هغوی یې پلرونه وي یا یې زامن وي یا یې ورونه وي یا یې ټبر (او نور خپلوان) وي.

دغه (مخلصان مؤمنان) چې دي الله ﷻ د دوی په زړونو کښې ایمان محکم کړی (او کلک) کړی دی او هم یې دوی د خپله جانبه د زړه په رڼا (یا قرآن کریم) سره تایید کړي دي، او الله ﷻ به همدوی (مخلص مؤمنان) داسې جنتونو ته داخل کړي چې (د ونو) لاندې به یې (څلور ډوله) لښتي بهېږي، دوی به پکښې همېشه وي.

الله ﷻ د دوی څخه راضي دی او دوی هم د الله ﷻ څخه راضي دي (چې په جنت کښې به ورته بې پرېمانه نعمتونه ورکړي).

دغه (مخلص مؤمنان) د الله ﷻ حزب (او لښکر) دي، (ای خلکو!) اګاه اوسئ چې یقینًا د الله ﷻ حزب (لښکر) همدوی بری موندونکي دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني متصل ایت مضمون دا وه چې په منافقانو باندې شیطان تسلط موندلی دی، او په دې ایتونو کښې د یو پلوه د همدغه تسلط وجې ته اشاره شوې ده او د بله پلوه د مؤمنانو دپاره توصیه نازله شوې ده چې د منافقانو خاصیت خپل نه کړي او د الله ﷻ دښمنان د دوستانو په حیث ونه نیسي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې په دې مقام کښې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ په منافقانو باندې شیطان تسلط موندلی دی، او د دې تسلط موندلو وجه دا ده چې دوی د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ سره دښمني خپله کړې ده او غواړي چې خپلو بشري قوانینو ته په اسلامي قوانینو باندې غلبه ورکړي ترڅو ورباندې د عزت خاوندان جوړ شي. خو د دوی دغه اټکل بالکل باطل دی او دا ځکه چې: یقینًا کوم کسان چې ذکر شوي کار ته ادامه ورکوي هغوی د الله ﷻ په وړاندې د ډېرو زیاتو ذلیلو خلکو په ډله کښې شامل دي نو په دغه کار سره به هیڅکله عزت مونده نه کړي.

۲ـ د همدې کبله الله ﷻ په ازلي کتاب (لوح محفوظ) کښې لیکلي دي چې هرومرو او ضرور به زه غالب ګرځم او زما پیغمبر ﷺ به هم غلبه موندونکی جوړېږي او په دښمنانو باندې به برلاسې مونده کوي. او دا ځکه چې: یقینًا الله ﷻ د ډېر زیات قوت خاوند دی او هم د کلکې ارادې درلودونکی دی چې هیڅوک او هیڅ شی یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی.

۳ـ ای پیغمبره! د دیني دښمنانو سره دوستي کول د ذلت څخه پرته بله نتیجه نه لري نو:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ته به داسې قوم مونده نه کړې کوم چې په الله ﷻ او هم د قیامت په ورځ یې ایمان راوړی وي او دیني عزت یې ترلاسه کړی وي) چې د هغو کسانو سره محبت او مینه وکړي کومو چې د الله ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبر سره یې دښمني خپله کړې وي او غواړي چې خپل بشري قوانین په اسلامي قوانینو باندې غالب وګرځوي.

ب: دغه قوم به ذکره شوې دوستي خپله نه کړي که څه هم دیني دښمنان د دوی پلرونه او زامن وي او یا یې ورونه او نور اقارب وي. او دا ځکه چې په یوه زړه کښې د الله ﷻ محبت او د ده ﷺ د دښمنانو محبت دواړه نه شي یوځای کېدی.

ج: دغه قوم (چې په خپلو زړونو کښې د دیني دښمنانو محبت ته ځای نه ورکوي) هغه کسان دي چې الله ﷻ یې په زړونو کښې ایمان محکم ګرځولی دی او د خپله جانبه یې په غیبي فیض او رحمت سره تائید کړی دی، نو هیڅوک یې په کړه لاره نه شي سوقولی.

د: دغه سوچه مؤمنان به الله ﷻ د قیامت په ورځ داسې جنتونو ته ورداخل کړي چې لاندې به ترې ځلور ډوله لښتي بهېږي.

هـ: د دغو سوچه مؤمنانو څخه الله ﷻ راضی دی چې په اسلامي شریعت باندې سم روان دي، او دوی هم د الله ﷻ څخه راضي دي چې داسې نعمتونه به ورته ورکړي چې نه به چا لیدلي وي، نه به یې اورېدلي وي او بالآخره نه به د چا په زړه کښې تېر شوي وي.

۴ـ ای پیغمبره! دغه سوچه مؤمنان د الله ﷻ لښکر دی او د ده ﷺ په نزد مقبول ټولګی دی، نو اګاه اوسه چې یقینًا د الله ﷻ لښکر او د الله ﷻ ټولګی فقط همدوی د فلاح (خلاصي) او کامیابۍ خاوندان دي او بس.

## توضیحات

۱ـ د الله ﷻ په توفیق د دې مقام پورې اړونده لاندې مطالب وړاندې تېر شوي دي:

الف: د ﴿ كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغۡلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِيٓۚ ﴾ کلمات د [الصافات ۱۷۳] ایت لاندې شرحه شوي دي.

ب: د ﴿ لَّا تَجِدُ قَوۡمٗا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ يُوَآدُّونَ ﴾ الآیة- په ارتباط د [آل عمران ۲۸] ایت لاندې د کفارو د دوستۍ ډولونه بیان شوي دي چې ځینې جائز او ځینې ناجائز دي او حتی ځینې د کفر سبب جوړېږي. خو همدا موضوع په [الممتحنة ۸ـ ۹] ایتونو کښې هم راروانه ده.

## د خپلوانو کفارو سره د عدم محبت مثالونه

۲ـ صحابه وو کرامو ﷺ د خپلو کفارو او اقاربو سره د عمل په میدان کښې دښمني او عدم محبت څرګند کړی وه، چې ځینو مفسرینو کرامو یې ډېر مثالونه لیکلي دي[1]. خو مونږ د لاندې څو مثالونو په ذکر باندې اکتفاء کوو.

[1] تفسیر القرطبي ج۱۷ ص۳۰۷، تفسیر البغوي ج۴ ص۳۱۲، اسباب النزول للواحدي ص۲۷۷، تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۲۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ابو عبیده بن الجراح ﷺ د احد په غزا کښې خپل پلار ووژه.

ب: مصعب بن عمیر ﷺ هم د احد په غزا کښې خپل ورور (عبید بن عمیر) قتل کړ.

ج: عمر الفاروق ﷺ د بدر په غزا کښې خپل ماما (العاص بن هشام) په قتل ورساوه او داسې نور.

## د کتابة او روح معناوې

۳_ که څه هم په ﴿ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ﴾ کښې د "کتابة" معنی چې د ﴿ كَتَبَ ﴾ کلمه ترې مشتقه ده او د "روح" معنی دواړه واضحه دي، مګر په دې مقام کښې مفسرینو کرامو "کتابة" په اثبات او احکام سره او "روح" په الهي نور (رڼا) او قرآن سره تفسیر کړې دی[1]. یعنې د دغې ډلې مؤمنانو په زړونو کښې الله ﷻ ایمان پیاوړی او محکم کړی دی او د خپل جانب څخه یې په غیبي نور او یا قرآن کریم سره تائید کړی دی. نو ځکه د محاربو کفارو سره خپله اړیکه بالکل پرې کوي.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ لَا يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا أَقَارِبَهُمْ. اللَّهُمَّ اكْتُبْ فِي قُلُوبِنَا الْإِيمَانَ وَأَيِّدْنَا بِرُوحٍ مِنْكَ. آمِينَ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ

د "المجادلة" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو

۱۴۲۵/۱/۱۲ هـ ق - ۱۳۸۲/۱۲/۱۳ هـ ش

(۱) البحر الوجيز ج۱۵ ص۴۵۸؛ روح المعاني ج۲۸ ص۳۶

# الحشر (٥٩)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (الحشر) د همدې سورت د دوهم ایت څخه اخستلی شوی دی، خو عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما د "بني النضیر" په سورت باندې هم نومولی دی[1] چې د همدوی (بنو النضیر) غزا ته پکښې اشاره شوې ده.

۲ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي[2]:

الف: د ایتونو تعداد یې فقط څلېرشت (۲۴) دی.

ب: د کلماتو تعداد یې څلور سوه او پنځه څلوېښت (۴۴۵) دی.

ج: او د حروفو شمېره یې نولس سوه او دیارلس (۱۹۱۳) تورو ته پورته شوې ده.

۳ـ د دې سورت ټول ایتونه د مفسرینو کرامو په اجماع سره مدني دي او د هجرت څخه وروسته نازل شوي دي چې د هیچا پکښې اختلاف نشته[3].

۴ـ څرنګه چې دا سورت په اتفاق سره مدني دی نو د عملي احکامو بیان پکښې ډېر دی، لکه جهاد، د غنیمتونو وېش، د منافقانو سره چال چلند او داسې نور. د همدې کبله دا سورت د وراندېني سورت (المجادلة) سره ډېرې نژدې اړیکې لري چې دواړه مدني دي او په دواړو کښې د عملي احکامو بیان زیات دی، مګر د دې سورت د عملي احکامو زیاته برخه د بنو النضیرو په غزا پورې مربوطه ده چې ځینو مفسرینو کرامو[4] ښه تفصیلواره لیکلې ده، خو مونږ یې د مقدمې په توګه فقط د لاندې ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: په مدینه منوره کښې د مشرکانو (اوس او خزرج قبیلو) ترڅنګ د یهودانو درې قبیلې اوسېدلې چې د "بنو قریظه، بنو قینقاع، بنو النضیر" په نومونو یادېدلې.

ب: کله چې نبي کریم ﷺ هلته هجرت وکړ نو د دغو درېواړو قبیلو سره یې جدا-جدا معاهدې وکړې، چې هیڅ طرف به د بل طرف په ضد کار نه کوي او د دښمن سره به یې لاس نه یو کوي.

ج: بني النضیرو هم د نورو دواړو قبیلو غوندې خپله معاهده ماته کړه چې د دوی مشر (کعب بن الاشرف) د څلوېښتو کسانو سره مکې معظمې ته لاړ او هلته یې د قریشو مشرکانو سره د نبي کریم ﷺ په ضد معاهده لاسلیک کړه. او هم بنو النضیرو د نبي کریم ﷺ د شهیدولو دپاره دسیسه جوړه کړه خو د الله ﷻ په فضل ناکامه شوه، چې مفسرینو کرامو مفصله لیکلې ده[5].

د: نو نبي کریم ﷺ د بنو النضیرو سره د جهاد اعلان وکړ او د څو ورځو محاصرې څخه وروسته هغوی صلحې ته راجع شوه.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۵
(۲) تفسیر الخازن ج۶ ص۲۱۴
(۳) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۴۵۹؛ زاد المسیر ج۷ ص۳۳۰
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۳۱؛ تفسیر الخازن ج۶ ص۲۱۴؛ تفهیم القرآن ج۵ ص۵۰۸
(۵) تفسیر البغوي ج۴ ص۳۱۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: که څه هم عبد الله بن أبي (رئيس المنافقين) هغوی د جنګ ادامې ته وهڅول، چې مونږ درسره ملګري یاستو تاسو په خپلو قلاګانو کښې کلک شئ، خو د هغوی په زړونو کښې رعب (ډار) ننوتلی وه، د وراندیز اجابت یې ونه کړ.

و: نبي کريم ﷺ د هغوی سره صلحه وکړه، چې دوی به د مدینې منورې څخه سمدستي وځي او په خپلو اوښانو باندې یوازې هغه منقولي سامان نقولی شي په کوم کښې چې وسله شمولیت ونه لري.

ز: په هغوی کښې داسې کسان هم وه چې خپل کورونه یې په خپلو لاسونو باندې ویجاړ کړه او دروازې او کړکۍ مړکۍ یې په اوښانو باندې بار کړې.

ح: د بنو النضیرو ټوله قبیله جلا وطنه شوه او یوازې دوه کورنۍ په مدینه منوره کښې پاتې شوې کومې چې په ایمان مشرفې شوې وې.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝١ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن دِيَٰرِهِمۡ لِأَوَّلِ ٱلۡحَشۡرِۚ مَا ظَنَنتُمۡ أَن يَخۡرُجُواْۖ وَظَنُّوٓاْ
أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمۡ حُصُونُهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَأَتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِنۡ حَيۡثُ لَمۡ يَحۡتَسِبُواْۖ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ
ٱلرُّعۡبَۚ يُخۡرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيۡدِيهِمۡ وَأَيۡدِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فَٱعۡتَبِرُواْ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ۝٢ وَلَوۡلَآ
أَن كَتَبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابُ ٱلنَّارِ ۝٣ ذَٰلِكَ
بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۖ وَمَن يُشَآقِّ ٱللَّهَ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ۝٤ مَا قَطَعۡتُم مِّن
لِّينَةٍ أَوۡ تَرَكۡتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَلِيُخۡزِيَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ۝٥ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] هغه ټول مخلوقات خاص الله ﷻ ته تسبیح وايي (او د پاکۍ نسبت ورته کوي)، کوم چې په اسمانونو کښې دي او کوم چې په ځمکو کښې دي. او همدی ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) د حکمت څښتن دی.

[۲] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د اهل الکتابو څخه یې هغه کسان د خپلو کورونو څخه د لومړي ځل غونډولو د کبله وویستل کومو چې کفر غوره کړی وه.
(ای مؤمنانو!) تاسو ګومان نه کاوه چې هغوی به (د خپلو کورونو څخه) ووځي، او (په دې باندې علاوه) هغوی ګومان کاوه چې یقیناً د هغوی کلکې قلاګانې د الله ﷻ څخه د هغوی ساتونکې دي نو هغوی ته (د) الله ﷻ (عذاب) د هغه خایه ورغی چې هغوی خیال نه کاوه (چې د دې خایه به

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورشي)، او الله ﷻ د هغوی په زړونو کښې رعب (ډار) واچاوه (چې دا د الله ﷻ د پلوه يو ډول نيوندار يو ډول عذاب وه).

(نو د همدغې نيونې په اثر) هغوی خپل کورونه په خپلو لاسونو او (هم) د مؤمنانو (مجاهدينو) په لاسونو سره تخريبوي (چې همدغه قبيله د غزا د پيل باعثه ګرځېدلې وه)، نو ای د عقلونو (او بصيرتونو) خاوندانو! تاسو (د همدغې نيونې څخه) عبرت واخلئ؛ (او د نورو کفارو نيونه او د قيامت تر ورځې پورې د مجاهدينو سره نصرت پرې ورقياس کړئ).

[۳] او که الله ﷻ په دغو (ذکرو شوو کفارو) باندې د وطنه ويستل (په لوح محفوظ کښې) نه وی ليکلی نو هرومرو به يې په دنيا کښې (په بل ډول عذاب) سره معذب ګرځولي وی، او (په هر تقدير) د دغو کفارو دپاره په آخرت کښې د اور (دوزخ) عذاب (تياکلی شوی) دی.

[۴] (او) دا ځکه چې دوی (دا قبيله) د الله ﷻ او د ده ﷻ د پيغمبر ﷺ سره دښمني کوي (او غواړي چې خپل طرف ته غلبه ورکړي).

او هر څوک چې د الله ﷻ سره دښمني کوي (او په مقابل طرف کښې يې واقع وي) نو يقيناً الله ﷻ سخت عذابی دی (په سخت عذاب به يې اخته کړي).

[۵] (ای مؤمنانو!) هغه چې تاسو پرې کړې دي چې د کجورو د ونو څخه عبارت دي او يا مو په خپلو بېخونو سره ولاړې پرېښې دي نو (دا کارونه مو) د الله ﷻ د اذن (ارشاد) په سبب (د دې دپاره کړي دي ترڅو الله ﷻ مؤمنانو ته عزت او غلبه ورکړي) او ترڅو الله ﷻ فاسقان (کفار) شرمنده (او رسوا) کړي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنی سورت (المجادلة) د وروستنيو ايتونو په مطالبو کښې دا مطلب هم شامل وه چې محارب کفار د ذليلانو په ډله کښې دي، د دې سورت په لومړنيو ايتونو کښې همدغه مطلب د بنو النضيرو د غزا په يوه مثال سره پيل شوی دی چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د ډېر مهربان او ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱_ هغه ټول مخلوقات خاص الله ﷻ ته تسبيحات وايي او د عجز په شمول د ټولو عيبونو څخه يې په پاکوالي دلالت کوي، کوم چې په اسمانونو کښې او کوم چې په ځمکو کښې موجوديت لري. او دا ځکه چې همدی ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی چې هيڅ شی يې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي جوړېدلی او هم د حکمت څښتن دی چې هر يو کار يې د حکمت په بنياد صورت نيسي. د مثال په توګه:

۲_ الله ﷻ هغه مقتدر اقدس ذات دی چې (د حکمتونو او کلکې ارادې په بنياد) يې د اهل الکتابو کفارو څخه يوه قبيله کفار (بني النضير) د خپلو کورونو څخه وويستل او نورو وطنونو ته يې د لومړي حشر او غونډولو دپاره وويستل چې د همدغه لومړي حشر او غونډولو په تعقيب دوهم حشر او غونډول هم وروان دي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ ای مؤمنانو! تاسو ګومان نه کاوه چې دغه کار به صورت ونیسي او ذکره شوې قبیله به په دغسې تېزۍ سره د خپلو کورونو څخه ووځي او تاسو ته به یې بدون د جنګه پرېږدي. همدارنګه د ذکرې شوې قبیلې په خیال کښې هم نه ګرځېده چې دغه کار به وشي، همدغې قبیلې ګومان کاوه چې د دوی قوي او کلکې قلاګانې به ضرور د دغه کار په وړاندې خنډ واقع شي او د الله ﷻ د ارادې مخه به بنده کړي خو:

الف: د الله ﷻ عذاب د داسې لور څخه ورغی چې هغوی ګومان هم نه کاوه چې د دې طرف څخه به راځي هغه دا چې: الله ﷻ د همدغې محاصره شوې قبیلې په زړونو کښې رعب او ډار واچاوه چې د جنګ او مقابلې حوصله یې د لاسه ورکړه او د جلا وطنۍ په صلحه راضي شوه.

ب: همدغې قبیلې خپل کورونه په خپلو لاسونو سره ړنګ کړه او هم یې د مؤمنانو مجاهدینو په لاسونو سره وران کړه، ځکه چې د جنګ او غزا دپاره د همدوی بد عهدي باعث ګرځېدلې وه، که نه نو مجاهدینو به د هغوی د کورونو په تخریب باندې هیڅکله اقدام نه وی کړی.

۴ـ نو ای د بصیرتونو او عقلونو خاوندانو! تاسو د ذکرې شوې قبیلې د حالت څخه عبرت واخلئ، لکه څنګه چې الله ﷻ دغه قبیله پرته د جنګه مغلوبه وګرځوله همدارنګه د الله ﷻ د ارادې په وړاندې په هیڅ ځای کښې هیڅ شی خنډ نه شي واقع کېدلی.

۵ـ ای پیغمبره! الله ﷻ په ذکرې شوې قبیلې باندې خکه د جلا وطنۍ عملیه تطبیق کړه چې همدا یې ورته په ازلي کتاب کښې لیکلې وه، که دغه عملیه یې ورته هلته نه وی لیکلې نو الله ﷻ به په دنیا کښې دغه قبیله په بل ډول عذاب باندې معذبه کړې وی. اما په آخرت کښې خو دغې قبیلې ته د دوزخ اور ټاکلی شوی دی چې دنیاوي عذاب ورته د مقدمې په توګه ورکولی کېږي او اصلي عذاب یې اخروي عذاب دی، او دا خکه چې:

۶ـ دغه قبیله د الله ﷻ سره او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ سره عداوت کوي او په مقابل لور کښې یې واقع ده ترڅو خپل لور ته غلبه ورکړي، او هرڅوک چې دغه کار کوي نو الله ﷻ سخت عذابی دی نو ډېر ژر به وربانديې په دنیا او آخرت کښې سخت عذاب ورنازل کړي.

۷ـ ای مؤمنانو مجاهدینو! تاسو ته په دې کښې هیڅ ملامته نه متوجه کېږي چې د کجورو خینې ونې مو پرېکړې او خینو مو په خپلو بېخونو باندې ولاړې پرېښودلې. او دا خکه چې تاسو دغه دواړه کارونه د الله ﷻ په اجازه ترسره کړي دي، نو تاسو په یوه کار باندې هم ګنهګار نه یاست. تاسو ته د پرې کولو او د ولاړو پرېښودلو اجازه د دې دپاره درکړه شوې وه ترڅو الله ﷻ ستاسو (مؤمنانو) غلبه خلکو ته څرګنده کړي او ترڅو منافقان او د شرعي پولو څخه وتلې قبیله شرمنده او رسوا وګرځوي.

## توضیحات

۱ـ مفسرینو کرامو خو په ﴿ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ مِن دِيَٰرِهِمْ لِأَوَّلِ ٱلْحَشْرِ ﴾ کښې د ﴿ لِأَوَّلِ ٱلْحَشْرِ ﴾

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كلمات په متعددو معناوو سره تفسير كړي دي[١]، خو كومه معنى چې مونږ ته غوره برېښېدلې ده هغه دا ده چې: د بنو النضيرو (يهودانو) دپاره په ايت شريف كښې هغه حشر او اخراج ته اشاره شوې ده د كوم په تعقيب چې بل حشر او اخراج هم ورروان وه، ترڅو ترې د حجاز سيمه خالي او پاكه وګرځي. د ښه وضاحت دپاره لاندې حديثونه ولولئ:

الف: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَأُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ حَتَّى لَا أَدَعَ إِلَّا مُسْلِمًا»[٢] يعنې هرومرو او ضرور به زه يهودان او نصرانيان (د مشركانو په شمول) د جزيرة العرب څخه وباسم آن تردې چې هيڅوک به (پكښې) پرېنږدم مګر مسلمان.

ب: عبدالله بن عمرو ؓ وايي چې: «أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَجْلَى الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ أَرْضِ الْحِجَازِ»[٣] يعنې يقينًا عمر بن الخطاب ؓ (دوهم خليفه) د حجاز د ځمكې څخه يهودان او نصارا (دواړه طائفې) جلا وطنه كړې او ترې ويې شړلې.

## عجيب ډار او رعب

٢ـ په ﴿وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَ﴾ كښې چې كوم ډار او رعب ته اشاره شوې ده هغه الله ﷻ د بني النضيرو په زړونو كښې د لاندې دوه وو وجوهو د كبله اچولى وه:

الف: نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث كښې فرمايلي دي چې: «وَأَعْطَانِي الْعِزَّ وَالنَّصْرَ وَالرُّعْبَ يَسْعَى بَيْنَ يَدَيْ أُمَّتِي شَهْرًا»[٤] يعنې الله ﷻ ماته عزت او نصرت او هم رعب (دربواړه) راكړي دي چې زما د امت په وړاندې د يوې مياشتې د مزله په اندازه ځغلي.

ب: الله ﷻ د بني النضيرو مشر (كعب الاشرف) د مجاهدينو په لاس وواژه، چې د وژلو قيصه يې ځينو محدثينو كرامو ښه تفصيلواره ليكلې ده[٥]، دغه قتل هغوى ډېر زيات وارخطا كړه.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٣ـ كه څوك وايي چې: په ﴿يُخۡرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيۡدِيهِمۡ وَأَيۡدِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ كښې د كورونو ورانولو ته اشاره ده، نو پوښتنه دا ده چې د دغه كور ورانۍ وجه څه وه؟

مونږ وايو چې:

الف: بني النضيرو (كفارو) خپل كورونه په خپلو لاسونو د دې دپاره ورانول ترڅو هغه وتونه او كوڅې بندې كړي د كومو د پلوه چې د مجاهدينو د ورتګ احتمال وه، او د دې دپاره چې د مجاهدينو په درد ونه خوري البته كله چې لاس ته ورشي، او هم د دې دپاره چې د جلا وطنۍ په

(١) روح المعاني ج٢٨ ص٣٩؛ تفسير ابي السعود ج٨ ص٢٢٥؛ التفسير الكبير ج٣٠ ص٢٧٨؛ البحر المحيط ج١٠ ص٥١١
(٢) صحيح مسلم ج٢ ص٩٤
(٣) صحيح البخاري ج١ ص٣١٥
(٤) مسند احمد بن حنبل ج٩ ص٩٤
(٥) صحيح البخاري ج٢ ص٥٧٦

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وخت کښې د خپلو خانونو سره دروازې او کړکۍ او هم څه لرګي مرګي انتقال کړي.

ب: مجاهدینو د هغوی کورونه د محاصرې په وخت کښې په دې غرض ورانول ترڅو د غښې حملې دپاره لاره هواره کړي، او هم د دې دپاره چې د کفارو تخجیل او شرمندګي ښه پوره په ډاګه کړي، چې د سترګو لاندې یې کورونه تخریبېږي او دفاع ترې نه شي کولی.

## د عبرت او اعتبار معنی

۴ـ په ﴿ فَٱعۡتَبِرُواْ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ﴾ کښې د "اعْتَبِرُوا" کلمه د "اعْتِبَار" ـلکه "اكْتِسَاب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د مجردو مصدر یې "عِبْرَةٌ" ـلکه "بِعْرَةٌ" ـ دی. "عِبْرَة" او "اعْتِبَار" دې ته وایي چې د یوه معلوم حکم حال د بل نامعلوم حکم د حال د پېژاندلو دپاره ذریعه وګرځولی شي[1]. نو که دغه دواړه حکمونه (معلوم او نامعلوم) شرعي حکمونه وه نو د ذکر شوي عمل اجراء کولو ته فقهي قیاس ویل کېږي، او که شرعي حکمونه نه وه نو د عقلي قیاس لقب ورکولی کېږي.

څرنګه چې ایت شریف مطلق دی نو فقهي او عقلي دواړو قیاسونو ته شامل برېښي.

د همدې کبله ځینو علماوو کرامو دغه ایت شریف د فقهي قیاس د حجیت دپاره د دلیل په حیث نیولی دی[2].

نو د عقلي قیاس په ملحوظ یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: ای د بصیرت او عقلونو خاوندانو! تاسو د بني النضیرو په هکله د مجاهدینو سره د الله ﷻ په نصرت باندې په نورو مواقعو کښې هم د الله ﷻ نصرت ورقیاس کړئ چې په هر ځای کښې ورسره په خارق العاده توګه ملګری دی او دښمنان به ورته خوار او ذلیل وګرځوي.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: په ﴿ مَا قَطَعۡتُم مِّن لِّينَةٍ أَوۡ تَرَكۡتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ ﴾ کښې د "لِينَة" کلمه د کجورو د ونې دپاره وضعه شوې ده[3]، نو د څه حکمت په بنیاد د الله ﷻ د پلوه مجاهدینو ته په دغې غزا کښې د کجورو د ونو پرېکولو او نه پرېکولو اجازه ورکړه شوې وه؟

مونږ وایو چې: د دغې اجازې حکمت ته په ایت شریف کښې په ﴿ وَلِيُخۡزِيَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴾ کلماتو سره اشاره شوې ده، چې په دغو کلماتو کښې د "و" توری د عطف دپاره دی نو دا کلمات په مقدرو کلماتو باندې عطف دی[4] چې مونږ ترې په "لِيُعِزَّ اللهُ الْمُؤْمِنِينَ" سره تعبیر کولی شو. یعنې الله ﷻ مجاهدینو ته ذکره شوې اجازه د دې دپاره ورکړه ترڅو د مؤمنانو عزت او غلبه څرګنده کړي او هم د فاسقانو (کفارو) شرمندګي او مغلوبیت په ډاګه وګرځوي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۳۱
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۴۲۹
(۳) مفردات الراغب ص۴۷۸
(۴) روح المعاني ۲۸ ص۴۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْهُمْ فَمَآ أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٦﴾ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ كَىْ لَا يَكُونَ دُولَةًۢ بَيْنَ ٱلْأَغْنِيَآءِ مِنكُمْ ۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٧﴾ ﴾

[۶] او هغه مالونه چې الله ﷻ د بني النضیرو څخه په خپل پیغمبر ﷺ باندې ورتاو کړي دي، نو په هغو باندې تاسو نه اسونه ځغلولي دي او نه اوښان، مګر الله ﷻ خپل پیغمبر په هغو کسانو باندې ورمسلطوي کومو ته یې چې اراده وشي، او الله ﷻ په هر شي باندې قدرت درلودونکی دی.

[۷] هغه مالونه چې الله ﷻ د کفري ښارونو د اوسېدونکو څخه (بدون د جنګه) په خپل پیغمبر ﷺ باندې ورتاو کړي دي، نو هغه خاص الله ﷻ لره دي او خاص پیغمبر ﷺ لره دي او د پیغمبر ﷺ د قرابت خاوندانو لره دي او هم یتیمانو او مسکینانو او د لارې بچي (مسافرانو) لره، (دا) د دې دپاره چې (ذکر شوي مالونه) ستاسو د جملې څخه د غنیانو ترمنځ سرمایه ونه ګرځي (چې فقیران ترې بې برخې جوړ شي).

او (ای مؤمنانو!) هغه شی چې تاسو ته پیغمبر درکړي نو هغه واخلئ او د کوم شي څخه مو چې منعه کړي د هغه څخه منعه شئ، او د الله ﷻ څخه ودار شئ، یقینًا الله ﷻ سخت عذابی دی (هسې نه چې د تخلف په صورت کښې درباندې عذاب درنازل کړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وراندېنې ایتونه د بني النضیرو (یهودانو) د اخراج او شړلو په بیان باندې مشتمل وه او دا ایتونه د هغوی د کورونو او نورو پاتې شوو مالونو په حکم باندې اشتمال لري چې باید څه ورسره وکړی شي. نو حاصل یې داسې راځېږي

ای پیغمبره! د ذکرې شوې جلا وطن کړی شوې قبیلې د پاتې شوو مالونو په باب د خپل رب ﷻ د پلوه مجاهدین مخاطب کړه او ورته ووایه چې

۱ـ ای مجاهدینو! د بني النضیرو څخه پاتې شوي مالونه غنیمت نه دی چې په تاسو باندې د خمس د جدا کولو څخه وروسته ووېشلی شي، بلکې دا هغه مالونه دي کوم چې الله ﷻ د هغوی څخه په خپل پیغمبر ﷺ باندې په معجزانه توګه ورمات کړي او ورتاو کړي دي، په کومو باندې چې تاسو نه اسونه ځغلولي دي او نه مو ورباندې د اوښانو سفرونه کړي دي، ترڅو یې کښې تاسو برخوال وګڼلی شئ، یا په بل عبارت: تاسو ورباندې جنګ نه دی کړی مګر الله ﷻ ورباندې پیغمبر ﷺ په

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خارق العاده توګه ورمسلط کړی دی.

او الله ﷻ په هر هغه چا باندې خپل پیغمبر ﷺ مسلطوي کوم ته یې چې اراده وشي، او دا ځکه چې الله ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت خاوند دی.

۲ـ ای مجاهدینو! ذکر شوی حکم او ارشاد یوازې په بني النضیرو پورې خاص نه دی بلکې دا ارشاد هغو ټولو ښارونو او کلو ته شامل دی په کومو باندې چې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ پرته د جنګه ورمسلط کړي. نو په دې صورت کښې د کفري ښارونو او کلو شتمني غنیمت نه ده چې تاسو یې په خپلو منځو کښې د پنځمې برخې د ویستلو څخه وروسته ووېشئ، بلکې دا "فيء" دی چې یوازې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ ملکیت دی او بس. باید ذکر شوي مالونه د پیغمبر ﷺ او د ده ﷺ د اقاربو او هم د یتیمانو، مسکینانو او مسافرینو د اړتیاوو او احتیاجاتو په هکله ولګولی شي او بس.

۳ـ ای مؤمنانو مجاهدینو! الله ﷻ ځکه ذکر شوي مالونه ستاسو دپاره غنیمت ونه ګرځول ترڅو همدغه مالونه ستاسو د جملې څخه صرف د غنیانو په لاسونو کښې ونه لوېږي چې یوازې همدوی پکښې راکړه ورکړه او تصرف جاري وساتي او فقیران ترې د همېشه دپاره بې برخې پاتې شي. یا په بل عبارت: ترڅو ورباندې د مؤمنانو څخه فقط هغه یوه ډله غنیان جوړ نه شي کومه چې د مسلح جهاد توان لري او کمزوري مؤمنان ترې د همېشه دپاره محروم او بې برخې پاتې شي.

۴ـ نو تاسو د جاهلیت رسم او رواج د پښو لاندې کړئ او کوم شی چې تاسو ته پیغمبر ﷺ درکوي هغه واخلئ او په کوم شي باندې چې درته امر کوي هغه قبول کړئ، همدارنګه د کوم شي څخه چې تاسو پیغمبر ﷺ منعه کوي د هغه څخه منعه شئ او کوم شی چې تاسو ته نه درکوي هغه مه غواړئ.

لنډه دا چې تاسو ټول ارشادات قبول کړئ او د الله ﷻ څخه په رښتیانیو معناوو کښې وډار شئ، هسې نه چې د تخلف په صورت کښې درباندې سخت عذاب درنازل کړي چې یقیناً الله ﷻ ډېر سخت عذابی دی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡهُمۡ ﴾ الآیة- کښې لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: د بني النضیرو قبیله د مدینې منورې څخه په دوه میله فاصله کښې پرته وه چې یوازې نبي کریم ﷺ په خره یا اوښ باندې سور ورغلی وه او نور ټول مجاهدین پیاده وه[۱].

ب: په ﴿ وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ ﴾ کښې ﴿ أَفَآءَ ﴾ کلمه د مجردو په لحاظ د "فَيْء" ـلکه "بَيْع"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د رجوع معنی ورکوي، خو په شریعت کښې د "فَيْء" کلمه د هغو مالونو څخه عبارت ده کوم چې د جنګي کفارو څخه پرته د جنګه د مسلمانانو لاس ته ورشي[۲] لکه چې په څه مالونو

[۱] تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۱۱
[۲] الفقه الاسلامي وادلته ج۶ ص۴۵۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې صلحه وکړي او یا جزیه قبوله کړي او داسې نور. نو د ﴿ أَفَآءَ ﴾ کلمه د مزیدو په لحاظ سره د "اِفْيَاء" ـلکه "اِكْرَام"ـ څخه اشتقاق مومي چې د "فَيْء" د ورکړې معنی ورکوي.

ج: همدارنګه په ﴿ فَمَآ أَوْجَفْتُمْ ﴾ کښې د ﴿ أَوْجَفْتُمْ ﴾ کلمه د مجردو په لحاظ د "وَجْف" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاق مومي چې په توندۍ سره د اوښ یا اس په تللو (مزل کولو) باندې دلالت کوي[1]. او د مزیدو په لحاظ د "اِیجَاف" ـلکه "اِکْرَام"ـ څخه مشتقه ګڼله کېږي، چې د اوښ یا اس د ځغلولو معنی ترې اخستله کېږي.

د: په ﴿ وَلَا رِكَابٍ ﴾ کښې د ﴿ رِكَابٍ ﴾ کلمه د "رَكْب" جمعه ده چې د لغت په لحاظ هغه څاروي ته ویل کېږي په کوم باندې چې سورېدل صورت نیسي، خو په عربي استعمال کښې دغه کلمه یوازې اوښ پورې (د سورلۍ په حیث) اختصاص لري[2].

نو د ایت شریف حاصل داسې راځېږي چې: ای مؤمنانو مجاهدینو! تاسو د بني النضیرو په مالونو باندې اسونه او اوښان نه دي ځغلولي او نه مو ورپسې اوږده مزلونه کړي دي چې استحقاق پکښې ولرئ، بلکې الله ﷻ محض په خپل فضل سره د هغوی مالونه خپل پیغمبر ﷺ ته ورتاو کړه چې په زړونو کښې یې ورته رعب واچاوه او د صلحې وړاندیز یې وکړ. نو پیغمبر ﷺ اختیار لري چې په خپله خوښه تصرف پکښې وکړي او په خپله خوښه یې ووېشي.

## څو نکات

۲ـ په ﴿ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰ ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په دې ایت کښې هغه حکم ته تعمیم او تفصیل ورکړې شوی دی کوم چې په وړاندېني ایت کښې یوازې د بني النضیرو د مالونو په هکله نازل شوی وه. نو دا حکم د قیامت تر ورځې پورې ټولو هغو مالونو ته شامل دی کوم چې د جنګي کفارو څخه بدون د جنګه مسلمانانو ته لاس ته ورشي.

ب: په دغو مالونو کښې په نبي کریم ﷺ باندې علاوه فقط هغه څلور ډلې برخې اخستلی شي په کومو باندې چې په ایت شریف کښې صراحت نازل شوی دی، نو ټول مصارف یې پنځه جوړېږي.

ج: د دغو مصارفو په بیان کښې د ﴿ ٱللَّهُ ﴾ مبارکه کلمه د دې دپاره ذکره شوې ده چې د "فَي" مالونه د زکات د مالونو غوندې خیرن نه دی چې پیغمبر ﷺ ته یې خوراک جائز نه وي. همدې مطلب ته د الله ﷻ په توفیق د [الأنفال: ۴۱] ایت لاندې اشاره شوې ده.

د: د همدغه ایت لاندې د ﴿ وَلِذِي ٱلْقُرْبَىٰ ﴾ کلمات هم ښه پوره شرحه شوي دي چې د پیغمبر ﷺ کوم-کوم خپلوان ترې مطلب دي.

---

(۱) القاموس المحیط ج۴ ص۵۷۸

(۲) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۹۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: همدارنګه هلته واضحه شوې ده چې د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته د ده ﷺ او همدارنګه د "ذِي الْقُرْبَى" دواړه برخې ساقطې شوې دي، نو د قيامت تر ورځې پورې فقط درې ګوني مصارف پاتې دي.

و: که څوک وايي چې: د امير المؤمنين عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت دی چې: «يُنْفِقُ عَلَى اَهْلِهِ مِنْهَا نَفَقَةَ سَنَتِهِ ثُمَّ يَجْعَلُ مَا بَقِيَ فِي السِّلَاحِ وَالْكُرَاعِ عُدَّةً فِي سَبِيلِ اللهِ»[1] يعنې د بني النضيرو مالونه يوازې په نبي کريم ﷺ پورې اختصاص درلود چې د همدغو مالونو څخه به يې د خپل اهل کلنی نفقه بېلوله او متباقي به يې جهاد ته د تياري دپاره په وسلو او جهادي اسونو کښې ګرځول (او وربانديې به يې رانيول).

نو پوښتنه دا ده چې په دغه حديث کښې خو هغه پنځه واړه مصارف نه دي ذکر شوي کوم چې په ايت شريف کښې ذکر دي؟

مونږ وايو چې:

اول: عدم ذکر په عدم ورکړې باندې دلالت نه کوي، د همدې کبله په ځينو احاديثو کښې روايت دي چې: «فَأَعْطَى النَّبِيُّ ﷺ أَكْثَرَهَا لِلْمُهَاجِرِينَ»[2] يعنې نو نبي کريم ﷺ د بني النضيرو د مالونو زياته برخه مهاجرينو ته ورکړه او د همدوی ترمنځ يې تقسيم کړ، چې د انصارو څخه يې فقط دوه حاجتمندو کسانو ته پکښې برخه ورکړه او بس.

دوهم: دغه پنځه مصارف د زکات اته مصارفو ته ورته دي چې بايد د دغو څخه پرته بل چا ته ورنه کړی شي، نه دا چې دغو ته دې ضرور هر يوه ته ورکړی شي او نه دا چې ټولو ته دې مساوي ورکړل شي.

ز: په ﴿كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ﴾ کښې د فيء د مالونو د تقسيم وجې ته اشاره شوې ده چې دغو کسانو ته دې ورکړی شي، نه غازيانو ته لکه چې د غنيمت د مالونو ورکړه په همدوی پورې اختصاص لري. دا د يو پلوه، او بله پلوه په همدغه عبارت کښې د "دُوْلَة" کلمه د هغه مال دپاره وضعه شوې ده په کوم کښې چې فقط د يوه قوم راکړه او ورکړه جاري وي او بل قوم ترې محروم وي[3].

ح: د دغې وجې حاصل په دوه دوله راختلی شي او څه لرې نه ده چې د بدليت په لحاظ دواړه دوله اراده کړی شي هغه دا چې:

اول: د فيء مالونه څکه په دغو پنځو مصارفو باندې تقسيم کړی شوه ترڅو د جاهليت د زمانې دستور د پښو لاندې کړی شي چې دغسې مالونو به يوازې په مشرانو پورې ارتباط درلود او بس[4].

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۲۵
(۲) سنن ابي داوُد ج۲ ص۶۸
(۳) لسان العرب ج۱۱ ص۲۵۲
(۴) تفسير ابي السعود ج۸ ص۲۲۸؛ البحر المحيط ج۱۰ ص۱۴۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدغه مطلب باندې د ایت شریف متصله جمله دلالت کوي چې ﴿ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُواْ ﴾ یعنې تاسو د جاهلیت د زمانې قانون محوه کړئ او اسلامي قانون په عمل کښې پیاده کړئ او د نبي کریم ﷺ ارشاد په نظر کښې ونیسئ (وړباندې کلک وګرځئ).

دوهم دغه کار ښکه وکړی شو ترڅو ذکر شوي مالونه یوازې د غنیانو ترمنځ په راکړې ورکړې سره اختصاص ونه لري چې فقیران ترې بې برخې پاتې شي[1] همدغه مطلب ته په راتلونکو ایتونو ﴿ لِلْفُقَرَآءِ ٱلْمُهَٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ أُخْرِجُواْ ﴾ الآيات- کښې اشاره شوې ده.

ط: په ذکره شوې جمله کښې د ﴿ ٱلْأَغْنِيَآءِ ﴾ کلمه نازله شوې ده او په راتلونکي متصل ایت کښې د ﴿ لِلْفُقَرَآءِ ﴾ کلمې نزول موندلی دی، نو په دغو دواړو کلمو کښې د اشارې په توګه اسلامي اقتصادي نظام منعکس شوی دی هغه دا چې

اول: په اسلام کښې فردي ملکیت تثبیت دی، د کمونستانو مسلک مردود دی چې په فردي ملکیت باندې قائل نه دي

دوهم د غنیانو په مالونو کښې د فقیرانو حق شته، البته هغه حق کوم چې ورته پکښې اسلام ټاکلی دی، لکه عشر، زکات او داسې نور

همدغه اقتصادي نظام ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې «وَأَنْ تَأْخُذُوا مِنْ مَالِ أَغْنِيَائِكُمْ فَتَرُدُّوهَا عَلَى فُقَرَائِكُمْ»[2] یعنې او زه د دې دپاره تاسو ته راغلی یم چې تاسو د خپلو غنیانو د مالونو څخه څه اندازه مال واخلئ او په خپلو فقیرانو باندې یې ورتاو کړئ

ي: که څه هم د ﴿ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُواْ ﴾ جمله د فيء د مالونو په هکله نازله شوې ده مګر د مفهوم په اعتبار عامه ده او ټولو حوادثو ته شامله ده، یا په بل عبارت په دغې جمله کښې د اسلام تشریعي نظام ته اشاره ده چې یوازې قرآن او حدیث یې مصدرونه دي او بس، نو د شرعي چوکاټ څخه بهر هیڅوک د تحلیل او تحریم حق نه لري که څوک دا کار وکړي نو په غیر مستقیمه توګه به یې د الوهیت دعوه کړې وي

یا: په ذکره شوې جمله کښې دوه متضادې ټکرې مقدرې دي چې دوه مذکورې متضادې جملې وړباندې دلالت کوي، لکه چې عرب وايي "تُعْرَفُ الْأَشْيَاءُ بِأَضْدَادِهَا" یعنې څیزونه په خپلو ضدونو سره پیژندل کیږي

نه به وایې چې داسې عبارت نازل شوی وی چې "وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا لَمْ يُؤْتِكُمْ فَلَا تَطْلُبُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا وَمَا أَمَرَكُمْ بِهِ فَأَطِيعُوهُ" یعنې کوم شی چې تاسو ته پیغمبر ﷺ درکوي هغه واخلئ او کوم چې نه درکوي هغه مه غواړئ، او د کوم شي څخه چې تاسو منعه کوئ د هغه څخه منعه شئ

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص ۴۳۰

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۴۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او په کوم شي باندې چې درته امر کوي د هغه اطاعت وکړئ.

یب: د اسلامي تشریع په هکله زښت ډېر احادیث روایت شوي دي. د ښه وضاحت دپاره لاندې ټکو ته پام وکړئ:

اول: نبي کريم ﷺ په يو حديث کښې فرمايلي دي چې: «فَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَدَعُوهُ»[1] يعنې نو کله چې ما تاسو ته په يوه شي سره امر وکړ نو د هغه څخه په هغې اندازه سره راتګ وکړئ کومه چې ستاسو وسه کېږي، او کله چې ما تاسو د کوم شي څخه منعه کړئ نو هغه پرېږدئ.

دوهم: په همدې ارتباط مونږ د يوه حديث په رڼا کښې د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام: ۳۸] ايت لاندې يوه قيصه هم ليکلې ده چې يو ځل لوستل يې بې ګټې نه دي.

﴿ لِلْفُقَرَآءِ ٱلْمُهَـٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ أُخْرِجُوا۟ مِن دِيَـٰرِهِمْ وَأَمْوَٰلِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنًا وَيَنصُرُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّـٰدِقُونَ ﴿٨﴾ وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلْإِيمَـٰنَ مِن قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِى صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ أُوتُوا۟ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٩﴾ وَٱلَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلْإِيمَـٰنِ وَلَا تَجْعَلْ فِى قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠﴾ ﴾

[۸] (مګر د فيء مالونه) د هغو مهاجرو فقيرانو دپاره دي کوم چې د خپلو کورونو او خپلو مالونو څخه په داسې حال کښې ويستلی شوي دي چې دوی د الله ﷻ د پلوه لوی فضل او لويه رضامندي غوښتله او هم په داسې حال کښې چې دوی د الله ﷻ (د دين) سره او د ده ﷻ د پيغمبر ﷺ سره نصرت کاوه (او لا کوي يې).

دغه کسان همدوی (په خپل ايمان او جهاد کښې) رښتينی دی.

[۹] او هم د هغو (فقيرانو انصارو) دپاره (دي) چې دار الهجرة (مدينه منوره) او ايمان يې د مهاجرينو څخه مخکښې خپل استوګنځای ګرځولی وه (سوچه ايمان ته يې په خپلو زړونو کښې قرار ورکړی وه) په داسې حال کښې چې دوی د هغو کسانو سره محبت (او مينه) ساتي کومو چې ورته (د مکې څخه) هجرت کړی دی او په خپلو سينو (زړونو) کښې د هغو مالونو د کبله هيڅ حسد (او

[1] صحيح مسلم ج۱ ص۴۳۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کینه) نه مونده کوي کوم چې همدغو (مهاجرینو) ته (د نبي کریم ﷺ د پلوه) ورکولی کیږي، او په داسې حال کښې چې همدوی په خپلو ځانونو باندې (مهاجرینو ته) غوروالی ورکوي که څه هم په دوی پورې فقر (او لوږه) نښتې وي.

او هرڅوک چې د کلک بخل څخه (چې حرص ورسره ملګری وي) وساتل شي نو همدغه ډله همدوی فلاح موندونکي (او مطلب ته رسېدونکي) دي.

[۱۰] او (همدارنګه د فيء مالونه) د هغو فقیرانو دپاره (دي) کوم چې د اولنیو مهاجرینو او انصارو څخه وروسته (دنیا ته) راغلي وي. حال دا چې دوی وايي: ای زمونږ ربه! مونږ ته مغفرت وکړې او هغو کسانو ته هم کوم چې زمونږ څخه په ایمان راوړلو سره مخکښې دي، او زمونږ په زړونو کښې د هغو کسانو دپاره کینه (او عداوت) مه ګرځوې کومو چې ایمان راوړی دی، ای زمونږ ربه! یقیناً ته همدا ته ډېر نرمي کوونکی (او) ډېر مهربان یې.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېني ایت د دې جملې ﴿ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ ﴾ مضمون تعقیب شوی دی، نه به وايې چې داسې عبارت نازل شوی دی چې ﴿ وَلَكِنْ يَكُونُ لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ ﴾ الآيات[۱] یعنې د فيء په مالونو کښې د دې دپاره ذکر شوی دول تقسیم تشریع کړی شو چې غنیانو ته ورنه کړی شي مګر هغو فقیرانو ته ورکړی شي کوم چې دغه او دغه صفات لري. نو حاصل به یې داسې راوځېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د فيء د مصارفو په هکله څه نور مطالب هم قرائت کړه.

۱ ـ د دغو مالونو د تقسیم دپاره ښکه پورتنی طرز تشریع کړی شو ترڅو پکښې ټولو فقیرانو او خاصتاً هغو فقیرانو ته برخه ورکړی شي کوم چې د لاندې صفاتو درلودونکي دي:

الف. کوم چې د خپلو مالونو او خپلو کورونو څخه صرف د دې کبله ویستلی شوي دي چې هغوی په ایمان راوړلو سره د الله ﷻ د پلوه لوی فضل او لویه رضامندي لټوله او غوښتله.

ب. کوم چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ د دین (اسلام) سره کومک کوي او غواړي چې دغه دین په نورو ټولو باطلو ادیانو باندې برلاسی شي او غلبه پرې مونده کړي.

۲ ـ د تقسیم د ذکر شوي طرز د تشریع بله وجه دا ده چې ترڅو پکښې د هغې قبیلې فقیران هم برخه درلودونکي وګرځولی شي کوم چې لاندې خاصیتونه لري:

الف. کوم چې د مهاجرینو د ورتګ څخه وړاندې د مدینې منورې اوسېدونکي وه او صرف د الله ﷻ د فضل او رضامندۍ د حاصلولو دپاره یې هغوی ته پکښې ځای ورکړ نو په همدې سبب یې خپل ټاټوبی د ایمان یو مرکز وګرځاوه.

ب. کوم چې د همدغو مهاجرینو سره د الله ﷻ د رضامندۍ دپاره په ډېره زیاته مینه او محبت

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۸ ص۴۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لري او لګیا دي هغه شه محبت ته ادامه ورکوي

ج: کوم چې د هغه شه محبت د کبله په هغو مالونو باندې [illegible] ورکول شوي [illegible]

کوم چې مهاجرینو ته ورکړی شي او هغه ځکه [illegible]

د: کوم چې په خپلو ځانونو باندې مهاجرینو ته غوره والی ورکوي [illegible]

شي که څه هم دوی په خپله [illegible] او [illegible] محتاج وي

ه: کوم کسان چې د بخل او حرص څخه ساتلي شوي دي او [illegible] د [illegible]

بخل څخه وساتل نو همدغه کسان فلاح موندونکي دي [illegible]

۳ـ د ذکرو شویو تشریع پله وجه دا ده ترڅو ښکاره د هغو کسانو [illegible]

د مهاجرینو او انصارو څخه وروسته د قیامت تر ورځې پورې [illegible]

چې د لاندې کلماتو ویونکي دي

الف: ای زموږ ربه موږ ته مغفرت وکړه او زموږ هغو وروڼو ته هم [illegible] کوم چې

زموږ څخه په ایمان راوړلو کښې سابقه لري او مخوا تېر شوي دي

ب: ای زموږ ربه زموږ په زړونو کښې په خپل فضل سره د هغو کسانو په هکله کینه او

عداوت مه اچوه کوم چې ایمان راوړی دی برابره خبره ده چې دغه ایمانداران مخوا تېر شوي دي

او یا وروسته راروان دي

ج: ای زموږ ربه بې شکه چې ته ډېر نرمي کوونکی او ډېر مهربان یې نو زموږ سره هم د

ټولو مؤمنانو سره ډېره نرمي او ډېره مهرباني وکړه

## توضیحات

۱ـ د ﴿وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ﴾ الآیة او ﴿وَالَّذِينَ جَاءُوا﴾ الآیة دواړه په ﴿لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ﴾

کښې په ﴿الْمُهَاجِرِينَ﴾ باندې عطف دي او د فقراو صفت ښکاري [illegible] کوم فقیران چې د

فيء د مالونو دپاره مصارف ټاکلي شوي دي هغوی لاندې درې ډولونه دي

الف: د لومړنیو مهاجرینو فقیران.

ب: د لومړنیو انصارو فقیران

ج: هغه فقیران کوم چې د ذکرو شویو دواړو ډلو څخه وروسته دنیا ته راشي که څه هم آن د قیامت

تر ورځې پورې وروسته راشي

نو په کار دي چې دغه مالونه په بیت المال کښې وساتل شي ترڅو ترڅو وخته په وخت د اسلامي

حکومت مشر د فقیرانو ارتیاوې پوره کړي

لنډه دا چې په دغو مالونو کښې د قیامت تر ورځې پورې ټول مؤمنان فقیران حق لري په همدې

ارتباط لاندې وضاحتونه ولولئ

اول: دوهم خلیفه (عمر ﷺ) یوه ورځې حکیم بن حزام ته د فيء په مالونو کښې د خپلې برخې [illegible]

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اخستلو وړاندیز وکړ مګر هغه قبول نه کړ، نو بیا یې وویلې چې: «إِنِّي أُشْهِدُكُمْ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى حَكِيمٍ أَنِّي أَعْرِضُ عَلَيْهِ حَقَّهُ مِنْ هَذَا الْفَيْءِ فَيَأْبَى أَنْ يَأْخُذَهُ»[۱] یعنې زه تاسو په حکیم باندې شاهدان ګرځوم ای د مسلمانانو ټولیه! یقینًا ما ورباندې د دغه فيء د مالونو څخه خپل حق ورووړاندې کړ نو ده منعه وکړه چې راویې نیسي (او تسلیم یې کړي).

دوهم: نوموړي خلیفه ﷺ ویلي دي چې که زه ژوندی پاتې شوم نو په دغو مالونو کښې به هغه شپونکی هم خپله برخه واخلي کوم چې ورباندې خپل اوچولی نه وي خولې کړی او زحمت به یې ورباندې نه وي ګاللی[۲].

د همدې مسئلې ښه اوږد او تفصیلي بیان ځینو مفسرینو کرامو لیکلی دی[۳] نو هیله ده چې د زیاتو معلوماتو دپاره هلته مراجعه وکړی شي.

## هېر مو نه شي

۲ـ هېر مو نه شي چې په ﴿ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلۡإِيمَـٰنَ ﴾ کښې د "الْإِيمَان" کلمه د "الدَّار" په کلمه باندې عطفه ده ترڅو د ایمان په قوت او کلکوالي باندې دلالت وکړي. یعنې د مهاجرینو د ورتګ څخه لا وړاندې انصارو په خپلو زړونو کښې ایمان کلک کړی وه تابه ویل چې ایمان یې د مدینې منورې غوندې اصلي ټاټوبی دی او دواړه یې اصلي استوګنځایونه دي.

## "حَاجَة" څه معنی؟

۳ـ که څه هم په ﴿ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمۡ حَاجَةً مِّمَّآ أُوتُواْ ﴾ کښې د ﴿ حَاجَةً ﴾ د کلمې معنی څرګنده ده چې "اړتیا" ده مګر په دې مقام کښې ځینو علماوو کرامو[۴] په "حسد" سره تفسیره کړې ده. یعنې انصار داسې کسان دي چې په خپلو زړونو کښې د دې کبله څه حسد او کینه نه مونده کوي چې د فيء د مالونو څخه یوازې مهاجرینو ته برخه ورکړی شوه او دوی ته ورنه کړی شوه (چې دوی ورباندې خپه نه شوه).

موږ د الله ﷻ په توفیق د [الحشر:۷] ایت لاندې لیکلي دي چې نبي کریم ﷺ د بني النضیر د مالونو اکثره برخه یوازې په مهاجرینو باندې تقسیم کړه، چې د انصارو څخه یې فقط دوه ډېرو محتاجو کسانو ته څه برخه ورکړه او بس.

## د "خَصَاصَة" معنی

۴ـ په ﴿ وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ خَصَاصَةٌ ﴾ کښې د ﴿ خَصَاصَةٌ ﴾ کلمه په ډېرو

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۷۳
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۴۰؛ تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۱۰۵
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۴۳۰
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معناوو سره استعماله شوې ده لکه فقر، بدحالي، لوږه او داسې نور[۱] خو په دې مقام کښې چه د دغه کلمه ﴿ خَصَاصَةٌ ﴾ د "ما يطلق عليه الخصاصة" (هر هغه شی چې د الخصاصة اطلاق پرې کیږي) په بنیاد واخستله شي نو بهتره به وي، ځکه چې د صحابه وو کرامو ﷺ ایثار او په خپل ځان باندې بل ته غوره والي ورکولو په هره ساحه کښې صورت نیولی دی. د پښه وضاحت دپاره یې لاندې مثالونه ولولئ:

الف: د دغه ایثار یو مثال مونږ په لاندې کرښو کښې رالخلاصه کوو

یوه ورځې یو سړی نبي کریم ﷺ ته ورغلی او عرض یې وکړ چې وږی یم (شاید چې دا سړی به قوم مهاجر وه). نبي کریم ﷺ د خپلو بیبیانو کورونو ته خوک واستاوه چې څه خوراکي شی ورته موندله کړي، خو هغوی په جواب کښې ووېل چې زمونږ په نزد د اوبو څخه په غیر بل شی نشته.

بیا نبي کریم ﷺ صحابه وو کرامو ﷺ ته مخ ورواړاوه چې دا سړی به څوک میلمه کړي؟

د انصارو څخه یو سړی دغه کار ته حاضر شو، چې زه به یې میلمه کړم

دغه انصاري ذکر شوی وږی سړی خپل کور ته بوته او خپلې مېرمنې ته یې ووېل چې دغه د نبي کریم ﷺ میلمه دی نو اکرام یې وکړه او موړ یې کړه

مېرمنې جواب ورکړ چې زمونږ سره خو په کور کښې فقط دومره خوراک شته چې ماشومان یې وخوري د دې نه اضافه نور څه نشته چې میلمهورباندې موړ کړو.

انصاري سړي خپله مېرمن مخاطبه کړه چې: ته خوراک تیار کړه او ډیوه بله کړه او خپل ماشومان وږي اوده کړه.

مېرمن یې دغه کارونه وکړه، او کله چې میلمه په خوراک باندې پیل وکړ نو دغه مېرمن ډیوې ته ورپورته شوه (تابه ویل چې رڼا یې تېزوي) هغه یې مړه کړه او خونه توره تیاره شوه.

مېړه او مېرمنې د تورې تیارې څخه د میلمه په مړولو کښې استفاده وکړه، دوی میلمه ته یې داسې ورونبوده چې مونږ دواړه هم تا سره په خوراک کښې لګیا یاستو، حال دا چې دوی دواړو هیڅ شی ونه خوړ او میلمه یې موړ کړ.

سهار نبي کریم ﷺ ذکر شوي میلمه پال ته ووېل چې: بېګاه شپه الله ﷻ ستاسو دواړو (مېرمن او خاوند) د نېک کار څخه راضي شو، «فأنزل الله عز وجل ﴿ وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ﴾ »[۲] یعني نو الله ﷻ ذکر شوی ایت نازل کړ.

ب: د هجرت په لومړیو وختونو د نبي کریم ﷺ د پلوه د عبد الرحمن بن عوف ﷺ (مهاجر) سره سعد بن الربیع ﷺ (انصاري) دیني ورور ګرځولی شوی وه.

نو سعد بن الربیع ﷺ خپل دیني ورور (عبد الرحمن ﷺ) ته وړاندیز وکړ چې: زه ښه مالدار یم او

(۱) مفردات الراغب ص ۱۵۰، لسان العرب ج۷ ص۲۵
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۵۲۶، ج۲ ص۷۲۶

هم دوه مېرمنې لرم، زه غواړم چې خپل ټول مال تا سره نیم کړم چې نیمایي به ستا ملکیت جوړ شي او نیمایي به زما په ملکیت کښې پاتې شي، او هم خپله یوه مېرمن طلاقه کړم (هره یوه چې ستا خوښه وي) نو چې عدت یې تېر شو هغه به ته په نکاح واخلې.

خو عبد الرحمن ﷺ د خپل ورور وړاندیز قبول نه کړ او ورته یې وویلې چې تاته دې خپل مال او خپل اهل مبارک وي (زه دغه یوه کار ته هم حاضر نه یم) ماته بازار راوښیه چې مزدوري وکړم.

نو مزدوري یې وکړه او په نکاح باندې بریالی شو، نو نبي کریم ﷺ ورته امر وکړ چې: «أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ»[۱] یعنې ته خلکو ته ولیمه (د واده ډوډۍ) ورکړه اګر که یوه ګډه وي (چې ذبحه یې کړې).

ج. د یرموک په غزا کښې درې تنه غازیان ډېر سخت زخمیان وه او درېواړه ډېر تږي وه.

کله چې یوه زخمي ته اوبه وروړی شوې نو هغه ایثار وکړ او ویې ویلې چې زه دا اوبه نه څښم دغه بل زخمي ته یې ورکړه چې هغه هم ډېر تږی دی. دوهم زخمي هم د ایثار په بنیاد اوبه قبولې نه کړې چې دغه بل درېیم زخمي ته یې ورکړئ چې هغه ډېر تږی دی.

کله چې درېیم زخمي ته وروړی شوې هغه شهید شوی وه، په دوهم خل چې بېرته اولني زخمي ته وروړی شوې هغه هم شهید شوی وه، او بالآخره دوهم زخمي هم د اوبو د ورکولو څخه وړاندې د شهادت جام څښلی وه.

نو درېواړه غازیان تږي شهیدان شوه او اوبه په خای پاتې شوې[۲]. فإنا لله وإنا إليه راجعون.

## "شُح" څه معنی؟

۵ـ په ﴿ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ ﴾ کښې د ﴿ شُحَّ ﴾ کلمه هغې شومتیا او بخل ته وضعه شوې ده د کوم سره چې حرص ملګری وي[۳] نو کوم سړی چې د دغه خاصیت درلودونکی وي هغه په یوه ګناه باندې هم صرفه نه کوي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَلَا يَجْتَمِعُ شُحٌّ وَإِيمَانٌ فِي قَلْبِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ»[۴] یعنې د مسلمان سړي په زړه کښې شح او ایمان نه جمعه کېږي چې هم ایماندار وي او هم بخیل او حارص وي (او د یوې ګناه څخه هم خپل سر نه ژغوري).

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَإِيَّاكُمْ وَالشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ أَمَرَهُمْ بِالْقَطِيعَةِ فَقَطَعُوا وَأَمَرَهُمْ بِالْبُخْلِ فَبَخِلُوا وَأَمَرَهُمْ بِالْفُجُورِ فَفَجَرُوا»[۵] یعنې ای مؤمنانو تاسو د "شح" څخه خپل خانونه وساتئ چې یقیناً "شح" هغه کسان هلاک کړي دي کوم چې ستاسو

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۷۵، ص۵۲۳؛ سنن النسائي ج۲ ص۹۲
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۳۸
(۳) مفردات الراغب ص۲۶۲
(۴) سنن النسائي ج۲ ص۵۵
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۵۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ښځه ورانديې ته‌ېر شوي دي، او دا ښکه چې شح به ورته د صله رحمی په پرېکولو امر وکړي نو صله رحمي به يې قطعه کړه او چې په بخل به يې ورته امر وکړي نو بخل به يې خپل کړي او چې په نورو ګناهونو باندې به يې ورته امر وکړي نو نور ګناهونه به يې کول (په هيڅ ګناه به ډيل نه وه).

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَٱلَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعۡدِهِمۡ ﴾ کښې د "هِمْ" ضمير چا ته راجع دی؟

مونږ وايو چې: وړاندې دوه ډلې مؤمنان (مهاجرين او انصار) ذکر دي نو دغه ضمير د همدغو دواړو مجموعې ته راجع دی[1]. يعنې هغه فقيران هم د فيء په مالونو کښې حق لري کوم چې د اولنيو مهاجرينو او اولنيو انصارو ښځه وروسته د قيامت تر ورځې پورې د الله ﷻ د پلوه موجود او مخلوق کړی شي.

خو د ﴿ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ ﴾ الآية- ښځه څرګندېږي چې هغه کسان د فيء په مالونو کښې حق نه لري کوم چې په سلفو صالحينو باندې لعن او طعن وايي او کينه او عداوت ورسره لري[2].

د دغو کسانو په هکله نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «...وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَوَّلَهَا»[3] يعنې د قيامت د علاماتو ښځه دا هم ده چې د دې امت وروستني راتلونکي کسان به په وړاندېنيو تېرو شوو مؤمنانو باندې لعنت وايي (او کينه به ورسره لري).

﴿ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُواْ يَقُولُونَ لِإِخۡوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَئِنۡ أُخۡرِجۡتُمۡ لَنَخۡرُجَنَّ مَعَكُمۡ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمۡ أَحَدًا أَبَدًا وَإِن قُوتِلۡتُمۡ لَنَنصُرَنَّكُمۡ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴿١١﴾ لَئِنۡ أُخۡرِجُواْ لَا يَخۡرُجُونَ مَعَهُمۡ وَلَئِن قُوتِلُواْ لَا يَنصُرُونَهُمۡ وَلَئِن نَّصَرُوهُمۡ لَيُوَلُّنَّ ٱلۡأَدۡبَٰرَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٢﴾ لَأَنتُمۡ أَشَدُّ رَهۡبَةً فِي صُدُورِهِم مِّنَ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٌ لَّا يَفۡقَهُونَ ﴿١٣﴾ لَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرًى مُّحَصَّنَةٍ أَوۡ مِن وَرَآءِ جُدُرِۭۚ بَأۡسُهُم بَيۡنَهُمۡ شَدِيدٞۚ تَحۡسَبُهُمۡ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمۡ شَتَّىٰۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡقِلُونَ ﴿١٤﴾ كَمَثَلِ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ قَرِيبًاۖ ذَاقُواْ وَبَالَ أَمۡرِهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١٥﴾

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۴۷۲؛ روح المعاني ج۲۸ ص۵۴
(۲) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۳۲
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۴۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَمَثَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَٰنِ ٱكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّنكَ إِنِّىٓ أَخَافُ ٱللَّهَ
رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ عَٰقِبَتَهُمَآ أَنَّهُمَا فِى ٱلنَّارِ خَٰلِدَيْنِ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُا۟ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٧﴾

[۱۱] ایا ته هغو کسانو ته نه ګورې کومو چې منافقت غوره کړی دی چې د اهل الکتابو څخه خپلو هغو ورونو ته وایي کوم چې په کفر باندې کلک دي چې: (مونږ ستاسو کامل ملاتړ یاستو نو) که تاسو (د وطنه) وویستلی شوئ نو هرومرو ضرور به مونږ تاسو سره ووځو، او مونږ به ستاسو په هکله (ستاسو په ضرر) د همېش دپاره د هیچا اطاعت ونه کړو، او که تاسو سره جنګ پیل کړی شو نو هرومرو ضرور به مونږ تاسو سره مرسته وکړو (او تر څنګ به مو ودرېږو).

(ای پیغمبره!) الله ﷻ شهادت ورکوي چې یقینًا منافقان (په خپلو خبرو او وعدو کښې) دروغژنان دي. (او دا څکه چې)

[۱۲] که هغوی ضرور (د کورونو څخه) وویستلی شي نو دوی به ورسره ونه وځي او که د هغوی سره جنګ پیل کړی شي نو دوی به ورسره مرسته ونه کړي او که (بالفرض) مرسته ورسره وکړي نو هرومرو ضرور به (د جنګ میدان ته) شاګانې ورواړوي (او تښتېدنه به خپله کړي). په دغه وخت کښې به د همدوی سره جنګ پیل کړی شي چې) بیا به ورسره (د هیڅ طرف څخه) کومک ونه کړی شي.

[۱۳] (ای مومنانو!) هرومرو تاسو د منافقانو او یهودانو په سینو (زړونو) کښې د ډار د جهته د الله ﷻ څخه سخت یاست (ستاسو څخه ډېر زیات په ډار کښې دي).

دغه (ډار) په دې سبب (د دوی په زړونو کښې کلک دی) چې یقینًا دوی داسې قوم دی چې په دقیقې پوهې سره نه پوهېږي.

[۱۴] (ای مومنانو!) منافقان او یهودان ټول به تاسو سره جنګ ونه کړي مګر په قوي (کلکو) قلاګانو کښې او یا د دېوالونو تر شا (د مخامخ جنګ توان د رعب د کبله نه لري).

د دوی جنګ په خپلو منځو کښې سخت دی (چې یو جانب هم د رعب خاوند نه دی).

(ای کتونکیه!) ته ګومان کوې چې منافقان او یهودان سره متفق دي، حال دا چې زړونه یې مختلف دي (چې هرڅوک جدا جدا دنیاوي غرض لري).

دغه (د زړونو اختلاف) د دې کبله (صورت نیولی دی) چې یقینًا دوی (ټول) داسې قوم دی چې د عقل څخه کار نه اخلي (او د ساده ګانو لار یې خپله کړې ده).

[۱۵] (د بني النضیرو عجیب حالت) د هغو کسانو (د عجیب حالت) په څېر دی کوم چې دوی نه نژدې (لږ) وړاندې (تېر شوي) دي (چې) د خپل کار (عناد) درنه وبده (دنیاوي عذاب) یې وڅاکه حال دا چې د همدوی دپاره (په آخرت کښې) دردناک عذاب (تاکلی شوی) دی.

[۱۶] (د منافقانو عجیب حالت) د شیطان (د عجیب حال) په څېر دی کله چې انسان ته وایي چې کفر غوره کړه (او اسلام پرېږده)، نو کله چې انسان کفر غوره کړي (او د شیطان اطاعت وکړي) نو

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(بیا ورته) شیطان وایي چې (دا کار دې خپل دی) یقینًا زه ستا څخه بېزار یم، یقینًا (زه ستا غوندې بې خوفه نه یم) زه د الله ﷻ څخه دارېږم چې د ټولو عالمونو رب دی.

[١٧] نو د غولیدلي انسان او د شیطان (دواړو) عاقبت دا شو چې یقینًا دواړه په اور (دوزخ) کښې دي چې په دې کښې به همیشه وي.

او دغه (دوزخ د قیامت تر ورځې پورې) د ټولو ظالمانو (او کافرانو اخروي) جزا ده.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د سورت د اول سر څخه تر دې ځایه د یهودو (بني النضیرو) پورې مربوط حالت بیان شوی وه او همدارنګه پکښې د مؤمنانو اخلاص او ایثار ته اشاره شوې وه.

په دې اینونو کښې د یهودو د دوستانو (منافقینو) پورې مربوطو حالاتو ته او هم یې دروغینو وعدو ته اشاره کېږي چې حاصل یې داسې راځېږي.

ای پیغمبره! اوس په خپل امت باندې د عبرت دپاره د بني النضیرو د دوستانو (منافقانو) څه حالات قرائت کړه، چې څومره په تکړې روان دي او څومره د دروغیښو وعدو ورکوونکي دي

١ـ ایا ته هغو کسانو ته نه ګورې کومو چې منافقت غوره کړی دی؟ بلکې ته یې ګورې او تاته ورباندې علم درکړی شوی دی چې هغوی خپلو هغو وروڼو ته وایي کومو چې کفر غوره کړی دی او په یهودیت باندې کلک دي چې د بني النضیرو (اهل الکتابو) څخه عبارت دي چې

الف ای بني النضیرو! تاسو په خپل دریځ باندې کلک ودرېږئ (د مؤمنانو د تهدید په مقابل کښې بې زړه کېږئ مه) مونږ ستاسو ملګري یاستو او په هر حال تاسو سره ولاړ یاستو، نو که بالفرض تاسو د خپل ټاټوبي څخه وویستلی شئ نو مونږ به هم هرومرو د خپلو ټاټوبو څخه وځو او ستاسو ملګرتیا به کوو.

ب په دغه وخت کښې به مونږ ستاسو به هکله په ابدي توګه د هیچا خبرې ته غوږ کښېنږدو چې مونږ نه ستاسو د عدم ملګرتیا وړاندیز وکړي، چې په خپلو ټاټوبو کښې پاتې شو، او نه به ستاسو په ضرر څه کار وکړو

ج ای بني النضیرو! که ستاسو سره جنګ پیل شو او جګړه ونښتله نو هرومرو به مونږ ستاسو نصرت وکړو او ستاسو په ګټه به وجنګیږو.

٢ـ ای پیغمبره! الله ﷻ شاهدي وایي چې یقینًا منافقان دروغژنان دي او ذکرې شوې وعدې یې ټولې دروغیښې دي نو

الف که بني النضیر د خپلو کورونو څخه وویستلی شي منافقان به ورسره ونه وځي او په خپلو کورونو کښې به ارام پاتې شي (په خپل لوظ به وفا ونه کړي)

ب او که د هغوی سره وسلوال جنګ پیل شي نو دوی به ورسره کومک ونه کړي او د جنګ میدان ته به وړاندې نه شي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دغه انسان د شیطان خبره ومنې او کفر غوره کړي او د شیطان په وعده داړه وي نو کله چې ورباندې شیطان خپله دروغینه نقشه عملي کړي او دعذاب وخت راورسیږي نو سمدستي یې د دوستۍ څخه لاس واخلي او ورته ووایې چې زه ستا څخه بېزار یم، نه ستا نصرت کوم او نه مې دا کار په توان کېږي شته، بلکې زه د رب العالمین څخه داړېږم او ستا غوندې بې عقله نه یم.

ج: نو نتیجه دا شي چې غولېدلی انسان او هم د ده لارښودونکی (شیطان) دواړه د ابد دپاره په دوزخ کېښې واچولی شي او د دنیا اندیوالي یې د دوزخ په اندیوالۍ باندې بدله شي.

همدارنګه منافقان هم بني النضیرو ته دروغینې وعدې ورکوي خو د رښتیا په میدان کېښې به نرۍ د هر ژر بېزار جوړ شي، چې نه به ورسره د وطن څخه په وتلو کېښې اندیوالي وکړي او نه به یې د جنګ په صورت کېښې مرستې ته وروداننګي او بالآخره دواړه به د قیامت په ورځ په دائمي اور کېښې وغورزولی شي چې همدغه د ظالمانو جزا ده.

## توضیحات

۱ـ په دې ایتونو کېښې هغو مطالبو ته اشاره شوې ده په کومو باندې چې د بني النضیرو د جلا وطنی څخه وړاندې بالغیب اخبار نازل شوي وه چې دغسې به واقع شي. هغه دا چې رئیس المنافقین (عبد الله بن أبی) هغوی ته هغه داړ او هغه وعدې ورکړې وې کومو ته چې په ایتونو کېښې اشارې شوې دي[1]، خو د عمل په میدان کېښې نوموړي په خپل لوظ ونه دريد او په خپله یوه وعده باندې یې هم وفاء ونه کړه.

## نور مهم مطالب

۲ـ په دې مقام کېښې د ایتونو څخه د اشارې په توګه لاندې نور مهم مطالب هم څرګندېږي:

الف: د نن ورځې[2] په وړاندې ببېرته وختونو کېښې د ﴿ لَأَنتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِي صُدُورِهِم مِّنَ اللَّهِ ﴾ د جملې مضمون په سترګو لیدل کېږي چې صلیبیان او ملګري یې (منافقان) د الله ﷻ څخه نه داریږي خو په نرۍ کېښې په تېره بیا په عراق او افغانستان کېښې د في سبیل الله مجاهدینو څخه په دار او وېره کېښې دي چې د ترهګرو او ارهابیانو په نامه یې یادوي.

ب: د ﴿ لَا يُقَٰتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرًى مُّحَصَّنَةٍ أَوْ مِن وَرَآءِ جُدُرٍ ﴾ جملې مضمون هم نن ورځ په یوه بل شکل کېښې لیدل کېږي، هغه دا چې صلیبیان او ملګري یې (منافقان) د هغو جنګي وسایلو تر سورې لاندې په جنګ اخته دي کوم چې د في سبیل الله مجاهدینو په لاس کېښې نشته، ته به وایې چې هغوی د قوي قلاګانو لاندې ناست دي او یا یې د قوي دیوالونو ترڅنګ پنا اخستې ده.

(۱) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۴۷۳؛ تفسیر الطبري ج۲۸ ص۴۵؛ الدر المنثور ج۸ ص۱۱۵
(۲) ۱۳۸۳/۱/۳ هش

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض : دواړو خواوو جنګي وسایل یو برابر وي نو هغوی به فقط پخپله دقیقي مقاومت هم نه وي کړی. او که د جنګي وسایلو په لحاظ : دواړو خواوو حالات بالعکس وي چي د هغوی جنګي وسایلو یوازي د مجاهدینو په لاس کښي قرار درلودی او بس، نو هغوی به پرته د جنګه تسلیم شوي وی او هیڅکله به یې جنګ نه زړه نه وي سه کړی.

ج خرنګه چي صلیبیان او ملګري یې فقط په جنګي وسایلو باندي اعتماد لري نو په همدي هڅه کښي دي چي ټوله نړۍ یې وسلي کړي چي نه اتوم بم ولري او نه بله کومه غوره وسله، بلکي باید اتوم بم او نوري جیدي وسلي یوازي په همدوی پوري اختصاص ولري او بس، د دوی څخه په غیر بل هیڅوک : دوی په نزد : اتوم بم د درلودلو استحقاق نه لري.

د په ﴿ بَأْسُهُم بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ ﴾ کښي دېته اشاره ده چي د کفارو په خپلمنځي جنګ کښي یو لوری هم په مقابل لوري باندي د رعب او ډار درلودونکی نه دی نو دواړه لوري سمسمکي دي او دواړه په جنګي وسایلو اتکاء لري.

هـ په ﴿ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ﴾ کښي دېته اشاره ده چي د کفارو اجتماعګاني د دنیاوي مطلبونو په بنیاد صورت نیسي نو خرنګه چي دنیاوي مطالب مختلف دي نو د دوی اجتماعګاني هم فقط شکلي اتحاد لري او بس. چي باطني اتحاد پکښي صورت نه شي موندلی.

و اما د مؤمنانو د اجتماعګانو بنیاد فقط په یوه غرض باندي ولاړ دی چي هغه د کلمة الله لوړوالی دی، نو د همدي کبله د دوی اجتماعګاني ظاهراً او باطناً متفقي او متحدي دي.

د همدي کبله یوازي همدوی استشهادي حملي کولی شي او بس. نو په کفري اجتماعګانو کښي به هیڅکله داسي کسان ونه موندلی شي چي د دین په خاطر انتحاري حمله وکړی شي.

که بالفرض مؤمنان د همدغه یوه هدف او یوه غرض دپاره کار ونه کړي او دنیاوي نور مختلف اغراض ورباندي د جنګ باعث وګرځي نو ضرور به د دوی اجتماعګاني هم باطني یووالی ونه لري او نه به یې د مقابل لوري (کفارو) په زړونو کښي رعب او ډار واچولی شي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چي په ﴿ كَمَثَلِ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَرِيبًا ذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ ﴾ کښي د موصول ﴿ الَّذِينَ ﴾ څخه څوک مراد دي؟ یا په بل عبارت هغه څوک وه کومو چي د بني النضیرو څخه لږ وړاندي د خپلو کړو وړو وبال (دروندوالی) او سزا ګاللی او څکلی وه؟

موږ وایو چي د دغه موصول په تعین کښي علماوو کرامو لاندي دوه قوله کړي دي

الف د ﴿ الَّذِينَ ﴾ موصول د مشرکانو څخه کنایي دی کوم چي لږ وړاندي د بدر د غزا په موقع د ذلت سره مخامخ شول چي د بر بندیان وګرځېدل او ډېر ووژلی شول[1]

---

[1] تفسیر ابن کثیر ج۴ ص ۳۴۰ الکشاف ج۴ ص۵۰۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: خو يوه ډله علماء كرام ـ چې په اول سر كښې يې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما واقع دی ـ وايي چې دلته د ﴿ٱلَّذِينَ﴾ څخه د بني قينقاع قبيله مطلبه ده[1] چې څو مياشتې مخكښې د مدينې منورې څخه جلا وطنه كړې شوه، چې ځينو مفسرينو كرامو[2] يې د قيصې مهم ټكي ليكلي دي.

## تبصره

۴ـ كه څه هم ذكر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري او د بدليت په لحاظ دواړه اراده كېدلی شي مگر دوهم تفسير د مقام سره ښه تناسب لري، چې بحث په بني النضيرو (اهل الكتابو) كښې روان دی او د بني قينقاع قبيله هم د اهل الكتابو څخه ده لكه چې د دې سورت (الحشر) په سريزه كښې ورته اشاره شوې ده.

## دلته د "انسان" څخه څوک مراد دی؟

۵ـ د ﴿كَمَثَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَٰنِ ٱكْفُرْ﴾ الآية- په ارتباط مفسرين كرام متفق دي چې دلته هغه منافقان د شيطان سره تشبيه كړې شوي دي كومو چې بني النضيرو ته ډاډ وركاوه چې په خپل دريغ كلک پاتې شئ، كومو ته چې لږ وړاندې په [الحشر:۱۱] ايت كښې اشاره شوې ده.

خو په دې كښې په لاندې ډول اختلاف لري چې د "الإنسان" څخه كوم يو انسان مراد دی؟

الف: ځينې وايي چې دلته د "الإنسان" څخه مطلق انسان مطلب دی[3]، نو د شيطان خبره چې هرڅوک ومني په نتيجه كښې به يې په همغو جملو مخاطب وگرځوي كومو ته چې په ايت شريف كښې اشاره شوې ده، چې يو مثال يې په [الأنفال:۴۸] ايت كښې تېر شوی دی.

ب: ځينې نور مفسرين كرام وايي چې دلته د "الإنسان" څخه خاص انسان مراد دی، چې "برصيصا" نومېد او ډېر غټ راهب وه خو شيطان په دروغينو وعدو باندې وغولاوه او په كفر باندې يې اخته كړ[4] چې په همدې كفري عقيده باندې مړ شو.

دغه قيصه ځينو علماوو كرامو ښه تفصيلواره ليكلې ده[5] كه څوک يې اوستل غواړي نو همدته دې مراجعه وكړي.

نو په هر تقدير د ايت شريف مضمون داسې راخېژي چې: د منافقانو حال د شيطان حال ته ورته دی چې جنس انسان ته او يا خاص انسان ته په كفر سره امر كوي، او كله چې وړباندې خپل امر قبول كړي او په كفر باندې يې اخته كړي نو سمدستي ترې خپله بېزاري اعلانه كړي چې كار دې خپل دی زه د رب العالمين څخه ډاربږم!.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۳۶
(۲) تفسير القاسمي ج۱۶ ص۱۰۸
(۳) زاد المسير ج۷ ص۳۴۲؛ المحرر الوجيز ج۱۵ ص۴۷۶
(۴) تفسير الطبري ج۲۸ ص۴۹؛ تفسير البغوي ج۴ ص۳۲۲
(۵) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۳۷؛ الدر المنثور ج۸ ص۱۱۷؛ تفسير الخازن ج۶ ص۲۲۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ایا شیطان د الله ﷻ څخه ډاریږي؟

۶_ که څوک وایي چې په دې مقام کښې الله ﷻ د شیطان د خولې څخه د ﴿ إِنِّىٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ جمله راحکایت کړې ده، نو ایا نوموړی د الله ﷻ څخه ډاریږي؟

مونږ وایو چې: په [الأنفال:۴۸] ایت کښې هم د شیطان د خولې څخه د ﴿ إِنِّىٓ أَخَافُ ٱللَّهَ ﴾ جمله راحکایت شوې ده او ذکره شوې پوښتنه مونږ د الله ﷻ په توفیق هلته جوابه کړې ده، خو په دې مقام کښې وربانديې لاندې دوه ټکې وراضافه کوو:

الف: ذکره شوې جمله هم د شیطان د دروغینو خبرو او وعدو څخه یوه دروغینه خبره ده چې زه د الله ﷻ څخه ډاریږم، که بالفرض نوموړی په خپله خبره کښې رښتینی وي نو آدم ﷺ ته به یې سجده کړې وی.

ب: نوموړی به د تعریض په توګه ذکره شوې جمله غولولی شوي انسان ته ورواوروي چې ای انسانه! ته دروغژن یې چې د رب العالمین څخه ډاریږي، که نه نو زما امر به دې نه منلی او د څرګند دښمن په خوله به دې باور نه وی کړی.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾ وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمْ أَنفُسَهُمْ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿١٩﴾ لَا يَسْتَوِىٓ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ ۚ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿٢٠﴾ لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ۚ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾ ﴾

[۱۸] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو (د اوامرو په مننه کښې) د الله ﷻ څخه وډار شئ او (ستاسو) هر نفس (کس) دې وګوري چې د سبا ورځې (قیامت) دپاره یې څه وړاندې استولي دي.

او تاسو (د محارمو څخه په اجتناب کښې هم) د الله ﷻ څخه وډار شئ، چې یقیناً الله ﷻ په هغو (کړو وړو) خبردار دی چې تاسو یې (روزمره) ترسره کوئ.

[۱۹] او تاسو د هغو کسانو غوندې مه کېږئ کومو چې الله ﷻ هېر کړی دی نو الله ﷻ ترې خپل خانونه هېر کړي دي (چې لګیا دي د خپلو خانونو په ضرر کار کوي).

دغه کسان چې دي هغوی د شریعت (د چوکاټ) څخه وتونکي کسان دي (او دوزخیان دي).

[۲۰] د اور (دوزخ دائمي) اوسېدونکي او د جنت (دائمي) اوسېدونکي یو تربله سره یو برابر نه دي.

د جنت اوسېدونکي چې دي هغوی مطلب ته رسېدونکي (کامیابان) دي (او بس).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۱] که (بالفرض) مونږ دا قرآن کریم په غره باندې نازل کړی وی (او پوهه مو ورکړې وی) نو ضرور به دا عاجزي کوونکی د الله ﷻ د ویرې ټوټې ټوټې کېدونکی لیدلی وی
او (ای پیغمبره!) مونږ دغه (تېر شوي) مثالونه د خلکو دپاره وهو (بیانوو) شاید چې دوی (پکښې) غور وکړي (او ګټه ترې اوچته کړي)

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنۍ مجموعه کښې وروستني ایتونه د انسي او جني شیطانانو د حال په بیان باندې مشتمل وه، په دې ایتونو کښې بیا مؤمنانو ته توصیه نازله شوې ده چې د نوموړو په دروغجنو وعدو ونه غولېږي او خپلې دواړه دنیاوي خرابې نه کړي نو حاصل یې داسې راځېږي چې:
ای پیغمبره! بیا د الله ﷻ د جانبه مؤمنان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:
۱ــ ای مؤمنانو! تاسو د خپل ایمان په قوت لاندې خاصیتونه خپل کړئ:
الف. تاسو د الله ﷻ څخه وېرېدار شئ، په ټولو واجباتو باندې راټګ وکړئ او د آخرت دپاره د لارې توښه او خوری تیار کړئ او ستاسو هر یو کس دې وګوري چې د سبا ورځې دپاره یې څه شی چمتو کړی دی او کوم نېک اعمال یې وړاندې استولی دی.
ب. تاسو د الله ﷻ څخه وېرېدار شئ او د ټولو محارمو او منهیاتو څخه یې اجتناب وکړئ.
دا ځکه چې الله ﷻ ستاسو په ټولو کارونو باندې خبردار دی، برابره خبره ده چې دغه کارونه مو فعلي وي او که ترکي (کول وي او که نه کول) وي.
ج. ای مؤمنانو! تاسو د هغو کسانو غوندې مه کېږئ کومو چې د عدم تقوی د کبله الله ﷻ هېر کړی دی چې نه یې د اوامرو اجابت کوي او نه یې د مناهیو څخه ډډه کوي. نو الله ﷻ د هغوی څخه خپل ځانونه هېر کړه چې د خپلو ځانونو په ګټه کار نه کوي، بلکې په ضررونو کښې یې لګیا دي چې توفیق ورسره مل نه دی.
لنډه دا چې دغه کسان چې تقوی نه لري او الله ﷻ یې هېر کړی دی همدوی فاسقان او د شریعت د چوکاټه وتونکي خلک دي، همدوی د اور ملګري دي چې اندیوالي یې ورسره دائمي ده او همدوی ناکامان دي بالمقابل متقیان ورسره مساوات نه لري بلکې همدوی د جنت دائمي ملګري دي او همدوی مطلب ته رسېدونکي او کامیابان دي.
۲ــ ای پیغمبره! مونږ په تاباندې داسې قرآن کریم نازل کړی دی د کوم په ذریعه چې د زړونو څخه زنګ او خېری لرې کېږي او د فسق جرړې ورسره وځي، خو فاسقانو لکه چې الله ﷻ هېر کړی دی همداړنګه یې قرآن کریم هم هېر کړی دی او ګټه ترې نه اوچتوي. نو د هغوی زړونه د کاڼو څخه کلک او د غرونو څخه سخت دي.
که نه نو که بالفرض مونږ همدا قرآن کریم په یوه غره باندې نازل کړی وی او پوهه مو ورکړې وی نو ضرور به غر د غښتوالي او کلکوالي سره‌سره د الله ﷻ ارشاداتو ته عاجزي کوونکی ګرځېدلی وی

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او هم به د الله ﷻ د داره تکړې-تکړې جوړ شوی وی (د مناهیوو څخه به یې په کلکه اجتناب کړی وی).

۳_ ای پیغمبره! مونږ دغه مثالونه _کوم چې وړاندې تېر شوه_ د خلکو د ګټې دپاره بیانوو ترڅو پکښې فکر وکړي او د قیامت تر ورځې پورې ترې موقع په موقع استفاده وکړي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ الآية- کښې د ﴿ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ﴾ جمله دوه کرته نازله شوې ده چې خینو علماوو کرامو یې دوهم کرت نزول په تاکید باندې حمل کړی دی[1] خو بهتره دا ده چې یوې جملې ته د اوامرو د تعمیل پورې ارتباط ورکړی شي او بله جمله د مناهیوو څخه په اجتناب پورې مربوطه وګڼلی شي، چې د تاکید څخه تاسیس غوره دی.

## د خپل ځان سره محاسبه

۲_ په ﴿ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې هر چا ته په دنیا کښې د خپل ځان سره محاسبه ضرور ده. په همدې ارتباط لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنَّى عَلَى اللهِ»[2] یعنې هوښیار سړی هغه دی کوم چې (په دنیا کښې) د خپل ځان سره محاسبه کوي، او د مرګ څخه د وروسته وخت دپاره عمل کوي، او بې عقل (ساده سړی) هغه دی کوم چې خپل ځان د نفسي خواهشاتو پیرو جوړ کړي او (د دې سره-سره) په الله ﷻ باندې امید کوي (چې عفوه به راته وکړي او معذب به مې نه کړي).

ب: عمر ﷺ (امیر المؤمنین) ویلي چې: «حَاسِبُوا أَنْفُسَكُمْ قَبْلَ أَنْ تُحَاسَبُوا»[3] یعنې ای خلکو! تاسو د خپلو ځانونو سره د هغه وخت څخه وړاندې محاسبه وکړئ چې تاسو سره (په قیامت کښې) محاسبه وکړی شي. دا محاسبه به په هغه چا باندې اسانه وي کوم چې په دنیا کښې د خپل ځان سره محاسبه کړې وي چې: خوراک دې د کومه کړی دی، لباس دې چرته موندلی دی؟ او داسې نور.

## همدا مضمون په بل ایت کښې

۳_ په ﴿ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ نَسُواْ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمْ أَنفُسَهُمْ ﴾ کښې چې کوم مضمون ته اشاره شوې ده هغه د قرآن کریم په نورو ډېرو ایتونو کښې نازل شوی دی. د بېلګې په توګه:

الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُۥ شَيْطَٰنًا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٌ ﴾ [الزخرف ۳۶] یعنې او هرڅوک چې د ډېر مهربان الله ﷻ د ذکر څخه اعراض وکړي هغه ته مونږ شیطان ټاکو

---

(۱) تفسیر الخازن ج۶ ص۲۳۲، تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۴۲
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۷۸
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۷۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اچې احاطه وریاندې وکړي) نو هغه ته شیطان نژدې اندیوال جوړ شي (نو خپل بد کارونه به ورته ښکلي ورښودي)

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَـٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ﴾ کښې په ﴿ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَـٰلُ ﴾ سره کومو مثالونو ته اشاره شوې ده؟

مونږ وایو چې: که څه هم الله ﷻ په قرآن کریم کښې خای په خای زښت ډېر عبرتي مثالونه نازل کړي دي مګر په دې مقام کښې ـ والله ﷻ اعلم ـ هغو عبرتي مثالونو ته اشاره ده کوم چې په همدې سورت کښې وړاندې تېر شوي دي. د مثال په توګه:

الف: د بني النضیرو په زړونو کښې په خارق العاده توګه د رعب اچولو مثال، چې په ﴿ فَٱعْتَبِرُوا۟ يَـٰٓأُو۟لِى ٱلْأَبْصَـٰرِ ﴾ [الحشر:۲] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

ب: د مؤمنانو ترمنځ د ایثار او په خپل خان باندې د غوره ګرخولو مثال: [الحشر:۹] ایت.

ج: د منافقانو د بې لوظی مثال: [الحشر:۱۱] ایت.

د: د بني النضیرو دپاره د بني قینقاع مثال: [الحشر:۱۴] ایت.

ه: د کافر انسان دپاره د شیطان مثال: [الحشر:۱۵] ایت.

و: د کفارو د زړونو د کلکوالي مثال: [الحشر:۲۱] ایت.

﴿ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَـٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ ۖ هُوَ ٱلرَّحْمَـٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ٱلسَّلَـٰمُ ٱلْمُؤْمِنُ ٱلْمُهَيْمِنُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْجَبَّارُ ٱلْمُتَكَبِّرُ ۚ سُبْحَـٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٢٣﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَـٰلِقُ ٱلْبَارِئُ ٱلْمُصَوِّرُ ۖ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٤﴾ ﴾

[۲۲] دا الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په حقه معبود نشته مګر همدی ﷻ دی (او بس)، چې په پټ او ښکاره (دواړو) باندې پوه دی، همدی ﷻ ډېر مهربان زښت ډېر بارحمه دی.

[۲۳] دا الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په حقه معبود نشته مګر همدی ﷻ دی (او بس)، کامل واکدار، د ټولو نواقصو څخه (ازلاً) پاک، (او هم تري) ابداً منزه (او سالم) دی، (بندګانو ته) امن ورکوونکی، په هر شي باندې څارونکی (او محافظ)، د کلکې ارادې درلودونکی، (په نورو باندې د خپلې ارادې تحمیلوونکی (او) د کبریاء (عظمت) خاوند دی.

الله ﷻ ته د هغو ټولو شیانو څخه پاکي ده کوم چې مشرکان یې (ورسره په عبادت کښې شریکان ګرځوي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۴] دا الله ﷻ اندازه کوونکی، پیداکوونکی (او) څېره ورکوونکی دی.

خاص همده ﷻ ته ښایسته نومونه دي. همده ﷻ ته هغه مخلوقات تسبیح وایي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې (موجود) دي، او همدی ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او) د حکمت څښتن دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندې متصل ایت کښې د قرآن کریم عظمت ته اشاره شوې وه چې که په غره باندې نازل شوی وی نو هغه به وړاندې درې وړې ګرځېدلی وی او په دې ایتونو کښې د دې کتاب د نازلوونکي (الله ﷻ) د شان عظمت ته اشاره کېږي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د الله ﷻ د عالي الشانه صفاتو څو مثالونه قرائت کړه.

۱ـ د قرآن کریم نازلوونکی هغه الله ﷻ دی چې د عبادت استحقاق هیڅوک نه لري مګر یوازې همدی ﷻ یې درلودونکی دی او بس. همدی ﷻ په هغو ټولو شیانو باندې عالم دی کوم چې زمونږ څخه پټ دی او په هغو ټولو شیانو باندې هم کوم چې مونږ ته څرګند او ښکاره دي.

۲ـ همدی ﷻ ډېر مهربان او په دنیا او آخرت کښې زښت ډېر با رحمه دی.

۳ـ د قرآن کریم نازلوونکی هغه الله ﷻ دی چې د معبودیت لایق نشته مګر یوازې همدی ﷻ دی چې ټوله واکداري د همده ﷻ په اختیار کښې ده او بس.

۴ـ همدی ﷻ د ټولو عیبونو څخه پاک دی او د ټولو نواقصو څخه د سلامتی درلودونکی دی.

۵ـ همدی ﷻ خپلو بندګانو ته امن ورکوونکی دی او هم په معجزاتو سره د خپلو پیغمبرانو تصدیق کوونکی دی.

۶ـ همدی ﷻ د هر شي څارونکی دی چې هیڅ شی د ده ﷻ د څارنې څخه نه شي بچ کېدلی.

۷ـ همدی ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی چې هیڅوک د ده ﷻ د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی.

۸ـ همدی ﷻ په هر چا او په هر شي باندې د خپلې ارادې تحمیلوونکی دی او همدی ﷻ د عظمت او کبریاء څښتن دی.

۹ـ الله ﷻ ته د هغو ټولو شیانو څخه پاکي ده کوم چې مشرکان یې ورسره په عبادت کښې شریکان ګڼي.

۱۰ـ د قرآن کریم نازلوونکی داسې الله ﷻ دی چې مطلق پیدا کوونکی او اندازه کوونکی دی، او همدارنګه د ساکښانو پیداکوونکی دی.

۱۱ـ همدی ﷻ هر شي ته په خاص ډول سره څېره او شکل ورکوونکی دی چې یو د بل څخه جدا کوي او د هر یوه مخلوق څېره د بل څخه بېله ده.

۱۲ـ د قرآن کریم د نازلوونکي (الله ﷻ) دپاره د ذکرو شوو نومونو څخه علاوه نور ښایسته

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نومونه شته چې هر یو د ده ﷻ په عالي شان باندې دلالت کوي.

۱۳_ د الله ﷻ دپاره هغه ټول مخلوقات تسبيحات وايي او د پاکۍ نسبت ورته کوي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې شتون لري.

۱۴_ لنډه دا چې همدی ﷻ د کلکې ارادې خاوند او د حکمت څښتن دی او ټول عالي صفات يې په رښتيا دي.

## توضيحات

۱_ که څه هم په دغو درېوو ايتونو کښې برسېره پر دې چې د اجمال په توګه پکښې د ﴿ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ ﴾ په نزول سره د الله ﷻ ټولو عالي نومونو ته اشاره شوې ده چې مونږ ورباندې د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف: ۱۸۰] ايت لاندې څه مناسبه رڼا اچولې ده، مګر الله ﷻ پکښې په صراحت سره او په ضمائرو سره او هم په جلالي او جمالي عالي صفاتو سره پنځه دېرش (۳۵) کرته ذکر شوي دي. نو دا ايتونه ډېر عالي شان لري.

د همدې کبله نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ أَعُوذُ بِاللهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ وَقَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْحَشْرِ وَكَّلَ اللهُ بِهِ سَبْعِينَ أَلْفَ مَلَكٍ يُصَلُّونَ عَلَيْهِ»[۱] يعنې هر څوک چې د سبا په وخت کښې درې کرته «أَعُوذُ بِاللهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ» ووايي او بيا د "الحشر" د سورت درې وروستني ايتونه قرائت کړي نو الله ﷻ به ورته اويا زره (۷۰۰۰۰) پرښتې وټاکي چې د خير غوښتنه به ورته کوي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: دغه پنځه سورتونه (الحديد، الحشر، الصف، الجُمُعة، التغابن) د مسبحاتو سورتونو په نامه يادېږي چې پنځه واړه په ﴿ سَبَّحَ ﴾ يا ﴿ يُسَبِّحُ ﴾ سره پيل شوي دي. نبي کريم ﷺ به چې کله ويده کېده نو مسبحات (پنځه) سورتونه به يې لوستل او ويل به يې چې: «إِنَّ فِيهِنَّ آيَةً أَفْضَلُ مِنْ أَلْفِ آيَةٍ»[۲] يعنې په دغو سورتونو کښې يو ايت شته چې د يو زر ايتونو څخه (په ثواب او اجر کښې) افضل دی.

نو پوښتنه دا ده چې دغه بهتر او افضل ايت کوم ايت دی؟

مونږ وايو: ځينو مفسرينو کرامو دغه بهتر ايت د "الحديد" د سورت درېيم ايت ښودلی دی[۳] مګر دا هم څه لرې نه ده _والله ﷻ اعلم_ چې دغه ايت د همدې سورت وروستنی ايت وي په کوم کښې چې بحث روان دی.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۰

(۲) سنن ابي داؤد ج۲ ص۳۳۲

(۳) تفسير ابن کثير ج۴ ص۳۰۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په ﴿ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ﴾ کښې د دغو دواړو کلمو په معناوو کښې څه فرق دی؟

مونږ وايو چې[1]: د ﴿ ٱلۡقُدُّوسُ ﴾ د کلمې معنی دا ده چې الله ﷻ ازلاً د هر نقص او هر عيب څخه پاک دی. او د ﴿ ٱلسَّلَٰمُ ﴾ معنی دا ده چې په الله ﷻ باندې په آينده کښې (ابد الآباد) نه نقص او نه عيب عارضيږي او د هغو ټولو صفاتو څخه منزه او سالم دی کوم چې د ده ﷻ د عالي شان سره مناسبت ونه لري.

## "مؤمن" څه معنی؟

۴ـ د الله ﷻ په نومونو کښې يو مبارک نوم د "مُؤۡمِن" کلمه ده چې علماوو کرامو په متعددو معناوو سره ترجمه کړې ده[2] او څه لرې نه ده چې د بدليت په لحاظ پکښې ټولې معناوې اراده کړی شي. هغه دا چې:

الف: الله ﷻ په وحې سره او هم په معجزاتو سره د خپلو پيغمبرانو عليهم السلام تصديق کوونکی دی.

ب: الله ﷻ خپلو بندګانو ته د عذابونو څخه امن ورکوونکی دی.

ج: الله ﷻ ازلاً او ابداً د زوال څخه امن درلودونکی دی.

## هېر مو نه شي

۵ـ د ﴿ ٱلۡمُهَيۡمِنُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡجَبَّارُ ٱلۡمُتَكَبِّرُ ﴾ په تفسير کښې لاندې مطالب په ياد ساتل په کار دي:

الف: د "مُهَيۡمِن" د کلمې څه شرحه د الله ﷻ په توفيق د [المائدة ۴۸] ايت لاندې تېره شوې ده چې د مراقب (څارونکي) معنی ورکوي. يعنې الله ﷻ د هر شي څارونکی دی.

ب: د "عَزِيز" کلمه اصلاً د "عَزَاز" ـلکه "عَذَاب"ـ څخه اشتقاق شوې ده، "عَزَاز" کلکې ځمکې ته ويل کيږي[3]. يعنې الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی دی چې هيڅوک او هيڅ شی ورته خنډ نه شي جوړېدلی.

ج: د "جَبَّار" کلمه د [المائدة: ۲۲] ايت لاندې تحليله شوې ده خو په دې مقام کښې په لاندې دوو معناوو سره ترجمه کړی شوې ده[4]:

اول: چې الله ﷻ په هر چا باندې د خپلې ارادې تحميلوونکی دی

(۱) تفسير الخازن ج۶ ص۲۳۴

(۲) زاد المسير ج۷ ص۳۴۷؛ روح المعاني ج۲۸ ص۶۳

(۳) مفردات الراغب ص۳۴۲، لسان العرب ج۵ ص۳۷۶

(۴) روح المعاني ج۲۸ ص۶۳؛ تفسير القرطبي ج۱۸ ص۴۷؛ زاد المسير ج۷ ص۳۴۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: چې الله ﷻ د مفاسدو ازاله کوونکی دی او په زخمونو باندې پټی اېښودونکی دی.

د. د "مُتَكَبِّرُ" کلمه د [النحل:۲۲] ایت لاندې ښه پوره تحلیله شوې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ یعنې الله ﷻ د کبریاء او عظمت څښتن دی.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: په ﴿ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ﴾ کښې د "خَالِق" او "بَارِئ" ترمنځ څه توپیر دی؟

مونږ وایو چې: دغه دواړه نومونه په لاندې وجوهو سره یو د بل څخه جدا کېږي[1]:

اول: که څه هم د "خَالِق" کلمه د پیداکوونکي او اندازه کوونکي دواړو معناوو سره استعمالېږي خو په دې مقام کښې د "اندازه کوونکي" معنی ورکوي. او په "پیداکوونکي" باندې د "بَارِئ" کلمه دلالت کوي. یعنې الله ﷻ د هر شي اندازه کوونکی دی او په ټاکلې اندازې سره یې پیدا کوونکی دی.

دوهم: "خَالِق" د مطلق پیداکوونکي دپاره وضعه شوی دی او "بَارِئ" د هغه پیداکوونکي نوم دی چې ساکښان پیدا کوي. یعنې الله ﷻ د هر شي پیداکوونکی دی او د ساکښانو پیداکوونکی هم دی.

درېیم: د "خَالِق" معنی "پیداکوونکی" ده او د "بَارِئ" معنی "د امراضو څخه رغوونکی او د مشکلاتو حل کوونکی" ده. یعنې الله ﷻ هم پیداکوونکی دی او هم د امراضو څخه رغوونکی او د مشکلاتو حل کوونکی دی.

د "الحشر" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په مرسته پای ته ورسېد.

د الله ﷻ څخه نور توفیق غواړو چې د پاتې سورتونو د ختمولو توفیق هم راوبښي.

۱۴۲۵/۲/۱۲ هـ ق ـ ۱۳۸۳/۱/۱۳ هـ ش.

---

(۱) اضواء البیان ج۸ ص۱۲۳؛ لسان العرب ج۱ ص۳۱؛ القاموس المحیط ج۲ ص۹۹

# الممتحنة (٦٠)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم "المُمتَحَنَة" اېښودلی شوی دی چې د "ح" په توري باندې یې په لاندې دوه ډولونو سره، تلفظ کېدلی شي[۱]:

الف. چې د "ح" توری یې زور ولري او همدا تلفظ یې مشهور هم دی. یعنې دا هغه سورت دی چې د مهاجرې ښځې ذکر پکښې نازل شوی دی، او په [الممتحنة: ۱۰] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

ب. چې د "ح" توری یې په زیر سره ولوستلی شي. یعنې دا هغه سورت دی د کوم په سبب چې یوه جاسوسه ښځه د مشقت سره مخامخه کړی شوې وه، چې د قیصې څه تفصیل یې د همدې سورت په شان نزول کښې ـان شاء الله ﷻ ـ راروان دی. په دغه دوهم ډول تلفظ سره به دغه نوم د "التَّوبَة" د سورت د "الفاضحه" نامه ته ورته وي. یعنې دغه سورت (المُمْتَحِنَة) د کوم په سبب چې مشرکان د شرمندګۍ سره مخامخ کړی شوي وه.

۲_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي[۲]:

الف. د ایتونو شمېر یې دیارلس (۱۳) دی.

ب. د کلماتو شمېر یې درې سوه او اته څلوېښت (۳۴۸) دی.

ج. د حرفونو شمېر یې یو زر پنځه سوه او لسو (۱۵۱۰) تورو ته رسېږي.

۳_ د دې سورت ټول ایتونه مدني دي او د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی[۳].

۴_ دا سورت (الممتحنة) او وړاندېنی سورت (الحشر) د دې کبله سره تناسب لري چې دواړه مدني دي او په دواړو کښې د کثرت په لحاظ عملي احکام نازل شوي دي.

۵_ که څه هم په دې سورت کښې د اغلبیت په ملحوظ عملي احکام نازل شوي دي مګر په عملي احکامو کښې د لاندې احکامو په ذکر باندې ډېر ټینګار شوی دی:

الف. باید مؤمنان په خپلو منځو کښې مینه او محبت ولري.

ب. باید مؤمنان په ابراهیم ؈ پسې اقتداء وکړي او د محاربو کفارو څخه خپله بېزاري اعلانه کړي که څه هم د قرابت اړیکې ورسره ولري.

ج. مهاجرې ښځې باید امتحان کړی شي او بیا ورسره مناسب چال چلند وکړی شي.

د. د نبي کریم ﷺ سره د ایمان راوړلو په وخت کښې ښځو په کومو شرائطو بیعتونه کړي دي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّى وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ وَقَدْ

---

۱. روح المعاني ج۲۸ ص۶۵

۲. تفسیر المعارف ج۶ ص۲۳۶؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۳

۳. تفسیر الطبري ج۲۸ ص۵۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلْحَقِّ يُخْرِجُونَ ٱلرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَن تُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ رَبِّكُمْ إِن كُنتُمْ
خَرَجْتُمْ جِهَٰدًا فِى سَبِيلِى وَٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِى ۚ تُسِرُّونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعْلَمُ بِمَآ
أَخْفَيْتُمْ وَمَآ أَعْلَنتُمْ ۚ وَمَن يَفْعَلْهُ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١﴾ إِن يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُواْ
لَكُمْ أَعْدَآءً وَيَبْسُطُوٓاْ إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُم بِٱلسُّوٓءِ وَوَدُّواْ لَوْ تَكْفُرُونَ ﴿٢﴾ لَن تَنفَعَكُمْ
أَرْحَامُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ ۚ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٣﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو زما دښمنان او خپل دښمنان دوستان مه نیسئ چې محبت وراچوئ (ظاهري دوستي ورسره کوئ) حال دا چې هغوی په هغه شي باندې کفر غوره کړی دی کوم چې تاسو ته درغلی دی چې د حق (دین) څخه عبارت دی، حال دا چې هغوی (د مکې معظمې څخه) پیغمبر او تاسو د دې کبله ویستلی یاست چې تاسو په الله ﷻ خپل رب ﷻ باندې ایمان راوړی دی (او دا کار هغوی ته جنایت بریښېده)، که چرته تاسو یاست چې زما په لاره کښې د جهاد دپاره او زما د رضامندۍ د لټولو دپاره وتلي یاست (نو هغوی د دوستانو په حیث مه نیسئ). تاسو هغوی ته د دوستۍ د کبله پټې خبرې (او پټ رازونه) ورلېږئ حال دا چې زه په هغه شي باندې ډېر ښه پوهېږم چې تاسو یې پټوئ او هغه چې تاسو یې څرګندوئ (ماته دواړه یو برابر دي). او ستاسو د جملې څخه چې هرڅوک دا (ذکر شوی کار) وکړي نو یقیناً هغه سمه لاره ورکه کړه.

[۲] که چرته د کفارو په تاسو باندې لاس برشي (او تاسو یې په قابو کښې واقع شئ) نو ستاسو دپاره به دښمنان وګرځي او هم به تاسو ته خپل لاسونه او خپلې ژبې په بدۍ سره دراوږدې کړي او هم به (دا) خوښه کړي چې تاسو هم کافران جوړ شئ.

[۳] (ای مؤمنانو!) هیڅکله به تاسو ته خپل اقارب او خپل اولادونه د قیامت په ورځ هیڅ ګټه ونه شي رسولی، الله ﷻ به (په دغې ورځ کښې) ستاسو ترمنځ بېلتون واقع کړي (هرڅوک به په خپل غم کښې ډوب وي)، او (ای مؤمنانو!) الله ﷻ په هغو (ټولو کړو وړو) باندې بینا دی کوم چې تاسو یې (روزمره) عملي کوئ.

## شان نزول او ارتباط

۱ ـ د دغو ایتونو لومړی ایت د حاطب بن ابي بلتعه رضي الله عنه د قیصې په ارتباط نازل شوی دی[۱]، دغه قیصه څینو مفسرینو کرامو ښه مفصله لیکلې ده[۲] دلته یې څینې مهم ټکي لوستلی شئ:

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۶؛ مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۱۷۳
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۳۲۸؛ زاد المسیر ج۸ ص۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د هجرت په شپږم کال د مکې مشرکانو د نبي کريم ﷺ سره د صلحې معاهده لاسليک کړه، چې تفصيل يې د "الفتح" د سورت په سريزه کښې د الله ﷻ په توفيق تېر شوی دی.

ب: خو دوه کاله وروسته هغوی ذکره شوې معاهده ماته کړه[۱] نو د همدې کبله نبي کريم ﷺ اراده وکړه چې د جنګ تياري ونيسي.

ج: په همدغه وخت کښې يوه سندرغاړې مشرکه ښځه د مکې معظمې څخه مدينې منورې ته راغله چې (ساره) نومېده او د نبي کريم ﷺ سره يې لاندې سوال جواب وکړ:

نبي کريم ﷺ: ايا ته مسلمانه شوې راغلې او که څنګه؟

ساره: زه نه يم مسلمانه شوې.

نبي کريم ﷺ: نو دلته څنګه او د څه غرض دپاره راغلې؟

ساره: زه ډېره محتاجه يم او غواړم چې تاسو راسره څه مالي مرسته وکړئ.

نبي کريم ﷺ: د مکې لوېران ځرته دي چې ته به يې ګډولې او مالي کومکونه به يې درسره کول؟

ساره: هغوی د بدر د غزا څخه وروسته ما نه ګډوې او سندرې راباندې نه وايي چې کومکونه راکړي، هغوی په خپلو وژلو شوو باندې وير کوي او پرې خپه دي.

د: نبي کريم ﷺ صحابه کرام ﷺ ترغيب کړل، نو ذکرې شوې ښځې ته يې څه مالي کومک ورکړ چې بېرته ستنېدلو ته تياره شوه. په عين وخت کښې حاطب بن ابي بلتعه ﷺ هغې ته لس (۱۰) ديناره او هم يو خط (ليک) ورکړ او ماموره يې کړه چې زما دغه ليک د مکې مشرکانو ته ورسوه، نو هغې ليک پټ وساته او د مکې معظمې په لور روانه شوه.

هـ: د ليک مضمون دا وه چې ای د مکې قريشو! نبي کريم ﷺ اراده کړې ده چې په تاسو باندې جنګ وکړي او دا خکه چې تاسو د حديبيې د صلحې معاهده ماته کړې ده.

و: الله ﷻ د وحې په ذريعه خپل پيغمبر ﷺ د دغه ليک په موضوع باندې خبر کړ. نو نبي کريم ﷺ يوه ډله صحابه کرام ﷺ د ذکرې شوې ښځې په تعقيب ولېږل ترڅو د هغې څخه ليک واخلي او دلته يې راوړي.

ز: د صحابه وو کرامو ﷺ ډله هغې ته په "روضة خاخ" نومې ځای کښې وررسېده او د ليک غوښتنه يې ترې وکړه. ښځه په ليک باندې تېپه منکره شوه چې زما سره هيڅ خط نشته! خو د ډېرو بهانو نو څخه وروسته مجبوره شوه او په خپلو کوڅيو کښې يې غلی کړی ليک راوويست او صحابه وو کرامو ﷺ ته يې ورکړ چې په پای کښې نبي کريم ﷺ ته ورسېد.

ح: نبي کريم ﷺ حاطب بن ابي بلتعه ﷺ راوغوښت چې دا ولې؟ حاطب ﷺ وويلې چې ای پيغمبره! زه مرتد شوی نه يم. دغه خط مې د دې دپاره د مکې معظمې مشرکانو ته استولی دی ترڅو هغوی زما د احسان لاندې واقع شي او زما په اهل او مال باندې پاملرنه وکړي او دا خکه چې

[۱] سيرت ابن هشام ج ۴ ص ۱۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زه هلته څه اقارب نه لرم چې زما د مال ساتنه وکړي. ای پیغمبره! زه پوهېدم چې زما خط د الله ﷻ د ارادې په وړاندې څه خنډ نه شي واقع کېدلی

ط: نبي کریم ﷺ د ذکر شوي صحابي ﷺ اعتذار ومانه، نو د ټولو مؤمنانو دپاره ارشاد نازل شو چې باید دغسې کار ته هیڅوک د قیامت تر ورځې پورې اقدام ونه کړي

۲ـ وړاندېنی سورت په ﴿ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ﴾ باندې ختم شوی وه چې د الله ﷻ د ارادې مخه هیڅوک او هیڅ شی نه شي نیولی، د همدې کبله بني النضیرو ته د منافقانو دوستي څه ګټه ونه شوه رسولی او نه د شیطان دوستي چا ته ګټه رسولی شي

په دې ایتونو کښې ټولو مؤمنانو ته توصیه نازله شوې ده چې د کفارو دوستي د الله ﷻ د ارادې مخه نه شي نیولی (برابره ده چې مجاهر کفار وي او که منافقان) نو تاسو د خپل رب ﷻ د ارشاداتو پیروي وکړئ او د هغوی سره دوستي ته لاس مه اچوئ

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! ته زما د پلوه ټول مؤمنان مخاطب کړه او ورته ووایه چې

۱ـ ای مؤمنانو! تاسو د ایمان په زور په لاندې ارشاداتو عمل وکړئ

الف: تاسو هغه کسان د دوستانو په حیث مه نیسئ کوم چې زما دښمنان دي چې په وحدانیت باندې مې باور نه کوي او ایمان راباندې نه راوړي، او کوم چې ستاسو دښمنان هم دي چې هلاکت او پوپنا کېدلو ته مو سترګې په لار دي

ب: ایا تاسو هغوی ته د دوستۍ لاس ورغځوئ او د دوستۍ د کبله هغوی ته لیکونه ورلېږئ حال دا چې

اول: هغوی په هغه حق باندې کفر غوره کړی دی کوم چې تاسو ته د الله ﷻ د پلوه درغلی دی او په معجزو سره په اثبات رسېدلی دی، چې هغه د قرآن کریم او هم د پیغمبر ﷺ څخه عبارت دی.

دوهم: حال دا چې هغوی رښتیاني پیغمبر ﷺ د وطنه وباسي او همدارنګه تاسو هم نه پرېږدي چې په خپل وطن (مکه معظمه) کښې د خپل رب ﷻ عبادت وکړئ. یا په بل عبارت هغوی تاسو ټول د خپله وطنه اخراج کړي یاست او په دغه کار باندې پښېمانه هم نه دي بلکې سمدستي هم تاسو نه پرېږدي چې بېرته ورستانه شئ؛ حال دا چې تاسو هیڅ داسې کار نه دی ترسره کړی چې هغه د وطنه د شړلو موجب وي او جنایت وي، بلکې د هغوی په خیال ستاسو ډېره لویه ګناه دا ده چې تاسو په خپل رب ﷻ باندې په رښتیانیو معناوو کښې ایمان راوړی دی او بس

ج: ای مؤمنانو! که چېرته تاسو په رښتیا سره زما په لاره کښې د مجاهدینو په حیث وتلي یاست او په رښتیا سره تاسو زما رضامندي غواړئ، نو تاسو کفارو ته د دوستۍ لاس مه ورغځوئ او پټه او ښکاره دوستي ورسره مه ساتلوئ

د: ایا تاسو د هغوی سره په پټه دوستي کوئ حال دا چې زه په هغو ټولو کارونو باندې ډېر ښه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوهېږم کوم چې تاسو يې د خلکو څخه پټ ترسره کوئ او يا په علني ډول سره صورت ورکوئ. ستاسو د جملې څخه چې هرڅوک د کفارو سره دوستی کوي نو يقيناً هغه سمه لاره ورکه کړه او په باطله لاره روان شو.

۲_ ای مؤمنانو! که بالفرض تاسو د کفارو په ګټه کار وکړئ او وغواړئ چې هغوی به ستاسو دپاره دوستان وګرځي نو دغه تمه د زړونو څخه وباسئ او دا ځکه چې:

که د هغوی په تاسو باندې لاس بر شي او تاسو د هغوی تر قبضې لاندې واقع شئ نو ضرور به ستاسو دپاره په خپله پخوانی دښمنی باندې باقي پاتې شي او ستاسو ښېګڼه به پرې هيڅ اثر ونه غورزوي. نو د همدې کبله به تاسو ته د ضرر رسولو په غرض لاس دراوږد کړي او هم به مو په خپلو ژبو سره وکنځي او هره وسيله به ستاسو د ضرر دپاره په کار واچوي. بلکې تاسو ته به په ضرر رسولو باندې د هغوی زړونه ساړه نه شي ترڅو مو چې د خپلو خانونو غونډې کفار وګرځوي. يا په بل عبارت: هغوی به ستاسو په هکله بل شی خوښ نه کړي مګر دا چې ای کاش! چې دوی مرتدان جوړ شي.

۳_ ای مؤمنانو! تاسو د خپلو اقاربو او د خپلو اولادونو د کبله د کفارو سره دوستي مه نښلوئ چې د همدوی د خاطره ورته د دوستی لاس وراوږد کړئ. ځکه چې:

الف: د قيامت په ورځ تاسو ته هيڅکله نه خپلوان ګټه رسولی شي او نه اولادونه، په دغه ورځ کښې داسې حالات درروان دي چې ستاسو ترمنځ به الله ﷻ جدايي راولي او هر يو خپلوان به د بل څخه تښتي (هرڅوک به د خپل ځان په غم اخته وي) نو تاسو ته هيڅ مناسبه نه ده چې د خپلوانو دپاره د الله ﷻ د دښمنانو سره د دوستی اړيکي ټينګې کړئ.

ب: الله ﷻ په هغو ټولو کارونو باندې بينا دی کوم چې تاسو يې عملي کوئ، برابره خبره ده چې د خلکو څه پټ وي او که ښکاره.

## توضيحات

۱_ که څوک وايي چې: په ﴿ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ ﴾ کښې د ﴿ بِٱلْمَوَدَّةِ ﴾ کلمه د حرف جر په تقويت سره د ﴿ تُلْقُونَ ﴾ دپاره مفعول به ده، او دغه جمله د وړاندېنی جملې ﴿ لَا تَتَّخِذُوا ﴾ دپاره تفسيره واقع شوي ده.

نو پوښتنه دا ده چې: د دغې تفسيري جملې په نزول کښې څه حکمت دی حال دا چې همدا مضمون د وړاندېنی جملې څخه فهمېږي؟

مونږ وايو چې: د دغې تفسيري جملې په نزول سره د هغې دوستی درجه تاکلې شوې ده د کومې چې حاطب بن ابي بلتعه ؓ مرتکب شوی وه، کومه چې د ظاهري دوستی څخه عبارت ده، چې په باطن کښې شتون ونه لري. او دا ځکه چې د مودة القاء (د دوستی وراچول) په همدغه ډول دوستی او په همدغه ډول محبت باندې دلالت کوي او بس.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پاتې شوه د کفارو سره باطني دوستي، نو هغه خو په نورو ایتونو کښې ممنوعه ګرځولې شوې ده چې یوه مثال یې په [آل عمران:۱۱۸] ایت کښې نزول موندلی دی.

## سوالونه او جوابونه

۲ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: د څه څخه معلومه شوه چې حاطب ﷺ د قریشو سره فقط ظاهره دوستي مطلب وه؟

مونږ وایو: کله چې نوموړي صحابي ﷺ د نبي کریم ﷺ په حضور کښې د ظاهري دوستي دعوه وکړه نو نبي کریم ﷺ په خپله دعوه کښې صادق وګڼه چې: «إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكُمْ»[1] یعنې یقیناً نوموړي تاسو ته رښتیا خبره وکړه.

که بالفرض د نوموړي ظاهري دوستي مطلب نه وی نو نبي کریم ﷺ به صادق نه وی ګڼلی.

ب: که څوک وایي چې: د نوموړي حاطب ﷺ په هکله عمر الفاروق ﷺ وویلې چې: «يَا رَسُولَ اللهِ دَعْنِي أَضْرِبْ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ»[2] یعنې ای د الله ﷻ پیغمبره! ما پرېږده چې د دغه منافق سر والوزوم. نو پوښتنه دا ده چې ایا د کفارو سره په موالاة باندې سړی کافر کېږي؟

مونږ وایو چې: په همدې ارتباط مونږ د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران:۲۸] ایت لاندې بنه ګټور معلومات لیکلي دي، خو د دې مقام په لحاظ وریاندې وراضافه کوو چې د عمر الفاروق ﷺ ذکرې شوې درکې د اجتهاد په بنیاد صورت نیولی وه او هر مجتهد خو حق ته نه رسېږي، نو دغه اجتهاد خطا وه د همدې کبله د نبي کریم ﷺ د پلوه تائید نه شو.

ج: که څوک وایي چې: نبي کریم ﷺ د حاطب د عدم قتل وجه دا وښودله چې: «إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا»[3] یعنې یقیناً نوموړی د بدر غزا ته حاضر شوی دی (د بدر غازي دی). نو پوښتنه دا ده چې که بالفرض نوموړی د بدر غازي نه وی او یا دغه کار بل چا کړی وی نو د هغه وژل به جائز وی؟

مونږ وایو چې: د حربي کافر جاسوس په وژلو کښې ټول علماء کرام متفق دي، اما د مسلمان جاسوس د وژلو په هکله په لاندې ډول اختلاف لري[4].

اول: ځینې علماء کرام یې وژل جائز ګڼي. لکه څنګه چې وریاندې په ذکر شوي سوال کښې استدلال قائم کړی شوی دی.

دوهم: د ځینو نورو نظر دا دی چې وژل یې جائز نه دي او دا څکه چې په یو جاسوس باندې ـ چې فرات بن حیان نومېده ـ د نبي کریم ﷺ د پلوه د وژلو حکم صادر شو خو نوموړي خپل ځان مسلمان معرف کړ. نو نبي کریم ﷺ د هغه د وژلو فیصله بېرته واخستله چې: «إِنَّ مِنْكُمْ رِجَالًا نَكِلُهُمْ إِلَى

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۶
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۳
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۴۲۲
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۵۳، الفقه الاسلامي وادلته ج۶ ص۲۰۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إيمانهم منهم فرات بن حيان»[۱] يعني يقيناً ستاسو د جملې څخه ځينې داسې سړي شته چې مونږ يې
خپل ايمان ته سپارو، چې د همدوی د جملې څخه فرات بن حيان هم دی.

### ثقف څه معنی؟

۳ـ په ﴿إن يثقفوكم﴾ کښې د «يثقفوا» کلمه د «ثقف» ـ لکه «ضرب» ـ څخه اشتقاقه شوې ده، که
څه هم «ثقف» دېته ويل کېږي چې يو شي په دقت سره وموندلی شي[۲] خو په دې مقام کښې
مفسرينو کرامو په لاس بري (قابو) باندې تفسير کړی دی[۳] يعني که چېرته په تاسو باندې د کافرانو
لاس بر شي او په خپل قابو کښې مو راولي نو بر هيڅ ډول اذيت رسولو به مو دريغ ونه کړي

﴿قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُوا۟ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُا۟ مِنكُمْ
وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ
تُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥٓ إِلَّا قَوْلَ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمْلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن
شَىْءٍ ۖ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٤﴾ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ
كَفَرُوا۟ وَٱغْفِرْ لَنَا رَبَّنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٥﴾ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيهِمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ
لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ ۚ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٦﴾ عَسَى ٱللَّهُ
أَن يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ عَادَيْتُم مِّنْهُم مَّوَدَّةً ۚ وَٱللَّهُ قَدِيرٌ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧﴾﴾

[۴] بې شکه تاسو ته د ابراهيم ؑ او د هغو کسانو (په قول او فعل) کښې ښايسته اقتداء ده
کوم چې د ابراهيم ؑ سره (ملګري) وه (او ايمان يې ورباندې راوړی وه. البته د) هغه وخت (په قول
او فعل کښې) چې دوی خپل کفري قوم ته وويلې چې يقيناً مونږ ستاسو څخه او د هغو معبودانو
څخه بېزار يو ستاسو د کومو چې تاسو د الله ﷻ څخه په غير عبادت کوئ، مونږ ستاسو (د باطل دين)
څخه انکاري يو ستاسو او (په دې باندې علاوه) زمونږ او ستاسو ترمنځ د هميشه دپاره دښمني او کينه
(په ډاګه) څرګنده شوې ده (دا عداوت او کينه به) تر هغه وخت پورې (ادامه ولري) ترڅو چې تاسو
يوازې په الله ﷻ سره ايمان راوړئ (او د کفر او شرک څخه لاس واخلئ)
مګر (تاسو ته) د ابراهيم ؑ خپل پلار ته (په يوه) خبره کښې (اقتداء نشته هغه دا چې هغه خپل
پلار ته وويلې) چې هرومرو به زه تاته مغفرت وغواړم او زه ستا دپاره د الله ﷻ څخه (د دغه استغفار

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۱۱
(۲) مفردات الراغب ص۷۶
(۳) روح المعاني ج۲۸ ص۶۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه په غیر، او د هیڅ شي توان له ایم ستوره مې هیڅ ډېره نلرم،

د ابراهیم علیه السلام او ملګرو یې دا هم وویل چې: ای زموږ ربه! موږ خاص په تا باندې توکل کړی او خاص تا ته مو رجوع کړې ده او بېرته تا ته د قیامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو بېرته ورتګ دی.

[۵] ای زموږ ربه! موږ د هغو کسانو دپاره فتنه مه ګرځوه (چې په قابو کېدو سره پر موږ ظلم وکړي) کوم چې کفر غوره کړی دی. ای زموږ ربه! موږ ته مغفرت وکړه. یقیناً ته همدا یې د غلبې او برلاسۍ او د حکمت خاوند یې.

[۶] بې شکه ستاسو دپاره په ابراهیم علیه السلام او د ده په ملګرو کښې ښایسته اقتداء ده (البته) هغه چا دپاره کوم چې د الله جل جلاله او د ورځ آخرت د ورتګ امید لري او تیاری ورته نیسي

او هر هغه څوک چې له دغې د اقتداء څخه مخ واړوي نو یقیناً الله جل جلاله همدی چې بې پروا او ستاینې شوی دی

[۷] نژدې ده چې الله جل جلاله ستاسو ترمنځ او د هغو کسانو ترمنځ د کومو سره چې تاسو د هغوی سره دښمني لرئ دوستي واچوي (چې په ایمان باندې یې مشرف کړي)

او الله جل جلاله (په هر شي باندې) د قدرت والا دی، او (هم) الله جل جلاله ډېر بښونکی مهربان دی (د ایمان په راوړلو سره پخوانۍ کفریات بښي)

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تائید شوی دی چې حاصل یې داسې راځي

ای پیغمبره! د کفارو سره د عدم دوستۍ په هکله د الله جل جلاله د پلوه مؤمنانو ته ووایه چې

۱ ـ ای مؤمنانو! د کفارو د عدم دوستۍ په هکله ستاسو دپاره د ابراهیم علیه السلام او د ده علیه السلام د ملګرو په حالاتو کښې ډېره ښکلې بهتره اقتداء نغښتې ده هغه دا چې هغوی خپلو کفارو اقاربو او قومیانو ته وویل چې

الف. یقیناً موږ ستاسو څخه او ستاسو د معبودانو څخه بالکل خپله بیزاري اعلانوو، البته ستاسو هغه معبودان د کومو چې تاسو د الله جل جلاله څخه په غیر په عبادت مشغول یاست، کوم ته چې تاسو د الله جل جلاله سره په عبادت کښې په اشتراک قائل یاست

ب. موږ ستاسو د معبودانو او ستاسو د معتقداتو څخه انکار کوونکي یاستو او موږ په دې وایو چې تاسو په باطله لاره باندې روان یاستئ

ج. زموږ او ستاسو ترمنځ په دائمي توګه دښمني او ناراضګي څرګنده او هر چا ته ښکاره ده یا په بل عبارت لکه څنګه چې تاسو زموږ دینې نګلاره نه خوښوئ همداسې موږ ستاسو د دین نګلارې خوښوونکي نه یاستو

د. ستاسو په هکله به زموږ ناخوښي تر هغه وخته پورې ادامه وکړي ترڅو چې تاسو د الله جل جلاله په وحدانیت باندې عقیده خپله کړئ چې د ده جل جلاله څخه په غیر بل هیڅوک او هیڅ شی د عبادت لیاقت نه لري

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ ای مؤمنانو! د ابراهیم ﷺ یوازې په یوه خبره کښې ستاسو دپاره اقتدا، کول نشته هغه دا چې: ده ﷺ خپل پلار ته وعده ورکړې وه چې هرومرو او ضرور به زه ستا دپاره د مغفرت غوښتنه وکړم او د مغفرت د غوښتنې څخه پرته زه ستا دپاره د الله ﷻ دپلوه د عذاب په ارتباط هیڅ وسه او توان نه لرم چې نجات درکړم.

ابراهیم ﷺ په خپله ذکره شوې وعده باندې وفا وکړه او خپل کافر پلار ته یې د مغفرت غوښتنه وکړه، خو تاسو ته دا جواز نشته چې د کفارو اقاربو دپاره مغفرت وغواړئ او یا د مغفرت غوښتلو وعده ورکړئ.

۳_ ابراهیم ﷺ او د ده ﷺ ملګرو د خپلو اقاربو کفارو څخه بېزاري اعلانه کړه او د الله ﷻ په حضور کښې یې د سوال لاسونه پورته کړه چې:

الف: ای زمونږ ربه! مونږ خاص په تاباندې اعتماد او توکل کوو او خاص تاته مو په هر کار کښې رجوع ده، او بالآخره خاص تاته به د قیامت په ورځ بېرته درتاوېږو چې حساب کتاب به راسره صورت نیسي.

ب: ای زمونږ ربه! په خپل فضل سره مونږ د هغو کسانو په لاس معذب مه ګرځوه کومو چې په دائمي توګه کفر غوره کړی دی، مونږ د هغوی په قابو کښې مه واقع کوه چې لاس یې راباندې بر شي او په رنګارنګ ربړونو باندې مو لتاړ کړي.

ج: ای زمونږ ربه! مونږ ته د تقصیراتو مغفرت وکړه او د ګناهونو څخه راتېر شه، چې ته په یقیني توګه د کلکې ارادې خاوند یې او ټولو کارونو ته د حکمتونو په بنیاد صورت ورکوې.

۴_ ای مؤمنانو! یقیناً تاسو ته د ابراهیم ﷺ او د ده ﷺ په ملګرو کښې ډېره نېکه اقتداء نغښتې ده، خو دغه نېکه اقتداء د هغه چا په برخه کېږي او ګټه ترې اخلي کوم چې د الله ﷻ او د وروستنۍ ورځې څخه ډارېږي او هم هلته د نعمتونو امید لري. او د دغې نېکې اقتداء څخه هغه څوک اعراض کوي کومو چې الله ﷻ هېر کړي وي او د قیامت د ورځې څخه انکاري وي، نو هرڅوک چې دغه کږنلاره غوره کړي هغه په حقیقت کښې خپل ځان په هلاکت کښې واچاوه. او دا څکه چې یقیناً همدی ﷻ بې پروا دی او همدی ﷻ د عالي صفاتو درلودونکی دی چې هیڅ شي ته احتیاج نه دی.

۵_ ای مؤمنانو! تاسو الله ﷻ ته امید وکړئ چې ستاسو او د هغو کسانو ترمنځ دوستي واچوي د کومو سره چې تاسو لله في الله دښمني او عداوت غوره کړی دی او خپله بېزاري مو ترې اعلانه کړې ده. او دا څکه چې:

الف: الله ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت څښتن دی او کولی شي چې ستاسو دښمني په دوستۍ او محبت باندې بدله کړي.

ب: الله ﷻ ډېر بښونکی او ډېر مهربان دی نو که ستاسو دښمنان کفار په ایمان سره مشرف جوړ شي او د کفر څخه توبه تائب وګرځي نو په پخوانیو کفریاتو باندې به یې ونه نیسي، بلکې په دغه وخت کښې به هغوی ستاسو ورونه وګرځي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ په ﴿ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ ﴾ کښې د "الّذینَ" څخه هغه کسان مطلب دي کومو چې په ابراهیم ؈ باندې په خپل وخت کښې ایمان راوړی وه لکه ساره، هاجره او نور.

## څو مطالب

۲ـ په دې مقام کښې باید لاندې مطالب په ذهن کښې وساتلی شي:

الف: د ابراهیم ؈ د استغفار په هکله (البته د خپل مشرک پلار په ارتباط) د الله ﷻ په توفیق د [التوبة:۱۱۴] ایت لاندې ښه تحقیقي بحث تېر شوی دی.

ب: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ رَّبَّنَا عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا ﴾ جمله او وروسته نورې دعائیه جملې د دې امت پورې مربوطې ګڼلې دي او د "قُولُوا" په تقدیر ورته قائل شوي دي[1]. یعنې ای مؤمنانو! تاسو د خپلو اقاربو کفارو څخه بېزاري اعلانه کړئ او د خپل رب ﷻ په حضور کښې داسې- داسې سوالونه وکړئ.

مګر ظاهره دا ده چې دغه دعائیه جملې به هم د ابراهیم ؈ او د هغه ؈ د ملګرو د خولو څخه راحکایت کړی شوې وي[2] چې مونږ وروسته پکښې اقتداء وکړو.

ج: د ﴿ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ غوندې جمله په [یونس:۸۵] ایت کښې هم نازله شوې ده چې مناسبه شرحه یې هملته تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

د: د ﴿ عَسَى ٱللَّهُ ﴾ د جملې څخه امید او تمه معلومېږي[3]، ته به وایې چې الله ﷻ د اشارې په توګه مؤمنانو ته امید او تمه ورکوي چې ستاسو دښمنان به په ایمان مشرف وګرځي او دښمني به مو په دوستۍ بدله شي. بیا رښتیا همداسې وشوه، چې د وخت د مشرکانو څخه ډېر کسان په ایمان باندې مشرف شوه او عداوت یې په محبت سره عوض شو لکه ابو سفیان ؓ او ډېر نور.

﴿ لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَلَمۡ يُخۡرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ أَن تَبَرُّوهُمۡ وَتُقۡسِطُوٓاْ إِلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ۝٨ إِنَّمَا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ قَٰتَلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَأَخۡرَجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ وَظَٰهَرُواْ عَلَىٰٓ إِخۡرَاجِكُمۡ أَن تَوَلَّوۡهُمۡۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ۝٩ ﴾

[۸] (ای مؤمنانو!) الله ﷻ تاسو د هغو کفارو څخه نه منعه کوي چې نیکي ورسره وکړئ او چې

(۱) البحر المحیط ج ۱۰ ص۱۵۶
(۲) روح المعاني ج۲۸ ص۷۳
(۳) مفردات الراغب ص۳۴۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



انصاف ورته ورکړئ کومو چې ستاسو سره د دین په هکله جنګ نه وي کړی او تاسو يې د خپلو کورونو څخه نه یاست ویستلی.

(او دا ځکه چې) یقیناً الله ﷻ انصاف کوونکي (او نېکي کوونکي) خوښوي.

[۹] یقیناً الله ﷻ تاسو د هغو کفارو څخه منعه کوي چې دوستي ورسره وکړئ (او جنګي کومک ورکړئ) کوم چې ستاسو سره د دین په هکله جنګېدلي وي او تاسو يې د خپلو کورونو څخه ویستلي یاست او (بالآخره) ستاسو په ویستلو کښې يې (د نورو کفارو سره) کومک (او ملاتړ) کړی وي.

او (ای پیغمبره!) هرڅوک چې ذکر شوي کفار په دوستۍ سره ونیسي (او جنګي کومک ورسره وکړي) نو همدغه ډله خلک همدوی ظالمان دي (چې په خپلو ځانونو باندې يې ظلم وکړ او هم يې اثار نورو مؤمنانو ته هم ورسېدل، نو د قیامت په ورځ به مطابقه سزا ورکړه شي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنيو ایتونو په مضمون باندې څه زیاته رڼا اچولې شوې ده، دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې ایتونو کښې هغه تشویش اوچت کړی شوی دی کوم چې د دې سورت د لومړني ایت څخه صحابه وو کرامو ؓ ته ورلوېدلی وه، هغه دا چې د مطلق کفارو سره به راکړه ورکړه او هم نېکي (احسان) کول او په انصاف سره چلېنت ممنوع ګرځولی شوی وي.

د همدې کېله یو ځل اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنهما د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې: «افاصِلُ أمِّي» یعني زما مشرکه مور راغلې ده او محتاجه ده، ایا زه ورسره صله رحمي وکړم (خپلوي ورسره وپالم) چې څه ورکړم؟ نبي کریم جواب ورکړ چې: «نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ»[1] هو، د خپلې مور سره صله رحمي وکړه.

نو حاصل يې داسې راخېژي چې:

ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه په خپل امت باندې څه نور وضاحت هم قرانت کړه ترڅو د کفارو سره د تعامل موضوع ورته پوره څرګنده شي هغه دا:

۱ـ ای مؤمنانو! الله ﷻ تاسو نه منعه کوي چې د هغو کفارو سره څه احسان وکړئ او یا ورسره په انصاف وچلېږئ کومو چې تاسو سره په دین کښې جنګ نه دی کړی او نه يې تاسو د خپل ټاټوبي څخه وتلو ته مجبور کړي یاست او بالآخره نه يې د هغو کسانو سره کومک کړی دی کومو چې ستاسو سره ذکر شوي دواړه کارونه اجراء کړي دي او دا ځکه چې یقیناً الله ﷻ انصاف کوونکي خوښوي، نو که تاسو خپل ځانونه د همدغې ډلې څخه وګرځوئ څه ممانعت نشته.

۲ـ ای مؤمنانو! بې شکه الله ﷻ تاسو د هغو کسانو څخه منعه کوي چې دوستي ورسره وکړئ، کوم چې د لاندې خاصیتونو درلودونکي دي:

الف: کومو چې تاسو سره د دین په هکله جنګونه کړي دي او تاسو يې نه پرېښودلئ چې د خپل

[1] صحیح البخاري ج۱ ص۳۵۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رب ﷻ د وحدانیت ستاینه وکړئ او یوازې همده ﷻ ته عبادت وکړئ او بس.

ب: کومو چې د همدغه دین د کبله تاسو د خپل وطن څخه هجرت ته مجبور کړي یاست.

ج: کومو چې ستاسو په ضرر د هغو کسانو سره مرسته کړې ده کومو چې ستاسو د دین په هکله جنګونه کړي دي او یا یې د خپل وطنه اخراج کړي یاست.

۳ـ ای پیغمبره! هرڅوک چې د ذکرو شوو خاصیتونو درلودونکي کسان د دوستانو په حیث ونیسي نو دغه ډله همدوی ظالمان دي چې خپل ځانونه یې د الله ﷻ د غضب سره مخامخ وګرځول.

## توضیحات

۱ـ په دې ایتونو کښې دې ته اشاره ده چې د کفارو د نژدېکت د پرېکولو وجه د هغوی کفر نه دی بلکې اصلي وجه یې د هغوی ظلم او تېری دی کوم چې هغوی یې په کفر باندې علاوه مرتکب شي لکه د دین په هکله جنګېدل، له وطنه د مؤمنانو شړل او داسې نور.

## څو پوښتنې او د هغو جوابونه

۲ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وایي چې: د ﴿ لَا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمْ يُقَـٰتِلُوكُمْ ﴾ الآیة- په بنیاد د غیر محاربو کفارو سره نیکي کول او په انصاف سره چلښت څه ممانعت نه لري خو پوښتنه دا ده چې ایا دغه کارونه د محاربو کفارو سره ممنوع دي؟

مونږ وایو چې: دغه کارونه د محاربو کفارو سره هم ممنوع نه دي. او دا ځکه چې:

اول: کله چې مجاهدین محارب کفار وژني نو په کار دي چې په ښکې طریقې سره یې ووژني او بې ضرورته یې تعذیب نه کړي. لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ...»[1] یعني الله ﷻ (په خلکو باندې) په هر شي کښې احسان فرض کړی دی نو کله چې تاسو وژل کوئ نو په ښکه توګه وژل وکړئ.

دوهم: عمران حصین ؓ وایي چې: «كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَحُثُّنَا عَلَى الصَّدَقَةِ وَيَنْهَانَا عَنِ الْمُثْلَةِ»[2] یعني نبي کریم ﷺ وه چې مونږ به یې په خیرات باندې تېزولو (هڅولو) او د مثلې څخه به یې منعه کولو چې د (محاربو) کفارو سترګې وباسو، یا یې پوزې پرې کړو او داسې نور.

دریم: د همدغه احسان او انصاف ډېر ښه مثال په راتلونکي [الممتحنة: ۱۰] ایت کښې راروان دی، چې باید مؤمنان د تازه ایمان راوړونکو زنانه وو مهرونه هغو کفارو مېړونو ته ورکړي کومو چې هغوی ته د نکاح د عقد په وخت کښې ورکړي وه. او هم د تازه کافرو شوو زنانه وو مهرونه د دوی د مېړونو دپاره د کفارو څخه واخلي.

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۱۵۲

(۲) سنن ابي داؤد ج۲ ص۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: که څوک وايي چې: نو په دې کښې څه حکمت دی چې په ايت شريف کښې د غير محاربو کفارو په هکله صراحت نازل شو چې نيکي کول او په انصاف سره چلښت ورسره ممنوع نه دي او محارب کفار په سکوت کښې پرېښودل شوه؟

مونږ وايو چې ـ والله ﷻ اعلم ـ دا د دې کبله چې د غير محاربو کفارو په هکله صحابه وو کرامو ﷺ ته تشويش ورلوېدلی وه چې دغه کارونه به په ممنوعه کارونو کښې شامل وي او که نه، لکه چې وړاندې د اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها په حديث کښې دغه تشويش په څرګندو الفاظو کښې روايت شوی دی.

نو په غير محاربو کفارو باندې د صراحت نزول د احتراز دپاره نه دی بلکې د واقع بيان دی.

ج: که څوک وايي چې: ايا د محاربو کفارو سره د نيکۍ کول څه شرط لري؟

مونږ وايو چې: هو! د دغه ډول کفارو سره بلکې د مطلق کفارو سره نيکي کول او په انصاف سره د چلښت ممنوعيت يو شرط لري هغه دا: چې په نيکي کولو او په انصاف سره په چلښت کښې د دې خطر نه وي چې د مؤمنانو په ضرر باندې ترې استفاده وکړی شي، لکه هغوی ته د مؤمنانو جاسوسي کول، يا هغوی ته د دوی پټ رازونه افشاء کول او بالآخره يا په جنګي وسائلو باندې هغوی سنبالول او داسې نور[1].

د: که څوک وايي: ذکر شوی شرط په دې مقام کښې د کومو ټکو څخه معلومېږي؟

مونږ وايو چې: دغه شرط ته په لاندې ټکو کښې اشاره شوې ده:

اول: د دې سورت د اولني ايت شان نزول په همدغه شرط باندې دلالت کوي چې حاطب ابن ابي بلتعه ﷺ حربي کفارو ته د جاسوسۍ خط استولی وه (او دا کار د مؤمنانو په ضرر وه).

دوهم: د دغو درېواړو جملو ﴿قَـٰتَلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ﴾، ﴿وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَـٰرِكُمْ﴾، ﴿وَظَـٰهَرُوا۟ عَلَىٰٓ إِخْرَاجِكُمْ﴾ څخه هم ذکر شوی شرط څرګندېږي.

يا په بل عبارت: د کومو وجوهو د کبله چې د محاربو کفارو سره دوستي او نږدېکت ممنوع ګرځولی شوی دی همغه وجوه د هغوی سره په نيکي کولو او په انصاف سره د چلښت په ممنوعيت هم دلالت کوي.

۲ـ لنډه دا چې د محاربو کفارو سره د هر هغه کار يا قول اجراء کول ممنوع ګرځولی شوي دي کوم چې په جنګي لحاظ د مؤمنانو په ضرر تماميدلی شي، دغه ډول تماس نيول او نږدېکت د هغه نږدېکت څخه شمېرل کېږي د کوم چې حاطب بن ابي بلتعه ﷺ مرتکب شوی وه.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَـٰتُ مُهَـٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَـٰنِهِنَّ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَـٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ

---

(۱) تفسير الطبري ج۲۸ ص۲۶؛ زاد المسير ج۸ ص۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَهُنَّ وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُوا۟ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَلَا
تُمْسِكُوا۟ بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ وَسْـَٔلُوا۟ مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُوا۟ مَآ أَنفَقُوا۟ ذَٰلِكُمْ حُكْمُ ٱللَّهِ يَحْكُمُ
بَيْنَكُمْ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾ وَإِن فَاتَكُمْ شَىْءٌ مِّنْ أَزْوَٰجِكُمْ إِلَى ٱلْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَـَٔاتُوا۟
ٱلَّذِينَ ذَهَبَتْ أَزْوَٰجُهُم مِّثْلَ مَآ أَنفَقُوا۟ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾ ﴾

[۱۰] ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! کله چې تاسو ته مؤمنې ښځې په داسې حال کښې درشي چې هجرت کوونکې (وطن پرېښودونکې) وي نو تاسو يې تر ازمېښت لاندې ونیسئ (چې مؤمنې دي او که نه)، الله ﷻ د دوی په ایمان باندې ډېر ښه پوهېږي.

نو که (د امتحان په ترڅ کښې) تاسو پوه شوئ چې دوی (رښتیا) ایمان درلودونکې دي نو دوی (په امتحان کښې کامیابې ښځې) بېرته کفارو ته مه ورګرځوئ، چې دوی هغوی ته حلالې نه دي (پخوانی نکاح يې د منځه تللې ده) او نه هغوی دوی ته حلال دي (چې د کوم کافر سره تازه نکاح وکړي)، او تاسو کفارو ته (په دغه صورت کښې) هغه مالونه ورکړئ کوم چې هغوی (په دغو کامیابو ښځو باندې د مهر په توګه) خرڅ کړي دي.

او (ای مؤمنانو!) په تاسو باندې څه باک (نیوکه) نشته چې همدوی (کامیابې ښځې) په نکاح واخلئ؛ (ځکه چې پخوانی نکاح يې د منځه تللې ده، البته) په دې شرط چې تاسو ورته خپل مهرونه ورکړئ.

او تاسو د کافرو (مرتدو) ښځو په نکاحګانو پورې مه نښلئ؛ (که چرته ستاسو څخه هغوی ته وروتښتي)، او تاسو (په دغه صورت کښې د کفارو څخه) هغه مالونه وغواړئ کوم چې تاسو ورباندې (د مهرونو په توګه) خرڅ کړي دي، او کفار دې (په هغه صورت کښې ستاسو څخه) هغه مالونه وغواړي کوم چې هغوی (په خپلو مېرمنو باندې د مهرونو په توګه) خرڅ کړي دي.

(ای مؤمنانو!) دغه د الله ﷻ حکم دی چې ستاسو دواړو ډلو ترمنځ پرې حکم کوي، او الله ﷻ ډېر پوه (او) د ډېر حکمت خښتن دی.

[۱۱] او که د مېرمنو د جملې څخه مو درڅخه کوم شی (کومه یوه) د کفارو خوا ته فوته شوه (له لاسه مو ووته او هغوی ته ورغله) نو (بیا) تاسو کفار تعقیب کړل (او د غنیمت مالونه مو ترې ونیول) نو تاسو (د همدغو مالونو څخه) هغو کسانو ته چې مېرمنې يې کفارو ته تللې (تښتېدلې) وي، د هغو مالونو مثل ورکړئ کوم هې چې (پرې د مهرونو په توګه) خرڅ کړي دي.

او تاسو د هغه الله ﷻ څخه ووېرېږئ چې تاسو ورباندې ایمان درلودونکي یاست.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون د لاندې وجوهو د کبله تعقیب شوی دی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: باید مؤمن سړی او مشرکه ښځه او یا مشرک سړی او مؤمنه ښځه سره یو تربله ازدواجي اړیکې ونه لري.

ب: باید د کفارو او مشرکانو سره هم په انصاف سره چلنبت وکړی شي خو په دې شرط چې د مؤمنانو په ضرر نه تمامېږي.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! ته د الله ﷻ د پلوه مؤمنانو ته ووایه چې

۱_ای مؤمنانو! تاسو د خپل ایمان په قوت لاندې ارشادات په عمل کښې پیاده کړئ:

الف: کله چې تاسو ته د مشرکانو د جملې څخه څه مؤمنې زنانه درشي چې مونږ د شرکیاتو څخه توبه تائبې ګرځېدلي یاستو او په رښتیاني ایمان باندې مشرفې شوې یاستو او د دې کبله مو د مکې څخه مدینې منورې ته هجرت وکړ او تاسو ته راغلو چې د خپل ایمان حفاظت وکړو، مونږ نه د خپلو خاوندانو څخه مرورې شوې یاستو او نه مو هجرت په بل کوم دنیاوي غرض باندې ولاړ دی.

نو تاسو ذکرې شوې مهاجرې زنانه د امتحان لاندې ونیسئ چې هغوی په خپلو ادعاګانو کښې رښتیني دي او که تاسو ته دروغینې بهانې وراندې کوي؟

ب: دغو زنانه وو ته په کار دي چې تاسو ته دروغین جوابونه درنه کړي، ځکه چې الله ﷻ د هغوی په ایمان باندې ډېر ښه پوهېږي، که بالفرض هغوی تاسو تېر باسي نو الله ﷻ خو نه شي تېر ویستلی

ج: نو که د استنطاق په دوران کښې ستاسو باور حاصل شو چې هغوی رښتیانی مؤمنانې دي او صرف د ایمان د حفاظت دپاره یې هجرت کړی دی، نو تاسو هغوی بېرته کفارو ته مه ورتاووئ چې مکې ته په ستنېدلو یې مجبورې کړئ.

د: دا ځکه چې دغه مؤمنې زنانه کفارو او مشرکانو ته حلالې نه دي او نه کفار مشرکان دوی ته حلال دي. یا په بل عبارت: د دوی په رښتیاني ایمان سره د خپلو مېړونو سره نکاحي تعلقات پرې شوي او د منځه تللي دي او تازه نکاح ورته جواز نه لري.

ه: ای مؤمنانو! تاسو د انصاف او احسان څخه کار واخلئ او د ذکرو شوو زنانه وو پخوانیو مشرکانو خاوندانو ته هغه مهرونه ورکړئ چې هغوی ورباندې د نکاح د عقد په وخت مصرف کړي دي.

و: هو! په تاسو باندې هیڅ ملامته نشته چې ذکرې شوې زنانه تاسو په نکاح سره واخلئ، او دا ځکه چې په ایمان سره پخوانی کفري او شرکي نکاحي عقدونه باطل ګرځېدلي دي، نو دغه زنانه مېړوښې زنانه نه دي.

ز: خو په تاسو باندې لازمه ده چې د نکاح کولو په صورت کښې ورته ضرور مهرونه ورکړئ.

ح: هو! که هغوی د امتحان په دوران کښې تاسو ته څرګندې شوې چې لله في الله یې هجرت نه دی کړی او د ایمان راوړلو په دعوه کښې دروغژنې دي نو هغوی بېرته مشرکانو ته ورتاوې کړئ، تاسو ته د هغوی د نکاح جواز نشته.

۲_ای مؤمنانو! که د ذکر شوي صورت حال په عکس ستاسو څینې زنانه مرتدې شوې او د مدینې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



متوري څخه د مکي معظمې مشرکانو ته وروتښتېدلي نو تاسو به لاندې ارشاداتو عمل وکړئ:

الف. تاسو د ذکرو شوو مرتدو ښځو سره په نکاح بوږي مه نښلئ چې په دغه صورت کښې ستاسو نکاح د هغوی سره د بطلان سره مخامخ شوې ده او بالکل د منځه تللې ده.

ب. هو! په دغه صورت کښې تاسو د کفارو مشرکانو څخه د هغو مهرونو مطالبه وکړئ کوم چې تاسو د نکاح د عقد په وخت کښې ورباندې نفقه کړي دي.

لنډه دا چې تاسو په دغو مرتدو ښځو باندې خپل د مهرونو مصارف د کفارو او مشرکانو څخه وغواړئ خو ښځه ترې بېرته مه غواړئ. او هغوی دې هم په تازه مومنانو ښځو باندې خپل د مهرونو مصارف ستاسو څخه وغواړي.

۳ـ ای مومنانو! دغه د خپلو مرتدو مهرونو څخه تړلي دي چې په تاسو باندې درنه تمامه نه شي څکه چې دا د الله ﷻ حکم دی چې ستاسو په منځکښې یې فیصله کوي او جګړو ته مو یې خاتمه ورکوي. د الله ﷻ د حکم په تعمیل کښې ستاسو دپاره دنیاوي او اخروي ګټې نغښتې دي، او دا څکه چې الله ﷻ په ټولو حالاتو باندې پوه دی او ټول کارونه یې د حکمت په بنیاد صورت نیسي.

۴ـ ای مومنانو! که چرته ستاسو د ښځو څخه کومه یوه کفارو (مشرکانو) ته وروتښتېده او ستاسو د لاسه ووتله، خو کفارو د دغې تښتېدلې ښځې خاوند ته هغه مال ورنه کړ کوم یې چې هغې ته د نکاح د عقد په وخت کښې د مهر په توګه ورکړی وه، نو تاسو نوموړي ته د هغه ورکړل شوي مهر په اندازه مال د غنیمتي مالونو څخه ورکړئ البته کله چې تاسو د غزا په دوران کښې کفارو ته ماتې ورکړه او د غنیمت په توګه مو ترې څه مالونه ترلاسه کړه.

۵ـ ای مومنانو! تاسو د هغه الله ﷻ څخه وډار شئ چې تاسو ورباندې ایمان راوړونکي یاست، نو ټول ارشادات یې په عمل کښې پیاده کړئ.

## توضیحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د "الفتح" سورت په سریزه کښې لیکلي دي چې د حدیبیې د صلحې په شرطونو کښې یو شرط دا وه چې که د مشرکانو څخه څوک ایمان راوړي او مومنانو ته ورشي نو هغه به بېرته هغوی ته سپارل کېږي، خو که څوک مرتد شو او هغوی ته وروتښتېده نو هغه به مومنانو ته نه سپارل کېږي.

نو د صلحې د عقد څخه وروسته د همدغه شرط په اړوند ډېر واقعات پېښ شوه چې څه کسان د مشرکانو څخه په ایمان مشرف شوه او مومنانو ته وروتښتېدل لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف. ابو جندل رضی الله عنه په ایمان مشرف شو او په داسې حال مومنانو (صحابه وو کرامو رضی الله عنهم) ته ورغی چې د مشرکانو په زولنو تړلی شوی وه، چې د هغوی د زندان څخه تښتېدلی وه، خو نبي کریم ﷺ د ذکر شوي شرط په بنیاد مشرکانو ته ورمسترد کړ.

دغې پېښې ته د [التوبة: ۷۲] ایت لاندې اشاره شوې ده.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ابو بصير ﷺ هم په ايمان مشرف شو او د مکې معظمې څخه مدينې منورې ته وروتښتيد چې نبي كريم ﷺ د مشرکانو استازو ته په لاس ورکړ ترڅو يې بېرته مکې معظمې ته بوځي، خو په نيمايي لاره کښې ورته الله ﷻ نجات ورکړ، چې ځينې علماوو کرامو يې د نجات خوندوره قيصه ليکلې ده[1].

ج: همدارنګه ځينې زنانه هم د هغوی څخه مؤمنانو (صحابه وو کرامو ﷺ) ته ورغلې خو نبي کريم ﷺ د نارينه وو غوندې بېرته هغوی ته مستردې نه کړې بلکې هغه چال چلند يې ورسره وکړ کوم ته چې په ذکرو شوو ايتونو کښې اشاره شوې ده.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: ايا په هغه وخت کښې د زنانه وو عدم استرداد د ذکر شوي شرط څخه تخلف او د صلحې د عقد نقض ونه بلل شو؟

مونږ وايو چې: ځينو علماوو کرامو ليکلي دي چې د زنانه وو عدم استرداد د صلحې د عقد نقض وه خو الله ﷻ په معجزانه توګه مشرکانو ته توان ورنه کړ چې په نبي كريم ﷺ باندې د عقد ماتولو اعتراض وکړي[2].

مګر دا جواب د منلو وړ نه دی، ځکه چې په دې جواب کښې منلې شوې ده چې نبي کريم ﷺ خپل عهد مات کړی وه او بې لوظي يې کړې وه حال دا چې نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې په خپل عهد باندې وفا نه کول د منافقت د علاماتو څخه شمېرلي دي[3].

همدارنګه بې لوظي کول د نبوت د شان سره مناسب کار نه دی لکه چې په يوه اوږده حديث کښې د هرقل پاچا د خولې څخه حکايت شوی دی چې: «وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ لَا تَغْدِرُ»[4] يعني او همدارنګه ټول پيغمبران عهد ماتول (بې لوظي) نه کوي.

نو بهتر جواب دا دی چې د زنانه وو استرداد د صلحې په عقد کښې شامل نه وه لکه چې د قريشو نماينده (سهيل) نبي کريم ﷺ مخاطب کړ چې: «أَنَّهُ لَا يَأْتِيكَ مِنَّا رَجُلٌ وَإِنْ كَانَ عَلَى دِينِكَ إِلَّا رَدَدْتَهُ إِلَيْنَا»[5] يعني زمونږ څخه هيڅ سړی تاته نه درځي (که څه هم هغه ستا په دين باندې وي) مګر ته به يې مونږ ته بېرته راګرځوې.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په يوه روايت کښې ذکر شوی شرط د "مَن" په کلمې سره راحکايت شوی

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص ۳۸۰
(۲) احكام القرآن لمحمد شفيع ج۵ ص۴۶
(۳) صحيح مسلم ج۱ ص۵۶
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۴
(۵) سنن ابي داود ج۲ ص۲۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی چې: «أَنَّ مَنْ جَاءَ مِنْكُمْ لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكُمْ وَمَنْ جَاءَكُمْ مِنَّا رَدَدْتُمُوهُ عَلَيْنَا»[۱] يعنې هرڅوک چې ستاسو څخه مونږ ته راغی هغه به مونږ په تاسو باندې نه درکړخوو، او هرڅوک چې زمونږ څخه تاسو ته درشي نو تاسو به هغه په مونږ باندې راګرځوئ.

حال دا چې د "مَن" کلمه زنانه وو ته هم شامله ده لکه چې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ﴾ [الأنعام: ۱۶۰] يعنې هرڅوک چې په يوې نېکۍ سره راتګ وکړي (نارينه وي او که ښځينه) نو هغه ته د يوې نېکۍ لس چنده اجر دی؟

مونږ وايو چې: زنانه په اصلي جنګي ډله کښې شموليت نه لري د همدې کبله الربيع بنت مسعود رضي الله عنها ويلي دي[۲] چې مونږ د نبي کريم ﷺ سره په غزاګانو کښې ګډون کړی دی خو فرعي کارونه به مو کول لکه د غازيانو خړوبول، د زخميانو دارو درمل، يا مدينې منورې ته د زخميانو او شهيدانو انتقالول او داسې نور.

نو څرنګه چې د حديبيې د صلحې معاهده د دوه وو اصلي جنګي ډلو ترمنځ متحققه شوې وه نو د مقام په ملحوظ په حکايت کښې د "مَن" په کلمه کښې زنانه وو شموليت نه درلود. د همدې کبله مشرکانو په نبي کريم ﷺ باندې اعتراض ونه کړ چې تاخو د صلحې عقد مات کړ، که نه نو هغوی څو اعتراض ته شنه ناست وه.

## څو نکات

۴ـ په ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَـٰتُ ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ﴾ کښې چې کوم امتحان ته اشاره شوې ده د هغه څه مربوطه شرحه دا ده:

اول: د دغو مهاجرو ښځو څخه د امتحان اخستلو دپاره عمر الفاروق ﷺ ټاکلی شوی وه[۳] چې يوازې کامیابې ښځې به يې مشرکانو ته بېرته نه ورمستردولې او بس.

دوهم: د دغه امتحان په ارتباط د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه متعدد کلمات راروايت شوي دي[۴] چې خلاصه يې داسې راخېژي: ای مهاجرو زنانه وو! ستاسو دې په الله ﷻ باندې سوګند وي چې تاسو په رښتيا ايمان راوړی دی او په رښتيا فقط د ايمان د حفاظت دپاره مهاجرې شوې ياست، چې بل هيڅ دنياوي سبب تاسو هجرت ته نه ياست مجبورې کړې؟

ب: ﴿ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې په امتحان کښې کامیابو ښځو ته جواز نه لري چې خپلو مشرکانو خاوندانو ته د پخوانی نکاح په بنياد بېرته وروګرځي او ناسته پاسته ورسره وکړي. البته کومه نکاح چې د دوی په ايمان راوړلو سره د منځه تللې ده.

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۱۰۵

(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۴۰۳

(۳) الدر المنثور ج۸ ص۱۳۷

(۴) تفسير الطبري ج۲۸ ص۶۷؛ المحرر الوجيز ج۱۵ ص۴۹۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په ﴿ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې ذکرو شوو ښځو ته جواز نه لري چې په راتلونکي کښې د مشرکانو سره نوې نکاح وتړي.

د: نو حاصل يې داسې راځېږي چې: مشرکانو ته د مؤمنانو ښځو ورستنول له دې کبله ممنوع ګرځولی شوي دي چې په دې صورت کښې به دغه ښځه يا د پخوانيو مشرکانو مېړونو په نکاح کښې پاتې کېږي او يا به د مشرکانو سره جديده نکاح تړي، حال دا چې دغه دواړه صورتونه حلال نه دي او شريعت ورته اجازه نه ورکوي، نو په کار دي چې هغوی ته بېرته ورستنې نه کړی شي.

ه: په ﴿ وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُواْ ﴾ کښې د "مَا" کلمه د هغو مهرونو څخه عبارت ده کوم چې د عقد په وخت کښې په امتحان کښې کامیابو ښځو ته خپلو پخوانيو مشرکانو خاوندانو ورکړي وه[۱]. همدارنګه په ﴿ وَسۡـَٔلُواْ مَآ أَنفَقۡتُمۡ وَلۡيَسۡـَٔلُواْ مَآ أَنفَقُواْۚ ذَٰلِكُمۡ حُكۡمُ ٱللَّهِ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡۖ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ۝ وَإِن فَاتَكُمۡ شَيۡءٞ مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ إِلَى ٱلۡكُفَّارِ فَعَاقَبۡتُمۡ فَـَٔاتُواْ ٱلَّذِينَ ذَهَبَتۡ أَزۡوَٰجُهُم مِّثۡلَ مَآ أَنفَقُواْ ﴾ کښې د "مَا، مَا، مَا" درېواړه کلمې د مهرونو څخه کنايي دي چې مرتدو ښځو او يا مشرکو ښځو ته ورکړی شوي وه.

و: په ﴿ وَلَا تُمۡسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلۡكَوَافِرِ ﴾ کښې د "عِصَم" کلمه د "عِصۡمَة" جمعه ده، "عِصۡمَة" هغه شي ته ويل کېږي په کوم سره چې څوک د بل شي څخه ساتل کېږي[۲]، خو په دې مقام کښې دغه کلمه د نکاح څخه کنايي ده چې د هر چا پاکلمني ورباندې ساتله کېږي[۳]. يعنې ای مؤمنانو! تاسو د هغو مېرمنو په نکاح پورې مه نښلی کومه چې ستاسو د مېرمنو په ارتداد سره د منځه تللې ده.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ ٱلۡكَوَافِرِ ﴾ کلمې څخه مشرکې او مرتدې ښځې مرادې دي چې په همدوی کښې بحث راروان دی. نو کومې کافرې ښځې چې د اهل الکتابو څخه وي د هغوی نکاح مؤمنانو ته شرعا جوازې لري لکه چې په [المائدة: ۵] ايت کښې ورباندې صراحت نازل شوی دی.

## هېر مو نه شي

۵ـ په ﴿ وَإِن فَاتَكُمۡ ﴾ الآية- کښې بايد لاندې مطالب هېر نه کړی شي:

الف: په ﴿ وَإِن فَاتَكُمۡ شَيۡءٞ مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ إِلَى ٱلۡكُفَّارِ ﴾ کښې د ﴿ شَيۡءٞ ﴾ کلمه د مرتدې ښځې څخه کنايي ده کومه چې د مؤمنانو څخه مشرکانو ته ورتښتېدلې وي. شايد چې په دغه تعبير سره به د هغې تحقير ته اشاره وي ترڅو په مؤمنانو باندې د هغې تښتېدل درانه تمام نه شي.

ب: په ﴿ فَعَاقَبۡتُمۡ فَـَٔاتُواْ ﴾ کښې مفسرينو کرامو د "عَاقَبۡتُمۡ" کلمه په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسيره کړې ده[۴]:

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۴ ص۳۵۱
(۲) مفردات الراغب ص۳۴۹
(۳) تفسير القاسمي ج۱۶ ص۱۳۲
(۴) روح المعاني ج۲۸ ص۷۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: دغه کلمه اصلاً د "عَقْبَة" ـ لکه "نَصْرَة" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د نوبة (وار) معنی ورکوي. يعنې ای مؤمنانو! که ستاسو څخه کومه ښځه مرتده شوه او مشرکانو ته ورغله خو هغوی تاسو ته د هغې پخوانی ورکړی شوی مهر درنه کړ، نو کله چې ستاسو نوبت (وار) شو چې د هغوی څخه کومه ښځه ایمان راوړي او تاسو ته درشي، نو تاسو د هغې ورکړی شوی مهر هغوی ته مه ورکوئ بلکې د مرتدې ښځې مېړه ته يې ورکړئ.

دوهم: د "عَاقَبْتُمْ" کلمه اصلاً د عقاب څخه اشتقاقه شوې ده چې د تعقیب معنی ورکوي. یعنې ای مؤمنانو! کله چې تاسو کفار تعقیب کړل او په جنګ کښې مو وځغلول (ورباندې غالب شوئ) نو د غنیمتي مالونو څخه د مرتدې ښځې مېړه ته د ورکړی شوي مهر په اندازه مال ورکړئ کوم ته چې مشرکانو ذکر شوی مهر نه وي ورکړی.

## تبصره

۶ـ ځینې مفسرین کرام وايي چې: ذکر شوي دواړه تفسیرونه د عمل قابل دي نو صحابه وو کرامو ﷺ ته ارشاد شوی وه چې په یوه باندې عمل وکړي هر یو چې وي[۱]. خو یو شمېر نور دوهم تفسیر ته ترجیح ورکوي چې نبي کریم ﷺ د همدغه دوهم تفسیر په بنیاد د مرتدو ښځو د خاوندانو سره چال چلند کړی وه چې د غنیمتي مالونو څخه يې ورته د مهرونو په اندازه مالونه ورکړي وه[۲].

د مرتدو ښځو په تعداد کښې اختلاف دي، ځینې وايي چې فقط یوه ښځه مرتده شوې وه[۳] او مشرکانو ته ورتېښتېدلې وه او ځینې يې تعداد پنځه ښي[۴] او ځینې يې شپږ تنه[۵] ښيي، والله ﷻ أعلم وعلمه أتم وأکمل.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُؤْمِنَـٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِٱللَّهِ شَيْـًٔا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَـٰدَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَـٰنٍ يَفْتَرِينَهُۥ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِى مَعْرُوفٍ ۙ فَبَايِعْهُنَّ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُنَّ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾ ﴾

[۱۲] ای پیغمبره! کله چې تاته مؤمناني ښځې په دې شرط درشي چې د الله ﷻ سره به (په عبادت کښې) هیڅ شی شریک نه ګرځوي او غلا به نه کوي او زنا به نه کوي او خپل اولادونه به نه وژني او دوی به په داسې بهتان سره راتګ نه کوي چې د خپلو لاسونو او پښو ترمنځ يې په دروغو جوړ کړی وي او (بالآخره) په شرعي معروف کار کښې به ستا څخه عصیان (نافرماني) نه کوي، نو

(۱) تفسیر الطبري ج۲۸ ص۷۷
(۲) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۷۰
(۳) الدر المنثور ج۸ ص۱۳۸
(۴) المحرر الوجیز ج۱۵ ص۴۹۴
(۵) الکشاف ج۴ ص۵۲۹: تفسیر البغوي ج۴ ص۳۳۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه ورسره (په ذکرو شوو شرطونو باندې) بیعت (او معاهده) وکړه او د الله ﷻ څخه ورته (د گناهونو) مغفرت وغواړه، یقینًا الله ﷻ ډېر بښونکی (او) ډېر مهربان دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د تازه ایمان راوړونکو ښځو د امتحان او د نکاح په اړوند څه ارشادات نازل شوي وه او په دې ایتونو کښې د همدغو ښځو د بیعت په هکله څه ارشاداتو ته اشاره شوې ده. دا د یو پلوه، او د بله پلوه هلته مؤمنانو ته خطاب متوجه وه او دلته یوازې نبي کریم ﷺ مخاطب گرځولی شوی دی. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! کله چې تاته ایمان راوړونکې زنانه درشي ترڅو درسره بیعت وکړي نو په لاندې مطالبو باندې ورسره بیعت وکړه:

۱_ چې دوی به د الله ﷻ سره په عبادت کښې هیڅ شی شریک نه گڼي او په توحیدي عقیدې به کلکې ودرېږي.

۲_ دوی به غلا نه کوي چې په پردي مال باندې په پټه قبضه ولگوي.

۳_ دوی به زنا ته نه ورنږدې کېږي او د دغه فاحش جنایت څخه به خپل ځانونه بچ ساتي.

۴_ په دې به هم بیعت کوي چې خپل اولادونه به نه وژني.

۵_ همدارنگه به دوی په بل چا باندې بهتان نه تړي چې د خپلو ځانونو سره یې جوړ کړي او په بې گناه کس یې وروتپي.

۶_ او بالآخره د بیعت بله برخه به یې دا وي چې ستا د ارشاداتو څخه به په شرعي معروفو کارونو کښې عصیان او نافرماني نه خپلوي.

ای پیغمبره! کله چې ایمان درلودونکو ښځو تا سره په ذکرو شوو مطالبو سره بیعت کولو ته چمتووالی څرگند کړ نو بیعت ورسره وکړه او کلک عهد ترې واخله.

خو په عین حال کښې دغو بیعت کوونکو ښځو ته د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړه ترڅو د هغو جنایاتو څخه ورتېر شي د کومو چې د ایمان راوړلو څخه وړاندې مرتکبې شوې دي، او هم ورته د الله ﷻ څخه د شرائعو په تعمیل کښې توفیق وغواړه. څکه چې یقینًا الله ﷻ ډېر بښونکی او ډېر مهربان دی چې مؤمنانو ته گناهونه ښښي او لا زیات توفیق هم ورکوي.

## توضیحات

۱_ که څه هم ذکر شوی ایت شریف د مکې معظمې د فتحې په ورځ نازل شوی دی[۱] او په همدې بنیاد د تازه ایمان راوړونکو ښځو څخه بیعت اخستلی شوی وه مگر نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت شریف په نورو مؤمنانو ښځو باندې هم د یوه اختر په ورځ قرائت کړ او بیا یې ورته وویلې چې:

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۲۴۰؛ روح المعاني ج۲۸ ص۸۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



«أَنْتُنَّ عَلَى ذَٰلِكَ»[1] يعني ايا تاسو په دغه ارشاد باندې ولاړې ياست؟ نو يوې ښځې (د نورو په وكالت) جواب وركړ چې هو! مونږ د دغه ارشاد په عملي كولو باندې تعهد كوو.

## څو نكات

۲ـ په دې مقام كښې بايد لاندې نكات په نظر كښې وساتل شي:

الف: كه څوک وايي چې په دې كښې څه حكمت دى چې الله ﷻ د مهاجرو ښځو د امتحان په هكله په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٖ ﴾ [الممتحنة: ۱۰] سره مومنان مخاطب كړه او د تازه ايمان راوړونكو ښځو په ارتباط يې نبي كريم ﷺ ته خطاب متوجه كړ چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ ﴾ الآية؟

مونږ وايو چې: د امتحان ارشاد دائمي دى چې بايد د قيامت تر ورځې پورې ورباندې عمل وكړى شي او د بيعت توصيه د نبي كريم ﷺ پورې اختصاص لري[2].

ب: په ﴿ إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ يُبَايِعۡنَكَ ﴾ كښې د "يُبَايِعُ" كلمه اصلاً د "بَيْعَة" ـ لكه "صَيْحَة" ـ څخه اشتقاق شوې ده. "بَيْعَة" دېته وايي چې دوه كسان يو د بل سره څه لوظ او معاهده وكړي او بيا د همدغه لوظ او معاهدې د تحكيم په غرض يو د بل سره مصافحه وكړي. ته به وايې چې يو د بل سره ملاقي كيږي او يا ترې رخصتيږي[3].

ج: د مكې معظمې د فتحې په ورځ نبي كريم ﷺ د تازه ايمان راوړونكو ښځو څخه په هغو مطالبو سره لوظ او عهد واخست كوم چې په ايت شريف كښې ذكر دي. او په مقابل كښې يې د اخروي اجر او مغفرت وعده وركړه لكه چې د ﴿ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُنَّ ٱللَّهَ ﴾ د جملې څخه د اشارې په توګه څرګنديږي.

د: كه څوک وايي چې نبي كريم ﷺ د ښځو سره په څه كيفيت باندې بيعت وكړ؟

مونږ وايو چې: په دې هكله علماوو كرامو ګڼ شمير شكلونه ليكلي دي[4] د مثال په توګه:

اول: نبي كريم ﷺ خپل مبارک لاس په جامه يا لستوني سره پټ كړ او بيا يې په همدغه پټ كړى شوي لاس سره د ښځو سره مصافحه وكړه.

دوهم: خپل مبارک لاس يې د لوښي په اوبو كښې ښكته كړ او بيا په همدغه لوښي كښې بيعت كوونكو ښځو هم وار په وار خپل لاسونه ښكته او لامده كړه.

دريم: د زنانه وو سره يې د يوې لښتې په ذريعه بيعت وكړ چې يو طرف يې د نبي كريم ﷺ په لاس كښې وه او په بل طرف به يې هغوى لاسونه ايښودل.

څلورم: ځينې وايي چې د نبي كريم ﷺ د پلوه عمر الفاروق ؓ د وكالت په توګه په داسې حال كې

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۳۳
(۲) احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۴۴۲
(۳) لسان العرب ج۸ ص۲۶
(۴) البحر الوجيز ج۱۵ ص۴۹۹؛ تفسير الكشاف ج۴ ص۵۲۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مصافحې سره بیعت وکړ چې زنانه په کوټه کښې دننه وې او عمر الفاروق د کوټې څخه بهر وه.

پنځم: نبي کریم ﷺ پخپله د زنانه وو سره یوازې بالقول (په خوله باندې) بیعت وکړ او مصافحه بې بالکل د نظره وغورزوله.

## تبصره

ه: د ذکرو شوو پنځو قولونو څخه فقط پنځم قول د اعتماد وړ دی او نور اقوال ټول کمزوري دي[1]. نو د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

اول: طاووس ؓ وایي چې: «مَا مَسَّتْ يَدُ رَسُولِ اللهِ ﷺ يَدَ امْرَأَةٍ إِلَّا امْرَأَةً يَمْلِكُهَا»[2] یعنې د الله ﷻ د پیغمبر ﷺ لاس د هیڅ ښځې لاس نه دی مسه کړی مګر د داسې ښځې لاس چې ملکیت به یې ورباندې درلود.

دوهم: عائشه ؓ په یوه حدیث کښې وایي چې: «وَاللهِ مَا مَسَّتْ يَدُهُ يَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ فِي الْمُبَايَعَةِ مَا يُبَايِعُهُنَّ إِلَّا بِقَوْلِهِ قَدْ بَايَعْتُكِ»[3] یعنې په الله ﷻ باندې سوګند دی چې د نبي کریم ﷺ لاس په بیعت کښې هیڅکله د ښځې لاس نه دی مسه کړی، بیعت به یې ورسره نه کاوه مګر په خپل دې قول سره چې ما درسره بیعت وکړ.

دریم: یوه ورځې یوې ښځې نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې ای د الله ﷻ پیغمبره! راشه چې مونږ درسره په لاس بیعت وکړو. نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «إِنِّي لَا أُصَافِحُ النِّسَاءَ إِنَّمَا قَوْلِي لِمِائَةِ امْرَأَةٍ كَقَوْلِي لِامْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ»[4] یعنې زه د ښځو سره مصافحه نه کوم، یقینًا (د بیعت په ارتباط) سلو ښځو ته زما خبره داسې ده لکه یوې ښځې ته (هغه دا چې ما درسره بیعت کړی دی).

و: په ﴿ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَـٰدَهُنَّ ﴾ کښې د اولادونو د وژلو هغه ټول ډولونه شامل دي کوم چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۱۳۷] ایت لاندې لیکلي دي، کوم چې د جاهلیت په زمانه کښې رواج وه. خو په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو د جنین غورزول هم پکښې شامل ګڼلي دي چې دا هم یو ډول اولاد وژنه ده[5].

ز: په ﴿ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَـٰنٍ يَفْتَرِينَهُۥ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ ﴾ کښې د ﴿ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ ﴾ کلمات د ګېډې څخه کنایي دي.

که څه هم هغه بهتان کوم چې په ګېډې پورې ارتباط لري په دې مقام کښې ځینو علماوو کرامو[6]

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۱۳۶ ؛ روح المعاني ج۲۸ ص۸۱
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۶
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۶
(۴) سنن النسائي ج۲ ص۱۸۳ ؛ سنن ابن ماجه ص۱۰۶
(۵) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۱۳۴
(۶) زاد المسیر ج۸ ص۱۲ ؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۳۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په "حرام زاده ماشوم" سره تفسیر کړی دی چې یوه ښځه دغه ډول ماشوم خپل خاوند ته منسوب وګرځوي، مګر مونږ ته دغه ډول تفسیر په زړه پوری نه برېښي او دا خکه چې په همدغه مضمون باندې په ﴿ وَلَا يَزْنِينَ ﴾ کښې صراحت نازل شوی دی. بهتره دا ده چې ذکر شوی بهتان په لاندې صورتونو سره تفسیر شي:

اول: چې یوه ښځه یو موندل شوی ماشوم خپل مېړه ته منسوب وګرځوي.

دوهم: چې یوه ښځه خپل زوی د بل چا په لور، او یا خپله لور د بل چا په زوی پټ په پټه تبدیله کړي او خپل څښتن ته يې نسبت کړي.

ح: که څوک وايي چې: په ﴿ وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ ﴾ کښې د ﴿ فِي مَعْرُوفٍ ﴾ کلماتو په نزول کښې څه حکمت دی حال دا چې د پیغمبر ﷺ ټول ارشادات معروف دی او هیڅ منکر پکښې نشته؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې د دغو کلماتو په نزول کښې تاکید مطلب دی[۱] لکه چې په ﴿ قَٰلَ رَبِّ ٱحۡكُم بِٱلۡحَقِّ ﴾ [الأنبياء ۱۱۲] کښې د ﴿ بِٱلۡحَقِّ ﴾ کلمات د ﴿ رَبِّ ٱحۡكُم ﴾ دپاره د تاکید په توګه نازل شوی دی چې د الله ﷻ هر یو حکم حق دی.

مګر څرنګه چې د تاکید څخه تاسیس بهتر دي نو شاید چې د ذکرو شوو کلماتو په نزول کښې به دېته اشاره وي چې په غیر معروف حکم کښې د هیچا اطاعت نشته که څه هم بالفرض المحال د پیغمبر ﷺ څخه صادر شي. نو په دې تفسیر سره د دغه ایت شریف مضمون د هغه ایت مضمون ته ورته دی کوم چې د شرک په تقبیح کښې نازل شوی دی چې: ﴿ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ ﴾ [الزمر ۶۵] یعنې ای پیغمبره! که بالفرض المحال ته په شرک باندې عقیده خپله کړې هم نېک اعمال به دې هرومرو ضائع شي (باتي لا نور خلک).

ط: که څوک وايي چې: شرعي معروف حکم د کوم حکم څخه عبارت دی چې باید ښځې پکښې ناغېرې ونه کړي؟

مونږ وایو چې: د بیعت په وخت کښې همدغه پوښتنه یوې ښځې نبي کریم ته راجع کړه چې: ای د الله رسوله! دغه معروف د کوم کار څخه عبارت دی؟

نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې جواب ورکړ چې: «لَا تَنُحْنَ»[۲] یعنې معروف کار دا دی چې تاسو په مړو باندې د جاهلیت د زمانې په شان ویر مه کوئ چې په لوړ اواز سره ژاړئ او ګرېوانونه څیروئ او داسې نور.

داسې برېښي چې په حدیث شریف کښې به د ﴿ مَعْرُوفٍ ﴾ د کلمې تفسیر د حصر په توګه صورت نه وي نیولی بلکې د سوال کوونکې ښځې د ضرورت په بنیاد به تفسیر شوی وي، که نه نو د معروف کلمه ټولو شرعي ارشاداتو ته شامله ده.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۷۵

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۶

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



## سوالونه او جوابونه

٣ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې راپيدا کېږي:

الف: که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د زنانه وو په بيعت کښې په خينو منهياتو باندې صراحت نازل شو؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ اعلم ـ چې: دا د دې کبله چې د جاهليت په زمانه کښې ذکر شوي خاصيتونه په زنانه وو کښې په کثرت سره موندل کېده.

ب: که څوک وايي چې: د مکې معظمې د فتحې په ورځ د نارينه وو او زنانه وو په بيعت کښې څه توپير وه؟

مونږ وايو چې: خينو علماوو کرامو ليکلي دي چې په دغې ورځ د نارينه وو بيعت په جهاد او اسلام (انقياد) سره صورت نيولی وه[١]. مګر عبادة بن الصامت ﷺ ويلي دي چې زمونږ څخه هم په هغه مضمون سره بيعت واخستل شو په کوم سره چې د زنانه وو څخه اخستل شوی وه[٢].

نو په دې تقدير به د دواړو بيعتونو ترمنځ توپير دا وي چې د زنانه وو بيعت بدون د مصافحې څخه صورت نيولی وه او د نارينه وو په بيعت کښې مصافحې موجوديت درلود.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَوَلَّوْا۟ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوا۟ مِنَ ٱلْـَٔاخِرَةِ كَمَا يَئِسَ ٱلْكُفَّارُ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْقُبُورِ ﴿١٣﴾ ﴾

[١٣] اى هغو کسانو کومو چې ايمان راوړی دی! تاسو داسې قوم په دوستۍ سره مه نيسئ چې د الله ﷻ غضب ورباندې شوی دی (څکه چې:) دغه قوم د آخرت (د اجرونو) څخه داسې نااميده دی لکه څنګه چې (تړي) د قبرونو ملګري (مړي) نااميده دي (چې د خپلې عقيدې نتائج ورته په قبرونو کښې پوره واضحه شوي دي).

## ارتباط او توضيحات

١ـ په دغه ايت کښې هغه مضمون ته تعميم ورکړی شوی دی په کوم سره چې دغه سورت (الممتحنة) پيل شوی وه. دا څکه چې هلته د شان نزول په مطابق د مشرکانو په دوستۍ باندې د ممنوعيت ارشاد نازل شوی وه او په دې ايت کښې دغه ارشاد ټولو کفارو ته شامل ګرځولی شوی دی چې مشرکان، اهل الکتاب، عقيدوي منافقان او نور ډول-ډول کفار پکښې شموليت لري[٣].

٢ـ په ﴿ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْقُبُورِ ﴾ کښې د "مِنْ" توری لاندې دوه احتماله درلودلی شي[٤]:

---

(١) تفسير البغوي ج۴ ص٣٣٥
(٢) سنن النسائي ج٢ ص١٨٢؛ صحيح البخاري ج٢ ص٧٢٧
(٣) تفسير ابن کثير ج۴ ص٣٥٣
(۴) روح المعاني ج٢٨ ص٨٢، المحرر الوجيز ج١٥ ص٥٠١؛ تفسير ابي السعود ج٨ ص٢۴١؛ تفسير الطبري ج٢٨ ص٨٣

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: چې دغه توری په ﴿ يَئِسَ ﴾ پورې تعلق ونیسي او د ﴿ ٱلۡكُفَّارُ ﴾ د کلمې څخه هغه کفار مطلب شي د کومو څخه چې په عین ایت کښې په ﴿ قَوۡمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ ﴾ سره تعبیر نازل شوی دی، چې ټول کفار (د هر ډول کفر درلودونکی) د الله ﷻ په غضب ککړ دي.

یعنې ای مؤمنانو! تاسو مغضوب علیهم قوم په دوستۍ سره مه نیسئ کوم چې د آخرت (بیا ژوندي کېدا ولو) څخه داسې ناامیده او بې یقینه دی لکه چې همدغه قوم د کفر د کبله د اهل القبورو څخه نهیلی او ناامیده دی چې یا به بېرته دنیا ته راشي او یا به په آخرت کښې بېرته راژوندي شي او ملاقات به ورسره وکړو. تاسو ذکر شوی قوم په دوستۍ سره مه نیسئ هسې نه چې د الهي غضب سپرغۍ تاسو ته هم دروالوزي.

ب: چې دغه د ﴿ مِنۡ ﴾ توری د ﴿ ٱلۡكُفَّارُ ﴾ د کلمې دپاره بیان واقع شي. نو په دې تقدیر سره بې په لاندې دوه وو ډولونو سره حاصل اخستلی شي:

اول: یعنې ای مؤمنانو! تاسو مغضوب علیهم قوم په دوستۍ سره مه نیسئ کوم چې د آخرت د اجرونو څخه داسې ناامیده او بې یقینه دی لکه څنګه چې ترې مړي نهیلي او ناامیده دي.

او دا ځکه چې: مړو ته د مرګ څخه وروسته خپل ټول راتلونکي حالات په ډاګه ګرځي چې په ابدي توګه د اخروي اجرونو څخه محروم ذي او دائمي استوګنځای یې دوزخ دی، چې د اجرونو ورکړې ته نه هیله لري او نه یې ورباندې یقین شته، بلکې په عدم ورکړې باندې باوري دي.

دوهم: تاسو مغضوب علیهم قوم په دوستۍ سره مه نیسئ کوم چې په کفر باندې داسې کلک دي او په آخرت (بیا ژوندون) باندې داسې بې باوره او بې یقینه دي لکه څنګه چې ورباندې هغو کفارو باور او یقین نه خپلاوه کوم چې اهل القبور دي، چې د مرګ تر وخته پورې په خپلو کفریاتو باندې کلک ولاړ وه.

## تبصره

۳ـ څرنګه چې ذکر شوي تفسیرونه سره یو تربله څه منافات نه لري نو که د بدلیت په ملحوظ ټول اراده کړی شي هم څه باک یې نشته بلکې بهتره ده.

د "الممتحنة" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په مرسته بشپړ شو.

اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ غَضَبِكَ وَمِنْ تَوَلَّى الْكُفَّار.

۱۴۲۵/۳/۲۱ هـ ق - ۱۳۸۳/۲/۲۱ هـ ش.

# الصف (٦١)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

۱_ د دې سورت دپاره د "الصَّف" کلمه نوم ګرځولی شوې ده او په همدې نامه سره دا سورت د نورو سورتونو څخه جدا کړی شوی دی، په دغې کلمه باندې د دې سورت څلورم ایت مشتمل دی.

۲_ د دې سورت ټول ایتونه د جمهورو علماوو کرامو په نزد د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی نو دا سورت د همدوی په نزد مدني سورت دی[۱].

۳_ د دې سورت د ایتونو شمېره فقط څوارلس (۱۴) ده[۲].

۴_ د دې سورت د کلماتو شمېره دوه سوه او یو ویشتو (۲۲۱) کلمو ته رسېږي[۳].

۵_ د دې سورت د تورو تعداد نهو سوو (۹۰۰) تورو ته پورته شوی دی[۴].

۶_ د دې سورت مطالب د نورو مدني سورتونو غوندې د عملي احکامو سره تړاو لري، خو د جهاد پورې اړونده احکام پکښې زیات نازل شوي دي.

۷_ نو په همدې بنیاد د هغه سورت (الممتحنة) او د دې سورت (الصف) تناسب پوره څرګند دی هغه دا چې په هغه سورت کښې د کفارو سره په عدم دوستي زور اچولی شوي وه او په دې سورت کښې د کفارو سره په جهاد باندې زور اچولی کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝١ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ ۝٢ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ ۝٣ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ ۝٤ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه

[۱] خاص الله ﷻ ته هغه مخلوقات د پاکی نسبت کوي (او تسبیحات یې وایي) کوم چې په اسمانونو کښې شتون لري او هغه مخلوقات هم کوم چې په ځمکو کښې موجود دي.

او همدی ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او) د حکمت څښتن دی.

[۲] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو هغه خبره ولې کوئ په کومه باندې چې عمل نه کوئ (د کومې په عمل کولو سره چې باوري نه یاست)؟

---

(۱) روح المعاني ج۲۸ ص۸۳

(۲) تفسير الطبري ج۲۸ ص۸۳

(۳) تفسير الخازن ج۶ ص۲۵

(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۴۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳] د الله ﷻ په نزد د غضب د حیثه (دا خبره) ډېره لویه ده چې تاسو هغه څه وایاست کوم چې نه یې عملي کوئ.

[۴] یقیناً الله ﷻ هغه کسان خوښوي (ترې راضي کېږي) کوم چې د ده ﷻ په لار کښې د یو صف په حیث (په اتفاق سره) داسې جنګیږي لکه چې یقیناً دوی محکمه ابادي (او قلا) وي.

## شان نزول او ارتباط

۱ـ د دغو ایتونو د شان نزول خلاصه دا ده: یو ځلې څو تنو صحابه وو کرامو ﷺ په خپلو منځو کښې بحث کاوه چې کوم یو عمل به ډېر بهتر وي ترڅو ورته عملي بڼه ورکړو؟. نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[۱].

۲ـ د هغه سورت د وروستني ایت مضمون دا وه چې ای مؤمنانو! تاسو د مغضوب علیهم قوم سره دوستي مه کوئ چې د کفارو څخه عبارت دی. او د دې سورت په ذکرو شوو ایتونو کښې د ذکر شوي مضمون وجې ته اشاره شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ ټول کفار د دې کبله مغضوب علیهم دي چې دوی الله ﷻ ته په تسبیحاتو باندې قائل نه دي او غیر مناسب لقبونه ورکوي، حال دا چې خاص الله ﷻ ته هغه ټول مخلوقات تسبیحات وایي او د پاکۍ نسبت ورته کوي کوم چې په اسمانونو او هم کوم چې په ځمکو کښې موجودیت لري، حتی د کفارو بدنونه هم په غیر اختیاري توګه په همدغې تسبیح باندې په دائمي توګه مشغول دي خو په اختیاري تسبیح کښې ناکام دي.

۲ـ الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی او کولی شي چې ټول کفار د ځرمې هلاک کړي خو د دې سره- سره د حکمت څښتن هم دی چې د همدغه حکمت په بنیاد هغوی ته تر ټاکلي وخته پورې د ژوند فرصت ورکوي.

۳ـ ای مؤمنانو! کله چې کفار د دوستۍ لیاقت نه لري او تاسو ته په کار دي چې جهاد ورسره وکړئ نو تاسو په دغو مطالبو او ارشاداتو کلک پاتې شئ:

الف: تاسو د قول څخه په عمل زور واچوئ که نه نو د دې خطر شته چې په خپلو خولو وعده وکړئ او په عمل کښې یې پیاده نه کړئ. نو په دې تقدیر به تاسو د دې سوال لاندې واقع شئ چې: ای مؤمنانو! تاسو ولې هغه قول کوئ کوم ته چې د عمل جامه نه وراغوندئ؟

په دې تقدیر به تاسو د الله ﷻ د لوی غضب لاندې راشئ او دا خکه چې د الله ﷻ په نزد د غضب

[۱] جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د حیثه دا ډېره لویه خبره ده چې تاسو په خپلو خولو هغه قول وکړئ کوم چې په عمل کښې يې پیاده نه کړئ.

ب: پاتې شوه دا خبره چې د الله ﷻ په نزد کوم يو عمل ډېر محبوب دی؟، نو د دې جواب دا دی چې: یقیناً الله ﷻ هغه مومنان خوښوي کوم چې د همده ﷻ په لاره کښې په اتفاق سره د يو صف په حیث جنګېږي، د کومو چې اتفاق او اتحاد دومره محکم وي ته به وايې چې د دوی ټوله يوه ډېره قوي او محکمه ابادي او قلا ده چې د بوې خوا څخه هم څه سوري او چاود نه لري او د هر حیثه کلکه ده.

## توضیحات

۱_ که څه هم د ذکرو شوو ایتونو څخه په څلورم ایت کښې د هغې پوښتنې جواب نازل شوی دی کومه چې مومنانو په خپلو منځو کښې مطرحه کړې وه او په شان نزول کښې اشاره شوې ده، چې په نېکو اعمالو کښې في سبیل الله جهاد ډېر بهتر عمل دی. مګر د جواب څخه وړاندې په دوهم او درېم ایتونو کښې مومنانو ته توصیه نازله شوې ده چې داسې پوښتنې په خپلو منځو کښې مطرحې نه کړي د کومو څخه چې د لاپو شاپو وړمه بورته کېږي.

همدغې توصیې ته نبي کریم ﷺ (په يوه حدیث کښې) اشاره کړې ده چې: «أَيُّهَا النَّاسُ لَا تَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَسَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا»[1] یعنې ای خلکو! تاسو د دښمن د لقاء (جنګ) هیله مه کوئ او د الله ﷻ څخه عافیت (عفوه) وغواړئ، خو کله چې ورسره ملاقي شوئ نو بیا صبر وکړئ (او مه تېښتئ).

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د ﴿لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ﴾ د جملې څخه په ظاهره کښې څرګندېږي چې صحابه وو کرامو ؓ ذکر شوې موضوع د لاپو شاپو په توګه مطرحه کړې وه، او د عمل کولو خیال يې نه درلود. د همدې کبله ځینو علماوو کرامو[2] ذکر شوي ایتونه د منافقانو په ارتباط نازل ګڼلي دي؟!

مونږ وایو چې: د وړاندېنۍ جملې معنی دا نه ده چې تاسو هغه قول مه کوئ د کوم نه عملي کولو ته چې تاسو قصد کړی دی، کوم چې د منافقانو خاصیت دی او نبي کریم ﷺ ورته په يوه حدیث کښې اشاره کړې ده[3].

بلکې معنی يې دا ده چې ای مومنانو! تاسو د هغه نېک عمل په اجراء باندې قول مه کوئ د کوم په اجراء باندې چې تاسو باوري نه یاست، تاسو خو علم غیب نه لرئ څه لري نه ده چې تاسو په خپل

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۲۴، صحیح مسلم ج۲ ص۸۴
(۲) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۷۸
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۶۴۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قول باندې وفا ونه کړي شئ او د بې لوظۍ پړه درباندې پرېوځي.

مومن خکه وراندېنۍ جمله په ذکر شوي ډول سره تفسیره کړه چې. الله ﷻ په [الأحزاب:۲۳] ایت کښې هغه مومنان ستایلي دي کومو چې په خپل لوظ وفا کړې وه او خپل قول يې په عمل سره تصديق کړی وه.

## د ایتونو ارشاد

۳_ د ذکرو شوو ایتونو څخه لاندې ارشادات هم څرگندېږي:

الف: باید هیڅوک د هغه عمل په اجراء کولو باندې قول ونه کړي د کوم اجراء ته يې چې قصد او اراده نه وي خکه چې دا د منافقانو خاصیت دی.

ب: کله چې څوک د نېک عمل د اجراء څخه اخبار کوي نو په کار دي چې د "ان شاء الله" کلمات ورسره ضمیمه کړي او د [الکهف:۲۴] ایت ارشاد په نظر کښې ونیسي.

د ایتونو په شان نزول کښې د "ان شاء الله" کلمات نه دي روایت شوي نو شاید چې د همدې کبله په عتاب آمېزه مضمون نزول موندلی وي.

ج: په کار دي چې هرڅوک هغه نېک عمل پخپله اجراء کړي د کوم په کولو باندې چې بل چا ته توصيه کوي.

نبي کريم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: زه د معراج په شپه په یوه قوم باندې تېر شوم چې د اور په بیاتي گانو (قیچي گانو) باندې يې شونډې پرې کول کېدلې. ما پوښتنه وکړه چې دا څوک دي؟ پرښتو راته وویلې چې: «خُطَبَاءُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا كَانُوا يَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَيَنْسَوْنَ أَنْفُسَهُمْ وَهُمْ يَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلَا يَعْقِلُونَ»[1] یعنې دا د دنیاوالو څخه د خطیبانو ډله ده چې خلکو ته په نېکۍ باندې امر کوي او خپل ځانونه يې هېر کړي دي حال دا چې دوی کتاب لولي ایا نو د عقل نه کار نه اخلي.

## "رص" څه معنی؟

۴_ په ﴿كَأَنَّهُم بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ﴾ کښې د ﴿مَّرْصُوصٌ﴾ کلمه د "رَص" _لکه "مد"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د محکموالي او اتفاق معنی ورکوي[2] چې د ټولو خبره یوه وي او هيڅ اختلاف ونه لري.

نو که مجاهدين په اتفاق سره په مختلفو مورچو کښې کيني او يا د متفرقو خايونو څخه دښمنان تعقیب کړي څه پاک يې نشته او د ایت شریف مضمون ورباندې صادقېږي.

﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَـٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُونَنِى وَقَد تَّعْلَمُونَ أَنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ ۖ فَلَمَّا زَاغُوٓا۟ أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمْ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَـٰسِقِينَ ۝ وَإِذْ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ

[1] مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۲۴۲
[2] مفردات الراغب ص۲۰۱؛ لسان العرب ج۷ ص۴۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مَرْيَمَ يٰبَنِيْٓ إِسْرَآءِيْلَ إِنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ إِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُوْلٍ يَّأْتِيْ مِنْ بَعْدِي اسْمُهٗٓ أَحْمَدُ ۗ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ⑥

[۵] او هغه وخت یاد کړه چې موسی ﷺ خپل قوم ته وویل چې: ای زما قومه! تاسو ما ته ولې په ډول ډول سره ولې اذیت (رسوئ) حال دا چې تاسو پوهېږئ چې بېشکه زه ستاسو په لور د الله ﷺ رالېږلی شوی یم؟

نو کله چې هغوی د ارشاداتو څخه مخ واړاوه او حق څخه مخ واړاوه نو الله ﷺ هم د هغوی زړونه د حق څخه کاږه کړل او د نېکۍ استعداد یې ورختم کړ ځکه چې الله ﷺ په داسې قوم ته هدایت نه کوي (چې مطلب ته ورباندې ورسېږي).

[۶] او هغه وخت (هم) یاد کړه چې عیسی بن مریم ﷺ وویل چې: ای بني اسرائیلو! بېشکه زه ستاسو په لور د الله ﷺ رالېږلی شوی بنده یم، حال دا چې زه هغه شي ته تصدیق ورکوم او زه ستاسو لپاره زېری ورکوونکی یم کوم چې له ما نه وروسته راځي (او) راولېږل شي او زما څخه وړاندې نازل شوي دي چې د تورات څخه عبارت دي، حال دا چې زه په داسې پیغمبر سره ستاسو ته زېری ورکوونکی یم کوم به چې له ما نه وروسته راشي (راولېږل شي) چې نوم یې احمد دی.

نو کله چې عیسی ﷺ دوی ته د څرګندو دلائلو باندې علاوه د معجزاتو سره هغوی ته ورغی نو هغوی ووېل چې دغه (عیسی ﷺ) څرګند جادو دی (نه به وایې چې د جادو څخه [illegible] شوی دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د یو پلوه د وړاندینیو ایتونو څخه د وروستني ایت مضمون تعقیب شوی او په جهاد باندې په کښې ټینګار شوی دی او د بله پلوه نبي کریم ﷺ ته داد او تسلي ورکړه شوې چې د اذیتونو په مقابل کښې حوصله خرابه نه کړي ځکه چې اذیتونه خو پخوانیو پیغمبرانو ته هم رسولي شوي دي نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د پخوانیو خپلو پیغمبرانو څه حالات قرائت کړه هغه دا چې:

۱. خپل امت ته هغه وخت ورپه یاد کړه چې موسی ﷺ خپل قوم ته وویل چې: ای زما قومه! تاسو ما ته په څه وجه اذیتونه رسوئ او د جهاد په هکله مې د عام نفیر اطاعت نه کوئ حال دا چې تاسو په دلیلو او معجزاتو سره ښه پوهېږئ چې زه ستاسو دپاره د الله ﷺ د پلوه په حقه رالېږل شوی یم؟

د موسی ﷺ قوم د ذکر شوي پوښتنې دپاره هیڅ جواب نه درلود خو د دې سره سره اذیتونو ته یې ادامه ورکړه او جهاد ته د وتلو امر یې قبول نه کړ نو کله چې دغه قوم په خپل انحراف السیر باندې ټینګ شو او د حق لارې څخه په اوښتلو باندې باقي پاتې شو نو الله ﷺ د هغوی

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زړونو باندې مهر ولګاوه او د نېکۍ استعداد يې ترې واخست. او دا ځکه چې په دغه وخت کښې فاسقان وګرځېدل او الله ﷻ فاسق قوم ته سمه لاره نه ښيي او توفيق نه ورکوي چې په سمه لاره باندې لاړ شي او مطلب ته ورسېږي.

۲_ خپل امت ته د عيسى بن مريم ﷺ څه حالات هم ورپه ياد کړه، هغه دا چې عيسى ﷺ بني اسرائيل مخاطب کړه او ورته يې وويل چې:

الف. يقيناً زه ستاسو دپاره د الله ﷻ د پلوه په حقه پيغمبر يم او تاسو ته زما نبوت په دلايلو او معجزاتو سره په اثبات رسېدلی دی.

ب. زه ستاسو دپاره هغه پيغمبر يم د کوم ذکر چې زما څخه په وړاندېني کتاب (تورات) کښې نازل شوی وه چې داسې داسې پيغمبر وروسته راروان دی، نو زه د همغه پيغمبر مصداق يم او همدا ما د ذکر شوي کتاب خبره رښتيا کړه او تحقق مې ورکړ.

ج. ای بني اسرائيلو! زه تاسو ته په يوه بل پيغمبر باندې زېری درکوم کوم چې له ما نه وروسته راروان دی او احمد نومېږي، تاسو ورباندې ايمان راوړئ او د دعوت په چلولو کښې ورسره همکاري وکړئ.

نو کله چې عيسى ﷺ بني اسرائيلو ته په معجزاتو سره ورغی او خپل رسالت يې ورته په اثبات ورساوه هم هغوی قبول نه کړ او اذيت يې ورته ورساوه، چې په معجزاتو باندې يې د جادو لقب کېښود او عيسى ﷺ يې د ښکاره جادوګر په نامه وباله.

## توضيحات

۱_ کومو اذيتونو ته چې په ﴿لِمَ تُؤْذُونَنِي﴾ کښې اشاره شوې ده، د هغو څو مثالونه مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الاحزاب ۶۹] ايت لاندې ليکلي دي. خو شايد چې د مقام په ملحوظ به دلته هغه اذيت مطلب وي د کوم بيان چې په [المائدة ۲۱] ايت کښې شروع شوی دی چې لنډيز يې دا دی:

موسى ﷺ خپل قوم د مقدسې ځمکې جهاد ته وهڅاوه چې هلته لاړ شئ او د کفارو سره غزا وکړئ. خو هغوی دغه غوښتنه په صافو الفاظو کښې رده کړه چې تاسو لاړ شئ ذکره شوې ځمکه ازاده کړئ او مونږ به همدلته ناست پاتې شو! کله چې تاسو دغه کار ترسره کړ نو مونږ به بيا هلته د استوګنې دپاره درشو او پکښې مېشت به شو.

## زيغ څه معنی؟

۲_ په ﴿فَلَمَّا زَاغُوا أَزَاغَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ﴾ کښې د "زاغوا، ازاغوا" دواړه کلمې اصلاً د "زيغ" ـ لکه "زغب" ـ څخه اشتقاقي شوې دي چې د سمې لارې څخه د ميلان او د اوښتلو معنی ورکوي[۱]. يعنې کله چې د موسى ﷺ قوم د سمې لارې څخه کږې لارې ته ميلان وکړ او د جهاد غوښتنه يې د پښو

(۱) مفردات الراغب ص ۲۲۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاندې کړه (همدغه حال ته یې ادامه ورکړه) نو مونږ د سزا ورکولو په توګه د حق لارې څخه واړول او د نیکۍ استعداد مو ورختم کړ.

همدغه مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ ﴾ [النساء ۱۱۵] یعني هرڅوک چې د پیغمبر ﷺ مخالفت ته ادامه ورکړي نو مونږ به یې هغې خوا ته ورواړوو کومې ته چې وراوښتی دی.

## د عیسی ﷺ استدلال

۳ـ د عیسی ﷺ د خپل نبوت د اثبات دپاره په لاندې دوه وو دولونو سره استدلال وښیو

الف: په ﴿ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ﴾ کښې د ﴿ مُصَدِّقًا ﴾ کلمه د تصدیق څخه اشتقاق شوې ده چې په دې مقام کښې د تحقیق معنی ورکوي[۱] یعني په تورات کښې چې د راتلونکي پیغمبر په هکله کوم صفات نازل شوي وو هغه ما رښتیا کړه او تحقق مې ورکړ چې زه په عین نازل شوو صفاتو سره مبعوث کړی شوی یم، نو زه په حقه پیغمبر یم.

ب: په ﴿ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِى ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ ﴾ کښې د "مُبَشِّرًا" کلمې د "التبشیر" لکه "التصدیق" څخه اشتقاق موندلی دی. یعني ای بنو اسرائیلو! زه تاسو ته زیری درکوونکی یم چې له ما نه وروسته بل پیغمبر راروان دی چې "احمد" نومېږي، چې ماته وحي کړی شوې دی. نو که بالفرض زه پخپله پیغمبر نه وی نو دغه غیبي بشارت به ما تاسو ته نه وی ابلاغ کړی.

## د نبي کریم ﷺ نومونه

۴ـ نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې خپلو نومونو ته اشاره کړې ده او فرمایلي یې دي چې: "انّ لِي اَسْمَاءً اَنَا مُحَمَّدٌ وَاَنَا اَحْمَدُ...الحدیث"[۲] یعني یقینًا ماته ډېر نومونه دي (د مثال په توګه) زه محمد یم او زه احمد یم، او داسې نور.

دغه دواړه نومونه د اشتقاق او اصلیت په لحاظ په لاندې توګه شرحه کېږي:

الف: د "مُحَمَّد" کلمه د تفعیل د باب څخه د اسم مفعول صیغه ده، چې په مکرره توګه ستایلی شوي باندې دلالت کوي.

ب: د "اَحْمَد" کلمه د مختار قول په بنیاد د اسم مفعول دپاره د اسم تفضیل صیغه ده[۳] چې کله-کله اسم تفضیل د اسم مفعول دپاره هم استعمالېږي او په دې مقام کښې همدغه استعمال بهتر برېښي.

نو د اصلیت په لحاظ د ذکرو شوو دواړو اسمونو د معنی حاصل داسې راځېږي چې نبي کریم ﷺ

---

(۱) مفردات الراغب ص ۴۸۵

(۲) جامع الترمذي ج ۲ ص ۱۱۱

(۳) تفسیر القاسمي ج ۱۶ ص ۱۵۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه خوک دی چې د ډېرو حمیده صفاتو د کبله په مکرر ډول ستایلی شوی دی، او په ډېرو ستاینو کښې د بل هر مخلوق څخه بهتر او غوره دی.

## پخواني کتابونه او د نبي کریم ﷺ ذکر

۵ـ که څوک غواړي چې په پخوانیو اسماني کتابونو کښې د نبي کریم ﷺ د یادښت موضوع باندې مشرحه ولولي نو څینو اوږدو کتابونو[۱] ته دې مراجعه وکړي، چې موږ یې د اوږدوالي د کبله دلته نه شو رانقلولی.

## هېر مو نه شي

۶ـ هېر مو نه شي چې څینو علماوو کرامو په ﴿ فَلَمَّا جَاءَهُم بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴾ کښې، د "جاء" مستتر ضمیر غوره ستایلی شوي پیغمبر (احمد) ته راجع ګڼلی دی[۲]. یعنې کله چې بني اسرائیلو ته ستایلی شوی او بشارت ورباندې ورکړی شوی پیغمبر د معجزاتو سره ورغی نو هغوی د جادو او جادوګر لقب ورکړ.

خو د مقام په لحاظ غوره دا ده چې ذکر شوی ضمیر عیسی ؑ ته راجع وګڼلی شي چې بحث په همده ؑ کښې راروان دی[۳].

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: نو کله چې عیسی ؑ بني اسرائیلو ته په ډېرو استدلالونو باندې علاوه د نورو معجزاتو سره ورغی نو هغوی په مبالغه آمېزه توګه تکذیب کړ، حتی چې د جادوګر په عوض یې د ښکاره جادو لقب ورکړ، چې ټول د جادو څخه جوړ شوی دی.

﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعَىٰ إِلَى الْإِسْلَامِ ۚ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ۝ يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ ۝ هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ۝ ﴾

[۷] او د هغه چا څخه ډېر لوی ظالم څوک دی چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي حال دا چې هغه اسلام (انقیاد) ته وربلل کېږي؟

او الله ﷻ ظلم کوونکي قوم ته هدایت نه کوي (چې مطلب ته ورباندې ورسېږي).

[۸] ظلم کوونکی قوم دې ته اراده کوي چې د الله ﷻ رڼا (د اسلام دین) په خپلو خولو (پوپاګند

---

(۱) تفهیم القرآن ج۵ ص۵۴۴ـ ۵۷۲، نظم الدرر ج۷ ص۵۷۸
(۲) البحر المحیط ج۱۵ ص۵۰۶
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳٦۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او تکذیب) سره مړه کړي (او د منځه یې یوسي)، او (حال دا چې) الله ﷻ د خپل (ښکاره کړي) نور تمامونکی (او پوره کوونکی) دی اګر که کفار یې نه خوښوي (او بد یې ګڼي).

[۹] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې خپل پیغمبر یې په هدایت او حق دین سره دی لېږلی دی چې په ټولو ادیانو باندې غلبه ور کړي. اګر چې مشرکان (دا کار) نه خوښوي (او بد یې ګڼي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کې د وړاندېنیو ایتونو څخه په وروسته ایت باندې یو تبصره نازله شوې ده چې حاصل یې داسې راځي:

۱_ د هغه چا څخه ډېر غټ ظالم څوک دی کوم چې په داسې حال کې په الله ﷻ باندې دروغ تړي او رښتینی پیغمبر ته یې د جادوګر لقب ور کړي. حال دا چې نوموړی ته دعوت ور کول کېږي، د الله ﷻ ارشاداتو ته په اخلاص سره غاړه کېږدي. خو نوموړی په عدم انقیاد باندې علاوه هم لاس اچوي او د اضافه جنایت په ارتکاب باندې اخته کېږي چې د دعوت رد کوي.

۲_ ذکر شوي غټ ظالم ته الله ﷻ هدایت نه کوي چې مطلب ته ور باندې ورسېږي. نو او دا چې نوموړي به پخوانیو زمانو کې تېر شوي دي او یا به وروستیو زمانو کې موجود وي.

۳_ کفار او غټ غټ ظالمان غواړي چې په خپلو خولو او دروغو ټولو سره هغه رڼا مړه کړي کومه چې الله ﷻ د ټولې دنیا د روښانه کولو دپاره نازله کړې ده چې هغه د اسلامي شریعت څخه عبارت ده. خو هېڅکله به هغوی دې ته توانېږي چې دغه مطلب ته ورسېږي او د اسلام د نور او پوره والي مخه ونیسي. او دا ځکه چې:

الف. الله ﷻ د خپلې نازلې کړې رڼا په حتمي توګه پوره کوونکی دی که څه هم کفار یې نه خوښوي او ورته سخت خپه کېږي. مګر د هغوی ناخوښي د الله ﷻ د ارادې څخه په هیڅ واقع کېدای.

ب. الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې خپل پیغمبر یې په هدایت او حق دین سره دنیا ته دی لېږلی دی ترڅو خپل پیغمبر ته او خپل حق دین ته په ټولو ادیانو باندې غلبه ور کړي او د ټولو باطلو ادیانو جرړې ورباندې وباسي. که څه هم دا کار مشرکان نه خوښوي خو د هغوی ناخوښي د الله ﷻ په ارادې باندې هیڅ اثر نه شي غورځولی او دا کار ضرور کېدونکی دی.

## توضیحات

۹_ که څه هم په ﴿ وَلَوْ كَرِهَ الْكَٰفِرُونَ ﴾ کې د ﴿ الْكَٰفِرُونَ ﴾ له کلمې ټولو کفارو ته اشاره ده مګر ځینو علماوو کرامو تري دلته یوازې یهودو او نصارا مراد کړي دي[۱] او مشرکانو ته یې اشاره نه کېږي چې په دوی باندې په ﴿ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴾ کې صراحت نازل شوی دی.

---

[۱] الکشاف عن علوم الکتاب ج۴ ص...

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ د ﴿ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ ﴾ الآية- غوندې یو ایت په [التوبة ۳۳] کښې هم نازل شوی دی
چې مونږ د الله ﷻ په توفیق په مناسبه توګه تفسیر کړی دی. د مثال په توګه:
الف: د اسلام ظهور او غلبه په جهاد او اتفاق سره مشروطه ده.
ب: د اسلام غلبه او ظهور د کیفیت په اعتبار دی نه د کمیت په اعتبار، نو په نني عصر کښې
چې د مسلمانانو څخه د عیسویانو عدد زیات دی، دا د اسلام په غلبې باندې څه اثر نه غورزوي.
خو په دې مقام کښې ورباندې اضافه کوو چې د اسلام ظهور لاندې دوه معناوې درلودلی شي[۱]:
اول: چې ظهور د غلبې معنی ورکړي، لکه چې د خلفاوو راشدینو په زمانه کښې د اسلام دین په
ټولو ادیانو باندې غالب ګرځېدلی وه او جزیه یې ورباندې تړلې وه.
دوهم: چې ظهور د محوه کولو معنی ورکړي دا معنی به په هغه وخت کښې تحقیق مونده کړي
چې عیسی ﷺ د اسمانه رابښکته شي. همدې مطلب ته نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې اشاره کړې
ده چې: «وَيُهْلِكُ اللهُ فِي زَمَانِهِ الْمِلَلَ كُلَّهَا إِلَّا الْإِسْلَامَ»[۲] یعنې الله ﷻ به د عیسی ﷺ په زمانه کښې
ټول ملتونه (ادیان) هلاک او محوه کړي مګر فقط اسلام به باقي وي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ تِجَٰرَةٖ تُنجِيكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ۝١٠ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ
وَرَسُولِهِۦ وَتُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ
تَعۡلَمُونَ ۝١١ يَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡ وَيُدۡخِلۡكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ
فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ۝١٢ وَأُخۡرَىٰ تُحِبُّونَهَاۖ نَصۡرٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَتۡحٞ قَرِيبٞۗ
وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۝١٣ ﴾

[۱۰] (ای پیغمبره! ووایه چې:) ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! ایا زه تاسو ته په داسې تجارت باندې دلالت وکړم چې تاسو ته د دردناک عذاب څخه نجات درکړي؟

[۱۱] (هغه دا چې:) په الله ﷻ او د ده ﷺ په پیغمبر باندې خپل ایمان ته ادامه ورکړئ او د الله ﷻ په لار کښې په خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد وکړئ.
دغه کار ستاسو دپاره بهتر دی که تاسو پوهېږئ (نو په تعمیل کښې یې عجله وکړئ).

[۱۲] (تاسو دغه کارونه وکړئ) چې الله ﷻ ستاسو دپاره ستاسو ګناهونه وبښي، او داسې جنتونو ته مو داخل کړي چې لاندې ترې (څلور ډوله) ویالې بهېږي، او چې (هم) مو داسې پاکیزه استوګنځایونو ته داخل کړي کوم چې د همېشه اوسېدلو په جنتونو کښې موقعیت لري.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۸۶
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۲۳۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ای پیغمبره!) دغه ډېره لويه کامیابي ده.

[۱۳] او (چې تاسو ته) بل داسې نعمت (درکړي) چې تاسو يې ډېر خوښوئ، (چې هغه) د الله له پلوه د نصرت او د نژدې فتحې څخه عبارت دی.

او (ای پیغمبره!) په ذکرو شوو نعمتونو باندې علاوه) مؤمنانو ته (په نورو نعمتونو سربېره) بشارت ورکړه (چې نه چا لیدلي او نه د چا په زړه کښې تېر شوي دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې په هغه جواب باندې بیا رجوع شوې ده کوم ته چې په [الصف ۴] ایت کښې په اجمالي توګه اشاره شوې ده د کوم لپاره چې د همدې سورت د نزول سبب ګرځېدلی وه د یو پلوه، او د بله پلوه په وړاندېنیو ایتونو کښې د کفارو او نورو ظالمانو عناد ته اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې جهاد ته ترغیب نازل شوی دی چې د هغوی عناد په بنیادي توګه د منځه وړي نو حاصل یې داسې راځي:

۱ـ ای پیغمبره! جهاد ته د ترغیب په هکله مؤمنان د تقریري استفهام په توګه مخاطب کړه چې ای مؤمنانو! ایا زه تاسو ته په داسې تجارت او داسې نیک عمل باندې لارښوونه وکړم او بیا هم مو کړم چې همدغه تجارت او همدغه نیک عمل تاسو ته د دردناک عذاب څخه نجات درکړي او هلاکوونکي جنایت څخه مو بچ کړي؟

۲ـ کله چې ته هغوی ته ذکره شوې پوښتنه راجع کړې نو هغوی به ضرور په هو سره جواب درکړي نو په دغه وخت کښې ورته ووایه چې:

الف: ذکر شوی تجارت دا دی چې تاسو خپل ایمان ته ادامه ورکړئ او د همدغه ایمان په زړه خپلو مالونو او په خپلو ځانونو سره د الله ﷻ په لاره کښې په اخلاص سره جهاد وکړئ.

ب: ای مؤمنانو! دغه کار ستاسو دپاره ډېر ګټور دی، نو که چېرته تاسو په خپله ګټه او تاوان باندې پوه یاست ضرور به دغه کار ته عملي جامه ورواغوندئ.

ج: دا کار ستاسو دپاره ځکه خیر او ګټور دی چې په دغه صورت کښې به الله ﷻ ستاسو سره لاندې کارونه وکړي:

اول: ګناهونه به مو دروبښي او داسې جنتونو ته به مو داخل کړي چې د ونو لاندې یې ویالې بهېږي چې تاسو به ور څخه په خپله خوښه خوراک او څښاک کوئ.

دوهم: همدا رنګه به الله ﷻ تاسو پاکیزه او ښایسته استوګنځایونو ته داخل کړي چې تاسو به په همیشه پاتې شئ، د هغو ځایونو څخه به ستاسو مسافرت نه وي، تاسو به هلته مقیمان یاست. ای پیغمبره! دغه ذکر شوي نعمتونه ډېره لویه کامیابي ده. چې داسې ده او هیڅ رنګ یې نشته.

درېیم: په دغې لويې کامیابۍ باندې د پاسه به الله ﷻ تاسو ته نور داسې نعمتونه هم درکړي کوم چې تاسو یې په دنیا کښې خوښوئ، هغه دا چې د یو پلوه به مو د الله ﷻ نصرتونه په برخه شي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سرگي به مو ورباندې خوښې شي او د بله پلوه به ډېره نژدې فتحه ترلاسه کړئ او په دښمن باندې به ښلې فيصي سرې كړئ.

ظلوړم: اى پيغمبره! په دغه صورت كښې مومنانو ته په ذكرو شوو نعمتونو باندې علاوه په نورو نعمتونو باندې هم زيرى وركړه كوم چې ورته الله ﷻ پټ ساتلي دي او په جنتونو كښې به يې ورعنايت كړي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ﴾ كښې د "قُلْ" كلمه مقدره ده، نه به وايې چې "قُلْ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا" نازل شوي دي.[1]

۲ـ كه څه هم په ﴿ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ كښې د ﴿ تُؤْمِنُونَ ﴾ كلمه لفظاً خبريه جمله ده مګر معناً انشائيه جمله ده، نه به وايې چې "آمِنُوا بِاللهِ وَرَسُولِهِ" نازل شوي دي[2] همدارنګه په معطوفه جمله ﴿ وَتُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ كښې د ﴿ وَتُجَٰهِدُونَ ﴾ جمله د معنى په ملحوظ انشائيه جمله ده چې د "وَجَاهِدُوا" معنى وركوي.

يعنې نجات وركوونكى تجارت دا دى چې تاسو خپل ايمان ته ادامه وركړئ او د الله ﷻ په لاره كښې په مال او سر سره جهاد وكړئ.

## نحوي تحليلونه

۳ـ په دې مقام كښې لاندې نحوي تحليلونه په ذهن كښې وساتئ:

الف: په ﴿ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ﴾ كښې د ﴿ يَغْفِرْ ﴾ كلمه د ﴿ تُؤْمِنُونَ ﴾ دپاره جواب دى كوم چې په معنى كښې امر (آمنوا) دى.[3]

او د ﴿ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّٰتٍ ﴾ كښې د "يُدْخِلْ" كلمه په ذكر شوې مجزومه كلمه باندې عطفه ده.

ب: د ﴿ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴾ جمله معترضه ده او د اعراب محل نه لري.

ج: د ﴿ وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا ﴾ په اعراب كښې علماوو كرامو متعدد احتمالات ليكلي دي[4] خو موږ ته بهتره برېښي چې دلته په نصب وركوونكى فعل "يُعْطِكُمْ" مقدر وي او دا جمله به په ﴿ يَغْفِرْ لَكُمْ ﴾ باندې عطفه وي.[5]

د: نو په دې تقدير به د ﴿ نَصْرٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ﴾ كلمات د مقدرې مبتداء دپاره خبر واقع شوي

---

(۱) روح المعاني ج۲۸ ص۹.
(۲) تفسير الكشاف ج۴ ص۵۲۶.
(۳) المحرر الوجيز ج۱۵ ص۵۰۹.
(۴) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۸۸، اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۶۳.
(۵) البحر المحيط ج۱۰ ص۱۶۸.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وې چې هغوی ته یې په "بِلَادِ الْغَفْلَةِ" سره تعبیر کولی شو.[1]

یعنې د ایمان او جهاد په صورت کښې به الله ﷻ تاسو ته ګناهونه وبښي او جنتونو او غورو مکانونو ته به مو داخل کړي او په دې باندې علاوه تاسو ته به بل داسې نعمت هم درکړي چې هغه تاسو ډېر خوښوئ، چې هغه نعمت د الله ﷻ د پلوه د لوی نصرت او نژدې فتحې څخه عبارت دی

۸. په ﴿ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ کښې د "بَشِّرْ" د کلمې مفعول د تعمیم دپاره حذف کړی شوی دی، او پخپله همدغه انشائیه جمله په هغه "قُلْ" باندې عطفه ده د کوم تقدیر ته چې وړاندې په لومړي توضیح کښې اشاره شوې ده.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوٓا۟ أَنصَارَ ٱللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّـۧنَ مَنْ أَنصَارِىٓ إِلَى ٱللَّهِ ۖ قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ۖ فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَكَفَرَت طَّآئِفَةٌ ۖ فَأَيَّدْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ عَلَىٰ عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا۟ ظَٰهِرِينَ ﴿١٤﴾ ﴾

[۱۴] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو د الله ﷻ (د دین) مددګاران وګرځئ، لکه چې د مریمې زوی عیسی ﷺ خپلو مخلصو ملګرو ته وویلې چې: (ستاسو د جملې څخه) په دعوت الی الله کښې زما مرستیالان څوک دي؟، مخلصو ملګرو وویلې چې مونږ (ټول) انصار الله یاستو (او دعوت چلولو ته چمتو یاستو).

نو (د دعوت په جریان کښې) د بني اسرائیلو څخه یوې ډلې ایمان راووړ او بله ډله کافره شوه (او یا یې کفر ته ادامه ورکړه).

نو مونږ هغو کسانو ته په خپل دښمن باندې تائید ورکړ کومو چې ایمان راوړی وه نو دوی څرګند (غلبه موندونکي) وګرځېدل.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او د جهاد رغبت ته پکښې اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځوړي:

ای پیغمبره! مؤمنان مخاطب کړه او جهاد ته د ترغیب او تحضیض په هکله ورته ووایه چې:

۱ ـ ای مؤمنانو! زه تاسو ته هغه دول غوښتنه وړاندې کوم کومه چې عیسی ﷺ د خپل امت مخلصو کسانو ته وړاندې کړې وه هغه دا چې په دعوت الی الله کښې ستاسو څخه زما سره څوک څوک ملګري کېږي؟ یا په بل عبارت، زه تاسو ته وایم چې تاسو ټول انصار الله جوړ شئ او زما سره د دعوت په چلېښت کښې کومکیان وګرځئ.

عیسی ﷺ هم خپلو مخلصو امتیانو ته خطاب متوجه کړی وه چې ای زما مخلصانو! زما سره

(۱) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۲۴۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دعوت الی الله کښې څوک- څوک کومکیان جوړیږي او څوک-څوک حواري چې د داعیانو په ډله کښې شامل شي؟ هغوی ټولو په یوه خوله جواب ورکړ چې مونږ ټول انصار الله یاستو او ټول الله ﷻ ته د بلونکو په ډله کښې شامل یاستو.

نو په کار دي چې تاسو هم د عیسی ﷺ د مخلصو امتیانو جواب خپل کړئ او الله ﷻ ته د بلونکو په ډله کښې شمولیت ته چمتوالی څرګند کړئ.

۲_ څرنګه چې د عیسی ﷺ دعوتي امت د دعوت په سبب په دوه وو ډلو باندې ووېشلی شو چې یوې ډلې ایمان راووړ او بله ډله کافره پاتې شوه او دعوت یې قبول نه کړ، همدارنګه به ستاسو د دعوت په نتیجه کښې د دې زماني خلک هم په دوه وو ډلو ووېشلی شي چې یوه ډله به ایمان راوړي او بله ډله به دعوت رد کړي او په کفر باندې به ټکله شي.

۳_ لکه څنګه چې د عیسی ﷺ د امت دواړه ډلې (کافره او مومنه) سره په جنګ شوې، همدارنګه به ستا د دعوتي امت دواړه ډلې هم یو تربله جنګ ته ادامه ورکړي.

۴_ لکه څنګه چې مونږ هلته مومنه ډله تائیده کړه او په دښمني ډلې باندې مو ورته غلبه ورکړه، همدارنګه به په دې زمانه کښې هم مومني ډلې ته په غلیمې ډلې باندې بری او غلبه ورکړو، چې د قیامت تر ورځې پورې به د دوی غلبه ادامه ولري.

## توضیحات

۱_ په دغه ایت کښې د ﴿ لِلْحَوَارِيِّينَ ﴾ او ﴿ ٱلْحَوَارِيُّونَ ﴾ دواړه کلمې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران ۵۲] ایت لاندې ښې پوره تحلیلي کړې دي چې د څه شي څخه اشتقاقي شوې دي او په اصل کښې څنګه-څنګه وې، همدارنګه مو هلته لیکلي دي چې د دوی شمېر څومره وه او څه-څه کسبونه یې درلوده. نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي. خو په دې مقام کښې ورباندې د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث وراضافه کوو:

الف «كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَعْرِضُ نَفْسَهُ بِالْمَوْقِفِ فَقَالَ أَلَا رَجُلٌ يَحْمِلُنِي إِلَى قَوْمِهِ فَإِنَّ قُرَيْشًا مَنَعُونِي أَنْ أُبَلِّغَ كَلَامَ رَبِّي»[۱] یعنې نبي کریم ﷺ به د هجرت څخه وړاندې (د حج په موسم کښې) په عرفات او نورو موافقو کښې خپل ځان (خلکو ته) وړاندې کاوه او ورته به یې ویلې چې: ایا کوم سړی نشته چې خپل قوم ته مې یوسي (بوځي) او دا ځکه چې ما قریش منعه کوي چې د خپل رب ﷻ کلام ورته ورسوم؟.

نو په نتیجه کښې د مدینې منورې خلکو دغه مطالبه قبوله کړه او د "انصارالله" لقب یې وګاټه.

ب نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې «إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا وَحَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ»[۲] یعنې یقیناً د هر پیغمبر دپاره ناصر (مددګار) شته او زما ناصر (په نورو باندې علاوه) الزبیر بن العوام ؓ دی.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص ۱۲۰

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص ۳۹۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: په ﴿ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ ﴾ کښې مستتر ضميرونه دواړه د عيسى ﷺ د امت مؤمنې ډلې ته راجع دي، نو حاصل يې داسې راځيږي چې همدغې ډلې جهاد ته ادامه ورکړه او الله ﷻ د ظهور او غلبې خاوندان وګرځول: حال دا چې د [الحديد ۲۷] ايت د اشاراتو څخه څرګنديږي چې هغوی د جهاد څخه وتښتېدل او رهبانيت يې غوره کړ، ايا دغه دواړه مطلبونه سره منافات نه لري؟

موږ وايو چې: ذکره شوې جمله علماوو کرامو په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسيره کړې ده

الف: په دې ايت کښې د رهبانيت د غوره کولو څخه وړاندې حالت ته اشاره ده چې مؤمنه ډله په جهاد باندې مشغوله وه[1]. خو کله چې هغوی د جهاد څخه صرف نظر شوه او رهبايت يې اختيار کړ نو الله ﷻ ترې خپل نصرت او په دښمن باندې ظهور واخست او غلبه يې د منځه لاړه.

اما د دې امت مؤمنه مجاهده ډله به د قيامت تر ورځې پورې د نصرت او ظهور خاونده وي چې په دې امت کښې رهبانيت نشته بلکې د دې امت رهبانيت جهاد دی، د همدې کبله نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ»[2] يعنې زما د امت څخه به يوه ډله د تل دپاره په حق باندې (د کفارو سره) جنګيږي حال دا چې د قيامت تر ورځې پورې به څرګنده او غلبه موندونکې او درلودونکې وي.

آن تردې چې د عيسى ﷺ ترڅنګ به د دجال سره هم وجنګيږي او غلبه به ورباندې مونده کړي.

ب: د ذکرې شوې جملې معنى دا ده چې الله ﷻ د عيسى ﷺ د امت مؤمنې ډلې ته د نبي کريم ﷺ په بعثت سره غلبه ورکړه چې ايمان يې پرې راووړ او په امتيانو کښې يې وشميرله شوه[3].

## تبصره

۳_ ذکر شوي دواړه جوابونه سره څه منافات نه لري او وختونه يې هم جدا_جدا دي، نو په کار دي چې د بدليت په لحاظ دواړه اراده کړی شي.

د "الصَّف" سورت د ترجمې او تفسير په پای کښې وايو چې:

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الطَّائِفَةِ الْمُؤْمِنَةِ الْمُجَاهِدَةِ عَلَى الْحَقِّ الظَّاهِرَةِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. آمِينَ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ.

۱۴۲۵/۱۵/۱۱ ق هـ - ۱۳۸۳/۴/۸ هـ ش.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۴ ص۳۶۲؛ المحرر الوجيز ج۱۵ ص۵۱۱
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۸۷
(۳) تفسير ابن کثير ج۴ ص۳۶۲؛ تفسير البغوي ج۴ ص۳۳۹

# الجمعة (٦٢)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (الْجُمُعَة) د همدې سورت په [۹] ایت کښې نازل شوی دی او په همدې نامه باندې د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی.

۲_ د دې سورت د ایتونو شمېر یوولس (۱۱) دی[۱] او د مختار قول په بنیاد ټول ایتونه یې مدني دي چې د هجرت څخه وروسته نازل شوي دي[۲].

۳_ د دې سورت د کلماتو شمېره یو سلو اتیا (۱۸۰) وو ته پورته شوې ده[۳].

۴_ او د تورو شمېر یې اوه سوه او شلو (۷۲۰) ته رسېږي[۴].

۵_ د دې سورت بحثونه د نورو مدني سورتونو غوندې د عملي احکامو په محور باندې څرخېږي خو د یهودانو د باطلو اقوالو په رد باندې پکښې زیات ټینګار شوی دی. د مثال په توګه:

الف: هغوی وایې چې نبوت په مونږ پورې اختصاص لري.

ب: مونږ په ټولو قومونو کښې غوره قوم یاستو.

ج: جنت یوازې زمونږ دپاره جوړ کړی شوی دی.

۶_ دا سورت (الْجُمُعَة) د وړاندېني سورت (الصَّف) سره د نوک او اوري غوندې نږدې تناسب لري. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: هلته بلا عمله وینا د الهي غضب سبب ګڼلی شوی وه او دلته د دغسې ویناوو ویونکي د خرو سره تشبیه کړی شوي دي.

ب: هلته د مجاهدینو صفونو ته اشاره شوې ده او دلته د جمعې د لمونځ کوونکو صفونو ته اشاره کېږي.

ج: هلته د موسی ﷺ د قوم (یهودانو) د اذیت ذکر نازل شوی وه او دلته د هغوی څه نورو خاصیتونو نزول موندلی دی او بیا رد شوی دی.

د: هلته نبي کریم ﷺ په محضه نوم (احمد) سره ذکر شوی وه او دلته په صفاتو سره ذکر کېږي، چې د امیانو د جملې څخه دی.

ه: هلته د اخروي تجارت بنوداني نزول موندلی وه او دلته د دنیاوي تجارت ذکر ته اشاره شوې ده او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ۝١ هُوَ الَّذِي

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۹۱
(۲) روح المعاني ج۲۸ ص۹۲
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۲۵۶
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۶۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بَعَثَ فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ رَسُولًا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ
وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ۝ وَءَاخَرِينَ مِنۡهُمۡ لَمَّا يَلۡحَقُواْ بِهِمۡۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ۝ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ۝ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] خاص الله ﷻ ته هغه مخلوقات تسبیحات وایي کوم چې په اسمانونو کښې دي او هغه مخلوقات هم (ورته تسبیحات وایي) کوم چې په ځمکو کښې دي، (داسې الله ﷻ ته) چې (د هر شي) مالک، (د ټولو نواقصو څخه) پاک، د کلکې ارادې خاوند (او) د حکمت څښتن دی.

[۲] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په امیانو (عرب مؤمنانو کښې یې د همدوی د جنس څخه داسې پیغمبر ﷺ مبعوث کړی دی چې د الله ﷻ ایتونه ورباندې قرائت کوي او (د بدو اخلاقو څخه) یې تزکیه کوي او هم ورته د قرآن کریم او احادیثو ښوونه کوي، حال دا چې یقیناً همدغه امیان کسان د پیغمبر ﷺ د مبعوثیت څخه وړاندې په ځرګنده ګمراهۍ کښې (پراته) وه.

[۳] او (الله ﷻ) په نورو کسانو کښې هم (پیغمبر مبعوث کړی دی) چې دوی هم د امیانو څخه دي (د اکثریت په ملحوظ امیان دي) او لا تر اوسه پورې په عربي امیانو پورې (په ایمان سره) نه دي پیوسته شوي (وروسته به وریورې پیوسته شي).

او الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او) د حکمت څښتن دی.

[۴] (ای پیغمبره!) دغه د الله ﷻ فضل دی هغه چا ته یې ورکوي کوم ته یې چې اراده وشي.

او الله ﷻ د ډېر لوی فضل خاوند دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندې سورت په دې پای ته رسېدلی وه چې الله ﷻ مؤمني مجاهدې ډلې ته په کافري دښمنې ډلې باندې غلبه او ظهور ورکړ. په دې ایتونو کښې الله ﷻ د خپلو تسبیحاتو د بیان څخه وروسته مؤمنې مجاهدې ډلې ته اشاره کړې ده چې د قیامت تر ورځې پورې به د ظهور او غلبې درلودونکې دي، نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ هغه مخلوقات کوم چې په اسمانونو کښې او کوم چې په ځمکو کښې موجودیت لري ټول خاص الله ﷻ ته تسبیحات وایي او د پاکۍ نسبت ورته کوي. او دا ځکه چې همدی ﷻ د ټولو مخلوقاتو مالک دی، د هر عیب او نقص څخه پاک او منزه دی. همدارنګه همدی ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی دی چې هیڅ شی یې د ارادې په وړاندې ځنډ نه شي واقع کېدلی، نو کوم شي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې مشرکان او کفار په غیبي آفت سره پوپنا کړي او د منځه يې يوسي.

خو د دې سره‌سره د حکمت خاوند هم دی، د همدې کبله يې جهاد فرض کړی دی چې مجاهد مؤمنه ډله د اجرونو او ثوابونو خاونده وګرځوي.

۲ـ نو په همدې بنیاد حقیقت دا دی چې:

الف: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په داسې قوم کښې يې پیغمبر مبعوث کړ کوم چې مطلق اکثریت يې لیک او لوست نه شي کولی بلکې د لیک او لوست سره نا اشنا دي.

ب: عجیبه لا دا ده چې په ذکر شوي قوم کښې مبعوث شوی پیغمبر هم د همدوی غوندې لیک او لوست نه شي کولی، خو د دې سره‌سره د لاندې صفاتو درلودونکی دی:

اول: د عین امیتوب په حال کښې په خپل قوم باندې د الله ﷻ ایتونه کټ مټ لولوي او يو حرف هم ترې وړاندې بېرته صورت نه شي نیولی.

دوهم: همدغه پیغمبر خپل نالوستی قوم د رذیله او عیبجنو خاصیتونو څخه تزکیه کوي او د کفري او شرکي عقیدې څخه يې پاکوي.

دریم: همدغه پیغمبر ﷺ خپل قوم ته د الله ﷻ کتاب پرته د خطه ورزده کوي، او په دې باندې علاوه د همدغه کتاب د توضیح دپاره ورته د حکمتونو او د خپلو احادیثو ښوونه هم کوي.

ج: که څه هم دغه قوم د ذکر شوي پیغمبر ﷺ د بعثت څخه وړاندې په څرګندو او رنګارنګ ګمراهیو کښې اخته وه او د انسانیت د چوکاټ څخه وتلی وه، مګر د همدغه پیغمبر ﷺ د مبعوثیت سره په ټوله نړۍ کښې د عالي اخلاقو او لوړو خاصیتونو مثالونه وګرځېدل.

د: دغه پیغمبر ﷺ لکه چې د خپل امي قوم دپاره لاربنود جوړ شو همدارنګه د قیامت تر ورځې پورې د نورو داسې قومونو دپاره هم لاربنود دی چې لا تراوسه يې وروپورې پیوستون نه دی موندلی او د دې وخته څخه وروسته به وروپورې پیوسته شي او ایمان به ورباندې راوړي او بیا به په ربښتیانيو معناوو کښې په اخلاص سره جهاد ته ملاوې وتړي.

۲ـ ای پیغمبره! دلته يو ځل بیا په خپل امت باندې قرائت کړه چې الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی او هیڅوک يې د ارادې مخه نه شي نیولی چې د راتلونکو خلکو د ایمان د راوړلو مخه بنده کړي، او هم د حکمت خاوند دی چې د همدغه يوه پیغمبر ﷺ د نبوت دوره د قیامت تر ورځې پورې اوږده کړي.

۳ـ که څه هم یهودان بلکې اهل الکتاب نه خوښوي چې د دوی څخه په غیر په بل قوم کښې پیغمبر مبعوث کړی شي، دوی ته خپل خانونه غوره بندګان برېښي، مګر دغسې نه ده لکه چې دوی خیال کوي.

بلکې دغه نبوت د الله ﷻ فضل دی او الله ﷻ خپل فضل هغه چاته ورکوي کوم ته يې چې اراده وشي، بلکې الله ﷻ د ډېر لوی فضل خاوند دی چې فضل يې بوازې په اهل الکتابو پورې خانګړی نه دی لکه چې دوی همدغه غلط ګومان په ګمراهۍ کښې اچولي دي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ په ﴿ هُوَ ٱلَّذِى بَعَثَ فِى ٱلْأُمِّيِّـۧنَ رَسُولًا ﴾ کښې د ﴿ ٱلْأُمِّيِّـۧنَ ﴾ کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۷۸] ایت لاندې ښه پوره تفسیره کړې ده چې دا د هغو کسانو څخه عبارت ده کوم چې لیک او لوست نه شي کولی.

خو په دې مقام کښې ورباندې د نبي کریم ﷺ یو حدیث وراضافه کوو چې فرمایلي یې دي: «إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ لَا نَكْتُبُ وَلَا نَحْسُبُ»[۱] یعنې یقینًا مونږ امیان امت یاستو چې نه لیک (او لوست) کولی شو او نه (د ریاضي دقیق) حساب کولی شو.

## بعثت ته ضرورت

۲ـ په ﴿ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَـٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ کښې د "إِنْ" توری د "إِنَّ" مثقل توري څخه مخفف دی[۲]. یعنې د بعثت وړاندې په یقیني توګه خلک د هر حیثه په څرګنده ګمراهۍ کښې پراته وه. او دا ځکه چې اهل الکتابو خپلو کتابونو ته تحریف ورکړی وه او نورو خلکو هیڅ کتاب نه درلود او په خپلو شرکیاتو او مزخرفاتو باندې یې د ابراهیمي دین نوم ایښی وه. نو الله ﷻ فضل وکړ او د سمې لارې هدایت کوونکی پیغمبر یې راواستاوه، چې د قیامت تر ورځې پورې به یې ارشادات ژوندي پاتې وي.

## یو نحوي تحلیل

۳ـ په ﴿ وَءَاخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا۟ بِهِمْ ﴾ کښې د "آخَرِينَ" کلمه د غوره قول په بنیاد مجروره ده او په وړاندېنې ایت کښې په ﴿ ٱلْأُمِّيِّـۧنَ ﴾ باندې عطفه ده[۳]. او د "مِنْ" توری پکښې د بیان دپاره دی او د "هُم، هُمْ" دواړه ضمیرونه پکښې همدغې د ﴿ ٱلْأُمِّيِّـۧنَ ﴾ کلمې ته راجع دي[۴].

نو حاصل به یې داسې راوځېږي چې: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د عربي مؤمنانو څخه علاوه په نورو داسې کسانو کښې یې هم پیغمبر استولی دی کوم چې دوی هم د عربي مؤمنانو دړونه دي، ته به وایې چې عین عربي مؤمنان دي، کوم چې لا تر اوسه په عربي مؤمنانو پورې په ایمان سره نه دي پیوسته شوي په راتلونکي کښې به وروپورې پیوسته شي او د پیوستون لړۍ به د قیامت تر ورځې پورې جاري پاتې شي.

نو د ذکر شوي تفسیر په بنیاد د ﴿ وَءَاخَرِينَ ﴾ کلمه هغو ټولو کسانو ته شامله ده کوم چې د صحابه وو کرامو ﷺ څخه وروسته آن تر قیامته پورې په ایمان باندې مشرف شي، برابره خبره ده چې عرب

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۵۶؛ صحیح مسلم ج۱ ص۳۴۷
(۲) تفسیر الکشاف ج۴ ص۵۳۰
(۳) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۲۴۷
(۴) روح المعاني ج۲۸ ص۹۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي او که شرحه او هم برابره خبره ده چې اسماني کتاب ولري او یا نه، او داسې نور[1]

موږ خلکه دغه پول تفسیر خوښ کړ چې په همدې مضمون باندې نور ایتونه دلالت کوي د مثال په توګه

الف. ﴿ لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾ [آل عمران ۱۶۴] یعني یقیناً الله ﷻ په مؤمنانو باندې احسان کړی دی چې په دوی کښې یې د همدوی د خانونو څخه داسې پیغمبر ﷺ مبعوث کړی دی چې په دوی باندې د الله ﷻ ایتونه لولي او (د فاسدو اخلاقو څخه) یې تزکیه کوي او هم ورته د قرآن او سنت ښوونه کوي، او یقیناً دوی د پیغمبر د مبعوثیت څخه وړاندې په ښکاره ګمراهۍ کښې پراته وه.

ب. ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾ [الحجرات ۱۰] یقیناً ټول مؤمنان (سره) ورونه دي او که شرحه ورونه دي

## سوال جواب

س. که څوک وایي: یو ځل نبي کریم ﷺ د دغه ﴿ وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ ﴾ ایت د مصداق په هکله په سلمان فارسي رضي الله عنه باندې لاس کېښود او بیا یې وفرمایل چې: «لَوْ كَانَ الْإِيمَانُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَنَالَهُ رِجَالٌ أَوْ رَجُلٌ مِنْ هَؤُلَاءِ»[2] یعني که بالفرض ایمان ثریا ستورو ته ورسېږي (د خلکو څخه ور لرې شي) نو د دغو د جملې څخه به یې څه سړي یا یو سړی راونیسي.

نو معلومه شوه چې د ایت شریف مصداق یوازې د فارس خلک دي، حال دا چې تاسو د قیامت تر ورځې پورې ټولو ایمان راوړونکو ته شامل وګڼه؟

موږ وایو چې: نبي کریم ﷺ سلمان فارسي رضي الله عنه ته د مثال په توګه اشاره کړې وه، نه د حصر په توګه او دا ځکه چې د نبي کریم ﷺ رسالت په انسانانو باندې علاوه پېریانو ته هم شامل دی همدغه موضوع موږ د الله ﷻ په توفیق د [الانعام ۱۹] ایت لاندې د نصوصو په رڼا کښې شرحه کړې ده خو په دې مقام کښې وړاندې لاندې شرحه وراضافه کوو.

الف. نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: زه په خوب کښې ګورم چې د ځمکې (کوم) څخه اوبه راوباسم او توري ګډې او خړې ګډې راته د څړوېدلو دپاره راوړه کېږي. «فَأَوَّلْتُ أَنَّ السُّودَ الْعَرَبُ وَأَنَّ الْعُفْرَ الْعَجَمُ»[3] یعني نو ما (دغه خوب) داسې تعبیر کړی دی چې یقیناً توري ګډې عرب دي او یقیناً خړې ګډې عجم دي (چې زه دواړو ډلو ته د ایت او حدیث ښوونه کوم).

---

[1] تفسير الطبري ج۲۷ ص۹۵
[2] صحيح البخاري ج۳ ص۱۳۳۷
[3] مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۳۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: که بالفرض د نبي کریم ﷺ رسالت په عربو پورې اختصاص درلودی نو د عجمو پاچاهانو ته په یې دعوتي لیکونه نه وی استولي.

﴿ مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُواْ ٱلتَّوْرَىٰةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ ٱلْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًۢا ۚ بِئْسَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝٥ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓاْ إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَآءُ لِلَّهِ مِن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ۝٦ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُۥٓ أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ۝٧ قُلْ إِنَّ ٱلْمَوْتَ ٱلَّذِى تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُۥ مُلَٰقِيكُمْ ۖ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٨ ﴾

[۵] د هغو کسانو مثال کوم چې په تورات باندې مکلف کړی شوي وه (چې عمل پرې وکړي) خو بیا هغوی اوچت نه کړ (عمل یې پرې ونه کړ) د داسې خرو مثال ته ورته دی چې کتابونه په شا وړي (او ګټه ترې نه شي پورته کولی).

د هغه قوم مثال ډېر بد دی کوم چې د الله ﷻ ایتونه تکذیبوي (او د پیغمبر د قبول څخه یې انکار خپلوي). او الله ﷻ ظالم قوم ته هدایت نه کوي (چې مطلب ته ورباندې ورسېږي).

[۶] ای هغو کسانو کومو چې یهودیت خپل کړی دی! که تاسو ګومان کوئ چې یقینًا تاسو د نورو خلکو څخه په غیر (یوازې همدا تاسو) د الله ﷻ دوستان یاست (او جنت یوازې ستاسو دپاره جوړ دي) نو تاسو د مرګ آرزو وکړئ، که تاسو په (خپل ګومان کښې) رښتیا ویونکي یاست (نو دا کار وکړئ).

[۷] او یهودان به (هیڅکله) د همېشه دپاره د هغو (جنایاتو) په سبب د مرګ آرزو ونه کړي کوم چې د دوی لاسونو وړاندې استولي دي.

او الله ﷻ په ظالمانو باندې پوه دی (زړونه یې ورته معلوم دي).

[۸] (ای پیغمبره! یهودانو ته) ووایه چې: یقینًا هغه مرګ چې تاسو ترې تښتئ؛ (او آرزو قدرې یې هم نه کوئ) نو بې شکه هغه تاسو سره پیوسته کېدونکی دی، چې بیا به تاسو عالم الغیب والشهادة (په غیب او حاضر باندې پوه الله ﷻ) ته ورتاو کړی شئ؛ نو په هغو (جنایتونو) باندې به مو خبر کړي (او سزا به درکړي) کوم چې تاسو یاست چې عملي کوئ یې.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او د شریعت په تعمیل باندې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تېنګار شوی دی، چې حاصل يې داسې راځي:
ای پیغمبره! د خپل امت مؤمنان مخاطب کړه چې:
۱_ ای مؤمنانو! تاسو خپل شریعت او قرآن عملي کړئ او هغه کړنلاره ورسره مه خپلوئ کومه چې یهودانو د خپل کتاب (تورات) سره خپله کړې وه. هغه دا چې:
الف: هغوی ته تورات د دې دپاره ورکړی شوی وه چې په عقیده او عمل سره یې حق اداء کړي خو هغوی وربانديې نه عقیده وکړه او نه یې په عمل کښې پیاده کړ، بلکې صرف د خلکو د غولونې کار یې ترې واخست چې مونږ اهل الکتاب یاستو او د الله ﷻ غوره بندګان یاستو.
ب: نو د هغو حالت او مثال د هغه خره حالت او مثال ته ورته وګرځېد په کوم باندې چې بنه ډېر ګټور کتابونه باروي خو ګټه ترې نه شي اوچتولی او په عین حال کښې د قاذوراتو او پلیتو شیانو په خوراک او څښاک باندې اخته وي.
ج: ذکر شوی حالت او مثال ډېر بد حالت او بد مثال دی، چې هغوی د خپل کتاب ایتونه تکذیب کړه او نه یې وربانديې عقیده وکړه او نه یې په عمل کښې پیاده کړه. نو تاسو ته توصیه کېږي چې په کتاب (قرآن کریم) باندې عقیده او عمل دواړه وکړئ ترڅو درباندې ذکر شوی بد مثال تطبیق نه کړی شي.
الله ﷻ ظالم قوم ته هدایت نه کوي چې مطلب ته ورسېږي البته کومو چې ظلم ته په ادامې سره د خپلو نېکیو استعداد د منځه وړی وي.
۲_ ای پیغمبره! اهل الکتاب یا هغه کسان مخاطب کړه کومو چې د یهودیت نوم ګټلی دی او خپل ځانونه ورته غوره بندګان څرګندېږي چې:
الف: ای یهودانو! که چرته تاسو ګومان کوئ چې تاسو ټول اولیاء الله او غوره بندګان یاست چې جنت یوازې ستاسو دپاره جوړ کړی شوی دی او په نورو خلکو کښې نه د الله ﷻ دوست شته دی او نه په جنت کښې برخه لري بلکې نور ټول خلک دوزخیان دي، نو تاسو اقلا د مرګ ارزو وکړئ ترڅو جنت ته داخل شئ او د الله ﷻ رضامندي ترلاسه کړئ.
ب: که بالفرض تاسو په خپل قول کښې رښتیني یاست او قول مو د عقیدې مطابق وی نو هلئ ژر شئ ذکره شوې آرزو وکړئ او د الله ﷻ څخه د خپل مرګ غوښتنه وکړئ.
۳_ ای پیغمبره! هیڅکله به یهودان د مرګ محض آرزو هم ونه کړي. او دا ځکه چې:
دوی د یو پلوه په خپل غوره والي باندې پوخ باور نه لري او نه پوهېږي چې دغه دعوه یې دروغینه دعوه ده، او د بله پلوه یې په خپلو لاسونو سره داسې جنایات وړاندې استولي دي چې هغه هیڅکله د عفوې قابل نه دی، هغه دا چې خپل کتاب یې تحریف کړی دی او په مقتضی یې نه عقیده کوي او نه وربانديې عمل کوي، که نه نو په آخر الزمان پیغمبر باندې به یې ضرور ایمان راوړی وي، چې د دوی په کتاب (تورات) کښې یې ذکر موجود دی، بلکې دوی یې داسې پېژني لکه چې څوک خپل زامن پېژني.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ الله ﷻ په ظالمانو یهودانو باندې ښه پوه دی چې هیڅکله به نه د مرګ آرزو وکړي او نه به د ژوند ختم وغواړي.

۵_ ای پیغمبره! یهودان یو ځل بیا مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

ای یهودانو! تاسو خو د مرګ آرزو نه کوئ او غواړئ چې د اوږده عمر په درلودلو سره د مرګه وتښتئ؛

خو تاسو پوه شئ چې د مرګه نه شئ تښتېدلی او نجات ترې نه شئ موندلی بلکې همدغه مرګ په ناکلې ښتې سره په تاسو باندې درنازلېدونکی دی چې بیا به ضرور د الله ﷻ په حضور کښې ودرولی شئ او حساب کتاب ته به ورتاو کړی شئ.

الله ﷻ ستاسو د جنایاتو په شمول په هر شي باندې پوه دی او ټول غائب شیان او حاضر شیان ورته معلوم دي.

نو په همدې بنیاد به مو په هغو ټولو کړو وړو خبر کړي کوم چې تاسو یاست چې روزمره یې په دنیا کښې عملي کوئ.

## توضیحات

۱_ په ﴿ مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ ﴾ الآیة کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ حُمِّلُوا۟ ﴾ کلمه د "تَحْمِيل" _لکه "تَكْرِيم"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې په دې مقام کښې د تکلیف معنی ورکوي[۱].

ب: د ﴿ لَمْ يَحْمِلُوهَا ﴾ کلمه په "لَمْ يَقُومُوا بِأَدَاءِ الْحَقِّ" سره تفسیرېږي.

ج: په ﴿ كَمَثَلِ ٱلْحِمَارِ ﴾ کښې د "حِمَار" د کلمې معنی پوره واضحه ده چې پښتو کښې ترې په خره سره تعبیر کېږي خو په دې مقام کښې ترې جنس خر مطلب دی چې یوه خره او ډېرو خرو ته شمولیت لري.

د: د ﴿ أَسْفَارًۢا ﴾ کلمه د "سِفْر" _لکه "عِلْم"_ جمعه ده، دا لفظ هغه کتاب ته وضعه شوی دی کوم چې حقائق کشفوي او د علومو مخزن وي[۲].

هـ: نو حاصل یې داسې راځېږي چې: د هغو کسانو مثال (کوم چې په تورات باندې مکلف کړی شوي وه چې حق یې اداء کړي او عقیدةً او عملاً یې قبول کړي خو هغوی په عقیده او عمل دواړو کښې پاتې راغله) د هغو خرو مثال ته ورته دی په کومو باندې چې ډېر مهم او د حقائقو څخه ډک کتاب یا کتابونه بار کړی شوي وي خو هیڅ ګټه ترې نه شي پورته کولی او په اهمیت باندې یې بالکل نه پوهېږي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۳۱

(۲) لسان العرب ج۴ ص۳۷۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په دې مقام کښې د تشبیه دپاره د نورو څارويو څخه د خرو ذکر ته تخصیص ورکړی شوی دی؟

مونږ وايو ـوالله ﷻ اعلمـ چې د خرو د تخصیص وجې به دا وي:

الف: خر په حماقت کښې ضرب المثل دی او په ټولو محاورو کښې په حماقت سره شهرت لري.

ب: خر د نورو څارويو په نسبت د افراط او تفريط درلودونکی دی، چې په مشروباتو کښې افراط کوي او زيار باسي چې د څمکې څخه اولنی راخوټېدونکې اوبه وڅښي او غابنونه ورته کلک کړي چې خلی يې تېر نه شي، او کله چې د اوبو د څښلو څخه فارغ شي سمدستي پکښې متيازې کوي.

خو په ماکولاتو کښې د تفريط خاوند دی چې د قاذوراتو او پلېتو شيانو په خوراک باندې هم صرفه نه کوي.

همدارنګه يهودان د خپلو ځانونو په هکله افراط کوي چې نبوت او جنت ته په خپلو ځانونو پورې اختصاص ورکوي، او د نورو خلکو په ارتباط د تفريط څخه کار اخلي چې ټول ورته دوزخيان برېښي او حتی د نورو خلکو د مالونو خوراک ته هم د جواز لقب ورکوي چې مونږ ورباندې نه نيولی کېږو.

## يادونه

۳ـ د همدې ايت مضمون يوه شاعر په خپلو اشعارو کښې داسې ځای په ځای کړی دی چې[۱]:

عبادت د رياکار څه په کار نه دی :: لکه غوک غوندې په بحر کښې مردار شو

علميت د بې عمله عالمانو :: لکه ګنج د کتابونو په خره بار شو

## هېر مو نه شي

۴ـ هېر مو نه شي چې د دې مقام د [۶، ۷] ايتونو مضمون په وړاندې [البقرة:۹۴، ۹۵] ايتونو کښې بنه مشرح تېر شوی دی والحمد لله ﷻ، چې بيا شرحه کول يې کتاب اوږدوي، نو هيله ده چې هملته يو ځل مراجعه وکړی شي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ

وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ۝٩ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ

فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝١٠ وَإِذَا رَأَوۡاْ

---

(۱) د عبد الرحمن مومند ديوان ص۱۵۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تِجَٰرَةً أَوْ لَهْوًا ٱنفَضُّوٓا۟ إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمًا ۚ قُلْ مَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ ٱللَّهْوِ وَمِنَ ٱلتِّجَٰرَةِ ۚ

وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿١١﴾

[۹] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! کله چې د جمعې په ورځ کښې د لمانځه دپاره اواز (اذان) وکړی شي نو تاسو د الله ﷻ د ذکر (خطبې او لمانځه) اهتمام وکړئ او بیه (راکړه ورکړه) پرېږدئ.

دغه کار ستاسو دپاره بهتر دی که تاسو یاست (چې په خیر او شر باندې) پوهېږئ.

[۱۰] نو کله چې لمونځ اداء کړی شو نو تاسو په ځمکه کښې خواره شئ او د الله ﷻ د فضل لټه پلټنه وکړئ، او (په دغه حال کښې هم) الله ﷻ ډېر یاد کړئ، شاید چې تاسو فلاح (کامیابي او خلاصي) مونده کړئ.

[۱۱] او کله چې (ځینې کسان د) تجارت (قافله) یا نغاره وګوري (پرې پوه شي) نو هغې ته په داسې حال ورخورېږي (او ورجدا کېږي) چې تا په خطبه باندې ولاړ پرېږدي.

ته (ورته) ووایه چې د نغارې او هم د تجارتي قافلې څخه هغه څه بهتر دي کوم چې د الله ﷻ په نزد شتون لري (چې د اجرونو او ثوابونو څخه عبارت دی).

او الله ﷻ د ټولو روزي ورکوونکو (حقیقي دی او که مجازي) بهتر روزي ورکوونکی دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې هغه صورت حال نزول موندلی وه په کوم چې یهودانو ته د خرو سره تشبیه ورکړه شوې وه. او په دې ایتونو کښې هغه صورت حال ته اشاره کېږي په کوم کښې چې د آخر الزمان امت ځینې کسان په حماقت کښې د خرو سره شباهت مونده کوي. او دا څکه چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «مَنْ تَكَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَهُوَ كَمَثَلِ الْحِمَارِ»[۱] یعني هرڅوک چې د جمعې په ورځ په داسې حال خبرې کوي چې امام په خطبه باندې مشغول وي، نو هغه (په حماقت کښې) د خره ګوندې دی.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! خپل امت مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

۱ ـ ای مؤمنانو! تاسو د جمعې د لمانځه او خطبې په ارتباط لاندې ارشادات په عمل کښې پیاده کړئ ترڅو د خرو سره د شباهت څخه بچ پاتې شئ:

الف: کله چې د جمعې په ورځ د لمانځه دپاره اواز (اذان) وکړی شي نو تاسو سمدستي ورکړه راکړه او ټول معاملات پرېږدئ او د الله ﷻ ذکر ته هڅه او زیار وباسئ. یا په بل عبارت تاسو خپله

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۲۹۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ټوله توجه د خطبې اورېدلو او د لمانځه اداء کولو ته واړوئ او د دغو دواړو څخه په غیر د بلې هرې معاملې څخه صرف نظر وکړئ.

ب: د معاملاتو او راکړې ورکړې څخه درته ذکر شوی خط السیر بهتر دی چې خطبه په غور سره واورئ او د ټولو ارکانو سره لمونځ اداء کړئ. البته که تاسو یاست چې په خپله ګټه او تاوان باندې پوهېږئ نو ذکر شوی ارشاد عملي کړئ.

۲ـ نو کله چې د جمعې لمونځ اداء کړی شو نو بیا تاسو ته د راکړې ورکړې اجازه ده چې په ځمکه کښې خواره شئ او د الله ﷻ فضل (حلال رزق) ولټوئ او لاس ته یې راوړئ خو په دغه وخت کښې هم الله ﷻ زښت ډېر یادوئ ترڅو ستاسو زړونه مطمئن کړي او د بریالیتوب مقام ته مو ورسوي، تاسو په یاد ولرئ چې د الله ﷻ ذکر تاسو د حرامو څخه بچ کوي او د حلال رزق په لټون کښې مو توفیق په برخه کوي.

۳ـ ای پیغمبره! ذکر شوي ارشادات د دې کبله په خپل امت باندې قرائت کړه چې: ستا په امت کښې داسې کسان هم شته چې کله تجارتي قافله وګوري چې راغله او یا د تجارتي قافلې د راتګ نغاره او ډول واوري، نو سمدستي هغې ته ورخورېږي او تا په خطبه باندې ولاړ پرېږدي.

۴ـ نو د دې دپاره چې ذکر شوي کسان دوهم ځل دغه کړنلاره خپله نه کړي ورته ووایه چې:

ای تجارتي قافلې ته ورخورېدونکو کسانو! کوم اجرونه او ثوابونه چې د الله ﷻ په نزد ستاسو دپاره په لمانځه او د خطبې په اورېدلو کښې مرموز دي هغه ستاسو دپاره د تجارتي قافلې د نغارې او پخپله د تجارتي قافلې څخه بهتر او غوره دي، او دا ځکه چې دا فاني دي او هغه باقي دي.

او برسېره په دې روزۍ په منډو تړلو نه مونده کېږي بلکې الله ﷻ د ټولو روزۍ ورکوونکو بهتر روزي ورکوونکی دی.

## توضیحات

۱ـ د جُمعې د لمانځه په اړه ځینو مفسرینو کرامو[۱] او فقهاوو کرامو[۲] زښت ډېر اوږده بحثونه لیکلي دي، مونږ دلته فقط د هغو ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو کوم چې د ایت تفسیر سره ډېرې نژدې اړیکې لري، هغه دا چې:

الف: که څه هم په ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ﴾ کښې د تغلیب په توګه زنانه مؤمنانې هم شمولیت موندلی شي مګر په دې مقام کښې ټول فقهاء کرام متفق دي چې ایت شریف زنانه وو او مسافرینو ته شامل نه دی نو په دغو دواړو ډلو باندې د جُمعې لمونځ فرض نه دی[۳].

ب: د ﴿ نُودِىَ ﴾ کلمه د "نِدَاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې د اواز معنی ورکوي، خو دلته ترې

---

(۱) تفسیر الخازن ج۶ ص۱۲۶؛ تفسیر المظهري ج۹ ص۲۸۰؛ احکام القران للجصاص ج۳ ص۴۴۳

(۲) الفقه الاسلامي وادلته ج۲ ص۲۵۹ـ ۳۱۴

(۳) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۴۴۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



آذان: مراد دی په لاندې تفصیل سره[۱]:

اول: د نبي کریم ﷺ د زمانې څخه د عثمان رضي الله عنه (دریم خلیفه) تر زمانې پورې د جُمعې د لمانځه دپاره فقط هغه یوه اذان صورت نیوه کوم چې د خطبې د پیل په وخت کښې د خطیب په وړاندې صورت نیسي.

دوهم: کله چې د مؤمنانو شمېر ډېر زیات شو نو دریم خلیفه رضي الله عنه د ذکر شوي آذان څخه وړاندې په یوه بل آذان باندې هم ارشاد وفرمایه، چې دغه اذان د صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه هیچا هم رد نه کړ.

نو دغه اذان کوم چې نن سبا په اول کښې صورت نیسي په تشریع کښې دوهم دی، او دوهم آذان ـچې د خطیب په وړاندې صورت نیسي ـ په تشریع کښې اول دی.

دریم: څه لرې نه ده چې د ﴿ نُودِيَ ﴾ کلمه دواړو اذانونو ته شامله وګڼو، البته په دومره تفاوت سره چې دغه کلمه به اولني اذان ته په عبارة النص سره شامله وي او دوهم عثماني اذان ته به په اشارة النص سره شمولیت ولري.

ج: په ﴿ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ ﴾ کښې د "مِنْ" توری د "فِي" معنی ورکوي[۲]، چې حروف جاره ځینې د ځینو په معنی استعمالېږي.

د: د جُمعې د ورځې په فضائلو کښې د نبي کریم ﷺ څخه ډېر احادیث روایت شوي دي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: «إِنَّ مِنْ أَفْضَلِ أَيَّامِكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ»[۳] یعنې یقینًا ستاسو د ډېرو بهترو ورځو څخه د جُمعې ورځ ده.

دوهم: «إِنَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ سَيِّدُ الْأَيَّامِ وَأَعْظَمُهَا عِنْدَ اللهِ وَهُوَ أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ مِنْ يَوْمِ الْأَضْحَى وَيَوْمِ الْفِطْرِ»[۴] یعنې یقینًا د جمعې ورځ د ورځو غوره ورځ ده او د الله ﷻ په نزد لویه ورځ ده، دغه ورځ د الله ﷻ په نزد د لوی اختر د ورځې څخه او د واړه اختر د ورځې څخه لویه ورځ ده.

هـ: یهودو او نصاراوو دغه غوره ورځ غلطه کړه او د خالي او یکشنبې ورځې يې غوره وګڼلې خو مونږ د الله ﷻ په فضل پوره وپېژندله، چې تفصیل يې د احادیثو په رڼا کښې د [النحل:۱۲۴] ایت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

و: د ﴿ فَٱسۡعَوۡاْ ﴾ کلمه د "سَعْيٌ" ـلکه "ضَرْبٌ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ځغاستې او کوښښ دواړو په معناووسره استعماله شوې ده[۵]، خو په دې مقام کښې يې دوهمه معنی مطلب ده او دا څکه چې نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِذَا سَمِعْتُمُ الْإِقَامَةَ فَامْشُوا إِلَى الصَّلَاةِ وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ وَالْوَقَارُ وَلَا

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۶۶
(۲) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۹۷
(۳) سنن النسائي ج۱ ص۱۰۳
(۴) سنن ابن ماجه ص ۷۶
(۵) مفردات الراغب ص۲۳۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تُسْرِعُوا فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا»[١] يعني كله چې تاسو اقامت (يا اذان) واورئ نو په ارامۍ سره لمانځه ته ورتګ وکړئ او (په دغه وخت کښې) په تاسو باندې ارامي او وقار لازم دی، او تاسو (لمانځه ته) منډې مه وروهئ (مه ورخغلئ)، نو کوم لمونځ چې تاسو مونده کړ هغه اداء کړئ او کوم چې ستاسو څخه فوت شوی وه نو هغه پوره کړئ.

ز: که څه هم ﴿ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ ﴾ کښې د "ذِکْر" کلمه ځينو علماوو کرامو په خطبې او ځينو نورو په لمانځه سره تفسيره کړې ده[٢]، مګر که دواړه تفسيرونه د بدليت په لحاظ اراده کړی شي هم څه باک يې نشته چې دواړه سره څه منافات نه لري.

ح: څرنګه چې د ﴿ ذِكْرِ ٱللَّهِ ﴾ کلمه مطلقه نازله شوې ده او په يوه خای يا ډېرو خايونو باندې نه ده مقيده شوې نو ځکه د ضرورت په بنياد علماء کرام جائز ګڼي چې په متعددو جوماتونو کښې د جُمعې لمونځ اداء کړی شي[٣].

ط: په ﴿ وَذَرُواْ ٱلْبَيْعَ ﴾ کښې د "بَيْع" د کلمې څخه په دې مقام کښې يوازې خرڅول مطلب نه دي بلکې دغه کلمه دلته هغو ټولو کارونو ته شامله ده کوم چې ذکر الله ته د کوښښ مخه نيسي[٤].

## سوالونه او جوابونه

٢ـ په دې مقام کښې لاندې ځېرنې په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: که څوک وايي چې: د جُمعې لومړنی لمونځ د چا په امامت او په کوم خای کښې اداء کړی شوی دی؟

مونږ وايو چې: د جُمعې اولنی لمونځ په مدينه منوره کښې د السعد بن زراره ﷺ په کومک او د مصعب بن عمير ﷺ په امامت اداء کړی شوی دی، البته دا هغه وخت وه چې د مکې معظمې څخه هجرت پيل شوی وه خو نبي کريم ﷺ شخصاً هجرت نه وه کړی[٥].

ب: که څوک وايي چې د ﴿ وَإِذَا رَأَوْاْ تِجَٰرَةً ﴾ الآية- شان نزول څنګه وه؟

مونږ وايو چې: د دغه ايت د شان نزول خلاصه په لاندې ټکو کښې وړاندې کېږي:

اول: د جُمعې ورځ وه او نبي کريم ﷺ په ولاړه خطبه لوسته چې ناڅاپه نغاره وډنګوله شوه چې د شام څخه قافله راغله او خوراکي شيان يې راوړه.

دوهم: په دغه وخت کښې د خوراکي شيانو ډېر کمی وه، نو د خبر په اورېدلو سره اکثرو صحابه کرامو ﷺ د قافلې خوا ته وخغاستل. د روايتونو په اختلاف سره فقط دولس کسان پاتې شول

---

(١) صحيح البخاري ج١ ص٨٨

(٢) تفسير القاسمي ج١٦ ص١٦٢

(٣) الفقه الاسلامي وادلته ج٢ ص٢٨١؛ تفسير المظهري ج٩ ص٢٩٢

(٤) تفسير ابي السعود ج٨ ص٢٤٩

(٥) الدر المنثور ج٨ ص١٥٧، تفسير القرطبي ج١٨ ص٩٨، اللباب في علوم الكتاب ج١٩ ص٨٢

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دريم: نو په دغه وخت کښې همدغه ايت نازل شو[۱] په کوم کښې چې بحث روان دی.

ج: که څوک وايي چې: په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ تِجَٰرَةً ﴾ کلمه د ﴿ رَأَوۡاْ ﴾ دپاره مفعول واقع شوې ده حال دا چې ﴿ تِجَٰرَةً ﴾ خو مصدر دی چې په سترګو باندې نه ليده کېږي؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې د سترګو ليدل مطلب نه دي بلکې قلبي ليدل مطلب دي چې په علم سره ترې تعبير کېدلی شي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په دې مقام کښې مفسرينو کرامو د ﴿ لَهۡوًا ﴾ کلمه په "تغارې" سره تفسيره کړې ده[۲]، البته هغه نغاره په کومې سره به چې د قافلې د راتګ اعلان صورت نيوه او په ډنګولو سره به پرې ټول خلک خبرول کېدل.

د: که څوک وايي چې "انْفِضَاض" څه معنی چې د ﴿ ٱنفَضُّوٓاْ ﴾ کلمه ترې اشتقاقه شوې ده؟

مونږ وايو چې: د "اِنْفِضَاض" کلمه ـ چې د "اِنْصِرَاف" په وزن ده ـ د خورېدلو او جدا کېدلو معنی ورکوي[۳]. يـعنې کله چې خطبې ته ناست کسـان د قافلې په راتګ پوه شوه نو سمدستي هغې ته ورخواره شوه او د خطبې د اورېدلو څخه جدا شوه.

ه: که څوک وايي چې په دې کښې څه حکمت دی چې په ﴿ إِلَيۡهَا ﴾ کښې يوازې د ﴿ تِجَٰرَةً ﴾ دپاره ضمير نازل شوی دی او "اِلَيْهِمَا" نه دی نازل شوی ترڅو ﴿ تِجَٰرَةً ﴾ او ﴿ لَهۡوًا ﴾ دواړو ته راجع شوی وي، حال دا چې هغوی خو دواړو ته ورغځلېدلي وه؟

مونږ وايو: څرنګه چې په ځغاسته کښې يوازې تجارتي قافله مطلب وه نه نغاره، نو ځکه يوازې همدغې مطلبې مرجع ته ضمير نازل کړی شوه او بس[۴]، والله ﷻ اعلم.

و: که څوک وايي: ايا ذکر شوی (د شان نزول) کيفيت د صحابه وو کرامو ﷺ سره مناسب وه چې اکثريت يې تجارتي قافلې ته ورووځغلېدل او نبي کريم ﷺ يې په خطبه باندې ولاړ پرېښود؟

مونږ وايو: دغه سوال په يوه حديث کښې ډېر ښه جواب شوی دی، چې څه لنډيز يې دا دی:

اول: په اولو وختونو کښې نبي کريم ﷺ د جُمعې لمونځ هم د اخترونو د لمونځ غوندې د خطبې څخه وړاندې اداء کاوه.

دوهم: په دغه وخت کښې صحابه وو کرامو ﷺ ګومان نه کاوه چې د لمانځه د اداء کولو څخه وروسته به د خطبې په نه اورېدلو سره چاته د ملامتۍ ګوته ونيوله شي.

دريم: نو د همدې کبله هغې قيصې صورت ونيوه کومې ته چې په شان نزول کښې اشاره شوې ده.

څلورم: «فَقَدمَ النَّبِيُّ ﷺ الْخُطْبَةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَأَخَّرَ الصَّلَاةَ»[۵] يعنې نو نبي کريم ﷺ د جُمعې په ورځ

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۲۸۴؛ صحيح البخاري ج۲ ص۷۲۷

(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۴۵۰

(۳) مفردات الراغب ص۳۹۵

(۴) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۱۴

(۵) کتاب المراسيل لابي داود السجستاني ص۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د لمانځه څخه خطبه وړاندې کړه او د لمانځه اداء کول یې وروسته کړه، چې د قیامت تر ورځې پورې همدغه صورتحال جاري دی.

ز: که څوک وایي چې: د ذکر شوي ایت د نزول څخه وروسته د صحابه وو کرامو ﷺ وضعه څنګه وګرځېده؟

مونږ وایو چې د دغه ایت څخه وروسته الله ﷻ د صحابه وو کرامو ﷺ وضعې ته اشاره کړې ده چې: ﴿ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَٰرَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ ﴾ [النور:۳۷] یعني الله ﷻ ته سبا او بېګاه په جوماتونو کښې دا سړي تسبیحات وایي چې د الله ﷻ د ذکر څخه او د لمانځه د درولو او هم د زکات د ورکولو څخه یې نه تجارت مشغولوي او نه خرڅول او اخستل.

ح: که څوک وایي چې: په ﴿ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴾ کښې د ﴿ خَيْرُ ﴾ د کلمې د اضافت څخه څرګندېږي چې روزي ورکوونکي ډېر دي خو الله ﷻ یې بهتر دی، حال دا چې روزي ورکول خو فقط په الله ﷻ پورې اختصاص لري؟

مونږ وایو چې: د مجاز په توګه د "رَازِقِين" د کلمې اطلاق په مخلوق باندې هم صورت نیسي، لکه چې د ﴿ وَٱرْزُقُوهُمْ ﴾ [النساء:۵] ایت څخه د اشارې په توګه معلومېږي یعني تاسو ساده ګانو ته د هغوی په مالونو کښې روزي ورکړئ. نو په دې مقام کښې د همدغه مجازي اطلاق په بنیاد د ﴿ خَيْرُ ﴾ کلمه د ﴿ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴾ کلمې ته مضافه نازله شوې ده.

د "الجُمُعَة" سورت ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا خَيْرَ الدَّارَيْنِ. آمِينَ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ.

۱۴۲۵/۴/۲۷ هـ ق - ۱۳۸۳/۴/۲۴ هـ ش.

# المنافقون (٦٣)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت (الْمُنَافِقُون) نوم د همدې سورت په لومړي ایت کښې نازل شوی دی او په همدې نامه باندې د نورو سورتونو څخه جدا کړی شوی دی.

۲_ دا سورت بالاتفاق مدني دی او د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی[1].

۳_ د دې سورت د ایتونو شمېر فقط یوولس (۱۱) دی[1]، د کلماتو شمېر یې یوسلو اتیا (۱۸۰) دی[3] او د حرفونو شمېر یې اوه سوه او شپږ اویا (۷۷۶) حرفونو ته رسېږي[4].

۴_ د دې سورت محتویات په عمده توګه په دوه وو مطلبونو باندې اشتمال لري

یو د منافقانو د خاصیتونو شرحه او د دوی پېژاندنه، او بل د مخلصو مؤمنانو ترغیب او تحضیض چې د منافقانو د خاصیتونو څخه خپل ځانونه بچ وساتي او په اطاعت او د الله ﷻ په لار کښې په انفاق باندې زور واچوي

۵_ د دې سورت (الْمُنَافِقُون) او د وړاندېني سورت (الْجُمُعَة) د اړیکو لاندې دوه مثالونه وړاندې...

الف: په وړاندېني سورت کښې د مخلصو مؤمنانو د حالاتو بیان ته اشاره شوې ده او په دې سورت کښې د هغوی د اضدادو (منافقانو) حالات بیانېږي.

ب: هلته مؤمنانو ته توصیه شوې وه چې د الله ﷻ ذکر ته په اهتمام سره ورشي او د جمعې د لمانځه او د خطبې د اورېدلو څخه په راکړه ورکړه مشغول ونه ګرځي.

په دې ایتونو کښې همدغه مطلب تعقیب شوی دی چې باید مؤمنان په مالونو او اولادونو سره د ذکر الله څخه په غفلت کښې واقع نه شي.

## د سورت شان نزول

۶_ دا سورت ټول په یو ځل نازل شوی دی[5] او په شان نزول کښې یې ځینو محدثینو کرامو ډېر اوږد حدیث روایت کړی دی[6] او ځینو علماوو کرامو دغه د شان نزول قیصه ښه پوره په تفصیل او ترتیب سره لیکلې ده[7]، چې مونږ یې دلته لاندې څو ټکې رانقلوو:

الف: د بني المصطلق په غزا کښې د منافقانو مشر (عبدالله بن أبي ابن سلول) او د ده ملګرو هم د غنیمت په خاطر ګډون کړی وه.

ب: د سفر په اوږدو کښې د نوموړي (رئیس المنافقین) یو ملګری د یوه مجاهد سره په شخړه...

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۱۰۰
(۲) تفسیر الطبري ج۲۸ ص۱۰۶
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۲۶۹
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۱۰۰
(۵) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۱۵
(۶) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۷
(۷) تفسیر البغوي ج۴ ص۳۴۸؛ سیرت ابن هشام ج۲ ص۳۳۳

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



تښتي په سر باندې تيږي شو او وينې ترې روانې شوې.

ح. کله چې نوموړی خبر شو نو د خپل ملګري په تيږي کېدو ډېر په غصه شو او د مجاهدينو په مکله يې ډېرې سپکې سپورې خبرې وکړې چې په ايتونو کښې ورته اشاره شوې ده.

ط. دغه خبرې يوه ماشوم صحابي (زيد بن ارقم ﷺ) واورېدلې او نبي کريم ﷺ ته يې ورسولې.

ي. نبي کريم ﷺ نوموړی (د منافقانو مشر) وپوښت چې دا ولې؟

نوموړی په تپه منکر شو او په سوګندونو سره يې وويلې چې ما دا خبرې نه دي کړي، دغه ماشوم يا غلط شوی دی او يا يې راباندې دروغ ترلي دي.

ك. نبي کريم ﷺ د نوموړي (عبدالله بن ابي بن سلول) په سوګندونو باندې باور وکړ او د ملامتيه کولو مخه يې ترې واړوله.

ل. خو الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته د دغه سورت په نزول سره وحي وکړه او د ماشوم صحابي (زيد بن ارقم ﷺ) خبرې يې تصديقې کړې، چې څه تفصيل يې ـ ان شاء الله ﷻ ـ راروان دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُنَٰفِقُونَ قَالُوا۟ نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ
إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ﴿١﴾ ٱتَّخَذُوٓا۟ أَيْمَٰنَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا
كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ ثُمَّ كَفَرُوا۟ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٣﴾
وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ ۖ وَإِن يَقُولُوا۟ تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ۖ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۖ
يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ۚ هُمُ ٱلْعَدُوُّ فَٱحْذَرْهُمْ ۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُ ۖ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٤﴾﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[١] (اى پيغمبره!) کله چې تاته منافقان درشي نو وايي چې: مونږ شهادت ورکوو (او په اخلاص سره وايو چې): يقيناً ته هرومرو د الله ﷻ استولی شوی بنده يې.

او الله ﷻ پوهېږي چې يقيناً ته د ده ﷻ استولی شوی بنده يې او الله ﷻ شهادت ورکوي چې يقيناً منافقان (په قلبي اخلاص کښې) ضرور دروغژنان دي.

[٢] منافقانو خپل سوګندونه (او شهادتونه) ډالونه نيولي دي (او خپل ځانونه پرې ساتي) نو (په دغو دروغينو سوګندونو سره غواړي چې) د الله ﷻ د لارې څخه نور کسان واړوي (او جهاد ته ې پرېنږدي).

يقيناً منافقان چې دي ډېر بد کار هغه دی چې دوی ورباندې لګيا دي چې عملي کوي يې ( چې هغه کار دروغين سوګندونه کول دي).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳] دغه (بد عمل ته) په دې سبب (عملي بڼه ورکوي) چې يقيناً دوی په خوله ايمان راوړی (او بيا (قلبي) کفر ته ادامه ورکوي، نو الله ﷻ د دوی په زړونو باندې مهر لګولی دی (او د نيکۍ استعداد يې ترې اخستی دی) نو دوی زيرکي (او پوهه) نه شي پياده کولی (چې خپل خير او شر وسنجولی شي).

[۴] او (ای پيغمبره!) کله چې ته منافقان وګورې نو د دوی جسمونه (او ښايسته څېرې) تا په تعجب کښې اچوي (چې څومره ښايسته څېرې لري)، او که دوی خبرې کوي نو ته يې خبرو ته غوږ ږدې (چې څومره په فصاحت ګړېږي).

(حقيقت دا دی چې) يقيناً منافقان د داسې وچو لرګيو غوندې دي چې (دېوال ته) درولی شوي وي (او د ډول او سنګار څخه په غير بله څه ګټه ورباندې مرتبه نه وي).

دوی (د بې زړه توب او خيانت د کبله) په هره چيغه (او اواز) باندې ګومان کوي چې (دا) د دوی په ضرر دی.

دوی (د الله ﷻ او د مؤمنانو) دښمنان دي نو ته ترې ويدار شه (او باور پرې مه کوه).

الله ﷻ دې دوی (په معنوي هلاکت سره) هلاک کړي (لعنت دې پرې ووروي)، دوی څنګه (د سمې لارې څخه) اړولی کېږي؟!.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني سورت (الْجُمُعَة) په وروستني ايت کښې دې ته اشاره وه چې ای مؤمنانو! تاسو د ايمان په غوښتنه د خپل پيغمبر ﷺ تعظيم وکړئ او په نغارو او تجارتي قافلو باندې مه مشغولېږئ.

د دې سورت په ذکرو شوو ايتونو کښې همدغه مضمون تعقيب شوی دی چې د پيغمبر ﷺ عدم تعظيم د منافقانو کار دی او مخلصو مؤمنانو ته د دغه عمل څخه اجتناب ضرور دی. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته په خپل امت باندې د منافقانو څه خاصيتونه قرائت کړه ترڅو دوی د دغو خاصيتونو د خپلولو څخه ډډه وکړي. هغه دا چې:

۱ـ کله چې منافقان تا ته راشي نو وايي چې مونږ شهادت ورکوو او په سوګند سره وايو چې بې شکه ته په حقه پيغمبر يې او مونږ درباندې په اخلاص سره ايمان راوړی دی.

ای پيغمبره! بې شکه ته په حقه پيغمبر يې او الله ﷻ پوهېږي چې ته رښتيانی پيغمبر يې، خو الله ﷻ شهادت ورکوي چې يقيناً منافقان دروغژنان دي، او دا خکه چې دوی د ايمان او اخلاص دعوه کوي او دغه دعوه يې دروغژنه ده، نه په تاباندې ايمان لري او نه يې په عقيده کښې اخلاص شته دی.

۲ـ منافقان د سوګندونو څخه د ډال کار اخلي او د خپلو ځانونو څخه پرې دفاع کوي، ترڅو په مجاهدو او څرګندو کفارو کښې ونه شمېرلی شي چې جهاد به ورسره پيل شي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



برسېره په دې منافقان غواړي چې په خپلو سوګندونو سره ساده لوحي مؤمنان د الله ﷻ د لارې څخه واړوي چې جهاد ته لاړ نه شي او یا د همدوی طریقه خپله کړي.

۳ـ نو منافقانو چې کومه تګلاره خوښه کړې ده او کوم کار ته چې عملي بڼه ورکوي هغه ډېره بده تګلاره او بد کار دی چې په دنیا او آخرت کښې د دوی په ضرر تمامېږي.

۴ـ ای پیغمبره! منافقانو ذکر شوی خط السیر د دې کبله خپل کړی دی او ګلک وربانديې ولاړ دي چې دوی یو ځل د خلکو په څېر ایمان راوړ او طیبه کلمه یې وویلې خو په مقتضی بانديې باقي پاتې نه شوه بلکې بېرته یې کفر غوره کړ او کفري خبرو ته یې ادامه ورکړه. یا په بل عبارت خپل باطني کفر یې د خلکو په وړاندې په کفري خبرو سره په ډاګه کړ.

نو الله ﷻ ورته په زړونو بانديې مهر ولګاوه او د نېکۍ استعداد یې ترې واخست. که بالفرض دوی کفر ته ادامه نه وی ورکړې نو الله ﷻ به یې په زړونو بانديې مهر نه وی لګولی. لنډه دا چې منافقان پوهه او زیرکي نه لري که نه نو خپله دنیا او خپل آخرت به یې نه وی خراب کړی.

۵ـ ای پیغمبره! د منافقانو څه نور کیفیات دا دي:

الف: کله چې منافقان تاته راشي او ته یې ښایسته څېرو او سوجه ږیرو او بالآخره ډولي لباسونو ته وګورې نو ته ورته په تعجب او حیرانتیا کښې پرېوځې، چې دا څومره ښایسته خلک دي نو ایا دوی به د دغو ښایسته ږیرو او ښایسته څېرو سره-سره دروغ وایي؟

ب: چې کله دوی ستا په حضور کښې فصیحې او بلیغې خبرې پیل کړي نو ته یې خبرو ته غوږ ږدې او په دقت سره یې اورې، بلکې د دوی خبرې تاته د دروغژنانو خبرې نه برېښي.

ج: منافقان هغو وچو لرګیو ته ورته دي کوم چې دېوال ته درولی شوي وي او ښه ډولي برېښي خو څه ګټه پرې مرتبه نه وي، چې نه ستنې وي چې چت وربانديې ولاړ وي او نه په کوټه بانديې اېښودلي شوي وي چې لاندې ترې خلک ژوند وکړي.

د: د منافقانو باطني حالت دا دی چې دوی ډېر سخت ډارېږي او هر اواز ته د خپلو ځانونو په ضرر ګوري. دوی ګرې په ګرې د خپلو خیانتونو او تګیو د راڅرګندېدلو څخه په وېره کښې دي. خو دغه وېره او ډار ورته هېڅ ګټه نه شي رسولی بلکې الله ﷻ یې د ټولو باطني حالاتو څخه پرده پورته کوي.

ه: لنډه دا چې منافقان د الله ﷻ او د پیغمبر ﷺ او بلکې د ټولو مؤمنانو دښمنان دي خو دښمني یې په زړونو کښې پټه ساتلې ده، نو ته او ستا امت ترې په ډار کښې اوسئ.

و: په دغو منافقانو بانديې د الله ﷻ لعنت وي او الله ﷻ دې دوی په معنوي هلاک سره هلاک کړي. د دې سره-سره چې الله ﷻ یې په ټولو ظاهري او باطني حالاتو بانديې خبر دی دوی څنګه او کوم لور ته اړولی کېږي؟

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: د منافقانو دا خبره چې ﴿ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِ ﴾ خو رښتیا ده او نبي کریم ﷺ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په حقه د الله ﷻ را استولی شوی وه، نو په څه وجه الله ﷻ هغوی دروغژنان وبلل چې: ﴿ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ﴾ یعنې او الله ﷻ شهادت ورکوي چې یقیناً منافقان دروغژنان دي؟

موږ وایو چې: دلته د منافقانو د کلام مضمون نه دی تکذیب شوی ترڅو اعتراض وارد شي، ځکه دې کلمه وړاندې الله ﷻ صراحت کړی دی چې: ﴿ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ ﴾ یعنې او الله ﷻ پوهیږي چې یقیناً ته هرومرو د ده ﷻ استولی شوی یې.

بلکې دلته د منافقانو هغه دعوه تکذیبه شوې ده چې د هغوی د کلام د ﴿ نَشْهَدُ ﴾ د کلمې څخه څرګندیږي، هغه دا چې موږ بوازې په خولو سره ستا په رسالت اقرار نه کوو بلکې موږ په همدې خبره په زړونو کښې هم باور لرو او پرې معتقد یاستو، بلکې موږ په سوګند سره وایو چې ته په حقه پیغمبر یې.

همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ وَيَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنكُمْ وَمَا هُم مِّنكُمْ وَلَٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ ﴾ [التوبة: ۵۶] یعنې او منافقان په الله ﷻ سوګند یادوي چې یقیناً دوی ستاسو د جملې څخه دي حال دا چې دوی ستاسو د جملې څخه نه دي مګر دوی داسې قوم دی چې ډاریږي (د ډاره د ایمان دعوه کوي).

## په څېرو او ږیرو مه غولیږئ

۲ـ په ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې د منافقانو د زړونو باطني حالاتو د هغوی د ظاهري څېرو سره شدید اختلاف درلود، تردې چې نور خلک لا څه چې پیغمبر ﷺ په هم وړاندې تېر وتلی وی که بالفرض د الله ﷻ ارشادات یې ملګري نه وی.

همدغه حالات لاندې شاعرانو په خپلو اشعارو کښې څومره ښه-ښه انځور کړي دي:

الف: یو عربي شاعر وایي چې[1]

لَا يَخْدَعَنَّكَ اللُّحَى وَلَا الصُّوَرُ :: تِسْعَةُ أَعْشَارِ مَنْ تَرَى بَقَرُ

یعنې تا لره دې ږیرې او څېرې ونه غولوي، ځکه کوم کسان چې ته یې ګورې د هغوی په لسو کښې نهه برخې غوایان دي.

ب: یو پښتون شاعر وایي چې[2]

هن: توبه د فریبیانو :: لکه زورند چاود ګمر
لکه زړی په میوه کښې :: درون سنګ بیرون ثمر
لکه یې لاسه لستوني :: سر تر پایه پای تر سر
لکه یې نمکه شاوږې :: چې په سر ګاندې مېزر
د مېزر لاندې چا څه زده :: چې دختر ده که مادر

---

[1] تفسیر روح المعاني ج۲۸ ص۱۱۶
[2] د عبد الرحمن مومند دیوان ص ۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دستار کښې یې مسواک وي :: تر بغل لاندې خنجر
په شپه وینې د مظلوم خوري :: سبا کیني په ممبر
په زړه تور لکه تبې وي :: په مخ سپین لکه قمر
د دنیا په طلب ګرځي :: او ځان بولي قلندر
کلیمه په ژبه وایي :: په زړه نه لري باور
په مثال د منافقو :: نه مسلم وي نه کافر
نه مسلم وي نه کافر وي :: نه پخلا نه مرور
په کوڅه د دنیادارو :: ګوخورګي کا لکه خر
دا بیان دور و دراز دی :: رحمان وکړ مختصر

نوموړی شاعر د خپل دیوان په بل ځای کښې وایي چې[۱]:

چې بي خدایه محبت کا هغه خلک :: نارینه یې واړه خره او ښځې خرې دي
و سپین ږیرې ته یې مه وایه سپین ږیری :: همګي واړه طفلان د ګوارې دي
هسې وایه چې خرې دي د زنانو :: که یې ایښې په دستار کښې قرقرې دي
نه څه فیض نه څه بهره ځنې مونده شي :: همګي واړه بې فیضه بې بهرې دي
ذخیره د دنیا مه کوه رحمانه :: دا همه واړه د خاورو ذخیرې دي

﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ لَوَّوْاْ رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم
مُّسْتَكْبِرُونَ (٥) سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ
لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ (٦) هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُواْ عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ
حَتَّىٰ يَنفَضُّواْ وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَفْقَهُونَ (٧)
يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ ٱلْأَعَزُّ مِنْهَا ٱلْأَذَلَّ وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ
وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ (٨) ﴾

**[٥]** او کله چې منافقانو ته وویلی شي چې (پیغمبر ﷺ ته) راشئ (او د عفوې غوښتنه ترې وکړئ) ترڅو ستاسو دپاره رسول الله ﷺ (د الله ﷻ څخه) مغفرت وغواړي، نو دوی خپل سرونه تاو کړي او ته یې په داسې حالت کښې ګورې چې (د دعوت د قبول څخه) څنګ کوي حال دا چې دو لوی (تکبر) کوونکي دي.

[۱] د عبد الرحمن مومند دیوان ص ۲۱۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶] (ای پیغمبره!) په منافقانو باندې دا خبره یو برابره ده چې ته ورته د مغفرت غوښتنه کوې او که د مغفرت غوښتنه ورته نه کوې، هیڅکله به الله ﷻ منافقانو ته مغفرت ونه کړي (چې منافق ورته وبښي). یقیناً الله ﷻ فاسق قوم ته لارښوونه نه کوي (چې مطلب ته یې ورسوي. او منافقان فاسق قوم دی ځکه چې:)

[۷] منافقان هغه کسان دي کوم چې (یو تربله سره) وایي چې: تاسو په هغه چا باندې خپل مال مه خرڅ کوئ کوم چې د رسول الله ﷺ په نزد (موجود) دي (او تر شاوخوا یې راټول دي)، ترڅو ترې خواره واره شي.

حال دا چې د اسمانونو او ځمکو خزانې یوازې الله ﷻ لره دي (او بس) مګر منافقان زیرکي نه لري (ترڅو پوه شي چې رازقیت د اسبابو صفت نه دی).

[۸] منافقان وایي چې ضرور که چېرته مونږ مدینې منورې ته ورستانه شوو نو هرومرو به عزتمند خلک د مدینې څخه بې عزته (او خوار) خلک وباسي (او ترې به یې وشړي).

حال دا چې عزت (او قوت)، د الله ﷻ پورې او د ده ﷻ په پیغمبر ﷺ پورې او (بالآخره) په مؤمنانو پورې خاص دی (چې په سترګو لیده کېږي) مګر منافقان نه پوهېږي (او په جهل کښې پراته دي).

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د منافقانو د بدو خویونو څو مثالونه هم قرائت کړه هغه دا چې

۱ـ کله چې په منافقانو باندې دروغجنې وېناوې اثبات شي چې په یقیني توګه هغوی د دروغو مرتکب شوي دي نو ورته ویلی شي چې: ای منافقانو! اوس مو هم د توبې چانس د لاسه نه دی وتلی، هلئ زر شئ؛ د نبي کریم ﷺ په حضور مشرف شئ؛ ترڅو ستاسو دپاره د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړي نو امید دی چې توبه به مو قبوله شي او الله ﷻ به درته مغفرت وکړي.

د دغه وړاندیز د اورېدلو سره سم هغوی خپل سرونه د استهزاء په توګه خوځوي (چې نه جنابه! دا کار به وکړو)، په دغه وخت کښې ته دوی ګورې چې د وړاندیز د قبول څخه په داسې حال کښې مخونه اړوي چې تکبر کوونکي او ملنډې وهونکي وي.

۲ـ ای پیغمبره! څرنګه چې منافقانو خپل د نېکۍ استعداد د لاسه ورکړی دی نو په هغوی باندې برابره ده چې ته ورته مغفرت وغواړې او که یې ورته ونه غواړې، هیڅکله به ورته الله ﷻ مغفرت ونه کړي. ځکه چې الله ﷻ دوامداره فاسق قوم ته لارښوونه نه کوي چې مطلب ته یې ورسېږي او د عذابه یې نجات مونده کړي.

۳ـ د منافقانو د ناکاره اعمالو بل مثال دا دی چې هغوی په خپلو منځو کښې وایي چې

الف: تاسو په هغو کسانو باندې څه مالي انفاق مه کوئ کوم چې د محمد ﷺ په شاوخوا کښې راغونډ شوي دي، یا په بل عبارت د هغه چا په شاوخوا کښې کوم چې خپل ځان د الله ﷻ استازی معرفي کوي.

ب. که تاسو دغه توصیه عملي کړئ نو د شاوخوا څخه به يې خلک خواره واره شي او نوموړي به په انزوا (یوازېتوب) کښې پاتې شي، نوموړي او د ده ملګري خو زمونږ په انفاق باندې دغې مرحلې ته ورسېدل چې د مدينې منورې په اصلي اوسېدونکو باندې يې سر مات کړ او وينې يې پرې رواني کړې.

۴ـ ای پیغمبره! منافقان په ذکر شوي پلان کښې هم په غلطه لاره روان دي او دا څکه چې:

الف. ایا منافقان خپلو خانونو ته پخپله روزي ورکوي او که الله ﷻ د ټولو مخلوقاتو روزي رسان دی؟

ب. حقيقت دا دی چې د اسمانونو او ځمکو خزانې بوازې په الله ﷻ پورې اختصاص لري او هر چا ته هومره روزي ورکوي څومره يې چې اراده وشي.

ج. نو د مهاجرينو او د نبي کريم ﷺ د ملګرو روزي ورکوونکی فقط الله ﷻ دی او بس. مګر منافقان په زيرکۍ سره نه پوهېږي او په خپلو ځانونو باندې د روزي ورکوونکو ګومان کوي. که بالفرض هغوی زيرکي او ذکاوت درلودی نو دغه ګومان به يې نه وی کړی ځکه چې د رزق اسباب موثريت نه لري.

۵ـ بالآخره د منافقانو د بدو خاصيتونو دریم مثال دا دی چې د منافقانو مشر د نورو په نمايندګۍ وايي چې: که چېرته مونږ بېرته مدينې ته ورستانه شو نو مونږ به ضرور او هرومرو مهاجرين له دې وطنه وشړو او ټولو ته به يې مجبور کړو.

يا په بل عبارت عزتمند خلک به (چې مونږ یاستو) ذليله خلک (چې مهاجرين دي) خامخا د مدينې څخه په زور باندې بهر کړي.

۶ـ ای پیغمبره! منافقانو په ذکر شوي خيال کښې هم سمه لاره غلطه کړې ده چې خپل ځانونه عزتمند ګڼي او مهاجرينو ته د بې عزته او ذليلانو نسبت کوي. او دا ځکه چې ټول عزت او قوت په الله ﷻ پورې اختصاص لري او د ده ﷻ پيغمبر ﷺ هم معزز او با عزته دی او بالآخره د عزت درلودونکي خو مخلص مؤمنان دي چې الله ﷻ ورسره په نصرت سره ملګری دی.

مګر منافقان نه پوهېږي چې عزت او قوت نه فقط په خپلو ځانونو پورې اختصاص ورکوي، که بالفرض څه پوهه يې درلودی او په حماقت کښې هغه وی غورزېدلي نو دوی به دغه خبره نه وی کړې. ايا دوی روزمره د مؤمنانو د غلبې او قوت زياتېدلو ته نه ګوري؟

## توضيحات

۱ـ ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ﴾ الآية- يو مشهور صحابي (زيد بن ارقم ﷺ) چې د شان نزول راوي دی او د دې سورت په سريزه کښې ورته اشاره شوې ده ډېر ښه تفسير کړی دی چې وايي: «وَدَعَاهُمْ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ لِيَسْتَغْفِرَ لَهُمْ فَلَوَّوْا رُءُوسَهُمْ»[۱] يعني کله چې الله ﷻ په ﴿إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ﴾ کښې زما

[۱] مسند احمد ج۷ ص۸۸، صحيح مسلم ج۲ ص۳۶۸.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تصدیق نازل کړ (او د منافقانو سوګندونه یې تکذیب کړه) نو نبي کریم ﷺ هغوی راوبلل ترڅو ورته د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړي، خو هغوی خپل سرونه وښورول او بلنه یې قبوله نه کړه.

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي[1] چې هغوی ته د نبي کریم ﷺ څخه په غیر د نورو کسانو د پلوه هم ذکر شوي دعوت صورت نیولی وه مګر هغوی د سرونو په ښورولو سره رد کړی وه.

## هېر مو نه شي

۲ـ هېر مو نه شي چې د همدغه ایت مضمون ته ورته مضمون په [التوبة ۸۰] ایت کښې هم نازل شوی دی، هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## اقتصادي وسله

۳ـ په ﴿ هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ ﴾ الآية- کښې اقتصادي بندیز ته اشاره ده کوم چې په هغه وخت کښې د منافقانو د مشر د پلوه په ډېرو پوچو الفاظو کښې خپلو پیروانو ته توصیه شوي وه هغه دا چې "سَمِّنْ كَلْبَكَ يَأْكُلْكَ"[2] یعني په مونږ باندې دا مثل صادقیږي چې خپل سپی څوربه (چاغ) کړه چې ودې خوري (ودې داړي)، دغه مهاجرین خو په اصطلاح فقط د یوه څادر سره دلته راغلي وه خو زمونږ په اقتصادي کومک مست شول چې اوس راباندې سرونه ماتوي.

دغه اقتصادي وسله نن ورځ[3] امریکایان هم کاروي او په هر هغه مملکت باندې اقتصادي بندیز لګوي کوم چې ورسره د اسلام په له منځه وړلو کښې په اخلاص سره همکاري نه کوي.

د همدې کبله نن په نامه ډېر اسلامي مملکتونه او نن په نامه ډېر مسلمانان په ذکر شوي مطلب کښې د امریکا ملاتړ کوي او ډول ډول نه یې کډیږي. فإنا لله وإنا إليه راجعون.

د همدې موضوع (اقتصادي بندیز) څه وضاحت د [التوبة ۲۸] ایت لاندې تېر شوی دی والحمد لله ﷻ.

## څو نکات

۴ـ په ﴿ يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ لَيُخْرِجَنَّ ٱلْأَعَزُّ مِنْهَا ٱلْأَذَلَّ ﴾ کښې د "اعز" کلمه د "عِزَّة" ـ لکه "شِدَّة" ـ څخه اشتقاق شوې ده. عزت د هغه وايي چې سړی خپل ځان وپېژني او د دنیاوي ګټو وټو دپاره یې سپک او خوار ونه ګرځوي. لکه چې چانه (پرته د مجبوریته) د سوال لاس اوږد کړي او داسې نور.

خو په دې مقام کښې د عزت کلمه د قوت او غلبې معنی ورکوي[4].

---

[1] تفسير القرطبي ج۱۸ ص۱۲۶
[2] سيرت ابن هشام ج۳ ص۳۳۴
[3] ۱۴۲۵/۵/۲۷ هـ ق - ۱۳۸۳/۴/۲۵ هـ ش
[4] تفسير الكشاف ج۴ ص۵۴۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: بالمقابل د "أذلّ" کلمې د "ذِلّة" ـلکه "شِدّة"ـ څخه اشتقاق موندلی دی چې خپل خان د ډنیاوي ګټو وټو دپاره د خوارګرځولو معنی ورکوي، خو په دې مقام کښې دغه کلمه د کمزورۍ څخه کنایې ده.

ج: منافقانو خپل خانونه عزتمند ګڼل او د نبي کريم ﷺ په شمول يې مهاجرينو ته د ذليلانو لقب ورکاوه، حال دا چې خبره بالکل بالعکس وه.

د: د الله ﷻ قوت او غلبه ذاتي ده، د پيغمبر ﷺ غلبه او قوت د رسالت د کبله ده او بالآخره د مؤمنانو قوت او غلبه د ايمان په سبب ده چې الله ﷻ يې په نصرت سره ملګرې دی. نو د همدغه ذکر شوي فرق د کبله د اجليه "ل" توری په ﴿ وَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ کښې درې کرته نازل شوی دی، والله ﷻ اعلم.

هـ: کله چې د منافقانو مشر (عبدالله بن ابي بن سلول) د نورو په نمايندګي ذکره شوې لاپه ووهله او مؤمنانو ته يې اخطار ورکړ، نو عمر الفاروق ﷜ نبي کريم ﷺ ته وړانديز وکړ چې ای د الله رسوله! اجازه راکړه چې د دغه منافق ککرۍ والوزوم.

نبي کريم ﷺ اجازه ورنه کړه او په جواب کښې يې وويلې چې: «دَعْهُ لَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ أَنَّ مُحَمَّدًا يَقْتُلُ أَصْحَابَهُ»[۱] يعنې پرې يې ږده (مه يې وژنه) ترڅو خلک اوازه خوره نه کړي چې محمد ﷺ خپل ملګري وژني (نو د ايمان د راوړلو مخه به بنده شي).

و: د جهادي سفر په پای کښې نوموړي د منافقانو مشر (عبد الله بن ابي بن سلول) د خپل زوی د بلوه په وژلو سره تهديد کړی شو، نو مجبور شو چې خپل خان او ملګرو ته د ذليلانو لقب ورکړي او نبي کريم ﷺ او ملګري يې د عزتمندانو په نامه ياد کړي[۲].

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُلۡهِكُمۡ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ۝٩ وَأَنفِقُواْ مِن مَّا رَزَقۡنَٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنِيٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ۝١٠ وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَاۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ۝١١ ﴾

[۹] ای هغو کسانو کومو چې ايمان راوړی دی! تاسو دې خپل مالونه او خپل اولادونه د الله ﷻ د ذکر (عبادت) څخه مشغول (غافل) نه کړي.

او هرڅوک چې دغه کار وکړي (د الله ﷻ د ذکر څخه غفلت وکړي) نو همدغه کسان همدوی کامل زيانکاران دي.

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۲۸، صحيح مسلم ج۲ ص۳۲۱؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۸

(۲) الطبري ج۲۸ ص۱۱۳، المحرر الوجيز ج۱۶ ص۲۲، اسباب النزول للواحدي ص۲۸۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۰] تاسو (د الله ﷻ په لاره کښې) د هغو مالونو څخه څه برخه خرڅه کړئ کوم چې مونږ درته روزي کړي دي (البته) د هغه وخت څخه وړاندې (یې خرڅه کړئ) چې ستاسو یو نفر ته مرګ ورشي (ځنکدن حال ته ورسېږي) نو (په دغه وخت کښې) وايي چې ای زما ربه! کاش چې ما تر نژدې نېټې پورې وروسته کړې (لږ مهلت راکړې) نو زه به خیراتونه وکړم (که دا کار وکړې) نو زه به د صالحانو د ډلې څخه وګرځم.

[۱۱] او هیڅکله به الله ﷻ هیڅ نفس (هیڅوک) وروسته نه کړي (البته) کله یې چې نېټه ورسېږي.

او الله ﷻ په هغو کړو وړو خبردار دی کوم چې تاسو یې (د تاخیر په صورت کښې) عملي کوئ.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ایتونو کښې د منافقانو خاصیت ته اشاره شوې ده چې خپلو مالونو او اولادونو د الله ﷻ د ذکر څخه غافل کړي دي او د مالونو په عدم انفاق باندې یو تریله توصیه کوي.

په دې ایتونو کښې مؤمنانو ته ارشاد نازل شوي دي چې د هغوی د لارې د خپلولو څخه ډډه وکړي او د الله ﷻ په لاره کښې د خپلو مالونو په انفاق باندې بیړه وکړي چې مرګ ډېر نژدې ورروان دی. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! مؤمنان مخاطب کړه او د الله ﷻ د پلوه ورته ووایه چې:

۱ــ ای مؤمنانو! تاسو دې د منافقانو غوندې خپل مالونه او خپل اولادونه د الله ﷻ د ذکر څخه غافل نه کړي چې پر همدغو زړونه وتړئ او په الله ﷻ باندې اعتماد هېر کړئ. په دغه صورت کښې به تاسو زیانکاران وګرځئ، ځکه هرڅوک چې ذکر شوی کار خپل کړي او د منافقانو په قدم لاړ شي نو هغوی فقط همغوی پوره تاوانیان دي.

۲ــ ای مؤمنانو! تاسو د هغو مالونو څخه څه برخه د الله ﷻ په لاره کښې خرڅه او انفاقه کړئ کوم چې مونږ درروزي کړي دي. البته دغه انفاق د هغه وخت څخه وړاندې وکړئ چې ستاسو یو کس ته مرګ ورسېږي او بیا وايي چې:

الف: ای ربه! کاش چې زما مرګ تر نژدې نېټې پورې وروسته کړې او لږ فرصت راکړې ترڅو ستا په لاره کښې د خپلو مالونو څه برخه مصرفه کړم او خپله غاړه خلاصه کړم.

ب: ای زما ربه! که ته زما مرګ لږ څه وخت وروسته کړې نو هرومرو به زه د صالحانو د جملې څخه جوړ شم، او د عدم انفاق د جنایت څخه به خپله غاړه فارغه وګرځوم.

۳ــ ای پیغمبره! د ځنکدن په وخت کښې د تاخیر غوښتنه بې ګټې ده، او دا ځکه چې الله ﷻ به هیڅکله هیڅوک وروسته نه کړي البته کله یې چې د مرګ نېټه ورورسېږي.

خو په دې باندې علاوه، الله ﷻ په هغه کړو وړو ډېر ښه خبردار دی کوم چې تاسو یې په عمل کښې پیاده کوئ. یا په بل عبارت: که بالفرض ستاسو د مرګ نېټه وروسته کړی شي نو هم تاسو به

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په خپل لوظ او قول باندې ولاړ پاتې نه شي او بیا به همغه تګلارې ته وروګرځي په کومه باندې چې اوس روان یاست.

## توضیحات

۱_ په ﴿ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ ﴾ کښې د "ذِکْر" کلمه علماوو کرامو په دې مقام کښې په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[۱]، خو بهتره دا ده چې په عموم سره پرېښودله شي ترڅو ټولو عبادتونو ته شامله شي[۲]، برابره خبره ده چې لساني وي او که قلبي وي او که په جوارحو سره صورت نیسي.

## یو نحوي تحلیل

۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ کښې د "أكُنْ" کلمه په اصل کښې "اكُوْنْ" وه، چې د "ن" توری یې په جزم سره ساکن شوی دی او د "و" توری خو پخپله ساکن وه، نو د دوه وو ساکنینو تورو د پیوستون د کبله ذکر شوی د "و" توری حذف شوی دی.

نو پوښتنه دا ده چې ذکرې شوې کلمې ته څه شي او کوم عامل جزم ورکړی دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم د ﴿ فَأَصَّدَّقَ ﴾ کلمه مجزومه نه ده بلکې منصوبه ده چې د تمنی جواب دی، مګر د معنی او محل په لحاظ مجزومه ده، ته به وایې چې داسې نازل شوی وی: "إنْ أخَّرْتَنِي أصَّدَّقْ وَأكُنْ مِنَ الصَّالِحِينَ"، نو د ﴿ وَأَكُن ﴾ کلمه د هغې په محل باندې عطفه ده نو ځکه مجزومه ګرځېدلې ده[۳].

۳_ خو په یاد ولرئ چې کله دغسې عطف په عربي کلام کښې پېښ شي نو نحویان یې د "عطف على التوهم" په نامه یادوي، او چې په قرآن کریم کښې واقع شي _لکه چې په دې مقام کښې واقع شوی دی_ نو بیا ورباندې د "عطف على الموضع" یا "عطف على المحل" نوم ږدي. او دا ځکه چې د "على التوهم" څخه د بې ادبۍ وږمه پورته کېږي[۴].

لنډه دا چې د نحویانو په نزد "عطف على التوهم" د هغه عطف نوم دی چې د عطف په لحاظ اثر (اعراب) موجود وي او موثر (عامل) موجود نه وي، لکه چې په دې مقام کښې جزم شته خو جزم ورکوونکی عامل نشته[۵].

## د ځنکدن د وخت حسرت

۴_ د ځنکدن په وخت کښې هر کافر د حسرت سره مخامخ کېدونکی دی، او کېدی شي چې کوم یو مؤمن هم ورسره مخامخ شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې نصونه ولولئ:

---

(۱) زاد المسير ج۸ ص۳۱
(۲) روح المعاني ج۲۸ ص۱۱۷
(۳) تفسير الكشاف ج۴ ص۵۴۴
(۴) روح المعاني ج۲۸ ص۱۱۷
(۵) البحر المحيط ج۱۰ ص۱۸۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په بل ایت کښي الله ﷻ د کافر په هکله فرمایلي دي چې: ﴿ وَأَنذِرِ ٱلنَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ ٱلْعَذَابُ فَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ رَبَّنَآ أَخِّرْنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ ٱلرُّسُلَ ﴾ [إبراهيم:۴۴] یعني ای پیغمبره! خلک د داسې ورځې څخه وډار کړه چې دوی ته پکښې د الله ﷻ عذاب (د ځنکدن حالت) ورشي نو هغه کسان به ووایي کومو چې په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی دی چې ای زمونږ ربه! مونږ تر نژدې نېټې پورې وروسته کړه چې ستا دعوت قبول کړو او هم ستا د پیغمبرانو پیروي خپله کړو.

ب: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دغه ایت شریف -چې بحث پکښې روان دی- د مؤمن په ارتباط د یوه اوږده حدیث په ضمن کښي داسې تفسیر کړی دی چې: «مَنْ كَانَ لَهُ مَالٌ يُبَلِّغُهُ حَجَّ بَيْتِ رَبِّهِ أَوْ يَجِبُ عَلَيْهِ فِيهِ زَكَاةٌ فَلَمْ يَفْعَلْ يَسْأَلُ الرَّجْعَةَ عِنْدَ الْمَوْتِ»[۱] یعني هرڅوک چې دومره مال لري چې د خپل رب ﷻ د کوټې حج ته یې رسولی شي او یا وربانديې په دې کښي زکات واجب وي خو (دغه یو کار هم) ونه کړي، نو نوموړی کس به د مرګ په نزد (د ځنکدن په حال کښي د همدغه ایت په استناد د الله ﷻ څخه) بېرته ستنېدل وغواړي (ترڅو پکښې ذکر شوي فرائض اداء کړي).

اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْنَا مِنَ النَّادِمِينَ عِنْدَ الْمَوْتِ الَّذِينَ يَسْئَلُونَ الرَّجْعَةَ. آمِينَ.

د "الْمُنَافِقُون" سورت ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

۱۴۲۵/۶/۲ هـ ق = ۱۳۸۳/۴/۲۹ هـ ش.

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱٦٨

# التغابن (٦٤)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم د "التَغَابُن" کلمه ده چې د همدې سورت په [۹] ایت کښې نازله شوې ده.

۲_ څرنګه چې د دې سورت ځینې محتویات د مکي سورتونو د محتویاتو سره شباهت لري لکه د معاد اثبات او د تقدیر مسئله، او ځینې د مدني سورتونو محتویاتو ته ورته دي لکه د مالونو او اولادونو فتنه جوړېدل چې د هجرت او جهاد مخه نیسي او داسې نور؛ نو علماوو کرام پکښې اختلاف لري چې دا مکي سورت دی او که مدني؟، خو زیات شمېر یې په دې عقیده دی چې دا مدني سورت دی[۱].

۳_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي[۲]:

الف: د ایتونو ګڼه یې فقط اتلس (۱۸) ده.

ب: د کلماتو شمېر یې دوه سوه او یو څلوېښتو (۲۴۱) ته رسېږي.

ج: د حروفو شمېر یې یو زرو اویا (۱۰۷۰) حرفونو ته پورته شوی دی.

۴_ دا سورت (التغابن) د وړاندېني سورت (المنافقون) سره نژدې اړیکې لري د مثال په توګه:

الف: هلته د منافقانو حالات او عادات نازل شوي وه او دلته ټول خلک په دوه وو ګروپونو وېشلی شوي دي چې یو ګروپ یې کافر دی او بل ګروپ یې مؤمن.

ب: هلته د مالونو او اولادونو ذکر نازل شوی وه او دلته هم په همدې موضوع کښې ارشادات نازل شوی دي.

ج: هلته د الله ﷻ په لاره کښې د مال په انفاق باندې زور اچولی شوی وه او دلته هم وړاندې ټینګار کېږي او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۖ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ
قَدِيرٌ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ فَمِنكُمْ كَافِرٌ وَمِنكُم مُّؤْمِنٌ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢﴾
خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۖ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿٣﴾ يَعْلَمُ مَا
فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ۚ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٤﴾﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۱۳۱

(۲) تفسير الخازن ج۶ ص۲۷۷؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۱۲۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱] خاص الله ﷻ ته هغه مخلوقات کوم چې په اسمانونو کښې دي او هغه مخلوقات کوم چې په ځمکو کښې دي تسبیحات وایي (او دا ځکه چې:)

خاص همده ﷻ ته ټوله واکداري ده او خاص همده ﷻ ته ټوله ستاینه ده، او همدی ﷻ په هر شي د قدرت څښتن دی.

[۲] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې (د ډېرو نعمتونو او کمالاتو سره) يې تاسو پیدا کړي یاست نو ستاسو ځینې کفر غوره کوونکي (او ناشکران) دي او ځینې مو ایمان غوره کوونکي (او شکرګزاران) دي.

او الله ﷻ په هغو (ټولو کړو وړو) باندې بینا دی کوم چې تاسو يې عملي کوئ (نو موافقه سزا یا جزا به درکړي).

[۳] الله ﷻ اسمانونه او ځمکې په حقه (د حکمتونو په بنیاد) پیدا کړي دي او تاسو ته يې څېرې درکړې دي نو ستاسو څېرې يې ډېرې ښایسته (او ښکلې پیدا) کړي دي.

او خاص الله ﷻ ته (د سزا یا جزا دپاره) ستاسو بېرته ورستنېدل دي.

[۴] الله ﷻ په هغو (ټولو موجوداتو) باندې پوهېږي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې شتون لري هم په هغو (ټولو کړو وړو) پوهېږي کوم چې تاسو يې (د خلکو څخه) پټوئ او کوم چې تاسو يې (خلکو ته) ښکاره کوئ.

او (په دې باندې علاوه) الله ﷻ په داسې حالاتو باندې هم پوه دی چې د سینو (زړونو) خاوندان دي (چې په زړونو کښې خطور کوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني سورت د وروستنیو ایتونو مضمون دا وه چې: ای مؤمنانو! تاسو د خپل ایمان په قوت سره د الله ﷻ د ذکر څخه غفلت مه غوره کوئ.

د دې سورت په وړاندېنیو ایتونو کښې ذکر شوی مضمون تعقیب شوی دی چې: الله ﷻ ټول خلک په دوه وو ګروپونو باندې وېشلي دي چې یو مقبول ګروپ دی او بل مردود ګروپ، نو که بالفرض تاسو د ذکر الله څخه غافلان جوړ شئ نو تاسو به ضرور په مردود ګروپ کښې شمولیت ولرئ او د دنیا او آخرت ښېګڼې به مو د لاسه ووځي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د ډېر مهربان او ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه په خپل امت باندې دغه مطالب قرائت کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ ای زما امته! څرنګه چې خاص الله ﷻ ته هغه مخلوقات تسبیحات وایي او د ذکر څخه يې غفلت نه غوره کوي کوم چې په اسمانونو کښې دي او کوم چې په ځمکو کښې دي، نو تاسو هم د خپل رب ﷻ د ذکر څخه مه غافل کېږئ او د ټولو مخلوقاتو د قطاره خانونه مه وباسئ.

۲ـ برسېره په دې په الله ﷻ پورې ټوله واکداري او ټولې ستاینې هم اختصاص لري نو تاسو د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ د ستاینې څخه هم په غفلت کښې مه واقع کېږئ او تل ورته حمد او ثناء وایاست.

۳ـ همدی ﷻ پر هر شي د قدرت درلودونکی دی، نو د همدې کبله د تسبیحاتو او تحمیداتو لیاقت یوازې په الله ﷻ پورې اختصاص لري او بس.

۴ـ ای بنیادمانو! الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې د نشت څخه پیدا کړي یاست او د خپلې پېژاندنې استعداد یې درکړی دی، خو د عمل په میدان کښې یې تاسو په لاندې دوه ورو ګروپونو وېشلي یاست:

الف: چې ستاسو یو غټ ګروپ کفار دي چې په خپل رب ﷻ باندې یې کفر غوره کړی دی.

ب: او بل ګروپ مو ایماندران دي چې د خالق ﷻ څخه غفلت نه خپلوي او په دوامداره توګه ورته تسبیحات او تحمیدات وړاندې کوي.

۵ـ نو ستاسو د دواړو ګروپونو سره به الله ﷻ د قیامت په ورځ محاسبه وکړي او مناسبه سزا یا جزا به درکړي، ځکه چې الله ﷻ ستاسو په ټولو کړو وړو بینا دی او هیڅ شی ترې پټ نه دی.

۶ـ الله ﷻ اسمانونه او ځمکې په حقه او د حکمت په بنیاد پیدا کړي دي چې په ترڅ کښې ضرور محاسبه او تصفیه لري، که نه نو دغه پیدا کول به عبث او بې حکمته وی حال دا چې الله ﷻ د عبثیاتو څخه پاک او منزه دی.

۷ـ په دې باندې علاوه تاسو ته الله ﷻ زښت ډېر ظاهري او باطني نعمتونه درکړي دي او هم یې په ډېرو ښکلو شکلونو او څېرو سره متشکل کړي یاست او په ځمکه کښې یې خلیفګان ګرځولي یاست. خو په یاد ولرئ چې خاص الله ﷻ ته ستاسو بېرته ورتګ دی چې د شکلونو په شمول به د ټولو نعمتونو څخه وپوښتل شئ چې شکریه مو اداء کړې ده او که پکښې پاتې راغلي یاست.

۸ـ په الله ﷻ باندې ستاسو محاسبه ډېره اسانه ده. او دا ځکه چې:

الف: الله ﷻ په هغو ټولو مخلوقاتو باندې په کامله توګه پوهېږي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې موجودیت لري، او هیڅ شی یې د علم څخه بهر نه شي وتلی.

ب: الله ﷻ ستاسو په هغو ټولو کړو وړو پوهېږي کوم چې تاسو یې د خلکو څخه پټوئ یا یې ورته ښکندوئ، او یا یې پټ ترسره کوئ یا په ښکنده توګه عملي جامه وراغوندئ.

ج: بالآخره الله ﷻ په هغو ټولو حالاتو باندې پوه دی کوم چې په سینو او زړونو پورې ارتباط لري او پکښې ګرځي راګرځي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ فَمِنكُمْ كَافِرٌ وَمِنكُم مُّؤْمِنٌ ﴾ کښې د "ف" توری د تفریع دپاره دی، او هغه کیفیت ته ورباندې اشاره شوې ده کوم چې د انسان په خلق (پیداکولو) باندې ترتب مومي. یعني الله ﷻ تاسو په پوره استعداد سره پیدا کړي یاست او زښت ډېر ظاهري او باطني کمالات او نعمتونه یې درکړي دي، نو تاسو ته په کار وه چې د نعمتونو شکر مو کړی وی او په الله ﷻ باندې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مو بالاتفاق ایمان راوړی وی، خو تاسو دغسې ونه کړه بلکې تاسو په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وېشلي کېږئ:

الف: ځینو کفر غوره کړ او اسلامي فطرت ته یې شا کړه.

ب: ځینو د اسلامي فطرت په مطابق ایمان لرونکي او شکرګزاران وګرځېدل.

نو الله ﷻ به هرې ډلې ته موافقه سزا یا جزا ورکړي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دغه ایت کښې دېته اشاره ده چې: کفار په رنګ او ژبه نه بدلېږي، نو په هر وطن کښې چې اوسېږي ټول یو ملت دی، بالمقابل ټول مؤمنان ـ په هر رنګ او په هره ژبه چې وي او په هر وطن کښې چې استوګنه لري ـ یو ملت دی او یو تربله سره ورونه دي نو باید چې د وروری مراعات وکړي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ په ﴿ فَمِنكُمْ كَافِرٌ وَمِنكُم مُّؤْمِنٌ ﴾ کښې د "کافر" ذکر د "مؤمن" د ذکر څخه وړاندې نازل کړ؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ اعلم ـ چې: شاید په دې کښې به د کفارو ډېروالي ته اشاره وي، لکه چې په بل ایت کښې وړباندې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِيَ ٱلشَّكُورُ ﴾ [سبا:۱۳] یعنې زما د بندګانو څخه شکرګزاران بندګان لږ دي.

## د تقدیر مسئله

۳ـ ځینو مفسرینو کرامو د ذکر شوي ایت لاندې د تقدیر مسئله مطرحه کړې ده[۱] چې بنه اوږد تفصیل یې ورکړی دی، خو مونږ په همدې ارتباط یوازې د اهل السنت والجماعت عقیده په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: الله ﷻ د کافر پیدا کوونکی دی او د ده د کفر پیدا کوونکی هم دی، همدارنګه الله ﷻ د مؤمن پیدا کوونکی دی او د ده د ایمان پیدا کوونکی هم دی.

ب: الله ﷻ کافر او مؤمن دواړو ته د نېکۍ او بدۍ دواړه استعدادونه ورکړي دي.

ج: الله ﷻ کافر ته په ازل کښې کفر مقدر کړی دی او په دې باندې لا په ازل کښې پوه وه چې کفر به غوره کوي. او بالمقابل مؤمن ته یې په ازل کښې ایمان مقدر کړی دی او په دې باندې لا په ازل کښې پوه وه چې ایمان به غوره کوي.

د: د کافر کفر د الله ﷻ په اراده صورت نیسي او همدارنګه د مؤمن ایمان هم د الله ﷻ په اراده موجودېږي. خو کافر ته د کفر کسب کول اسان کړی شوي دي او مؤمن ته د ایمان د راوړلو کسب اسان کړی شوی دی.

---

[۱] روح المعاني ج۲۸ ص۱۱۹؛ تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۱۳۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ»(۱) یعنې تاسو عمل وکړئ نو هرڅوک هغه کار ته اسان کړی شوی دی د کوم دپاره چې پیدا کړی شوی (او په ازل کښې ورته مقدر کړی شوی) دی.

﴿أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُا۟ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَبْلُ فَذَاقُوا۟ وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُۥ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَقَالُوٓا۟ أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا فَكَفَرُوا۟ وَتَوَلَّوا۟ ۚ وَّٱسْتَغْنَى ٱللَّهُ ۚ وَٱللَّهُ غَنِىٌّ حَمِيدٌ ۝٦ زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَن لَّن يُبْعَثُوا۟ ۚ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّى لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۚ وَذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ۝٧ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلنُّورِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلْنَا ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝٨ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ ٱلْجَمْعِ ۖ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلتَّغَابُنِ ۗ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعْمَلْ صَٰلِحًا يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ۝٩ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ۝١٠﴾

[۵] ایا تاسو ته د هغه کسانو خبر نه دی درغلی کومو چې ستاسو څخه وړاندې کفر غوره کړی وه؟ (هغه دا چې) هغوی د خپل کار (کفر) درونه پېټی (په دنیا کښې) وڅاکه (چې ټول د ځرمې هلاک شوه) او هغوی ته (په آخرت کښې) دردناک عذاب (تاکلی شوی) دی.

[۶] دغه (دواړه ډوله عذاب ورته) ځکه (ورکړی شو) چې یقینًا شان دا وه چې هغوی ته خپل پیغمبران په معجزاتو (او دلایلو) سره ورغله (خو قبول یې نه کړ) نو هغوی وویلې چې ایا بنیادمان مونږ ته لاربښوونه کوي؟ نو په کفر باندې کلک شوه او (د دعوت څخه) یې مخونه واړول.

او الله ﷻ (د هغوی څخه) بې پروایي وکړه (څرګنده یې کړه)، او الله ﷻ (د مخلوقاتو څخه) بې پروا (او په کاملو صفاتو سره) ستایلی شوی دی.

[۷] هغه کسان ګومان کوي کومو چې کفر غوره کړی دی چې هیڅکله به دوی (د قبرونو څخه) راپورته نه کړی شي.

(ای پیغمبره! ته ورته په جواب کښې) ووایه چې: دغسې نه ده، زما دې په خپل رب ﷻ باندې سوګند وي چې هرومرو ضرور به تاسو (د قبرونو څخه) راپورته کړی شئ، بیا به هرومرو ضرور په هغو (کړو وړو) باندې خبر کړی شئ کوم چې تاسو (په دنیا کښې) عملي کړي وي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۳۸؛ صحیح مسلم ج۲ ص۳۳۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دغه کار (بعث بعد الموت او محاسبه) په الله ﷻ باندې ډېر اسان (کار) دی.

[۸] نو تاسو په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر ایمان راوړئ او په هغه نُور (قرآن کریم) باندې (هم ایمان راوړئ) کوم چې مونږ (پرې) نازل کړی دی.

او الله ﷻ په هغو (ټولو کړو وړو) خبردار دی کوم چې تاسو يې عملي کوئ.

[۹] هغه ورځ (یاده کړه) چې الله ﷻ تاسو د راغونډولو په ورځ کښې راغونډ کړي، دغه د ډېرې زیاتې غولېدنې ورځ ده (چې دنیاوي غولېدنه به پکښې څرګنده شي).

او هغه څوک چې په الله ﷻ يې (په دنیا کښې) ایمان راوړی وي او صالح عمل يې کړی وي نو الله ﷻ به ترې بدۍ پټې (عفوه) کړي او داسې جنتونو ته به يې داخل کړي چې لاندې ترې لښتې بهېږي (البته) په داسې حال کښې چې دوی به په جنت کښې همېشه وي همېشه.

(ای پیغمبره!) دغه ډېره لویه کامیابي ده.

[۱۰] او هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی او زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي همدغه کسان د اور ملګري دي چې په اور کښې به همېشه وي (او هیڅکله به يې ورسره انډیوالي ختمه نه شي). او (دغه دوزخ) د بېرته ورستنېدلو ډېر بد ځای دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندې ایتونو کښې د یو پلوه د قیامت ورځې ته اشاره شوې وه او د بله پلوه په اُخروي عذاب سره کفار تهدید شوي وه.

په دې ایتونو کښې ذکر شوي دواړه مطلبونه لږ تشریح شوي دي او هم په دنیاوي عذاب سره د کفارو تهدید ته اشاره کېږي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! خپل دعوتي امت مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ ای د محمدي (ﷺ) امت کفارو! ایا تاسو ته د پخوانیو کفارو د هلاک او پوپنا کېدلو خبر نه دی درغلی چې عبرت ترې واخلئ او د کفر څخه اجتناب وکړئ هغه دا چې:

الف: هغوی کفر غوره کړ او د خپلو پیغمبرانو دعوت يې قبول نه کړ.

ب: هغوی د خپل کفر پېټې او سزا په دنیا کښې وګالله او د بنیاد وېستونکي عذاب سره مخامخ شوه، تاسو خو د عادیانو او ثمودیانو کنډوالې وګورئ.

ج: په دغه دنیاوي عذاب باندې علاوه هغوی ته په آخرت کښې دردناک عذاب ټاکلی شوی دی چې په دائمي توګه به ورباندې اخته شي.

۲ـ ای پیغمبره! د پخوانیو کفارو د پوپنا کېدلو او په آخرت کښې په دائمي عذاب د اخته کېدلو وجه فقط همدا وه چې:

الف: هغوی ته خپل خپل پیغمبران په معجزو سره ورغله او هر یوه پیغمبر ورته خپل رسالت په اثبات ورساوه، خو:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: هغوی د پیغمبرانو دعوت رد کړ چې: مونږ بشري پیغمبر نه قبلوو که الله ﷻ زمونږ د هدایت اراده کړې وی نو ضرور به یې پرښتې رالیږلې وی، ایا دا عجیبه نه ده چې مونږ ته زمونږ غوندې بنیادم لارښوونه کوي؟ مونږ به هیڅکله د دوی دعوت قبول نه کړو.

ج: نو نتیجه دا شوه چې هغوی په خپلو کفریاتو باندې کلک پاتې شوه او د خپلو- خپلو پیغمبرانو دعوتونه یې د پښو لاندې کړه.

د: په دغه وخت کښې الله ﷻ خپله بې پروایي څرګنده کړه او ټول یې پوپنا کړل او د هغوی په عوض یې ځمکه په نورو خلکو باندې اباده کړه، او دا ځکه چې الله ﷻ بې پروا دی، هیچا ته څه اړتیا نه لري او هم په ښو صفاتو باندې ستایلی شوی دی، د هیچا ستایلو ته احتیاج نه دی.

۳ـ ای پیغمبره! ستا د زماني کفار هم د پخوانیو کفارو غوندې په کفر باندې کلک ولاړ دی او ګومان کوي چې د مرګه وروسته به هیڅکله بیا د ځمکې څخه ژوندي راپورته نه کړی شي.

۴ـ خو ته هغوی ته د قناعت دپاره ووایه چې:

الف: زما دې په خپل رب ﷻ باندې سوګند وي چې ستاسو ګومان باطل او بې بنیاده دی، نو تاسو به هرومرو او ضرور بیا د قبرونو څخه ژوندي راپورته کړی شئ او په خپلو هغو کړو وړو به خبر کړی شئ کوم چې تاسو په دنیا کښې عملي کړي دي او بیا مو بېرته هېر کړي دي، نو مطابقې سزاوې به درکړی شي.

ب: دغه کار (د ټولو راژوندي کول او د ټول سره دقیقه محاسبه کول) په الله ﷻ باندې ډېر اسان دی چې هم یې قدرت کامل دی او هم یې علم کامل دی.

۵ـ نو د محمد ﷺ دعوتي امته! تاسو خپل ایمان ته ادامه ورکړئ او یا په الله ﷻ او د ده ﷻ په پیغمبر (محمد ﷺ) باندې ایمان راوړئ او بالآخره د هغې رڼا څخه اعظمي ګټه پورته کړئ کومه چې مونږ ستاسو دپاره رانازله کړې ده، چې هغه د قرآن کریم څخه عبارت ده. که نه نو الله ﷻ ستاسو په هغو کړو وړو باندې باخبره دی کوم چې تاسو لګیا یاست چې په دنیا کښې یې عملي کوئ، نو موافقه جزا به درکړي.

۶ـ ای پیغمبره! خپل امت ته هغه ورځ یو ځل بیا ورياده کړه په کومه کښې به چې الله ﷻ تاسو ټول (وړاندېني او وروستني) د حشر په میدان کښې راغونډ کړي او هیڅوک به په خاورو کښې پټ پاتې نه شي. دغه ورځ لکه چې د "یوم الجمع" په نامه یادېږي همدارنګه دغې ورځې ته د "یوم التغابن" لقب هم ورکولی کېږي. او دا ځکه چې:

الف: دغه ورځ د هغه چا دپاره د پوره او کاملې ګټې ورځ ده کومو چې په الله ﷻ باندې په ریښتیانیو معناوو کښې ایمان راوړی وي او د ایمان سره یې صالح عمل هم ملګری کړی وي نو:

اول: دغو کسانو ته به الله ﷻ د هغوی ګناهونه وروبښي او داسې باغونو ته به یې داخل کړي چې لاندې به ترې ځلور دوله لښتي بهېږي.

دوهم: دوی به په دغو باغونو او جنتونو کښې همېشه وي چې نه به ترې وویستلی شي او نه به

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بې په باغونو باندې تر ابد الآباده پورې خزان ورشي.

دریم: ای پیغمبره! دغه ده لویه کامیابي او دغه ده ډېره لویه ګټه چې د مؤمنانو په تجارت باندې مرتبېږي.

ب: مګر دغه ورځ د کفارو دپاره د ډېر لوی نقصان او تاوان ورځ ده، البته هغه کفار چې په خپل کفر باندې د مرګ تر ورځې پورې کلک ولاړ دي او زمونږ ایتونو او دلایلو ته د دروغو نسبت کوي، نو: دغه ډله خلک د اور (دوزخ) کلک اندېوالان دي چې د همېشه دپاره به پکښې اوسېږي او هیڅکله به یې ورسره انډیوالي پرې نه کړی شي. نو په همدې بنیاد دغه دوزخ د بېرته ورستنېدلو ډېر بد او ناکاره ځای دی.

## توضیحات

۱ـ ځینو مفسرینو کرامو په ﴿ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ ﴾ کښې د "کُمۡ" په کلمې سره د مکې مشرکان مخاطب ګرځولي دي[۱]، خو مونږ ته بهتره دا برېښي چې دا خطاب به دعوتي امت ته متوجه وي او ټولو بنیادمانو ته به شامل وي لکه چې لږ وړاندې ټول بنیادمان تر بحث لاندې وه چې په دوه وو ګروپونو ویشلی شوي دي.

## هېر مو نه شي

۲ـ هېر مو نه شي چې د الله ﷻ په توفیق د [یونس:۵۳] او [سبا:۳] ایتونو لاندې د سوګندونو په باب ښه خوندور بحثونه تېر شوي دي چې بیا لیکلو ته یې څه اړتیا نه ګورو هیله ده چې هملته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## د تغابن ورځ

۳ـ د قیامت د ورځې د نومونو څخه په ﴿ يَوۡمَ يَجۡمَعُكُمۡ لِيَوۡمِ ٱلۡجَمۡعِۖ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلتَّغَابُنِ ﴾ کښې دوه وو نومونو ته اشاره شوې ده چې تفصیل یې دا دی:

الف: د قیامت ورځې ته ځکه د "يَوۡمُ الۡجَمۡعِ" نوم اېښودل شوی دی چې په دغې ورځ کښې وړاندیني او وروستني ټول مخلوقات د محشر میدان ته راټولېدونکي دي.

ب: د قیامت د ورځې د "يَوۡمُ التَّغَابُن" د نوم شرحه دا ده چې:

اول: د "تَغَابُن" کلمه اصلا د "غَبۡن" ـلکه "ضَرۡب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د غولولو یا غولېدلو معنی ورکوي[۲].

دوهم: همدغه مصدر (غَبۡن) د تفاعل د باب په ملحوظ په دې مقام کښې فقط په مبالغه باندې

---

(۱) روح المعاني ج۲۸ ص۱۲۲
(۲) القاموس المحیط ج۳ ص۲٦۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دلالت کوي او دوه طرفونه نه غواړي، لکه چې د "تَوَاضُع" کلمه د همدغه باب په ملحوظ فقط په یو طرف باندې تمامه شوې ده او د دوه وو طرفونو غوښتونکې نه ده⁽¹⁾.

دريم: نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: د قيامت په ورځ به کفارو ته خپله هغه تېروتنه او غولېدنه ښه پوره ورڅرګنده شي کومه چې هغوی ته په خپل دنياوي تجارت کښې وراوښتې وه، خو هغوی پرې سترګې پټې کړې وې.

همدغه تجارت ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت تِّجَٰرَتُهُمۡ ﴾ [البقرة:۱۶] يعنې دغه عقيدوي منافقان (کفار) هغه کسان دي چې ضلالت يې په هدايت سره اخستى دى، نو تجارت يې هيڅ ګټه ونه کړه (بلکې په دغه تجارت کښې ډېر سخت وغولېدل).

همدارنګه الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡعَذَابَ بِٱلۡمَغۡفِرَةِ ﴾ [البقرة:۱۷۵] يعنې دغه کفار هغه کسان دي کومو چې په هدايت سره ګمراهي اخستې ده او په مغفرت سره يې عذاب، (نو دوی ډېر سخت غولېدلي او تېر وتلي دي).

## د لويې ګټې ورځ

۴ـ بالمقابل دغه د قيامت ورځ د مؤمنانو دپاره د ډېرې لويې ګټې ورځ ده چې په همدغې ورځ کښې به خپله ګټه په سترګو ګوري.

د مؤمنانو ګټور تجارت ته الله ﷻ په ډېرو ايتونو کښې اشاره کړې ده لاندې بيلګې يې ولولئ:

الف: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَ ﴾ [التوبة:۱۱۱] يعنې يقيناً الله ﷻ د مؤمنانو څخه د دوی مالونه او د دوی نفسونه په دې رانيسي (اخلي) چې يقيناً د دوی دپاره د الله ﷻ په نزد جنت (تاکلى شوی) دى.

ب: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ تِجَٰرَةٖ تُنجِيكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ﴾ [الصف:۱۰] يعنې اى هغو کسانو کومو چې ايمان راوړی دی! ايا زه تاسو ته په داسې تجارتٌ باندې ښودانه وکړم چې تاسو ته د دردناک عذاب څخه نجات درکړي؟ (هغه دا چې خپل ايمان ته ادامه ورکړئ او جهاد نه ملاوې وتړئ).

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: ځينو مفسرينو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ ٱلتَّغَابُنِ ﴾ کلمه په دوه وو طرفونو باندې تفسيره کړې ده چې يو طرف يې مؤمنان ګڼلي دي او بل طرف يې کفار⁽²⁾، يعنې د قيامت په ورځ به دغه دواړه ډلې يوه بله وغولوي، چې د مؤمنانو د دوزخ ځايونه به کفارو ته ورکړی شي او د کفارو د جنت ځايونه به مؤمنانو ته ورکړی شي.

(۱) البحر المحيط ج۱۰ ص۱۸۷
(۲) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۱۳۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو پوښتنه دا ده چې په څه وجه تاسو دغه تفسیر خوښ نه کړ؟

مونږ وايو چې: په سوال کښې چې کوم مضمون ته اشاره شوې ده هغه حقیقت لري لکه چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [المؤمن: ۱۰] ایت لاندې د یوه حدیث په رڼا کښې لیکلی دی، خو په دې مقام کښې یې د تفسیر په حیث منل مشکل دی چې لاندې دوه وو مجازونو ته پکښې ضرورت دی:

الف: د قیامت په ورځ د جنتیانو او دوزخیانو د ځایونو تبادله د الله ﷻ د پلوه صورت نیسي، هسې نه چې یوه ډله خپل ځایونه د بلې ډلې د ځایونو سره تبادله کوي، نو دغو دواړو ډلو ته یې نسبت کول مجازي دي.

ب: په دغې تبادله کښې خو یوازې کفار غولېدلي دي چې جنت یې په دوزخ باندې بدل کړ، او جنتیان خو په سراسرې ګټه کښې دي، نو دواړو ډلو ته د غولېدلو نسبت کول نه دي مګر مجازي دي.

حال دا چې کوم تفسیر چې مونږ غوره کړی دی هغه د مجاز ارتکاب ته هیڅ اړتیا نه لري، نو هغه په دغه غوره دی.

﴿ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿١١﴾ وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ ۚ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٢﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١٣﴾ ﴾

[۱۱] هیڅ مصیبت (هیچا ته) نه رسېږي مګر د الله ﷻ په اذن (امر) سره.

او هر څوک چې په الله ﷻ سره ایمان راوړي (چې هر څه همدی ﷻ کوي) نو الله ﷻ به (د همدغه ایمان په برکت) د هغه زړه ته لارښوونه وکړي (چې مطلب ته پرې ورسېږي).

او الله ﷻ (د زړونو په شمول) په هر شي باندې پوه دی.

[۱۲] (ای بندګانو!) تاسو د الله ﷻ اطاعت وکړئ او (همدارنګه) د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړئ.

نو که تاسو (د اطاعت څخه) تاو شئ (او مخونه ترې واړوئ) نو زمونږ په پیغمبر باندې فقط څرګنده رسونه ده (نور نو ستاسو مسئولیت دی).

[۱۳] الله ﷻ چې دی په حقه معبود نشته مګر همدی ﷻ دی (او بس).

نو مؤمنان باید یوازې په الله ﷻ باندې اعتماد (او توکل) وکړي (او بس).

## ارتباط او توضیحات

په وړاندېنیو ایتونو کښې د "یوم التغابن" ذکر نازل شوی وه، او په دې ایتونو کښې د غبن (غولېدلو) یوې وجې ته اشاره شوې ده چې باید څوک یې خپله نه کړي، چې هغه عدم اطاعت دی.

۱ـ د ﴿ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ جمله د [الشوری: ۳۰] ایت لاندې د الله ﷻ په مرسته ډېره ښه تفسیره شوې ده چې دنیاوي مصیبتونه د پیغمبرانو په شمول په هر چا باندې نزول موندلی

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي البته د جهاتو په اختلاف سره، نو هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

۲ـ په ﴿ وَمَن يُؤْمِنْ بِٱللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُۥ ﴾ کښې د ﴿ يَهْدِ قَلْبَهُۥ ﴾ جمله په لاندې نبوي حديثونو کښې ډېره ښه تفسيره شوې ده:

الف: «لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰى يُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ وَحَتّٰى يَعْلَمَ أَنَّ مَا أَصَابَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَهُ وَأَنَّ مَا أَخْطَأَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَهُ»[۱] يعنې تر هغه به يو بنده د الله ﷻ په نزد مؤمن نه شي ترڅو چې په ازلي قدر باندې (چې خير يې وي او که شر يې وي) ايمان راوړي، او ترڅو چې پوه شي (عقيده وکړي) چې يقيناً کوم مصيبت چې ورته رسېدلی دی هغه نه وه چې دی يې خطا کړی وي (او ورته نه وي رسېدلی)، او چې يقيناً کوم مصيبت چې خطا کړی يې دی (ورته نه دی رسېدلی) هغه نه وه چې ورته رسېدلی وي.

ب: «عَجَبًا لِلْمُؤْمِنِ لَا يَقْضِي اللهُ لَهُ شَيْئًا إِلَّا كَانَ خَيْرًا لَهُ»[۲] يعنې د مؤمن حال ته تعجب دی چې الله ﷻ ورته د هيڅ شی فيصله نه کوي (خير وي او که شر وي) مګر هغه ورته په ګټه تماميږي (چې د خير په صورت کښې شکرګزاري کوي او اجر ګټي او د شر په صورت کښې صبر خپلوي او اجر ګټي).

لنډه دا چې هرڅوک چې په الله ﷻ باندې په رښتيانيو معناوو کښې ايمان راوړي او د مصيبتونو د نزول په وخت کښې خپل ځان د الله ﷻ څخه مرور جوړ نه کړي، نو هغه کس به په هيڅ وخت کښې د اجر څخه محروم ونه ګرځي. او الله ﷻ د زړونو په شمول په هر شي باندې پوه دی او هيڅ شی ترې پټ نه دی.

۳ـ په ﴿ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ ﴾ الآية- کښې دېته اشاره ده چې تاسو په هر حال کښې ـبرابره خبره ده چې د خوشالۍ حال وي او که د غم حال وي ـ فقط د شرعي ارشاداتو اطاعت وکړئ چې همدا په تاسو باندې فرض کړی شوی دی، د حوادثو نزول په تاسو پورې اړه نه لري چې نه يې جلبولی شئ او نه يې مخنيوی کولی شئ. که بالفرض تاسو خپله فريضه اداء نه کړئ نو د قيامت په ورځ به د تغابن سره مخامخ شئ او دا ځکه چې زمونږ پيغمبر ﷺ د ابلاغ خپله ذمواري ترسره کړې ده.

۴ـ په ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ الآية- کښې يو ځل بيا په وړاندېنې مضمون باندې تاکيد نازل شوی دی چې الله ﷻ په حقه معبود او په حقه واکدار دی نو توکل کوونکو ته په کار دي چې خاص په همده ﷻ باندې توکل او اعتماد وکړي او بس، ترڅو د تشويشونو څخه بچ شي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ مِنْ أَزْوَٰجِكُمْ وَأَوْلَٰدِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَٱحْذَرُوهُمْۚ وَإِن تَعْفُواْ وَتَصْفَحُواْ وَتَغْفِرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝١٤ إِنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَأَوْلَٰدُكُمْ

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۳۶
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۲۸۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فِتْنَةٌ وَاللَّهُ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنفِقُوا
خَيْرًا لِّأَنفُسِكُمْ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٦﴾ إِن تُقْرِضُوا اللَّهَ
قَرْضًا حَسَنًا يُضَٰعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٧﴾ عَٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَٰدَةِ
الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٨﴾ ﴾

[۱۴] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! یقیناً ستاسو د مېرمنو او ستاسو د اولادونو څخه ځینې ستاسو دښمنان دي، نو تاسو ترې په ډار کېنې اوسئ.
او که عفوه (ورته) وکړئ او (د سزا څخه یې) مخ وګرځوئ او (بالآخره) مغفرت ورته وکړئ نو یقیناً الله ﷻ ډېر مغفرت کوونکی (او) ډېر مهربان دی.
[۱۵] یقیناً ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه (ستاسو دپاره) امتحان دي.
او الله ﷻ چې دی د همده ﷻ په نزد ډېر لوی اجر دی (نو پام کوئ چې په امتحان کېنې ناکام نه شئ چې د لوی اجر څخه به محروم وګرځئ).
[۱۶] نو ترڅو مو چې توان (او وسه) وي د الله ﷻ څخه وډار شئ او (ارشادات یې) واورئ (قبول کړئ) او (د احکامو یې) اطاعت وکړئ او (خپل) مالونه (د همده ﷻ په لاره کېنې) انفاق کړئ، (البته نول ذکر شوي کارونه) د خپلو ځانونو دپاره وکړئ (چې ګټه یې بوازې همدا تاسو ته راجع ده).
او هرڅوک چې د کلکې شومتیا (حرص او بخل) څخه وساتلی شي نو دغه کسان همدوی فلاح (کامیابي) موندونکي دي.
[۱۷] (ای مومنانو!) که چرته تاسو الله ﷻ ته حسنه قرض ورکړئ (او په اخلاص سره د ده ﷻ په لاره کېنې انفاق وکړئ) نو الله ﷻ به تاسو ته قرض (ورکړی شوی مال) په چندونو سره درکړي (او په دې باندې علاوه) مغفرت به هم درته وکړي.
او (دا ځکه چې) الله ﷻ ډېر منونکی ډېر د حلم درلودونکی دی.
[۱۸] (او هم الله ﷻ) په پټو او ښکاره وو پوهېدونکی د کلکې ارادې خاوند د حکمت څښتن دی.

## ارتباط او شان نزول

۱- په دې ایتونو کېنې هم د وړاندېنیو ایتونو غوندې د هغو شیانو ذکر نازل شوی دی کوم چې سړی د آخرت څخه غافل ګرځوي او د قیامت د ورځې د تغابن سره یې مخامخ کوي.
۲- د دغه لومړني ایت په شان نزول کېنې متعدد روایتونه شته[۱] خو مونږ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روایت په لاندې ټکو کېنې راخلاصه کوو:

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص ۱۴۰؛ اسباب النزول للواحدي ۲۸۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په دغه ایت کښې هغو کسانو ته اشاره ده کوم چې په مکه معظمه کښې په ایمان مشرف شوي وه او مدینې منورې ته هجرت هم پیل شوي وه.

ب: دغو کسانو اراده درلوده چې مدینې منورې ته هجرت وکړي او د نبي کریم ﷺ د فیوضاتو څخه د نژدې څخه استفاده وکړي.

ج: خو د دغو کسانو مېرمنې او اولادونه ـ چې لا په ایمان باندې نه وه مشرف شوي ـ د هغوی د هجرت مانع وګرځېدل او مخه یې ورته بنده کړه، چې ایا مونږ دلته په مکه معظمه کښې پرېږدئ او تاسو په انفرادي توګه مدینې منورې ته هجرت کوئ؟

د: بیا چې کله هغوی په هجرت کولو (څه موده وروسته) موفق شوه او صحابه کرام ﷺ یې ولیدل چې ډېر علوم یې زده کړي وه او هغوی ترې د خپلو مېرمنو او اولادونو په سبب بې برخې ګرځېدلي وه، نو اراده یې وکړه چې معذب یې کړي او خپلې غُصې ورباندې سړې کړي.

هـ: «فَأَنْزَلَ اللهُ ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ ﴾ الْآيَةَ»[1] یعنې نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ، چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه مؤمنان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ ای مؤمنانو! یقیناً ستاسو د مېرمنو او اولادونو څخه ځینې مېرمنې او ځینې اولادونه ستاسو دښمنان دي چې هجرت ته مو نه پرېږدي او د جهادي سفر مخه مو نیسي او یا مو د نورو خیریه کارونو په وړاندې خنډ واقع کېږي.

۲ـ نو تاسو د هغوی څخه ودار شئ او هره یوه خبره یې مه منئ؛ هسې نه چې د قیامت د ورځې د تغابن او پښېمانۍ سره مو مخامخ کړي.

یا په بل عبارت: هغوی د دوستۍ په لباس کښې په دښمنانو سره وپېژنئ، هسې نه چې تاسو ورسره دښمني شروع کړئ، بلکې تاسو ته په کار دي چې هغوی ته عفوه وکړئ او د سزا ورکولو څخه یې مخ واړوئ بلکې ښنه ورته وکړئ او د الله ﷻ څخه ورته هم مغفرت وغواړئ.

نو که چرته تاسو ذکر شوي کارونه وکړئ نو الله ﷻ ډېر ښښونکی او ډېر مهربان دی څه لرې نه ده چې تاسو او ستاسو مېرمنو او اولادونو ته مغفرت وکړي او د نېکیو لا زیات توفیق درپېرزو کړي.

۳ـ ای مؤمنانو! یقیناً ستاسو مالونه او اولادونه ستاسو دپاره ډېر لوی امتحان دی نو تاسو ته په کار دي چې د دغه امتحان څخه کامیاب ووځئ، هسې نه چې د ډېر لوی اجر څخه محروم شئ: لنډه دا چې ډېر لوی اجر د الله ﷻ په نزد دی، که بالفرض تاسو د الله ﷻ څخه عصیان وکړئ نو دغه لوی اجر به درنه کړي.

۴ـ نو ای مؤمنانو! تاسو د خپل توان او خپلې بشري وسې په اندازه د الله ﷻ څخه ودار شئ؛ د

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱٦۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



توان او وسې څخه پورته هیڅ مکلفیت نه لري. نو په همدغه بنیاد:
الف: تاسو هغه ارشادات واورئ او قبول يې کړئ کوم چې درته د پیغمبر ﷺ د پلوه دربنودل کېږي.
ب: تاسو د شرعي حکم اطاعت وکړئ برابره خبره ده چې دغه حکم جهاد پورې مربوط وي او یا هجرت پورې.
ج: تاسو د الله ﷻ په لاره کښې د خپلو مالونو څه برخه هم نفقه او مصرفه کړئ ترڅو د بدني او مالي عبادتونو دواړو اجرونه ترلاسه کړئ.
د: لنډه دا چې د خپلو ځانونو دپاره هر یو د خیر کار وکړئ چې په درد مو وخوري.
هـ: ای مؤمنانو! که تاسو ذکر شوي ارشادات په عمل کښې پیاده کړئ نو په دې تقدیر به تاسو خپل ځانونه د کلکې شومتیا او سخت حرص څخه بچ کړئ. او هر څوک چې د حرص او شومتیا څخه بچ پاتې شي نو همدغه کسان کامیابان دي او د قیامت په ورځ کښې د تغابن څخه بچ دی.
۵ـ ای مؤمنانو! په دې باندې علاوه که تاسو الله ﷻ ته حسنه قرض ورکړئ او په ډېر اخلاص سره د خپلو مالونو څه برخه في سبيل الله انفاق کړئ او یا لله في الله د بندګانو سره مرسته وکړئ، نو الله ﷻ به تاسو ته غبرګ او په چندونو سره اجرونه او عوضونه درکړي، او هم به درته د همدغه انفاق په برکت د ګناهونو څخه مغفرت وکړي. ځکه چې:
الف: الله ﷻ ډېر منونکی دی، په لږ نېک عمل باندې ډېر ثوابونه ورکوي.
ب: حلیم هم دی، په عقوبت او تعذیب باندې عجله نه کوي.
ج: الله ﷻ په غیبو (پټو) او ښکندو کارونو باندې د کاملې پوهې درلودونکی دی چې د زړه اخلاص هم ورته ښکاره دی.
د: الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند او هم د حکمت ښښتن دی چې د ارادې په وړاندې یې څوک خنډ نه شي جوړېدلی او ټول کارونه یې د حکمتونو په بنیاد صورت نیسي.

## توضیحات

۱ـ مېرمن او اولاد لکه څنګه چې سړي ته د آخرت په هکله دښمنان جوړېدلی شي، لکه چې په شان نزول کښې ورته اشاره شوې ده، همدارنګه د دنیاوي دښمنۍ یې هم ډېر مثالونه شته لکه:
الف: موږ ته داسې مېرمن هم معلومه ده چې د خپل مېړه په قتل کښې یې اشتراک کړی وه، او داسې زوی هم چې په خپل پلار باندې یې ماشینه وچلوله او شهید یې کړ، دواړه قاتلین لا تراوسه ژوندي دي.
ب: داسې مېرمن او اولادونه خو ډېر شته چې د مېړه یا خپل پلار ښتمني د خاورو سره برابره کړي چې ورته غله پېښو جوړه شي او یا ورته غل سپی وګرځي.

## نعمت او ازموینه

۲ـ په ﴿ إِنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٌ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې که څه هم مالونه او اولادونه د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ نعمتونه دي مګر په عين حال کښې په دواړو باندې سرې د امتحان او ازمېښت لاندې هم واقع کېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې د نبي کريم ﷺ احاديث ولولئ:

الف: «إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً وَإِنَّ فِتْنَةَ أُمَّتِي الْمَالُ»[۱] يعني يقيناً د هر امت دپاره امتحان شته او يقيناً زما د امت ازموينه (د اکثريت په لحاظ) مال او شتمني ده.

ب: او په يوه حديث کښې يې فرمايلي دي چې: «فَوَاللهِ مَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ وَلَكِنِّي أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ الدُّنْيَا عَلَيْكُمْ كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَتَنَافَسُوهَا فَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ»[۲] يعني نو په الله ﷻ باندې سوګند دی چې زه په تاسو باندې د فقيرۍ څخه نه ډارېږم (چې هلاک به مو کړي) مګر زه په تاسو باندې ډارېږم چې دنيا به درباندې پراخه شي (شتمني به مو ډېره شي) لکه چې په هغو خلکو باندې پراخه شوې وه کوم چې ستاسو څخه وړاندې وه، نو تاسو به په همدغې پراخه دنيا کښې يو په بل باندې افتخار (او تکبر) خپل کړئ نو (په معنوي هلاک سره) به مو داسې هلاک کړي لکه چې پخواني خلک يې هلاک کړي دي.

ج: يوه ورځ نبي کريم ﷺ په ممبر باندې ولاړه وه او خطابه يې ورکوله چې حسن او حسين يې وليدل چې سره-سره کميسونه يې اغوستي وه او (د کمزورۍ د کبله) غورزېدل، نو نبي کريم ﷺ د ممبر څخه رابښکته شو او دواړه يې اوچت کړل او خپلې مخې ته يې کښېنول او بيا يې وفرمايل چې: «صَدَقَ اللهُ ﴿ إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ﴾ نَظَرْتُ إِلَى هَذَيْنِ الصَّبِيَّيْنِ يَمْشِيَانِ وَيَعْثُرَانِ فَلَمْ أَصْبِرْ حَتَّى قَطَعْتُ حَدِيثِي وَرَفَعْتُهُمَا»[۳] يعني الله ﷻ رښتيا ويلي دي چې ستاسو مالونه او ستاسو اولادونه ستاسو دپاره امتحان دی، ما دغه دواړه ماشومان ولېدل چې روان دي او غورزېږي نو صبر مې ونه کړ ترڅو مې چې خپله خبره (خطابه) پرې کړه او دوی دواړه مې اوچت کړه.

د: «إِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ»[۴] يعني يقيناً خپل ماشوم د بخل سبب دی، د بې زړه توب سبب دی (چې د في سبيل الله انفاق مخه نيسي او جهاد ته د تللو مانع واقع کېږي).

## د خپلې وسې په اندازه تکليف

۳_ په ﴿ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسْتَطَعْتُمْ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې الله ﷻ هيڅوک د توان او وسې څخه پورته مکلف نه ګرځوي. لاندې وضاحت ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ﴾ [البقرة:۲۸۶] يعني الله ﷻ هيڅوک مکلف نه ګرځوي مګر د هغه د توان په اندازه.

ب: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «فَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَاجْتَنِبُوهُ وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۱۵۲

(۲) سنن ابن ماجه ص۲۸۸

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۲۱۸

(۴) سنن ابن ماجه ص۳۶۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بأمرٍ فأتوا منه ما استطعتم»[۱] یعنې نو کله چې ما تاسو د کوم شي څخه منعه کړئ نو د هغه څخه منعه شئ او په کوم وخت کښې مې چې تاسو ته په کوم کار سره امر وکړ نو هغه ته ورتګ وکړئ (البته) ترڅو مو چې توان او وسه وي.

## یو نحوي تحلیل

۴_ په ﴿ وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ وَأَنفِقُواْ خَيۡرٗا لِّأَنفُسِكُمۡ ﴾ کښې د ﴿ خَيۡرٗا ﴾ د کلمې په نصب کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[۲] کوم احتمال چې پکښې مونږ ته غوره او د نورو څخه ګټور برېښي هغه په لاندې ټکو کښې خلاصه کېږي:

الف: د ﴿ خَيۡرٗا ﴾ کلمه په ﴿ وَأَنفِقُواْ ﴾ سره منصوبه ده او په دې مقام کښې ترې مال مطلب دی، لکه چې دغه کلمه په [البقرة: ۱۸۰] ایت کښې په همدې معنی سره تفسیره شوې ده.

ب: د ﴿ لِّأَنفُسِكُمۡ ﴾ کلمه د تنازع په ملحوظ د ذکرو شوو درېواړو جملو سره تړاو لري.

نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: تاسو د خپلو ځانونو د ګټې دپاره ارشاد قبول کړئ او د احکامو اطاعت خپل کړئ او بالآخره خپل (څه) مالونه في سبیل الله مصرف او خرڅ کړئ.

## الله ﷻ ته قرض ورکول څه معنی؟

۵_ الله ﷻ په ﴿ إِن تُقۡرِضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا ﴾ کښې في سبیل الله انفاق په قرض سره تعبیر کړ ترڅو خپل بندګان د اشارې په توګه پوه کړي چې د دغه انفاق د عوضونو او اجرونو ورکړه د الله ﷻ په نزد داسې حتمي او ضروري ده لکه چې ستاسو په نزد د قرض ورکړه حتمي او ضروري ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه حسنه قرض د هغه في سبیل الله انفاق نوم دی کوم چې په اخلاص او سوچه نیت سره صورت ونیسي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه قدسي حدیث کښې اشاره کړې ده چې الله ﷻ وایي چې: «مَنْ يُقْرِضُ غَيْرَ عَدِيمٍ وَلَا ظَلُومٍ»[۳] یعنې هغه څوک دی چې هغه چاته قرض ورکړي چې نه فقیر دی (چې څه نه لري) او نه تېرې کوونکی دی (چې د درلودلو سره_سره چاته څه نه ورکوي. یا په بل عبارت هغه څوک دی چې الله ﷻ ته قرض ورکړي)؟

په همدې ځای باندې د الله ﷻ په توفیق د "التغابن" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ يُوقَونَ شُحَّ أَنْفُسِهِمْ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ.

۱۴۲۵/۶/۸ هـ ق - ۱۳۸۳/۵/۴ هـ ش.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۸۲

(۲) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۳۲؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۱۴۰

(۳) صحیح مسلم ج۱ ص۲۵۸

# الطلاق (٦٥)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ دا سورت په لاندې دوه وو نومونو سره شهرت لري:

الف: یو نوم یې "الطلاق" دی چې د همدې سورت په لومړني ایت کښې د ﴿ إِذَا طَلَّقْتُمُ ﴾ د کلمې څخه اخستلی شوی دی.

ب: دوهم نوم یې «النِّسَاءِ الْقُصْرَى» دی یعنې د زنانه وو لنډ (وړوکی) سورت[۱]، دا نوم ورته څکه ایښودل شوی دې چې په دې سورت کښې د احکامو مطلق اکثریت د زنانه وو سره تړاو لري او د ایتونو شمېر یې هم لږ دی فقط دولسو (۱۲) ایتونو ته رسېږي[۲].

د دې نامه په مقابل کښې یو بل سورت د "سُورَةُ النِّسَاءِ الْكُبْرَى" په نوم نومولی شوی دی یعنې د زنانه وو اوږد سورت، چې یو سلو شپږ اویا (۱۷۶) ایتونه لري او په څلورمه سپاره کښې پیل شوی او آن په شپږمه سپاره کښې پای ته رسېدلی دی، چې د احکامو اکثریت یې په زنانه وو پورې مربوط دی.

۲ـ د دې سورت (الطلاق) د کلماتو شمېر دوه سوه نهه څلوېښت (۲۴۹) دی[۳]. او د حرفونو شمېر یې یو زرو شپېتو (۱۰۶۰) حرفونو ته پورته شوی دی[۴].

۳ـ دا سورت د علماوو کرامو په اجماع سره مدني دی او د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی[۵].

۴ـ دا سورت د وړاندېني سورت (التغابن) دپاره د لاندې وجې د کبله د تماموونکي حیثیت لري.

هلته ځینې میرمنې او ځینې اولادونه د دښمنانو په نامه یاد شوي وه خو په عین حال کښې توصیه هم نازله شوې وه چې تاسو ورسره دښمنانه لار مه غوره کوئ بلکې د عفوې او بښنې څخه کار واخلئ، هوا که په عفوه او بښنه باندې څه اثر مرتب نه شو نو بیا د زنانه وو په هکله د طلاق څخه په غیر بله لاره نشته.

نو په دې سورت کښې د یو پلوه د طلاق اړونده احکام نازل شوي دي او د بله پلوه د اولادونو نفقه د (خوراک او څښاک) بیان هم د نظره نه دی غورزولی شوی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحْصُواْ ٱلْعِدَّةَ ۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ رَبَّكُمْ ۖ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَتِلْكَ

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۹
(۲) تفسیر ابي السعود ج۸ ص۲۶۰
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۲۸۴
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۱۴۲
(۵) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۳۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حُدُودُ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُۥ ۚ لَا تَدْرِى لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ
ذَٰلِكَ أَمْرًا ﴿١﴾ فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَأَشْهِدُوا۟
ذَوَىْ عَدْلٍ مِّنكُمْ وَأَقِيمُوا۟ ٱلشَّهَٰدَةَ لِلَّهِ ۚ ذَٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ
وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا ﴿٢﴾ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَن
يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمْرِهِۦ ۚ قَدْ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَىْءٍ قَدْرًا ﴿٣﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر رحم درلودونکي الله ﷻ په نامه.

[۱] ای پیغمبره! کله چې تاسو غواړئ چې خپلو مېرمنو ته طلاق ورکړئ نو هغوی ته د عدت (د پوره کولو) دپاره طلاق ورکړئ (نه د عدت د اوږدولو دپاره) او په کلکه سره عدت وشمېرئ (چې زیات یا کم نه شي). او د الله ﷻ څخه چې ستاسو رب دی وډار شئ.

طلاقې کړی شوې ښځې د خپلو استوګنځایونو څخه (د عدت په وخت کښې) مه باسئ او نه دې هغوی پخپله (ترې) وځي مګر هله چې هغوی په ښکاره بدخویي باندې راتګ وکړي (چې ګوزاره ورسره مشکله وګرځي).

او دغه (ارشادات د بل چا نه بلکې) د الله ﷻ حدود دي (نو پوره مراعات یې وکړئ)، او هرڅوک چې د الله ﷻ د حدودو څخه تجاوز وکړي (او رعایت یې ونه کړي) نو هغه کس په خپل ځان باندې ظلم وکړ (چې د عذاب مستحق یې وګرځاوه).

(ای بنیادمه! ته مه مغرور کېږه او مه وارخطا کېږه) ته نه پوهېږې شاید چې الله ﷻ د دغه وخت څخه وروسته نوی کار پیدا کړي (چې ستا موجوده حالت د منځه یوسي).

[۲] نو کله چې طلاقې کړی شوې زنانه د عدت خپلې نېټې ته ورسېدې (انتهاء ته یې ورنږدې شوې) نو په شرعي معروفه توګه یې را ایسارې کړئ (رجوع ورته وکړئ) او یا یې په شرعي معروفه توګه (د خپلو خانونو څخه) جدا کړئ، او (په هر حال) د خپلو ځانونو (مؤمنانو د جملې) څخه دوه د عدل خاوندان کسان (پرې) شاهدان ودروئ او (ای شاهدانو!) خاص د الله ﷻ دپاره شهادت (حفظ او) اداء کړئ.

(ای مؤمنانو!) دغه (مذکور بیان) چې دی په دې سره (د الله ﷻ د پلوه) هغه چاته وعظ (نصیحت) ورکولی کېږي کوم چې په الله ﷻ او په وروستنۍ ورځې (قیامت) باندې په دائمي توګه ایمان راوړي او هرڅوک چې د الله ﷻ څخه وډار شي نو الله ﷻ به ورته (د مشکلاتو څخه) د وتلو ځای (او زمانه) وګرځوي (پیدا کړي).

[۳] او (په دې باندې علاوه) الله ﷻ به همده (ډارېدونکي کس) ته د داسې ځای څخه روزي ورکړي چې د هغه به ګومان هم نه وي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او هرڅوک چې په الله ﷻ باندې توکل (او اعتماد) وکړي نو الله ﷻ يې بس دی (احتياجات به يې پوره کړي).

يقيناً الله ﷻ د خپل هر کار (انتهاء ته) رسوونکی دی (هيڅوک يې مخه نه شي بندولی).

يقيناً الله ﷻ د هر شي دپاره (په ازل کښې) اندازه ګرځولې (ټاکلې) ده.

## د مطلب خلاصه

يعنې ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" په ويلو سره په خپل امت باندې قرائت کړه چې:

۱_ کله چې تا او يا ستا امتيانو اراده وکړه چې خپلو مېرمنو ته طلاق ورکړي نو تاسو لاندې ارشادات په پام کښې ونيسئ:

الف: تاسو خپلې مېرمنې په داسې حال کښې طلاقې کړئ چې هغوی خپل عدت ته ورروانې وي. يا په بل عبارت: هغوی ته د طهر په حالت کښې طلاق ورکړئ ترڅو د همدغه طهر په پای کښې د هغوی عدت په حيض سره شروع شي.

ب: تاسو او ستاسو طلاق کړې شوې مېرمنې دېر دقت وکړئ او د عدت شپې او ورځې تر شمېر لاندې ونيسئ، هسې نه چې په عدت باندې يا څه وخت اضافه شي او يا ترې لږ شي چې ټول وخت يې بشپړ نه کړی شي.

ج: تاسو د خپل رب الله ﷻ څخه وډار شئ او د عدت تکميل د نظره مه غورزوئ، هسې نه چې د عتاب لاندې واقع شئ.

د: ای مؤمنانو! تاسو طلاقې شوې مېرمنې د عدت په موده کښې د خپلو کورونو او هغو ځايونو څخه مه وباسئ په کومو کښې چې د طلاق ورکولو څخه وړاندې هغوی استوګنه درلوده.

ه: دغه طلاقې شوې ښځې دې په خپله خوښه هم د خپلو استوګنځايونو څخه نه وځي او همدلته دې د عدت موده پوره کړي.

هو! که دغو ښځو په څرګنده بدخويي باندې راتګ وکړ چې په ذکرو شوو کورونو کښې ورسره د چا ګوزاره نه کېدله، او يا يې پخپله ګوزاره نه شوه کولی نو بيا يې د ويستلو يا وتلو باک نشته.

و: دغو ارشاداتو ته په درانده نظر وګورئ، ځکه چې دا د بل چا ارشادات او حدود نه دي بلکې د الله ﷻ حدود او ارشادات دي چې د قيامت په ورځ به بې پوښتنې پاتې نه شي.

ز: نو په همدې بنياد هرڅوک چې د الله ﷻ د ټاکلو حدودو او ارشاداتو څخه تېری وکړي او په عمل کښې يې پياده نه کړي نو هرومرو همغه کس په خپل ځان باندې ظلم وکړ او خپل ځان يې د عذاب لايق وګرځاوه.

ح: دغه د طلاق کړې شوو مېرمنو په خپلو ټاټوبو کښې اوسول د دې دپاره په حدود الله کښې وشمېرل شوه ترڅو هغوی د عدت په موده کښې ستاسو تر نظر لاندې وي نو شايد چې الله ﷻ د طلاق څخه وروسته بل څه کار نوی پيدا کړي او هغه نفرت پرې د منځه بوځي د کوم له وجې چې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



طلاق رامنخته شوی دی. یا په بل عبارت: څه لرې نه ده چې تاسو په ورکړی شوي طلاق باندې پښېمانه جوړ شئ او په رجوع کولو سره خپله خبره بېرته واخلئ.

۲ـ نو ای مؤمنانو! کله چې تاسو هغوی ته رجوع ونه کړه او خپله خبره مو آن تر هغه وخته پورې بېرته وانخستله چې د هغوی عدت انتهاء ته ورنژدې شو او په سات ګړۍ کښې ختمېدونکې وګرځېد، نو په دغه وخت کښې لاندې ارشادات په نظر کښې وساتئ:

الف: یا ذکرې شوې طلاقې شوې مېرمنې په خپلو نکاحي ملکیتونو کښې بندې کړئ او د شریعت په معروف چوکاټ کښې ورته رجوع وکړئ.

ب: او یا هغوی د شریعت په مطابق د خپلو خانونو څخه جدا کړئ او طلاق ته مو نهایي صورت ورکړئ او په رجوع باندې ساکت پاتې شئ.

ج: په هر تقدیر، تاسو چې د ذکرو شوو دوه وو حالاتو څخه هر یو حالت غوره کړ نو په همغه باندې د خپلو مؤمنانو د جملې څخه دوه کسان ـ چې د عدل خاوندان وي ـ د شاهدانو په حیث ودروئ ترڅو په راتلونکي کښې د شخړو او جنجالونو مخنیوی وشي.

د: ای مؤمنانو! په دغه صورت کښې تاسو صرف د الله ﷻ د رضامندۍ د حاصلولو په موخه شهادت په پښو باندې ودروئ او څه ادلون بدلون ته پکښې صورت مه ورکوئ.

هـ: دغه ذکر شوی هر یو حکم چې دی تاسو ته پرې د زجر په توګه وعظ او نصیحت درکولی کېږي. خو په یاد ولرئ چې په دغو احکامو باندې به هغه څوک عمل کوي چې په ربښتیانیو معناوو کښې یې په الله ﷻ او په وروستنۍ ورځې باندې ایمان راوړی وي او باور پرې لري.

۳ـ ای مؤمنانو! تاسو په دې مقام کښې لاندې ارشادات په دائمي توګه په خپل نظر کښې وساتئ او خپلو زړونو تهورباندې تسکین ورکړئ:

الف: هرڅوک چې د الله ﷻ څخه وډار شي او پرهېزګاري وکړي نو هغه ته به الله ﷻ د ستونزو څخه د وتلو لارې چارې برابرې کړي او په داسې طریقه به یې ستونزې حل کړي چې د هغه به د حل کولو څخه وړاندې په ذهن کښې هم نه ګرځي.

ب: همدارنګه به نوموړي متقي بنیادم ته د داسې طرف څخه پاکه حلاله روزي ورکړي چې د هغه به په خیال کښې هم نه تېرېږي چې د دې لورې څخه به ماته روزي راکړی شي.

ج: هرڅوک چې یوازې په الله ﷻ باندې توکل او اعتماد وکړي نو الله ﷻ د همدغه کس دپاره بس دی چې ټول کارونه به یې ورته جوړ کړي. او دا ځکه چې:

د: یقینًا الله ﷻ د خپل کار سر ته رسوونکی دی چې د ارادې په وړاندې یې هیڅوک او هیڅ شی خنډ نه شي ګرځېدلی.

هـ: یقینًا الله ﷻ د هر شي دپاره اندازه ټاکلې ده او هر کار ته په خپل ټاکلي وخت کښې صورت ورکوي البته هغه وخت کوم چې ورته په ازل کښې مقدر کړی شوی وي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د دغو ایتونو څه اړونده احکام وړاندې تېر شوي دي والحمد لله ﷻ، هغه دا چې:

الف: د [البقرة:۲۲۷] ایت لاندې دغو مطالبو ته اشاره شوې ده:

اول: د ابو حنیفه علیه الرحمة په نزد د حیض درلودونکو مطلقو زنانه وو عدت په درېوو حیضونو سره تېرېږي، او د الشافعي علیه الرحمة په نزد د ذکر شوو ښځو عدت په درېوو طهرونو سره اختتام مونده کوي.

دوهم: شرعي عدت د هغې مودې څخه عبارت دی په کومه کښې چې د خپل خاوند څخه جدا کړې شوې ښځه بل څوک په نکاح سره نه شي اخستلی.

درېم: د کومو سببونو په اثر چې مېرمن د خپل خاوند څخه جدا کېږي هغه څلور سببونه دي.

څلورم: د زنانه وو په ملحوظ عدت په پنځه ډوله دی.

پنځم: د الله ﷻ د پلوه د درېوو حکمتونو په بنیاد عدت تشریع شوی دی.

ب: او د [البقرة:۲۳۹] ایت لاندې دغه مطالب لیکلی شوي دي:

اول: د سنتو په طریقه باندې برابر طلاق په دوه ډوله دی چې یو ښه دی او بل ډېر ښه دی.

دوهم: کوم طلاق چې په شرعي طریقه باندې برابر نه وي هغه د بدعي په نامه یادېږي، چې کله د عدد په لحاظ بدعي وي او کله د حالت په لحاظ.

درېم: د وقوع په لحاظ طلاق په درې ډوله دی چې یو رجعي دی، بل خفیف بائن دی او بالآخره بل غلیظ بائن دی.

نو هیله ده چې علاقمندان هملته مراجعه وکړي، مونږ په دې مقام کښې صرف هغه احکام لیکو چې د ایتونو سره ډېره نژدې اړیکه ولري.

### نبي کریم ﷺ ته د خطاب ډولونه

۲ـ نبي کریم ﷺ په قرآن کریم کښې په لاندې درې ډوله احکامو سره مخاطب ګرځولی شوی دی:

الف: په هغو احکامو سره کوم چې په نبي کریم ﷺ پورې خانګړي وي، لکه ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحۡلَلۡنَا لَكَ ﴾ الآیة [الأحزاب: ۵۰] یعنې ای پیغمبره! مونږ تا ته د څلورو څخه علاوه متعددې زوجاتې حلالې کړې دي.

ب: په هغو احکامو سره کوم چې په امت پورې خانګړي وي او نبي کریم ﷺ ورباندې د زیات اهتمام دپاره مخاطب ګرځولی شوی وي، لکه ﴿ فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ ﴾ الآیة [الإسراء:۲۳] یعنې نو ته خپل مور او پلار ته اُف هم مه وایه (حال دا چې د نبي کریم ﷺ مور او پلار لا پخوا وفات شوي وه).

ج: په هغو احکامو سره کوم چې د نبي کریم ﷺ په شمول ټولو مؤمنانو ته شمولیت لري، لکه همدغه ایت چې بحث پکښې روان دی، د همدې کبله د ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ﴾ څخه وروسته د ﴿ إِذَا طَلَّقۡتُمُ ﴾ کلمه نازله شوې ده او ټول امت مخاطب ګرځولی شوی دی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په ﴿ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ ﴾ کښې د "لِ" توری کوم چې په ﴿ فَطَلِّقُوهُنَّ ﴾ پورې متعلق دی څه معنی ورکوي؟

مونږ وايو چې: په دې ارتباط خو علماوو کرامو متعدد جوابونه ليکلي دي[1]. مونږ ته د بدليت په ملحوظ دوه جوابونه بهتر برېښي هغه دا چې:

الف: دغه "لِ" د توقيت دپاره دی او د "فيِ" معنی ورکوي[2] لکه چې په همدې معنی باندې په [الحشر:۲] ايت کښې استعمال شوی دی. دا د يو پلوه، او د بله پلوه د عدت څخه عدت ته ډېر نژدې وخت مطلب دی کوم چې د طهر څخه عبارت دی، لکه چې په راتلونکي ايت ﴿ فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ ﴾ کښې د "أجَل" څخه پخپله اجل (نېټه) نه بلکې اجل ته ډېر نژدې وخت مراد دی چې د عدت وروستنی لحظې دي.

يعنې که تاسو د طلاق اراده کړې وي نو عدت ته په ډېر نژدې (وخت) کښې طلاق ورکړئ چې طهر دی، نه په حيض کښې چې د عدت څخه ډېر لرې واقع دی، او دا څکه چې په دې تقدير د راتلونکي حيض څخه عدت پيل کېږي چې د طلاق د وقوع او عدت ترمنځ دغه حيض او ورپسې طهر حائل واقع کېږي.

ب: دغه "لِ" اجليه دی. يعنې تاسو د عدت د پوره کولو او تېرېدلو دپاره طلاق ورکړئ، نه د عدت د اوږدولو دپاره چې: په درېيم حيض کښې ورته رجوع وکړئ او په ورپسې طهر کښې دوهم طلاق ورکړئ بيا ورته په درېيم حيض کښې رجوع وکړئ او په ورپسې طهر کښې درېيم طلاق ورکړئ.

نو په دې تقدير به د حيضونو تعداد د درېوو څخه نهو حيضونو ته اوږد شي. لنډه دا چې تاسو په يوه طلاق باندې اکتفاء وکړئ ترڅو په درېوو حيضونو سره عدت تېر شي، او يا د اول حيض څخه وروسته او هم د دوهم حيض څخه وروسته بدون د رجوع يو-يو طلاق ورکړئ، ترڅو د طلاقونو تعداد (درې) پوره شي او د حيضونو تعداد هم د درېوو څخه اضافه او اوږد نه شي.

## يادونه

۴ـ په ﴿ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ﴾ کښې د "فَاحِشَةٍ مُبَيِّنَة" کلمات د الله ﷻ په توفيق د [الأحزاب: ۳۰] لاندې شرحه شوي دي چې د بدخويي خپلولو څخه عبارت دي، نو بيا شرحه کولو ته يې څه اړتيا نه ګورو.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په ﴿ لَا تَدْرِى لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَٰلِكَ أَمْرًا ﴾ کښې د ﴿ لَا تَدْرِى ﴾ په

---

(۱) البحر المحيط ج۱۰ ص۱۹۶؛ تفسير المظهري ج۹ ص۳۱۷؛ تفسير الكشاف ج۴ ص۵۵۲

(۲) روح المعاني ج۲۸ ص۱۲۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ضمیر سره څوک مخاطب ګرځولی شوی دی؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو دغه سوال ته متعدد جوابونه کړي دي[۱]، مونږ ته بهتره دا برېښي چې په دغه ضمیر سره به مطلق بنیادم مخاطب ګرځولی شوی وي، برابره خبره ده چې نارینه وي او که زنانه، او برابره خبره ده چې د طلاق او عدت په ارتباط وي او یا د دنیا د نورو حوادثو په ارتباط.

نو حاصل به یې داسې راوځېږي چې: ای بنیادمه! ته د دنیا په یوه کار کښې هم د حدود الله ﷻ څخه تجاوز مه کوه، په خوشالیو باندې دېر خوشالېږه مه چې د شریعت د چوکاټ څخه ووځې. او په غمونو باندې یې دېر غمژن کېږه مه چې د شریعت ارشادات د پښو لاندې کړې. او دا خکه چې تا ته په راتلونکو حوادثو باندې څه علم نشته، ایا ته ورباندې علم غیب لرې؟ شاید چې الله ﷻ د دغه وخت څخه وروسته داسې کار نوی او تازه پیدا کړي چې ستا مشکلات پرې حل کړي، او یا پرې ستا د خوشالی او تکبر کاسه نسکوره کړي او حالت دې سرچپه کړي.

## ماثور تفسیر

۶ـ په دې مقام کښې لاندې احادیث د تفسیر په حیث ولولئ:

الف: د یوه حدیث مضمون دی چې یو ځلې نبي کریم ﷺ دا ایت ﴿ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا ﴾ ولوست او بیا یې وفرمایل چې: «يَا أَبَا ذَرٍّ لَوْ أَنَّ النَّاسَ كُلَّهُمْ أَخَذُوا بِهَا لَكَفَتْهُمْ»[۲] یعني ای ابا ذره! که چرته ټول خلک همدغه ایت شریف ونیسي او په عمل کښې یې پیاده کړي نو ټولو ته به کفایت وکړي.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ أَكْثَرَ مِنَ الِاسْتِغْفَارِ جَعَلَ اللهُ لَهُ مِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا وَمِنْ كُلِّ ضِيقٍ مَخْرَجًا وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ»[۳] یعني هر څوک چې دېر استغفار وایي (او مغفرت دېر غواړي) نو الله ﷻ به ورته د هر غم څخه خلاصون وګرځوي، او د هرې تنګی څخه به ورته د وتلو لاره هواره کړي او د داسې پلوه به ورته روزي ورکړي چې د هغه ګومان به هم نه وي (چې د دې دپلوه به لا ماته روزي راکړه شي).

ج: او په یوه حدیث کښې یې داسې فرمایلي دي: «وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيبُهُ»[۴] یعني او یقینًا سړی د روزی څخه د ګناه په سبب بې برخې ګرځولی کېږي چې ورته اصابت وکړي، او مرتکب یې جوړ شي.

﴿ وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسْنَ مِنَ ٱلْمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمْ إِنِ ٱرْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشْهُرٍ وَٱلَّٰٓـِٔي لَمْ يَحِضْنَ ۚ وَأُوْلَٰتُ ٱلْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مِنْ أَمْرِهِۦ

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۴۰؛ تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۱۹۰؛ تفسیر ابي السعود ج۸ ص۲۶۱

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۱۳۱

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۵۲۵

(۴) سنن ابن ماجه ص۲۹۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يُسْرًا ﴿٤﴾ ذَٰلِكَ أَمْرُ اللَّهِ أَنزَلَهُ إِلَيْكُمْ ۚ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا
﴿٥﴾ أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ ۚ وَإِن كُنَّ
أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۖ
وَأْتَمِرُوا بَيْنَكُم بِمَعْرُوفٍ ۖ وَإِن تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرَىٰ ﴿٦﴾ لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن
سَعَتِهِ ۖ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ ۚ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا ۚ
سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ﴿٧﴾ ﴾

[۴] او ستاسو د مېرمنو څخه هغه (طلاقې شوې) مېرمنې کومې چې د حیض څخه نااميده وي (او د ډېر بوډۍ توب د کبله يې حيض درېدلی وي) نو که تاسو (يې په عدت کښې) شک کوئ نو عدت يې درې مياشتې دي (خپل شک پرېږدئ)، او هغه زنانه هم کومې چې (د ماشومتوب د کبله) حيضي نه گرځي (نو د دغو عدت هم درې مياشتې دی).

او د بارونو خاوندانې (اميدوارې) ښځې چې دي د دوی (د عدت) نهايي نېټه د بار وضعه کول (د ماشوم زېږول) دي.

او هرڅوک چې د الله ﷻ څخه وېدار شي نو الله ﷻ به ورته د هغه د کار څخه اساني وگرځوي (مشکلات به يې ورحل کړي).

[۵] دغه (مذکور بيان) د الله ﷻ امر دی چې تاسو ته يې (د تعميل دپاره) درنازل کړی دی.

او هرڅوک چې د الله ﷻ څخه وېدار شي نو گناهونه به يې ترې محوه کړي او اجر (ثواب) به يې ورته ډېر لوی وگرځوي.

[۶] طلاقې شوې زنانه (د عدت په موده کښې) هلته واوسوئ چرته چې په خپله اوسېږئ (او هم ورته) د خپلې غنا (پراخۍ) په اندازه (نفقه ورکړئ) او هغوی ته ضرر مه رسوئ چې تنگي پرې ورولئ (د کور څخه يې وتلو ته مجبورې کړئ).

او که هغوی د حمل (اميد) خاوندانې وي نو تاسو پرې ترهغه وخته پورې د نفقې مصرف وکړئ ترڅو چې هغوی خپل حمل (اميد) وضعه کړي (او ماشوم وزېږوي، عدت يې تېر شي).

نو که ستاسو دپاره يې (بيا) ماشوم ته تې ورکړ نو هغوی ته اجوره (مزدوري) ورکړئ.

او تاسو (ميندې او پلرونه د ماشوم د تې ورکولو د مودې په هکله) په شرعي معروفه توگه سره په خپلو منځو کښې مشوره وکړئ.

او که تاسو يو تربله سختي وکړئ نو ډېر ژر دی چې د پلار دپاره به (ماشوم ته) بله تې ورکوونکې زنانه (په اجرت سره) تې ورکړي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷] د پراخی خاوند (پلار) دې د خپلې پراخۍ څخه (خپل ماشوم ته) نفقه ورکړي.
او هغه څوک چې (د الله ﷻ د پلوه) ورباندې روزي تنګه کړی شوې وي نو هغه دې (پرې) د هغه
مال څخه انفاق وکړي کوم چې ورته الله ﷻ ورکړی وي (که څه هم لږ وي).
الله ﷻ هیڅوک نه مکلف کوي مګر په هغې اندازه (انفاق سره) کوم چې ورته الله ﷻ ورکړی وي.
ډېر ژر ده چې الله ﷻ به د سختۍ څخه وروسته (که اراده یې وشي) اساني وګرځوي (پیدا کړي).

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! په خپل امت باندې د عدت په هکله څه نور ارشادات هم قرائت کړه او د الله ﷻ د پلوه ورته ووایه چې:

۱ـ ای مؤمنانو! که تاسو په دې کښې شک لرئ چې د هغو طلاق کړی شوو زنانه وو عدت به څنګه وي کومې چې د حیض والا نه وي، نو جواب یې دا دی چې:

الف: کومې زنانه چې بوډۍ وي او د بوډۍ توب د کبله د حیض څخه ناامیده شوې وي د هغوی عدت په درېوو میاشتو سره تېرېږي چې هره یوه میاشت د یوه حیض په خای درېږي.

ب: همدارنګه د هغو طلاقو شوو زنانه وو عدت هم د درېوو حیضونو په عوض په درېوو میاشتو سره تېرېږي کومې چې ماشومې وي او د حیض وخت ته نه وي رسېدلې.

۲ـ د امیدوارو طلاقو شوو زنانه وو د عدت موده هله پوره کېږي کله چې هغوی خپل ماشوم او د خپلې ګېډې بار کېږدي، برابره خبره ده چې په لږ وخت کښې یې وزېږوي او یا په ډېر وخت کښې.

۳ـ ای مؤمنانو! تاسو د دغو احکامو په تعمیل کښې سستي مه کوئ او د الله ﷻ څخه وډار شئ او په دې پوه شئ: هرڅوک چې د الله ﷻ څخه وډار شي نو الله ﷻ به د هغه په کارونو کښې اساني واچوي او په سهولت سره به یې کارونه په دنیا کښې انجامېږي.

۴ـ ای مؤمنانو! دغه چې ذکر شوه دا د بل چا نه بلکې د الله ﷻ اوامر او احکام دي چې تاسو ته یې د تعمیل دپاره درنازل کړي دي چې په حفظ کښې یې د الله ﷻ څخه وډار شئ، او هرڅوک چې د الله ﷻ څخه وډار شي نو الله ﷻ به د هغه ګناهونه محوه کړي او هم به ورته په آخرت کښې اجر او ثواب ډېر لوی وګرځوي.

۵ـ ای مؤمنانو! تاسو خپلې طلاقې کړی شوې زنانه د عدت په وخت کښې په هغو مساکنو کښې واوسوئ په کومو کښې چې تاسو اوسېږئ، په کومو کښې چې د طلاق ورکولو څخه وړاندې هغوی استوګنه درلوده. او څرنګه چې هغوی د عدت په موده کښې ستاسو د قید څخه نه دي وتلې نو تاسوورباندې د خپلې وسې او توان په اندازه مالي انفاق هم وکړئ او نفقه ورکړئ.

په دې باندې علاوه، تاسو ذکرې شوې ښځې په حرج کښې مه اچوئ چې تنګې یې کړئ او کور پرېښودلو ته یې اړ باسئ؛ ترڅو یې د نفقې څخه خپلې اوږې خالي کړئ.

۶ـ او که ذکرې شوې زنانه د امید (حمل) درلودونکې وي نو تاسو هغوی ته هم نفقه ورکړئ او د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وخت اوږدوالي ته مه زړه تنګي کېږئ، بلکې آن د حمل (امید) د وضعه کولو تر وخته پورې د نفقې ورکولو ته یې ادامه ورکړئ.

۷_ دغه زنانه د ماشوم د زېږولو څخه وروسته په تاسو باندې د نفقې او مسکن حق نه لري، او نه تاسو په هغوی باندې حق لرئ چې ضرور به ستاسو ماشوم ته خپل شوده ورکوي. نو تاسو دغه ارشادات په نظر کښې ونیسئ:

الف: که هغوی ستاسو زېږولی شوي ماشوم ته خپل شوده ورکول چې په خپل تې باندې یې غټ کړي، نو تاسو هغوی ته د هغوی په هغه اندازه اجرت ورکړئ کوم چې په وطن کښې رواج وي.

ب: د شودو ورکولو موده خو د تمام په توګه پوره دوه کاله ده نو په دغو دوه کالو کښې په تاسو حق دی چې د خپل ماشوم په خاطر ذکرو شوو طلاقو شوو زنانه وو ته اجرت ورکړئ.

ج: هو! تاسو او ستاسو ذکرې شوې طلاقې شوې زنانه سره مشوره وکړئ، نو کوم ماشوم ته چې د مریضې مور شوده په ضرر تمامېده او یا هغې توان نه درلود چې د شودو ورکولو ته تر دوه وو کالو پورې ادامه ورکړي نو تاسو ته جواز شته چې د تي ورکولو موده دوه وو کالو ته ونه رسوئ. همدارنګه که د مشورې په بنیاد تاسو د تي ورکولو موده د دوه وو کالو څخه دوه نیم کالو ته اوږده کړه هم څه باک یې نشته.

د: که تاسو (پلرونه او میندې) د اجرت په ورکولو کښې سختي وکړئ چې رواجي اجرت نه ورکوئ، او یا یې په اخستلو کښې د سختۍ څخه کار واخلئ چې په رواجي اجرت باندې نه راضي کېږئ او د اجرت د زیادت غوښتونکي یاست، نو دغه دواړه کارونه ستاسو دپاره مناسب کارونه نه دي خکه چې:

اول: که تاسو د ماشوم مور ته پوره اجرت نه ورکوئ حال دا چې د ماشوم دپاره مور بهتره ده نو ایا بله زنانه به یې درته پرته د اجرته ورروزي او په کم اجرت به ستاسو ماشوم ته تی ورکړي؟

دوهم: که د ماشوم مور اضافه اجرت غواړي نو ایا بله زنانه به مونده نه شي چې په عادي اجرت باندې ماشوم په غېږ کښې واخلي او روزنه یې پیل کړي؟

ه: د ماشوم دپاره په اجرت ورکولو باندې علاوه، د هغه نفقه او اړتیاوې پوره کول هم ستاسو په غاړه دي. نو په همدې بنیاد:

اول: د پراخۍ خاوند دې په خپل ماشوم باندې د خپلې پراخۍ په اندازه خپل مال نفقه کړي او د هغه دارو درمل او اړتیاوې دې ورپوره کړي.

دوهم: هو! په تنګ لاسي سړي باندې د ماشوم نفقه د همده د تنګ لاسۍ په اندازه واجبه ده، نو په هغې اندازه نفقه دې ورکړي څومره وسه چې ورته الله ﷻ ورکړې ده. او دا خکه چې:

دریم: الله ﷻ هیڅوک په نفقه ورکولو باندې مکلف نه ګرځوي مګر د هغه د توان په اندازه کوم چې ورته الله ﷻ ورکړی وي، لږ وي او که ډېر.

څلورم: تنګ لاسی سړی دې په نفقه ورکولو باندې نه خپه کېږي، خکه که د الله ﷻ اراده وشي نو

زېر ژر به د نوموړي تنګ لاسي او سختي په پراخۍ او اسانۍ باندې عوض کړي، الله ﷻ ته هرڅه اسان دي، بلکې د يوې سختۍ سره اساني ده او هم د همدغې سختۍ سره بله اساني هم ده.

## توضيحات

۱ـ د ﴿ وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍ ﴾ [البقرة:۲۲۸] ايت څخه د اشارې په توګه معلومېده چې د حيض نه درلودونکو زنانه وو عدت درې مياشتې دي، او دا خکه چې درې حيضونه غالبا په درې مياشتو کښې تحقق مومي.

د دې ډول اشارې يو نظير د الله ﷻ په توفيق د [النساء:۶] ايت لاندې تېر شوی دی چې: کوم ماشوم پنځلسو کلونو ته ورسېږي او د بلوغ نښې پکښې څرګندې نه شي نو هغه بالغ ګڼل کېږي او دا خکه چې دغه عمر په غالبه توګه د بلوغ د نښو د ښکاره کېدلو زمانه ده.

څرنګه چې د ذکرو شوو زنانه وو عدت په صراحت سره نه وه نازل شوی نو صحابه وو کرامو ﷺ پکښې شک درلود او غوښتل يې چې صريحي حکم نازل شي، د همدې کبله يوه ورځې يوه صحابي (خلاد بن النعمان الانصاري ﷺ) وويلې چې: ای د الله رسوله! د هغو زنانه وو عدت څنګه پوره کېږي کومې چې د حيض درلودونکې نه وي؟[۱] نو دغه ايت شريف نازل شو په کوم کښې چې بحث روان دی کوم چې د ﴿ إِنِ ٱرْتَبْتُمْ ﴾ په جمله باندې مشتمل دی.

## د اميدوارو زنانه وو عدت

۲ـ په ﴿ وَأُوْلَٰتُ ٱلْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ﴾ کښې د اميدوارو ښځو عدت ته اشاره شوې ده، چې د ماشوم په زېږېدلو سره اختتام پيدا کوي، برابره خبره ده چې عدت يې د وفات په سبب وي او يا د طلاق په سبب.

نو په دغه ايت سره [البقرة:۲۳۴] ايت ته تخصيص ورکړی شوی دی په کوم چې د خاوند د وفات عدت مطلقا څلور مياشتې او لس ورځې تشريع شوی دی. او دا خکه چې دغه سورت (الطلاق) د هغه سورت (البقرة) څخه وروسته نازل شوی دی[۲].

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د طلاق کړی شوو ښځو دپاره خو په ﴿ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ ﴾ [الطلاق ۱] ايت کښې استوګنځای تشريع شوی دی، نو د څه حکمت په بنياد په همدغه مطلب باندې په ﴿ أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ ﴾ سره صراحت نازل شو؟

مونږ وايو چې: د دغو کلماتو په نزول سره د طلاق کړی شوو زنانه وو د نفقې وجوب ته اشاره ده. او دا خکه چې

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص ۲۹۰

(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۷۲۹، احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۴۵۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: چې ﴿ أَسْكِنُوهُنَّ ﴾ د اسكان څخه اشتقاقه شوې ده چې د حبس او ايسارولو معنى پكښې پرته ده، او پوره واضحه ده چې په ايساروونكي باندې د ايسار كړى شوي نفقه واجبه ده.

ب: همدا مطلب د ﴿ مِّن وُجْدِكُمْ ﴾ څخه فهمېږي، چې د "وُجْد" كلمه د پراخۍ او غنا دپاره وضعه شوې ده[1].

يعنې تاسو ته په كار دي چې خپلو طلاقو كړى شوو زنانه وو ته د خپلو خانونو د نفقې غوندې نفقه وركړئ لكه چې هغوى ته د خپلو خانونو په شان استوګنځايونه وركوئ.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ كه څوك وايي: كله چې په ذكر شوي بنياد د ټولو مطلقو زنانه وو دپاره د عدت په موده كښې نفقه واجبه شوه نو په دې كښې څه حكمت دى چې د اميدوارو طلاقو شوو زنانه وو په نفقه باندې صراحت نازل شو چې: ﴿ وَإِن كُنَّ أُولَٰتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا۟ عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ﴾ يعنې تاسو اميدوارو ښځو ته د طلاق په صورت كښې ترهغه نفقه وركړئ ترڅو چې هغوى حمل وضعه كړي؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ اعلم ـ چې په دغه صراحت كښې لاندې دوه وو ټكو ته اشاره ده:

الف: ترڅو په نفقه باندې څوك د اجرت ګومان ونه كړي چې ذكرو شوو زنانه وو ته د حمل د وضعې څخه وروسته وركولى كېږي. حال دا چې نفقه واجبه ده او اجرت اختياري دى چې د دغو زنانه وو څخه په غير نورې ښځې هم په اجرت سره نيولى كېدلى شي.

ب: د اميدوارو ښځو نفقه تر دوه وو كلونو پورې د اوږدېدلو امكان لري چې همدغه د ماشوم د زېږېدلو نهايي نېټه ده، نو څه لرې نه ده چې دغه اوږدوالى په طلاقيانو نارينه وو باندې درووند تمام شي نو الله ﷻ ـ په اشاره باندې علاوه ـ پرې صراحت هم نازل كړ ترڅو ورته هغوى په اخلاص سره غاړې كېږدي او په خپلو خانونو باندې يې بوج ونه ګڼي.

## هېر مو نه شي

۵_ هېر مو نه شي كومو مطالبو ته چې په ﴿ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ ﴾ الآية ـ كښې اشاره شوې ده هغه مطالب د الله ﷻ په توفيق د [البقرة ۲۳۳] ايت لاندې ډېر ښه تشريح شوي دي، نو هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وكړى شي.

﴿ وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِۦ فَحَاسَبْنَٰهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَٰهَا عَذَابًا نُّكْرًا ۝ فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا وَكَانَ عَٰقِبَةُ أَمْرِهَا خُسْرًا ۝ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قَدْ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ۝ رَّسُولًا يَتْلُوا۟ عَلَيْكُمْ

(۱) لسان العرب ج۳ ص۴۴۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ءَايَٰتِ ٱللَّهِ مُبَيِّنَٰتٍ لِّيُخْرِجَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعْمَلْ صَٰلِحًا يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ قَدْ أَحْسَنَ ٱللَّهُ لَهُۥ رِزْقًا ﴿۱۱﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ وَمِنَ ٱلْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ ٱلْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَىْءٍ عِلْمًۢا ﴿۱۲﴾ ﴾

[۸] او پخوانیو ښارونو (ښاریانو) څومره ډېرو د خپل رب ﷻ او د ده ﷺ د پیغمبرانو د امر څخه سرکشي (طغیان) کړی وه، نو مونږ ورسره سخت حساب وکړ او په نااشنا عذاب سره مو معذب کړه.

[۹] نو هغوی د خپل کار (کفریاتو) درونـد پـټـی (په دنیا کښې) وڅاکه او د خپل کار (کفریاتو) عاقبت یې (په آخرت کښې) زیان (او تاوان) دی.

[۱۰] (هغه دا چې) الله ﷻ ورته (هلته) سخت عذاب تیار کړی دی.

ای د عقلونو خاوندانو! (یا په بل عبارت: ای) هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! نو تاسو د الله ﷻ څخه وډار شئ: یقیناً تاسو ته الله ﷻ قرآن کریم (د عمل دپاره) درنازل کړی دی (چې ستاسو د دنیا او آخرت شرف پکښې نغښتی دی).

[۱۱] چې داسې پیغمبر (یې درلیږلی دی) چې په تاسو باندې د الله ﷻ څرګند (او څرګندوونکې) ایتونه د دې دپاره تلاوت کوي ترڅو الله ﷻ هغه کسان د کفر د تیارو څخه د اسلام رڼا ته راوباسي (او هم یې ارتداد ته پرېنږدي) کومو چې ایمان راوړی دی او صالح اعمال یې ورسره ملګري کړي دي.

او هرڅوک چې په الله ﷻ باندې ایمان راوړي او صالح عمل وکړي نو الله ﷻ به یې داسې جنتونو ته داخل کړي چې لاندې ترې لښتې بهېږي، حال دا چې هغوی به هلته همېشه وي همېشه.

یقینًا الله ﷻ د ذکر شوي کس (یا کسانو) سره د روزۍ د حیثه ډېر احسان کړی دی (چې جنت ته یې په ابدي توګه داخل کړي دي).

[۱۲] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې اوه اسمانونه یې پیدا کړي دي او د ځمکو څخه یې د اوو اسمانونو په شان (اوه ځمکې پیدا کړي دي). د دغو ټولو (اسمانونو او ځمکو) په منځکښې (د الله ﷻ د پلوه) امر نازلېږي (او چلېږي).

د دې دپاره (ذکر شوي ارشادات درنازل کړی شوه) ترڅو تاسو پوه شئ چې یقینًا الله ﷻ په هر شي باندې قدرتمند دی او چې یقینًا الله ﷻ په هر شي باندې د علم د حیثه احاطه کړې ده (په هر څه پوهېږي او هرڅه کولی شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د کمزورو بنیادمانو (ښځو او ماشومانو) د حقوقو ذکر نازل شوی وه، او په دې ایتونو کښې د اشارې په توګه هغه کسان تهدید شوي دي کوم چې د کمزورو بنیادمانو

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حقوق تر پښو لاندې کوي. نو حاصل يې داسې راځېږي چې:

اى پيغمبره! په دې مقام کښې په خپل امت باندې څه نور مطالب قرائت کړه ترڅو ورسره د ارشاداتو په تعميل کښې لاس وکړي هغه دا:

۱ـ په پخوانيو زمانو کښې ځومره ډېر د ښارونو خاوندان تېر شوي دي چې د خپل رب ﷻ او د ده ﷺ د پيغمبرانو څخه به يې عصيان او نافرماني خپله کړې وه، نو مونږ ورسره سخته محاسبه وکړه چې څه تفصيل يې دا دى:

الف: هغوى مو د عصيان د امله په دنيا کښې په نااشنا عذاب سره معذب کړل کوم چې د هغوى هيڅ په خيال کښې نه تېرېد چې داسې به کېږي. نو هغوى د خپل کار (خپلو کفرياتو) دروند پېټى وڅاکه او په دنيا کښې تول د ځرمې پوړنا او هلاک شوه.

ب: د هغوى د کار (کفرياتو) عاقبت ډېر زيات خسران او تاوان دى چې الله ﷻ ورته په آخرت کښې سخت عذاب (دائمي دوزخ) چمتو کړى دى.

۲ـ نو اى د عقلونو خاوندانو! تاسو د ذکرو شوو قومونو د هلاکت څخه عبرت واخلئ او د شريعت تعميل خپل کړئ، تاسو هغه کسان ياست چې په الله ﷻ باندې مو ايمان راوړى دى نو د خپل ايمان په زور په شريعت باندې کلک جوړ شئ او د کمزورو بنيادمانو په حقوقو ګېډې مه اچوئ.

۳ـ اى هوښيارانو! تاسو په لاندې ټکو کښې ښه فکر وکړئ:

الف: الله ﷻ تاسو ته قرآن کريم درنازل کړى دى چې ستاسو د دنيا او آخرت شرف او عزت پکښې نغښتى دى. ايا تاسو د خپل شرف او عزت څخه ډډه کوئ؟!

ب: الله ﷻ تاسو ته داسې پيغمبر درلېږلى دى چې په دوامداره توګه په تاسو باندې د الله ﷻ واضحه او ځرګندونکي ايتونه تلاوت کوي.

ج: البته دا د دې دپاره چې الله ﷻ هغه کسان په دوامداره توګه د کفر د تيارو څخه د اسلام رڼا ته راوباسي او په توحيدي عقيده يې کلک وساتي کومو چې ايمان راوړى دى او نېک اعمال يې ورسره ملګري کړي دي.

نو تاسو ته په کار دي چې خپل پيغمبر ﷺ او خپل قرآن ته په همدغه نظر وګورئ.

۴ـ او هرڅوک چې په رښتيانيو معناوو کښې په الله ﷻ باندې ايمان راوړي (تر مرګه پورې ادامه ورکړي) او صالح عمل هم ورسره ملګرى کړي، نو دغه کس به الله ﷻ داسې جنتونو ته داخل کړي چې لاندې ترې څلور ډوله لښتي او ويالې بهېږي.

۵ـ په دې باندې علاوه دغه ډول کسان به په جنت کښې همېشه اوسېږي او تر ابد الآباد پورې به ترې ونه ويستلى شي، نو بې شکه چې الله ﷻ د دغه کس يا د دغو کسانو سره د روزى د حيثه ډېره ښايسته او غوره لاره عملي کړې ده او احسان يې ورسره کړى دى.

۶ـ اى پيغمبره! هر څه او هر حکم د الله ﷻ په اختيار کښې دي، ته نه ګورې چې:

الف: يوازې الله ﷻ اوه اسمانونه پيدا کړي دي او د دغو اوو اسمانونو غوندې يې اوه ځمکې هم

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیدا کړي دي او کوم موجودات چې په اسمانونو او ځمکو کښې شتون لري هغه یې هم مخلوقات دي.
ب: په دغو اوو اسمانونو او اوو ځمکو کښې یوازې او یوازې د الله ﷻ حکم او امر د استمرار په توګه جریان لري او چلېږي.
ج: دغه ذکر شوی مطلب تاسو ته د دې دپاره ابلاغ شو ترڅو پوه شئ او عقیده وکړئ چې یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت ښېښتن دی او هرڅه یې د واکه پوره دي، او د دې دپاره ترڅو په دې معتقد وګرځئ او خپلې عقیدې ته ادامه ورکړئ چې یقیناً الله ﷻ برسېره په قدرت د علم او پوهې د حیثه هم په هر شي باندې احاطه کړې ده او هیڅ شی یې د علم څخه نه وتلی دی او نه وتلی شي.
نو تاسو ته په کار دي چې د همدغه علیم او قدیر الله ﷻ څخه وډار شئ او د کمزورو بنیادمانو حقوق تر پښنو لاندې نه کړئ.

## توضیحات

۱ـ ځینو مفسرینو کرامو په ﴿ قَدْ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴾ کښې د "ذکر" کلمه په دې مقام کښې په پیغمبر سره تفسیره کړې ده[۱]، خو مونږ ته بهتره برېښي چې دلته په قرآن کریم سره تفسیره کړی شي چې په بل ایت کښې ورباندې تقریباً صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴾ [الحجر:۹] یعنې یقیناً مونږ همدا مونږ قرآن کریم نازل کړی دی او یقیناً همدا مونږ ورته ضرور (د تحریف څخه) ساتونکي یاستو.

## یو نحوي تحلیل

۲ـ په ﴿ رَّسُولًا يَتْلُوا۟ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ مُبَيِّنَٰتٍ ﴾ کښې د ﴿ رَّسُولًا ﴾ په اعراب کښې مفسرینو کرامو ګڼ احتمالات لیکلي دي چې تقریباً نهو احتمالاتو ته رسېږي[۲]، کوم تحلیل چې پکښې مونږ ته غوره برېښي هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:
الف: د ﴿ رَّسُولًا ﴾ کلمه په مقدر "أرسَلَ" سره منصوبه ده.
ب: بیا دغه جمله د وړاندېنۍ جملې ﴿ قَدْ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴾ دپاره تفسیر واقع شوې ده.
نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: یقیناً مونږ تاسو ته قرآن کریم درنازل کړی دی چې داسې پیغمبر ﷺ مو دراستولی دی چې په تاسو باندې د استمرار په توګه د الله ﷻ څرګند او واضحه دلایل لولي او قرائت کوي.

## د ځمکو عدد هم اوه دی

۳ـ ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ وَمِنَ ٱلْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ ﴾ په تفسیر کښې ښه اوږده بحثونه کړي دي[۳]،

---
(۱) التفسیر الکبیر ج۳۰ ص۳۸
(۲) المحرر الوجیز ج۱٦ ص۴۴؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۱۷۸
(۳) روح المعاني ج۲۸ ص۱۴۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو کوم شی چې د جمهور علماوو کرامو نظر دی[۱] او مونږ ته غوره برېښېدلی دی هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: که څه هم د "اَرْض" کلمه په قرآن کريم کښې جمعه "اَرْضِين" نه ده نازله شوې مګر په احاديثو کښې روايت شوې ده لکه چې وضاحت يې ـان شاء الله ﷻـ راروان دی.

ب: د ﴿ مِثْلَهُنَّ ﴾ کلمه په مقدر "خَلَقَ" سره منصوبه ده، ته به وايې چې داسې نازل شوی دی: "وَخَلَقَ مِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ".

ج: په ﴿ مِثْلَهُنَّ ﴾ کښې په عدد کښې مثليت مطلب دی چې د ځمکو عدد هم د اسمانونو د عدد غوندې اوه دي.

د: د يوې ځمکې او د بلې ځمکې ترمنځ د پنځه سوه کاله د مزل مسافه ده.

هـ: د ذکرو شوو مطالبو څخه علاوه د نورو کيفياتو علم يې مونږ الله ﷻ ته سپارو چې زمونږ علم قاصر دی.

و: د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ ظَلَمَ قِيدَ شِبْرٍ مِنَ الْأَرْضِ طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ»[۲] يعنې هرڅوک چې د ځمکې څخه د يوې لوېشتې په اندازه په چا باندې ظلم وکړي (او په ظلم سره يې ترې خپله کړي) نو نومړي ظالم ته به همدغه يوه لوېشت ځمکه تر اوو ځمکو پورې د غاړې ګرځولی شي.

دوهم: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «فَإِنَّ تَحْتَهَا أَرْضًا أُخْرَى بَيْنَهُمَا مَسِيرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ حَتَّى عَدَّ سَبْعَ أَرَضِينَ بَيْنَ كُلِّ أَرْضَيْنِ مَسِيرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ»[۳] يعنې نو يقينًا د دغې ځمکې څخه لاندې (چې مونږ ورباندې اوسېږو) بله ځمکه ده چې د دې ځمکې او د هغې ځمکې ترمنځ د پنځه سوه کاله د مزل مسافه او جدا والی دی. نبي کريم ﷺ (همدغه خبره اوږده کړه) آن تردې چې اوه ځمکې يې وشمېرلې چې په مابين د هرو دوه وو ځمکو کښې د پنځوسو کالو د مزل مسافه او جدا والی دی.

د "الطلاق" سورت ترجمه او تفسير د الله ﷻ په فضل او توفيق پای ته ورسېد.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْ أُولِي الْأَلْبَابِ الَّذِينَ آمَنُوا بِكَ وَبِرَسُولِكَ حَقَّ الْإِيمَانِ.

۱۴۲۵/۶/۱۶ هـ ق - ۱۳۸۳/۵/۱۲ هـ ش.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۱۷۴

(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۳۳۲؛ صحيح مسلم ج۲ ص۳۳

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۵

# التحریم(٦٦)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# سریزه

۱_ د دې سورت نوم (التَّحْرِيم) په همدې سورت کښې د لومړي ايت د ﴿ لِمَ تُحَرِّمُ ﴾ څخه اخستل شوی دی، او په همدې نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا کړی شوی دی.

۲_ دا سورت د مفسرینو کرامو په اتفاق سره مدني دی او د هجرت څخه وروسته په مدینه منوره کښې نازل شوی دی[1].

۳_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول سره دي[2]:

الف: د ایتونو تعداد يې صرف دولس (۱۲) دی.

ب: د کلماتو تعداد يې دوه سوه او اوه څلوېښت (۲۴۷) دی.

ج: او د تورو شمېر يې يو زرو شپېتو (۱۰۶۰) ته رسېږي.

۴_ دغه دواړه سورتونه سره يو تربله ډېرې نږدې اړيکې لري. د مثال په توګه:

الف: دواړه سورتونه (الطَّلَاق، التَّحْرِيم) په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ﴾ سره پیل شوي دي.

ب: دواړه په محتویاتو کښې سره ډېره تشابه لري چې هلته د امت د زنانه وو پوري مربوط احکام نازل شوي وه او دلته د امهات المؤمنين په اړه خاصو احکامو نزول موندلی دی.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَ ۖ تَبْتَغِى مَرْضَاتَ أَزْوَٰجِكَ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١﴾
قَدْ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَٰنِكُمْ ۚ وَٱللَّهُ مَوْلَىٰكُمْ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢﴾ وَإِذْ أَسَرَّ ٱلنَّبِىُّ إِلَىٰ
بَعْضِ أَزْوَٰجِهِۦ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِۦ وَأَظْهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُۥ وَأَعْرَضَ عَنۢ
بَعْضٍ ۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتْ مَنْ أَنۢبَأَكَ هَٰذَا ۖ قَالَ نَبَّأَنِىَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْخَبِيرُ ﴿٣﴾ إِن تَتُوبَآ إِلَى
ٱللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ۖ وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوْلَىٰهُ وَجِبْرِيلُ وَصَٰلِحُ
ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ ﴿٤﴾ عَسَىٰ رَبُّهُۥٓ إِن طَلَّقَكُنَّ أَن يُبْدِلَهُۥٓ أَزْوَٰجًا
خَيْرًا مِّنكُنَّ مُسْلِمَٰتٍ مُّؤْمِنَٰتٍ قَٰنِتَٰتٍ تَٰٓئِبَٰتٍ عَٰبِدَٰتٍ سَٰٓئِحَٰتٍ ثَيِّبَٰتٍ وَأَبْكَارًا ﴿٥﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

---

(۱) زاد المسير ج۸ ص۴۸، الدر المنثور ج۸ ص۲۱۲

(۲) تفسير الخازن ج۶ ص۲۹۶، اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۱۸۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱] ای پیغمبره! ته هغه شی (په خپل ځان باندې) ولې حراموې کوم چې درته الله ﷻ حلال کړی دی؟ (ولې ترې امتناع کوې).
البته دا د دې دپاره چې) ته د خپلو مېرمنو (بیبیانو) خوښي (رضاګانې) غواړې.
او الله ﷻ ډېر بښونکی (او) ډېر مهربان دی (د خلاف الاولی د ارتکاب څخه تاته درتېر شو).
[۲] یقینًا الله ﷻ ستاسو دپاره (د کفارو په ورکولو سره) ستاسو د سوګندونو پرانستل تشریع کړې دي.
او الله ﷻ ستاسو ناصر (او کارساز) دی، او همدی ﷻ ډېر پوه (او) ډېر د حکمت څښتن دی.
[۳] او هغه وخت (یاد کړه) چې پیغمبر ﷺ خپلو ځینو مېرمنو (حفصې رضي الله عنها) ته د راز په توګه څه خبره وکړه (چې پټه یې وساته)، نو کله چې پرې هغې (بله مېرمنه عائشه رضي الله عنها) خبره کړه او الله ﷻ په همدغه خبر باندې خپل پیغمبر ظاهر وګرځاوه (اطلاع یې پرې ورکړه) نو پیغمبر ﷺ ځینې خبر (رازدارې مېرمنې ته) وروپېژاند (چې دا راز دې فاش کړی دی) او د ځینې خبر (د بیان) څخه یې (ورته) اعراض وکړ.
نو کله چې پرې پیغمبر ﷺ هغې (رازدارې) ته خبر ورکړ نو هغې وویلې چې: (ای رسول الله!) ته په دغه کار باندې چا خبر کړې؟
پیغمبر ﷺ (په جواب کښې) وویلې چې: زه ډېر پوه (او) ډېر باخبره الله ﷻ خبر کړم (چې تا دا کار کړی دی).
[۴] (ای حفصې او عائشې) که چرته تاسو دواړه الله ﷻ ته توبه تائبې شوئ نو (ګټه به وکړئ ځکه چې) یقینًا ستاسو دواړو زړونو (د نبي کریم ﷺ د تعظیم څخه) میلان کړی دی.
او که تاسو دواړه د نبي کریم ﷺ (د تعظیم) په ضد یو تربله تعاون ته ادامه ورکړئ نو (فقط خپل ځانونه به زیانمن کړئ او دا ځکه چې:) یقینًا الله ﷻ همدی ﷻ د پیغمبر ﷺ ناصر دی او جبرائیل ﷺ هم او د مؤمنانو صالحان هم.
او د دغه نصرت څخه وروسته د پرښتو پوځ (هم د پیغمبر ﷺ) مدد کوونکی دی.
[۵] د پیغمبر ﷺ رب ﷻ نږدې دی (ورته امید دی) چې که پیغمبر ﷺ تاسو ټولې طلاقې کړې نو هغه ﷺ ته به ستاسو څخه داسې بهترې ښځې (په نکاح سره) بدلې (او عوض) کړي چې غاړې ایښودونکې، ایمان درلودونکې، عاجزي کوونکې، توبه ویستونکې، عبادت کوونکې، روژه نیوونکې (بالآخره) کونډې او پیغلې به وي.

## ارتباط او شان نزول

۱ـ د وړاندېني سورت مضمون په دې تمام شوی وه چې الله ﷻ د علم د حیثه په هر شي باندې احاطه کړې ده، او هره وړه او غټه خبره ورته معلومه ده. د دې سورت په ذکرو شوو ایتونو کښې د همدغې علمي احاطې یوه مثال ته اشاره شوې ده د کوم وضاحت چې په شان نزول کښې راروان دی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ د دې سورت د شان نزول په هکله مونږ د هغې پېښې د مهمو ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو کومه چې د علماوو کرامو په نزد ډېره صحيحه ده[۱]. هغه دا چې:

الف: د دغو ايتونو شان نزول په درېوو امهات المؤمنين رضي الله عنهن پورې ارتباط لري، چې يو زينب بنت جحش، بله عائشه او درېيمه حفصه ده[۲].

ب: د نبي کريم ﷺ عادت وه چې د مازيگر د لمانځه څخه وروسته به د هرې بي بي کور ته ورته او په حالاتو باندې به يې د خپل ځان د پوه کولو دپاره دوره وهله.

ج: يوه ورځې د زينب رضي الله عنها په کور کښې لږ څه زيات ايسار شو او درنگ يې وکړ، د دغو درنگ کولو وجه دا وه چې هغې په نبي کريم ﷺ باندې څه شات څښلي وه.

د: په دغه درنگ کولو باندې عائشه او حفصه رضي الله عنها دواړه خپه شوې او دواړو پلان جوړ کړ ترڅو دغه کار بيا تکرار نه شي. پلان يې دا وه چې:

ﻫ: هره يوه دې نبي کريم ﷺ ته ووايي ـ کله يې چې په دوره کښې کورته ورشي ـ چې ستا څخه خو د مغافيرو ورډمه بوړته کېږي، ايا تا مغافير خوړلي دي اى د الله رسوله؟!

مغافير د يوه نبات منجمد شوده دي چې خلک يې خوري او څه بدبويه ورډمه ترې پورته کېږي[۳].

و: ذکر شوی پلان عائشې رضي الله عنها عملي کړ او کله چې حفصې رضي الله عنها په عمل کښې پياده کړ نو نبي کريم ﷺ ورته په جواب کښې وويلې چې: «لَا وَلَكِنِّي كُنْتُ أَشْرَبُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَلَنْ أَعُودَ لَهُ وَقَدْ حَلَفْتُ لَا تُخْبِرِي بِذَلِكِ أَحَدًا»[۴] يعني نه، ما مغافير نه دي خوړلي مگر د زينب په کور کښې مې شات څښلي دي، چې بيا به نه ورتاوېږم او يقينًا ما سوگند وکړ (چې بيا به ورکره شات نه څښم) اى حفصې! هېڅوک زما په پرېکړه خبر نه کړې.

ز: حفصې رضي الله عنها ذکر شوی راز ونه شو ساتلی او خپله د پلان ملگرې (عائشه رضي الله عنها) يې پرې ټکي په ټکي خبره کړه.

د دې قيصې نور تفصيل د الله ﷻ په توفيق وروسته راروان دی.

## د مطلب خلاصه

يعني اى پيغمبره! د ډېر مهربان او ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه شروع کړه او د خپل ځان او خپلو بيبيانو په ارتباط څه مطالب په خپل امت باندې قرائت کړه ترڅو ترې د قيامت تر ورځې پورې د عبرت درس واخلي، هغه دا چې:

۱ ـ اى پيغمبره! ته په خپل ځان باندې هغه شی ولې حراموې کوم چې تاته الله ﷻ حلال کړی دی چې استفاده ترې وکړې؟.

---

(۱) تفسير ابن كثير ج۴ ص۳۸۷

(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۷۳۰؛ شرح النووي على صحيح مسلم ج۱ ص۴۷۹

(۳) لسان العرب ج۵ ص۲۸

(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۷۲۹؛ صحيح مسلم ج۱ ص۴۷۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت: تا په خپل ځان باندې د خپلو مېرمنو د خوشالولو دپاره ولې شات حرام وګرځول او سوګند دې یاد کړ چې د دوهم ځل دپاره به یې د زینب په کور کښې نه خورې؟

۲_ الله ﷻ غفور او رحیم دی، د دغه خلاف الآولی (نه بهتر) کار کولو د ګناه څه درتېر شو خو چې بیا د خپلو بیبیانو د خوشالولو په غرض دغسې کار ته اقدام ونه کړې.

۳_ الله ﷻ خو ستا په شمول ټولو مؤمنانو ته د سوګند د بار څخه د وتلو لاره تشریع کړې ده چې کفاره ورکړئ او خپل ځانونه حانث کړئ البته په هغه صورت کښې چې تاسو د یوه نېک کار په هکله التزام کړی وي او سوګند مو خوړلی وي.

او دا ځکه چې ای مؤمنانو! الله ﷻ ستاسو کارسازی او نصرت کوونکی دی او همدی ﷻ په هر شي پوه دی او په هر کار کښې یې حکمتونه نغښتی دی، د همدې کبله یې تاسو ته د کفارې اداء کول تشریع کړي دي.

۴_ ای مؤمنانو! تاسو هغه وخت یاد کړئ او په اذهانو کښې یې وساتئ چې:

الف: نبي کریم ﷺ د راز په توګه خپلو ځینو بیبیانو (حفصې رضي الله عنها) ته څه خبره وکړه چې دا خبره درسره پټه وساته او هیچا ته ورباندې اطلاع مه ورکوه.

ب: خو نوموړې بي بي ذکر شوی راز پټ ونه شو ساتلی او د پیغمبر بلې مېرمنې (عائشې رضي الله عنها) ته یې تکي په تکي ورساوه.

ج: نو کله چې هغې دغه کار وکړ او الله ﷻ خپل پیغمبر ته په دغه کار باندې غلبه ورکړه او ورباندې پوه یې کړ چې ستا راز هغې بي بي دغې بي بي ته رسولی دی، نو پیغمبر ﷺ راز داره بي بي د راز په ځینې برخې باندې خبره کړه او ور ویې پېژانده چې تا دغه خبره عائشې رضي الله عنها ته رسولې ده، او د خبرې د ځینې برخې د بیان څخه یې اعراض وکړ او ورته یې ونه ویلې چې تا خو خپلې ملګرې (عائشې رضي الله عنها) ته دغه خبره هم کړې ده، ترڅو ډېره خجالته نه شي.

د: نو کله چې پیغمبر ﷺ رازداره بي بي (حفصه رضي الله عنها) په دغه کار باندې خبره کړه نو هغې ترې پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! ته په دغه حال باندې چا خبر کړې چې ما دغه کار کړی دی؟ ایا تا ته عائشې وویلې؟ په دغه حال باندې خو زما او د هغې څخه په غیر بل بنیادم خبر نه وه.

هـ: پیغمبر ﷺ په جواب کښې وویلې چې: ماته هیڅ بنیادم اطلاع نه ده راکړې بلکې زه په دغه کار باندې الله ﷻ خبر کړم چې په هر شي باندې پوه او په هر کار او هر پلان باندې خبردار دی.

۵_ ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه خپلې دوه بیبیانې (عائشه او حفصه رضي الله عنهما) مخاطبې کړه او ورته ووایه چې:

الف: ای دوه وو بیبیانو! که تاسو په خپل کار او خپل پلان باندې پښېمانې شئ او الله ﷻ ته توبه تائبې وګرځئ نو دا کار ستاسو دپاره ښه پوره ګټور دی چې ستاسو زړونه د حق څخه کاږه شوي دي چې د الله ﷻ د پیغمبر ﷺ د زوروني پلان مو ترتیب کړی وه.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نو تاسو ته په کار دي چې د دوهم خل دپاره د پیغمبر په زوررولو کښې سره لاس یو نه کړئ او پلان جوړ نه کړئ.

او که تاسو دغه کار ته بیا اقدام وکړئ نو تاسو ته به د دوهم خل دپاره هم هیڅ فایده ونه رسېږي لکه چې په لومړي خل کښې څه ګټه په لاس درنغله او د زوروونې پلان مو رسوا شو.

ج: تاسو ته ښکه دغه ډول پلانونه څه فایده نه شي رسولی چې الله ﷻ همدا الله ﷻ د خپل پیغمبر ﷺ کارسازی او مددګار دی، او د الله ﷻ د مددګارۍ څخه وروسته جبرائیل علیه السلام او د مؤمنانو صلاح درلودونکی بنیادم او هم د پرښتو ټول پوځ د پیغمبر ﷺ کومکیان او مددګاران دي.

۶_ بیا د الله ﷻ د پلوه خپلې ټولې بیبیانې مخاطبې کړه او ورته ووایه چې:

الف: ای بیبیانو! د الله ﷻ پیغمبر خپل رب ﷻ ته امید کوي چې که بالفرض ستاسو د پټو پلانونو د کبله تاسو ټولې طلاقې کړي نو ستاسو څخه غوره مېرمنې به ورته عوض کړي او ستاسو په بدل کښې به یې ورته په نکاح سره میسرې کړي.

ب: ستاسو عوضي مېرمنې به ستاسو څخه بهترې غاړې ایښودونکې، بهترې ایمان درلودونکې، بهترې تواضع کوونکې، بهترې عبادت کوونکې او بهترې روژه نیوونکې (او لمونځ کوونکې) وي، بالآخره د هغوی ځینې به بهترې نېکخویه کونډې وي او ځینې به بهترې باالخلاقه پېغلې وي.

لنډه دا چې تاسو د الله ﷻ احسان ومنئ چې تاسو یې د ټولو مؤمنانو مورګانې ګرځولې یاست او دغه ویاړ یې یوازې ستاسو په برخه کړی دی.

## توضیحات

۹_ په ﴿ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَ ﴾ کښې د ﴿ تُحَرِّمُ ﴾ کلمه د "تَحْرِيم" څخه اشتقاقه شوې ده، په دې مقام کښې تشریعي تحریم مطلب نه دی ترڅو د ﴿ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَ ﴾ سره متناقض واقع شي بلکې دلته تحریم د یو کار څخه د امتناع او نه کولو معنی ورکوي، خو نبي کریم ﷺ دغه نه کول او امتناع په سوګند سره تاکید کړې وه او دا ښکه چې:

الف: وړاندې د شان نزول په حدیث کښې د «وَقَدْ حَلَفْتُ» جمله روایت شوې ده. یعنې زما دې په الله ﷻ باندې سوګند وي چې زه به بیا د زینب رضي الله عنها په کور کښې شات ونه څښم چې د مغافیرو وږمه ترې پورته کېږي.

ب: په ﴿ قَدْ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَـٰنِكُمْ ﴾ کښې د ﴿ تَحِلَّةَ ﴾ کلمه هم په دې مطلب باندې دلالت کوي ښکه چې ذکره شوې کلمه د سوګند کفارې ته وضعه شوې ده[1]. یعنې یقیناً الله ﷻ ستاسو دپاره د سوګندونو کفارې ورکول تشریع کړي دي، نو ای پیغمبره! د زینب رضي الله عنها په کور کښې د

(۱) القاموس المحیط ج۱ ص۶۹۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شاتو د څښلو څخه امتناع مه خپلوه او د خپل سوګند کفاره ورکړه.

د خپلو سوګندونو په ارتباط نبي کريم ﷺ خپل خط السير ته اشاره کړې وه چې: «وَاللهِ إِنْ شَاءَ اللهُ لَا أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ فَأَرَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا أَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ وَتَحَلَّلْتُهَا»[۱] يعنې په الله ﷻ سوګند دی ـ إن شاء الله ـ چې زه په يو سوګند باندې سوګند ياد کړم نو بيا بل شی د هغه څخه غوره وګورم مګر زه به هغه شي ته ورتګ کوم چې بهتر دی، او خپل سوګند به (په کفارې سره) پرانيزم.

## د ايتونو ارشاد

۲ـ د ﴿ وَإِذْ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَٰجِهِۦ حَدِيثًا ﴾ څخه څرګندېږي چې راز هم يو امانت دی، بايد په پوره دقت سره وساتل شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې د نبي کريم ﷺ احاديث ولولئ:

الف: «لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ»[۲] يعنې هغه چا ته کامل ايمان نشته کوم ته چې د امانت ساتل نه وي او هغه چا ته کامل دين نشته کوم ته چې په عهد باندې وفا کول نه وي.

ب: «إِذَا حَدَّثَ الرَّجُلُ الْحَدِيثَ ثُمَّ الْتَفَتَ فَهِيَ أَمَانَةٌ»[۳] يعنې هر کله چې سړی يوه خبره وکړي (هرڅه خبره چې وي) بيا شاوخوا وګوري (چې چا خو به اورېدلې نه وي) نو هغه خبره امانته ده.

## سوالونه او جوابونه

۳ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وايي چې په ﴿ عَرَّفَ بَعْضَهُۥ وَأَعْرَضَ عَنۢ بَعْضٍ ﴾ کښې د ﴿ بَعْضَهُۥ ﴾ کلمه د شاتو د تحريم د خبرې څخه کنايي ده، چې زه به بيا د زينب رضي الله عنها په کور کښې شات نه څښم، کومه چې نبي کريم ﷺ حفصې رضي الله عنها ته ياده کړه.

خو پوښتنه دا ده چې په همدغه عبارت کښې د ﴿ بَعْضٍ ﴾ کلمه د کومې خبرې څخه عبارت ده چې حفصې رضي الله عنها د راز په توګه ونه شوه ساتلی خو نبي کريم ﷺ ورته ياده نه کړه چې تا خو دا خبره هم خپلې ملګرې (عائشې رضي الله عنها) ته رسولې ده؟

مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو کرامو خو د دغې پټې خبرې په تعين کښې ډېر احتمالات ليکلي دي[۴] خو مونږ ته بهتره برېښي چې داسې پټه يې پرېږدو لکه څنګه چې نبي کريم ﷺ پټه پرېښې ده، او لکه څنګه چې الله ﷻ هم ترې پرده نه ده پورته کړې.

ب: که څوک وايي چې: ايا د ﴿ وَصَٰلِحُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ کلمه مفرده ده او يا جمعه ده چې ټولو مؤمنانو ته شموليت لري؟

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۹۸۸
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۲۷۱
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷
(۴) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۱۸۷؛ زاد المسير ج۸ ص۵۱؛ تفسير البغوي ج۴ ص۳۶۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: په ذکره شوې کلمه کښې لاندې دوه احتماله تحقق موندلی شي[1] چې دواړه په اصلي مطلب کښې څه توپیر سره نه لري:

اول: ذکره شوې کلمه مفرده ده خو د جنس په ملحوظ هر صالح مؤمن ته شامله ده، لکه چې عرب وایي: "لَا یَفْعَلُ هٰذَا الْعَمَلَ الصَّالِحُ مِنَ النَّاسِ" یعني دا کار د خلکو د جملې څخه جنس صالح بنیادم نه کوي.

دوهم: دغه کلمه جمعه ده چې باید "صَالِحُو الْمُؤْمِنِینَ" لیکلی شوې وی خو د قرآن کریم رسم الخط عثماني دی، نو د "و" توری د لیک څخه هم غورزولی شوی دی لکه څنګه چې د ساکنینو په پیوستون سره د تلفظ څخه لوېدلی دی. نو په دې تقدیر ټولو صالحو مؤمنانو ته شمولیت لري.

ج: که څوک وایي چې: په هغې زمانه کښې د "صَالِحُ الْمُؤْمِنِینَ" مصداق څوک- څوک وه؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو ورته په هغې زمانه کښې متعدد مصداقونه ښودلي دي[2]، مګر بهتره دا ده چې د هغه وخت ټول صحابه کرام ﷺ د "صَالِحُ الْمُؤْمِنِینَ" دپاره مصداقات وه او د منافقینو څخه پرته ټول د نبي کریم ﷺ ناصران او کومکیان وه. د مثال په توګه:

عمر الفاروق وایي چې: ما بیبیانو ته د نصیحت په توګه وویلې چې: که تاسو نبي کریم ﷺ خپلو طلاقولو ته اړ کړئ نو هغه ﷺ خپل رب ﷻ ته امید لري چې ستاسو څخه بهترې مېرمنې ورته په نکاح ورکړي نو په دغه وخت کښې به هغوی د امهات المؤمنین لقب وګټي، نو دغه ایت شریف نازل شو[3].

د: که څوک وایي چې: په ﴿وَالْمَلَٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ﴾ کښې د "الْمَلَائِكَة" کلمه مبتدأ ده او د ﴿ظَهِيرٌ﴾ کلمه یې خبر ده حال دا چې هغه جمعه ده او دا مفرده ده؟

مونږ وایو چې: د "الْمَلَائِكَة" کلمه هم د "فَوْج" په تاویل سره مفرده ده، نو د مبتدا او خبر توافق حاصل شو چې هر یو مفرد دی.

ه: که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د امهات المؤمنین د جملې څخه فقط د دوه وو بیبیانو هغه پلان په خفي وحي سره نه بلکې په جلي وحې سره په ډېر شدت سره رد کړ د کوم څخه چې د نبي کریم ﷺ د عدم تعظیم وړمه پورته کېده؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ اعلم ـ چې دا د دې دپاره:

اول: ترڅو بیبیانې پوه شي چې د نبي کریم ﷺ د عدم تعظیم په صورت کښې به د دغه لقب (امهات المؤمنین) افتخار د لاسه ورکړي.

دوهم: ترڅو الله ﷻ څرګنده کړي چې منافقان توان نه لري چې نبي کریم ﷺ په کورني جنجال اخته

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۵۶۶؛ روح المعاني ج۲۸ ص۱۵۳؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۲۰۱؛ تفسیر ابي السعود ج۸ ص۲۶۷

(۲) زاد المسیر ج۸ ص۵۲؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۲۰۱

(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۳۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي او د اسلامي دعوت په وړاندې یې خنډونه پېښ کړي.
درېیم: ترڅو د قیامت تر ورځې پورې ټول مؤمنان د هغو حرکاتو مخه بنده کړي د کومو څخه چې منافقان د اسلامي دعوت په ضد ګټه پورته کوي او د داعیانو توجه پرې بلې خوا ته اړوي.

## سَیْح څه معنی؟

۴_ په ﴿عَـٰبِدَٰتٍ سَـٰٓئِحَـٰتٍ﴾ کښې د ﴿سَـٰٓئِحَـٰتٍ﴾ کلمه د "سَیْح" _لکه "بَیْع" _ څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د "سَیْح" کلمه د [التوبة: ۱۱۲] ایت لاندې ښه پوره تشریح کړې ده، خو په دې مقام کښې د روژه نیولو معنی ورکوي[1].

﴿یَـٰٓأَیُّهَا ٱلَّذِینَ ءَامَنُوا۟ قُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِیكُمْ نَارًا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ عَلَیْهَا مَلَـٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا یَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَیَفْعَلُونَ مَا یُؤْمَرُونَ ﴿٦﴾ یَـٰٓأَیُّهَا ٱلَّذِینَ كَفَرُوا۟ لَا تَعْتَذِرُوا۟ ٱلْیَوْمَ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٧﴾ یَـٰٓأَیُّهَا ٱلَّذِینَ ءَامَنُوا۟ تُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن یُكَفِّرَ عَنكُمْ سَیِّـَٔاتِكُمْ وَیُدْخِلَكُمْ جَنَّـٰتٍ تَجْرِی مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ یَوْمَ لَا یُخْزِی ٱللَّهُ ٱلنَّبِیَّ وَٱلَّذِینَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ نُورُهُمْ یَسْعَىٰ بَیْنَ أَیْدِیهِمْ وَبِأَیْمَـٰنِهِمْ یَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَٱغْفِرْ لَنَآ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَیْءٍ قَدِیرٌ ﴿٨﴾ یَـٰٓأَیُّهَا ٱلنَّبِیُّ جَـٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَـٰفِقِینَ وَٱغْلُظْ عَلَیْهِمْ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ ٱلْمَصِیرُ ﴿٩﴾﴾

[۶] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو خپل ځانونه او خپلې کورنۍ (کور کهول) د داسې اوره (دوزخه) وساتئ چې د سون مواد یې خلک او ډبرې دي.
په دغه (دوزخ) باندې داسې پرښتې مقررې دي چې زیګ خویه (او) قوتناکې دي، د الله ﷻ څخه په هغه (ارشاد) کښې نافرماني نه کوي په کوم سره چې ورته الله ﷻ امر کړی وي (په سر او سترګو یې قبلوي) او هغه کار کوي په کوم سره چې (د الله ﷻ د پلوه) مامورې کړی شوې وي.
[۷] (د قیامت په ورځ به کفارو ته وویلی شي چې): ای هغو کسانو کومو چې کفر غوره کړی وه! تاسو نن ورځ اعتذار مه وړاندې کوئ (او توبه مه وباسئ: او دا ځکه چې):
یقینًا تاسو ته (فقط) د هغو (کړو وړو) جزا درکوله کېږي کوم چې تاسو (په دنیا کښې) وئ چې په عمل کښې به مو پیاده کول.
[۸] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو (نن ورځ) الله ﷻ ته په سوچه (او اخلاصي)

---
(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۹۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



توبې سره توبه تائب شئ (او رجوع ورته وکړئ)، ستاسو رب ﷻ نږدې دی (امید ورته وکړئ) چې ستاسو څخه ستاسو ګناهونه محوه کړي او داسې جنتونو ته مو داخل کړي چې لاندې ترې لښتې بهېږي، (البته) په داسې ورځ کښې چې الله ﷻ پکښې خپل پیغمبر ﷺ او هغه کسان نه شرموي کوم چې د ده ﷺ سره دي (او ورسره ملګري دي)، چې د ذکرو شوو کسانو رڼا به په وړاندې یې او په ښیو طرفونو کښې یې څغلي، وایي به چې: ای زمونږ ربه! مونږ ته خپله رڼا پوره کړې (چې منزل ته پرې ورسېږو) او مونږ ته (ګناهونه) وبښې، یقیناً ته په هر شي باندې د کامل قدرت څښتن یې.

[۹] ای پیغمبره! ته د کفارو او منافقینو سره (مناسب) جهاد وکړه او په دوی باندې سختي وکړه (زړه پرې مه سوزوه، چې دا یې دنیاوي عذاب دی) او دائمي استوګنځای یې جهنم دی چې د بېرته ورګرځېدلو ډېر بد ځای دی.

## ارتباطونه

۱_ په وړاندېنیو ایتونو کښې د امهات المؤمنین تادیب ته اشاره شوې وه، او په دې ایتونو کښې د مؤمنانو د عامو کورنیو تادیب نازل شوی دی.

۲_ هلته امهات المؤمنین توبه تائب ګرځېدلو ته هڅولې شوې وې او دلته په ټولو مؤمنانو باندې د دغه حکم فرضیت نازل شوی دی.

۳_ هلته د منافقانو د دسیسو مخنیوي ته اشاره شوې وه او دلته وریاندې صراحت نازل شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د شرعي ادب په باب په خپل امت باندې څه مطالب قرائت کړه او د الله ﷻ د پلوه یې مخاطب کړه چې:

۱_ ای مؤمنانو! تاسو خپل ځانونه او خپلې کورنۍ د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ په اطاعت سره د داسې اور او دوزخ څخه وساتئ چې:

الف: د هغه اور د سوند مواد د دنیاوي اور په شان لرګي او خاشاک نه دي بلکې د سوند مواد یې کفر غوره کوونکي بنیادمان دي او د ګوګړو کاڼي دي چې په همدغو باندې بلېږي او همدغه پکښې سوزېږي.

ب: په دغه اور باندې داسې پرښتې د الله ﷻ د پلوه مقررې دي چې ډېرې زګې او کلکې او ډېرې بې رحمه او ډېرې غضبناکې دي.

ج: دغه پرښتې د الله ﷻ د اوامرو څخه هیڅ عصیان او نافرماني نه خپلوي بلکې هغه کارونه په زغرده سره عملي کوي په کومو سره چې ورته امر کړی شوی وي.

د: دغه اور ډېر سخت دی نو چې کله یې کفار وګوري نو په اعتذار به پیل وکړي ترڅو ترې نجات مونده کړي او یا بېرته دنیا ته ستانه کړی شي، خو اعتذار به یې رد کړی شي او ورته به

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وړیلی شي چې: ای کفارو! تاسو نن ورځ اعتذار مه وړاندې کوئ، ځکه تاسو ته جزا نه درکوله کېږي مګر د هغو کړو وړو کوم چې تاسو په دنیا کښې وئ چې د استمرار په توګه به مو اجراء کول، دا ستاسو د خپلو لاسونو کړلی شوی فصل دی چې اوس یې رېبئ:

۲ـ ای مؤمنانو! تاسو په ډېر اخلاص سره د معاصیوو څخه صرف الله ﷻ ته توبه تائب شئ او سوچه توبه ترې وباسئ. نو:

الف: ستاسو رب ﷻ نژدې دی (امید ورته وکړئ) چې ګناهونه او معاصي مو عفوه او محوه کړي.

ب: او داسې جنتونو او باغونو ته مو داخل کړي چې د ونو لاندې یې ځلور ډوله لښتي بهېږي.

ج: البته دا په داسې ورځ کښې چې الله ﷻ په دغې ورځ کښې خپل پیغمبر ﷺ او هغه کسان نه شرمنده کوي او نه یې خجالت کوي کومو چې په رښتیانیو معناوو کښې په پیغمبر ﷺ باندې ایمان راوړی وي او په دنیاوي ژوند کښې یې ورسره ملګرتیا او مرسته کړې وي.

د: نو په دغې ورځ کښې به د پیغمبر ﷺ په شمول د ذکرو شوو کسانو په وړاندې هغه رڼا ځغلي کومه چې د همدوی د ښیو اندامونو څخه سرچینه نیسي او ورپورې پیوستون لري.

ه: په دغه وخت کښې به دغه د رڼا درلودونکي کسان په ډېرې خوشالۍ سره وایي او د سوال لاسونه به یې اوچت کړي وي چې:

ای زمونږ ربه! مونږ ته خپله رڼا پوره کړې چې اصلي منزل ته ورباندې ورسېږو او د منافقانو غوندې په نیمایي لاره کښې یې راته محوه او مړه نه کړې چې په توره تیاره کښې حیران پاتې شو.

ای زمونږ ربه! مونږ ته ګناهونه راوبښې او جزا ورباندې رانه کړې چې په رڼا باندې مو اثر وغورزوي.

ای زمونږ ربه! یقیناً ته په هر شي باندې د کامل قدرت درلودونکی یې، مونږ ته مغفرت وکړې او زمونږ د رڼا پوره کول ستا په توان کښې دي.

۳ـ ای پیغمبره! د کفارو او منافقانو د هرې ډلې سره مناسب جهاد وکړه او سختي ورباندې وکړه، د نرمۍ څخه کار مه اخله ترڅو د مؤمنانو په شرعي نظام کښې خنډ واقع نه کړي او د دعوت مخه مو په دسیسو او چلونو سره بنده نه کړي.

## توضیحات

د دې ایتونو مربوط څه توضیحات وړاندې تېر شوي دي والحمد لله ﷻ، هغه دا:

۱ـ دغه جمله ﴿ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارًا ﴾ وړاندې د احادیثو په رڼا کښې د [طه:۱۳۲] ایت لاندې ښه واضحه شوې ده، په دې مقام کښې ورباندې لاندې احادیث وراضافه کوو:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «اَكْرِمُوا اَوْلَادَكُمْ وَاَحْسِنُوا اَدَبَهُمْ»[1] یعنې تاسو د خپلو اولادونو عزت وکړئ او د شرعي ادب د ښوونې احسان ورسره وکړئ.

---

[1] سنن ابن ماجه ص۲۶۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَأَنْفِقْ عَلَى عِيَالِكَ مِنْ طَوْلِكَ وَلَا تَرْفَعْ عَنْهُمْ عَصَاكَ أَدَبًا وَأَخِفْهُمْ فِي اللهِ»[۱] یعني او ته په خپلو روزي خورو باندې د خپل طاقت (او توان) څخه مالي خرڅه وکړه او د شرعي ادب همسا ترې د ادب ښوولو په غرض مه اوچتوه (چرته چې ډېر نه وي هلته ادب نه وي)، او (هم) دوی د الله ﷻ د دین په هکله وېدار کړه (چې د دوزخ د عذاب سره مخامخ نه شي).

۲_ په ﴿ وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ ﴾ کښې په "الْحِجَارَة" کلمه باندې د الله ﷻ په توفیق د [البقرة: ۲۲] ایت لاندې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده.

۳_ په ﴿ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ ﴾ الآیة- کښې د احادیثو په رڼا کښې د [الحج: ۲۱] ایت لاندې د تعذیب د پرښتو قوت ښه پوره واضحه کړې شوی دی، خو په دې مقام کښې ورباندې دغه یو سوال جواب وراضافه کوو: که څوک وایي چې د دغو دواړو جملو ﴿ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴾ په مفهوم کښې څه فرق دی؟

مونږ وایو چې د اولنۍ جملې څخه باطني انقیاد مطلب دی او دوهمه جمله په ظاهري انقیاد او اطاعت باندې دلالت کوي[۲]. همدغو دواړو مطلبونو ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَمَنْ عِندَهُۥ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِۦ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ ﴾ [الأنبیاء: ۱۹] یعني هغه پرښتې کومې چې د الله ﷻ په نزد موجودیت لري د ده ﷻ د عبادت څخه تکبر نه کوي او نه (په عملي اطاعت باندې) ستومانه کېږي.

۴_ د ﴿ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا ﴾ په ارتباط د [آل عمران: ۸۹] ایت لاندې، لاندې مطالب تېر شوي دي:

الف: اعتذار په درې ډوله دی، چې یوه ډول ته د "تَوْبَة" لقب ورکولی کېږي.

ب: د توبې قبول شرطونه څلور دي چې په لاندې ډول دي:

اول: چې ګناه د دې کبله پرېښودلی شي چې دا په شریعت کښې جواز نه لري او قبیح کار دی.

دوهم: چې ګناه کوونکی په خپله ګناه باندې پښېمانه شي.

درېم: چې ګناه کوونکی عزم او قوي اراده وکړي چې بیا به دغه کار ته اقدام نه کوي.

څلورم: چې ګناه کوونکی د خپلې ګناه تلافي (مخنیوی) وکړي که امکان ولري، لکه چې د غیبت کړی شوي بنیادم څخه عفوه واخلي.

ج: همدارنګه هلته د توبې په ارتباط سوال جواب هم تېر شوی دی.

خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې څو کرښې ورزیاتوو:

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۲۵۰

(۲) روح المعاني ج۲۸ ص۱۵۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه کلمه "نَصُوح" _لکه "رَسُول"_ صفت مشبه ده چې د "تَوْبَة" دپاره نعت واقع شوې ده او د "نُصُوح" _لکه "غُرُوب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د خلوص او سوچه والي معنی ورکوي[۱].

د "التَّوْبَةُ النَّصُوح" په تفسیر کښې علماوو کرامو ګڼ اقوال کړي دي چې تقریبًا درویشتو (۲۳) تولونو ته رسېږي[۲]، غوره تفسیر یې دا دی چې دغه لقب هغې توبې ته ورکولی کېږي په کومه کښې چې ذکر شوي څلور شرطونه راټول شوي وي.

۵_ د ﴿ نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَـٰنِهِمْ ﴾ جمله د [الحدید:۱۲] ایت لاندې د سوال جواب په ضمن کښې شرحه شوې ده او د احادیثو په رڼا کښې ډېره ښه تفسیره شوې ده.

۶_ د ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَـٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ ﴾ الآیة په عین کلماتو سره وړاندې په [التوبة:۷۳] کښې تېر شوی دی او څه شی چې راته الله ﷻ په همدې اړه راښودلي وه هغه مو هملته لیکلي دي، که لوستونکي هلته یو ځل مراجعه وکړي نو امید دی چې خوښ به یې شي.

خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې: د منافقینو سره وسلوال جهاد نه نبي کریم ﷺ کړی دی او نه مونږ ته جواز لري، خو په دې شرط چې منافقان جنګي جبهه جوړه نه کړي او یا د مجاهرو او ښکاره کفارو سره په وسلوال جنګ کښې ملګرتیا ونه کړي. که د دغو کارونو څخه یې کوم یو د خپلو خانونو دپاره غوره کړ نو باید چې د نورو مجاهرو کفارو غوندې چال چلند ورسره وکړی شي.

د ذکر شوي حکم یو نظیر دا دی چې باید مجاهدین زنانه ونه وژني، خو کومه زنانه چې پخپله وسلې ته لاس کړي او په جنګ کښې عملاً ګډون وکړي نو د هغې وژل د نورو جنګي کفارو غوندې ګټلی کېږي.

﴿ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱمْرَأَتَ نُوحٍ وَٱمْرَأَتَ لُوطٍ ۖ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَـٰلِحَيْنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا وَقِيلَ ٱدْخُلَا ٱلنَّارَ مَعَ ٱلدَّٰخِلِينَ ۝١٠ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱمْرَأَتَ فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ٱبْنِ لِى عِندَكَ بَيْتًا فِى ٱلْجَنَّةِ وَنَجِّنِى مِن فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِى مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّـٰلِمِينَ ۝١١ وَمَرْيَمَ ٱبْنَتَ عِمْرَٰنَ ٱلَّتِىٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَـٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتْ مِنَ ٱلْقَـٰنِتِينَ ۝١٢ ﴾

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص۶۱۶
(۲) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۱۹۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۰] الله ﷻ د هغو کسانو دپاره کومو چې کفر غوره کړی دی، د نوح ﷺ مېرمن او د لوط ﷺ مېرمن مثال ګرځوي (هغه دا چې):

دا دواړه زنانه زمونږ د بندګانو د جملې څخه د دوه وو صالحانو بندګانو (تر نکاح) لاندې وې، خو دواړو د خپلو خاوندانو سره خیانت وکړ (چې ایمان یې ورباندې رانه ووړ)، نو دواړو خاوندانو یې ترې د الله ﷻ (د عذاب) څخه د هیڅ شي مخه هم ونه نیوله او (د الله ﷻ د پلوه ورته) وویلی شوه چې: (ای دوه وو کافرو مېرمنو!) تاسو دواړه د نورو داخلېدونکو دوزخیانو سره دوزخ ته (په ابدي توګه) داخلې شئ (تاسو په کفر کښې څه تفاوت نه لرئ).

[۱۱] او الله ﷻ د هغو کسانو دپاره کومو چې ایمان راوړی دی، د فرعون ماندینه مثال ګرځوي (هغه دا چې):

هغه وخت یاد کړه چې (خپل رب ﷻ ته یې سوال وکړ او) ویې ویلې چې ای زما ربه! ماته په خپل نزد په جنت کښې کور جوړ کړه، او د فرعون او د ده د عمل (کفریاتو) څخه نجات راکړه، او د ظلم کوونکي قوم (فرعونیانو) څخه هم خلاصون راکړه.

[۱۲] او هغه مریم بنت عمران (هم د مؤمنانو دپاره مثال ګرځوي) کومې چې خپل ګرېوان (د نارینه وو څخه) ساتلی وه (او هیچا نه وه مسه کړې) نو مونږ د هغې په ګرېوان کښې (د جبرائیل ﷺ په ذریعه) د خپلو مشرفو روحونو څخه (یو مشرف روح) پو کړ (چې هغه د عیسی ﷺ پاک روح وه چې مونږ ته یې اضافت د تشریف دپاره صورت نیسي).

او مریمې رضي الله عنها د خپل رب ﷻ په کلماتو سره او د خپل رب ﷻ په کتابونو سره تصدیق کړی وه (او باور یې پرې درلود) او هغه د اطاعت کوونکو (د ډلې) څخه وه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د سورت (التحریم) په ذکرو شوو مطالبو باندې د یوې تبصرې په ډول د څلورو زنانه وو ذکر نازل شوی دی چې د یو پلوه پکښې د منافقانو مثالونو ته اشاره شوې ده او د بله پلوه پکښې دېته اشاره ده چې د قیامت په ورځ د هر چا دپاره فقط خپل عمل د لارې مل دی، چې د بل چا عمل ورته نه ګټه رسولی شي او نه ضرر. نو حاصل یې داسې راخېژي چې:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ الله ﷻ د کفارو دپاره په لاندې ډول سره د دوه وو زنانه وو مثال بیانوي:

الف: دغه دواړه زنانه یوه د نوح ﷺ مېرمن وه او بله د لوط ﷺ مېرمن وه چې دا دواړه پیغمبران زمونږ د بندګانو د جملې څخه صالحان بندګان وه، هغوی ورسره ازدواجي اړیکې درلودې.

ب: دغو دواړو زنانه وو د هر څه څخه وړاندې د الله ﷻ سره خیانت وکړ چې کفري عقیدې یې خپلې کړې، او بیا یې د خپلو خاوندانو سره هم د خیانت لاره غوره کړه چې ایمان یې ورباندې رانه ووړ او په منافقت ورسره وچلېدې.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: نو دواړه زنانه په عذاب اخته شوې او خپلو خاوندانو (پیغمبرانو) تري د عذاب لږه برخه هم تخفیفه نه کړه.

د: نو دغو دواړو زنانه وو ته به د قیامت په ورځ د الله ﷻ د پلوه وویلی شي چې تاسو دواړه هم د نورو دوزخیانو په ډله کښې دوزخ ته داخلې شئ چې تاسو په نورو کفارو باندې هیڅ ډول بهتري او غوره والی نه لرئ.

۲ـ الله ﷻ د مؤمنانو دپاره د فرعون د ماندینې مثال په لاندې ډول سره بیانوي:

الف: هغې په الله ﷻ او په موسی ﷺ باندې ربنتیانی ایمان راوړی وه او سوچه ایمانداره وه، نو د خپل میړه (فرعون) کفریاتو ورته هیڅ ضرر ونه شو رسولی.

ب: هغې د الله ﷻ په حضور کښې د سوال لاسونه پورته کړه او ویې ویلې چې: ای زما ربه! ماته په خپل نزد (جنت) کښې کور جوړ کړې او د فرعون د کور او کفریاتو څخه نجات راکړې بلکې د ټولو فرعونیانو او ظالمانو څخه مې خلاصون په نصیب کړې.

ج: نو الله ﷻ د هغې سوال قبول کړ چې جنت ته یې داخله کړه او د خاوند (فرعون) شدید کفر یې مانع ونه ګرځېد.

۳ـ د ذکر شوو دواړو مثالونو په تائید الله ﷻ ټولو خلکو ته دریم مثال هم په لاندې ډول بیانوي:

الف: د عمران لور مریم رضي الله عنها یوه مؤمنه انجلۍ وه چې په تجرد کښې یې خپله پاک لمنې ساتلې وه، او هیڅوک په هیڅ وجه د هغې ګریوان ته لاس نه وه وروړی. یا په بل عبارت: هغې نه د کافر سړي او نه د مؤمن سړي سره ازدواجي اړیکې درلودلې وې.

ب: مونږ د جبرائیل ﷺ په سلسله د هغې په ګریوان کښې د خپلو مشرفو روحونو څخه یو روح پو کړ چې هغه د عیسی ﷺ روح وه، نو په همدې روح سره هغه د یوه عالي شان پیغمبر مور جوړه شوه.

ج: هغې د خپل رب ﷻ په کلماتو او د خپل رب ﷻ په کتابونو ایمان درلود. او هغه د عبادت کوونکو او عاجزي کوونکو د ډلې څخه وه.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا ﴾ کښې د "خَانَتَا" کلمه د "خِيَانَة" ـلکه "دِيَانَة"ـ څخه اشتقاقه شوې ده. "خِيَانَة" او "نِفَاق" سره یو تربله اعتباري توپیر لري نو کوم شي ته چې د امانت د ضائع کولو په لحاظ "خِيَانَة" ویل کېږي همغه شي ته د دین په لحاظ (نفاق) ویل کېږي[1].

په دې مقام کښې دواړه معناوې اراده کېدلی شي چې: د "نوح ﷺ" او د "لوط ﷺ" میرمنو هم د خپلو خاوندانو امانت ونه ساته چې ایمان یې ورباندې رانه ووړ او هم یې ورسره منافقت وکړ چې د کفارو دپاره یې جاسوسي کوله او د هغوی ملګرتیا یې کوله. لاندې وضاحت په ذهن کښې وساتئ:

(۱) مفردات الراغب ص۱۶۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: عبد الله بن عباس رضی‌الله‌عنهما وايي(۱) چې د نوح علیه‌السلام د مېرمنې خيانت دا وه چې خپل خاوند ته به يې د نورو كفارو غوندې د مجنون (ليوني) لقب وركاوه، او د لوط علیه‌السلام د مېرمنې خيانت دا وه چې په كفر باندې علاوه به يې د كفارو دپاره جاسوسي هم كوله، چې هلئ زمونږ كور ته مېلمانه راغلي دي!.

ب: عبدالله بن عباس رضی‌الله‌عنهما ويلي دي چې: «مَا بَغَتْ امْرَأَة نَبِيّ قَطّ»(۲) يعنې د هيڅ پيغمبر مېرمنې هيڅكله بغاوت (فحاشي) نه ده كړې.

## د دې مثال ارشاد

۲ـ د ذكر شوي مثال څخه د اشارې په توګه لاندې ارشادات هم معلومېږي:

الف: لكه څنګه چې ذكرو شوو دواړو زنانه وو ته د پيغمبرانو سره ازدواجي پيوستون څه ګټه ونه شوه رسولی همدارنګه د دې زمانې كفارو ته هم د نبي كريم ﷺ قرابت څه په درد باندې نه خوري، ترڅو چې وربانديې ايمان راوړي.

ب: د نبي كريم ﷺ بيبيانې هم د ازدواجي قرابت څخه او د دې څخه چې دوی د ټولو مؤمنانو مورګانې دي څه ګټه نه شي اوچتولی ترڅو چې د عدم تعظيم د پلان جوړولو څخه صرف نظرې شي.

ج: د ټولو مؤمنانو پلرونه او اولادونه هم د خپلو پلرونو او نورو مشرانو ايمانونه د الله ﷻ د عذابه نه شي بچ كولی ترڅو چې پخپله په رښتيانيو معناوو كښې په ايمان مشرف جوړ شي.

## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې په ﴿ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا ﴾ كښې د "فَرْج" كلمه مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنبياء: ۹۱] ايت لاندې شرحه كړې ده چې كله د غليظ عورت معنى وركوي او كله محض د وت په معنى باندې استعمالېږي چې مونږ ترې په ګرېوان سره تعبير كولی شو، په دې مقام كښې همدغه دوهمه معنى په زړه پورې برېښي.

دا د يو پلوه، او د بل پلوه په ﴿ مِن رُّوحِنَا ﴾ كښې د "رُوح" اضافت د تشريف دپاره دی لكه چې په "بيت الله" كښې اضافت همدغه معنى افاده كوي. او د "رُوح" څخه د عيسى علیه‌السلام مبارک روح مطلب دی. يعنې مونږ د بي بي مريمې رضی‌الله‌عنها په ګرېوان كښې د عيسى علیه‌السلام روح د جبرائيل علیه‌السلام په ذريعه پو كړ او هغه علیه‌السلام مو د ذكرې شوې بي بي په ګېډه كښې ژوندی كړ.

## دلته د "كلمات" تفسير

۴ـ په ﴿ وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا ﴾ كښې مفسرينو كرامو د "كَلِمَات" كلمه په متعددو معناوو سره

(۱) تفسير ابن كثير ج۴ ص۳۹۳
(۲) الدر المنثور ج۸ ص۲۲۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تفسیره کړې ده چې د بدلیت په لحاظ د ټولو اراده کول هم څه باک نه لري. هغه دا چې:

الف: دلته د "كَلِمَات" څخه هغې کلمې مطلب دی کومې چې د بي بي مريمې رضي الله عنها سره جبرائيل عليه السلام سر ته رسولې کومو ته چې په [مريم:۱۸_ ۲۱] ایتونو کښې اشاره شوې ده[۱].

ب: دلته ترې هغه ټول شریعتونه مراد دي کوم چې الله ﷻ د خپلو بندګانو د لارښوونې دپاره دنیا ته را استولي دي[۲].

## کاملې ښځې څوک دي؟

۵_ نبي کريم ﷺ فرمایلي دي چې: «كَمَلَ مِنَ الرِّجَالِ كَثِيرٌ وَلَمْ يَكْمُلْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَآسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ وَفَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ»[۳] یعنې د سړیو څخه ډېر کسان کمال ته رسېدلي دي او د ښځو څخه کمال ته نه دي رسېدلې مګر مریم د عمران لور رضي الله عنها او آسیه رضي الله عنها د فرعون مېرمن او په نورو ښځو باندې د عائشې رضي الله عنها بهتري په ښورووا کښې د مېده کړې ډوډۍ بهتري ته ورته ده چې په نورو خوراکونو باندې يې لري.

د "التحريم" سورت ترجمه او تفسير د الله ﷻ په مرسته او توفيق په همدې ځای باندې ختم شو، چې ورسره اته ويشتمه سپاره هم پای ته ورسېده.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الْكَامِلِينَ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَاغْفِرْ لَنَا إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.

۱۴۲۵/۶/۲۳ هـ ق = ۱۳۸۳/۵/۱۹ هـ ش.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۲۰۴

(۲) تفسير البغوي ج۴ ص۳۶۸

(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۸۱۵

# الملك (٦٧)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (الْمُلْك) د همدې سورت په اولني ایت کښې نازل شوی دی. همدارنګه په یوه حدیث کښې دغه سورت د "الْمُنْجِيَة" او "الْمَانِعَة" په نومونو باندې هم یاد شوی دی چې مونږ یې په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: یو ځل یوه صحابي ﷺ د قبر د پاسه خیمه درولې وه حال دا چې د ده ګومان نه وه چې دلته به قبر وي.

ب: صحابي ﷺ د خیمې په ځای کښې د ځمکې د داخل څخه همدغه سورت (الْمُلْك) د یو بنیادم په غږ کښې واورېد، چې ټول سورت یې تر اخره پورې ولوست.

ج: نوموړي صحابي ﷺ دغه قیصه نبي کریم ﷺ ته ټکي په ټکي واوروله، نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «هِيَ الْمَانِعَةُ هِيَ الْمُنْجِيَةُ تُنْجِيهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ»[1] یعنې دا سورت (د عذاب القبر) منعه کوونکی دی او همدا سورت نجات ورکوونکی دی چې خپل قاري ته د عذاب القبر څخه نجات ورکوي.

۲_ دا سورت په اتفاق سره ټول مکي دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی.

۳_ د دې سورت د ایتونو شمېر دېرشو (۳۰) ایتونو ته رسېږي لکه چې په یوه حدیث کښې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ سُورَةً مِنَ الْقُرْآنِ ثَلَاثُونَ آيَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ حَتَّى غُفِرَ لَهُ وَهِيَ ﴿ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ ﴾ »[2] یعنې یقینًا یو سورت دی چې ټول فقط دېرش ایتونه دي، سړي (خپل قاري) ته شفاعت کوي آن تردې چې د الله ﷻ د پلوه ورته مغفرت وکړی شي چې هغه د ﴿ تَبَٰرَكَ ٱلَّذِى بِيَدِهِ ٱلْمُلْكُ ﴾ سورت دی.

۴_ د دې سورت د کلماتو شمېر درې سوه او دېرش (۳۳۰) کلمې دي او د حرفونو شمېر یې یو زرو درې سوه او دیارلسو (۱۳۱۳) حرفونو ته رسېږي[3].

۵_ د دې سورت محتویات د نورو مکي سورتونو په څېر د عقیدوي احکامو په محور باندې څرخېږي. د مثال په توګه:

الف: د الله ﷻ د کاملې واکدارۍ دېرو مثالونو ته پکښې اشاره شوې ده لکه د اسمانونو نظام چې هیڅ نواقص پکښې موجودیت نه لري.

ب: د قیامت د ورځې په قیام باندې پکښې ټینګار شوی دی او د کفارو اخروي حالاتو هم پکښې نزول موندلی دی.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۱۷
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۱۵۹
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۳۱۲

ج: د بنیادم د روزۍ نظام، د اوبو بندوبس او داسې نورې موضوعګانې هم پکښې نازلې شوې دي.

٦ـ په وړاندېنۍ سورت (التحريم) کښې شرعي نظام ته اشاره شوې وه چې د مؤمنانو په کورونو پورې يې عمومًا او د نبي ﷺ په کور کهول پورې يې خاصتاً ارتباط درلود. او په دې سورت (الملك) کښې په تکويني نظام باندې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ تَبَٰرَكَ ٱلَّذِى بِيَدِهِ ٱلْمُلْكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ۝١ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْمَوْتَ وَٱلْحَيَوٰةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفُورُ ۝٢ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ طِبَاقًا ۖ مَّا تَرَىٰ فِى خَلْقِ ٱلرَّحْمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٍ ۖ فَٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ هَلْ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ ۝٣ ثُمَّ ٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنقَلِبْ إِلَيْكَ ٱلْبَصَرُ خَاسِئًا وَهُوَ حَسِيرٌ ۝٤ وَلَقَدْ زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ وَجَعَلْنَٰهَا رُجُومًا لِّلشَّيَٰطِينِ ۖ وَأَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ ٱلسَّعِيرِ ۝٥ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] هغه اقدس ذات ډېر برکتناک دی چې په (بلا کيف) لاس کښې يې واکداري ده، او همدی ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت درلودونکی دی.

[۲] هغه اقدس ذات چې مرګ او ژوند يې د دې دپاره پيدا کړي دي ترڅو تاسو امتحان کړي چې ستاسو کوم يو کس د عمل د حيثه ډېر ښايسته (او ډېر ښه) دی.

او همدی ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او هم) ډېر ښنونکی دی.

[۳] هغه اقدس ذات چې اوه اسمانونه يې طبقې-طبقې (څينې د څينو د پاسه) پيدا کړي دي.

(ای کتونکيه!) ته د ډېر مهربان الله ﷻ په خلق (اسمانونو) کښې څه عيب (او نقص) نه ګورې.

نو ته خپلې سترګې ورتاوې کړه. ايا ته (پکښې) څه چاودونه ګورې؟

[۴] بيا خپلې سترګې په مکرره توګه ورواړوه، چې خپلې سترګې به درته په داسې حال کښې حيرانې دروګرځي چې دا به سترې ستومانه وي.

[۵] او يقينًا مونږ نژدې اسمان په ډيوو (ستورو) سره ډېر ښايسته کړی دی. او هم مو دا (ډيوې) د شيطانانو دپاره ويشتونکې ګرځولې دي (چې هلته يې د غوږ ايښودلو دپاره نه پرېږدي).

او مونږ شيطانانو ته (په آخرت کښې سوزوونکی) عذاب تيار کړی دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنۍ سورت (التحريم) په آخر کښې د عيسی عليه السلام خارق العاده پيدا ښت ته اشاره شوې ده

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د دې سورت (الملك) په ذکرو شوو لومړیو ایتونو کښې د همدغه خارق العاده پیدا ښت وجې ته اشاره کېږي چې الله ﷻ د کاملې واکدارۍ او کامل قدرت درلودونکی دی، نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! د الله ﷻ په نامه په خپل امت باندې د خپل رب ﷻ د عالي صفاتو څو مثالونه قرائت کړه هغه دا چې:

۱_ هغه اقدس ذات ډېر برکتناک دی او هره ښېگڼه ورپورې اختصاص لري د کوم چې په بلا کیفه لاس کښې کامله واکداري ده او په هر کار کښې د خپلې ارادې مطابق اجراءات کوي.

لنډه دا چې همدغه اقدس ذات د هر کار او هر شي په کولو د کامل قدرت درلودونکی دی او د هر شي د ایجاد توان لري.

۲_ هغه اقدس ذات ډېر برکتناک او د خیر خاوند دی کوم چې مرګ او ژوند یې د دې دپاره پیدا کړي دي ترڅو تاسو امتحان کړي چې د عمل د حیثه ستاسو کوم یو کس ډېر ښایسته او بهتر دی او کوم یو کس مو د همدغه حیثه بدرنګ او وروسته پاتې دی؟ ترڅو الله ﷻ هر چا ته مناسبه سزا یا جزا ورکړي.

او دا ځکه چې الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی، چې هیڅوک یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی، او همدی ﷻ ډېر بېنونکی دی چې د کفر څخه راښکته هغه چا ته ښښنه کوي کوم ته یې چې اراده وشي.

۳_ هغه اقدس ذات د ډېر برکت او خیر خاوند دی کوم چې اوه اسمانونه یو د بل د پاسه پیدا کړي دي حال دا چې:

الف: ای کتونکیه! ته د ډېر مهربان الله ﷻ په دغه اسماني نظام کښې هیڅ عیب او نقصان نه ګورې او نه پکښې عیب او نقصان شتون لري.

ب: نو ته خو یو ځل سترګې دغه نظام ته وروګرځوه او ښه په خیر سره ورته وګوره چې ایا ته پکښې څه چاودونه لیدلی شې؟ ایا چاودونه پکښې موجودیت لري؟

ج: ته یو ځلې نه بلکې څوځو ځله بیا-بیا سترګې ورواړوه، ایا څه عیب پکښې موندلی شې؟

د: لنډه دا چې که ته (ای کتونکیه!) دغه اسماني نظام ته هرڅو کرته سترګې ورواړوې نو سترګې به درته په داسې حال کښې بېرته راوګرځي او کتل به بس کړي چې ډېرې به حیرانې وي او ډېرې به خړې وي او ډېرې به ستومانه وي. یا په بل عبارت که ته خپلې سترګې هر څومره ستومانه کړې هم څه عیب به پکښې ونه ګورې.

۴_ او بې شکه مونږ د اوو اسمانونو د جملې څخه دنیا ته ډېر نژدې اسمان په قسم-قسم ډېرو سره ښایسته کړی دی، او نوراني ستوري مو پکښې په دقیق نظام سره خواره واره کړي دي چې نه یو تربله ټکر کېږي او نه یو د بل لاره بندوي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو د دې سره-سره مو همدغه ستوري د غوړ نیوونکو شیطانانو دپاره په شغلو سره ویشتونکي هم ګرځولي دي، چې دا د شیطانانو دنیاوي عذاب دی او په آخرت کښې مو ورته د سوزوونکي اور عذاب تیار کړی دی چې هیڅکله به ترې نجات مونده نه کړي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وايي چې: د ﴿ خَلَقَ ٱلْمَوْتَ ﴾ معنی دا ده چې الله ﷻ مرګ پیدا کړی دی او وجود يې ورکړی دی، حال دا چې مرګ خو عدمي شی دی چې (وجود) ورسره منافات لري؟

مونږ وايو چې: عدم (نشت) په لاندې دوه وو ډولونو سره وېشلی کېږي:

الف: یو هغه عدم دی چې ازلي دی او د وجود قابلیت نه لري.

ب: بل هغه عدم دی چې عارضي دی او د موجودیت قابلیت لري چې بل شی يې په وجود باندې محوه کېږي.

(موت) مرګ په همدغې دوهمې معنی سره عدمي دی چې ژوند ورباندې د منځه ځي.

ذکر شوی مطلب په عدم الوضوء (نه اودس) او نقض الوضوء (د اودس ماتېدل) کښې ښه پوره څرګندېږي چې اولنی ازلي عدم دی او دوهم عارضي عدم دی، چې اودس ورباندې محوه کېږي.

## یو اعرابي تحلیل

۲ـ د ﴿ مَّا تَرَىٰ فِى خَلْقِ ٱلرَّحْمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٍ ﴾ جمله علماوو کرامو د اعراب په لحاظ په لاندې دوه وو ډولونو سره تحلیله کړې ده:

الف: دا جمله مستانفه جمله ده چې د اعراب محل نه لري، او د ﴿ خَلْقِ ٱلرَّحْمَٰنِ ﴾ څخه مطلق مخلوقات مطلب دي[1]، نو په دې تفسیر سره به د ﴿ تَفَٰوُتٍ ﴾ د کلمې څخه عدم الحکمة (بې حکمتي او عبث) مراد وي. یعنې ای کتونکیه! ته د ډېر مهربان الله ﷻ په مخلوقاتو کښې بې حکمتي او عبث نه شې لبدلی، یعنې بې حکمتي او عبث پکښې نشته.

ب: دا جمله د ﴿ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ ﴾ دپاره دوهم صفت دی[2] او د ﴿ فِى خَلْقِ ٱلرَّحْمَٰنِ ﴾ کلمات د اسمانونو څخه کنايي دی ته به وايي چې "فِيهِنَّ" نازل شوی دی[3]. نو په دې تفسیر سره به د ﴿ تَفَٰوُتٍ ﴾ کلمه د "عیب او نقصان" څخه عبارت وي. یعنې الله ﷻ داسې اوه اسمانونه پیدا کړي دي چې ای کتونکیه! ته پکښې هیڅ عیب او نقصان نه ګورې.

ته خپلې سترګې بیا-بیا د اسمانونو خوا ته ورتاوې کړه چې ایا ته پکښې څه چاودونه ګورې؟ ایا څه چاودونه لري؟

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۹ ص۲؛ المحرر الوجیز ج۱۶ ص۶۱

(۲) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۲؛ روح المعاني ج۲۹ ص۶

(۳) تفسیر الکشاف ج۴ ص۵۷۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

۳_ مونږ ته دوهم تحلیل او دوهم تفسیر په زړه پورې برېښي چې په بل ایت کښې ورباندې تقریباً صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ أَفَلَمْ يَنظُرُوٓا۟ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَٰهَا وَزَيَّنَّٰهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ ﴾ [ق:۶] یعنې ایا کفار اسمان ته نه ګوري چې د پاسه یې (د چترۍ غوندې ولاړ) دی، چې مونږ څنګه جوړ کړی دی او ښکلا مو (په ستورو سره) ښایسته کړی دی حال دا چې هیڅ درزونه (او چاودونه) ورته نشته؟.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: په ﴿ ثُمَّ ٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ ﴾ الآية- کښې که څه هم د "خاسئ" کلمه د شړل شوي معنی ورکوي[۱] مګر ځنو علماوو کرامو ترې دلته د متحیر او حیران معنی اخستې ده[۲]، او د "حسیر" د کلمې معنی خو واضحه ده چې د ستومانه دپاره وضعه شوې ده[۳].

نو پوښتنه دا ده چې ایا په دوه کرته کتلو سره سترګې حیرانېږي او ستومانه کېږي؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د ﴿ كَرَّتَيْنِ ﴾ د کلمې څخه صرف دوه کرته کتل مطلب نه دي[۴]، ترڅو اعتراض وارد شي، بلکې دغه کلمه دلته عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په ډېرو کرتو کتلو سره تفسیره کړې ده[۵].

یعنې ای کتونکیه! ځېل نظر په متکرره توګه په اسمانونو کښې وګرځوه راوګرځوه ترڅو چې حیران او ستومانه جوړ شي، خو د دې سره-سره به هم پکښې چاودونه او د ګوتې د ایښودلو ځای مونده نه کړي.

﴿ وَلِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٦﴾ إِذَآ أُلْقُوا۟ فِيهَا سَمِعُوا۟ لَهَا شَهِيقًا
وَهِىَ تَفُورُ ﴿٧﴾ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ ٱلْغَيْظِ ۖ كُلَّمَآ أُلْقِىَ فِيهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ
﴿٨﴾ قَالُوا۟ بَلَىٰ قَدْ جَآءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ مِن شَىْءٍ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ
كَبِيرٍ ﴿٩﴾ وَقَالُوا۟ لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِىٓ أَصْحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿١٠﴾ فَٱعْتَرَفُوا۟ بِذَنۢبِهِمْ
فَسُحْقًا لِّأَصْحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿١١﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ

(۱) لسان العرب ج۱ ص۶۵
(۲) روح المعاني ج۲۹ ص۷
(۳) مفردات الراغب ص۱۱۶
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۳۹۶؛ تفسیر الکشاف ج۴ ص۵۷۶
(۵) تفسیر البغوي ج۴ ص۳۷۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿۝١٣ وَأَسِرُّوا۟ قَوْلَكُمْ أَوِ ٱجْهَرُوا۟ بِهِۦٓ ۖ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ۝١٣ أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ
وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ ۝١٤﴾

[۶] او د هغو کسانو دپاره هم (په آخرت کښې) د جهنم عذاب شته دی کومو چې په خپل رب ﷻ باندې کفر غوره کړی دی. او (جهنم) د بېرته ورګرځېدلو ډېر بد (او ناکاره) ځای دی.

[۷] کله چې پکښې کفار (دوزخیان) ورواچول شي نو دوی به د جهنم څخه د خره غوندې اواز واوري (چې ورته به هنګېږي) په داسې حال کښې چې دوزخ به (د دېګ غوندې) خوټېږي.

[۸] (او په داسې حال کښې چې) نژدې به وي چې (په کفارو باندې) د ډېر غضب د کبله ټوټې ټوټې وګرځي.

هر کله چې په دوزخ کښې (د کفارو) یو ټولګی وروغورزول شي نو خازنان به یې ترې (د تخجیل دپاره) پوښتنه وکړي چې: ایا تاسو ته ډاروونکی (پیغمبر) نه وه (درغلی (چې په دغه حال باندې یې لا پخوا خبر کړی وی))؟

[۹] دوزخیان (کفار) به (په جواب کښې) ووایي چې ولې نه.

یقینًا مونږ ته ډاروونکی (پیغمبر) راغلی وه (او مونږ یې په دغه حال باندې خبر کړی وو) نو مونږ یې تکذیب وکړ او (ورته) مو وویلې چې الله ﷻ هیڅ شی نه دی نازل کړی، (بلکې) تاسو نه یاست مګر په لویه ګمراهۍ کښې (اخته) یاست (چې د نبوت دعوی کوئ).

[۱۰] او کفار به (دا هم) ووایي چې که (بالفرض په دنیا کښې) مونږ وی چې څه مو اورېدلی او یا مو د عقل څخه کار اخستلی نو (نن به) مونږ د سوزوونکی اور د ملګرو (په ډله) کښې شامل نه وی.

[۱۱] نو کفار به په خپلو ګناهونو باندې اعتراف وکړي نو د سوزوونکي اور اندېوالانو ته دې (د الله ﷻ د رحمت څخه) لرې کېدل وي (دوی دې د الله ﷻ د رحمت څخه لرې وي).

[۱۲] یقینًا هغه کسان کوم چې د خپل رب ﷻ څخه په غیبو سره ډارېږي د همدوی دپاره (د الله ﷻ په نزد) لوی مغفرت او ډېر لوی اجر دی.

[۱۳] او (ای خلکو!) تاسو خپلې خبرې پټې کړئ او یا پرې جهر وکړئ (په دواړو صورتونو کښې ورباندې الله ﷻ پوهېږي او دا خکه چې:) یقینًا الله ﷻ د سینو (زړونو) په حالاتو پوه دی.

[۱۴] (په دې باندې علاوه) ایا هغه څوک (په پټو او ښکاره وو باندې) نه پوهېږي چا چې (مخلوقات) پیدا کړي دي؟

او همدی ﷻ په ډېرو باریکه (موجوداتو باندې) پوه دی (او په ډېرو باریکو موجودېدونکو شیانو باندې) خبردار دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وراندېنیو ایتونو مضمون په دې تمام شوی وه چې د شیطانانو دپاره په آخرت کښې سوزوونکی

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عذاب تیار کړی شوی دی، او په دې ایتونو کښې د یو پلوه همدغه عذاب ته تعمیم ورکړی شوی دی چې ټولو کفارو ته به شمولیت ولري، او د بله پلوه د مؤمنانو څه اخروي حالت ته هم د مقایسې په توګه اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د اخروي حالاتو په ارتباط په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ اخروي عذاب او د سوزوونکي اور تعذیب په شیطانانو پورې اختصاص نه لري بلکې دوزخ د دوی د پیروانو او هغو کسانو دپاره هم په عمومي توګه تیار کړی شوی دی کومو چې په خپل رب ﷻ سره کفر غوره کړی دی، چې دا دوزخ د ببرته ورتاوېدلو ډېر بد ځای دی.

۲ـ په دوزخ کښې به د دوزخیانو حالات داسې وي چې:

الف: کله پکښې وروغورزولی شي نو دوی به هلته د دوزخ د پلوه ډېر بد او هیبتي اواز واوري چې د خره اواز ته به ورته وي.

د دغه اواز اورېدل هم یو ډول عذاب دی چې د هر څه څخه وړاندې به ورسره دوزخیان مخامخ شي.

ب: په دغه وخت کښې به دوزخ خوټېږي او په کفارو باندې به دومره په غُصه وي چې نژدې به وي چې د زیاتې غُصې د کبله وچوي او ټوټې-ټوټې وګرځي.

ج: په دغه دوزخ کښې به کفار وار په وار ډلې-ډلې ورغورزول کېږي، او هره ډله چې پکښې ورواچولی شي د دوزخ خازنانې پرښتې به ورسره لاندې سوال جواب وکړي ترڅو ښه خجالت شي:

خازنان: ای کفارو! تاسو ته په دنیا کښې د دغه عذاب څخه ډاروونکی پیغمبر نه وه درغلی؟ او تاسو ته یې په دغه عذاب سره اطلاع نه وه درکړې؟

دوزخیان: ولې نه، مونږ ته یو پیغمبر لا څه چې ډېر ډاروونکي پیغمبران راغلي وه، او په دغه حالاتو باندې یې خبر راکړی وه او هم یې راته د نجات لاره ښودلې وه.

خو مونږ په ډېر شدت سره د هغوی خبرې دروغې وګڼلې او رد مو کړې چې په تاسو باندې الله ﷻ هیڅ وحي نه ده نازله کړې او تاسو خپل ځانونه په دروغو پیغمبران تراشلي دي.

او دا مو هم ورته وویلې چې: تاسو نه یاست مګر په لویه ګمراهۍ کښې پرېوتلي یاست چې په دروغو د نبوت د عوه ګیر یاست.

دوزخیان (کفار) به خپلو خبرو ته ادامه ورکړي او په ډېر حسرت سره به ووایي چې:

زمونږ پیغمبران په ګمراهۍ کښې اخته نه وه بلکې مونږ په لویه ګمراهۍ کښې پرېوتلي وو.

که بالفرض مونږ هلته د خپلو ناصحانو خبرې او نصائح اورېدلې وی او قبول کړي مو وی او یا مو د خپلو عقلونو څخه استفاده کړې وی نو نن ورځ به د سوزونکي اور ملګري نه وی او د دغو عذابونو سره به نه وی مخامخ شوي د کومو سره چې اوس مخامخ یاستو.

۳ـ ای پیغمبره! نو کفار به په دوزخ کښې په ذکر شوي تفصیل سره په خپلو جنایاتو او کفریاتو باندې اعتراف وکړي چې مونږ د دغه دوزخ لیاقت لرو او مونږ چې دلته معذبېږو په مونږ باندې هیڅ ظلم او تېری نه کېږي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ نو د سوزوونکي اور ملګرو (دوزخیانو) ته د الله ﷻ د رحمت څخه لرېوالی دی چې روزمره ترې لرې کېږي.

۵_ ای پیغمبره! بالمقابل په خپل امت باندې د هغو کسانو څه اخروي حالات هم قرائت کړه کوم چې په غیبو سره د خپل رب ﷻ د عذابه ډارېږي، کوم چې د غیبي معلوماتو په هکله د پیغمبرانو تصدیق کوي. د دوی اخروي حالت به داسې وي چې:

د همدوی دپاره په آخرت کښې د الله ﷻ په نزد د ګناهونو مغفرت تاکلی شوی دی او همدارنګه د ډېر لوی اجر مستحق ګرځولی شوي دي.

۶_ ای پیغمبره! د مؤمنانو په شمول ټول خلک مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: ای خلکو ستاسو خوښه چې خپلې خبرې پټوئ (ورو-ورو یې کوئ) او که جهر پرې کوئ (څرګندې یې ګرځوئ)، په دواړو صورتونو کښې ورباندې الله ﷻ کامل علم لري او په دواړو صورتونو کښې یې اوري.

حتی الله ﷻ په یقیني توګه په هغو حالاتو باندې هم ښه پوه دی کوم چې د سینو خاوندان دي او کوم چې د چا په زړه کښې ګرځي راګرځي.

ب: ای خلکو! ایا هغه اقدس ذات چې ټول مخلوقات یې د حکمتونو په بنیاد پیدا کړي دي په پټو او څرګندو خبرو باندې نه پوهېږي؟

حال دا دی چې همدا اقدس ذات ﷻ په ډېرو باریکو شیانو باندې علم لري او لا د پیدا کولو څخه وړاندې په ډېرو باریکو شیانو باندې خبردار دی، نو هیڅ شی د ده ﷻ د علم څخه نه شي وتلی او په هر شي باندې یې د علم او قدرت د لحاظه احاطه کړې ده.

## توضیحات

۱_ په ﴿ سَمِعُوا۟ لَهَا شَهِيقًا ﴾ کښې د "شَهِيق" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [هود:۱۰۶] ایت لاندې معنی کړې ده چې د خره د اواز (هنګ) د یوه ډول نوم دی، خو په دې مقام کښې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د قول په بنیاد دا کلمه د خره هغه اواز دی کوم چې خر یې د اوربشو د لیدلو په وخت کښې کوي[۱]، چې په پښتو کښې ورته "سُوقبدل" وايي. یعنې دوزخ به کفارو ته داسې سُوقېږي لکه چې خر اوربشو ته سُوقېږي.

## سُحق څه معنی؟

۲_ په ﴿ فَٱعْتَرَفُوا۟ بِذَنۢبِهِمْ فَسُحْقًا لِّأَصْحَـٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴾ کښې د "سُحْق" کلمه اصلاً د یوه شي میده-میده کولو دپاره وضعه شوې ده[۲] لکه رانجه چې میده-میده شي. مګر عبد الله بن عباس رضي الله عنهما

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۲۸
(۲) مفردات الراغب ص۲۳۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې ایت کښې په لرېوالي سره تفسیره کړې ده[۱].

یعنې دوزخیان به په خپلو جنایاتو او ګناهونو باندې اعتراف وکړي او هیڅ معذرت به وړاندې نه کړی شي، نو دوی دې د الله ﷻ د رحمت څخه لرې وي لرې کېدل.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «لَنْ يَهْلِكَ النَّاسُ حَتَّى يُعْذِرُوا مِنْ أَنْفُسِهِمْ»[۲] یعنې خلک به ترهغه پورې هیڅکله هلاک نه شي (برابره خبره ده چې اخروي هلاک وي او که دنیاوي) ترڅو چې هغوی د خپلو ځانونو د پلوه عذر وړاندې نه شي کړی (چې مونږ په خپلو جنایاتو باندې اعتراف کوو او مونږ د الله ﷻ په حضور کښې هیڅ اعتذار نه لرو).

## د خپل رب ﷻ څخه ډار

۳_ د ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم ﴾ الآية- مضمون ته په ډېرو احادیثو کښې اشاره شوې ده. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ»[۳] یعنې د قیامت په ورځ به د اوو کسانو په جمله کښې هغه څوک هم د الله ﷻ د رحمت د سوري لاندې وي کوم چې د نسب او ښایست خاونده ښځه یې (فحاشۍ ته) ورروبولي خو نوموړی (ورته) ووایي چې یقینًا زه د الله ﷻ څخه (بالغیب) ډارېږم (دغه کار ته تیار نه یم).

ب: نبي کریم ﷺ په یوه قدسي حدیث کښې فرمایلي دي چې: «يَقُولُ اللهُ أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ ذَكَرَنِي يَوْمًا أَوْ خَافَنِي فِي مَقَامٍ»[۴] یعنې الله ﷻ به (یو وخت) ووایي چې (ای د دوزخ خازنانو!) تاسو د اور څخه هغه څوک هم وباسئ چا چې زه یوه ورځ یاد کړی یم او یا راڅخه په یوه ځای کښې (په غیبو سره) ډار شوی وي.

## یو اعرابي تحلیل

۴_ په ﴿ أَلَا يَعۡلَمُ مَنۡ خَلَقَ ﴾ کښې لاندې تحلیل په نظر کښې ساتل په کار دي[۵]:

الف: د "أ" توری د انکاري استفهام دپاره دی.

ب: د "لا" توری د نفي معنی ورکوي.

ج: د ﴿ مَنۡ ﴾ کلمه د خپلې صلې ﴿ خَلَقَ ﴾ سره په ﴿ يَعۡلَمُ ﴾ سره مرفوعه ده.

د: د ﴿ يَعۡلَمُ ﴾ مفعول مقدر دی چې مونږ تري په "السِّرَّ وَالْجَهْرَ" سره تعبیر کولی شو د کوم په

---

(۱) الدر المنثور ج۸ ص۲۳٦

(۲) مسند احمد بن حنبل ج٦ ص۳۵۸

(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۹۱

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۸۷

(۵) روح المعاني ج۲۹ ص۱۴؛ تفسیر ابي السعود ج۹ ص۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تقدير باندې چې وړاندېنۍ ايت دلالت کوي.

يعنې ايا هغه اقدس ذات چې پيدا کول کوي په پټو او څرګندو باندې نه پوهېږي؟!

﴿ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ ذَلُولًا فَٱمْشُوا۟ فِى مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا۟ مِن رِّزْقِهِۦ ۖ وَإِلَيْهِ ٱلنُّشُورُ ﴿١٥﴾ ءَأَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا هِىَ تَمُورُ ﴿١٦﴾ أَمْ أَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ ﴿١٧﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿١٨﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَى ٱلطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَٰٓفَّٰتٍ وَيَقْبِضْنَ ۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا ٱلرَّحْمَٰنُ ۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍۭ بَصِيرٌ ﴿١٩﴾ ﴾

[۱۵] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره يې ځمکه ايل (تابعداره) ګرځولې ده نو تاسو يې په اطرافو (او لوړو ژورو) کښې لاړ شئ (وګرځئ) او د الله ﷻ د (مقررې کړې) روزۍ څخه وخورئ.

او (بيا) خاص الله ﷻ ته (د ځمکې څخه ستاسو) پورته کېدل دي (نو تصفيه به درسره وکړي).

[۱٦] ايا تاسو د هغه (الله ﷻ) څخه په امن کښې ياست چې په اسمان کښې دی چې ځمکه درباندې خسف کړي نو (په دغه وخت کښې به) ځمکه (تاسو ته ايل نه وي بلکې) په اضطراب سره به حرکت کوي (ترڅو تاسو ډوب کړي).

[۱۷] ايا تاسو د هغه (الله ﷻ) څخه په امن کښې ياست چې په اسمان کښې دی چې په تاسو باندې ډبرې ورورنکی باد ولګېږي (او درباندې يې دروالوزوي)؟

نو ډېر ژر به تاسو پوه شئ چې زما ډارول څنګه وه؟ (د واقع سره برابر وه او که نه؟).

[۱۸] او يقينًا هغو کسانو (خپلو پيغمبرانو ته) د دروغو نسبت کړی وه کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي، نو (په هغوی باندې) زما انکار څنګه وه؟ (ايا هغوی مو پوپنا نه کړه؟).

[۱۹] او ايا کفار مرغانو ته نه ګوري چې په داسې حال کښې د دوی د پاسه وي (الوتنې کوي) چې د وزرو خورونکي وي او په داسې حال کښې چې خپلې وزرې راغونډوي.

دا مرغان (په هوا کښې) نه ټينګوي (او د سقوط څخه يې نه ساتي) مګر ډېر مهربان الله ﷻ.

يقينًا الله ﷻ په هر شي باندې بينا دی (هر موجود ګوري او ضروريات يې ورپوره کوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د تفصيل په تفاوت سره د کفارو او مؤمنانو څه اخروي حالاتو ته اشاره شوې وه، او په دې ايتونو کښې خپنو نعمتونو ته اشاره کېږي چې په عين وخت کښې د کامل قدرت دلايل هم دي، دا د دې دپاره ترڅو يې مؤمنان شکريه وکړي او په خپل ايمان او خپل عبادت

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې کلک ودرېږي، او وربانديې کفار استناد وکړي چې د کفري عقيدې څخه توحيدي عقيدې ته راواوړي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! اوس په خپل دعوتي امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه چې:

۱_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره يې ځمکه منقاده او مسخره گرځولې ده، چې نه دومره نرمه ده چې پکښې تلل راتلل نه شئ کولی، او نه دومره کلکه ده چې د استفادې مخه پکښې بنده وي.

په دې باندې علاوه ستاسو په ټولو ضروریاتو او ارزاقو باندې همدغه ځمکه مشتمله ده د کومې څخه چې ستاسو پلار (آدم ﷺ) پیدا کړی شوی دی.

۲_ نو ای بنیادمانو! تاسو په ځمکه کښې وگرځئ راوگرځئ او په لوړو ژورو کښې يې تگ راتگ وکړئ. نو خپل ضروریات د ځمکې څخه پوره کړئ او د هغو روزیو څخه وخورئ او وڅښئ کوم چې پکښې ستاسو دپاره الله ﷻ خای په خای کړي دي.

خو په عین حال کښې په یاد وساتئ چې تاسو به د قیامت په ورځ په مجموعي توگه د الله ﷻ حضور ته ورغونډولی کېږئ او د دغو نعمتونو په شمول د عقیدې او عمل د پوښتنو سره به مخامخ کېږئ.

۳_ ای بنیادمانو! ایا تاسو د هغه اقدس ذات ﷻ څخه په امن کښې یاست کوم چې د علو او لوړوالي درلودونکی دی او په اسمان کښې دی، چې ځمکه درباندې خسفه کړي، او د همده ﷻ په امر باندې مو ځمکه د قارون غوندې خپلې گېډې ته راکاږي، په داسې حال کښې چې همدغه ځمکه به په تاسو باندې په اضطراري زلزلې سره ولړزېږي؟

۴_ ای بنیادمانو! ایا تاسو د هغه اقدس ذات ﷻ څخه په امن کښې یاست چې په اسمان کښې د علو او لوړوالي درلودونکی دی چې: په تاسو باندې د ډېر توند باد په ملگرتیا سره ډبرې درولېږي او د باران په شان يې درباندې ووروي؟

۵_ نو کله چې تاسو نه د خسف څخه د امنیت درلودونکي یاست او نه د کانو د ورولو څخه امنیت لرئ او په هر آن کښې د هر یو کار د اجراء کولو احتمال شته نو تاسو ولې د دغه امنیت څخه گټه نه پورته کوئ چې خپلې عقیدې او خپل عملونه تصحیح کړئ؟

نو تاسو به ډېر ژر په دنیا او آخرت دواړو کښې پوه شئ چې زمونږ دارول څنگه وه؟، حقیقت يې درلود او که نه؟

۶_ نو ای پیغمبره! که ستا د زمانې کفار په خپل کفري دریغ او تکذیب باندې کلک شي نو دوی به هم د هغه حالت سره مخامخ کړی شي د کوم سره چې د دوی څخه وړاندېني تکذیب کوونکي مخامخ شوي وه.

نو وگوره چې زمونږ انکار او زمونږ تعذیب دوی د څنگه حالت سره مخامخ کړه؟ ایا ټول يې بوپتا نه کړه؟ ایا د ټولو جرړې يې ونه ویستلې؟

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۷_ ای پیغمبره! ایا بنیادمان نه ګوري چې د سرونو د پاسه یې په هوا کښې په داسې حال کښې مرغان الوتنې کوي چې کله خپلې وزرې د صفونو غونډې خورې کړي، او کله یې خپلو څانونو ته ورغونډوي.

پوره واضحه ده چې مرغان په هوا کښې د سقوط څخه نه بچ کوي او هلته یې نه ټینګوي مګر د هر مهربان الله ﷻ، او دا څکه چې:

یقینًا الله ﷻ په هر شي باندې بینا دی او د هر شي ضروریات او اړتیاوې ګوري.

۸_ نو ای بنیادمانو! ایا تاسو د دې څخه په امن کښې یاست چې الله ﷻ ستاسو دپاره د همدغو مرغانو څخه بلاګانې جوړې کړي او د همدغو په ذریعه درباندې ستاسو د سرونو د پاسه (د هوا د پلوه) داسې کاڼي ووروي لکه څنګه یې چې په اصحاب الفیل باندې ورولي وه؟.

## توضیحات

۱_ په ﴿ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ ذَلُولاً ﴾ الآیة- کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د "ذَلُول" کلمه د هغه څاروي دپاره وضعه شوې ده کوم چې د استفادې په وخت کښې سختي نه کوي او په اسانۍ سره ترې ګټه اخستله کېدلی شي[١].

دغه ډول څاروي ته د کوزې پښتونخوا اوسیدونکي "تابعداره" وایي او په افغاني پښتو کښې د "اهل" په نامه یادېږي.

ب: د "مَنَاکِب" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [المؤمنون:۷۴] ایت لاندې تحلیله شوې ده چې د بنیادم د اوږو معنی هم ورکوي، خو په دې مقام کښې ترې د ځمکې اطراف او نواحي مطلب دي[٢].

ج: د ﴿ وَكُلُواْ مِن رِّزْقِهِۦ ﴾ څخه څرګندېږي چې د بنیادم ټول ضروریات (لکه جهادي وسائل، خوراک او څښاک او داسې نور) د ځمکې څخه لاس ته راوړل کېدلی شي او اسلامي حکومت که د ځمکې څخه په صحیحو معناوو کښې استفاده وکړي نو هیڅکله به کفري ممالکو ته احتیاج نه ګرځي او نه به د هغوی د اقتصادي بندیزونو د اغېز لاندې راشي.

لنډه دا چې هرځومره اسلامي حکومت د ځمکې څخه د استفادې په هکله پاتې راشي همغومره به کمزوری او محتاج وي.

## د ایت شریف ارشاد

۲_ دغه ایت شریف (چې بحث پکښې روان دی) مونږ ته ارشاد کوي چې: باید هرڅوک خپله فریضه اداء کړي او د روزۍ د موندلو دپاره د خپل توان او وسې په اندازه هڅه وکړي او بیا نو په الله ﷻ توکل وکړي، نه دا چې د انساني کوښښ څخه لاس په سر شي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۸۳

(۲) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۲۴۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «لَوْ أَنَّكُمْ تَتَوَكَّلُونَ عَلَى اللهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ تَغْدُو خِمَاصًا وَتَرُوحُ بِطَانًا»[۱] يعنې که تاسو (د خپل کوښښ څخه وروسته) په الله ﷻ باندې حق توکل وکړئ نو داسې روزي به درکړي لکه چې مرغانو ته يې ورکوي هغه دا چې: سهار په خالي ګېډو په روزۍ پسې اوځي او بېګاه ته په مړو ګېډو راستنېږي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: په ﴿ ءَأَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ ﴾ او ﴿ أَمْ أَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ ﴾ کښې د "مَنْ، مَنْ" دواړه کلمې د الله ﷻ څخه کنايې دي، او مفهوم يې داسې راځي چې الله ﷻ په اسمان کښې دی، حال دا چې د نورو ايتونو څخه څرګندېږي چې الله ﷻ په عرش العظيم باندې دی؟

مونږ وايو چې: د دغه سوال د مخنيوي دپاره علماوو کرامو زښت ډېر تاويلي جوابونه کړي دي[۲] که د چا زړه يې کتل غواړي نو هملته دې مراجعه وکړي خو بهتر جواب يې دا دی چې:

مونږ بايد د الله ﷻ څخه هغه شی سلب نه کړو کوم چې الله ﷻ خپل اقدس ذات ته اثبات کړی دی خو په عين وخت کښې بايد لاندې دوه مطلبونه په ذهن کښې وساتو:

الف: يو دا چې بايد د کيف (څرنګوالي) څخه يې سکوت وکړو او الله ﷻ ته يې وسپارو او همدومره ووايو چې څنګه يې د عالي شان سره مناسب وي، حال دا چې ذکر شوی سوال د کيف څخه دی.

ب: بل دا چې ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ﴾ [الشورى:۱۱] يعنې د الله ﷻ په مثل هيڅ شی نه شي کېدلی او همدی ﷻ د هيڅ مخلوق سره په هيڅ شي کښې ورته والی نه لري.

زمونږ د ايمان دپاره همدومره عقيده کول کفايت کوي او اضافه مکلفيت نه لرو او نه ورته اړتيا شته. په همدومره پوهې باندې نبي کريم ﷺ يوه وينځه (زنانه) مؤمنه وګڼله، کله يې چې د هغې سره لاندې سوال جواب وکړ:

نبي کريم ﷺ: «أَيْنَ اللهُ؟» يعنې: الله ﷻ چرته دی؟

وينځه: «فِي السَّمَاءِ» يعنې الله ﷻ په اسمان کښې دی.

نبي کريم ﷺ: «مَنْ أَنَا؟» يعنې زه څوک يم؟

وينځه: «أَنْتَ رَسُولُ اللهِ» يعنې ته د الله ﷻ پيغمبر يې.

بيا نبي کريم ﷺ د وينځې مالک مخاطب کړ چې: «أَعْتِقْهَا فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ»[۳] يعنې دا وينځه (په کفاره کښې) ازاده کړه، چې يقيناً دا مؤمنه ده.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۷۳
(۲) روح المعاني ج۲۹ ص۱۵
(۳) صحيح مسلم ج۱ ص۲۰۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "مَوْر" څه معنی؟

۴_ په ﴿ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ﴾ کښې د ﴿ تَمُورُ ﴾ کلمه د "مَوْر" _لکه "قَوْل"_ څخه اشتقاقه شوې ده، او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الطور:۹] ایت لاندې واضحه کړې ده چې "مَوْر" د هغه سریع (تېز) حرکت معنی ورکوي د کوم سره چې اضطراب (لړزېدل) ملګری وي.

يعنې که الله ﷻ اراده وکړي نو تاسو به په ځمکه کښې خسف کړي نو په دغه وخت کښې به ځمکه ستاسو تابعداره نه وي بلکې په غیر منظم حرکت او لړزې سره به تاسو خپلې ګېډې ته راکاږي، او خوله به دربانديې رابنده کړي، لکه چې د قارون سره يې همدغه چال چلند کړی وه.

## د حاصب معنی

۵_ په ﴿ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ﴾ کښې د "حَاصِب" کلمه هغه شدید باد ته وضعه شوې ده کوم چې د ډېر شدت د کبله ډېرې الوزوي او په ډېرو ويشتل کول[۱].

د همدغه ایت مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ أَفَأَمِنتُمْ أَن يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوا لَكُمْ وَكِيلًا ﴾ [الإسراء:۶۸] يعنې ايا نو تاسو په امن کښې ياست چې خپل رب ﷻ درباندې د ځمکې يوه څنډه خسف کړي او يا درباندې توند باد (چې ډېرې الوزوي) واستوي، بیا به تاسو د خپلو ځانونو دپاره کارساز (نجات درکوونکي) مونده نه کړئ.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنیاد په ﴿ إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ ﴾ کښې د ﴿ الطَّيْرِ ﴾ د کلمې يو حال ﴿ صَافَّاتٍ ﴾ د صفت په صيغه نازل شو چې په دوام او لزوم باندې دلالت کوي او بل حال ﴿ وَيَقْبِضْنَ ﴾ يې د مضارع په صيغه نزول وموند چې په تجدد باندې دلالت کوي؟

مونږ وايو _والله ﷻ اعلم_ چې: په الوتنه کښې د وزرو خورول اصل دی چې الوتنه وربانديې د مرتبه ده، او بندول (راغونډول) يې عارضي دي چې په خاصو وختونو کښې صورت نیسي، د مثال په توګه:

اول: د غوټې وهلو په وخت کښې لکه چې باز د کوترې د ښکار په وخت کښې همدغه کار کوي ترڅو په تېزۍ سره خپل مطلب ته ورسېږي.

دوهم: د الوتنې د پيل په وخت کښې مرغان خپلې وزرې غونډوي او خوروي ترڅو په قوت سره هوا ته اوچت شي، په همدغه ډول سره په اوبو کښې لامبو وهونکی هم خپل اندامونه غونډوي او خوروي ترڅو قوت کسب کړي او خپلې لامبو ته ادامه ورکړي.

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۳۲۰

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



﴿أَمَّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى هُوَ جُندٌ لَّكُمْ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ ٱلرَّحْمَٰنِ ۚ إِنِ ٱلْكَٰفِرُونَ إِلَّا فِى غُرُورٍ
﴿٢٠﴾ أَمَّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُۥ ۚ بَل لَّجُّوا۟ فِى عُتُوٍّ وَنُفُورٍ ﴿٢١﴾ أَفَمَن
يَمْشِى مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِۦٓ أَهْدَىٰٓ أَمَّن يَمْشِى سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢٢﴾ قُلْ هُوَ
ٱلَّذِىٓ أَنشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۖ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٢٣﴾ قُلْ هُوَ
ٱلَّذِى ذَرَأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ
﴿٢٥﴾ قُلْ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٦﴾ فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيٓـَٔتْ وُجُوهُ
ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَقِيلَ هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تَدَّعُونَ ﴿٢٧﴾﴾

[٢٠] ايا دا څوک دی چې هغه ستاسو دپاره لښکر (او کومکي) دی (البته) چې د ډېر مهربان الله ﷻ څخه په غير درسره نصرت وکړي؟

کفار نه دي مګر په غولېدلو کښې (واقع) دی (تاسو نه یاست مګر غولېدلي یاست).

[٢١] ايا دا څوک دی چې هغه تاسو ته روزي درکوي (البته) که چرته الله ﷻ (ستاسو څخه) خپله روزي ونيسي (او بنده يې کړي)؟

(کفار روزي رسان نه لري) بلکې دوی په سرکشۍ (او د اسلام څخه) په نفرت کښې (پرېوتلي) دي (او سرچپه روان دی).

[٢٢] ايا هغه څوک چې په خپل مخ باندې نسکور (سرچپه) روان وي، لاره موندونکی دی او که هغه څوک چې نېغ برابر په سمه لاره باندې تلل کوي؟

[٢٣] (اې پيغمبره! کفارو ته بلکې ټولو خلکو ته) ووايه چې: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو يې (د نشت څخه) پيدا کړي ياست، او غوږونه او سترګې او (هم) زړونه يې درته ګرځولي (جوړ کړي) دي.

تاسو ډېر لږ وخت (د دغو نعمتونو) شکرګزاري کوئ (چې ايمان راوړئ؛ بلکې شکرګزاري يې نه کوئ).

[٢٤] (ورته) ووايه چې: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو يې په ځمکه کښې خواره کړي ياست، او (بيا به) همده ﷻ ته ورغونډ کړی شئ (او حساب کتاب به درسره وکړی شي).

[٢٥] او کفار وايي چې دغه (د قيامت د قيام) وعده به کله وي؟ که تاسو رښتيا ويونکي ياست (نو وخت يې وټاکئ).

[٢٦] ته ورته (په جواب کښې) ووايه چې: يقيناً د قيامت د قيام علم (فقط) د الله ﷻ په نزد دی

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(او بس). او یقیناً زه (فقط) ډاروونکی یم (زما سره دغه معلومات نشته چې تاسو یې غواړئ).

[۲۷] نو هر کله چې دغه (د قیامت د قیام) وعده کفار (خپلو خانونو ته) نژدې (په خپلو سترګو) وګوري، نو د هغو کسانو مخونه به ډېر بد شکله جوړ شي کومو چې کفر غوره کړی دی (او د بعث څخه انکاري دي).

او (په همدغه وخت کښې به ورته د تخجیل دپاره) وویلی شي چې: دا هغه وعده ده د کومې چې تاسو غوښتنه کوله (او د کومې چې تاسو د عدم صدق دعوه کوله).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او د الله ﷻ د قدرت څو نورو دلایلو ته پکښې اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېژي:

ای پیغمبره! څه نور مطالب هم قرائت کړه او ووایه چې:

۱ـ ای خلکو! د ډېر مهربان الله ﷻ څخه په غیر دا څوک دی چې هغه ستاسو دپاره لښکر او کومک دی ترڅو ستاسو نصرت وکړي البته کله چې الله ﷻ تاسو خسف کړي او یا درباندې د اسمانه د کاڼو باران ووروي؟

حقیقت دا دی چې په دغه صورت کښې تاسو هیڅ کومکي لښکر او مددګاران نه لرئ، خو سره د دې چې تاسو کومکیان نه لرئ په شرکي عقیده کلک یاست، د دې وجه دا ده چې تاسو کفار یاست او کفار نه دي مګر په غولېدلو او تېروتنه کښې پراته دي.

۲ـ ای خلکو! دا څوک دي چې هغه تاسو ته د اسمان او ځمکې څخه روزي درکړي چې یا درباندې باران راووروي او یا د ځمکې څخه کوم نبات رازرغون کړي البته په هغه وخت کښې چې که چرته الله ﷻ په تاسو باندې روزي بنده کړي؟.

ای پیغمبره! د ذکر شوي سوال جواب د کفارو په نزد هم منفي دی، بلکې کفار عناد نیولي دي او بدون د دلیله په خپل کفر باندې کلک دي او په سرکشۍ او د اسلام څخه په نفرت کښې پراته دي، او سرچپه روان دي.

۳ـ نو ایا هغه څوک چې په مخ باندې سرچپه روان وي لارموندونکی دی او که هغه څوک کوم چې په برابره لاره باندې سم د سړي په شان روان وي؟

۴ـ ای پیغمبره! ټول خلک عموماً او کفار (مشرکان) خصوصاً مخاطب کړه او ورته ووایه چې: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته یې غوږونه او سترګې او زړونه او نور حواس او اندامونه درکړي دي ترڅو ورباندې د سمې لارې او کږې لارې تشخیص وکړئ.

خو تاسو د دغو نعمتونو څخه ډېر لږ وخت او ډېر لږ کسان استفاده کوئ چې د شکرګزارۍ په بنیاد دغه نعمتونه د سمې لارې په پېژاندلو کښې په کار واچوئ.

۵ـ دا هم ورته ووایه چې: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې په ځمکه کښې پیدا کړي او

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خواره کړي یاست چې څمکه یې درباندې اباده کړې ده.

خو تاسو پوه شئ چې د قیامت په ورځ به د محشر په میدان کښې تاسو ټول الله ﷻ ته د حساب کتاب دپاره ورغونډ کړی شئ او په ځمکه کښې به خواره واره پرېښودل شئ.

۶ـ کفار د دغه حشر او بیا غونډولو څخه منکر دي د همدې کبله وايي چې دغه د حشر وعده به کله پوره شي، که تاسو رښتیا وایاست نو وخت یې راته وټاکئ.

۷ـ مګر ته ورته په جواب کښې ووایه چې:

الف: یقینًا ذکره شوې وعده پوره کېدونکې ده او د قیامت قیام حق دی، هیڅ شک او شبه پکښې نشته.

ب: خو د ټاکلي وخت علم یې د الله ﷻ په نزد دی او په همده ﷻ پورې اختصاص لري.

دغه علم یې ماته نه دی راکړی او نه زه د دغه علم د خورولو دپاره لېږلی شوی یم. یقینًا زه فقط یو پیغمبر یم او د ذکرې شوې ورځې څخه څرګند ډاروونکی یم او بس.

۸ـ ای پیغمبره! نن ورځ د قیامت د قیام څخه کفار او مشرکان انکاري دي خو کله چې په آخرت کښې هغوی دغه ورځ د نژدې څخه وګوري نو:

الف: د ډېر خجالت او ډار څخه به د هغو کسانو څېرې ډېرې بدرنګې او تکې تورې وګرځي کومو چې نن ورځ کفر غوره کړی دی او ورباندې کلک ولاړ دي.

ب: په عین حال کښې به ورته وویلی شي چې ای کفارو! دا هغه ورځ ده کومه به چې تاسو د مسخرو او تکذیب په توګه غوښتله چې کله به صورت ونیسي؟، که تاسو رښتیا وایاست نو وخت یې راوټاکئ.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ أَفَمَن يَمْشِي مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِۦٓ أَهْدَىٰٓ ﴾ الآية- کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ مُكِبًّا ﴾ کلمه د "إِكْبَاب" ـ لکه "إِكْرَام" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، خو په دې مقام کښې د "إفعال" باب د تعدیت دپاره نه دی ترڅو د غورزونکي معنی ورکړي بلکې غیر متعدي دي چې د غورزېدونکي معنی ورکوي[۱].

ب: د ﴿ أَهْدَىٰٓ ﴾ کلمه که څه هم د اسم تفضیل صیغه ده خو دلته پکښې تفضیلي معنی شتون نه لري لکه چې په "العَسَلُ أَحْلَى مِنَ الخَلِّ" کښې د "أحلى" په کلمه کښې تفضیلي معنی نشته[۲]، یعنې شات د سرکې څخه خواږه دي، هسې نه چې شات د سرکې څخه ډېر خواږه دي (په سرکه کښې هم څه خوږوالی شته دی).

ج: همدغه ایت مفسرینو کرامو په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسیر کړی دی:

---

(۱) تفسیر ابی السعود ج۹ ص۹؛ لسان العرب ج۱ ص۶۹۶

(۲) روح المعاني ج۲۹ ص۲۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: دغه سرچپه تګ حقيقي دی چې د قيامت په ورځ به ټول کفار په مخونو باندې روان کړی شي[1] لکه چې د [الإسراء: ۹۷] ايت لاندې يې د احاديثو په رڼا کښې پوره وضاحت موجود دی، والحمد لله ﷻ.

دوهم: دغه سرچپه تګ په مثال باندې محمول دی[2]. يعني په دنيا کښې ټول کفار د ګمراهۍ اغله واښي دي لکه چې څوک په لاره باندې سرچپه روان وي نه به واښي چې سر په څرګه لري پورته کوي؛ چې د کفارو دغه عمل روزمره تکرارېږي.

تبصره

د زمونږ په نزد ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري او دا څکه چې په دنيا کښې ټول کفار د مثال په توګه سرچپه روان دي او د قيامت په ورځ به همدغه مثال د حقيقت په توګه تحقق ومومي او په حقيقي توګه به ټول کفار په مخونو باندې روان کړی شي.

سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې په ﴿ فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً ﴾ کښې منصوب ضمير څه شي ته راجع دی؟

موږ وايو چې: علماوو کرامو د دغه ضمير د مرجع په تعين کښې متعدد اقوال کړي دي[3]، چې تقريباً په مصداق کښې سره ټول يو دي، خو بهتره دا ده چې دغه ضمير به په وړاندېني ايت کښې د ﴿ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ ﴾ کلمې ته راجع وي.

يعني کله چې کفار دغه د قيامت وعده وګوري چې دوی ته نژدې او د دوی د سترګو لاندې رښتيا شي نو په مخونو باندې به يې ډېر بد اثر وغورزوي او تک تور به يې واړوي.

## يو صرفي تحليل

۲ـ په ﴿ وَقِيلَ هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تَدَّعُونَ ﴾ کښې د ﴿ تَدَّعُونَ ﴾ د کلمې صرفي تحليل ته ورته صرفي تحليل د الله ﷻ په توفيق د [يس: ۵۷] ايت لاندې د ﴿ يَدَّعُونَ ﴾ په کلمه کښې تېر شوی دی چې بيا تحليلولو ته يې اړتيا نه ګورو.

خو د مقام په لحاظ ورباندې وراضافه کوو چې:

الف: د ﴿ تَدَّعُونَ ﴾ د کلمې د مجردو مصدر "دُعَاء" دی چې د غوښتلو او طلبولو معنی ورکوي[4]. يعني کفارو ته به د الله ﷻ د پلوه د قيامت په ورځ وويلی شي چې: دا هغه وعده ده چې په دنيا کښې به تاسو د مسخرو په توګه غوښتله او طلبوله چې دا به کله رښتيا کېږي؟.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۶۹
(۲) البحر المحيط ج۱۰ ص۲۲۸
(۳) تفسير الخازن ج۶ ص۳۲۱؛ تفسير القرطبي ج۱۸ ص۲۲۰؛ البحر المحيط ج۱۰ ص۲۲۹
(۴) تفسير القاسمي ج۱۶ ص۲۳۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د دغې کلمې د مجردو مصدر "دَغوَی" ده[1]. يعنې دا هغه ورځ ده چې په دنيا کښې به تاسو ټول، کوله چې د دغې ورځ تحقق دروغ دی، څه واقعيت نه لري.

﴿قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِيَ ٱللَّهُ وَمَن مَّعِيَ أَوْ رَحِمَنَا فَمَن يُجِيرُ ٱلْكَـٰفِرِينَ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٨﴾ قُلْ هُوَ ٱلرَّحْمَـٰنُ ءَامَنَّا بِهِۦ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ فِى ضَلَـٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٩﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَآءٍ مَّعِينٍۭ ﴿٣٠﴾﴾

[٢٨] (ای پيغمبره! کفارو ته) ووايه چې: ايا تاسو وينئ (ما ته خبر راکړئ) که چرته الله ﷻ ما هلاک کړي او هغه څوک (هم هلاک کړي) کوم چې زما سره دي او زما ملګري دي، نو کفارو ته به د دردناک عذاب څخه څوک نجات ورکړي؟ (تاسو به ترې څوک بچ کړي؟)، نو زما په مرګ کښې ستاسو څه ګټه ده؟).

[٢٩] (او هم ورته) ووايه چې: الله ﷻ ډېر مهربان دی او مونږ ورباندې ايمان راوړی دی او (هم) په همده ﷻ مو توکل دی (نو اميد دی چې د څه وخته پورې به مو هلاک نه کړي).

نو ژر دی چې تاسو به په پوه شئ چې هغه څوک دی کوم چې په ښکاره ګمراهۍ کښې (واقع) دی (تاسو او که مونږ؟).

[٣٠] (او هم ورته) ووايه چې: ايا تاسو وينئ؟ (مونږ ته خبر راکړئ) که ستاسو اوبه (په ځمکه کښې) ژورې وګرځي نو تاسو ته به څوک بهېدونکې اوبه (بېرته) راولي؟

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې دا جمله ﴿إِنِ ٱلْكَـٰفِرُونَ إِلَّا فِى غُرُورٍ﴾ هم شامله وه، يعنې کفار نه دي مګر په غولېدانه کښې پرېوتلي دي.

په دې ايتونو کښې د هغوی د غولېدانې يو مثال ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! ستا د زمانې کفار دې ته په تمه دي او دې ته سترګې په لار دي چې که ته مړ شې نو د دعوت سلسله به ختمه شي.

نو ته يې مخاطب کړه او د دغې تمې په رد کښې ورته ووايه چې:

١ـ ای کفارو! تاسو ماته د لاندې خبرې جواب راکړئ:

الف: تاسو چې کوم بد عاقبت ته وړروان ياست د هغه څخه تاسو زما په مرګ سره نجات نه شئ موندلی. نو تاسو غولېدلي ياست چې زما مرګ ته سترګې په لار ياست.

ب: بالفرض که الله ﷻ ستاسو د آرزو سره سم مالا څه چې زما ملګري (مؤمنان) هم هلاک کړي او په عاجله توګه مو ارواګانې قبض کړي، او يا راباندې رحم وکړي او د ټاکلي وخته پورې مو

[1] تفسير الکشاف ج۴ ص۵۸۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ژوندي پرېږدي، نو په دغو دواړو صورتونو کښې به تاسو ته څه ګټه ورسېږي؟ او د هغه دردناک عذاب څخه به څوک نجات درکړي کوم ته چې تاسو ورروان یاست؟ ایا ستاسو باطل معبودان دا کار کولی شي؟

لنډه دا چې زما په هلاک کښې ستاسو هیڅ ګټه نشته، بلکې ستاسو ګټه زما په ژوند کښې ده چې ایمان راباندې راوړئ او د دردناک عذاب څخه نجات مونده کړئ.

۲ـ دا هم ورته ووایه چې: الله ﷻ زښت ډېر مهربان دی او مونږ ورباندې په رښتیانیو معناوو کښې ایمان راوړی دی او خاص په همده ﷻ مو توکل کړی دی.

نو امید دی چې ستاسو د آرزو په خلاف به مونږ د څه وخته پورې ژوندی پرېږدي (نه به مو په اسماني افت سره هلاک کړي او نه ستاسو په لاسونو سره).

ترڅو تاسو په خپلو غوړولو سترګو وګورئ او پوه شئ چې په مونږ او تاسو کښې څوک په څرګنده ګمراهۍ کښې لوېدلي دي او څوک په سمه لاره باندې روان دي؟

۳ـ د کفارو څخه وپوښته او ورته ووایه چې:

ای کفارو! که چرته الله ﷻ ستاسو اوبه ژورې وګرځوي چې نه مو لاسونه ورسېږي او نه یې په بوقو سره راوچتولی شئ، نو د الله ﷻ څخه په غیر هغه څوک دی چې تاسو ته اوبه درولیدې کړي او یا اوبه په لاس درولي؟

## توضیحات

۱ـ په ﴿ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِيَ ٱللَّهُ ﴾ الآیة- کښې چې کوم مطلب ته اشاره شوې ده په هغه باندې په [الطور: ۳۰] ایت کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ أَمْ يَقُولُونَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيْبَ ٱلْمَنُونِ ﴾ یعني ایا عنادي کفار وایي چې محمد ﷺ یو شاعر دی او مونږ ورته د مرګ د نزول (یا د زماني د حوادثو) انتظار کوو؟

او په بل ایت کښې ورته داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَقَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِى نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ ﴾ [الحجر: ۶] یعني او کفار وایي چې ای هغه کسه په کوم باندې چې (په خپل ګومان) ذکر (قرآن) نازل شوی دی! یقینًا ته خامخا لیونی یې (چې اوتې بوتې وایې او مونږ دې مرګ ته انتظار کوو).

## څو نکات

۲ـ په ﴿ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا ﴾ الآیة- کښې لاندې مطالبو ته توجه په کار ده:

الف: د "غَوْر" کلمه د ژوروالي څخه عبارت ده[۱] او د "مَعِين" کلمه د الله ﷻ په توفیق د صرفي تحلیل په بنیاد د [المؤمنون: ۵۰] او [الصافات: ۴۵] ایتونو لاندې ډېره ښه تحلیله شوې ده چې د بهېدونکو اوبو او یا بهولو شوو اوبو معنی ورکوي.

---

(۱) لسان العرب ج۵ ص۳۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دې مقام کښې د ﴿ مَّعِينٍ ﴾ کلمه په صراحت سره په سيندونو او کارېزونو او همدارنګه په چينو باندې صادقېږي.

يعنې اى خلکو! که ستاسو رواني اوبه د الله ﷻ په امر په ځمکه کښې ننوزي او ژورې پکښې ولاړې شي، نو د همده ﷻ څخه پرته هغه څوک دى چې بېرته يې درته را اوچتې کړي او بيا يې درته په ځمکه باندې بهېدونکي وګرځوي؟

ج: خو دغه د ﴿ مَّعِينٍ ﴾ کلمه د اشارې په توګه په ټولو هغو اوبو باندې صدق مونده کوي کومې چې د ځمکې څخه د کومې ذريعې په واسطه راويستلى کېږي. لکه د ورو څاګانو او ژورو څاګانو (ټيوبلونو) اوبه. نو که د دغو څاګانو اوبه ژورې لاړې شي هم د الله ﷻ څخه په غير يې بل څوک نه شي را اوچتولې.

د: اما اسماني اوبو ته الله ﷻ په بل ايت کښې داسې اشاره کړې ده چې: ﴿ ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ ٱلْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنزِلُونَ ﴾ [الواقعة:۶۹] يعنې ايا هغه اوبه چې تاسو يې څښئ تاسو د وريځې څخه رانښکته کړي دي او که مونږ يې رانښکته کوونکي ياستو؟.

د "الْمُلْكُ" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو، والحمد لله ﷻ وله الشكر.

اللَهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ يَمْشُونَ مُهْتَدِينَ عَلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ.

۱۴۲۵/۷/۲ هـ ق - ۱۳۸۳/۵/۲۸ هـ ش.

# القلم (٦٨)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (القلم) د همدې سورت په لومړي ایت کښې نازل شوی دی.

۲_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول سره دي[۱]

الف: د ایتونو شمېر یې دوه پنځوس (۵۲) دی.

ب: د کلماتو شمېر یې دري سوه (۳۰۰) دی.

ج: او د تورو شمېر یې دولس سوه او شپږ پنځوس (۱۲۵۶) دی.

۳_ دا سورت په اتفاق سره مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۲]

۴_ دا سورت (القلم) او وړاندې سورت (الملک) سره ډېر نږدې ارتباطات لري. د مثال په توګه

الف: دواړه مکي سورتونه دي.

ب: د هغه سورت محتویات د اکثریت په توګه عقیدوي احکام دي او د دې سورت محتویات هم په عقائدو پورې ارتباط لري، چې هلته په توحید او د قیامت په قیام او د کفارو په دنیوي او اخروي وعیداتو باندې ډېر زور اچولی شوی وه او دلته د نبوت په اړونه او هم د کفارو د اعتراضاتو په مختبوي باندې ډېره زیا اچولی کېږي او داسې نور.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿نٓۚ وَٱلۡقَلَمِ وَمَا يَسۡطُرُونَ ١ مَآ أَنتَ بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ بِمَجۡنُونٖ ٢ وَإِنَّ لَكَ لَأَجۡرًا غَيۡرَ
مَمۡنُونٖ ٣ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٖ ٤ فَسَتُبۡصِرُ وَيُبۡصِرُونَ ٥ بِأَييِّكُمُ ٱلۡمَفۡتُونُ ٦
إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ٧ فَلَا تُطِعِ ٱلۡمُكَذِّبِينَ
٨ وَدُّواْ لَوۡ تُدۡهِنُ فَيُدۡهِنُونَ ٩ وَلَا تُطِعۡ كُلَّ حَلَّافٖ مَّهِينٍ ١٠ هَمَّازٖ مَّشَّآءِۭ بِنَمِيمٖ
١١ مَّنَّاعٖ لِّلۡخَيۡرِ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ١٢ عُتُلِّۭ بَعۡدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ١٣ أَن كَانَ ذَا مَالٖ وَبَنِينَ ١٤ إِذَا
تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٥ سَنَسِمُهُۥ عَلَى ٱلۡخُرۡطُومِ ١٦﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

**په قلم او په هغو مطالبو باندې چې خلک یې (روزمره د قیامت تر ورځې پورې) لیکي سوګند دی چې:**

---

(۱) تفسیر الخازن ج۶ ص۳۲۲؛ اللباب في علوم الكتاب ج۹ ص۲۶۱

(۲) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۷۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲] (ای پیغمبره!) ته د خپل رب ﷻ په نعمت (او فضل) سره لیونی نه یې (لکه چې کفار خیال کوي).

[۳] او یقینًا تاته (د الله ﷻ په نزد) هرومرو داسې اجر دی چې پرې کرې شوی نه دی (پای نه لري).

[۴] او یقینًا ته ضرور په عظیم الشان خوی سره یې (چې د لیونتوب سره تناسب نه لري).

[۵] نو (ای پیغمبره!) ژر ده چې ته به وګورې او مشرکان به هم وګوري چې:

[۶] (ستاسو د جملې څخه) په کوم یوه کس پورې لیونتوب (نښتی) دی؟.

[۷] یقینًا ستا رب ﷻ همدی ﷻ په هغه چا باندې ډېر ښه پوه دی کوم چې د ده ﷻ د لارې څخه بې لارې روان وي (ګمراه وي)، او همدی ﷻ په لاره موندونکو باندې هم ډېر ښه پوه دی.

[۸] نو (ای پیغمبره!) ته د تکذیب کوونکو اطاعت مه کوه (خبره یې مه منه).

[۹] تکذیب کوونکی خوښوي چې ته نرمي وکړې (د خینې شرعي احکامو څخه ورتېر شې) نو هغوی به هم نرمي وکړي (خپل شدت به کم کړي).

[۱۰] او (ای پیغمبره!) ته د هر ډېر سوګند خوړونکي (او) سپک (بنیادم) اطاعت مه کوه (خپلې بې اطاعتۍ ته یې ادامه ورکړه).

[۱۱] (او) د (هر) غیبتمار (او د هر) د فساد په نیت په خبرې سره د تلونکي (ګرځېدونکي او خوروونکي هم).

[۱۲] (او د هر) خیریه کارونو لره د سخت منعه کوونکي (او د هر) تجاوز کوونکي (ظالم، او د هر) ډېر ګنهګار هم.

[۱۳] (او د هر) په باطله سره د جګړمار (او) د دغو (خاصیتونو څخه) وروسته د (هر) حرامزاده (ارموني هم).

[۱۴] (د دې کبله یې ذکر شوي خاصیتونه خپل کړي دي) چې هغه د مالونو او زامنو خاوند دی.

[۱۵] کله چې وربانديې زمونږ ایتونه تلاوت کړی شي نو وايي چې (دا) د پخوانیو خلکو قیصې دي.

[۱۶] ژر ده چې مونږ به یې په خرطوم (پوزه) باندې نښه کېږدو (چې وربانديې به وپېژاندل شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنې سورت (الملك) د وروستنیو ایتونو په مضامینو کښې دا مضمون هم شامل وه چې مشرکان نبي کریم ﷺ ته د ګمراه (او لیوني) لقب ورکوي او دا تمه لري چې په مرګ سره به یې د دعوت سلسله ختمه شي.

د دې سورت (القلم) په اولنیو ایتونو کښې د مشرکانو ذکر شوی ګومان او طعن په دلایلو سره رد شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د الله ﷻ په نامه شروع کړه او د مشرکانو طعن (چې تاته د لیوني او ګمراه لقب درکوي) په لاندې توګه رد کړه.

۱ـ دا کتاب چې په تاباندې د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی، لاندې دوه مطلبونه په اثبات رسوي:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: یو دا چې په حقه د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی، او دا څکه چې دا کتاب د هغو حروفو څخه جوړ دی کوم چې روزمره د خلکو په ژبو باندې جاري دي لکه "ن" او داسې نور. حال دا چې د دې کتاب سره ټول مخلوقات نه سیالي کولی شي او نه به یې ورسره وکړي، چې د همدغو حرفونو څخه د دې کتاب د ایتونو غونډې یو ایت جوړ کړي.

نو معلومه شوه چې د دې کتاب نازلوونکی هغه اقدس ذات دی چې د ممکناتو د سلسلې څخه بهر دی، او ازلي او ابدي دی.

ب: بل دا مطلب په اثبات رسوي چې ته په حقه پیغمبر یې او لیونی او ګمراه نه یې لکه چې کفار او معاندین درباندې تهمت لګوي. او دا څکه چې: ایا لیونی او ګمراه سړی داسې کتاب جوړولی شي چې ټول مخلوقات ورسره په ټولو زمانو کښې په هیڅ ډول سیالي نه شي کولی؟.

۲ـ په قلم او په هغو مطالبو باندې سوګند دی کوم چې خلک یې روزمره لیکي او د قیامت تر ورځې پورې به ادامه ولري چې:

ای پیغمبره! ته د خپل رب ﷻ په فضل او نعمت سره لیونی نه یې لکه چې کفار او مشرکان خیال کوي. هغه مطالب چې ته یې په خلکو باندې قرائت کوې او یا یې ورته تعلیم کوې ایا لېونی داسې مطالب وړاندې کولی شي؟

۳ـ او ای پیغمبره! یقیناً ستا دپاره د الله ﷻ په نزد داسې اجر دی چې د قیامت تر ورځې پورې نه دی قطعه شوی او نه پرېکېږي. او دا څکه چې د قیامت تر ورځې پورې ستا شریعت ادامه لري او د ټولو مؤمنانو سره ته د اجر برخه لرې. ایا لیونی داسې اجر درلودلی شي؟

۴ـ او یقیناً ته په ډېرو لویو اخلاقو باندې پیدا کړی شوی یې چې همدغه ستا خوی او خاصیت د نجات لاره ده. ایا لیونی داسې خوی درلودلی شي؟

۵ـ نو ای پیغمبره! ژر ده چې ته به وګورې او ژر ده چې مشرکان به هم وګوري او تاسو دواړو ډلو ته به څرګنده شي چې ستاسو څخه په کوم یو کس پورې جنون او لیونتوب نښتی دی؟ په راتلونکي کښې به لیونی هر انسان ته معلوم شي.

۶ـ یقیناً ستا رب ﷻ همدی ﷻ ډېر ښه پوهېږي او هغه څوک ورته ډېر ښه معلوم دی کوم چې د ده ﷻ د لارې څخه بې لارې دی او په لیونتوب باندې اخته دی او همدی ﷻ په لارې موندونکو باندې هم پوره کامل علم لري.

۷ـ ای پیغمبره! پخپله کفار هم پوهېږي چې په تا کښې د لیونتوب هیڅ نښه نشته خو د دې دپاره تاته دغه لقب درکوي ترڅو تا مداهنت ته اړ باسي او د څه شرعي احکامو څخه ورته تېر شي.

نو ته د دغو تکذیب کوونکو او لېونیانو اطاعت مه کوه او غوښتنو ته یې غاړه مه ږده. او دا څکه چې:

۸ـ کفار او مشرکان خوښوي چې ته د خینو شرعي احکامو څخه ورتېر شې نو هغوی به هم د اسلام په مقابل کښې خپل تشدد او سختي کمه کړي، نو په دې تقدیر به سوچه اسلامي دین د منځه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاړ شي او د کفر او اسلام څخه به یو مختلط او معجوني دین رامنځته شي.

۹_ لنډه دا چې ته د هر هغه چا اطاعت مه کوه او غوږنیونو ته یې غاړه مه ږده کوم چې د لاندې خاصیتونو درلودونکي دي:

الف: هر هغه کس چې ډېر سوګند خوړونکی او سپک بې فکره دی چې د خپل ځان خیر د شر څخه نه شي جدا کولی، او په خپل خیر او شر نه پوهېږي.

ب: هر هغه څوک چې غیبتمار دی او د خلکو غوښې خوري (په غیاب کښې یې سپکه وایي).

ج: هر هغه څوک چې په چوغلګرۍ سره تلونکی او ګرځېدونکی دی ترڅو دوه کسان سره په جنګ واچوي.

د: هر هغه څوک چې د خیریه کارونو منعه کوونکی دی، نه په خپله چاته څه خیرات ورکوي او نه بل څوک پرېږدي چې ورته اقدام وکړي بلکې پوخ شوم او بخیل دی.

ه: هغه څوک چې په خپلو کارونو کښې د شرعي لا څه چې د انساني چوکاټ څخه هم تېرېدونکی دی او ښه غټ ګنهګار دی چې د یوې ګناه څخه هم سر نه اړوي.

و: هغه څوک چې بدخویه او بدمزاجه دی او په دې باندې علاوه په شریر بنیادم سره شهرت لري چې هر څوک یې په همدغه خاصیت باندې پېژني.

ز: نوموړي ذکر شوي خاصیتونه ځکه خپل کړي دي چې مالونه ډېر لري او همدارنګه د ډېرو زامنو پلار دی.

په کار خو دا وه چې نوموړي د الله ﷻ شکرګزاري کړې وی او د کفریاتو (شرکیاتو) څخه یې لاس اخستی وی، خو هغه خپل کفري حالت او خپلې ناشکرۍ ته ادامه ورکړه.

او کله چې وریاندې زمونږ ایتونه قرائت کړی شي نو ذکر شوی مالداره او د زامنو پلار سمدستي زمونږ په ایتونو باندې د پخوانیو قیصو نوم ږدي او د قبول څخه یې اعراض کوي بلکې خپلو کفریاتو ته ادامه ورکوي.

۱۰_ ای پیغمبره! ډېر ژر دی چې د نوموړو خاصیتونو د خاوند په خرطوم (پوزه) باندې به مونږ نښه کېږدو. یا په بل عبارت د نوموړي عیبونه به ټولو خلکو ته ورڅرګند کړو چې د فیل د خرطوم په شان به وریاندې ښه شهرت ته ورسېږي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ نٓ ۚ وَٱلْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ نٓ ﴾ په توري کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[1] خو بهتره دا ده چې دغه توری په دې مقام کښې د متشابهاتو څخه دی[2] لکه چې د نورو سورتونو په سرونو کښې همدغه

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۲۲۳؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۲۶۱
(۲) تفسیر الکشاف ج۴ ص۵۸۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وول توري نازل شوي دي لکه "صٓ" او داسې نور، نو په کار ده چې تفسير يې الله ﷻ ته وسپارل شي.

او کومې قیصې چې د دغه "نٓ" توري په ارتباط ځینو مفسرینو کړامو لیکلي دي[1] هغه یوه هم د اعتبار قابله نه ده[2].

ب: د ﴿وَٱلْقَلَمِ﴾ کلمه علماوو کرامو په زښتو ډېرو معناوو سره تفسیره کړې ده. لاندې مثالونه يې ولولئ[3]:

اول: دلته په ازلي قلم باندې سوګند یاد شوی دی کوم ته چې نبي کريم ﷺ په یوه حدیث کښې اشاره کړې ده، چې د ټولو مخلوقاتو څخه وړاندې پیدا کړی شوی دی[4].

دوهم: دلته په هغه قلم باندې سوګند یاد شوی دی په کوم باندې چې کرام الکاتبین (پرښتې) روزمره د خلکو اعمال لیکي[5].

دریم: دلته جنس هغه قلم مطلب دی په کوم باندې چې خلک د قیامت تر ورځې پورې د شریعت مربوط شیان لیکي[6] او د ﴿يَسْطُرُونَ﴾ ضمیر همدغو خلکو ته راجع دی چې د "الْقَلَم" کلمه پرې دلالت کوي.

## تبصره

ج: مونږ ته په دې مقام کښې دريم تفسير په زړه پورې برېښي، دا ځکه چې د الله ﷻ په سوګندونو کښې هغه شی د سوګند د جواب دپاره دلیل وي په کوم باندې چې سوګند یاد کړی شوی وي، لاندې وضاحتونه ولولئ:

## لومړی دلیل

په دې مقام کښې د نبي کريم ﷺ د عدم لیونتوب دپاره د ده ﷺ د ارشاداتو لیکنه اولنی غټ دلیل دی. نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ای پیغمبره! په هغه قلم باندې چې خلک پرې روزمره ستا ارشادات لیکي او همدارنګه پخپله ستا په همدغو لیکلی شوو ارشاداتو باندې سوګند دی چې ته لیونی نه يې، لکه څنګه چې درباندې مشرکان تهمت لګوي. که بالفرض المحال د هغوی تهمت حقیقت درلودی نو ستا ارشادات به هیچا نه وی لیکلي. ایا د لیوني خبرې څوک لیکي؟.

## دوهم دلیل

۲ـ د نبي کريم ﷺ د عدم لیونتوب دوهم دلیل ته په ﴿وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ﴾ کښې اشاره

---

(۱) تفسير الخازن ج۶ ص۳۲۲
(۲) روح المعاني ج۲۹ ص۲۴
(۳) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۲۲۳
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۹
(۵) تفسير ابي السعود ج۹ ص۱۱
(۶) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۷۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوې ده او دا څکه چې نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْاَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ يَتْبَعُهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا»[١] يعنې هرڅوک چې سمې لارې ته دعوت وچلوي نو دغه داعي ته (د الله ﷻ په نزد) د اجر څخه هومره تاکلی شوی دی څومره چې (د قيامت تر ورځې پورې) هغه چا ته ورکولی کېږي کوم چې د نوموړي داعي پيروي کړې وي، دغه (د اجر زيادت) د پيروانو د اجرونو څخه هيڅ شی نه کموي (هغوی ته هم پوره ورکولی کېږي).

همدارنګه نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ»[٢] يعنې کله چې بنيادم مړ شي نو عمل يې قطعه شي (اجر نه ورکولی کېږي) مګر د درېوو شيانو اجر نه قطعه کېږي چې د دغو درېوو څخه يو هغه علم دی چې د سړي د مرګ څخه وروسته پرې نفعه اخستله کېږي.

نو پوښتنه دا ده چې: ايا ليونی د داسې کامل شريعت بنياد اېښودلی شي چې د قيامت تر ورځې پورې باقي خلک وربانديې خپل د دنيا او آخرت کارونه سموي او عمل وربانديې کوي.

## درېم دليل

٣ـ په ﴿ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴾ کښې د نبي کريم ﷺ د عدم ليونتوب او د مشرکانو د تهمت د رد درېم دليل ته اشاره شوې ده چې ايا د نبي کريم ﷺ د عالي اخلاقو غوندې عالي اخلاق کوم ليونی درلودلی شي؟

د همدې ايت شريف په ارتباط لاندې احاديث د مثال په توګه ولولئ:

الف: يوه ورځې د عائشې رضي الله عنها (أم المؤمنين) څخه وغوښتل شوه چې مونږ ته د نبي کريم ﷺ د خلق (خوی) څخه خبر راکړه.

هغې رضي الله عنها جواب ورکړ چې: «أَوَ مَا تَقْرَأُ الْقُرْآنَ ﴿ وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴾ »[٣] يعنې ايا ته قرآن کريم نه لولې؟ (چې الله ﷻ ورته پکښې خطاب نازل کړی دی او فرمايلي يې دي چې) او يقينًا ته هرومرو په لوی (عالي شان) خوی سره يې.

ب: عائشې رضي الله عنها په يوه بل حديث کښې ويلي دي چې: «فَإِنَّ خُلُقَ نَبِيِّ اللهِ ﷺ الْقُرْآنُ»[٤] يعنې نو يقينًا د الله ﷻ د پيغمبر ﷺ خوی قرآن کريم وه (څه چې په قرآن کريم ﷺ کښې نازل شوي دي په همغو ارشاداتو بانديې يې عمل کاوه).

ج: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ صَالِحَ الْأَخْلَاقِ»[٥] يعنې يقينًا زه د دې دپاره مبعوث شوی يم چې صالح اخلاق پوره کړم.

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٩٦
(٢) صحيح مسلم ج٢ ص٤١
(٣) سنن ابن ماجه ص١٦٨
(٤) سنن النسائي ج١ ص٢٣٧
(٥) مسند احمد بن حنبل ج٢ ص٣٢٣

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: انس ﷺ وايي چې: «رَأَيْتُهُ يَأْمُرُ بِمَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ»[۱] يعنې ما نبي كريم ﷺ ليده چې په كريمه اخلاقو باندې يې امر كاوه.

ه: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ حُسْنَ الْأَخْلَاقِ»[۲] يعنې زه د دې دپاره د پيغمبر په صفت مبعوث شوى يم چې ښايسته اخلاق پوره كړم.

و: عائشه رضي الله عنها (أم المؤمنين) وايي چې: «مَا ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ ﷺ شَيْئًا قَطُّ بِيَدِهِ وَلَا امْرَأَةً وَلَا خَادِمًا إِلَّا أَنْ يُجَاهِدَ فِي سَبِيلِ اللهِ»[۳] يعنې رسول الله ﷺ هيڅ شى په خپل لاس سره نه دى وهلى او نه يې ښځه (خپله مېرمنه) وهلې ده او نه يې خدمتګار وهلى دى مګر هله چې د الله ﷻ په لاره كښې به يې جهاد كاوه.

## سوال جواب

۴ـ كه څوك وايي چې: مشركانو ته خو د نبي كريم ﷺ هوښياري معلومه وه نو په څه بهانه يې د مجنون (ليوني) لقب وركاوه؟

مونږ وايو چې: د هغوى د ذكر شوي لقب د وركولو وجوهات دا دي:

الف: د نبي كريم ﷺ تګلاره د ټولې دنيا څخه مخالفه وه، چې ټوله دنيا په كفرياتو اخته وه، او د ټولې دنيا څخه مخالفت هغوى ته ليونتوب ښكارېده.

ب: نبي كريم ﷺ په دې عقيده باندې چې بوتان نفعه او ضرر رسوي قائل نه وه او همدغې مفكورې ته يې دعوت چلاوه، حال دا چې دا ډول فكريه او نظريه هغوى ته ليونتوب برېښېده.

ج: نبي كريم ﷺ د بعثت په لومړنيو وختونو كښې د څو معدودو كسانو څخه پرته په دنيا كښې هيڅ ملګرى نه درلود لكه چې ليونيان ملګري نه لري.

د: بالآخره مشركان عناد نيولي وه او دغه عناد د ذكر شوي لقب وركولو ته اړ كړي وه.

## د دغه لقب يو نظير

۵ـ د نن[۴] څخه په تقريبًا درې كاله وړاندې د طالبانو اسلامي امارت ته هم د نړۍ كفارو او غرب مشربه مسلمانانو د ليونيانو د حكومت لقب وركاوه، او دا ځكه چې په ټوله نړۍ كښې يې هيڅ ملګرى نه درلود، حتى چې تر ډېر لږ وخته پورې فقط درېوو مملكتونو (پاكستان، سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو) په رسميت پېژاندلى وه.

خو د لږ وخت څخه وروسته ترې دغو درېواړو مملكتونو هم خپل رسميت پېژاندل بېرته واخسته

---

[۱] صحيح البخاري ج۲ ص۸۹۱

[۲] موطا الإمام مالك ص۵۶۴

[۳] صحيح مسلم ج۲ ص۲۵۶

[۴] ۱۴۲۵/۷/۵ هـ ق - ۱۳۸۳/۵/۳۱ هـ ش

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د مراتبو په تفاوت سره یې د اسلامي امارت په ړنګولو او رانسکورولو کښې د مادي ګټو د تر لاسه کولو په موخه د امریکایانو سره لاس یو کړ، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

## مفتون څه معنی؟

۶ـ ظاهره دا ده چې په ﴿ بِأَييِّكُمُ ٱلْمَفْتُونُ ﴾ کښې د "مَفْتُون" کلمه مصدر ده لکه چې د "مَيْسُور" کلمه مصدر ده. عرب وايي چې "دَعْهُ إِلَى مَيْسُورِهِ"[۱] يعني خپل مديون د يسر (اسان حالتی) پورې پرېږده، خپل قرض (دَين) ترې مه غواړه. نو د "مَفْتُون" کلمه د "فِتْنَة" معنی ورکوي[۲] چې په دې مقام کښې ترې جنون (ليونتوب) مطلب دی[۳].

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: تاسو به په آينده کښې وګورئ چې ستاسو په کوم يو کس پورې ليونتوب نښتی دی، او کوم يو په انزوا کښې پاتې کېږي؟

## د ايت شريف ارشاد

۷ـ که څه هم په ﴿ فَلَا تُطِعِ ﴾، ﴿ وَلَا تُطِعْ ﴾ دواړو جملو کښې نبي کريم ﷺ مخاطب کړی شوی دی مګر مراد پکښې د قيامت تر ورځې پورې ټول امتيان دي ترڅو د کفارو غوښتنې قبولې نه کړي او خپل شريعت د پښو لاندې نه کړي.

## د څو لغاتو معناوې

۸ـ په دې مقام کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف: په ﴿ وَدُّواْ لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ﴾ کښې د "تُدْهِنُ، يُدْهِنُون" دواړه کلمې د "اِدْهَان" ـ لکه "إِكْرَام" ـ څخه اشتقاقې شوې دي، چې د نرمښت معنی ورکوي[۴]. او مونږ ترې په غوړمالی سره تعبير کوو. خو په دې مقام کښې هغه نرمښت او غوړمالي ممنوع ګرځولې شوې ده د کومې په خپلولو سره چې کوم شرعي حکم د پښو لاندې کېږي.

نو په کوم نرمښت سره چې د شريعت حکم منفي نه ګرځولی کېږي هغه ته په عربي کښې "مُدَارَاة" وايي چې مونږ ترې په ګوزارې سره تعبير کولی شو، نو دغه ډول نرمښت د غير محاربو کفارو سره څه باک نه لري.

ب: د ﴿ هَمَّازٍ ﴾ کلمه د "هَمْز" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده او د مبالغې صيغه ده چې د ډېر غيبتمار معنی ورکوي[۵].

---

(۱) زاد المسير ج۸ ص۶۶
(۲) مفردات الراغب ص۳۸۶
(۳) تفسير الطبري ج۲۹ ص۲۰
(۴) لسان العرب ج۱۳ ص۱۶۲
(۵) مفردات الراغب ص۵۴۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په ﴿مَشَّآءِۭ بِنَمِيمٍ﴾ کښې د "نميم" کلمه د "نم" ـلکه "غم" ـ څخه مشتقه شوې ده چې د فساد او تخریب دپاره د خبرې خوررولو معنی ورکوي[1]. همدغې خورې کړی شوې خبرې ته "نميم" ویل کېږي او خورونکي ته یې "نمّام" وایي چې په دې مقام کښې ترې په "مَشَّاء" سره تعبیر نازل شوی دی.

د "نمّام" په باره کښې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَشِرَارُ عِبَادِ اللهِ الْمَشَّاءُونَ بِالنَّمِيمَةِ الْمُفَرِّقُونَ بَيْنَ الْأَحِبَّةِ»[2] یعنې د الله ﷻ په بندګانو کښې د هر شریر بندګان هغه دي چې په فساد سره خبري وړي راوړي چې د دوستانو ترمنځ تفرقه اچوونکي خلک دي.

همدارنګه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ»[3] یعنې جنت ته به هغه کس داخل نه شي کوم چې په فساد سره خبرې خوروي.

د: د ﴿عُتُلٍّ﴾ کلمه د "عتل" ـلکه "ضرب" ـ څخه مشتقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الدخان:۴۷] ایت لاندې لیکلي دي چې "عتل" په قهر سره ټېلوهلو او په قهر سره راکشولو ته ویل کېږي. یعنې هغه جګړمار ظالم چې خلک ټېل وهي او راکاږي.

هـ: په ﴿بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ﴾ کښې علماء کرامو د ﴿زَنِيمٍ﴾ کلمه په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[4]. لاندې مثالونه ولولئ:

اول: "زنيم" هغه څوک دی چې یو قوم یا پلار ته منسوب شوی وي خو په اصل کښې د هغه قوم یا د هغه پلار څخه نه وي بلکې حرامزاده وي.

دوهم: "زنيم" هغه څوک دی چې په شر او فساد سره داسې ښه معلوم وي لکه یوه ګډه یا اوزه چې په دوه وو غوږیکیو سره د نورو څخه ښېله او جدا وي.

"زنمتان" هغو دوه وو اضافه غوښو ته ویلی کېږي کومې چې د ځینو ګډو او ځینو اوزو په غاړو کښې زنګېږي[5] او په پښتو کښې ورته غوږیکي وایي.

دریم: "زنيم" د هغه غټ ظالم څخه عبارت دی چې د هیڅ ډول ظلم څخه سر نه اړوي بلکې مرتکب یې ګرځي.

په همدې ارتباط لاندې حدیث شریف ولولئ چې:

«سُئِلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ الْعُتُلِّ الزَّنِيمِ فَقَالَ هُوَ الشَّدِيدُ الْخَلْقِ الْمُصَحَّحُ الْأَكُولُ الشَّرُوبُ الْوَاجِدُ لِلطَّعَامِ وَالشَّرَابِ الظَّلُومُ لِلنَّاسِ رَحْبُ الْجَوْفِ»[6] یعنې یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې "العتل

(۱) لسان العرب ج۱۱ ص۵۹۲
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۲۹۱
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۸۹۵
(۴) زاد المسیر ج۸ ص۶۸؛ القاموس المحیط ج۲ ص۲۸۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۰۵
(۵) مفردات الراغب ص۲۲۰
(۶) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۲۹۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الزَّنِيمِ" څوک دی؟ نو نبي کريم ﷺ په جواب کښې ووېلې چې: دا هغه څوک دی چې سخت خويه وي، جوړ بدن ورکړی شوی وي، خوړونکی او څښونکی وي، د خوراک او څښاک درلودونکی وي (مالدار وي) په خلکو باندې ډېر ظالم وي، (او بالآخره) غټ خېټې وي (ټول فکر يې د ګېډې په ډکولو کښې وي).

## تبصره

۹ـ زمونږ په نزد د ﴿ زَنِيمٍ ﴾ کلمه د هغه چا دپاره لقب دی کوم چې په حديث شريف کښې په ذکرو شوو اوصافو سره ياد شوی وي کوم چې د دې کبله په همدغو روايت شوو اوصافو سره موصوف ګرځېدلی وي چې نوموړی حرامزاده (ارمونی) وي، او د همدې امله د هيڅ ګناه او جنايت څخه اجتناب نه خپلوي.

## سوال جواب

۱۰ـ که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنياد حرامزاده توب په جناياتو کښې وشمېرل شو حال دا چې د ده د تولد په ارتباط خو فقط فاحش او فاحشه جنايتکاران دي او بس؟

مونږ وايو چې: په هغه شخص باندې شيطان ډېر تسلط موندلی شي کوم چې د حرامې نطفې څخه تولد شوی وي او د ډېرو جناياتو مرتکب جوړېدلی شي.

همدا موضوع مونږ د الله ﷻ په توفيق د [مريم:۲۸] ايت لاندې د احاديثو په رڼا کښې ښه پوره څېړلې ده. خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ كُلُّ جَوَّاظٍ زَنِيمٍ مُتَكَبِّرٍ»[۱] يعنې ايا زه تاسو ته په اهل النار (دوزخيانو) سره خبر درنه کړم؟ دوزخيان هر هغه څوک دي چې د مالونو غونډوونکي (د خيرات منعه کوونکي) وي، يوه قوم (يا پلار ته) منسوب شوی وي خو د هغوی (يا د هغه) څخه نه وي (حرامي وي)، او (برسېره په دې) تکبر کوونکي وي.

## يو نحوي تحليل

۱۱ـ مفسرينو کرامو د ﴿ أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ ﴾ په اعراب کښې متعدد تحليلونه کړي دي[۲]، خو کوم تحليل چې مونږ ته غوره برېښېدلی دی هغه په لاندې ټکو کښې واضحه کېږي:

الف: دغه ايت شريف په کلماتو کښې يوه بل ايت ته ورته دی چې: ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِى حَآجَّ إِبْرَٰهِـۧمَ فِى رَبِّهِۦٓ أَنْ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ ﴾ [البقرة:۲۵۸] يعنې ايا ته هغه کس ته نه ګورې کوم چې د ابراهيم ؑ سره د خپل رب ﷻ په هکله د دې کبله جګړه کوله چې الله ﷻ ورته پاچاهي ورکړې وه (خو د دغه نعمت شکرګزاري يې ونه کړه).

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۸۳
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۲۸۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نو په ذکر شوي ایت شریف کښې هغه لسم ذمیمه صفت ته اشاره ده کوم چې د وړاندېنیو نهو واړو ذمیمه صفاتو بنیاد دی، کوم چې د ناشکرۍ څخه عبارت دی.

ج: نو د "ل" توری پکښې مقدر دی او په هغې مقدرې جملې پورې تعلق نیسي د کومې څخه چې مونږ په "إِنَّمَا صَارَ كَذَٰلِكَ" سره تعبیر کولی شو.

یعنې نوموړی سړی په دغو نهو واړو ذمیمه صفاتو سره ځکه موصوف وګرځېد چې هغه د ډېرو مالونو خاوند او د ډېرو زامنو پلار دی، خو ناشکري یې غوره کړه.

## سوال جواب

۱۲_ که څوک وایي چې: په ذکرو شووو لسو ذمیمه صفاتو باندې موصوف کس څوک وه او څه نومېده؟

مونږ وایو چې: د دغه کس په تشخیص کښې مفسرینو کرامو د متعددو کسانو نومونه اخستي دي[1] خو په ﴿ كُلَّ حَلَّافٍ ﴾ کښې د ﴿ كُلَّ ﴾ د کلمې څخه څرګندېږي چې د دغو صفاتو درلودونکی یو سړی نه وه.

همدارنګه مونږ د الله ﷻ په توفیق وړاندې په اومه توضیح کښې لیکلي دي چې د ایتونو ارشاد د قیامت تر ورځې پورې ټولو مؤمنانو ته متوجه دی. نو څه لرې نه ده چې د مفسرینو کرامو به د تعین څخه مفهومي تعین مطلب نه وي بلکې مصداقي تعین به یې مراد وي چې چاته به یو شخص د ایتونو مصداق برېښېدلی وي او چا ته بل شخص.

## د ایتونو مشهور مصداق

۱۳_ د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې د ایتونو مشهور مصداق "الولید بن المغیرة" نومېده. او دا ځکه چې:

الف: نوموړی ډېر مالدار وه او همدارنګه د لسو زامنو پلار وه[2]. لکه چې په وړاندې [۱۴] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

ب: نوموړی حرامي (ارمونی) هم وه چې د تولد څخه اتلس (۱۸) کاله وروسته خپل پلار (المغیرة) په زوی والي سره ومانه[3].

ج: د نوموړي مور هم په یوه قیصه کښې د هغه په حرامیتوب باندې اعتراف کړی وه[4]. د قیصې حاصل دا دی چې:

اول: کله چې دغه ایتونه نازل شوه نو نوموړی (الولید) توره په لاس خپلې مور ته ورغی او ورته

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۲۸ ؛ تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۲۵۶
(۲) تفسیر ابن عباس في هذا المقام؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۲۷۷
(۳) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۲۵۶
(۴) تفسیر مدارک التنزیل في هذا المقام؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۵۲۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يې وويلې چې زه خو محمد ﷺ په لسو صفاتو باندې ياد کړم چې نهه صفته په ما کښې موجود دي، يوازې يو صفت په تا پورې اړه لري چې د حراميتوب څخه عبارت دی.

دوهم: نو ته به راته يا رښتيا خبره کوې چې ايا زه حرامي (ارموني) يم؟ او يا به دې په دغې توره باندې سر الوزوم.

دريم: د "الوليد" مور هغه ته رښتياني قيصه وکړه او ورته يې وويلې چې ستا پلار (المغيرة) ډېر مالدار وه او مانه خوښوله چې په مرګ سره يې مالونه په نورو خلکو تقسيم شي.

څلورم: نو د همدې کبله مې يوه شپونکي ته اجازه ورکړه چې په حرامه توګه راسره جنسي ارتباط ونيسي.

پنځم: نو ته (ای الوليد!) د همدغه حرام جنسي ارتباط د کبله تولد شوې، ستا دغه لسم صفت هم رښتيا دی.

## خرطوم څه معنی؟

۱۴ ـ په ﴿ سَنَسِمُهُۥ عَلَى ٱلۡخُرۡطُومِ ﴾ کښې د "خُرْطُوم" کلمه د فيل يا خنزير خلتم ته وضعه شوې ده[۱]. خو په دې مقام کښې د تحقير دپاره د ذکر شوي (الوليد) د پوزې څخه کنايي ده[۲].

اما د تفسير په لحاظ ذکر شوی ايت شريف په متعددو طريقو سره معنی کړی شوی دی چې د بدليت په توګه د ټولو اراده کول هم څه باک نه لري. هغه دا چې:

الف: ځيني علماء کرام وايي چې: د قيامت په ورځ به د نوموړي په پوزه باندې يوه نښه کېښودله شي چې خلک به يې ورباندې وپېژني[۳].

همدې مضمون ته الله ﷻ داسې اشاره کړې ده چې: ﴿ يُعۡرَفُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ بِسِيمَٰهُمۡ ﴾ [الرحمن:۴۱] يعنې د قيامت په ورځ به مجرمان په خپلو نښو سره پېژندل کېږي.

ب: ځيني وايي چې الله ﷻ د نوموړي خبيث انسان په ارتباط لس نښې نازلې کړې او په دنيا کښې يې خلکو ته وروپېژاند چې فلانی دی نو دغه لس نښې ورته داسې وګڼلی شوې لکه چې په پوزه باندې يې ورته نښه کړې وي[۴].

ج: ځيني نور وايي چې (الوليد) د بدر په غزا کښې په پوزه باندې زخمي شو چې د مرګ تر ورځې پورې يې د زخم نښه په ښکاره توګه معلومېده[۵].

﴿ إِنَّا بَلَوۡنَٰهُمۡ كَمَا بَلَوۡنَآ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ إِذۡ أَقۡسَمُواْ لَيَصۡرِمُنَّهَا مُصۡبِحِينَ ۝ وَلَا يَسۡتَثۡنُونَ

(۱) تفسير المراغي ج۲۹ ص۳۲
(۲) تفسير القاسمي ج۱۸ ص۲۳۷
(۳) تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۰۵
(۴) تفسير البغوي ج۴ ص۳۷۸؛ روح المعاني ج۲۹ ص۲۹
(۵) الدر المنثور ج۸ ص۲۵۰؛ تفسير ابي السعود ج۹ ص۱۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿١٨﴾ فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ نَآئِمُونَ ﴿١٩﴾ فَأَصْبَحَتْ كَٱلصَّرِيمِ ﴿٢٠﴾ فَتَنَادَوْا
مُصْبِحِينَ ﴿٢١﴾ أَنِ ٱغْدُوا عَلَىٰ حَرْثِكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰرِمِينَ ﴿٢٢﴾ فَٱنطَلَقُوا وَهُمْ يَتَخَٰفَتُونَ
﴿٢٣﴾ أَن لَّا يَدْخُلَنَّهَا ٱلْيَوْمَ عَلَيْكُم مِّسْكِينٌ ﴿٢٤﴾ وَغَدَوْا عَلَىٰ حَرْدٍ قَٰدِرِينَ ﴿٢٥﴾ فَلَمَّا رَأَوْهَا
قَالُوٓا إِنَّا لَضَآلُّونَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٢٧﴾ قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُونَ
﴿٢٨﴾ قَالُوا سُبْحَٰنَ رَبِّنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾ فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَلَٰوَمُونَ ﴿٣٠﴾
قَالُوا يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا طَٰغِينَ ﴿٣١﴾ عَسَىٰ رَبُّنَآ أَن يُبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَآ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا رَٰغِبُونَ
﴿٣٢﴾ كَذَٰلِكَ ٱلْعَذَابُ وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾ ﴾

[۱۷] یقینًا مونږ (په خپل پیغمبر ﷺ سره د مکي اوسېدونکي) داسې امتحان کړه لکه څنګه مو چې د باغ ملکري (په باغ سره) امتحان کړي وه.

کله چې هغوی سوګند یاد کړ چې هرومرو ضرور به (د) باغ (میوجات) په داسې حال کښې راوشکوي (راغونډ کړي) چې په سبا کښې داخلېدونکي وي

[۱۸] او هغوی (د خپل دغه کلام سره) استثناء ونه کړه (ان شاء الله یې ونه ویلې).

[۱۹] نو په دغه باغ باندې ستا د رب ﷻ د پلوه چاپېرېدونکی آفت چاپېر شو (او) په داسې حال کښې (یې احاطه کړ) چې هغوی په خواږه خوب اوده وه.

[۲۰] نو دا باغ تک تور وګرځېد لکه توره شپه (شین ډکی پکښې پاتې نه شو).

[۲۱] نو په داسې حال کښې یې سره (یو تربله) ناري کړې چې په سبا کښې داخلېدونکي وه.

[۲۲] (البته داسې ناري چې) په توره خړه (سهار د وخته) په خپل کښت (او میوجاتو) باندې ورښکته شئ، که چرته تاسو کلک عزم کونکي یاست (نو همدغسې کړنلاره خپله کړئ).

[۲۳] نو هغوی (خپل باغ ته) په داسې حال کښې ورروخوځېده چې یو تربله یې سره پټې خبرې (پسکي) کولې.

[۲۴] چې نن ورځ دې په تاسو باندې هرومرو هیڅ مسکین (فقیر) باغ ته درداخل نه شي (د داخلېدلو فرصت مه ورکوئ).

[۲۵] او سهار (خپل باغ ته) په داسې حال ورروان شوه چې (هغوی په خپل خیال د فقیرانو) په ایسارولو باندې بنه پوره قدرت درلودونکي وه.

[۲۶] نو کله چې هغوی خپل باغ (تک تور په بل مخ اووښتی) ولید نو ویې ویلې چې یقینًا مونږ لاره ورکوونکي یاستو (غلط ځای ته راغلي یاستو).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۷] (بیا پوه شوه او وې ویلې چې:) بلکې مونږ (د خپل باغ څخه) بې برخې ګرځولی شوي یاستو (الله ﷻ راځخه خپل نعمت بېرته واخست).
[۲۸] (نو) د هغوی غوره (او منځ عمري) سړي وویلې چې ایا تاسو ته ما نه وه ویلي چې ولې تسبیح (ان شاء الله) نه وایاست (تاسو الله ﷻ یاد کړئ او دغه کار ته اقدام مه کوئ).
[۲۹] (نو) ټولو (د خپل وخت څخه وروسته) وویلې چې: زمونږ رب ﷻ ته پاکي ده، یقینًا مونږ (په خپلو ځانونو باندې) ظلم کوونکي وو (چې دغه تصمیم مو ونیوه).
[۳۰] نو ځینو د دوی ځینو نورو ته په داسې حال کښې مخ ورواړاوه چې یو بل یې ملامته کاوه (او پړه یې وربانديې وراچوله).
[۳۱] (بیا) ټولو (په یوه خوله) وویلې چې: ای زمونږ افسوسه! (راشه چې همدا دې وخت دی) چې یقینًا مونږ (د خپل رب ﷻ څخه) سرکشان یاستو.
[۳۲] زمونږ رب ﷻ نژدې دی (مونږ ورته امید لرو) چې مونږ ته د دغه باغ څخه بهتر (او ښه باغ) عوض (او بدل) راکړي.
یقینًا مونږ خپل رب ﷻ ته رغبت کوونکي (او بېرته ورتاوېدونکي) یاستو.
[۳۳] (ای پیغمبره! دنیاوي عذاب) دغه ډول عذاب دی (چې انتهاء لري او اسان دی).
او هرومرو د آخرت عذاب ډېر لوی (سخت او دائمي) دی، که بالفرض کفار (د آخرت د عذاب په سختوالي) پوهېدلی (نو ضرورو به یې د توحید عقیده خپله کړې وی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د نعمت د کفران او ناشکرۍ نتیجه په لاندې دوه وو ډولو سره ظهور کوي:
۱ـ چې نعمت باقي وي خو ناشکران ترې د استفادې څخه محروم وګرځولی شي، لکه چې نبي کریم ﷺ د ټولې دنیا دپاره عمومًا او د مکې د اوسېدونکو دپاره خصوصًا لوی نعمت وه او د قیامت د ورځې پورې لوی نعمت دی، خو د مکې مشرکانو یې ناشکري وکړه چې په نتیجه کښې یې د ګټو او فواندو څخه بې برخې پاتې شوه.
د ناشکرۍ دغه ډول نتیجې ته په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې ده چې هغوی په نبي کریم ﷺ باندې د ایمان راوړلو څخه محروم شوه.
۲ـ چې بالکل نعمت د منځه لاړ شي او د استفادې صلاحیت د لاسه ورکړي، چې دې ډول ته په دغو ایتونو کښې اشاره کېږي چې بحث پکښې روان دی. نو حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! په خپل امت باندې د امتحان په هکله څه مطالب قرائت کړه هغه دا چې:
۱ـ ته د ټولو خلکو دپاره عمومًا او د مکې د اوسېدونکو دپاره خصوصًا ډېر لوی نعمت یې، نو ستا په مبعوثیت سره مونږ هغوی د داسې امتحان لاندې واقع کړه لکه چې د باغ ملکري او خاوندان مو د باغ په میوجاتو سره د امتحان لاندې واقع کړي وه چې د قیصې خلاصه یې دا ده:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د باغ خاوندانو سوګند یاد کړه چې هرومرو او ضرور به سبا ته د فقیرانو څخه په پټه د خپل باغ میوجات راغونډوي.

ب: دوی داسې قاطع تصمیم نیولی وه او عزم یې کړی وه چې الله ﷻ یې یاد نه کړ او د خپل عزم سره یې د "ان شاء الله" کلمات ضمیمه نه کړه.

ج: نو د همدغه کلک قصد په اثر ستا د رب ﷻ د پلوه په ذکر شوي باغ باندې یو آفت راچاپېر شو او په داسې حال کښې یې د هرې خوا څخه احاطه کړ چې د باغ خاوندان په خواږه خوب باندې اوده وه.

د: نو د دغه غیبي آفت په بنیاد نوموړی باغ تک تور وګرځېد لکه توره شپه یا لکه هغه توره شاړه ځمکه چې هیڅ نبات نه زرغونوي.

ه: کله چې سهار شو نو د باغ خاوندانو یوه بل ته په داسې حال کښې نارې کړې چې د خپل باغ په حالت باندې هیڅ خبر نه وه.

او یوه بل ته یې چیغې کړې چې تاسو په خپل کښت او میوجاتو باندې په زغرده اقدام وکړئ او سستي مه کوئ.

و: دوی ټول د باغ خوا ته په داسې حال کښې روان شوه چې پټې- پټې خبرې یې کولې او دا خبره بې د خپلو ځانونو سره زمزمه کوله چې: په جلتۍ سره خپل کار ختم کړئ او هرومرو دې په تاسو باندې نن ورځ هیڅ مسکین باغ ته داخل نه شي.

یا په بل عبارت: د خپل باغ میوجات په زغرده راغونډ کړئ هسې نه چې تاسو په راغونډولو باندې بوخت یاست او کوم مسکین باغ ته درشي چې ماته هم د دغو میوجاتو څخه څه راکړئ.

ز: نو د باغ خاوندان په ذکر شوي نیت او عزم سره سهار د وخته خپل باغ ته په داسې حال کښې دروړسېده چې (په خپل خیال یې) د فقیرانو په منعه کولو باندې توان درلودونکی وه، چې ترڅو هغوی راخبر برې مونږ به خپل میوجات خپلو کورونو ته رسولي وي.

ح: خو کله چې هغوی باغ ولید چې د آفت د نزول د کبله تک تور اووښتی دی نه پکښې تازګي شته او نه پکښې شنې پاڼې لیدل کېږي، نو یو تربله یې سره وویلې چې یقیناً مونږ لاره غلطه کړې ده، دا زمونږ باغ نه دی بلکې مونږ په غلط ګومان سره بلې ځمکې ته راغلي یاستو.

ط: مګر کله یې چې دقیق فکر وکړ او پوه شوه چې مونږ لاره نه ده غلطه کړې ځای هماغه دی چې زمونږ باغ پکښې واقع دی خو مونږ د خپلو میوجاتو څخه محروم ګرځولي شوي یاستو، او ګناه مو دا وه چې مونږ غوښتل چې فقیران محروم وګرځوو، نو:

ي: په دغه وخت کښې د باغوانانو غوره کس او هغه کس کوم چې په دوی کښې د عمر د حیثه متوسط وه وویلې چې: ایا تاسو ته ما پخوا نه وه ویلي چې تاسو ولې الله ﷻ ته تسبیحات نه وایاست او ولې د دغه عزم څخه توبه تائب نه ګرځئ کوم چې تاسو د فقیرانو د محرومولو په هکله نیولی دی؟!.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض په هغه وخت کښې تاسو زما خبره منلې وی او د فقیرانو د تحریم څخه صرف نظر شوي وی نو نن ورځ به د دغه تاوان سره نه وی مخامخ شوي، او د باغ بنیاد به مو نه وی ختلی.

یا: نو د باغ د هلاکت څخه وروسته ټول په خپله ګناه باندې معترف شوه او په خپلو کړو وړو باندې پښېمانه جوړ شوه. نو ټولو په یوه خوله وویلې چې زمونږ رب ﷻ ته د دې څخه پاکي ده چې څوک یې ارادې ته تغییر ورکړی شي. نو:

یب: ای زمونږ ربه! یقیناً مونږ په خپلو ځانونو باندې ظلم کوونکي یاستو چې د باغ د میوجاتو څخه مو د فقیرانو د محرومولو کلک قصد کړی وه.

یج: کله چې ذکرو شوو کسانو د الله ﷻ په حضور کښې په خپله ګناه او خپل غلط قصد (اراده) باندې اعتراف وکړ نو بیا یې یو بل ته مخ ورواړاوه او یو په بل باندې یې ملامته او پړه وراچوله چې په دې کښې اصلي ملامته ته وې او یا هغه وه.

ید: د دغو نااندریو څخه وروسته بیا ټولو ارمان څرګند کړ چې ای کاش! چې د دغه کار د پاره مو کلکه اراده نه وی کړې. یقیناً چې مونږ سرکشان او د شریعت د چوکاټ څخه وتونکي خلک یاستو او کومه جزا چې راکړی شوه مونږ د همدې لیاقت درلود.

یه: او ټولو په یوه خوله وویلې چې زمونږ رب ﷻ نږدې دی چې مونږ ته د دغه باغ څخه غوره بل باغ راکړي، مونږ امید لرو چې زمونږ دغه سوال به قبول کړي او توبه به مو ومني.

یقیناً مونږ په خپلو کړو وړو باندې پښېمانه یاستو او یوازې خپل رب ﷻ ته ورتاوېدونکي او رغبت کوونکي یاستو.

۲ـ ای پیغمبره! دغه ډول عذاب چې د باغ خاوندانو ته ورکړی شو دا دنیاوي عذاب دی، چې انتهاء لري او اسان دی.

خو هرومرو د اخرت عذاب ډېر لوی او ډېر سخت دی چې د کفارو دپاره انتهاء هم نه لري او دائمي دی.

۳ـ نو که د مکې مشرکان او ستا د زمانې کفار پوهېدلی او خپل خیر او شر یې سنجولی شوی هرومرو به یې په تاباندې ایمان راوړی وی.

که نه نو الله ﷻ به تا بل وطن ته په هجرت سره انتقال کړي چې د هغه وطن خلک به درباندې ایمان راوړي او دوی به محروم پاتې شي لکه چې د باغ خاوندان محروم وګرځېدل.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ إِنَّا بَلَوْنَٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ ﴾ کښې الله ﷻ د مکې د مشرکانو ابتلاء د اصحاب الجنة د ابتلاء سره تشبیه کړې ده خو علماوو کرامو یې په تعین کښې په لاندې ډول اختلاف لري:

الف: ځینې وایي چې دلته د قریشو د ابتلاء څخه هغه لوږې او وچکالي مطلب ده کومه چې په هغوی باندې د نبي کریم ﷺ د ښېرا په اثر ورنازله شوې وه کومه چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د بوا

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حدیث په رڼا کښې د [الزخرف:۴۹] ایت لاندې راحکایته کړې ده[۱]. یعنې یقیناً موږ د مکې مشرکان په داسې لوږې او وچکالۍ سره امتحان کړه او د رزق پراخي مو ترې واخستله لکه څنګه مو چې د باغ خاوندان د امتحان لاندې واقع کړه چې باغ مو ورته پوپنا کړ.

ب: دلته د نبي کریم ﷺ په مبعوثیت سره د هغوی امتحان ته د اصحاب الجنة د امتحان سره تشبیه ورکړه شوې ده[۲]. یعنې مشرکانو خپل عناد ته ادامه ورکړه او د الله ﷻ د عظیم الشان نعمت (نبي کریم ﷺ) څخه یې استفاده ونه کړه چې ایمان یې ورباندې راوړی وی، نو موږ به ترې خپل نعمت واخلو او بل وطن ته به د هجرت کولو اجازه ورکړو، او دوی به داسې محروم وګرځي لکه چې اصحاب الجنة چې د خپل باغ د استفادې څخه محروم ګرځېدلي وه.

## تبصره

۲_ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسیرونه سره څه منافات نه لري او د بدلیت په لحاظ دواړه اراده کېدلی شي، مګر د وړاندېنیو ایتونو د مضامینو په نظر کښې نیولو سره دوهم تفسیر په زړه پوري برېښي.

## أصحاب الجنة څوک وه؟

۳_ ځینو مفسرینو کرامو "أَصْحَابُ الْجَنَّةِ" ته څه تفصیل ورکړی دی[۳] چې موږ یې د الله ﷻ په توفیق په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: دغه قیصه د یمن په یوه ښار (ضروان) کښې واقع شوې وه چې د صنعاء (مرکز) څخه فقط دوه فرسخه لرې پروت دی[۴].

ب: دغه باغ د انګورو وه چې څه زراعتي ځمکه یې هم په شاوخوا کښې درلوده د همدې کبله په ایتونو کښې د ﴿ عَلَىٰ حَرْثِكُمْ ﴾ کلمات هم نازل شوي دي.

ج: دا باغ د یوه صالح سړي وه چې په حاصلاتو کښې یې د فقیرانو برخه نه هېروله.

د: دغه سړي درې زامن درلوده چې د خپل پلار د مرګه وروسته سره د فقیرانو په برخه کښې په اختلاف کښې واقع شوه.

هـ: د دغو درېوو کسانو غوره سړي او په عمر کښې متوسط سړي په پیل کښې خپلې تګلارې ته ترجیح ورکړه خو د نورو دواړو د فشار د کبله د خپل تصمیم څخه تېر شو.

و: نور تفصیل یې په ایتونو کښې واضحه نازل شوي دي.

---

(۱) تفسیر تیسیر الرحمن ج۲ ص۳۵۸
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۰۶
(۳) تفسیر البغوي ج۴ ص۳۷۹
(۴) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "صِرَام" او "صَرم" معناوې

۴_ په په ﴿ لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ ﴾ کښې د "يَصْرِمُنَّ" کلمه او په ﴿ كَالصَّرِيمِ ﴾ کښې د "صَرِيم" کلمه او په ﴿ إِن كُنتُمْ صَارِمِينَ ﴾ کښې د "صَارِمِينَ" کلمه درېواړه د اشتقاق په لحاظ سره متحدې دي، چې مصدر يې کله "صِرَام" _لکه "عِقَاب"_ يا "عَذَاب" او کله "صَرْم" _لکه "ضَرْب"_ استعمالېږي.

نو په دغو درېواړو کلمو کښې د پرېکولو او غوڅولو معنی پرته ده[۱] چې څه تفصيل يې دا دی:

الف: په ﴿ لَيَصْرِمُنَّهَا ﴾ کښې مضاف مقدر دی چې مونږ ترې په "لَيَصْرِمُنَّ ثَمَرَهَا" سره تعبير کولی شو. يعنې د باغ خاوندانو په سوګند سره تکل او قصد کړی وه چې د خپل باغ ميوجات به هرومرو راغونډوي او راشکوي.

ب: په ﴿ كَالصَّرِيمِ ﴾ کښې د "صَرِيم" کلمه د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په قول دلته د تورې شپې په معنی سره ده[۲] چې شپه د ورځې څخه جدا کېږي او ورځ د شپې څخه رابېلېږي. يعنې د هغوی باغ د اسماني افت د امله تک تور ګرځېدلی وه چې د شينوالي نښه پکښې هيڅ نه وه، تا به ويل چې توره شپه او تورې ايرې دي.

ج: په ﴿ إِن كُنتُمْ صَارِمِينَ ﴾ کښې د ﴿ صَارِمِينَ ﴾ کلمه په دې مقام کښې د قوي عزم په خاوندانو سره ترجمه کېږي. او دا ځکه چې کله څوک يوه کار ته قوي عزم او قوي نيت وکړي نو په هغه کار کښې نور بحث نه کېږي او خبرې پکښې پرې شي. يعنې که تاسو عزم کوونکي خلک ياست نو د سهار په توره لره کښې خپل کښت او ميوجاتو ته ورشئ او خپل کور ته يې را انتقال کړئ.

## استثناء څه معنی؟

۵_ په ﴿ وَلَا يَسْتَثْنُونَ ﴾ کښې د ﴿ يَسْتَثْنُونَ ﴾ کلمه د "اسْتِثْنَاء" _لکه "اسْتِخْرَاج"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "اسْتِثْنَاء" په دې مقام کښې دې ته وايي چې څوک په داسې کلام باندې تلفظ وکړي چې د وړاندېني متصل کلام مضمون ورباندې د قاطعيت څخه وباسي[۳]. يا په بل عبارت چې په کلام پورې د "إِنْ شَاءَ اللهُ" کلمات پيوسته کړي.

يعنې د باغ خاوندانو په قاطعيت سره سوګند ياد کړ چې خپل ميوجات به راغونډوي او د "إِنْ شَاءَ اللهُ" په کلماتو باندې يې تلفظ ونه کړ چې د هغوی د کلام قاطعيت يې باطل کړی وی او د عزم څخه يې ويستلی وی.

## يوه مسئله

۶_ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [البقرة: ۲۸۴] ايت لاندې ليکلي دي چې په قلبي خطراتو (وسوسو)

---

(۱) القاموس المحيط ج۲ ص۸۱۷: لسان العرب ج۱۲ ص۳۳۴

(۲) الدر المنثور ج۸ ص۲۵۱

(۳) مفردات الراغب ص۸۰: تفسير الطبري ج۲۹ ص۲۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره سري نه ګنهګارېږي خو په قلبي عزم سره نیولی کېږي او مواخذه وریاندې شته.

د دغه مطلب دپاره ذکره شوې قیصه ډېر پوخ دلیل دی چې د باغ خاوندانو ته الله ﷻ د عمل څخه وړاندې محض په قلبي عزم سره سزا ورکړه او باغ یې ورته پوپنا وګرځاوه.

## حَرد څه معنی؟

٧ـ په ﴿ عَلَىٰ حَرۡدٖ قَٰدِرِينَ ﴾ کښې د ﴿ حَرۡدٖ ﴾ کلمه علماوو کرامو په ډېرو معناوو سره تفسیره کړې ده چې تقریبًا اتو معناوو ته رسېږي[١] خو مونږ ته بهتره برېښي چې دغه کلمه د منعه کولو (ایسارولو) دپاره وضعه شوې ده، او د ﴿ عَلَىٰ ﴾ توری په ﴿ قَٰدِرِينَ ﴾ پورې تعلق نیسي.

یعنې هغوی سهار مهال خپل باغ او خپلو حاصلاتو ته په داسې حال کښې ورغله چې په خپل خیال د مسکینانو منعه کوونکي او ایساروونکي وه چې د دوی مخه یې ونیوله.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ذکر شوې عبارت کښې د ﴿ تُسَبِّحُونَ ﴾ کلمه د "التَّسْبِيح" څخه اشتقاقه شوې ده، چې د عبادت ټولو ډولونو ته شمولیت لري لکه قولي، فعلي او یا قلبي عبادت[٢]. نو په دې مقام کښې علماوو کرامو د "تَسْبِيح" دپاره دوه ډوله تفسیر غوره کړی دی چې دواړه په مصداق کښې څه تفاوت نه لري بلکې دواړه متحد دي. هغه دا چې:

اول: دلته د "تَسْبِيح" څخه قولي عبادت (ان شاء الله ویل) مطلب دي[٣]. یعنې غوره سړی نورو ورونه مخاطب کړه چې ایا ما تاسو ته نه وه ویلي چې: تاسو د قاطع تصمیم نیولو په عوض ولې د "إِنْ شَاءَ الله" کلمات نه وایاست؟ که تاسو زما خبره منلې وی او د دغو کلماتو په ویلو سره مو د خپل کلام قاطعیت مات کړی وی، نو نن ورځ به الله ﷻ د محرومیت سزا نه وی درکړې.

دوهم: دلته ترې فعلي عبادت (فقیرانو ته برخه ورکول) مراد دي[٤]. یعنې ایا ما تاسو ته نه وه ویلي چې الله ﷻ یاد کړئ او د فقیرانو برخه مه هېروئ؟

## سوالونه او جوابونه

٨ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وايي چې: د قیصې د کلماتو (لکه ﴿ أَقۡسَمُواْ ﴾، ﴿ فَٱنطَلَقُواْ ﴾ او داسې نورو) څخه څرګندېږي چې د باغ خاوندان د فقیرانو په ایسارولو کښې د جرمي شریکان وه او په دغه تصمیم کښې ټول متفق وه، حال دا چې په ﴿ قَالَ أَوۡسَطُهُمۡ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ لَوۡلَا تُسَبِّحُونَ ﴾ کښې د ﴿ قَالَ أَوۡسَطُهُمۡ ﴾ کلمات په دې دلالت کوي چې په دې تصمیم کښې ټولو اشتراک نه درلود؟

---

(١) زاد المسیر ج٨ ص٧١
(٢) مفردات الراغب ص٢٢٦
(٣) تفسیر الخازن ج٦ ص٣٣١؛ زاد المسیر ج٨ ص٧٢
(٤) روح المعاني ج٢٩ ص٣٢

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: په دغو کلماتو کښې د هغه حالت خبره راحکایت شوې ده په کوم کښې چې تصمیم ته نه وه رسېدلی، او په قیصه کښې د تصمیم حالت راحکایت شوی دی.

یا په بل عبارت: د تصمیم څخه وړاندې غوره سړي خپلو ورونو ته نصیحت وکړ خو کله چې د هغه نصیحت نتیجه ورنه کړه نو پخپله هم په تصمیم کښې شریک وګرځېد.

همدې ته ورته مضمون په یوه حدیث کښې روایت شوی دی چې لنډیز یې دا دی:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: الله ﷻ بني اسرائیل ملعونان ونه ګرځول مګر هله چې د ګناه کوونکو (عاصیانو) سره ناصحان هم ملګري شوه او د نصیحت (امر بالمعروف او نهي عن المنکر) څخه یې لاس واخست[۱].

ب: که څوک وايي چې: ددغه باغ خاوندان مسلمانان وه او که کفار وه؟

مونږ وايو چې: ځینو علماوو کرامو د هغوی په اسلام او کفر کښې توقف کړی دی[۲]. دوی وايي چې په ایتونو کښې هغه کلمات احتمال لري چې په اضطراري حالت باندې حمل شي کوم چې د هغوی په مسلمانۍ باندې دلالت کوي لکه ﴿ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا رَٰغِبُونَ ﴾ او داسې نور.

دوی وايي چې: په اضطراري حالت کښې خو ټول کفار الله ﷻ ته رجوع کوي لکه چې فرمايي: ﴿ فَإِذَا رَكِبُواْ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴾ [العنکبوت: ۶۵] یعنې نو کله چې کفار په بېړۍ کښې سواره شي نو الله ﷻ په داسې حال کښې بلي چې خپل انقیاد یې ورته سوچه ګرځولی وي. نو هرکله چې الله ﷻ هغوی وچې ته ورسوي (او د غرق څخه نجات ورکړي) نو ناڅاپه (سمدستي) هغوی د استمرار په توګه شرک غوره کوي.

مګر اکثره علماء کرام وايي چې د باغ خاوندان مسلمانان وه[۳]، خو د ګناه مرتکب شوه او بیا توبه تائب وګرځېده نو الله ﷻ ورته د هلاک شوي باغ بهتر عوض ورکړ.

ج: که څوک وايي چې: د ذکرو شوو کسانو د اسلام په صورت کښې د دوی قیصه د مشرکانو سره څه تناسب لري؟

مونږ وايو چې: د ﴿ كَذَٰلِكَ ٱلْعَذَابُ ۖ وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَكْبَرُ ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي چې مشرکان ورسره محض په دنیاوي عذاب او د نعمت په محرومیت کښې تشبیه کړی شوي وه او بس، نه په أخروي عذاب کښې. بلکې په ضمني توګه مشرکان په غوږ وهلی شوي دي چې تاسو هم باید د أصحاب الجنة غوندې تکلاره خپله کړئ او د نعمت شکرګزارۍ ته راستانه شئ.

## د ایتونو ارشاد

۹ـ ذکره شوې قیصه مونږ ته ارشاد کوي چې په ګناهونو سره بنیادم د رزق څخه محروم ګرځولی

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۵: مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۴۲
(۲) الدر المنثور ج۸ ص۲۵۲: اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۲۹۳
(۳) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۶: تفسیر البغوي ج۴ ص۳۸۱: البحر المحیط ج۱۰ ص۲۴۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېږي، نو په کار دي چې د ګناهونو څخه اجتناب وکړو. همدا موضوع د الله ﷻ په توفیق د یوه حدیث په رڼا کښې د [الطلاق:۳] ایت لاندې تېره شوې ده.

﴿ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٣٤﴾ أَفَنَجْعَلُ ٱلْمُسْلِمِينَ كَٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٣٥﴾ مَا لَكُمْ
كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ لَكُمْ كِتَٰبٌ فِيهِ تَدْرُسُونَ ﴿٣٧﴾ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴿٣٨﴾ أَمْ لَكُمْ
أَيْمَٰنٌ عَلَيْنَا بَٰلِغَةٌ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُونَ ﴿٣٩﴾ سَلْهُمْ أَيُّهُم بِذَٰلِكَ زَعِيمٌ
﴿٤٠﴾ أَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ فَلْيَأْتُوا۟ بِشُرَكَآئِهِمْ إِن كَانُوا۟ صَٰدِقِينَ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ
وَيُدْعَوْنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾ خَٰشِعَةً أَبْصَٰرُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ وَقَدْ كَانُوا۟
يُدْعَوْنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمْ سَٰلِمُونَ ﴿٤٣﴾ ﴾

[۳۴] یقیناً خاص د متقیانو دپاره د خپل رب ﷻ په نزد د نعمتونو جنتونه دي.

[۳۵] ایا نو مونږ مسلمانان د مجرمانو غوندې وګرځوو (دوارو ته یو برابر اجرونه ورکړو)؟

[۳۶] تاسو لره څه دي؟ تاسو څنګه حکم کوئ (چې عقل یې نه مني)؟.

[۳۷] ایا ستاسو دپاره داسې (اسماني) کتاب (شته) دی چې تاسو پکښې (ذکر شوی مساوات) لولئ (او قرائت کوئ)؟

[۳۸] (که داسې وي نو) یقیناً ستاسو دپاره به په همدغه کتاب کښې هغه شی (لیکلی شوی) وي کوم چې تاسو یې (د خپلو ځانونو دپاره) خوښوئ.

[۳۹] ایا ستاسو دپاره په مونږ باندې داسې عهدونه شته کوم چې د قیامت تر ورځې پورې رسېدونکي دي (او د نقض احتمال نه لري).

(که داسې وي نو) یقیناً ستاسو دپاره هغه شی ضرور (واقعیت) لري په کوم سره چې تاسو حکم کوئ (او ځان ته یې اثباتوئ).

[۴۰] (ای پیغمبره!) ته د مشرکانو څخه وپوښته چې کوم یو کس یې په دغو (مطالبو) سره ضمانت کوونکی دی؟.

[۴۱] ایا مشرکانو ته معبودان دي (چې ذمواري ورته کوي)؟ نو دوی دې خپل شریکان (باطل معبودان) راولي (چې ضمانت ورته وکړي) که چرته دوی (په خپله خبره کښې) رښتني وي (نو ژر دې دا کار وکړي).

[۴۲] هغه ورځ یاده کړه چې (د الله ﷻ په امر) د غټې سختۍ څخه لوڅوالی وکړی شي او کفار (د تخجیل دپاره) سجده کولو ته وبلل شي نو کفار به توان ونه لري (چې سجده وکړي او شرمنده به شي).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۳] په داسې حال کښې چې (د خجالت د کبله به يې) سترګې خوارې (او خړې) وي، (او) ذلت به ترې راچاپېر شوی وي.
او يقيناً (په دنيا کښې) کفار وه چې سجدې (انقياد) ته بلل کېده په داسې حال کښې چې روغ رمټ وه (خو سجده يې ونه کړه او اسلام يې قبول نه کړ).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د دنياوي جنت (باغ) ذکر نازل شوی وه او په دې ايتونو کښې د أخروي جنت ذکر ته اشاره کېږي چې د هغه غوندې فاني نه دی بلکې تلپاتې او همېشه باقي دی. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د قيامت د ورځې په ارتباط څه مطالب قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ د آخرت نعمتونه او باغونه د دنيا د نعمتونو او باغونو په شان نه دي چې کافر او مؤمن دواړو ته ورکولی کېږي.

بلکې د متقيانو (مؤمنانو) دپاره په آخرت کښې د دوی د رب ﷻ په نزد د نعمتونو څخه ډک باغونه او جنتونه ځانګړي شوي دي چې کفار پکښې هيڅ برخه نه لري او نه يې د ورکړې لياقت لري که بالفرض دغسې وکړی شي نو مسلمانان او مجرمان به يو ډول وګرځولی شي او عدالت به د منځه لاړ شي، بلکې دنيا به بې حکمته او عبث خلق کړی شوې وي.

نو تاسو لره څه دي؟ په تاسو څه شوي دي؟ تاسو څنګه بې عدالته حکم کوئ؟ ايا د الله ﷻ د شان سره بې عدالتي مناسبه ده؟.

۲ـ همدارنګه ايا مونږ مسلمانان د مجرمانو په شان وګرځوو چې اجرونه ورنه کړو او يا مجرمان د مسلمانانو غوندې جوړ کړو چې په اجرونو کښې يې ورسره يو برابر کړو؟

۳ـ ای پیغمبره! که بالفرض مجرمان (کفار) د اجرونو تمه لري نو ته هغوی ته زمونږ د پلوه لاندې پوښتنې متوجه کړه:

الف: ای کفارو! ايا تاسو کوم اسماني کتاب لرئ چې په هغه کښې دا خبره لولئ او روزمره يې قرائت کوئ چې: مجرمان او مسلمانان د قيامت په ورځ د اجرونو د حيثه يو برابر دي؟

ب: که ذکر شوی مضمون درس کوئ نو يقيناً تاسو ته به په همغه کتاب کښې دا خبره په اثبات رسېدلې وي چې کوم شی تاسو خوښوئ هغه درته پکښې نازل شوی دی.

خو خبره داسې نه ده، تاسو نه اسماني کتاب لرئ او نه پکښې دا مضمون موجوديت لري چې هر څه ستاسو په خوښه دي.

ج: ای کفارو! ايا ستاسو دپاره قوي عهدونه شتون لري چې په سوګندونو سره محکم شوي او تاکيد شوي وي چې د قيامت تر ورځې پورې به پکښې تخلف صورت نه نيسي او په هغې ورځ کښې به ورباندې وفا کېږي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت: ایا تاسو د الله ﷻ څخه قوي عهدونه اخستي دي چې یقینًا د قیامت په ورځ ستاسو دپاره د هغو اجرونو ورکړه یقیني ده په کومو باندې چې تاسو د خپلو خانونو دپاره حکم کوئ.

۴_ ای پیغمبره! کفار مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: د ذکرو شوو مطالبو دپاره ستاسو د جملې څخه کوم کس ضامن جوړیږي؟ او کوم نفر یې تحقق په غاړه اخلي؟

ب: ایا د کفارو دپاره داسې شریکان او باطل معبودان شته دي چې دوی ته ضمانت ورکوي چې ذکر شوي مطالب زمونږ ذمواري ده؟

ج: که داسې وي نو دوی دې خپل شریکان او معبودان راولي ترڅو ستا په حضور کښې ضمانت ورکړي. که چرته کفار رښتیا ویونکي وي نو دغه کار دې وکړي او په علني توګه دې ترې ضمانت واخلي، ایا دوی دا کار کولی شي؟ ایا هغوی د ضمانت ورکولو صلاحیت لري؟

۵_ ای پیغمبره! هغه ورځ یاده کړه چې په هغې کښې دېره سختي رالوڅه کړی شي او کفار پکښې سجدې کولو ته دعوت کړی شي چې هلئ ژر شئ خپل رب ﷻ ته په سجده پرېوزئ. نو هغوی به توان ونه لري چې سجده وکړي او شخ پخ به ودرېږي (د شرم سره به مخامخ شي). په دغه وخت کښې به د هغوی سترګې له دېره هیبته خوارې او ټیټې وي او دوی به ذلت او حقارت پټ کړي وي، چې د هرې خوا څخه به ترې راچاپېر شوی وي.

حال دا چې همدغه کفار نن ورځ په دنیا کښې سجدې کولو او اطاعت ته بلل کېږي او په توان کښې یې هم سجده شته چې روغ رمټ دي، خو د دې سره‌سره خپل رب ﷻ ته سجده نه کوي او ایمان ورباندې نه راوړي نو دېر ژر دی چې د همدغه فرصت ارمان به وکړي.

## توضیحات

۱- په ﴿ أَفَنَجْعَلُ ٱلْمُسْلِمِينَ كَٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ کښې هغه ادعا جوابه شوې ده د کومې څخه به چې مشرکانو د ایمان د نه راوړلو دپاره د بهانې په حیث کار اخست. هغه دا چې:

هغوی به ویل چې د مرګ څخه وروسته بیا ژوند نشته، او که فرض کړو چې شته نو هرومرو به هلته مونږ د مسلمانانو څخه په بهتر حالت کښې قرار ولرو او یا به اقلا ورسره مساوي او برابر یاستو.

په همدې مضمون باندې نور ایتونه هم نازل شوي دي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنقَلَبًا ﴾ [الکهف:۳۶] یعنې کافر سړي وویلې چې که بالفرض زه خپل رب ﷻ ته ورتاو کړی شم نو هرومرو به زه هلته د دغه باغ څخه د ښېرته ورګرځېدلو د حیثه بهتر ځای مونده کړم.

ب: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴾ [مریم:۷۷] یعنې ته کافر انسان ته نه ګورې چې وایي (که بالفرض زه بیا راژوندی کړی شم) نو هرومرو به ماته (هلته) مالونه او اولادونه راکړی شي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَئِن رُّجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّيٓ إِنَّ لِي عِندَهُۥ لَلْحُسْنَىٰ ﴾ [حم السجدة: ۵۰] يعني كافر انسان وايي چې كه (بالفرض) زه خپل رب ﷻ ته بېرته راجع كړى شم نو يقيناً زما دپاره د خپل رب ﷻ په نزد هرومرو لويه ښايسته مرتبه شته.

## د ذكرې شوې ادعا رد

۲ـ په دې مقام كښې الله ﷻ د مشركانو ذكره شوې ادعا په لاندې وجوهو سره رده كړې ده:

الف: دغه مساوات (د مسلمانانو سره په مراتبو كښې برابري) د عقل څخه مخالفه ده او عقل وړاندې حكم نه شي كولى ﴿ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴾.

ب: د دغې ادعا اثبات كوم اسماني كتاب هم نه دى كړى چې نقلي ثبوت ولري ﴿ أَمْ لَكُمْ كِتَٰبٌ فِيهِ تَدْرُسُونَ ﴾.

ج: په همدې ارتباط د الله ﷻ څخه مشركانو كوم عهد هم نه دى اخستى ﴿ أَمْ لَكُمْ أَيْمَٰنٌ ﴾ الآية.

د: د دغې ادعا د پوره كولو كوم ضامن هم شتون نه لري، چې په خپله ذمه يې د هغې ربښتيا كول منلي وي ﴿ أَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ ﴾ الآية.

## يو نحوي تحليل

۳ـ په ﴿ أَمْ لَكُمْ كِتَٰبٌ فِيهِ تَدْرُسُونَ ۝ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴾ كښې د ﴿ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴾ د جملې د محلي اعراب په هكله علماوو كرامو په دوه وو ډولونو سره تحليل كړى دى هغه دا چې:

الف: يو تحليل يې په لاندې ټكو كښې راخلاصه كوو[1]:

اول: دغه جمله د ﴿ تَدْرُسُونَ ﴾ دپاره د مفعول په ځاى كښې واقع ده.

دوهم: په ﴿ فِيهِ ﴾ كښې د "في" توری هم په همدغه ﴿ تَدْرُسُونَ ﴾ پورې تعلق نيسي.

درېيم: د ﴿ فِيهِ ﴾ ضمير په ﴿ أَمْ لَكُمْ كِتَٰبٌ ﴾ كښې ﴿ كِتَٰبٌ ﴾ ته راجع دى.

څلورم: بالآخره دغه د ﴿ فِيهِ ﴾ كلمه د وړاندېني ﴿ فِيهِ ﴾ دپاره تاكيده ده.

يعني اى مشركانو! ايا ستاسو دپاره كوم اسماني كتاب شتون لري چې (په بل كتاب كښې نه)؟ همغه كتاب كښې تاسو دا خبر درس كوئ او قرائت كوئ چې يقيناً ستاسو دپاره همغه شيان ټاكلي شوي دي كوم چې تاسو يې د خپلو ځانونو دپاره خوښوئ او غوره كوئ.

ب: د بل تحليل خلاصه دا ده[2] چې:

اول: د ﴿ تَدْرُسُونَ ﴾ دپاره هغه مساوات مفعول واقع كېږي كوم چې د ﴿ أَفَنَجْعَلُ ٱلْمُسْلِمِينَ كَٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ څخه فهمېږي.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۲۲۶
(۲) روح المعاني ج۲۹ ص۳۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: د ﴿ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴾ جمله مستقله جمله ده چې د اعراب محل نه لري او د وړاندینۍ جملې دپاره بیان او تفسیر واقع شوې ده.

یعنې ای مشرکانو! ایا ستاسو دپاره داسې کتاب شتون لري چې په هغه کښې تاسو ذکر شوې مساوات او برابري قرائت کوئ (ولولئ. که داسې کتاب لرئ نو) یقینًا ستاسو دپاره به پکښې هغه څه ثبوت ولري کوم چې تاسو یې د خپلو ځانونو دپاره خوښوئ او غوره کوئ.

## دوه احتماله تفسیر

۴ـ په ﴿ أَمْ لَكُمْ أَيْمَـٰنٌ عَلَيْنَا بَـٰلِغَةٌ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ ﴾ کښې د ﴿ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ ﴾ کلمات د تعلق او تفسیر په لحاظ لاندې دوه احتماله درلودلی شي[1].

الف: چې دا کلمات په ﴿ بَـٰلِغَةٌ ﴾ پورې تعلق ونیسي او د تاکید څخه کنایي شي یعنې ای مشرکانو! ایا تاسو په مونږ باندې د داسې عهدونو ثبوت لرئ چې هغه به ﴿ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ ﴾ په دوامداره توګه ثابت وي او هیڅکله به نقض نه شي؟.

ب: چې دا کلمات د ﴿ أَيْمَـٰنٌ ﴾ سره ارتباط ولري او د عهدونو د عظمت څخه نمایندګي وکړي. یعنې ای مشرکانو! ایا تاسو په مونږ باندې د داسې عظیم الشانو عهدونو ثبوت لرئ د کومو پوره کول چې په دنیا کښې نه بلکې د قیامت ورځې ته تال وي تر څو هلته پوره کړی شي؟.

## ساق څه معنی؟

۵ـ په ﴿ يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ ﴾ کښې د ﴿ سَاقٍ ﴾ د کلمې معنی د مضاف الیه په لحاظ سره تفاوت پیدا کوي. د مثال په توګه[2]:

الف: "سَاقُ الْإِنْسَانِ" د ښنګري څخه نیولې آن تر زنګنانه پورې ښې ته د بنیادم ساق وایي چې په پښتو کښې ورته مونږ "لښکی" یا "پړکی" وایو.

ب: "سَاقُ الشَّجَرَةِ" د ونې د هغې برخې نوم دی کومه چې د ځمکې د سر څخه پیل کېږي او تر څانګو پورې رسېږي چې په پښتو کښې د "ډډ" په نامه یادېږي.

ج: "سَاقُ كُلِّ شَيْءٍ قُوَّتُهُ" د هر شي قوت د همغه شي د ساق لقب لري لکه چې عرب وایي چې: "قَامَتِ الْحَرْبُ عَلَى سَاقِهَا" یعنې جنګ په خپل قوت باندې ودرېد (ډېر قوي شو).

## د "ساق" تفسیر

۶ـ په ایت شریف کښې د "ساق" کلمه علماوو کرامو په متعددو ډولونو سره تفسیره کړې ده، د مثال په ډول:

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۷
(۲) لسان العرب ج۱۰ ص۱۶۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دلته د "ساق" کلمه د متشابهاتو څخه ده. يعنې په هغې ورځ چې د الله ﷻ د پلوه بلا کیف (ساق) لوڅ کړی شي[۱].

ب: دلته ذکره شوې کلمه د شدت او قوت څخه عبارت ده. يعنې په هغې ورځ چې د سختيو او مشکلاتو قوت او شدت لوڅ کړی شي (او د حقائقو څخه پرده اوچته کړی شي).

همدغه دوهم تفسير عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) غوره کړی دی[۲]، چې مونږ ته هم غوره برېښي، والله ﷻ أعلم وعلمه أتم وأكمل.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وايي چې: په لاندې حديث شريف کښې د "ساق" کلمه الله ﷻ ته مضافه شوې ده نو په کار دي چې اولنی تفسير غوره وګڼلی شي او د "ساق" کلمه دلته د متشابهاتو څخه وشمېرله شي؟! حديث دا دی چې:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «يَكْشِفُ رَبُّنَا عَنْ سَاقِهِ فَيَسْجُدُ لَهُ كُلُّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ وَيَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ فِي الدُّنْيَا رِيَاءً وَسُمْعَةً فَيَذْهَبُ لِيَسْجُدَ فَيَعُودُ ظَهْرُهُ طَبَقًا وَاحِدًا»[۳] يعنې زمونږ رب ﷻ به د خپل ساق څخه پرده پورته کړي (او رالوڅ به يې کړي). نو هر مؤمن سړی او مؤمنه زنانه به ورته سجده وکړي او هغه څوک به بې سجدې پاتې شي چا چې په دنيا کښې د رياکارۍ او اوازې دپاره سجده کوله (او يا بالکل کافر وه). دغه کس به روان شي چې سجده وکړي نو شا به يې يو طبق (يوه تخته) وګرځي (او د سجدې کولو توان به ونه لري (نو د سخت خجالت سره به مخامخ شي).

مونږ وايو چې: د مخلوقيت په لحاظ هر شی عموماً او د بر مهم شی خصوصاً الله ﷻ ته اضافت موندلی شي. او څه ضرورت نشته چې ذکر شوی اضافت په تشابه باندې دليل ونيولی شي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۸ـ که څوک وايي چې: دغه د سخت ډار وخت په قيامت کښې د کوم وخت څخه عبارت دی؟

مونږ وايو چې: دغه سخت وخت ته نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې اشاره کړې ده چې: «ثُمَّ يُقَالُ أَخْرِجُوا بَعْثَ النَّارِ فَيُقَالُ مِنْ كَمْ فَيُقَالُ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَ مِائَةٍ وَتِسْعَةً وَتِسْعِينَ قَالَ فَذَلِكَ ﴿ يَوْمَ يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا ﴾ وَذَلِكَ ﴿ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ ﴾ »[۴] يعنې بيا به وويلې شي چې د اور ټولګی (د نورو خلکو څخه) راوباسئ. نو ويه ويلی شي چې د څومره کسانو څخه (څومره راجدا کړو)؟. نو د الله ﷻ د پلوه به وويلی شي چې د هرو زرو کسانو څخه نهه سوه او نهه نوي (۹۹۹) کسان راوباسئ.

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۳۵
(۲) الدر المنثور ج۸ ص۲۵۴
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۷۳۱
(۴) صحيح مسلم ج۲ ص۴۰۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: دغه وخت داسې ورځ (وخت) دی چې ماشومان به سپین ږیري کړي او دغه وخت داسې ورځ (وخت) دی چې زښت ډېر شدت به لوڅ کړی شي (او زښته ډېره سختي به صورت ونیسي).

﴿فَذَرْنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا الْحَدِيثِ ۖ سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٤﴾ وَأُمْلِي
لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ﴿٤٥﴾ أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٦﴾ أَمْ عِندَهُمُ
الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤٧﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ
مَكْظُومٌ ﴿٤٨﴾ لَّوْلَا أَن تَدَارَكَهُ نِعْمَةٌ مِّن رَّبِّهِ لَنُبِذَ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ مَذْمُومٌ ﴿٤٩﴾ فَاجْتَبَاهُ
رَبُّهُ فَجَعَلَهُ مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٥٠﴾ وَإِن يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا
الذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ ﴿٥١﴾ وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ﴿٥٢﴾﴾

[۴۴] نو (ای پیغمبره!) ما او هغه کسان سره پرېږده کوم چې په دغې خبره (قرآن کریم) سره تکذیب کوي (زه به یې درته چاره وکړم چې:)

ژر ده چې مونږ به یې د داسې خوا څخه ونیسو چې تکذیب کوونکي به (وربانديې) ونه پوهېږي.

[۴۵] او (ژر ده چې:) زه به مهلت ورکړم. یقیناً زما پټ تدبیر ډېر کلک (او پوخ) دی.

[۴۶] ایا ته د کفارو څخه (په خپل دعوت باندې) څه اجرت غواړې نو دوی (د اجرت) د تاوان څخه درانه کړی شوي دي (وربانديې دروند تمامېږي)؟.

[۴۷] ایا د کفارو په نزد غیب (پټ معلومات) شته نو دوی (د همدغو غیبي معلوماتو څخه د استمرار په توګه لیکنه کوي (او خپلې ارتیاوې وربانديې پوره کوي)؟.

[۴۸] نو (ای پیغمبره!) ته د خپل رب ﷻ حکم (امر) ته صبر کوه او د ماهي د ملګري (یونس ؑ) غوندې مه کېږه (چې د خپل رب ﷻ حکم ته یې صبر ونه کړ).

(ته) هغه وخت (یاد کړه) چې (د ماهي په ګېډه کښې) یې (خپل رب ﷻ ته) په داسې حال کښې اواز (سوال) وکړ چې د غم (او غُصې) څخه ډک کړی شوی وه (ډېر پرېشان وه).

[۴۹] که (بالفرض) هغه د خپل رب ﷻ د پلوه لوی نعمت نه وی موندلی (ورته نه وی رسېدلی) نو هرومرو به په خالي ځمکه باندې په داسې حال کښې ویشتلی شوی وی چې بد ګڼلی شوی به وی.

[۵۰] نو د ماهي ملګري خپل رب ﷻ غوره کړ (د خلاف الاولی د ارتکاب څخه ورتېر شو) نو (د پخوا په څېر) یې د صالحانو (داعیانو) څخه وګرځاوه (او یوه قوم ته یې د پیغمبر په حیث ورولېږه).

[۵۱] او (ای پیغمبره!) یقیناً هغه کسان نژدې دي کومو چې کفر غوره کړی دی (او عناد نیولی

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي) چې تا په خپلو سترګو سره (د دعوت د مقام څخه) په هغه وخت کښې وښويوي (وغورزوي) كله چې دوی قرآن کريم واوري (او غُصه پرې غلبه وکړي چې سترګې درته برګوي).
او کفار (په همدغه وخت کښې په غُصې سره) وايي چې يقيناً دا (داعي) هرومرو ليونى دى.
[۵۲] حال دا چې دا قرآن کريم نه دی مګر د ټولو عالمونو دپاره پند (او نصيحت) دی (د ليوني کلام نه دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د کفارو عناد ته اشاره شوې ده چې بدون د دليله په کفري تګلاره باندې کلک دي. او په دې ايتونو کښې د کلام مخ نبي کريم ﷺ ته اړولى شوى دى او تسلي ورکړې شوې ده، چې خلاصه يې داسې راځېږي:
اى پيغمبره! د کفارو په عنادي کړنو باندې ډېر مه خپه کېږه او لاندې ارشاداتو ته متوجه شه:
۱_ تا خو خپله فريضه په ښه متانت سره ترسره کړه او کفار دې سمې لارې ته دعوت کړه نور نو زه پوهېږم او دوى.
يا په بل عبارت: نو ما د هغو کسانو سره پرېږده کوم چې په تا او په دغه قرآن کريم باندې د تکذيب لاره خپلوي. زه به ورسره لاندې چال چلند وکړم:
الف: ډېر ژر دى چې زه به ذکر شوى عنادي کفار په دمه-دمه ونيسم او په داسې توګه به ورباندې عذاب ورنازل کړم چې دوى به هيڅ ونه پوهېږي چې عذاب ورروان دى چې:
ب: زه به هغوى ته مهلت ورکړم او د خپلو نعمتونو دروازې به ورباندې ورخلاصې کړم حتى چې هغوى به خپل ځانونه په نجات کښې وګڼي حال دا چې خبره به بالعکس وي.
ج: يقيناً چې زما پټ تدبير ډېر کلک او قوي دى او هيڅوک او هيڅ شى يې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلى.
۲_ اى پيغمبره! كه کفار عناد نه وي نيولي نو د دعوت په قبول کښې هغوى ته څه ضرر دى او په عدم قبول کښې د هغوى سره څه دليل دى؟ كه نه نو:
الف: ايا ته د کفارو څخه په خپل دعوت باندې څه مزدوري او اجرت غواړې چې د دغه تاوان د کبله د هغوى اوږې درنې کړى شوې دي او د اجرت د رکول ورباندې پېټى دى؟.
ب: ايا د کفارو سره کوم غيبي معلومات شته دي چې هغوى روزمره هغه معلومات ليکي او د خپلو ځانونو دپاره يې د لارې مشال ګرځوي؟.
۳_ پوره واضحه ده چې د ذکرو شوو دواړو پوښتنو جواب منفي دى نو په همدې بنياد ته د کفارو په نادودو باندې صبر خپل کړه او خپل رب ﷻ ته په هر کار کښې رجوع کوه او په ارشاداتو باندې يې کلک اوسه.
۴_ اى پيغمبره! ته د ماهي د ملګري (يونس ؑ) غوندې بې حوصلې کېږه مه، هغه دا چې:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: یونس ﷺ د خپل وخت د کفارو د عنادي کړنو د امله حوصله تنګه شوه او د خپل رب ﷻ د اجازې څخه پرته د ښاره بېرون لاړ چې ګوندې په دغو کافرو ښاریانو باندې به بنیاد ویستونکی عذاب ورنازل شي.

ب: د دغه خلاف الاولی کار په خپلولو سره الله ﷻ د ماهي په ګېډه کښې بندي کړ.

ج: خو چې کله یونس ﷺ پوه شو چې یقینًا ما په خپل ځان تېری کړی دی نو د ماهي په ګېډه کښې یې خپل رب ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کړه او په داسې حال کښې یې نجات وغوښت چې په خپل قوم باندې د غُصې څخه ډک شوی وه او ډېر ورته په قهر وه او هم ډېر غمژن وه.

د: نو الله ﷻ د ماهي د ګېډې څخه وچې ته رابهر کړ او په وچه کښې یې ورته سمدستي د کدو بوټی زرغون کړ چې خپلې څانګې او پاڼې یې ورباندې ورخورې کړې.

ه: که بالفرض یونس ﷺ ته د خپل رب ﷻ د پلوه نعمت او فضل نه وی رسېدلی نو د ماهي د ګېډې څخه به په خالي (بې ګیا) ځمکې باندې په داسې حال غورزولی شوی وی چې حالات به یې ډېر ناکاره او بد کړی شوي وی.

و: نو د همدغه فضل او نعمت د کبله نوموړی خپل رب ﷻ غوره بنده وګرځاوه او د خلاف الاولی د ارتکاب څخه ورتېر شو.

نو لکه څنګه چې پخوا د صالحانو او داعیانو څخه وه، بیا یې هم د صالحانو او داعیانو څخه وګرځاوه او تقریبًا د یو لک او شل زره (۱۲۰۰۰۰) کسانو دپاره یې د داعي په توګه ورواستاوه.

۵_ ای پیغمبره! د کفارو د هر یو غیر انساني عمل په مقابل کښې ته خپله حوصله مه خرابوه او د اضطراب څخه خپل ځان بچ وساته. د مثال په توګه:

کله چې ته کفارو ته قرآن کریم واوروي نو هغوی سمدستي په تاباندې خپلې سترګې دربرګې کړي او نبغ-نبغ درته وګوري. حتی چې د کفارو په خیال نژدې وي چې تا د خپل دریغ څخه د خپلو سترګو په برګولو سره وښیوي چې ته خپل دعوت ته خاتمه ورکړې.

خو په عین حال کښې خپلو سپکو او سپورو خبرو ته ادامه هم ورکوي او وایي چې یقینًا دغه داعي لیونی دی، چې نه ورباندې بد چال چلند څه اغېز کوي او نه په بده خبره د خپله دریځه اوړي.

۶_ ای پیغمبره! ستا په عدم جنون باندې په خپله همدا قرآن کریم شهادت ورکوي. او دا ځکه چې: د قیامت د ورځې پورې دا قرآن کریم د ټولو عالمونو دپاره پند او نصیحت دی، ایا کوم لیونی دغسې ټولګټی (عام المنفعه) کلام وړاندې کولی شي؟ ایا د دغسې ټولګټی (عام المنفعه) کلام راوړونکي ته د لیوني لقب ورکول جنون او لیونتوب نه دی؟

## توضیحات

۱_ په ﴿ سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ کښې د "نَسْتَدْرِجُ" کلمه د "اِسْتِدْرَاج" څخه اشتقاقه شوې ده، استدراج دې ته وایي چې څوک په داسې طریقه سره ونیولی شي چې په خپل ځان باندې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يې د نيولو هيڅ گومان نه وي[۱]، چې د گناهونو سره-سره ورباندې د نعمتونو پرېماني وي. همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په هغه حديث کښې اشاره کړې ده کوم چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام:۴۴] ايت لاندې رانقل کړی دی.

۲ـ د ﴿ وَأُمْلِي لَهُمْ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ﴾ ايت نبي کريم ﷺ داسې تفسير کړی دی چې: «إِنَّ اللهَ لَيُمْلِي لِلظَّالِمِ حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ»[۲] يعنې يقينًا الله ﷻ ظالم ته تر هغه مهلت ورکوي ترڅو يې چې (د نيولو اسباب تکميل شي بيا چې) کله يې ونيسي نو بېرته يې نه خوشې کوي.

## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې د دې مقام پورې ځينې اړوند مطالب د الله ﷻ په توفيق په لاندې ځايونو کښې ليکلی شوي دي چې بيا ليکلو ته يې څه اړتيا نه گورو:

الف: دغه دواړه ايتونه ﴿ أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا ﴾ الآية او ﴿ أَمْ عِندَهُمُ ٱلْغَيْبُ ﴾ الآية په عين کلماتو سره په [الطور: ۴۰، ۴۱] ايتونو کښې نازل شوی دی چې د ﴿ مُّغْرَمٍ ﴾ کلمه پکښې ډېره ښه تحليله شوې ده.

ب: د [الأنبياء:۸۷] ايت لاندې ليکلی شوي دي چې ځينې پيغمبران ګڼ نومونه لري، چې د دوی د جملې څخه يونس ﷵ هم دی، چې څه تفصيل يې دا دی:

اول: د "يونس" نوم په قرآن کريم کښې په مختلفو ځايونو کښې څلور ځله نازل شوی دی.

دوهم: د "ذوالنون" يعنې د ماهي خاوند په نامه په [الأنبياء:۸۷] ايت کښې ياد شوی دی.

درېيم: د "صاحب الحوت" يعنې د ماهي ملگري لقب ورته په همدې ايتونو کښې ورکړی شوی دی چې بحث پکښې روان دی.

ج: د يونس ﷵ او د ماهي قيصه تکړه-تکړه په [يونس:۹۸]، [الأنبياء:۸۷] او [الصافات:۱۳۹] ايتونو کښې تفصيلواره نازله شوې ده.

د دغو ايتونو لاندې د ذکرې شوې قيصې په ذکر باندې علاوه ډېرې پوښتنې هم جوابې شوې دي چې د تلاوت په وخت کښې د چا په ذهن کښې تېرېږي راتېرېږي، نو يو خل کتل يې ډېر گټور دي.

## مکظوم څه معنی؟

۴ـ په ﴿ وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴾ کښې د ﴿ مَكْظُومٌ ﴾ کلمه د "كَظَمَ" ـ لکه "شَرَفَ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. "كَظَمَ" هغه سکوت ته ويل کېږي چې څوک يې د ډېره غمه يا د ډېرې غُصې د کبله خپل کړي[۳].

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص۵۲۰

(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۷۸؛ صحيح مسلم ج۲ ص۳۲۰؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۳

(۳) لسان العرب ج۱۲ ص۵۲۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ی څه هم په دې مقام کښې دواړه معناوې صحت لري چې یونس ﷺ د خپل قوم د پلوه د ایمان د نه راوړلو په سبب په غُصه کړې شوی وه او د خلاف الأولی په ارتکاب او د ماهي په ګېډه کښې په ایسارېدو سره غمژن شوی وه، مګر عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د غمژن ګرځېدلو معنی غوره کړې ده چې د ﴿ مَكۡظُومٞ ﴾ کلمه یې په "مَغمُوم" سره تفسیره کړې ده[1].

## دوه ډوله تفسیر

۵ـ علماوو کرامو ﴿ وَإِن يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَيُزۡلِقُونَكَ بِأَبۡصَٰرِهِمۡ ﴾ ایت په لاندې دوه وو ډولونو او قولونو سره تفسیر کړی دی:

الف: ځینې علماء کرام وایي چې: یو خلې مشرکانو خپل نظربازان راټول کړه ترڅو نبي کریم ﷺ د سترګو په بد نظر سره د منځه یوسي او یا یې په څه مصیبت اخته کړي[2]، هغوی خپله وسه وکړه خو د الله ﷻ په فضل د هغوی بد نظر څه نتیجه ورنه کړه.

نو په دې قول سره به یې حاصل داسې راوخېژي چې:

ای پیغمبره! یقینًا کفار نژدې وه چې تا په خپلو بدو سترګو سره راوغورزوي او په کوم مصیبت باندې دې اخته کړي او یا دې بالکل د منځه یوسي.

ب: ځینې نور وایي چې: په دې مقام کښې د ﴿ بِأَبۡصَٰرِهِمۡ ﴾ څخه د بد نظر کتل مطلب نه دی بلکې په قهر او غضب سره کتل مطلب دی[3]. یعنې یقینًا کفار نژدې وه چې د خپلو سترګو په برګولو او په غضب سره درته په کتلو تا د دعوت د مقام څخه بنویه کړي او سقوط درکړي، خو دا کار یې هم د الله ﷻ په فضل نتیجه نه لري.

## تبصره

۶ـ ظاهره دا ده چې مشرکانو به ذکر شوي دواړه کارونه کړي وي، چې هم به یې نبي کریم ﷺ ته نظربازان ورغوښتي وي او هم به یې ورته په قهر او غضب سره کتلي وي.

که څه هم د بدلیت په لحاظ سره د ذکرو شوو دواړه قولونو اراده کول امکان لري مګر مونږ ته د تفسیر په حیث دوهم قول غوره او راجح برېښي او دا ځکه چې:

الف: د ﴿ لَمَّا سَمِعُواْ ٱلذِّكۡرَ ﴾ د کلماتو څخه معلومېږي چې د کفارو زیاتې غُصې او غضب په هغه وخت کښې صورت نیوه چې کله به هغوی قرآن کریم واورېد، حال دا چې د نظربازانو د بد نظر کولو دپاره د قرآن کریم اورېدلو ته څه ضرورت نه وه.

ب: د ﴿ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجۡنُونٞ ﴾ جمله هم دوهم قول تاکیدوي، چې لیونیان د بد نظر لاندې نه

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۰۸
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۳۸۴؛ تفسیر الطبري ج۲۹ ص۴۶
(۳) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۲۰؛ المحرر الوجیز ج۱۶ ص۹۰؛ البحر المحیط ج۱۰ ص۲۴۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



واقع کېږي او نه د هغوی کارونه څوک په تعجب کښې غورزوي، چې دا څومره غټ لیوني دي؟ بلکې هوښیاران د بد نظر لاندې راځي چې عجیبه ده دا څومره هوښیار سړي دي!؟.

## په یاد ولرئ

۷ـ په یاد ولرئ چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یوسف:۶۷] ایت لاندې د بد نظر په اړه د نصوصو په رڼا کښې د ہر غوره مطالب لیکلي دي چې یو ځل لوستل یې هر چا ته په کار دي.

د "القلم" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الصَّالِحِينَ الرَّاشِدِينَ.

۱۴۲۵/۷/۱۴ هـ ق - ۱۳۸۳/۶/۹ هـ ش.

# الحاقة (٦٩)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (الحاقة) د همدې سورت په لومړني ایت کښې نازل شوی دی.
۲ـ دا سورت په اتفاق سره مکي دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].
۳ـ د دې سورت ټول ایتونه دوه پنځوسو (۵۲) ته رسېږي[۲].
۴ـ د دې سورت د کلماتو شمېره دوه سوه او شپږ پنځوسو (۲۵۶) ته پورته شوې ده[۳].
۵ـ او ټول حرفونه یې یو زر څلور شپېته (۱۰۶۴) توري دي[۴].
۶ـ دا سورت (الحاقة) د وړاندېني سورت (القلم) سره ډېرې نږدې اړیکې لري چې دواړه مکي سورتونه دي او په دواړو کښې د عقیدې پورې مربوط ارشادات نازل شوي دي.
او خاصتاً هلته د قیامت د ورځې بیان څه مجمل وه او دلته پوره تفصیل ورکړی شوی دی او د نبوت په موضوع باندې هم پوره رڼا اچولې شوې ده.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ ٱلۡحَآقَّةُ ۝١ مَا ٱلۡحَآقَّةُ ۝٢ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحَآقَّةُ ۝٣ كَذَّبَتۡ ثَمُودُ وَعَادُۢ بِٱلۡقَارِعَةِ ۝٤
فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهۡلِكُواْ بِٱلطَّاغِيَةِ ۝٥ وَأَمَّا عَادٞ فَأُهۡلِكُواْ بِرِيحٖ صَرۡصَرٍ عَاتِيَةٖ ۝٦
سَخَّرَهَا عَلَيۡهِمۡ سَبۡعَ لَيَالٖ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومٗاۖ فَتَرَى ٱلۡقَوۡمَ فِيهَا صَرۡعَىٰ كَأَنَّهُمۡ أَعۡجَازُ
نَخۡلٍ خَاوِيَةٖ ۝٧ فَهَلۡ تَرَىٰ لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٖ ۝٨ وَجَآءَ فِرۡعَوۡنُ وَمَن قَبۡلَهُۥ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتُ
بِٱلۡخَاطِئَةِ ۝٩ فَعَصَوۡاْ رَسُولَ رَبِّهِمۡ فَأَخَذَهُمۡ أَخۡذَةٗ رَّابِيَةً ۝١٠ إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلۡمَآءُ حَمَلۡنَٰكُمۡ
فِي ٱلۡجَارِيَةِ ۝١١ لِنَجۡعَلَهَا لَكُمۡ تَذۡكِرَةٗ وَتَعِيَهَآ أُذُنٞ وَٰعِيَةٞ ۝١٢ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.
[۱] په حقه واقع کېدونکې ورځ (د قیامت ورځ).
[۲] په حقه واقع کېدونکې ورځ څه شی ده؟
[۳] او ته څه شي پوه کړې چې په حقه واقع کېدونکې ورځ څه شی ده؟ (څه کیفیات لري؟)

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۲۵۶
(۲) تفسیر الطبري ج۲۹ ص۴۷
(۳) تفسیر الخازن ج۶ ص۳۴۱
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۳۱۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴] ثمودیانو او عادیانو په ټکوونکې ورځې (د قیامت په ورځې) سره تکذیب کړی وه (عقیده بې وربانديې نه وه خپله کړې).

[۵] نو هر چې ثمودیان وه نو هغوی په طغیان کوونکي (افت) سره هلاک کړی شوه (چې یا تېزه کړيکه وه او یا زلزله وه).

[۶] او هر چې عادیان وه نو هغوی په تېز اواز کوونکي (او د عادي حالت څخه) په تجاوز کوونکي باد سره هلاک کړی شوه (چې تفصیل یې دا دی):

[۷] الله ﷻ وربانديې دغه باد اوه شپې او اته ورځې په داسې حال کښې وچلاوه چې (هغوی لره) بنیاد ویستونکي وه.

نو (ای کتونکیه!) ته نوموړی قوم (عادیان) د همدې باد د کبله داسې غورزولی شوی ګورې لکه چې یقینًا هغوی د خرماوو غورزېدلي ډډونه وي (چې په ځمکه بانديې بې روحه غزېدلي پراته وي).

[۸] نو (ای کتونکیه!) ایا ته هغوی لره پاتې شوی کس ګورې؟ (هیڅوک یې ژوندی پاتې نه شو).

[۹] او فرعون او هغه چا کوم چې د فرعون څخه وړاندې وه او (هم) د سرچپه شوو ښارونو (اوسېدونکو) په غټې خطاکار سره راتګ وکړ (په کفر بانديې کلک پاتې شوه).

[۱۰] نو دوی (ټولو په خپل وار سره) د خپل رب ﷻ د پیغمبر څخه عصیان غوره کړ، نو خپل رب ﷻ (په عذاب سره) ونیول اوچت (لوړ) نیول.

[۱۱] کله چې (د نوح ﷺ د قوم د هلاک په وخت کښې د عادي حالت څخه) اوبو تجاوز وکړ نو یقینًا مونږ تاسو لره (ستاسو پلرونو لره) په بېړۍ کښې اوچت کړئ (او نجات مو درکړ).

[۱۲] (دا) د دې دپاره چې مونږ دا (بېړۍ) تاسو ته عبرتي درس وګرځوو او (هم د دې دپاره) چې ساتونکي غوږ یې (د قیامت تر ورځې پورې) وساتي (او هېره یې نه کړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنۍ سورت په وروستنیو ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته ډاډ او تسلي ورکړه شوې وه چې د عنادي کفارو په کړنلارې بانديې د یونس ﷺ غوندې بې حوصلې کېږه مه.

د دې سورت په اولنیو ایتونو کښې د همدغې تسلۍ ورکولو دپاره د یو پلوه د قیامت د ورځې ذکر نازل شوی دی چې ټول عنادیان به پکښې مجازات شي، او د بله پلوه پکښې د عنادي کفارو د دنیاوي مجازاتو څو مثالونو ته هم اشاره شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" په ویلو سره د خپلې تسلۍ او ډاډینې دپاره لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ د قیامت ورځ هیبتي ورځ ده، دا هیبتي ورځ څومره زیاته هیبتي ورځ ده؟ او ته څه شي پوه کړې چې دا څومره هیبتي ورځ ده؟ یا په بل عبارت: دا دومره لویه هیبتي ورځ ده چې په کیفیاتو بانديې پوهېدل یې په لیدلو پورې اړه لري، او د مخلوقاتو علم وربانديې احاطه نه شي کولی.

۲_ نو ای پیغمبره! ته د عنادیانو کفارو په چال چلند باندې خپله حوصله مه خرابوه چې دوی هم همدغې ذکرې شوې هیبتي ورځې ته وررروان دي.

په دې باندې علاوه، همدغه عنادیان به د خپلو کړو وړو د کبله په دنیا کښې هم په عذاب باندې اخته شي، لکه څنګه چې کله ثمودیانو او عادیانو په همدغې ټکوونکي ورځې باندې کفر او انکار غوره کړ نو په دنیا کښې د بنیاد ویستونکي عذاب سره مخامخ شوه چې څه تفصیل یې دا دی:

الف. ثمودیان په تېزې کړیکې یا په تېز باد باندې هلاک کړی شوه چې تېزوالي یې د عادي حالت څخه تجاوز کړی وه.

ب: عادیان په داسې باد سره هلاک کړی شوه چې لاندې ځرنګوالی یې درلود:

اول: هغه داسې باد وه چې ډېر تېز وه او د عادي حد څخه بهر وه.

دوهم: دغه باد مونږ په عادیانو باندې اوه شپې او اته ورځې وچلاوه.

دریم: دغه باد د هغوی بنیاد وویست او د ځمکې د مخ څخه یې د هغوی نښې د منځه وېورې، ته به وایې چې دا یو باد نه وه بلکې ډېر بادونه وه.

څلورم: د دغه خارق العاده باد د کبله ټول قوم غورزېدلی او ځملولی شوی لیدل کېده، نو ای کتونکیه! که ته هلته موجود وی نو ټول کفار به دې داسې لیدلي وی لکه چې د کجوري د ونې ډډونه په ځمکه باندې غورزولی شوي پراته وي او حرکت نه شي کولی.

پنځم: نو په همدې بنیاد ای کتونکیه! ته چرته په ځمکه باندې د عادیانو څه اثار او نښې ګوري چې باقي پاتې دي؟

ج: فرعون او د فرعون څخه وړاندې نورو عنادي کفارو (البته د عادیانو او ثمودیانو څخه په غیر) هم غټه عقیدوي غلطي غوره کړې وه چې د همدغې عقیدوي غلطۍ د کبله یې د خپل رب ﷻ د پیغمبر ﷺ څخه عصیان وکړ او د پیغمبر په صفت یې قبول نه کړ.

نو الله ﷻ د فرعونیانو بنیاد په لوړه کچه غرقولو سره وویست او نور یې د نورو عذابونو د لوړې کچې لاندې واقع کړه چې په کم او کیف یې یوازې الله ﷻ خبردار دی او بس.

د: په بل مخ اووښتو ښارونو اوسېدونکي (د لوط علیه السلام قوم) هم د غټې عقیدوي خطاوو مرتکب شوی وه چې الله ﷻ ورباندې ټول ښارونه سرچپه کړه او د کاڼو باران یې پرې وکړ.

ه: بالآخره د نوح علیه السلام قوم هم د استمرار په توګه د عقیدوي انحراف مرتکب شوی وه نو مونږ ورباندې ټوله ځمکه دریاب وګرځوله چې (د ځرمې) پکښې پوښا شوه. البته فقط هغه وړوکي ټولګي نجات وموند کوم چې د اوبو د طغیان او قوت په وخت کښې مونږ په بېړۍ کښې اوچت کړ.

ای د دې زمانې کفارو! تاسو هم د همدغو اوچت کړی شوو کسانو د جملې څخه یاست. ایا په تاسو باندې په دغه وخت کښې د خپلو پلرونو اصلاب مشتمل نه وه؟ ایا تاسو د هغوی د نسل څخه نه یاست؟.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ ای پیغمبره! مونږ د ذکرې شوې بېړۍ په ذریعه د دې دپاره مؤمنانو ته نجات ورکړ او کفار مو غرق کړه چې:

الف: ترڅو مونږ دغه بېړۍ د هغو خلکو دپاره د پند او عبرت درس وګرځوو کوم چې په بېړۍ کښې اوچت کړی شوي وه او یا یې په خپلو سترګو سره د (جودي) غره د پاسه هغه ولاړه لېدلې ده.

ب: ترڅو د دغې بېړۍ د عبرتي درس بیان، ساتونکي غوږونه د قیامت تر ورځې پورې وساتي او وخت په وخت یې دخپل رب ﷻ د کامل قدرت یوه نښه وګڼي.

## توضیحات

۱_ په دې مقام کښې د قیامت د ورځې د نومونو څخه دوه نومونه نازل شوي دي چې یو "اَلْحَاقَّة" دی او بل "اَلْقَارِعَة" دی. د دواړو نومونو څه شرحه په لاندې ډول وړاندې کېږي:

الف: د "اَلْحَاقَّة" کلمه چې په اصل کښې "حَاقِقَة" _لکه "نَاصِرَة"_ وه دوه لحاظونه درلودلی شي[۱]:

اول: یو لحاظ یې د تعدیت دی چې دغه ورځ مؤمنانو او هم کفارو ته جزا یا سزا احقاقوي (اثباتوي). همدې مضمون ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ لِيَجْزِيَ ٱللَّهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ﴾ [إبراهيم:۵۱] یعنې دا د دې دپاره چې الله ﷻ هر نفس (هر چا) ته د هغو کړو وړو جزا ورکړي کوم یې چې په دنیا کښې کسب کړي وي.

دوهم: بل لحاظ یې د عدم تعدیت دی چې دغه ورځ هرومرو ثابتېدونکې ده او تحقق موندونکې ده. همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴾ [الواقعة:۲] یعنې د دغې ورځې واقع کېدلو (او ثابتېدلو) ته دروغژن کېدل نشته.

ب: د "قَارِعَة" کلمه د "قَرْع" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده. "قَرْع" دې ته ویل کېږي چې یو شی په بل شي باندې ووهلی شي[۲] چې پښتو کښې ورته ټکول وایو. یعنې ثمودیانو د داسې ورځې تکذیب وکړ کومه چې کفارو ته ټکوونکې ده او هم ورته خجالت کوونکی او سپکوونکې ده.

## څو مطالب

۲_ د دې مقام پورې اړوند لاندې څو مطالب د الله ﷻ په توفیق وړاندې تېر شوي دي چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

الف: دا مطلب چې د صالح ؑ قوم (ثمودیان) یا په زلزله هلاک شوي دي او یا په تېزه کریکه د [الأعراف:۷۸] ایت لاندې تېر شوی دی.

ب: د عادیانو، ثمودیانو، فرعونیانو او همدارنګه د لوط ؑ او نوح ؑ د قومونو مفصلې قیصې په ډېرو سورتونو کښې او په خاصه توګه د "هُود ؑ" په سورت کښې تېرې شوي دي.

[۱] لسان العرب ج ۱۰ ص ۴۹؛ تفسیر القرطبي ج ۱۸ ص ۲۵۷
[۲] مفردات الراغب ص ۴۱۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د ﴿ صَرْصَرٍ ﴾ کلمه د [حم السجدة: ۱۶] ایت لاندې تېره شوې ده چې د ډېر تېز اواز کوونکې ګرم یا یخ باد څخه عبارت ده. په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې:

"باد" د چلېدونکې هوا څخه عبارت دی چې د چلښت د اندازې دپاره یې "سات" مقیاس ټاکلی شوی دی، د مثال په توګه:

معتدل باد په یوه سات کښې یو فرسخ مسافه طي کولی شي، او څومره چې تېزېږي د فرسخونو مسافه یې هم اضافه کېږي حتی چې ډېر تېز باد په یوه سات کښې شپږ دېرش (۳۶) فرسخه مسافه طي کوي[1]. یا په بل عبارت: په یو سات کښې د معتدل باد مسافه تقریبًا څه د پاسه درې کیلو متره ده او د ډېر تېز باد مسافه په یوه سات کښې تقریبًا یو سل او پنځلس (۱۱۵) کیلومترو ته رسېږي.

خو بي بي سي (BBC) رادیو په خپلې یوې خپرونې کښې نشر کړه چې د اروپا په یوه سیمه کښې اوس مهال یو تېز باد چلېږي چې باران هم ورسره ملګری دی او سرعت یې په یو سات کښې دوه سوه او پنځوسو (۲۵۰) کیلو مترو ته رسېږي[2].

د: د "الْمُؤْتَفِكَات" کلمه د [التوبة: ۷۰] ایت لاندې شرحه شوې ده چې د لوط ﷺ د قوم د سرچپه کړی شوو ښارونو څخه عبارت ده.

## حسم څه معنی؟

۳_ په ﴿ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا ﴾ کښې د "حُسُوم" کلمه په دوه وو لحاظونو (صرفي لحاظ او اعرابي لحاظ) سره تشریح غواړي چې دواړه په لاندې ډول دي:

الف: دا کلمه د اسم فاعل "حَاسِم" د جمعې صیغه ده لکه "نُصُور" چې د "نَاصِر" جمعه ده، او د "حَسْم" _لکه "عَزْم"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې دوه معناوې درلودلی شي:

یوه معنی یې بنیاد ویستل دي او بله یې اتصال (پیوستون) او عدم انقطاع ده.

ب: د ﴿ حُسُومًا ﴾ کلمه د ﴿ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ ﴾ څخه حال واقع شوې ده چې په دې تقدیر د اتصال معنی ورکوي[3]. یعنې په عادیانو باندې تېز باد اوه شپې او اته ورځې په داسې حال کښې وچلېد چې هیڅ انقطاع یې نه درلوده.

ج: دا کلمه د ﴿ سَخَّرَهَا ﴾ د منصوب ضمیر څخه په حالیت منصوبه ده چې په دې تقدیر بې د بنیاد ویستل معنی غوره بربښي.

که څه هم "رِيح" مفرد دی مګر د ورځو او شپو په ملحوظ متعدد ګڼل کېږي[4]. یعنې الله ﷻ په عادیانو باندې یو باد څه بلکې بادونه په داسې حال کښې وچلول چې د هغوی بنیاد ویستونکې ده.

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۴۱

(۲) ۱۴۲۵/۷/۲۹ هـ ق - ۱۳۸۳/۶/۲۴ هـ ش

(۳) لسان العرب ج۱۲ ص۱۳۵؛ تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۲۷۲

(۴) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۵۳۶؛ مفردات الراغب ص۱۱۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

۱. په دغه هم ذکر شوي دواړه تفسیرونه صحت او واقعیت لري مګر د ﴿ فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ ﴾ د جملې سره دوهم تفسیر ډېر تناسب لري. او دا ځکه چې: په همدغه عبارت کښې د ﴿ فِيهَا ﴾ په ارتباط لاندې ټکي په نظر کښې ساتل په کار دي:

الف. دلته د "فې" توری د "ل" توري په معنی دی، لکه چې نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «دَخَلَتِ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ رَبَطَتْهَا حَتَّى مَاتَتْ»[1] يعني د الله ﷻ د پلوه يوه ښځه د يوې پیشو د کبله معذبه کړی شوه چې تر هغه وخته پورې يې تړلې وه ترڅو چې (د لوږې او تندې) د لاسه مړه شوه.

ب. او د همدغه د ﴿ فِيهَا ﴾ ضمير په وړاندېنۍ عبارت کښې د ﴿ بِرِيحٍ ﴾ کلمې ته راجع دی.

ج. د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴾ کښې د ﴿ خَاوِيَةٍ ﴾ کلمه د "سَاقِطَة" معنی ورکوي[2].

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ای کتونکيه! که بالفرض ته هلته موجود وی نو تا به د دغه شدید باد د کبله عاديان ليدلي وی چې د خرماوو د غورځېدلو ډډونو غوندې په ځمکه باندې بې روحه غورځولی شوي پراته وه.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُنْقَعِرٍ ﴾ [القمر: ۲۰] يعني دغه باد د پښو خايونو څخه عاديان راوويستل او په ځمکه باندې يې داسې وغورځول لکه چې دوی د بېخه وتلي د خرماوو ډډونه وي.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَجَاءَ فِرْعَوْنُ وَمَن قَبْلَهُ ﴾ کښې د "مَن" کلمه د کومو کفري هلاکو شوو قومونو څخه کنايې ده، حال دا چې د عاديانو او ثموديانو ذکر خو په وړاندېنيو ايتونو کښې نازل شوی دی؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې په دغې کلمې سره د عاديانو او ثموديانو څخه په غير نورو کفري هلاکو شوو قومونو ته اشاره ده چې يوازې الله ﷻ وربانديې علم لري او بس.

همدا مضمون په بل ايت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَالَّذِينَ مِن بَعْدِهِمْ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ ﴾ [إبراهيم: ۹] يعني ايا تاسو ته د هغو کسانو خبر نه دی درغلی کوم چې ستاسو څخه پخوا تېر شوي دي چې هغوی د نوح ؑ د قوم او د عاديانو او ثموديانو او هغو کسانو څخه عبارت دي کوم چې د دوی څخه وروسته وه؟، علم وربانديې نه لري مګر الله ﷻ او بس.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۹۵

(۲) لسان العرب ج۱۴ ص۲۴۵؛ المحرر الوجيز ج۱۶ ص۹۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ نَفْخَةٌ وَٰحِدَةٌ ۝١٣ وَحُمِلَتِ ٱلْأَرْضُ وَٱلْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَٰحِدَةً
۝١٤ فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ ٱلْوَاقِعَةُ ۝١٥ وَٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَاهِيَةٌ ۝١٦ وَٱلْمَلَكُ
عَلَىٰٓ أَرْجَآئِهَا ۚ وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَٰنِيَةٌ ۝١٧ يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا تَخْفَىٰ
مِنكُمْ خَافِيَةٌ ۝١٨ ﴾

[۱۳] نو کله چې په شپېلۍ کښې (فقط) يو پوکی وکړی شي.

[۱۴] او (کله چې) ځمکه او غرونه (په زلزلې سره) اوچت کړی شي نو دواړه میده کړی شي يو خل میده کېدل (چې ځمکه هواره کړی شي او غرونه دوړه کړی شي).

[۱۵] نو په دغه وخت کښې به ډېره لويه هيبتناکه پېښه واقع شي.

[۱۶] او (په دغه وخت کښې به) اسمان وچوي، نو اسمان به په دغې ورځ کښې سست (او کاواکه) وي.

[۱۷] او (په دغه وخت کښې به) اسماني پرښتي د اسمان په څنډو باندې (چې لا چاودېدلی نه وي) وي (همدلته به شتون ولري).

او ستا د رب ﷻ عرش به په دغه وخت کښې اته پرښتې (يا د پرښتو اته صفونه) د خپلو ځانونو د پاسه اوچت کړي.

[۱۸] په دغې ورځ کښې به تاسو (تول د حساب کتاب دپاره) وړاندې کړی شئ؛ چې ستاسو څخه به هيڅ پټ شی پټ پاتې نه شي (او تول به ښکاره وگرځي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د قیامت د ورځې هیبتي شان ته اشاره شوې وه چې تکذیب کوونکی یې په دنیا او آخرت دواړو کښې د عذاب سره مخامخ کېږي. او په دې ایتونو کښې د همدغې ورځې د واقع کېدلو د کیفیت بیان ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د قیامت د ورځې د واقع کېدلو څه کیفیات قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ نو کله چې د قیامت د ورځې د قیام دپاره د الله ﷻ په امر په شپېلۍ کښې فقط يو خل پوکی وکړی شي. او همدارنگه کله چې ځمکه او غرونه د خپلو ځایونو څخه اوچت کړی شي نو دواړه به پوره میده‌میده کړی شي يو ځل میده‌میده کېدل.

۲ـ نو په دغه وخت کښې به ډېره غټه هیبتناکه پېښه رامنځته شي او لاندې کارونه به هم صورت ونیسي:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: اسمان به په دغه وخت کښې وچوي او خپل قوت او محکموالی به د لاسه ورکړي بلکې په دغه وخت کښې به اسمان ډېر کمزوری او سست وي.

ب: کومې پرښتې چې په اسمان کښې موجودیت او سکونت لري هغوی به یې تولې څنډو ته رابنکته شي او همدلته به شتون ولري.

ج: په دغه وخت کښې به ستا د رب ﷻ عرش په بلا کیفه توګه اته پرښتې یا د پرښتو اته صفونه د خپلو خانونو د پاسه اوچت کړي.

د: بالآخره په دغه وخت کښې به (ای بنیادمانو!) تاسو د الله ﷻ حضور ته د حساب کتاب دپاره په داسې حال وړاندې کړی شئ چې نه به ستاسو د جملې څخه کوم پټېدونکی پټ پاتې شي او نه به ستاسو د کړو وړو او کارونو څخه کوم پټ شی پټ پاتې شي چې د حساب د تصفیه کولو څخه بچ شي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ ﴾ الآیة- په ارتباط د الله ﷻ په توفیق د [الزمر:۶۸] ایت لاندې بنه پوره بیان تېر شوی دی چې د قیامت د قیام په هکله څو کرته شپېلۍ پوکولی شي؟ چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، خو د مقام په لحاظ وړاندې دغه سوال جواب وراضافه کوو:

که څوک وایي چې: په ذکر شوي ایت شریف کښې کوم ځل شپېلۍ وهل مراد دي، هغه چې دنیا وړاندې ورانېږي او که هغه چې مړي پرې د قبرونو څخه راپورته کېږي؟

مونږ وایو چې: د دغې شپېلۍ په تعین کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ډولونو باندې وېشل شوي دي:

الف: ځینې وایي چې دلته اولنۍ شپېلۍ مطلب ده په کومې سره چې دنیا ورانېږي[1]، چې په همدې جواب باندې متصل ایت ﴿ وَحُمِلَتِ ٱلْأَرْضُ وَٱلْجِبَالُ ﴾ الآیة- دلالت کوي او دا ځکه چې غرونه خو په همدغې شپېلۍ سره د منځه ځي.

دوی وایي چې: د ﴿ وَٱلْمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرْجَآئِهَا ﴾ څخه مطلب دا نه دی چې دغه پرښتې به په اولنۍ شپېلۍ سره مړې نه شي بلکې مطلب یې دا دی چې د اسمان په څنډو باندې د ودرېدلو څخه وروسته به د دوی ارواګانې هم قبض کړی شي.

ب: ځینې نور وایي چې دلته دوهمه شپېلۍ مراده ده په کومې سره چې مړي بېرته راژوندي کېږي[2]. نو کله چې پرښتې راژوندی شي بیا به د اسمان په څنډو باندې ودرېږي.

دوی وایي چې: د ﴿ وَحُمِلَتِ ٱلْأَرْضُ وَٱلْجِبَالُ ﴾ الآیة- څخه د ځمکې هغه تغیر او تبدیل مطلب دی

---

(۱) تفسیر البغوي ج۴ ص۳۸۷؛ تفسیر ابي السعود ج۹ ص۲۴
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۱۴؛ تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۲۶۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کیږي کله چې په (الواقعه: ۴۹) آیت کښې اشاره شوې ده کومه چې د ... صورت شي.

## تبصره

۳ـ مخکې ذکر شوي دي چې په ... کښې د ﴿وَحُمِلَتِ﴾ ﴿فَدُكَّتَا﴾ ﴿دَكَّةً وَاحِدَةً﴾ ... ته اشاره کړې شوې کوم چې په ... شیطان ... کله چې ... مخکښې ... سره تفسیر کړی.[1]

او په دې تقدیر به دا سوال ته حاجت نه وي او نه جواب ته، او د ... مضمون په ... کښې کله چې د شیطان په اول ځل پو کولو سره د قیامت ... پیل شي او ... په ... او ... کار به صورت ونیسي.

او هم باید چې په دې تقدیر د ﴿وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ﴾ آیت تفسیر په لاندې ډول وکړای شي:

الف: د ځمکې اوچتول ... دي لکه چې په دې آیت کښې ... شوی دی چې ﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا﴾ (الزلزلة: ۱) یعنې کله چې ځمکه ... په ... پیل شي.

او د ځمکې ... عبارت دی په دې آیت کښې الله ﷻ فرمایي چې ﴿لَا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا﴾ (طه: ۱۰۷) یعنې الله ﷻ به ځمکه د غرونو ... هواره کړي چې ... او ... نه وي.

ب: د غرونو اوچتول او ... کیدل ته په دې آیت کښې اشاره شوې ده چې ﴿فَكَانَتْ هَبَاءً مُنْبَثًّا﴾ (الواقعة: ۶) یعنې نو غرونه به ... کړی شي ... او ... شي.

## غوره مطالب

۳ـ په ﴿وَالْمَلَكُ عَلَىٰ أَرْجَائِهَا ۚ وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ﴾ کښې لاندې مطالبو ته توجه په کار ده:

الف: د "مَلَك" کلمه ... جنس ده چې ... او ... ته ... دي.[2] په دې مقام کښې ... مطلب دی ... کښې ... دي.

ب: د "أرجاء" کلمه د "رَجَا" ... جمعه ده چې د ... معنی ده لکه چې[3] ... عبد الله بن عباس ... په ... معنی سره تفسیر کړی ده.[4]

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج... ص... حاشیة الشیخ زاده على تفسیر البیضاوي ج... ص...
(۲) روح المعاني ج۲۹ ص...
(۳) لسان العرب ج۱۴ ص۳۱۰
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۱۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: ﴿ رَبِّكَ ﴾ ته د ﴿ عَرْشَ ﴾ اضافت د تشریف او تعظیم دپاره دی[۱] لکه چې په "بَيْتُ اللهِ" کښې د همدغه مطلب دپاره اضافت صورت نیولی دی.

د: زمونږ د أهل السنة والجماعة عقیده دا ده چې الله ﷻ هیڅ مثل نه لري او نه ورسره کوم مخلوق شباهت درلودلی شي.

په دې ایت شریف کښې ځینې بدعتیان الله ﷻ ته په شباهت باندې قائل دي چې دغه ډله د مجسمه وو په نامه یادېږي[۲].

هـ: د ﴿ فَوْقَهُمْ ﴾ ضمیر د ﴿ ثَمَٰنِيَةٌ ﴾ کلمې ته راجع دی[۳] کومه چې په رتبه کښې وړاندې ده چې د ﴿ وَيَحْمِلُ ﴾ دپاره فاعل ده.

و: د ﴿ ثَمَٰنِيَةٌ ﴾ د کلمې تمیز یا املاک "پرښتې" دي او یا صفوف (د پرښتو صفونه) دي[۴].

ز: په هر تقدیر د دغو پرښتو (کومې چې عرش اوچتوي) غټوالی او جسامت مونږ د الله ﷻ په توفیق د یوه حدیث په رڼا کښې د [المؤمن:۷] ایت لاندې لیکلی دی چې د هرې یوې د غوږ د نرمۍ څخه تر اوږو پورې د اوه سوه کالو د منزل مسافه ده.

نو پورتنیو ټکو ته په پام سره د ایت شریف د مضمون لنډیز داسې کېږي چې:

په کوم وخت کښې چې اسمان وچوي نو د اسمان اوسېدونکي پرښتې به د اسمان په هغو څنډو باندې ودرېږي کومې چې لا تر هغه وخته پورې نه وې چاودېدلې، او هم به په دغه وخت کښې ستا د رب ﷻ عظیم الشان عرش اته تنه پرښتې یا اته صفه پرښتې د خپلو سرونو د پاسه اوچت کړي.

## د اخروي حساب مراحل

۴ـ په ﴿ يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ ﴾ الآية کښې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «يُعْرَضُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَ عَرَضَاتٍ فَأَمَّا عَرْضَتَانِ فَجِدَالٌ وَمَعَاذِيرُ وَأَمَّا الْعَرْضَةُ الثَّالِثَةُ فَعِنْدَ ذَلِكَ تَطِيرُ الصُّحُفُ فِي الْأَيْدِي فَآخِذٌ بِيَمِينِهِ وَآخِذٌ بِشِمَالِهِ»[۵] یعني د قیامت په ورځ به د حساب دپاره خلک په لاندې درې مرحلو کښې وړاندې کړی شي:

الف: په یوه مرحله کښې به خلک د خپلو خانونو څخه دفاع خپله کړي او مجرمان به د خپل جرم څخه انکاري وګرځي.

ب: په دوهمه مرحله کښې به (چې هر شی په اثبات ورسېږي) عذرونه وړاندې کېږي.

ج: په درېمه مرحله کښې به جګړو او معذرتونو اختتام موندلی وي نو په دغه وخت کښې به

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۳۲۹

(۲) التفسير الكبير ج۳۰ ص۱۱۱

(۳) تفسير البغوي ج۴ ص۳۸۷؛ المحرر الوجيز ج۱۶ ص۹۸

(۴) تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۱۴؛ زاد المسير ج۸ ص۸۳

(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۶۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اعمالنامې د خلکو په لاسونو کښې والوزي (او تقسیم به شي) چې ځینې کسان به يې په ښي لاس سره رانیوونکي وي او ځینې به يې په چپ لاس سره رانیوونکي وي.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: د ﴿ فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ ﴾ شرطیه جملې دپاره جزائيه جمله کومه ده؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځینو علماوو کرامو ورته د ﴿ يَوۡمَئِذٖ تُعۡرَضُونَ ﴾ جمله جزائيه جمله ګڼلې ده[۱]، مګر بهتره دا ده چې جزائيه جمله به يې ﴿ فَيَوۡمَئِذٖ وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ﴾ وي[۲] لکه چې د مطلب په خلاصه کښې ورته اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

﴿ فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقۡرَءُواْ كِتَٰبِيَهۡ ۝١٩ إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَٰقٍ
حِسَابِيَهۡ ۝٢٠ فَهُوَ فِي عِيشَةٖ رَّاضِيَةٖ ۝٢١ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٖ ۝٢٢ قُطُوفُهَا دَانِيَةٞ ۝٢٣ كُلُواْ
وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَآ أَسۡلَفۡتُمۡ فِي ٱلۡأَيَّامِ ٱلۡخَالِيَةِ ۝٢٤ وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ
فَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُوتَ كِتَٰبِيَهۡ ۝٢٥ وَلَمۡ أَدۡرِ مَا حِسَابِيَهۡ ۝٢٦ يَٰلَيۡتَهَا كَانَتِ ٱلۡقَاضِيَةَ ۝٢٧
مَآ أَغۡنَىٰ عَنِّي مَالِيَهۡۜ ۝٢٨ هَلَكَ عَنِّي سُلۡطَٰنِيَهۡ ۝٢٩ خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ۝٣٠ ثُمَّ ٱلۡجَحِيمَ صَلُّوهُ ۝٣١
ثُمَّ فِي سِلۡسِلَةٖ ذَرۡعُهَا سَبۡعُونَ ذِرَاعٗا فَٱسۡلُكُوهُ ۝٣٢ إِنَّهُۥ كَانَ لَا يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ ٱلۡعَظِيمِ ۝٣٣
وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ۝٣٤ فَلَيۡسَ لَهُ ٱلۡيَوۡمَ هَٰهُنَا حَمِيمٞ ۝٣٥ وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنۡ
غِسۡلِينٖ ۝٣٦ لَّا يَأۡكُلُهُۥٓ إِلَّا ٱلۡخَٰطِـُٔونَ ۝٣٧ ﴾

[۱۹] نو هر هغه څوک چې په خپل ښي لاس سره ورته خپله عملنامه ورکړه شي، نو هغه به وايي چې (اې خلکو! زما عملنامه) واخلئ زما عملنامه ولولئ (چې په ما باندې څومره لوی فضل شوی دی!؟).

[۲۰] یقینًا (په دنیا کښې) ما عقیده (باور) درلود چې بې شکه زه د خپل حساب سره (په آخرت کښې) پیوسته کېدونکی یم.

[۲۱] نو دا (مؤمن) به په داسې ژوند کښې وي چې خوشالي (او رضامندي) به پکښې وي.

[۲۲] (نوموړی به) په داسې لوړ رتبه جنت کښې وي چې:

[۲۳] پخې شوې مېوې به يې (ورته د هر حیثه) نژدې وي.

---

(۱) البحر المحيط ج۱۰ ص۲۵۹

(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۳۲۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۴] (دغو مؤمنانو ته به وویلی شي چې) خورئ او څښئ مبارک خوراک او څښاک، (البته) د هغو (کړو وړو) په سبب کوم چې تاسو په تېرو شوو ورځو کښې وړاندې را استولی وه.
[۲۵] او هر هغه څوک چې خپله عملنامه ورته په خپل چپ (کیڼ) لاس سره ورکړی شي، نو هغه به ووایي چې: ای زما ارمانه (ای کاش) چې ماته خپله عملنامه نه وی راکړه شوی.
[۲۶] او (ای کاش) چې زه نه وی پوه شوی چې زما محاسبه څه شی ده؟
[۲۷] ای ارمانه! (ای کاش!) چې دنیاوي مرګ فیصله کوونکی مرګ وی (چې بیا نه وی راژوندی شوی).
[۲۸] زما مال زما څخه (د عذاب) مخه هیڅ ونه نیوله.
[۲۹] زما څخه خپل سلطنت (او قوت) هلاک شو (تول د منځه لاړ).
[۳۰] (نو د دغه شخص په هکله به پرښتو ته امر ورکړی شي چې) دا ونیسئ او غوراب یې کړئ.
[۳۱] بیا یې په سوزوونکي دوزخ کښې وروغورزوئ (ورتېل یې وهئ).
[۳۲] بیا یې په داسې زنځیر کښې ورننباسئ (ترې چاپېر یې کړئ) د کوم ګز (اوږدوالی) چې اویا ګزه دی.
[۳۳] یقیناً دغه شخص (په دنیا کښې) وه چې په عظیم الشان الله ﷻ باندې یې ایمان نه راووړ.
[۳۴] او (هم) یې د مسکین په خوراک باندې تېزول نه کول (او نه یې پخپله خوراک ورکاوه).
[۳۵] نو نن ورځ په دې ځای کښې نوموړي ته ګرم دوست نشته (چې د عذابه یې بچ کړي).
[۳۶] او نه (ورته) خوراک شته مګر د زوو (او مردارو بهېدونکو اوبو) څخه.
[۳۷] دا خوراک بل څوک نه خوري مګر قصدي عصیان کوونکي (او قصدي غلط کاران).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د اخروي حساب نتائجو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! په خپل امت باندې د اخروي حساب نتائج قرائت کړه چې په دریمه مرحله کښې به یې ټول خلک په لاندې دوه وو ګروپونو ووېشلی شي:
۱ـ ځینو خلکو ته به په ښي لاس باندې عملنامې ورکړی شي چې څه حالات یې دا دي:
الف: نو دغه کسان به ډېر زیات خوشاله وي، حتی چې د ډېرې خوشالۍ د کبله به نارې وهي چې ای خلکو! تاسو راشئ او زما عملنامه واخلئ او ویې لولئ چې ماته الله ﷻ څومره لویه سرلوړي راپه برخه کړې ده؟!.
ب: ای خلکو! د دغه اعزاز او سرلوړۍ وجه دا ده چې یقیناً ما په دنیا کښې باور کاوه چې د حساب کتاب ورځ راتلونکې ده او زه ورسره هرومرو پیوسته کېدونکی یم.
ج: نو د دغه ډول اعمالنامو خاوندان به په داسې معیشت کښې شتون ولري چې ډېر به پکښې خوشاله وي او د خپل رب ﷻ څخه به راضي وي. او دا څکه چې:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: دوی به هلته په عالي شان جنت کښې استوګنه لري چې د دغه جنت میوجات به ورته ډېر نږدې وي چې په هر حالت او هر وخت کښې به ترې استفاده کولی شي چې نه به په ونه کښې ختلو ته اړتیا لري او نه به د دنیاوي میوجاتو غوندې موسمي وي.

هـ: دغو کسانو ته به د الله ﷻ د پلوه وویلی شي چې ای جنتیانو! په جنت کښې د هر ډول خوراکونو څخه خورئ او د هر ډول څښاکونو څخه څښئ، البته دا د هغو عملونو په سبب کوم چې تاسو په تېرو شوو ورځو کښې ترسره کړي دي.

۲ـ ځینو خلکو ته به په چپ لاس اعمالنامې ورکړی شي چې د هغوی د حالاتو څه نمونې دا دي:

الف: د دغو خلکو هر یو کس به په افسوس او حسرت سره ووایي چې: ای کاش چې ماته خپله دغه غمژنه اعمالنامه نه وی راکړی شوې.

ب: ای کاش! چې زه هیڅ پوه شوی نه وی چې زما محاسبه څه ده؟ یا په بل عبارت چې هیڅ محاسبه راسره نه وی شوې.

ج: ای کاش! چې اولنی مرګ فیصله کوونکی مرګ وی چې د هغه څخه وروسته زه هیڅ نه وی راژوندی کړی شوی او د خاورو سره خاورې پاتې شوی وی.

د: ډېر حسرت او افسوس دی چې زما څخه خپلو مالونو او ثروتونو د عذاب مخه هیڅ ونه شوه نیولی او په هیڅ درد راته دوا نه شوه.

هـ: ډېر حسرت دی چې ټول قوت او سلطه مې د منځه لاړه او زه یوازې تنها بې قوته او بې مدده پاتې شوم.

و: په دغه کس باندې به د الله ﷻ د پلوه د عذاب پرښتو ته امر صادر کړی شي چې:

اول: ای پرښتو! دغه د چپ لاس د عملنامې خاوند ونیسئ او غوراب یې کړئ، او بیا یې په ډېر توهین سره دوزخ ته ورتېل وهئ او پکښې داخل یې کړئ.

دوهم: بیا هم دغه کس په داسې اوږد درانه اوسپنیز زنځیر کښې ننباسئ د کوم ګزونه چې اویاوو ګزونو ته رسېږي. یا په بل عبارت: په دغه زنځیر باندې یې وتړئ او ترې راچاپېر یې کړئ چې په ټول بدن باندې یې احاطه وکړي.

ز: د نوموړي په هکله به څکه ذکر شوی د تعذیب امر صادر کړی شي چې هغه په دنیا کښې د لاندې خاصیتونو درلودونکی وه:

اول: نوموړي په عظیم الشان الله ﷻ باندې شرعي عقیده نه درلوده بلکې په عبادت کښې یې ورسره شریک یا شریکان درول.

دوهم: نوموړي د بندګانو حقوق هم د پښو لاندې کړي وه چې نه یې مسکینانو ته خوراک او څښاک ورکاوه او نه یې دغه کار ته نور خلک هڅول بلکې د نورو خلکو د ورکړې په وړاندې به خنډ واقع کېده او مناع للخیر وه.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ح: نو دغه کس ته نن ورځ په دې ځای کښې کرم او مخلص دوست نشته چې شفاعت یې وکړي او یا ورسره د تعذیب څخه د نجات په هکله څه مرسته وکړي.

ط: همدارنګه نن ورځ نوموړي دوزخي کس ته نور څه خوراک نشته مګر د دوزخیانو زوې او مرداري اوبه، چې د همدې څخه به یې خوراک وي.

البته دغه ډول پلیت خوراک نه خوري مګر هغه کسان کوم چې خطاکاران وي چې نه یې عقیده سمه وي او نه عمل، او په قصدي توګه د عصیان مرتکب شوي وي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ هَآؤُمُ ٱقۡرَءُواْ كِتَٰبِيَهۡ ﴾ کښې د ﴿ هَآؤُمُ ﴾ کلمه اسم فعل ده چې د "خُذُوا" معنی ورکوي[۱] او مفعول یې مقدر دی چې مونږ ترې په "كِتَابِي" سره تعبیر کولی شو چې د ﴿ كِتَٰبِيَهۡ ﴾ کلمه ورباندې دلالت کوي[۲]. یعنې اى خلکو! زما علمنامه واخلئ، زما عملنامه ولولئ چې د خپل رب ﷻ د پلوه راباندې څومره لوی احسان شوی دی؟!.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: ایا هغه عاصي مؤمن ته هم په ښي لاس عملنامه ورکوله کېږي په کوم باندې چې د الله ﷻ په نزد د دوزخ دوره تېرول حتمي وي؟

مونږ وایو چې: نوموړی کس هیڅوک د اصحاب الشمال څخه نه ګڼي[۳] خو د دې سره-سره علماء کرام پکښې په لاندې ډول اختلاف لري[۴]:

الف: ځینې وایي چې نوموړي ته به د دوزخي دورې د تېرولو څخه وړاندې د محشر په میدان کښې په ښي لاس عملنامه ورکړی شي خو دومره خوندوره به نه وي چې خلک یې قرائت ته وروبلي.

ب: ځینې وایي چې د نوموړي کس سره به دغه کار د دغې دورې څخه وروسته صورت ونیسي.

ج: بالآخره ځینو پکښې توقف غوره کړی دی. والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال وإليه المرجع والمآل.

## د سکتې "ه" ګانې

۳_ په ﴿ حِسَابِيَهۡ ﴾ کښې د "ه" توری ضمیر نه دی چې مرجع وغواړي بلکې د سکتې "ه" ده چې صرف په وقف کښې د دې دپاره زیاتېږي ترڅو د وروستني حرف حرکت د سقوط څخه بچ کړي[۵] لکه چې په دې مقام کښې یې د "ي" حرکت (فتحه) د سقوط څخه ساتلې ده. خو دغه "ه" په وصل کښې پخپله د سقوط سره مخامخه کېږي.

---

(۱) القاموس المحيط ج۴ ص۴۷۰

(۲) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۵۳۸

(۳) روح المعاني ج۲۹ ص۵۲

(۴) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۹۹؛ البحر المحيط ج۱۰ ص۲۶۰

(۵) تفسير ابى السعود ج۹ ص۲۵

ذکره شوې "هٔ" په قرآن کريم کښې په اتو (۸) کلمو پورې پيوسته شوې ده چې ﴿ كِتَٰبِيَهۡ ﴾، ﴿ حِسَابِيَهۡ ﴾، ﴿ كِتَٰبِيَهۡ ﴾، ﴿ حِسَابِيَهۡ ﴾، ﴿ مَالِيَهۡ ﴾، ﴿ سُلۡطَٰنِيَهۡ ﴾ شپږ کلمې په همدغې مجموعه کښې نازلې شوې دي په کومه کښې چې بحث روان دی، او يوې کلمې ﴿ ٱقۡتَدِهۡ ﴾ په [الانعام: ۹۰] ايت کښې وړاندې نزول موندلی دی، او بله کلمه يې په ﴿ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا هِيَهۡ ﴾ [القارعة: ۱۰] ايت کښې وروسته راروانه ده.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: په ښې لاس سره د عملنامې ورکول خو د علم او ايمان نتيجه ده نه د ګومان او شک، نو په کار وه چې مؤمن سړی د "ظَنَنْتُ" په عوض "عَلِمْتُ" او "آمَنْتُ" ووايي؟!

مونږ وايو چې: د "ظَنّ" کلمه په ځينو وختونو کښې د علم په ځای استعمالېږي[۱]، چې په دې مقام کښې د ﴿ ظَنَنتُ ﴾ کلمه د همدغه "ظَنّ" څخه اشتقاقه شوې ده کوم چې د علم او ايمان معنی ورکوي.

دا هم څه لرې نه ده چې مؤمن سړی به د ډېر خوشالۍ د کبله خپله خوله اداره نه شي کړی او د "عَلِمْتُ" يا "آمَنْتُ" په عوض به په غلطۍ سره "ظَنَنْتُ" ووايي. لکه چې نبي کريم ﷺ د توبې په يوه حديث کښې د همدغه ډول لفظي خطا يوه مثال ته اشاره کړې ده[۲].

## قطف څه معنی؟

۵_ په ﴿ قُطُوفُهَا دَانِيَةٞ ﴾ کښې د "قُطُوف" کلمه د "قِطْف" _لکه "عِلْم"_ جمعه ده او د هغې ميوې نوم دی کومه چې د پوخوالي د کبله د ونې څخه راشکولو ته تياره وي[۳]. يعنې د جنت ميوجات به هم د راشکولو د حيثه نژدې وي چې په ناسته او ملاسته بلکې په هر حال به راشکېدی شي، او هم به د وخت د حيثه ډېرې نژدې وي چې په هر وخت کښې به پخې وي او د دنيا د ميوجاتو په شان به موسمي نه وي چې په ځينو وختونو کښې پخېدو ته نژدې وي او په ځينو کښې لرې وي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ که څوک وايي چې: په ﴿ يَٰلَيۡتَهَا كَانَتِ ٱلۡقَاضِيَةَ ﴾ کښې د "ها" ضمير څه شي ته راجع دی؟

مونږ وايو چې: دغه ضمير "الْمَوْتَة الْأُولَى" ته راجع دی په کوم باندې چې مقام دلالت کوي[۴] او حکمي مذکور دی. يعنې ای کاش! چې همغه اولنی دنياوي مرګ فيصله کوونکی مرګ وی چې وروسته ترې بېرته نه وی راژوندی شوی او په همغه مرګ باندې هرڅه پای ته رسېدلي وی.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۶۲۷
(۲) صحيح مسلم ج۲ ص ۳۵۵
(۳) تفسير القرطبي ج۱۸ ص ۲۷۰
(۴) روح المعاني ج۲۹ ص ۴۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د چا په ګز؟

۷_ په ﴿ ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا ﴾ کښې د "ذراع" کلمه هغه اوږدوالي ته وضعه شوې ده کومه چې د لاس د منځنۍ ګوتې د څوکې څخه پيل کېږي او د څنګلې په آخر باندې تماميږي[۱]، چې په پښتو کښې ورته ګز وايي.

خو په دې مقام کښې ترې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په نزد د پرښتې ګز مطلب دی[۲]، نو په دغه ګز سره اويا ګزه اوږد زنځير يوازې الله ﷻ ته معلوم دی او بس. خو په يوه حديث کښې ورباندې نبي کريم ﷺ څه رڼا اچولې ده چې فرمايلي يې دي: «لَوْ أَنَّ رَصَاصَةً مِثْلَ هَذِهِ أُرْسِلَتْ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ وَهِيَ مَسِيرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ لَبَلَغَتِ الْأَرْضَ قَبْلَ اللَّيْلِ وَلَوْ أَنَّهَا أُرْسِلَتْ مِنْ رَأْسِ السِّلْسِلَةِ لَسَارَتْ أَرْبَعِينَ خَرِيفًا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ قَبْلَ أَنْ تَبْلُغَ أَصْلَهَا أَوْ قَعْرَهَا»[۳] يعنې بالفرض که چرته د دغې (کوپړۍ) په اندازه سرپ د اسمان څخه ځمکې ته راخوشې کړی شي حال دا چې دا مسافه د پنځه سوه کاله مزل مسافه ده، نو ځمکې ته به د شپې څخه وړاندې ورسېږي (چې لا بېګاه شوی به نه وي). او يقينًا که بالفرض همدغه د کوپړۍ په اندازه سرپ د هغه زنځير د سر څخه ښکته خوشې کړی شي (کوم چې په دوزخ کښې ښکته غځېدلی دی) نو څلوېښت کاله به شپه او ورځ لاړ شي البته وړاندې د دې چې د زنځير بېخ يا د دوزخ ژوروالي ته ورسېږي.

يا په بل عبارت ذکره شوې کوپړۍ به په څلوېښتو کلونو کښې هم د زنځير د يو سر څخه بل سر ته ونه رسېږي، چې کفار به په همدغه زنځير کښې رانغاړل کېږي.

## غسلين څه معنی؟

۸_ په ﴿ وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ ﴾ کښې د ﴿ غِسْلِينٍ ﴾ کلمه هغو مردارو اوبو او زوو ته وضعه شوې ده کومې چې په دوزخ کښې د دوزخيانو د بدنونو څخه بهېږي[۴]، په همدې معنی سره ځينو مفسرينو کرامو تفسيره کړې ده[۵].

## سوالونه او جوابونه

۹_ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې راولاړېږي:

الف: که څوک وايي چې: د ﴿ وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ ﴾ څخه حصر معلومېږي چې د دوزخيانو خوراک فقط د ﴿ غِسْلِينٍ ﴾ په نامه طعام دی، حال دا چې په بل ايت کښې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ لَيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِنْ ضَرِيعٍ ﴾ [الغاشية:۶] يعنې دوزخيانو ته هيڅ طعام نشته مګر د ضريع څخه

---

(۱) لسان العرب ج۸ ص۹۳
(۲) تفسير ابن کثير ج۴ ص۴۱۶
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۸۶؛ مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۶۳۵
(۴) مفردات الراغب ص۳۷۳
(۵) تفسير البغوي ج۴ ص۳۹۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(چې تفسير يې په طول ځای کېښې راروان دی).

موږ وايو چې: دغه کلي حصر نه دی چې اعتراض وارد شي بلکې اضافي حصر دی چې د ځينو حالاتو او ځينو اشخاصو په ارتباط په صورت ونيسي[۱].

ب. که څوک وايي چې په ﴿ لَا يَأْكُلُهُۥٓ إِلَّا ٱلْخَٰطِـُٔونَ ﴾ کښې د "خاطئون" کلمه د "خطأ" لکه "شرف" څخه اشتقاقه شوې ده، او "خطأ" د هغه عصيان نوم دی په کوم باندې چې د الله ﷻ په وړاندې څوک نه نيول کېږي، حال دا چې دا معنی دلته صحت نه لري؟!

موږ وايو چې: ذکره شوې کلمه د "خطأ" لکه "شرف" څخه نه ده اشتقاقه شوې ترڅو اعتراض وارد شي بلکې د "خطأ" لکه "علم" څخه يې اشتقاق موندلی دی، چې د قصدي عصيان معنی ورکوي په کوم سره چې د الله ﷻ په وړاندې مواخذه او نيونه شته[۲]. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا كَبِيرًا ﴾ [الإسراء: ۳۱] يعنې يقينًا د خپلو اولادونو وژل ډېره لويه قصدي خطاکاري او ګناه ده.

﴿ فَلَآ أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٨﴾ وَمَا لَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿٤٠﴾ وَمَا هُوَ

بِقَوْلِ شَاعِرٍ ۚ قَلِيلًا مَّا تُؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾ تَنزِيلٌ مِّن

رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ ٱلْأَقَاوِيلِ ﴿٤٤﴾ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِٱلْيَمِينِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ

لَقَطَعْنَا مِنْهُ ٱلْوَتِينَ ﴿٤٦﴾ فَمَا مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَٰجِزِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِنَّهُۥ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ

﴿٤٨﴾ وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنكُم مُّكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾ وَإِنَّهُۥ لَحَسْرَةٌ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٠﴾ وَإِنَّهُۥ لَحَقُّ

ٱلْيَقِينِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٥٢﴾ ﴾

[۳۸] نو (دغسې نه ده لکه چې مشرکان خيال کوي) زه په هغو شيانو سوګند يادوم کوم چې تاسو يې ګورئ.

[۳۹] او په هغو شيانو (هم سوګند يادوم) کوم چې تاسو يې نه ګورئ.

[۴۰] چې يقينًا دا (قرآن کريم) د باکرامته رسول (من حيث رسول) قول دی.

[۴۱] او چې دا (قرآن کريم) نه د شاعر قول دی، (خو) ډېر لږ وخت تاسو ايمان راوړئ (او بيا عنادًا کفر ته ادامه ورکوئ).

[۴۲] او چې نه دا (قرآن کريم) د جوګي قول دی، (خو) ډېر لږ وخت تاسو پند اخلئ (او بيا عنادًا د پند نه اخستلو ته ادامه ورکوئ).

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۳۳۸؛ تفسير المظهري ج۱۰ ص۵۶

(۲) لسان العرب ج۱ ص۶۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۳] (او چې دا قرآن کريم) د رب العالمين د پلوه نازل کړی شوی دی.

[۴۴] او که (بالفرض المحال) محمد ﷺ په مونږ باندې د خبرو ځينې خبرې دروغې ترلې (او راتپلې) وي.

[۴۵] نو هرومرو به مونږ د ده ښخه د ده ښي لاس نيولی وی.

[۴۶] بيا به مو (بلا تشبيه د جلاد غوندې) د ده ښخه د ده د زړه رګ پرې کړی وی (نو سمدستي به وژلی شوی وی).

[۴۷] نو (په دغه وخت کښې) به ستاسو هيڅوک د ده د (وژلو) ښخه مخه نيوونکی نه وی (او نه به تاسو د مخنيوي توان درلودلی وی).

[۴۸] او يقيناً دا قرآن کريم (د قيامت تر ورځې پورې) د متقيانو دپاره د عبرت درس دی (چې همدوی ترې ګټه پورته کوي).

[۴۹] او يقيناً مونږ هرومرو پوهېږو چې بې شکه ستاسو د جملې ښخه ځينې کسان (د دې قرآن کريم) تکذيب کوونکي دي (نو ضرور به سزا ورکړو)!

[۵۰] او يقيناً دا قرآن کريم په کفارو باندې هرومرو حسرت دی (چې د ايمان د راوړلو ارمان به وکړي).

[۵۱] او يقيناً دا قرآن کريم هرومرو حق يقين دی (بالکل محض يقين دی).

[۵۲] نو (ای پيغمبره!) ته د خپل عالي شان رب ﷻ نامه ته د پاکۍ نسبت کوه (او خپل ځان ته داډ ورکوه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د قيامت تر ورځې د ښه حالاتو بيان نازل شوی وه چې د نبي کريم ﷺ د نبوت د اثبات دپاره يې د دلايلو حيثيت درلود.

په دې ايتونو کښې همدغه مطلب (د نبوت اثبات) په نورو اساليبو سره څرګند شوی دی چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د خپل نبوت د اثبات دپاره د الله ﷻ د پلوه خپل دعوتي امت مخاطب کړه او ورته ووايه چې:

۱ـ ای خلکو! او په ځانګړي توګه ای مشرکانو! دغسې نه ده لکه چې تاسو اټکل کوئ او محمد ﷺ د نبوت په دعوه کښې دروغژن ګڼئ، چې خپل کلام ته په دروغو سره د الهي کتاب لقب ورکوي ترڅو ورته پيروان مونده کړي. او دا خکه چې:

زه په هغو شيانو سوګند يادوم کوم چې تاسو يې ګورئ او کوم چې تاسو يې نه ګورئ. بلکې زه په ټولو مشاهداتو او مغيباتو باندې سوګند يادوم:

الف: چې يقيناً دا قرآن کريم د دې حيثه د محمد ﷺ قول نه دی چې د ځانه يې جوړ کړی دی او

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ ته یې منسوب کړی دی، بلکې د دې حیثه یې قول دی چې د الله ﷻ لېږلی شوی بلده دی او د نبوت په کرامت سره مکرم ګرځولی شوی دی.

ب چې دا قرآن کریم د دې حیثه هم د محمد ﷺ قول نه دی چې هغه ﷺ د شاعرانو څخه یو شاعر دی. خو ډېر لږ وخت تاسو په دې مطلب باندې عقیده خپلوئ بلکې بالکل وربانده عقیده نه خپلوئ.

ج چې دا قرآن کریم د دې حیثه هم د هغه ﷺ قول نه دی چې هغه ﷺ د کاهنانو څخه یو کاهن دی او د جوګیانو څخه یو جوګی دی. خو تاسو ډېر لږ وخت پند اخلئ؛ بلکې بالکل پند نه اخلئ.

د چې دا قرآن کریم د رب العالمین د پلوه نازل کړی شوی دی تر څو د قیامت تر ورځې پورې د خلکو دپاره رحمت او لارښود وګرځي.

۲_ ای خلکو! که بالفرض المحال محمد ﷺ په مونږ باندې د خبرو څخه څینې خبرې بلکې فقط یوه خبره په دروغو راتړلې او راتپلې وی، نو هرومرو او ضرور به مونږ هغه ﷺ ته د یوه جنایتکار او مجرم په حیث دنیاوي سزا هم ورکړې وی. نو په دغه وخت کښې به ورته ستاسو د جملې څخه هیڅا نجات نه وی ورکړی او نه به ورته نجات ورکوونکی جوړ شوې وی.

یا په بل عبارت په دغه وخت کښې به وربانده مونږ یو جلاد مسلط کړی وی چې د ښي لاسه یې ونیسي او په تورې سره یې شارګونه پرې کړي او سر یې د تنې څخه جدا کړي.

۳_ کله چې مونږ د محمد ﷺ سره ذکره شوې عملیه نه ده اجراء کړې او نه یې ورسره اجراء کوو بلکې روزمره ورته ترقي ورکوو او مسلک یې تائیدوو، نو معلومه شوه چې هغه ﷺ د نبوت په دعوه کښې رښتینی دی او قرآن کریم په حقه د الله ﷻ د پلوه نازل کړی شوی دی ترڅو ترې د قیامت تر ورځې پورې ټول مؤمنان او متقیان ګټه اوچته کړي او پند ترې واخلي.

۴_ ای خلکو! مونږ پوهېږو چې ستاسو د جملې څخه څینې کسان د قرآن کریم او د پیغمبر ﷺ تکذیب کوي او په دواړو باندې د کفر غوره کوونکي دي، خو دغه کسان به هرومرو د خپل تکذیب او کفر غوره کولو سزا وګوري، او د سخت حسرت او افسوس سره به مخامخ شي. او دا څکه چې یقینًا دا قرآن کریم بالکل سوچه باور او یقین دی چې د شک او شبهې دپاره پکښې هیڅ ځای نشته. او نه پکښې د ګوتې ایښودلو ځای شته.

۵_ ای پیغمبره! کله چې کفار او په خاصه توګه مشرکان په ذکرو شوو دلایلو او سوګندونو سره هم ایمان او باور نه خپلوي نو ته وربانده دومره مه غمژن کېږه چې د ډېره غمه خپل ځان د هلاک سره مخامخ کړي. بلکې ته په دغه وخت کښې د خپل لوی رب ﷻ تسبیحات وایه او په همدې سره خپل مبارک زړه ته تسکین او ډاډ ورکوه.

## توضیحات

۱_ په ﴿ فَلَآ أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ ۝ وَمَا لَا تُبْصِرُونَ ﴾ کښې د ﴿ فَلَآ أُقْسِمُ ﴾ جمله د [الواقعة: ۷۵] ایت لاندې ښه پوره شرحه شوې ده _والحمد لله ﷻ_، چې بیا شرحه کولو ته یې څه اړتیا نه ګورو.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه په دې ایتونو کښې دېته اشاره ده چې: ټول مشاهدات او ټول مغیبات د دغه څرګند د جواب په حقانیت باندې دلالت کوي. د مثال په توګه:

الف: د مشاهداتو د دلالت یوه مثال ته په [الأنبیاء:۲۲] ایت کښې اشاره شوې ده چې که بالفرض المحال په اسمانونو او ځمکو کښې د الله ﷻ څخه پرته په حقه بل معبود یا معبودانو شتون درلودی نو موجوده نظام به د منځه تللی وی.

ب: د مغیباتو یو مثال په [هود:۴۹] ایت کښې تېر شوی دی چې که محمد ﷺ په حقه پیغمبر نه وی نو د پخوانیو زمانو حالات به یې کټ مټ او هو بهو نه وی قرائت کړي.

ج: د مغیباتو د بل مثال څه شرحه د [حم السجدة:۵۳] ایت لاندې تېره شوې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ چې د قیامت تر ورځې پورې به وخت په وخت د اسلام د دین د حقانیت دلایل څرګندېږي او د قیامت په ورځ خو به یې په حقانیت باندې ټول انکار کوونکي هم اعتراف او اقرار وکړي.

## څو پوښتنې او د هغو جوابونه

۲ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې پیدا کېږي:

الف: که څوک وایي چې د ﴿ إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴾ غوندې یو بل ایت په عین کلماتو سره وروسته په [التکویر:۱۹] کښې راروان دی، چې د ﴿ رَسُولٍ ﴾ کلمه پکښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په جبرائیل ﷺ سره تفسیره کړې ده[1]. نو پوښتنه دا ده چې: تاسو په څه دلیل د ﴿ رَسُولٍ ﴾ کلمه دلته په محمد ﷺ سره تفسیره کړه؟

مونږ وایو چې: دلته په دغه تفسیر باندې د ﴿ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ﴾ او ﴿ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ ﴾ تعقیبونه دلالت کوي. او دا ځکه چې مشرکانو خو دغه دروغین لقبونه نبي کریم ﷺ ته ورکول، نه جبرائیل ﷺ ته.

ب: که څوک وایي چې د ﴿ قَلِيلًا مَّا تُؤْمِنُونَ ﴾ او د ﴿ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴾ دواړو جملو څخه څرګندېږي چې مشرکانو لږ وخت ایمان راووړ او لږ وخت یې پند اخست، حال دا چې هغوی خو د دغو دواړو څخه مطلقًا انکاري وه؟!

مونږ وایو چې: د دغه اعتراض د مخنیوي دپاره ځینو مفسرینو کرامو په دغو دواړو ایتونو کښې د ﴿ قَلِيلًا ﴾، ﴿ قَلِيلًا ﴾ دواړه کلمې د عدم (نشت) څخه کنایې اخستې دي[2]. او ځینې نور وایي چې هغوی لږ وخت ایمان راووړ او لږ وخت یې پند اخست خو سمدستي یې د عناد په توګه انکار غوره کاوه، او په ژبه یې د کفر اظهار کاوه[3].

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۷۹

(۲) تفسیر الکشاف ج۴ ص۶۰۶؛ زاد المسیر ج۸ ص۸۶

(۳) روح المعاني ج۲۹ ص۵۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدغه ډول ایمان او د همدغه انکار یوه مثال ته د فرعونیانو په هکله په [النحل:۱۴] ایت کښې اشاره شوې ده.

ج: که څوک وایي چې: د دغو دواړو ایتونو ﴿ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ ۝ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ ﴾ تحلیل او تفسیر په څه ډول صورت نیسي؟

مونږ وایو چې: د دغو دواړو ایتونو په تحلیل او تفسیر کښې مفسرینو کرامو ګڼ شمېر اقوال کړي دي[1]. خو کوم تحلیل او تفسیر چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی هغه د الله ﷻ په توفیق په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

اول: د "أَخَذَ يَأْخُذُ" باب کله-کله په حرف جر سره هم متعدي ګرځي[2] چې په دې مقام کښې د دغه استعمال په بنیاد د ﴿ لَأَخَذْنَا ﴾ کلمه د ﴿ بِالْيَمِينِ ﴾ په "ب" سره متعدي ګرځېدلې ده.

دوهم: د ﴿ مِنْهُ ﴾ کلمه په "الْيَمِين" پورې تعلق نیسي او ضمیر پکښې محمد ﷺ ته راجع دی.

درېم: د "الْيَمِين" څخه د همده ﷺ نبی لاس مطلب دی.

څلورم: په ﴿ مِنْهُ الْوَتِينَ ﴾ کښې هم د "مِن" توری په ﴿ الْوَتِينَ ﴾ پورې تعلق نیوونکی دی او ضمیر پکښې محمد ﷺ ته راجع دی.

پنځم: د "وَتِين" کلمه د زړه د هغه رګ نوم دی چې که پرې کړی شي نو د زړه خاوند په حتمي صورت سره مړ کېږي[3].

شپږم: ذکر شوي دواړه ایتونه په دوه وو ډولو معناوو سره تفسیر کېدلی شي چې یوه افرادي معنی ده او بله ترکیبي معنی ده. د دغو دواړو معناوو تعریفونه د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۵۴] ایت لاندې لیکلی شوي دي.

اوم: د افرادي معنی حاصل به داسې راخېژي چې: که بالفرض المحال محمد ﷺ په مونږ باندې کومه دروغینه خبره راتپلې وی نو هرومرو به مونږ د ښي لاسه نیولی وی او د ده د بدن غټ رګ به مو ورپرې کړی وی. لکه چې جلادان د مجرمانو د وژلو په وخت کښې د هغوی ښي لاسونه په خپلو چپو لاسونو سره نیسي او په خپلو ښیو لاسونو سره ترې سرونه الوزوي.

اتم: د ترکیبي معنی حاصل به دا دی چې: که بالفرض المحال محمد ﷺ په مونږ باندې د یوې خبرې دروغ تړلي وی نو هرومرو به مونږ اعدام کړی وی او ژوندی به مو نه وی پرېښی.

د: که څوک وایي چې: په الله ﷻ باندې خو ډېرو کسانو دروغ تړلي دي او خپل خانونه یې پیغمبران تراشلي دي، حال دا چې الله ﷻ ورته ذکره شوې سزا نه ده ورکړې؟

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۲۷۰؛ تفسیر الکشاف ج۴ ص۶۰۷؛ المحرر الوجیز ج۱۶ ص۱۰۴؛ البحر المحیط ج۱۰ ص۲۶۶؛ تفسیر الطبري ج۲۹ ص۶۶

(۲) لسان العرب ج۱۳ ص۴۴۱

(۳) مفردات الراغب ص۵۴۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې ذکره شوې سزا د هر مفتري (دروغ جوړوونکي) دپاره نه ده ټاکلې شوې او نه يې په عموم باندې ايتونه دلالت کوي ترڅو اعتراض وارد شي.

بلکې دغه سزا په محمد ﷺ پورې اختصاص لري چې که بالفرض المحال په الله ﷻ باندې يې دروغ تړلي وي نو دغسې چال چلند به ورسره شوی وي.

ه که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د دروغ تړلو په صورت کښې ذکرې شوې سزا ته په محمد ﷺ پورې اختصاص ورکړی دی؟

مونږ وايو چې: وړاندې په اولنۍ توضيح کښې د الله ﷻ په فضل تېر شوه چې د محمد ﷺ په صداقت او نبوت باندې ټول مشاهدات او ټول مغيبات دلالت کوي او شهادت ورباندې وايي.

نو که بالفرض المحال د دغو بې شمېره دلالتونو او شهادتونو سره- سره هغه ﷺ په الله ﷻ باندې دروغ تړلي وی نو د همدغسې سختې سزا لياقت به يې درلودلی وی.

## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې د دې سورت د پای دوه ايتونه د "الْوَاقِعَة" سورت د پای دوه وو ايتونو [۹۵، ۹۶] ته ورته دي. هلته مونږ د الله ﷻ په توفيق د ﴿ حَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴾ کلمه پوره تحليله کړې ده، او څه احاديث مو هم رانقل کړي دي خو په دې مقام کښې ورباندې اضافه کوو چې:

ځينو علماوو کرامو علم ته د قوت او ضعف په ملحوظ درې مرتبې ټاکلي او ښودلي دي، د مثال په توګه

الف د کعبې شريفې په موجوديت باندې د هر مومن يوهه علم اليقين ده.

ب خو کله چې کعبه شريفه په خپلو سترګو وګوري نو علم اليقين يې د عين اليقين رتبې ته پورته شي.

ج خو که چرته په کعبه شريفه کښې ورننوزي نو عين اليقين به يې د حق اليقين مرتبې ته ورسېږي، چې همدا د علم نهايي مرتبه ده[۱].

په همدې ځای باندې د الله ﷻ په توفيق د "الحاقة" سورت پښتو ترجمه او تفسير ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْ زُمْرَةِ الْمُتَّقِينَ الْمُوقِنِينَ حَقَّ الْيَقِينِ

۱۴۲۵/۸/۱ هـ ق - ۱۳۸۳/۶/۲۵ هـ ش.

---

[۱] اضواء البيان ج۸ ص۴۴۹

# المعارج (۷۰)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (المعارج) د همدې سورت په دریم ایت کښې نازل شوی دی چې په همدې نامه سره دا سورت د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی.

۲ـ دا سورت په اتفاق سره مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳ـ د دې سورت د ایتونو شمېر څلور څلوېښت (۴۴) ایتونو ته رسېږي[۲].

۴ـ د دې سورت د کلماتو شمېر دوه سوه او څلیرشت (۲۲۴) دی[۳].

۵ـ د دې سورت د حرفونو شمېره یو زر او یو شپېته (۱۰۶۱) حرفونو ته پورته شوې ده[۴].

۶ـ دا سورت (المعارج) د وړاندېنې سورت (الحاقة) دپاره د تماموونکي مثال لري، چې په لاندې مطالبو باندې پکښې زیاته رڼا اچولې شوې ده:

الف: د قیامت د ورځې په کیفیاتو باندې.

ب: د دوزخ په عذابونو باندې.

ج: په هغو اسبابو باندې په کومو سره چې سړی د دوزخ د اوره نجات موندلی شي.

د: بالآخره نبي کریم ﷺ ته په داډ او تسلی باندې.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ سَأَلَ سَآئِلُۢ بِعَذَابٖ وَاقِعٖ ﴿١﴾ لِّلۡكَٰفِرِينَ لَيۡسَ لَهُۥ دَافِعٞ ﴿٢﴾ مِّنَ ٱللَّهِ ذِي ٱلۡمَعَارِجِ
﴿٣﴾ تَعۡرُجُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥ خَمۡسِينَ أَلۡفَ سَنَةٖ ﴿٤﴾ فَٱصۡبِرۡ
صَبۡرٗا جَمِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّهُمۡ يَرَوۡنَهُۥ بَعِيدٗا ﴿٦﴾ وَنَرَىٰهُ قَرِيبٗا ﴿٧﴾ يَوۡمَ تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلۡمُهۡلِ ﴿٨﴾
وَتَكُونُ ٱلۡجِبَالُ كَٱلۡعِهۡنِ ﴿٩﴾ وَلَا يَسۡـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمٗا ﴿١٠﴾ يُبَصَّرُونَهُمۡۚ يَوَدُّ ٱلۡمُجۡرِمُ لَوۡ
يَفۡتَدِي مِنۡ عَذَابِ يَوۡمِئِذِۭ بِبَنِيهِ ﴿١١﴾ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَأَخِيهِ ﴿١٢﴾ وَفَصِيلَتِهِ ٱلَّتِي تُـٔۡوِيهِ ﴿١٣﴾
وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا ثُمَّ يُنجِيهِ ﴿١٤﴾ كَلَّآۖ إِنَّهَا لَظَىٰ ﴿١٥﴾ نَزَّاعَةٗ لِّلشَّوَىٰ ﴿١٦﴾ تَدۡعُواْ مَنۡ
أَدۡبَرَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٧﴾ وَجَمَعَ فَأَوۡعَىٰٓ ﴿١٨﴾ ﴾

[۱] تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۲۷۸
[۲] تفسیر البغوي ج۴ ص۳۹۱
[۳] تفسیر الخازن ج۶ ص۳۵۲
[۴] اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۳۴۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه

[۱] یوه (کافر) سوال کوونکي (د نورو په نمایندګی) د واقع کېدونکي عذاب څخه پوښتنه وکړه (چې کله به واقع کېږي او په چا به واقع کېږي؟).

[۲] (دا عذاب) په کفارو باندې داسې (واقع کېدونکی) دی چې مخه نیوونکی ورته نشته.

[۳] (البته) د الله ﷻ د پلوه (ورته مخه نیوونکي او ایساروونکی نشته)، چې الله ﷻ د عالي صفاتو (او د عالي مراتبو) خاوند دی.

[۴] پرښتې او (په خاصه توګه) جبرائیل ﷺ الله ﷻ ته (د اوامرو د اخستلو دپاره) په داسې ورځ کښې وراوچتېږي چې اندازه یې پنځوس زره کاله ده (همدغه د عذاب د واقع کېدلو ورځ ده).

[۵] نو (ای پیغمبره!) ته (د کفارو په عنادي پوښتنو) صبر کوه (البته) جمیل صبر (او خپله حوصله ورباندې مه خرابوه).

[۶] یقیناً دا ورځ کفار (د امکان څخه) لرې ګوري (چې هیڅکله به صورت ونه نیسي).

[۷] او مونږ دا ورځ (وقوعي امکان ته) ډېره نژدې ګورو.

[۸] (دا عذاب) په داسې ورځ کښې (واقع کېدونکی) دی چې اسمان به (یکښې د رنګ د جبڼه) د تېلو د خیرې غوندې وګرځي.

[۹] او غرونه به (یکښې) د رنګه وړیو په شان وګرځي (چې ډاندس کړی شوي وي).

[۱۰] او (په دغې ورځ کښې به) هیڅ کرم دوست د (خپل) کرم دوست څخه پوښتنه نه کوي (چې څه حال یې دی؟).

[۱۱] (سره د دې چې) ګرم دوستان به خپلو ګرمو دوستانو ته وروليدہ کړی شي (نو په غوړلو سترګو به یې ګوري خو پوښتنه به ترې نه کوي).

مجرم بنیادم به د دغې ورځې د عذاب څخه (د نجات په خاطر) خوښوي چې خپل زامن فدیه کړي.

[۱۲] او خپله مېرمنه او ورور (هم).

[۱۳] او خپله هغه کورنۍ (هم) کومې چې ورته خای ورکړی دی (د کومې څخه چې نوموړی جدا شوی دی او د کومې چې جزء دی).

[۱۴] او ټول هغه کسان (هم) کوم چې په ځمکه کښې شتون لري. (د دې دپاره به ذکره شوې فدیه ورکول خوښوي چې) بیا ورته فدیه ورکول (د عذابه) نجات ورکړي.

[۱۵] دغسې نه ده (چې نجات به ورکړي)، یقیناً دا (دوزخ) سوچه لمبه ده.

[۱۶] (دا دوزخ) د مجرم بنیادم د سر د پوستکي (او د اندامونو) د بېخه ویستونکی دی.

[۱۷] دا دوزخ به (خپل خان ته) هغه څوک وربولي چا چې (اسلام ته) شا ورګرځولې وي او (د ایمان راوړلو څخه یې) مخ اړولی وي.

[۱۸] او چا چې (مالونه) جمعه کړي وي او ساتلي یې وي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د هغه عذاب په هکله د کفارو پوښتنه راحکایته شوې ده کوم ته چې د وړاندې سورت (الحاقة) د وروستنیو ایتونو په ﴿ وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنكُم مُّكَذِّبِينَ ﴾ کښې اشاره شوې وه، چې ای خلکو! مونږ ته ستاسو د جملې څخه تکذیب کوونکی معلوم دي نو مونږ به ضرور د خپلو کړو وړو سزا ورکړو. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په "بسم الله الرحمن الرحیم" سره په خپل امت باندې د کفارو پوښتنه او د هغې جواب قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ یو کافر د نورو کفارو په استازیتوب ستا څخه د هغه عذاب په هکله پوښتنه او غوښتنه وکړه په کوم سره چې مونږ هغوی وډار کړه.

د پوښتنې صورت حال یې دا دی چې دا عذاب به په چا باندې نازل شي او کله به نازل شي؟ کله به تحقق مونده کړي؟

۲ـ ته ورته په جواب کښې ووایه چې:

الف: دا عذاب په کفارو باندې واقع کېدونکی دی چې بالکل به ترې نجات مونده نه کړي.

ب: دغه عذاب ته د الله ﷻ د پلوه هیڅ ایسارونکی او ایسارول نشته، او د الله ﷻ څخه په غیر یې هیڅوک د ایسارولو توان نه لري، نو ضرور به واقع کېږي.

ج: دا عذاب هغې ورځې ته ټال دی په کومه کښې چې الله ﷻ هر اطاعت کوونکي ته د هغه د اطاعت په مطابق فضائل او درجات ورېښي. او دا ځکه چې الله ﷻ د زښتو ډېرو درجاتو او مراتبو درلودونکی او خاوند دی.

۳ـ ای پیغمبره! کفارو ته په صراحت سره ووایه چې ذکر شوی وعده کړې شوی عذاب به په هغې ورځ کښې صورت ونیسي په کومه کښې چې پرښتې عموماً او جبرائیل ﷺ خصوصاً د الله ﷻ حضور ته د ارشاداتو د اخستلو دپاره پورته کېږي.

د کومې اندازه چې د شروع څخه تر پایه پورې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کاله ده، په کومه کښې چې د سختۍ اندازه د بشر د اټکل څخه وتلې ده.

۴ـ ای پیغمبره! کله چې ذکره شوې ورځ راروانه ده نو ته د کفارو په اوتو بوتو او عنادي پوښتنو او غوښتنو مه غمژن کېږه بلکې ښایسته صبر ورباندې وکړه چې درجات دې لا اوچت او لوړ شي.

۵ـ کفار ذکرې شوې ورځې ته تیاري نه نیسي ځکه چې لرې یې ګڼي بلکې په وقوعې امکان باندې ورته قائل نه دي، حال دا چې مونږ یې ډېره نژدې ګورو چې راروانه ده، نو ځینې کیفیات او خاصیتونه یې دا دي:

الف: په دغې ورځ کښې به د اسمان دغه ښایسته شین رنګ پاتې نه شي بلکې داسې به وګرځي لکه د تیلو خیرې او یا لکه زېړ پوستکی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دا قوي غرونه به په ډانډس سره د وهلو شوو وړيو او مالوچو غوندې په هوا کښې ذرې ذرې او گردونه وگرځي.

ج: په دې ورځ کښې به هر څوک په خپل خپل غم کښې ډوب وي او هيڅ يو کلک دوست يا خپل به د بل دوست يا بل خپل څخه پوښتنه نه کوي چې ستا څه حال دی؟. البته د هغه دوست او خپل څخه چې وروبه ښودلی شي او ورته معرفي به کړی شي چې دا فلانی دی، نو د هغه دوست او خپل ياد خو به د هيڅا په ذهن کښې هم نه گرځي کوم يې چې د سترگو څخه پنا وي.

د: په دغې ورځ کښې به هر يو مجرم او جنايتکار دا خوښوي چې د دغې ورځې د عذابه د خپل ځان د نجات دپاره خپل ټول اقارب او خپلوان فديه او قربان کړي. هر يو مجرم به دا آرزو کوي چې خپل زامن او خپله مېرمنه او هم خپل ورور او خپله هغه قبيله د عذاب څخه د خلاصون دپاره فديه وگرځوي د کومې څخه چې نوموړی جدا شوی دی او پکښې زېږېدلی دی چې پنا يې ورکړې ده او د همدې د غړو څخه يو غړی دی.

بلکې په دغې ورځ کښې به مجرم بنيادم آرزو کوي چې هغه ټول کسان کوم چې په ځمکه کښې موجوديت لري فديه او قربان کړي خو چې بيا ورته دغه فديه او قرباني نجات ورکړي.

۶ــ دغسې نه ده چې ذکره شوې فديه او قرباني به ورته نجات ورکړي (او نه به دغه آرزو عملي صورت ونيسي).

۷ــ ای پيغمبره! د دغې ورځې عذاب ډېر سخت دی او دا ځکه چې:

الف: دوزخ سوځه لمبه ده.

ب: دوزخ پوستکی ويستونکی او د اندامونو جدا کوونکی دی.

ج: او هغه څوک خپل ځان ته وربلي چا چې په دنيا کښې اسلام ته شا کړې وي، او د ايمان څخه يې مخ اړولی وي، او په دې باندې علاوه مالونه يې راجمعه کړي وي او بيا يې ساتلي وي چې نه يې پکښې د بندگانو حقوق اداء کړي وي او نه يې د الله ﷻ مالي عبادت ته پاملرنه کړې وي.

## توضيحات

۱ــ په دې مقام کښې د لوستونکي په ذهن کښې لاندې پوښتنې راولاړېدی شي:

الف: که څوک وايي چې: په ﴿ سَأَلَ سَآئِلٌ ﴾ کښې د ﴿ سَآئِلٌ ﴾ کلمه د چا څخه عبارت ده؟

مونږ وايو چې: د دغه سوال کوونکي په تعين کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي چې تقريباً پنځو قولونو ته رسېږي[1].

خو مونږ ته بهتره برېښي چې د دغې کلمې څخه به هغه کافر مطلب وي کوم چې د نورو کفارو په استازيتوب نبي کريم ﷺ ته ذکره شوې پوښتنه راجع کړې وي، برابره خبره ده چې ابو جهل وه او يا کوم بل مشر کافر وه.

(۱) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۲۷۸؛ تفسير ابي السعود ج۹ ص۲۹؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۳۵۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: که څوک وایي چې: دلته د ﴿ بِعَذَابٍ ﴾ څخه دنیاوي عذاب مراد دی او که اخروي؟

مونږ وایو چې: په دې هکله علماء کرام په لاندې دوه وو ډلو وېشل شوي دي:

اول: ځینې وایي چې دلته د دنیاوي عذاب غوښتنې صورت نیولی وه نو په دې تفسیر سره به سوال د غوښتنې معنی ورکړي نه د پوښتنې[۱]. د عذاب د غوښتنې یوه مثال ته په [الأنفال: ۳۲] ایت کښې اشاره شوې ده چې کفارو په خپلو ځانونو باندې د ګانو د باران غوښتنه کړې وه.

دوهم: ځینې نور وایي چې هغوی د اخروي عذاب په اړه نبي کریم ﷺ نه پوښتنه راجع کړې وه چې دغه عذاب به کله نازل شي او په چا باندې به نازل شي"[۲].

نو په دې تفسیر سره به په ﴿ بِعَذَابٍ ﴾ کښې د "ب" توری د "عن" معنی ورکړي[۳] او په ﴿ لِّلْكَـٰفِرِينَ ﴾ کښې به د "ل" توری د "علی" په معنی سره استعمال شي[۴]، چې جاره حرفونه یو د بل په ځای استعمالېږي.

ج: که څوک وایي چې: په پورتنیو دوارو ډلو کښې د کومې ډلې تفسیر راجح دی؟

مونږ وایو چې: مونږ ته ـ والله ﷻ اعلم ـ دوهم تفسیر په زړه پورې برېښي او دا څکه چې:

اول: د ایتونو په ذکره شوې مجموعه کښې د قیامت د ورځې حالات څېړلی شوي او بیان شوي دي، نو بهتره دا ده چې په ﴿ بِعَذَابٍ ﴾ کښې هم د عذاب څخه اخروي عذاب اراده کړی شي.

دوهم: د دغو ایتونو کلمو ته ورته کلمې په نورو ایتونو کښې د اخروي عذاب په اړه نازلې شوې دي چې: ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٌ ۝ مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٍ ﴾ [الطور: ۷، ۸] یعني یقینًا ستا د رب ﷻ عذاب (د قیامت ورځ) واقع کېدونکی دی چې هیڅ مخه نیوونکی ورته نشته.

دریم: د دغو ایتونو مضمون ته ورته مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ أَتَىٰٓ أَمْرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ﴾ [النحل: ۱] یعني ای کفارو! نو تاسو په اخروي عذاب باندې عجله مه کوئ چې د الله ﷻ امر (په همدې هکله) راغلي دي (راغلي یې وګڼئ).

د: که څوک وایي چې: د ذکرې شوې پوښتنې جواب د کوم ایت څخه پیل کېږي؟

مونږ وایو چې: د ذکرې شوې پوښتنې جواب په ﴿ لِّلْكَـٰفِرِينَ ﴾ سره پیل کېږي[۵] او آن تر [۱۸] ایت پورې اوږدېږي.

## معارج څه معنی؟

۲ـ په ﴿ ذِى ٱلْمَعَارِجِ ﴾ کښې د "مَعَارِج" کلمه د اسم ظرف "مَعْرَج" ـ لکه "مَنْصَر" ـ جمعه ده چې د

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۱۸

(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۳۹۲

(۳) البحر المحیط ج۱۰ ص۲۷۱

(۴) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۲۸۴؛ المحرر الوجیز ج۱۶ ص۱۰۷

(۵) روح المعاني ج۲۹ ص۵۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اوچتو ځایونو معنی لري[1] خو په دې مقام کښې علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیر کړې ده[2] لکه اسمانونه او نعمتونه او داسې نور.

مګر بهتره دا ده چې په دې مقام کښې په "المعارج" سره تفسیره شي[3] کومه چې په ﴿رَفِيعُ الدَّرَجَاتِ ذُو الْعَرْشِ﴾ [المؤمن:١٥] ایت کښې نازله شوې ده، او مونږ هلته د الله ﷻ په توفیق [illegible] یوه خبرلې ده چې د عالي صفاتو او یا عالي مراتبو معنی ورکوي.

یعنې د قیامت د ورځې قیام ځکه ضرور دی ترڅو الله ﷻ پکښې ټولو مخلوقاتو ته د خپلو عالي صفاتو مظاهر وروښیده کړي چې هیڅوک ترې انکاري پاتې نه شي.

او یا د دې کبله ضرور ده چې الله ﷻ د زیښتو ډېرو عالي مراتبو خاوند دی او اراده یې کړې ده چې دغه مراتب د استحقاق په تفاوت سره په مؤمنانو باندې توزیع کړي، چې څوک یوه جنت ته ورځي او څوک بل ته او داسې نور.

## دا ورځ څومره اوږده ده؟

٣_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [السجدة ٥] ایت لاندې په لاندې مطالبو کښې بحث کړی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو:

الف: په ﴿فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ﴾ کښې د ﴿يَوْمٍ﴾ څخه د قیامت ورځ مطلب ده، کومه چې په اولنۍ شیبلۍ سره پیل کیږي او هغه وخت ختمیږي کله چې مؤمنان او کافران هره یوه ډله خپلو ـ خپلو دائمي استوګنځایونو ته لاړ شي یا بوتلل شي.

د همدغه مطلب د اثبات دپاره مو هلته یو حدیث هم رانقل کړی دی خو په دې مقام کښې وریاندې یو بل حدیث هم وراضافه کوو چې:

یو ځل د دغې اوږدې ورځې یادونه وشوه، نو چا پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله! دا ورځ څومره اوږده ده؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهُ لَيُخَفَّفُ عَلَى الْمُؤْمِنِ حَتَّى يَكُونَ أَخَفَّ عَلَيْهِ مِنْ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ يُصَلِّيهَا فِي الدُّنْيَا»[4] زما دې په هغه اقدس ذات باندې سوګند وي چې زما روح د همده ﷻ په بلا کیفه لاس کښې دی چې: یقینًا دغه ورځ به هرومرو په مؤمن باندې اسانه (لنډه) کړی شي آن تردې چې په ده به د هغه فرضي لمانځه د اداء کولو څخه هم ډېره اسانه او لنډه کړی شي کوم به یې چې په دنیا کښې اداء کاوه.

ب: مونږ هلته د ذکر شوي ایت (چې د قیامت د ورځې اوږدوالی پکښې پنځوس زره کاله ښودلی شوی دی) او د هغه ایت (چې دغه ورځ پکښې یو زر کاله ښودلې شوې ده) تطبیق هم کړی دی، خو په

---

(١) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج٤ ص٥٤٣

(٢) تفسیر القاسمي ج١٦ ص٢٥٣

(٣) لسان العرب ج٢ ص٣٢١، تفسیر ابن کثیر ج٤ ص٤١٨

(٤) مسند احمد بن حنبل ج٣ ص٧٥

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دې مقام کښې وړاندې یو بل تطبیق هم اضافه کړو چې:

د قیامت ورځ پنځوس مواقفه لري او د هر موقف د اوږدوالي موده یو زر کاله ده. نو هلته فقط د یو موقف ذکر نازل شوی وه او دلته ټولو پنځوس واړو مواقفو ته اشاره شوې ده[1].

## جمیل صبر څه معنی؟

۴ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یوسف:۱۸] ایت لاندې د جمیل صبر تعریف لیکلی دی چې دا د هغه صبر نوم دی په کوم کښې چې د الله ﷻ څخه په غیر بل چا ته شکایت ونه کړی شي او په کوم کښې چې یوازې د الله ﷻ څخه صبر او اجر وغوښتلی شي او بس.

## د "مهل" او "عهن" معناوې

۵ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الكهف:۲۹] ایت لاندې لیکلي دي چې په ﴿ يَوْمَ تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلْمُهْلِ ﴾ کښې د "مُهْل" کلمه د تیلو د خیرې دپاره وضعه شوې ده. شاید د هغه تشبیه به په رنګ کښې ورکړه شوې وي. یعني په هغې ورځ کښې به اسمان داسې رنګ ولري لکه د تیلو خیرې[2] همدغه رنګ ته په [الرحمن:۳۷] ایت کښې د زېږي څرمې (دهان) لقب ورکړی شوی دی.

او په ﴿ وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ﴾ کښې د "عهن" کلمه د هغو رنګه وړیو څخه عبارت ده کومې چې په ډانډس باندې وهلې شوې وي[3] یعني په هغې ورځ کښې به غرونه په هوا کښې داسې تیت شوي ګرځونه وګرځي لکه رنګه وړۍ چې په ډانډس باندې وهلې شوې وي.

## دوه ضمیرونه او دوه لغات

۶ـ په ﴿ ثُمَّ يُنجِيهِ ﴾ کښې مستتر ضمیر "افتداء" ته راجع دی په کوم باندې چې د ﴿ لَوْ يَفْتَدِي ﴾ کلمه دلالت کوي[4]. یعني مجرم بنیادم به خوښوي چې کاش ذکر شوي ټول کسان بې فدیه کړي وی او بیا ورته دغه فدیه کولو د عذابه نجات ورکړی وی.

او په ﴿ إِنَّهَا لَظَىٰ ﴾ کښې د ﴿ إِنَّهَا ﴾ ضمیر جهنم ته راجع دی په کوم باندې چې په ﴿ مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ ﴾ کښې د ﴿ عَذَابِ ﴾ کلمه دلالت کوي[5].

اما د دوه وو لغاتو معناوې په لاندې ډول دي:

الف: د ﴿ لَظَىٰ ﴾ کلمه هغه اور ته وضعه شوې ده چې سوځېدونکې وي، خو د یوه دوزخ نوم هم دی[6].

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۵۷

(۲) تفسیر الكشاف ج۴ ص۶۰۹

(۳) مفردات الراغب ص۳۶۳

(۴) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۱۱۱

(۵) تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۲۸۷

(۶) مفردات الراغب ص۴۷۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. په ﴿ نَزَّاعَةً لِّلشَّوَىٰ ﴾ کښې د "شوی" کلمه د سر پوستکی معنی ورکوي او د بنیادم په اطرافو (اندامونو) کښې هم استعمالیږي[1].

یعنې یقینًا دا دوزخ سوچه لمبه ده او د مجرم د سر د پوستکي او هم یې د اندامونو د بېخه ویستونکی او پرې کوونکی دی.

## هېر مو نه شي

هېر مو نه شي چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [إبراهیم:۱۵] ایت لاندې د یوه حدیث په رڼا کښې لیکلي دي چې د قیامت په ورځ به د دوزخ څخه یوه برخه رابهر شي چې دوه سترګي او دوه غوږونه او هم به ژبه لري. نو څه لرې نه ده چې په ﴿ تَدۡعُواْ مَنۡ أَدۡبَرَ وَتَوَلَّىٰ ﴾ ایت کښې به د دوزخ همدغې برخې ته اشاره وي، والله ﷻ اعلم.

﴿ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعٗا ﴿٢٠﴾ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلۡخَيۡرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾ إِلَّا
ٱلۡمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ ٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ دَآئِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَٱلَّذِينَ فِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ مَّعۡلُومٞ ﴿٢٤﴾
لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ﴿٢٥﴾ وَٱلَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٢٦﴾ وَٱلَّذِينَ هُم مِّنۡ عَذَابِ رَبِّهِم
مُّشۡفِقُونَ ﴿٢٧﴾ إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمۡ غَيۡرُ مَأۡمُونٖ ﴿٢٨﴾ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ ﴿٢٩﴾ إِلَّا
عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ ﴿٣٠﴾ فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ
هُمُ ٱلۡعَادُونَ ﴿٣١﴾ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ ﴿٣٢﴾ وَٱلَّذِينَ هُم بِشَهَٰدَٰتِهِمۡ
قَآئِمُونَ ﴿٣٣﴾ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ﴿٣٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ فِي جَنَّٰتٖ مُّكۡرَمُونَ ﴿٣٥﴾ ﴾

[۱۹] یقینًا انسان بې صبره (او حارص) پیدا کړی شوی دی.

[۲۰] چې کله ورته شر (څه بدي) ورسېږي (نو) بې صبره ګرځي.

[۲۱] او چې کله ورته خیر (څه خوښي) ورسېږي (نو) منعه کوونکی (حارص) ګرځي.

[۲۲] مګر (مؤمنان) لمونځ کوونکي (داسې نه دي).

[۲۳] هغه لمونځ کوونکي کسان چې هغوی په خپلو لمونځونو باندې دوام کوونکي وي (چې ترې نه فوتېږي).

[۲۴] او هغه لمونځ کوونکي کسان د کومو چې په خپلو مالونو کښې معلومه (ټاکلې شوې) برخه وي

---

۱. لسان العرب ج۱۴ ص۴۴۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۵] (البته) د سوال کوونکي فقیر او د نه سوال کوونکي فقیر دپاره.

[۲۶] او هغه لمونځ کوونکي کسان چې هغوی د جزا په ورځ (قیامت) باندې باور (او تصدیق) کوي.

[۲۷] او هغه لمونځ کوونکي کسان چې هغوی د خپل رب ﷻ د عذابه ډارېدونکي وي.

[۲۸] یقیناً د دوی د رب ﷻ عذاب په امن کښې کړی شوی نه دی (چې څوک ترې بې غمه او بې پروا وګرځي)

[۲۹] او هغه لمونځ کوونکي کسان چې هغوی خپلو غلیظو عورتونو ته ساتونکي وي.

[۳۰] مګر (خپل غلیظ عورتونو ته) په خپلو منکوحه ښځو او په هغو وینځو باندې (ساتنه نه کوي) د کومو چې د دوی ښي لاسونه د ملکیت درلودونکي جوړ شوي دي.

نو یقیناً لمونځ کوونکي مؤمنان (په دغو دواړه ډوله زنانه وو باندې) ملامت کړی شوي نه دي.

[۳۱] نو هر څوک چې د دغه دواړه ډوله زنانه وو څخه هاخوا (پرته د دغو دواړو ډلو څخه د جنسي استفادې) غوښتنه وکړي، نو همدغه ډله همدوی (د شرعي چوکاټ څخه) تجاوز کوونکي کسان دي (او د هلوعیت څخه بچ نه دي).

[۳۲] او هغه لمونځ کوونکي چې هغوی خپلو امانتونو او خپلو عهدونو ته پاملرونکي (حفاظت کوونکي) وي (چې نه خیانت کوي او نه بې لوظي).

[۳۳] او هغه لمونځ کوونکي چې هغوی په خپلو شهادتونو باندې ودرېدونکي وي (چې نه په شهادت کښې دروغ وایي او نه تغیر ورکوي).

[۳۴] او هغه لمونځ کوونکي چې هغوی په خپلو لمونځونو باندې په دوامداره توګه حفاظت کوي (چې د ټولو شروطو او حقوقو مراعات یې د نظره نه غورزوي).

[۳۵] (ای پیغمبره!) دغه ډله (بنیادمان د قیامت په ورځ) په جنتونو کښې دي (او همدارنګه د الله ﷻ په نزد) عزتمند ګرځولي شوي دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندنیو ایتونو کښې د دوزخ د اور څخه یادونه شوې وه. په دې ایتونو کښې د هغو لارو چارو بیان نازل شوی دی په کومو سره چې بنیادم د دوزخ د اوره بچ کېږي او په جنت کښې د لوړو درجو او مرتبو موندونکی جوړېږي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د اخروي سخت عذاب د قرائت څخه وروسته لاندې مطالب قرائت کړه:

۱- یقیناً بنیادم د طبیعت په اعتبار سره چې د الله ﷻ توفیق یې ملګری نه وي بې صبره او حارص پیدا کړی شوی دی نو:

الف: کله چې ورته شر او څه نقصان ورسېږي ډېر زیات وارخطا کېږي او د سخت اضطراب څخه مخامخ کېږي (بې صبره جوړېږي).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: بالمقابل کله چې ورته خیر او خوشالي په برخه شي نو په دغه وخت کښې شومتیا غوره کوي او د حرص د سلطې لاندي واقع کېږي.

۲ـ مګر د انسان ذکر شوي خاصیتونه د اصلاح قابلیت لري د همدي کبله د لاندي صفاتو درلودونکي کسان بې صبره او حارصان نه دي:

الف: هغه مومنان چې لمونځ کوونکي وي او د خپلو لمونځونو اداء کولو ته ادامه ورکوي او د فوت کېدلو څخه يې خانونه ساتي.

ب: هغه کسان چې شومان نه وي او په مالونو کښې يې د فقیرانو برخه معلومه وي چې په دوامداره توګه يې ورکوي، او هیڅکله يې مجهوله او هېره شوې نه ګرځوي. برابره خبره ده چې د فقیرانو د برخې معلومیت د شریعت د پلوه صورت نیولی وي لکه فرضي مالي حقوق او یا يې ورته پخپله معلومه ګرځولې وي لکه نفلي مالي عبادتونه او همدارنګه برابره خبره ده چې فقیران سوال کوونکي وي چې خپل فقر څرګندوي او یا سوال کوونکي نه وي چې په ډېرو کسانو باندې يې احتیاج پټ وي او نه پوهېږي چې اړتیا به لري او که نه؟

ج: هغه کسان هم هلوعان (بې صبره او حارصان) نه دي کوم چې د جزا په ورځ باندې عقیده لري او باور يې ورباندې خپل کړی وي نو په خپل هر حرکت کښې يې خیال ساتي.

د: هغه کسان هم کوم چې د خپل رب ﷻ د عذابه ډارېدونکي وي او عقیده لري چې: یقیناً د خپل رب ﷻ عذاب يې داسې نه دی چې څوک به ترې بدون د الله ﷻ د مهربانۍ څخه بچ پاتې شي، بلکې هر چاته يې د رسېدلو خطره شته الا من شاء الله ﷻ.

ه: هغه کسان هم په هلوعانو کښې نه شمېرل کېږي کوم چې د خپلو غلیظو عورتونو ساتونکي وي، او د لاندې مواقعو څخه په غیر يې په بله موقع کښې نه استعمالوي:

اول: خپلې هغه منکوحې زنانه چې شمېر يې د څلورو څخه اوچت نه وي.

دوهم: هغه وینځې کومې چې د دوی په ملکیت کښې شمولیت ولري.

په دغو دواړو مواقعو کښې ورباندې څه ملامتیا نشته چې د خپلو غلیظو عورتونو حفاظت او ساتنه ترې ونه کړي.

هو! هرڅوک چې د ذکرو شوو دواړو ډولونو زنانه وو څخه په غیر د بلې موقع څخه خپل عورتونه ونه ساتي او په نورو مواقعو کښې خپلې شهوتي غوښتنې پوره کړي نو یقیناً همدغه کسان د شریعت د څوکاټ څخه تجاوز کوونکي کسان دي او په هلوعانو کښې شمولیت لري.

و: هغه کسان هم د هلوعیت صفت نه لري کوم چې د خپلو امانتونو حفاظت کوي او د خیانت څخه پکښې خانونه ساتي.

او همدارنګه د خپلو عهدونو، وعدو او ژمنو رعایت هم د نظره نه غورځوي چې بې وفايي او بې لوظي وکړي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ز_ هغه کسان هم هلوعان نه دي چي په خپلو شهادتونو باندي کلک ولاړ وي چي د دروغو د شهادت څخه خپل ځانونه ساتي او حق شهادت نه پټوي.

ح_ بالآخره هغه کسان هم د هلوعیت صفت نه لري کوم چي په خپلو لمونځونو باندي محافظت کوي او په شروطو او ارکانو کښي يې نواقص نه راولي.

۳_ نو ای پیغمبره! دغه ډله کسان کوم چي د پورتنيو صفاتو درلودونکي دي همدوی د اخروي عذاب څخه د نجات خاوندان دي او د الله ﷻ په نزد په جنتونو کښي معزز، مکرم او ښاغلي گرځولی شوي دي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴾ کښي د "هلوع" کلمه د "هلع" _لکه "شرف"_ څخه اشتقاق شوې ده چي د حرص او بې صبرۍ معنی ورکوي[۱]. په دي مقام کښي په وروستي متصلو دواړو آیتونو کښي ډېره ښه تفسیره شوې ده چي په دواړو کښي يې صبرۍ او حرص ته اشاره شوې ده، هغه دا:

## يو نحوي تحليل

۲_ په ﴿ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا ۝ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلْخَيْرُ مَنُوعًا ﴾ کښي د ﴿ جَزُوعًا ﴾، ﴿ مَنُوعًا ﴾ دواړو کلمو ته مقدرو (كان، كان) كلمو نصبونه ورکړي دي[۲]. يعني کله چي انسان ته شر ورسیږي نو بې صبره گرځي او وارخطا کيږي او کله چي ورته خير ورسيږي نو حارص جوړيږي او هيچا ته يې ښېگڼه نه رسيږي.

دا د يو پلوه او د بله پلوه د ذکر شوي ايت معنی دا نه ده چي په انسان کښي د صبر او قناعت استعداد نشته بلکي معنی يې دا ده چي انسان د هلوعيت او عدم هلوعيت په دواړو استعدادونو سره پيدا کړی شوی دی، نو که شريعت يې لاس نيوی ونه کړي او الله ﷻ ورته توفيق ورنه کړي ضرور د هلوعيت څخه کار اخلي او خپل ځان په اور کښي اچوي.

که بالفرض په انسان کښي د عدم هلوعيت استعداد موجود نه وی نو د ﴿ إِلَّا ٱلْمُصَلِّينَ ﴾ الآيات_ تعقيب په هيڅ معنی نه درلودی.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چي: په ﴿ إِلَّا ٱلْمُصَلِّينَ ﴾ کښي د "مصلين" کلمي څخه خو مومنان مطلب دي، يعني انسان د هلوعيت درلودونکی دی مگر په انسانانو کښي مومنان هلوعان نه دي، نو د څه حکمت په بنياد په دي مقام کښي د مومنانو څخه په لمونځ کوونکو سره تعبير نازل شو؟

موږ وايو _والله ﷻ اعلم_ چي: د دغه ډول تعبير په نزول کښي مومنان په غوږ وهلی شوي دي

---

[۱] لسان العرب ج۸ ص۳۷۳

[۲] تفسير القرطبي ج۱۸ ص۲۹۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې ستاسو دپاره د هلوعیت څخه د بچ کېدلو ډېره بهتره ذریعه لمونځ دی او دا ځکه چې ﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ﴾ [العنکبوت:۴۵] یعنې یقینًا لمونځ د بې شرمه کارونو او په شریعت کښې د ناآشنا کارونو څخه لمونځ کوونکی منعه کوي.

## په یاد ولرئ

۴ـ په یاد ولرئ چې د دغو ایتونو په ورته مضامینو سره د "المؤمن" سورت په شروع کښې هم ایتونه نازل شوي دي چې مونږ د الله ﷻ په توفیق هلته ښه شرحه کړي دي او لاندې موضوعګانې مو پکښې څېړلي دي:

الف: ګنهګار مومن هم په یوې وجې سره بریالی دی (من وجه په جنت کښې مکرم دی).

ب: د لمانځه په حقوقو باندې پاملرنه (البته د احادیثو په رڼا کښې).

ج: د غلیظو عورتونو ساتل او په همدې هکله احادیث.

د: ښځو ته جواز نه لري چې د خپلو غلامانو څخه د جنسي ارتباط استفاده وکړي.

ه: د اهل التشیع په نزد مشهوره متعه جائزه نه ده.

و: د خپلې منکوحې او خپلې مملوکې ښځې څخه پرته د استمناء (د مني ویستلو) ټول صورتونه غیر شرعي دي لکه لواط او څارویو ته ورتګ او داسې نور.

ز: د "امانات" کلمه ټولو حقوق الله او ټولو حقوق العباد ته شمولیت لري.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایي چې: د ایتونو په دغې مجموعه کښې د لمانځه په هکله د ﴿عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَآئِمُونَ﴾ او د ﴿عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ﴾ کلماتو نزول موندلی دی، نو په لمانځه باندې د دوام او په لمانځه باندې د محافظت ترمنځ څه توپیر شته؟

مونږ وایو چې[۱]: په لمانځه باندې د دوام معنی دا ده چې لمونځ فوت نه کړی شي او په خپلو اوقاتو کښې ورته ادامه ورکړی شي. په همدې هکله نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَإِنَّ أَحَبَّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ مَا دَامَ وَإِنْ قَلَّ»[۲] یعنې او یقینًا الله ﷻ ته ډېر محبوب عمل هغه دی کوم چې دوامداره وي که څه هم لږ وي.

او په لمانځه باندې د محافظت معنی دا ده چې د ارکانو ساتنه یې وکړی شي چې نه یې په شروطو کښې څه نواقص واقع کړی شي او نه په حقوقو کښې.

د همدې مطلب په ارتباط د [المؤمنون:۲] ایت لاندې متعدد احادیث رانقل کړی شوي دي، والحمد لله ﷻ.

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۶۴
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۸۷۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ فَمَالِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قِبَلَكَ مُهْطِعِينَ ﴿٣٦﴾ عَنِ ٱلْيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ عِزِينَ ﴿٣٧﴾
أَيَطْمَعُ كُلُّ ٱمْرِيٍٕ مِّنْهُمْ أَن يُدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٍ ﴿٣٨﴾ كَلَّآ إِنَّا خَلَقْنَٰهُم مِّمَّا يَعْلَمُونَ
﴿٣٩﴾ فَلَآ أُقْسِمُ بِرَبِّ ٱلْمَشَٰرِقِ وَٱلْمَغَٰرِبِ إِنَّا لَقَٰدِرُونَ ﴿٤٠﴾ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ وَمَا
نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴿٤١﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوضُواْ وَيَلْعَبُواْ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴿٤٢﴾
يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴿٤٣﴾ خَٰشِعَةً أَبْصَٰرُهُمْ
تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمُ ٱلَّذِى كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾ ﴾

[۳۶] نو هغو کسانو لره څه دي (څه شی ورباندې باعث دی) کومو چې کفر غوره کړی دی چې ستا طرف ته درخغاستونکي دي؟

[۳۷] چې ستا د ښي طرف څخه او ستا د چپ طرف څخه ډلې-ډلې کیناستونکي دي (ترڅو ستا دعوت بې اثره کړي او ملنډې درباندې ووهي).

[۳۸] ایا د دوی څخه هر یو سړی تمه کوي چې د نعمتونو جنت ته به داخل شي؟

[۳۹] دغسې نه ده. یقیناً مونږ (ټول) خلک د هغه شي څخه پیدا کړي دي په کوم چې دوی پوهېږي (چې هغه شی د نطفې څخه عبارت دی).

[۴۰] نو دغسې نه ده (چې دوی به بیا ژوندي نه کړی شي).

زه د مشرقونو او مغربونو په رب سره سوګند یادوم، چې یقیناً مونږ قدرت درلودونکي یاستو.

[۴۱] (البته) په دې باندې چې د (موجوده ابدانو څخه) به یې غوره (ابدان) بدیل وګرځوو (په قوي څېرو کښې به یې راژوندي کړو). او مونږ عاجز کړی شوي نه یاستو (چې د ارادې مخه مو بنده کړی شي).

[۴۲] نو (ای پیغمبره!) مشرکان پرېږده چې باطلو مشغولتیاوو او لوبو ته تر هغه وخته پورې ادامه ورکړي ترڅو چې دوی د خپلې هغې ورځې سره ملاقي شي د کومې چې ورته وعده ورکوله کېږي.

[۴۳] هغه ورځ چې دوی به (پکښې) د قبرونو څخه تلوار کوونکي را اوځي (او د محشر میدان ته به په داسې جلتۍ سره ځغلي) لکه چې یقیناً دوی د بوتانو (عبادت) ته په جلتۍ سره ورځغلي.

[۴۴] (البته) په داسې حال کښې چې سترګې به یې ذلیله وي او ذلت به پټ کړي وي.

(ای پیغمبره!) دا هغه ورځ ده د کومې چې (په دنیا کښې) ورته وعده ورکړی شوې وه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د هغو کسانو ذکر نازل شوی وه کوم چې د نبي کریم ﷺ په اتباع سره د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هلوعیت (بې صبرۍ او حرص) څخه بچ شوي دي او په جنت کښې معزز ګرځولی شوي دي.

په دې ایتونو کښې د هغو کسانو څه حالاتو ته اشاره شوې ده کوم چې په هلوعیت باندې ککړ دي او د نجات په وسائلو باندې ملنډې او مسخرې کوي، نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د مؤمنانو (لمونځ کونکو) د حالت څخه وروسته په خپل امت باندې د هلوعانو (مشرکانو) حالت قرائت کړه هغه دا چې:

۱_ مشرکان او کفار د هرې خوا څخه تاته په توندۍ سره درځغلي او ستا په ښي اړخ او چپ اړخ کښې ډلې-ډلې کښېني ترڅو په تاباندې ملنډې ووهي او مسخرې درباندې وکړي.

په دوی باندې څه باعث دی چې دغه کار ته یې لاس اچولی دی؟ د دغه کار په خپلولو کښې یې څه ګټه ده؟ او دا ورته په څه درد خوري؟

دوی ته په کار وه چې تاته په ځغاسته درغلي وی او ستا په حضور کښې یې د زده کوونکو او شاګردانو په حیث کیناستل غوره کړي وی.

۲_ ایا د مشرکانو هر یو کس دا تمه لري چې د هلوعیت او شرک سره-سره به د نعمتونو جنت ته ورداخل شي؟

۳_ دغسې نه ده لکه چې دوی تمه کوي او دا ځکه چې:

یقینًا مشرکان په هغه شي باندې علم لري او هغه شی پېژني د کوم څخه چې مونږ د هغوی په شمول ټول بنیادمان جوړ کړي او پیدا کړي دي چې هغه د سپکې او حقیرې نطفې څخه عبارت دی.

نو د دغه حقارت او سپکوالي څخه هغه څوک د عزت او کرامت مقام ته اوچتېږي کوم چې ستا اتباع او پیروي خپله کړي او خندنۍ درپورې ونه کړي.

۴_ نو مونږ یو ځل بیا وایو چې دغسې نه ده لکه چې مشرکان تمه لري:

۵_ مونږ د مشرقونو او مغربونو د رب ﷻ په نامه سوګند یادوو. یا په بل عبارت مشرقونه او مغربونه دلالت کوي چې:

الف: مونږ دنیا عبثه نه ده پیدا کړې، او مونږ قدرت درلودونکي یاستو چې کفار د بیا راژوندي کولو په وخت کښې په بهترو اشخاصو او بدنونو سره عوض کړو چې:

د دنیاوي بدنونو څخه هغوی ته بهتر بدنونه ورکړو په کومو باندې چې مرګ نه ورځي او د بل وار دپاره بالکل محوه او د منځه تلل نه قبلوي.

ب: مونږ په دغه کار کښې د مغلوبیت سره مخامخ کېدونکي نه یاستو چې څوک مو د ارادې په وړاندې خنډ واقع شي او بیا راژوندي کولو ته مو پرېښږدي.

۶_ نو ای پیغمبره! د مشرکانو په کړنلاره باندې خپله حوصله مه خرابوه او پرې یې ږده چې په مسخرو او ملنډو او هم په لوبو او عبثیاتو کښې تر هغې مشغول شي ترڅو د هغې ورځې سره ملاقي شي د کومې چې ورته وعده ورکړه شوې ده، په کومه کښې چې لاندې حالات راتلونکي دي:

الف: په دغې ورځ کښې به مشرکان د خپلو قبرونو څخه د محشر میدان ته داسې په جلتۍ سره

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورځغلي لکه چې دوی نن ورځ په دنيا کښې خپلو بوتانو ته په جلتۍ سره ورځغلي ترڅو ورته په عبادت سره خپل سرونه ټيټ کړي.

ب: په دغې ورځ کښې به د مشرکانو او کفارو سترګې ډېرې عاجزې او ډېرې خړې وي او په مخونو باندې به يې د ذلت او حقارت نښې د ورايه څرګندې وي چې د هيچا څخه به پټې نه وي.

۷ـ ای پيغمبره! دا هغه ورځ ده د کومې چې ورته په دنيا کښې وعده ورکړه شوې وه او د کومې راتګ يې چې تکذيباوه.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ قِبَلَكَ مُهْطِعِينَ ﴾ کښې د ﴿ مُهْطِعِينَ ﴾ کلمه د "إِهْطَاع" ـ لکه "إِكْرَام" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [إبراهيم:۴۳] ايت لاندې ليکلي دي چې "إِهْطَاع" هغې ځغاستې ته ويل کېږي د کومې سره چې ډار ملګرى وي. يعنې کفارو ته څه دي چې ستا طرف ته په ځغاسته د دې ډاره درځغلي هسې نه چې ستا دعوت څوک قبول کړي؟

## "عِزَة" څه معنى؟

۲ـ په ﴿ عَنِ ٱلْيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ عِزِينَ ﴾ کښې د ﴿ عِزِينَ ﴾ کلمه جمعه ده چې مفرد يې اصلاً "عِزْوَةٌ" ـ لکه "نِعْمَةٌ" ـ وه خو د "و" توري په حذف سره تري "عِزَةٌ" ـ لکه "عِدَةٌ" ـ جوړ شو. د "عِزَة" کلمه د "عَزَاء" ـ لکه "صَبَاح" ـ څخه اشتقاقه شوې ده او باب يې "رَضِيَ، يَرْضَي" دی چې د صبر معنى ورکوي او د همدې کبله غمژن بنيادم ته د صبر او استقامت توصيه کولو ته "تَعْزِيَة" وايي[۱].

مګر د خلکو د ډلې دپاره هم وضعه شوې ده[۲] چې په دې مقام کښې همدغه معنى مراده ده، او دا څکه چې په حرم شريف کښې به مشرکانو د نبي کريم ﷺ شاوخوا ډلې جوړولې او په مؤمنانو پورې به يې ملنډې وهلې.

د هغوی د ملنډو څخه يوه دا هم وه چې ويل به يې چې که بالفرض دغه کسان (مؤمنان) جنت ته داخل شي لکه چې محمد (ﷺ) ورباندې قائل دی، نو هرومرو به مونږ د دوی څخه لا وړاندې داخل شوي ياستو[۳].

نو الله ﷻ د هغوی ذکره شوې فرضيه هم رده کړه چې: ﴿ أَيَطْمَعُ كُلُّ ٱمْرِيٍٕ مِّنْهُمْ أَن يُدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٍ ﴾ يعنې ايا د مشرکانو هر يو سړی تمه لري چې د نعمتونو جنت ته به داخل شي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په ﴿ مِّمَّا يَعْلَمُونَ ﴾ کښې د "مَا" کلمه د څه شي څخه کنايي ده؟

---

(۱) لسان العرب ج۱۵ ص۵۲
(۲) القاموس المحيط ج۳ ص۲۲۰
(۳) تفسير المراغي ج۲۹ ص۷۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: دغه کلمه د "نطفې" څخه کنايي ده[1] چې په بل ايت کښېورباندې تقريباً صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ ﴾ [المرسلات: ۲۰] يعنې ای خلکو! ايا مونږ تاسو له د حقيرو اوبو (نطفې) څخه نه ياست پيدا کړي؟!.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: مونږ د مشرکانو په شمول ټول خلک د هغې نطفې څخه پيدا کړي دي چې دوی ورباندې ښه پوره علم لري او په حقارت سره يې پېژني، نو ايا مونږ د قدرت درلودونکي نه ياستو چې د دوهم ځل دپاره يې د خاورو څخه را اوچت کړو او بيا يې ژوندي وګرځوو؟ نو ايا مونږ به خلک بدون د ايمانه او بدون د صالحه اعمالو څخه جنت ته ورداخل کړو؟ ايا مونږ به د مؤمن او کافر عاقبت يو برابر وګرځوو؟ هيڅکله به داسې ونه کړو.

## هېر مو نه شي

۴ـ هېر مو نه شي چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د ﴿ فَلَآ أُقْسِمُ ﴾ جمله د [الواقعة:۷] ايت لاندې پوره شرحه کړې ده، او د "الْمَشَارِقِ، الْمَغَارِبِ" دواړه کلمې مو د [الصافات:۵] ايت لاندې ښې تحليلې کړې دي چې بيا شرحه کولو او بيا تحليلولو ته يې اړتيا نه ګورو.

## دوه ډوله تفسير

۵ـ مفسرينو کرامو د ﴿ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ ﴾ د جملې مضمون په لاندې دوه وو ډولونو سره اخستی دی:

الف: يعنې مونږ قدرت درلودونکي ياستو چې مشرک قوم د دوی څخه په بهتر قوم باندې عوض کړو چې محوه يې کړو او په بدل کښې يې په نورو بهترو خلکو سره ځمکه اباده کړو[2].

همدا مطلب په بل ايت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ وَإِن تَتَوَلَّوْا۟ يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓا۟ أَمْثَٰلَكُم ﴾ [محمد:۳۸] يعنې او که تاسو دين ته شا ورواړوئ نو الله ﷻ به ستاسو په بدل کښې بل قوم پيدا کړي چې هغوی به بيا ستاسو غوندې دين ته شا وراړوونکي نه وي.

ب: يعنې مونږ قدرت درلودونکي ياستو چې د بيا راژوندي کېدو څخه منکران د قيامت په ورځ په بهترو بدنونو سره بيا راژوندي کړو چې د دوهم ځل دپاره به نه فنا کېږي او نه به محوه کېږي[3].

## تبصره

۶ـ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسيرونه د مفهوم په لحاظ صحت لري او د بدليت په ملحوظ دواړه اراده کېدلی هم شي مګر د مقام په منظور دوهم تفسير غوره دی چې خبره د بعث بعد الموت په منکرانو کښې روانه ده.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۱۱۷
(۲) تفسير الطبري ج۲۹ ص۸۷؛ تفسير البغوي ج۴ ص۳۹۶
(۳) تفسير ابن کثير ج۴ ص۴۲۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "إِيفَاض" څه معنی؟

۷ـ په ﴿ كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴾ کښې د ﴿ يُوفِضُونَ ﴾ کلمه د "إِيفَاض" ـلکه "إِكْرَام"ـ څخه اشتقاق شوې ده چې د مجردو مصدر يې "وَفْض" ـلکه "ضَرْب"ـ دی، او د منډو او ځغاستلو معنی ورکوي[۱]. يعني کفار به د قيامت په ورځ د محشر ميدان ته په داسې توندۍ او جلتۍ سره ورځغلي لکه چې په دنيا کښې دوی خپلو بوتانو ته ورځغلي او منډې وروهي ترڅو يې عبادت وکړي او سرونه ورته ټيټ کړي.

## درې جلتۍ او درې غرضونه

۸ـ په دې مقام کښې د مشرکانو دریوو جلتيو ته اشاره شوې ده چې د دريوو غرضونو دپاره به يې صورت نيوه او يا به صورت ونيسي هغه دا چې:

الف: مشرکان به د نبي کريم ﷺ شاوخوا ته د دې دپاره په ځغاسته او جلتۍ سره ورتلل ترڅو د ده ﷺ د دعوت اثر د منځه یوسي او څوک په ايمان مشرف نه شي ﴿ فَمَالِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قِبَلَكَ مُهْطِعِينَ ﴾.

ب: هغوی به خپلو بوتانو ته په جلتۍ او توندۍ سره ورځغاستل ترڅو په عبادت کښې اخلاص څرګند کړي ﴿ كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴾.

ج: هغوی به د قيامت په ورځ د بيا راژوندي کېدلو په وخت کښې د حشر ميدان ته د حساب کتاب دپاره په چټکۍ سره ورځغلي ﴿ يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ سِرَاعًا ﴾.

د "المعارج" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهُلُوعِيَّةِ وَالْكُفْرِ وَالشِّرْكِ، بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ.

۱۴۲۵/۸/۱۸ هـ ق = ۱۳۸۳/۷/۱۱ هـ ش.

---

[۱] القاموس المحيط ج۴ ص۶۲۷؛ مفردات الراغب ص۵۶۵

# نوح (۷۱)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ دا سورت (نُوح) په همدغه نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی او همدارنګه همدا نوم ورته د یوه عنوان حیثیت هم لري چې د پیل څخه تر پایه پورې ټول سورت د نوح ﷺ په حالاتو مشتمل دی.

۲ـ دا سورت په اتفاق سره مکي دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳ـ د دې سورت د ایتونو شمېر اته ویشتو (۲۸) ته رسېږي[۲].

۴ـ او د کلماتو تعداد یې دوه سوه او څلیرشتو کلمو (۲۲۴) ته پورته شوی دی[۳].

۵ـ بالآخره د تورو شمېر یې یو کم یو زر (۹۹۹) توري دي[۴].

۶ـ په دې سورت کښې د نورو مکي سورتونو غوندې عمومًا او د وړاندېني سورت (المعارج) غوندې خصوصًا د عقیدوي موضوعاتو بیان نازل شوی دی لکه د الله ﷻ توحید او د انبیاوو نبوت او همدارنګه بعث بعد الموت او داسې نور. مګر دومره تفاوت سره لري چې دلته همدغه مطالب د نوح ﷺ د مبارکې خولې څخه راحکایت شوی دي چې دوهم آدم او د انسانانو دوهم پلار دی. دا د دې دپاره چې ترڅو د قیامت تر ورځې پورې ټولو کفارو ته څرګنده شي چې:

الف: د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام تګلاره یوه ده او په عقیدوي احکامو کښې هیڅ تفاوت سره نه لري.

ب: نبي کریم ﷺ کوم نوی دین نه دی راوړی چې کفارو ترې نفرت خپل کړی دی بلکې همغه دین یې راوړی دی کوم چې نوح ﷺ خپل قوم ته وروړی وه.

ج: د هغې زمانې کفارو چې کله د خپل پیغمبر (نوح ﷺ) دعوت قبول نه کړ نو بنیاد ویستونکی عذاب وربانډې ورنازل کړی شو.

باید د دې زمانې کفار هم د دعوت د عدم قبول په صورت کښې د دغسې انجام څخه ودار شي، ایا دوی په هغوی باندې څه فضیلت لري؟

د: باطل معبودان د خپلو عابدینو په درد نه دوا کېږي که نه نو د نوح ﷺ د قوم په درد به دوا شوي وی او د غرق مخه به یې ترې نیولې وی، حال دا چې همدغه قوم د شرکي عقیدې بنیاد اېښودونکی وه.

۷ـ دا سورت د قیامت تر ورځې پورې د دین داعیانو ته د دعوت طریقه ورزده کوي چې دعوت څنګه وچلوي او څومره حوصله او صبر وکړي؟

۸ـ بالآخره په دې سورت کښې نبي کریم ﷺ ته د اشارې په توګه داډ او تسلي ورکړه شوې ده چې د

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۲۹۲
(۲) تفسیر البغوي ج۴ ص۳۹۷
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۳۸۰
(۴) تفسیر الخازن ج۶ ص۳۶۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کفارو په ستغو سپورو خبرو، ملنډو او خندنیو باندې خپل استقامت خراب نه کړي، او د اولو العزمو پیغمبرانو علیهم السلام غوندې خپلې تګلارې ته په پوره صبر او ثبات سره ادامه ورکړي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿إِنَّآ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ أَنْ أَنذِرْ قَوْمَكَ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝١ قَالَ
يَٰقَوْمِ إِنِّى لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ۝٢ أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ ۝٣ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ
وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ إِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ إِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُ ۖ لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ۝٤﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] یقینًا مونږ نوح علیه السلام خپل قوم ته لیږلی وه چې د هغه وخت څخه وړاندې خپل قوم وډار کړه چې دردناک عذاب ورته ورشي (ورباندې نازل شي).

[۲] نوح علیه السلام وویلې چې: ای زما قومه! یقینًا زه ستاسو د پاره (د الله ﷻ د پلوه) ښکاره ډاروونکو (پیغمبر) یم.

[۳] چې تاسو یوازې د الله ﷻ عبادت وکړئ او یوازې د همده ﷻ څخه وډار شئ او (بالآخره) زما اطاعت وکړئ (د پیغمبر په حیث مې قبول کړئ).

[۴] ترڅو الله ﷻ تاسو ته ستاسو. د ګناهونو څخه ځینې ګناهونه (چې د کفر په حال کښې بې مرتکب شوي یاست) وبښي، او د ټاکلې نېټې پورې مو وروسته کړي.

یقینًا د الله ﷻ ټاکلې نېټه چې کله راشي (ورسېږي) نو نه شي وروسته کیدی. که تاسو یاست (چې په خیر او شر باندې) پوهېږئ (نو دغه کار وکړئ او ایمان راوړئ).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندیني سورت (المعارج) د ایتونو په وروستني مجموعه کښې د مشرکانو هغې بدې وضعې ته اشاره شوې وه کومې ته به چې هغوی د نبي کریم ﷺ په وړاندې صورت ورکاوه چې ملنډې به یې ورباندې وهلې.

په دې ایتونو کښې د نوح علیه السلام ذکر نازل شوی دی چې خپل قوم به ورسره د همدغې بدې وضعې څخه کار اخست چې په نتیجه کښې د ځرمې هلاک شوه او دنیا په نورو خلکو اباده کړی شوه، نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! بسم الله کړه او په خپل امت باندې د نوح علیه السلام څه حالات قرائت کړه هغه دا چې:

۱ ـ یقینًا مونږ نوح علیه السلام خپل قوم ته د پیغمبر په صفت لیږلی وه چې:

الف: ته خپل قوم ډېته دعوت کړه چې د شرکي عقیدې څخه لاس واخلي او الله ﷻ په وحدانیت سره وپېژني.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: که هغوی ستا دعوت قبول نه کړي نو د دردناک عذاب سره به مخامخ شي. نو ته هغوی ودار کړه چې د دردناک عذاب د ورتګ څخه وړاندې د توحید عقیده خپله کړي.

۲_ نوح ﷺ د ذکر شوي ارشاد په بنیاد خپل قوم مخاطب کړ چې ای زما قومه!:

الف: یقینًا زه ستاسو دپاره د دنیاوي او اخروي دواړو عذابونو څخه څرګند داروونکی یم چې رسالت مې په معجزاتو سره په اثبات رسېدلی دی.

ب: ستاسو څخه زما غوښتنه دا ده چې تاسو یوازې د الله ﷻ عبادت وکړئ او د همده ﷻ څخه ودار شئ، په عبادت کښې ورسره شریک مه پیدا کوئ.

ج: تاسو زما اطاعت وکړئ او زه چې درته څه توصیه کوم هغه په عمل سره قبوله کړئ ځکه چې زه د الله ﷻ رښتیانی پیغمبر یم.

د: که تاسو ذکر شوي ارشادات قبول کړئ نو الله ﷻ به تاسو ته ستاسو هغه خینې ګناهونه وبښي د کومو چې تاسو په جاهلیت کښې مرتکب شوي یاست.

او همدارنګه به الله ﷻ د ارشاداتو د قبول په صورت کښې تاسو هغې نېټې ته وروسته کړي کومه یې چې ستاسو دپاره په همدغه تقدیر ټاکلې ده، که نه نو د الله ﷻ ټاکلې نېټه چې کله پوره شي او د تاخیر شرط یې تحقق ونه مومي نو هغه هیڅکله نه وروسته کېږي او ضرور واقع کېږي.

ه: که تاسو یاست چې په خیر او شر باندې پوهېږئ نو دعوت قبول کړئ چې په همدغه کار کښې مو خیر او د عمر اوږدوالی نغښتی دی.

## توضیحات

۱_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۵۹] ایت لاندې د نوح ﷺ په هکله لاندې مطالب څېړلي دي چې بیا لیکلو ته یې ارتیا نه ګورو:

الف: نوح ﷺ هغه اولنی پیغمبر دی چې د بوت پرستی د محوه کولو دپاره یې دعوت چلولی دی، چې د ده ﷺ څخه وړاندې دغه ډول کفر موجودیت نه درلود.

ب: اولنی پیغمبر چې قوم یې د کفریاتو په ارتکاب سره هلاک شوی دی هغه نوح ﷺ دی.

ج: په ټولو پیغمبرانو کښې اوږد عمری پیغمبر نوح ﷺ دی چې ټول عمر یې (د روایاتو په اختلاف سره) څوارلس نیم سوه (۱۴۵۰) کاله وه.

د: د نوح ﷺ پلار "لمك" _لکه "شرف"_ نومېده، چې د افغانستان د لغمان په ولایت کښې په یوه قبر باندې خلک ګومان کوي چې د نوح ﷺ د پلار قبر دی.

ه: نوح ﷺ د قابیل په سلسله د آدم ﷺ د اولادې څخه شمېرل کېږي چا چې خپل ورور (هابیل) وژلی وه.

و: د نوح ﷺ سره په بېړۍ کښې فقط اتیا (۸۰) کسانو نجات موندلی وه چې څه تفصیل یې د [هود ۲۵_ ۴۹] ایتونو په تفسیر کښې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ژ: د نوح ﷺ مومنان زامن د یوه حدیث په بنیاد دري کسان وه چې "حام، سام، یافث" نومېده.
څو د نوح ﷺ په اړه په دې مقام کښې وراضافه کوو چې:
اول: نوح ﷺ د دوهم آدم په نامه هم یادېږي[1].
دوهم: نوح ﷺ ته د "شیخ المرسلین" لقب هم ورکړی شوی دی[2].

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: تاسو د احادیثو په رڼا کښې د [الزمر:۵۳] ایت لاندې لیکلي دي چې په ایمان راوړلو سره ټول ګناهونه ښنلی کېږي، حال دا چې په ﴿ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ ﴾ کښې د "مِنْ" توری د ځینو ګناهونو په مغفرت باندې دلالت کوي؟
مونږ وایو چې: د دغه سوال دپاره مفسرینو کرامو متعدد جوابونه کړي دي[3]، چې مونږ ترې لاندې دوه جوابونه غوره کوو:
الف: هغه ځینې ګناهونه په ایمان راوړلو سره ښنل کېږي کوم چې حقوق الله پورې ارتباط لري، او هغه ځینې ګناهونه چې په حقوق العباد پورې اړه ولري د مغفرت په وعده کښې شمولیت نه لري[4].
ب: په احادیثو کښې د هغو ټولو ګناهونو د مغفرت وعده ذکره شوې ده کومو چې ایمان راوړونکی د ایمان د راوړلو څخه مخکښې (د کفر په حال کښې) مرتکب شوی وي[5].
او پوره واضحه ده چې دغه ډول ګناهونه د ټولو (مخکښې او وروسته) ګناهونو په نسبت بعضې دي چې په دې مقام کښې ورباندې د "مِنْ" توری دلالت کوي. نو په ایت او احادیثو کښې یو مطلب په دوه وو تعبیرونو سره اداء شوی دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وایي چې: د ﴿ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾ څخه د اشارې په توګه معلومېږي چې په ایمان راوړلو سره د مرګ یا عذاب نېټه وروسته کېدلی شي، حال دا چې په عین ایت کښې د ﴿ إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ ﴾ د جملې مفهوم دا دی چې د مرګ یا عذاب ټاکلې نېټه نه وروسته کېږي؟
مونږ وایو چې: د الله ﷻ په توفیق په دې کتاب کښې د [الرعد:۳۹] ایت لاندې لیکلي شوي دي چې نېټه په لاندې دوه ډوله ده:
الف: یوه مطلقه نېټه ده چې په کوم شرط باندې مشروطه نه وي.
ب: بله معلقه نېټه ده چې په کوم شرط باندې مشروطه وي.

---

(۱) البحر المحیط ج۱۰ ص۲۸۰
(۲) روح المعاني ج۲۹ ص۶۷
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۲۴؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۳۸۲؛ تفسیر الطبري ج۲۹ ص۹۱
(۴) تفسیر المظهري ج۱۰ ص۷۲؛ تفسیر القرطبي ج۱۸ ص۲۹۹
(۵) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۳۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې مقام کښې مشروطه نښه مطلب ده. يعني اى مشركانو! تاسو ايمان راوړئ او د خپلو عمرونو د اوږدوالي شرط پوره کړئ. که نه نو کله چې ستاسو د مرګ يا عذاب نښه راورسيږي او د تاخير شرط (ايمان راوړل) تحقق نه وي موندلى نو بيا هيڅکله نه شي وروسته کيدى.

﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا ﴿٥﴾ فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَاءِي إِلَّا فِرَارًا ﴿٦﴾ وَإِنِّي
كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا
وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا ﴿٧﴾ ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ﴿٨﴾ ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ
إِسْرَارًا ﴿٩﴾ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ﴿١٠﴾ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا
﴿١١﴾ وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا ﴿١٢﴾ مَّا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ
لِلَّهِ وَقَارًا ﴿١٣﴾ وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ﴿١٤﴾ أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا ﴿١٥﴾
وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴿١٦﴾ وَاللَّهُ أَنبَتَكُم مِّنَ الْأَرْضِ نَبَاتًا ﴿١٧﴾
ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا ﴿١٨﴾ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا ﴿١٩﴾ لِّتَسْلُكُوا
مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ﴿٢٠﴾ ﴾

[۵] نوح عليه السلام وويلې چې: اى زما ربه! يقيناً ما خپل قوم شپه او ورځ (توحيد ته) دعوت کړ.

[۶] نو زما دعوت هغوى ته زياته نه کړه مګر تښتنه (او د قبول څخه نفرت).

[۷] او يقيناً هر کله چې زه هغوى د دې دپاره دعوت کړم چې ته ورته مغفرت وکړې نو هغوى خپلې ګوتې په خپلو غوږونو کښې ګرځوي (ږدي چې دعوت وانه وري).

او هغوى (خپل خانونه) په خپلو جامو کښې رانغاړي (او کرکه څرګندوي).

او (بالآخره) هغوى (خپلو شرکياتو ته) ادامه ورکوي او تکبر کوي ډېر لوى تکبر.

[۸] بيا (په دې باندې علاوه) يقيناً ما هغوى په ډاګه (په غتو مجالسو کښې) دعوت کړي دي.

[۹] بيا يقيناً ما هغوى ته علني (څرګند) دعوت ورکړى دى او (هم) مې د راز په توګه (توحيد ته) دعوت کړي دي د راز په توګه دعوتول.

[۱۰] نو ما هغوى ته ويلي دې چې: (اى زما قومه!)

تاسو د خپل رب ﷻ څخه (د پخوانيو شرکياتو) مغفرت وغواړئ، يقيناً ستاسو رب ﷻ ډېر بښونکى دى (په تېرو کفرياتو باندې مو نه نيسي).

[۱۱] ترڅو په تاسو باندې اسمان په شېبو- شېبو سره ووروي (او وچکالي درڅخه محوه کړي).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۲] او (ترڅو) ستاسو رب ﷻ تاسو ته په مالونو او زامنو سره امداد وکړي او هم ستاسو دپاره باغونه وګرځوي (زرغون کړي) او ستاسو دپاره ویالې (کانالونه) وګرځوي (وبهوي).

[۱۳] (ای زما قومه!) تاسو لره څه دي چې د داسې عزت درکولو تمه نه لرئ د کوم ورکړه چې الله ﷻ پورې اختصاص لري؟ (چې د ده ﷻ څخه پرته نه څوک د اجر د ورکړې توان لري او نه د جنت).

[۱۴] حال دا چې الله ﷻ تاسو په مختلفو وارونو (او مختلفو حالونو) سره پیدا کړي یاست.

[۱۵] ایا تاسو نه ګورئ چې الله ﷻ څنګه اوه اسمانونه چت په چت (یو د بل د پاسه) پیدا کړي دي؟.

[۱۶] او په همدې اسمانونو کښې یې (ستاسو دپاره) سپوږمۍ رڼا ګرځولې ده او لمر یې (پکښې) بله ډیوه ګرځولې ده.

[۱۷] او الله ﷻ تاسو د ځمکې څخه زرغون کړي (پیدا کړي) یاست زرغونول.

[۱۸] بیا الله ﷻ تاسو په همدې ځمکه کښې (په مرګ سره) ورګرځوي (منحل کوي)، او بیا مو (ترې د قیامت په ورځ) بېرته راوباسي بېرته راویستل.

[۱۹] او الله ﷻ ستاسو دپاره ځمکه غوړولې فرش جوړه کړې ده.

[۲۰] (دا) د دې دپاره چې تاسو (پکښې استوګنه وکړئ او هم) یې په پراخو لارو کښې تګ راتګ وکړئ (او پکښې وګرځئ راوګرځئ).

## د مطلب خلاصه

یعنې نوح ﷺ خپل قوم ته د الله ﷻ د ارشاد په مطابق نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله دعوت وچلاوه او د دنیاوي او اخروي عذابه یې ودار کړه خو د هغوی جواب منفي وه نو په نتیجه کښې یې د مناجات په توګه عرض وړاندې کړ او ویې ویلې چې:

۱ـ ای زما ربه! ما د خپل قوم په دعوت کښې هیڅ ډول سستي نه ده کړې بلکې هغوی مې شپه او ورځ دین ته وبلل چې توحید ته راجع شي او شرکیات پرېږدي، خو زما د دعوت څخه هغوی هیڅ ګټه پورته نه کړه او حقې لارې ته یې هیڅ میلان ونه ښود مګر تېښتېدل او وحشت یې لا زیات شو او کفر یې لا قوي وګرځېد، داسې چې:

۲ـ هر کله چې ما خپل قوم دعوت کړی دی ترڅو ورته ستا د پلوه مغفرت وکړی شي او په ایمان باندې مشرف جوړ شي نو هغوی لاندې وضعه غوره کړې ده:

الف: هغوی په خپلو غوږونو کښې خپلې ګوتې ایښې دي ترڅو زما دعوت وانه وري. یا په بل عبارت زما د دعوت محض اورېدلو ته هم چمتو نه دي.

ب: آن تردې چې زما د دعوت په وخت کښې هغوی خپل ځانونه په خپلو جامو کښې پټوي ترڅو زما څېره ونه ګوري چې زما رنګ یې بد ایسي.

ج: لنډه دا چې په هر وخت کښې چې ما خپل قوم دعوت کړی دی هغوی د قبول څخه تکبر کړی دی ډېر لوی تکبر، چې په هر ځل دعوت سره لا زیات شوی دی او کم شوی نه دی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ ای زما ربه! ما د خپل قوم په دعوت کښې یو اسلوب او یوه لاره هم نه ده پرېښې. مثلاً:
الف: هغوی ما په لویو مجالسو کښې دعوت کړي دي او د همدې مطلب دپاره یې شوراګانو ته ورغلی یم چې د دوی لویې اجتماع ته مې په لوړ اواز سره دعوت ورکړی دی.
ب: هغوی ته ما خپل دعوت په علني توګه وړاندې کړی دی چې د مخاطبینو څخه علاوه به نورو خلکو هم اورېده.
ج: همدارنګه مې هغوی ته په پټه او په غلي ځای کښې دعوت ورکړی دی او د راز په ډول مې توحید ته رابللي دي.
خو یوه اسلوب هم په هغوی څه اثر نه دی غورزولی چې دعوت یې قبول کړی وی.
۴_ ما خپل قوم ته د دعوت په سلسله کښې دا تمه هم ورکړې ده چې:
الف: ای زما قومه! تاسو د خپل رب ﷻ څخه د خپلو تېرو شوو ګناهونو مغفرت وغواړئ او ایمان راوړئ ترڅو تاسو ته تېر شوي ګناهونه د څرمې وبښي. او دا ځکه چې یقیناً ستاسو رب ﷻ زښت ډېر مغفرت کوونکی دی.
ب: تاسو په ایمان باندې مشرف شئ ترڅو ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې د اسمان څخه په شېبو-شېبو باران ووروي او کومه وچکالي چې درباندې د خپلو کفریاتو او شرکیاتو د کبله نازله شوې ده هغه درڅخه پورته کړي.
ج: او ترڅو ستاسو رب ﷻ ستاسې مالداري زیاته کړي او زامن مو ډېر کړي. نو ځمکې به مو حاصلات درکړي او زنانه به مو اولادونه وزېږوي.
د: د دعوت د قبول په صورت کښې به ستاسو رب ﷻ تاسو ته ډول- ډول باغونه درپېرزو کړي او په وچو دښتو کښې به درته لښتي او کانالونه وبهوي.
۵_ ای زما ربه! ما خپل قوم توحیدي دلایلو ته هم متوجه کړی دی او مخاطب کړي مې دي چې:
تاسو ته څه وجه ده تاسو څه دلیل لرئ چې الله ﷻ ته په عظمت او وقار قائل نه یاست چې شریکان ورسره دروئ؟. په تاسو څه باعث دی چې د هغه عظمت د کبله نه دارېږئ کوم چې الله ﷻ ته ثابت دی حال دا چې الله ﷻ تاسو د نطفې څخه په متعددو مرحلو کښې پیدا کړي یاست او د بنیادمانو شکلونه یې درکړي دي؟ تاسو خو یو ځل په خپل ګرېوان کښې سر ښکته کړئ او د خپل پیدایښت په هکله څه فکر وکړئ.
۶_ ما خپل قوم افاقي دلایلو ته هم متوجه کړی دی چې:
الف: ایا تاسو نه ګورئ چې الله ﷻ اوه اسمانونه څنګه چت په چت او یو د بل د پاسه پیدا کړي دي؟ ایا د ده ﷻ څخه په غیر بل څوک دا کار کولی شي؟
ب: الله ﷻ په اسمانونو کښې سپوږمۍ د شپې د پلوه رڼا ګرځولې ده چې تاسو ترې په توره تیاره کښې ګټه پورته کوئ.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج. الله ﷻ ستاسو دپاره په اسمانونو کښې لمر پیدا کړی دی چې د یوې ډېرې لویې ډیوې حیثیت لري. او په طلوع او غروب سره یې شپه او ورځ منځ ته راځي.

د. الله ﷻ تاسو د یوه نبات په توګه د ځمکې ځخه رازرغون کړي یاست، چې د یو پلوه ستاسو اصل (آدم ﷺ) د خاورو ځخه جوړ کړی شوی وه او د بله پلوه ستاسو تومنه او توخم (نطفه) د خوراک او څښاک ځخه منشأ اخلي او پوره واضحه ده چې ستاسو خوراک او څښاک ټول د ځمکې ځخه دی.

هـ. بیا الله ﷻ تاسو په همدغې ځمکه کښې په مرګ سره بېرته ورګرځوي او په همدې ځمکه کښې مو متحل کوي. خو داسې وخت هم راتلونکی دی چې الله ﷻ به تاسو د همدغې ځمکې ځخه د دوهم ځل دپاره په یوه عجیبه راویستلو سره راوباسي چې تدریجي به نه وي بلکې په یو ځل به مو د یوې شیبلۍ په پوکولو سره را اوچت کړي.

و. الله ﷻ ستاسو دپاره ځمکه فرش ګرځولې ده چې د دې اضطراري حرکت یې د غرونو په تصبولو سره د منځه وړی دی او د اوسېدو دپاره یې درنه قابله جوړه کړې ده چې ستاسو دپاره د زانګو حیثیت لري.

ز. بیسره په دې الله ﷻ په همدغې ځمکه کښې ستاسو دپاره د ګرځېدلو او راګرځېدلو لارې جوړې کړې دي.

دا د دې دپاره چې تاسو د خپلو احتیاجاتو او ارتیاوو د پوره کولو دپاره د پراخو لارو ځخه استفاده وکړئ او مطلب ته ورباندې ورسېږئ.

۷ـ ای زما قومه! تاسو د ذکرو شوو نعمتونو شکریه وکړئ او د توحید عقیده خپله کړئ او هم ترې د خپلې عقیدې د تصحیح دپاره د استدلال کار واخلئ او ګټه ترې اوچته کړئ.

## توضیحات

۱ـ په ذکرو شوو ایتونو کښې په اجمالي توګه هغه هلې ځلې راحکایتې شوې دي کومې چې نوح ﷺ د نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله دعوت په اوږدو کښې ترسره کړې وې.

خو عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ویلي دي چې: د قیامت په ورځ به د دغه اوږدمهاله دعوت ځخه د نوح ﷺ قوم انکار وکړي چې موږ ته هیڅ پیغمبر نه دی راغلی او هیچا توحید ته نه یاستو بللی. مګر محمدي (ﷺ) امت به د هغوی انکار په شهادت سره رد او تکذیب کړي[1]. امکان لري چې په [البقرة ۱۴۳] ایت کښې به همدغه شهادت ته اشاره وي.

### دوه ډوله تفسیر

۲ـ دا ایت ﴿مَّا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا﴾ علماوو کرامو په متعددو ډولونو سره تفسیر کړی دی[2]

(۱) الدر المنثور ج۸ ص۲۸۸

(۲) زاد المسیر ج۸ ص۹۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې ټول ډولونه په اصلي مطلب کښې متحد دي، او مونږ يې فقط د دوه وو مثالونو په ذکر باندې اکتفاء کوو چې لنډه شرحه يې دا ده[۱]:

په دوارو مثالونو کښې "وَقَار" د "توقير" او "تعظيم" دپاره اسم دی لکه چې "سَلَام" د "تسليم" دپاره اسم دی. يا په بل عبارت: "وقار" مصدر نه دی بلکې اسم مصدر دی.

مګر په هغې "رجاء" کښې چې د ﴿ لَا تَرْجُونَ ﴾ کلمه ورڅخه اشتقاقه شوې ده په لاندې ډول اختلاف دی:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې: دلته "رجاء" په خپله حقيقي معنی سره ده چې "اميد" دی. يعنې ای زما قومه! تاسو لره څه دي چې د توحيد په خپلولو سره د توقير او تعظيم اميد نه لرئ چې په آخرت کښې په اجرونو او ثوابونو سره عزتمند وګرځولی شئ، چې د تعظيم او توقير ورکړه (عزتمند ګرځول) په الله ﷻ پورې اختصاص لري او بل څوک دا کار نه شي کولی.

ب: ځينې نور وايي چې: دلته "رجاء" د اعتقاد څخه کنايي ده. يعنې تاسو لره څه دي چې د توحيد په خپلولو سره په توقير او تعظيم باندې عقيده نه لرئ، چې دغه د توحيد تعظيم او توقير الله ﷻ پورې اختصاص لري.

## "طَوْر" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ﴾ کښې د "أَطْوَار" کلمه د "طَوْر" ـ لکه "قَوْل" ـ جمعه ده چې د کرت او حالت معنی ورکوي[۲].

يعنې ای مشرکانو! تاسو ولې د توحيد عقيده نه خپلوئ حال دا چې الله ﷻ تاسو په مختلفو حالاتو او متعددو کراتو سره پيدا کړي ياست. يا په بل عبارت د نطفې د حالت څخه تر زېږېدنې پورې او د زېږېدنې څخه تر بوډاتوب پورې. الله ﷻ ستاسو حالات په څومره ډېرو کرتونو سره تجديدوي، چې يو حالت مو د منځه وړي او په بل تازه حالت کښې قرار درکوي. ايا نو د الله ﷻ څخه پرته د دغه حالاتو د تجديد توان بل څوک لري؟ ايا په تجديد کښې ورسره بل څوک اشتراک لري؟

## د "فَجّ" معنی

۴ـ په ﴿ مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ﴾ کښې د "فِجَاج" کلمه د "فَجّ" ـ لکه "شَدّ" ـ جمعه ده چې هغې پراخې لارې ته وضعه شوې ده کومه چې د دوه وو غرونو ترمنځ غزېدلې وي[۳].

﴿ قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَن لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا ﴿۲۱﴾ وَمَكَرُوا

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۷۳؛ الدر المنثور ج۸ ص۲۹۰؛ تفسير الكشاف ج۴ ص۶۱۷؛ حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۵۵۰؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۲۵؛ المحرر الوجيز ج۱۶ ص۱۲۴؛ تفسير ابي السعود ج۹ ص۳۸

(۲) لسان العرب ج۴ ص۵۰۷

(۳) القاموس المحيط ج۲ ص۴۳۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مَكْرًا كُبَّارًا ﴿٢٢﴾ وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ
وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾ وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا ۖ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا ﴿٢٤﴾ مِمَّا خَطِيئَاتِهِمْ
أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ أَنصَارًا ﴿٢٥﴾ ﴾

[۲۱] نوح ﷺ وویلې چې: ای زما ربه! یقینًا زما قوم زما څخه عصیان غوره کړ، او د هغه چا پیروي کوي کوم چې نه یې مال زیاتوي او نه یې اولاد مګر زیان (او تاوان).

[۲۲] او همدغو مشرانو (مالدارانو او اولاد لرونکو) چلونه وکړه ډېر لوی چلونه (ترڅو خلک او عوام بې لارې کړي).

[۲۳] او مشران (خپلو پروانو ته) وايي چې: هرومرو تاسو خپل معبودان پرېنږدئ (چې عبادت ورته ونه کړئ).

او هرومرو تاسو د "ود" په نامه بوت پرېنږدئ او نه د "سواع" په نامه بوت او نه د "یغوث" او "یعوق" او "نسر" په نامه (بوتان).

[۲۴] او یقینًا دغو مشرانو زښت ډېر (خلک) بې لارې کړي دي.

او (ای زما ربه!) ته ظالمانو ته مه زیاتوه مګر ګمراهي (چې هلاک ورسره ملګری وي).

[۲۵] هغوی د خپلو خطاګانو (او کفریاتو) د کبله غرق کړی شوه نو سمدستي (برزخي) اور ته ورداخل کړی شوه.

نو هغوی د خپلو ځانونو دپاره د الله ﷻ څخه په غیر هیڅ کومکیان مونده نه کړه (چې د غرق څخه یې نجات ورکړی وي).

## د مطلب خلاصه

یعنې نوح ﷺ مناجات ته ادامه ورکړه او د عرض په توګه یې وویلې چې:

۱ـ ای زما ربه! ما د دعوت په لړ کښې د هرې طریقې څخه کار واخست خو زما قوم دعوت قبول نه کړ او زما څخه په عصیان او بې اطاعتۍ باندې کلک شوه.

۲ـ هغوی زما عصیان ته ادامه ورکړه او د خپلو هغو مشرانو پیروي او اطاعت یې خپل کړ کومو چې ډېر مالونه او اولادونه درلوده، کومو ته چې خپلو مالونو او اولادونو د تاوان او نقصان څخه پرته څه شی زیات نه کړ، چې په دنیا او په آخرت کښې یې د الله ﷻ د عذاب لاندې واقع کړه.

۳ـ دغو مشرانو (مالدارانو) د خپلو کشرانو او عوامو د ګمراه کولو دپاره زښت ډېر پټ تدبیرونه په کار واچول او د زښتو ډېرو حیلو او پلمو څخه یې کار واخست. د مثال په توګه عوام یې مخاطب کړه چې:

الف: تاسو د خپلو معبودانو عبادت مه پرېږدئ او په خپلې تګلارې باندې د مرګ تر ورځې پورې کلک پاتې شئ.

ب: تاسو د خپل یوه بوت د عبادت څخه هم لاس مه اخلئ، نه د "ود" په نامه بوت پرېږدئ، نه د "سواع"، نه د "یغوث"، نه د "یعوق" او نه د "نسر" په نامه بوتان، او نه د نورو بوتانو عبادت پرېږدئ.

۴ـ ای زما ربه! دغو مشرانو په خپلو بدو تدابیرو سره زیښت ډېر خلک ګمراه کړه، او یا یې په ګمراهۍ (د بوتانو په عبادت) باندې کلک کړه.

نو دغو مشرانو د یو پلوه په خپلو ځانونو باندې ظلم وکړ او د بل پلوه یې نور ډېر خلک د ظالمانو په ډله کښې شامل وګرځول او ظلم یې ورباندې وکړ.

نو ای ربه! ته ظالمانو ته مه زیاتوه مګر ګمراهي او عذاب، چې دوی په همدې پسې هڅه کوي او د همدې استحقاق لري.

۵ـ نو الله ﷻ د نوح ﷺ سوال قبول کړ او د ده ﷺ قوم یې د خپلو جنایاتو او کفریاتو د کبله په دنیا کښې په غرق سره پوپنا کړ او د غرق سره متصل یې برزخي غیبي اور ته داخل کړه، او بالآخره د قیامت په ورځ به دائمي دوزخ ته ورتېل وهل شي.

۶ـ د ذکر شوي دنیاوي عذاب د نزول په وخت کښې هغوی د خپلو ځانونو د نجات دپاره هیڅ مرستندویان مونده نه کړه، چې نه یې مشران په کار ورغله او نه یې بوتان په درد دوا شوه، همدارنګه به په آخرت کښې هم هیڅ کومکیان مونده نه کړي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا كُبَّارٗا ﴾ کښې د "کُبَّار" کلمه د مبالغې صیغه ده او د "کَبیر" څخه پکښې مبالغه زیاته ده[۱]. یعنې د نوح ﷺ په قوم کښې مشرانو د کشرانو (پیروانو) د بې لارې کولو دپاره ډېر لوی-لوی چلونه او پلانونه په کار اچولي وه.

که څه هم مونږ ته د هغې زمانې د کفارو د چلونو او پلانونو مثالونه معلوم نه دي چې څنګه-څنګه به وه؟ مګر نن ورځ[۲] چې د اوسنۍ زمانې د کفارو د مشرانو (امریکایانو) چلونو او پلانونو ته ګورو چې په ټوله نړۍ او په تېره بیا په افغانستان کښې یې په کار اچولي دي او لګیا دي خلک ورباندې ګمراه کوي نو لاندې مثالونه یې په نظر راځي:

الف: په کلو او ښارونو باندې بمونه وروي چې د ځینو په شهادت او د ځینو په معیوب جوړېدلو او همدارنګه د ځینو د کورونو په ورانولو سره خلک وډار کړي او خپله باداري ورباندې قبوله کړي.

ب: د مسلمانانو په اسیر ګرځولو سره هم په خلکو کښې وېره او ترهه خوروي او د سمې لارې څخه یې اړوي.

ج: د فحشا او بد اخلاقۍ دروازې یې خلاصې کړې دي او په پلازمېنه (کابل) کښې یې هوټلونه او کڅني خانې جوړې کړې دي چې خوانان او ځوانانې ورباندې بې لارې کړي.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۲۹۷

(۲) ۱۴۲۵/۸/۲۲ هـ ق = ۱۳۸۳/۷/۱۶ هـ ش

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د. تبلیغاتي او نشراتي وسائل يې په همدې لاره کښې په کار اچولي دي ترڅو بد اخلاقي او بې دیني ته په خلکو کښې وده ورکړي.

هـ. د تعلیمي نصاب څخه يې دیني او اسلامي مضامین او خصوصاً جهادي مضامین د منځه وړي دي ترڅو راتلونکی نسل نه دین وپیژني او نه جهاد.

و. خلک په پیسو (ډالرو) سره اخلي او د پیسو په زور ورباندې کفري قوانین تصویبوي او اسلامي قوانین د همدوی په لاس د منځه وړي.

نبي کریم ﷺ همدغي فتنې ته داسې اشاره کړې ده چې: «يَبِيعُ أَقْوَامٌ دِينَهُمْ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا»[1] يعني د قیامت د قیام په وړاندې به ډېرې سختې فتنې رامنځته شي حتى چې ځینې قومونه به خپل دین په دنیاوي مال او متاع (پیسو او چوکیو) باندې خرڅ کړي.

## سوالونه او جوابونه

۲ــ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وايي چې: د بوت پرستۍ کفر څنګه او څه وخت شروع شو؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو تقریباً اوه وجې او بلې ښودلې دي چې د بوت پرستۍ فاسد بنیاد ورباندې پیل شوی دی[2] مګر مونږ یوازې د هغې وجې مطلب راخلاصه کوو کومه چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت شوې ده[3]، هغه دا چې:

اول: دغه پنځه کلمې (وَدّ، سُوَاع، يَغُوث، يَعُوق، نَسْر) په اصل کښې د نوح عليه السلام د قوم د پنځو صالحو اشخاصو نومونه وه.

دوهم: کله چې دغه صالح اشخاص وفات شوه، نو د نوح عليه السلام قوم د شیطان په مشوره پنځه مجسمې جوړې کړې او د ذکرو شوو صالحو اشخاصو نومونه يې ورباندې کېښوده، خو دا محض د یادښت دپاره وه نه د عبادت دپاره.

دریم: خو چې کله د مجسمه جوړونکو زمانه هم تېره شوه او د مجسمو د جوړولو په غرض باندې پوهه هم د منځه لاړه، نو وروستني نسل يې په عبادت پیل وکړ او په نفعه او ضرر ورته قائل شوه.

څلورم: بیا همدغه مفکوره په خلکو کښې خوره شوه چې آن د عربو پورې راورسیده.

ب: که څوک وايي چې: د نوح عليه السلام قوم خو سره د خپلو بوتانو د غرق په سبب بالکل د منځه تللی وه، او یوازې مؤمنانو په بېړۍ کښې نجات موندلی وه، نو پوښتنه دا ده چې د هغوی بوتان عربو ته څنګه رانقل کړی شوه؟

مونږ وایو چې: د هغوی د بوتانو محض نومونه عربو ته حکایت کړی شوه خو دوی بیا د هر نامه

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۴۲
(۲) التفسیر الکبیر ج۳۰ ص۱۴۳
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۳۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره نوې-نوې مجسمې جوړې کړې چې دا فلانکی بوت دی او دا فلانکی[1].

ج: که څوک وايي چې: ذکر شوي بوتان په څنګه- څنګه شکلونو سره جوړ کړی شوي وه؟

مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو کرامو دغو بوتانو ته مختلف شکلونه ښودلي دي[2]، مګر د عبد الله بن عباس رضي‌الله‌عنهما د وړاندېنې حديث په مقتضى ظاهره دا ده چې هغه ټول د انسانانو په اشکالو سره تيار کړی شوي وه.

د: که څوک وايي چې: ايا عربو د دغو پنځو بوتانو څخه په غير نور بوتان هم درلوده؟

مونږ وايو چې: هو، د هغوی بوتانو په دغو پنځو کښې انحصار نه درلود بلکې د نورو بوتانو عبادتونه يې هم ترسره کول لکه "نَائِلَة" او "هُبَل" او داسې نور[3].

هـ: که څوک وايي چې: په ﴿ وَقَدْ أَضَلُّواْ كَثِيرًا ﴾ کښې د ﴿ أَضَلُّواْ ﴾ مستتر ضمير څه شي ته راجع دی؟

مونږ وايو چې: د دغه ضمير مرجع لاندې دوه احتماله درلودلی شي: که څه هم دواړه احتماله صحت لري او په اصل مطلب کښې سره متحد دي خو د مقام په لحاظ دوهم احتمال ظاهر برېښي[4].

اول: دغه ضمير ذکرو شوو پنځو بوتانو ته راجع دی، لکه چې په بل ايت کښې ورباندې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ [إبراهيم ۳٦] يعنې ابراهيم عليه‌السلام وويلې چې ای زما ربه! يقيناً دغو بوتانو د خلکو څخه زښت ډېر ګمراه کړي دي.

دوهم: دا ضمير د نوح عليه‌السلام د قوم مشرانو ته راجع دی لکه چې په ﴿ وَمَكَرُواْ ﴾، ﴿ وَقَالُواْ ﴾ کښې دواړه ضميرونه همدوی ته راجع دي.

و: که څوک وايي چې: الله ﷻ د نوح عليه‌السلام د مبارکې خولې څخه دا جمله هم راحکايته کړې ده چې: ﴿ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا ضَلَٰلًا ﴾، نو ايا يوه پيغمبر ته مناسبه ده چې د خپل قوم دپاره ضلالت وغواړي حال دا چې پخپله د هغوی د هدايت دپاره استولی شوی وي؟

مونږ وايو چې: دېته ورته يوه پوښتنه د موسى عليه‌السلام په هکله د الله ﷻ په توفيق د [يونس:۸۸] ايت لاندې جوابه شوې ده چې دغه سوال (ښېرا) محض د خپلې خوشالۍ د اظهار دپاره صورت نيولی وه، البته وروسته د هغه چې کله په هغوی باندې د عذاب نزول يقين ته رسېدلی وه.

خو په دې مقام کښېورباندې لاندې جوابونه وراضافه کوو:

اول: دلته د "ضَلَال" څخه ديني ګمراهي مطلب نه ده ترڅو اعتراض وارد شي بلکې دنياوي ګمراهي ترې مراده ده[5]. يعنې ای ربه! د دغو ظالمانو پلانونه شنډ کړې او د ګمراهۍ او بې کښېتوب په لور يې سوق کړې.

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱٦ ص۲۹۸
(۲) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۳۰۹
(۳) تفسير البغوي ج۴ ص۴۰۰
(۴) روح المعاني ج۲۹ ص۷۸
(۵) تفسير القرطبي ج۱۸ ص۳۰٦

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: دلته د "ضلال" کلمه د "هلاکت" څخه کنايي ده[۱]. او دا ځکه چې غالبًا د بې لارې توب سره هلاکت ملګری دی.

په همدې معنی باندې د سورت په وروستني ايت کښې صراحت نازل شوی دی چې ای زما ربه! ظالمانو ته مه زياتوه مګر هلاک.

﴿ وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَـٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا۟ عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓا۟ إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾ رَّبِّ ٱغْفِرْ لِى وَلِوَٰلِدَىَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِىَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَـٰتِ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّـٰلِمِينَ إِلَّا تَبَارًۢا ﴿٢٨﴾ ﴾

[۲٦] او نوح ﷺ (په خپل مناجات کښې) ووېلې چې: ای ربه! ته د ځمکې په سر باندې د کافرانو څخه يو اوسېدونکی هم پرېنږدې (بلکې ټول هلاک کړې).

[۲۷] يقينًا ته چې يې که چرته کافران پرېږدې (او هلاک يې نه کړې) نو دوی به ستا بندګان بې لارې کړي، او دوی به ونه زېږوي مګر بدکار (او) ناشکره.

[۲۸] ای زما ربه! ته ماته مغفرت وکړې (او د خلاف الاولی د ارتکاب څخه راتېر شې) او زما مور او پلار ته هم (مغفرت وکړې).

او هغه چا ته هم (مغفرت ورېبرزو کړې) کوم چې زما کور ته د يو مؤمن په حيث داخل شوی وي او (ته د قيامت تر ورځې پورې) ټولو نارينه وو مؤمنانو او زنانه وو مؤمنانو ته (هم مغفرت وکړې) او (بالآخره ای زما ربه!) ته ظالمانو (کفارو) ته مه زياتوې مګر هلاک (چې ژوندي پاتې نه شي).

## د مطلب خلاصه او توضيحات

۱ـ په دې ايتونو کښې د نوح ﷺ د مناجات وروستنی برخه نازله شوې ده، او په هغه مطلب باندې پکښې صراحت صورت نيولی دی کوم ته چې په وړاندېني متصل ايت کښې اشاره شوې ده، چې ای ربه! دا قوم د ځرمې هلاک کړې.

## يو صرفي تحليل

۲ـ په ﴿ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَـٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴾ کښې د "دَيَّار" کلمه په اصل کښې "ديوار" لکه "فيعال" ـ وه، خو د اعلال او ادغام د کبله ترې "دَيَّار" جوړه شوه[۲].

دا کلمه د "دَوَران" څخه اشتقاقه شوې ده چې د تاوېدلو راتاوېدلو معنی ورکوي، خو په دې مقام کښې ترې اوسېدونکي او په ځمکه باندې ګرځېدونکي مطلب دي.

---

(۱) تفسير ابي السعود ج۹ ص۴۱
(۲) تفسير الکشاف ج۴ ص۶۲۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا کلمه په نفي یا نهي کښې استعمالیږي او بس»[۱].

یعنې نوح ﷺ ووېلې چې: ای زما ربه! ته د ځمکې په مخ باندې یو اوسېدونکی هم پرېنږدې بلکې ټول هلاک او پوپنا کړې.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د ذکرې شوې ښېرا څخه څرګندېږي چې د نوح ﷺ رسالت عام وه او ټولو خلکو ته شامل وه لکه چې ښېرا یې ټولو ته شمولیت درلود. حال دا چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً»[۲] یعنې زما د پنځو ځانګړتیاوو څخه یوه ځانګړنه دا ده چې پخوا به هر پیغمبر خپل قوم ته په خاصه توګه لېږل کېده، او زه ټولو خلکو ته په عامه توګه مبعوث کړی شوی یم.

مونږ وایو چې: د دغې پوښتنې د جوابولو دپاره علماوو کرامو زښتې ډېرې وجې ذکرې کړې دي[۳]، که څوک فرصت لري نو هملته دې مراجعه وکړي، خو مونږ دلته فقط د لاندې یوه جواب په لیکلو باندې اکتفاء کوو:

د نوح ﷺ په زمانه کښې یوازې یوه قوم موجودیت درلود چې نوح ﷺ ورته مبعوث کړی شوی وه، لکه چې د آدم ﷺ په زمانه کښې یوازې بي بي حواء رضي الله عنها او د ده ﷺ اولادونو شتون درلود چې د آدم ﷺ امت شمېرل کېده.

ذکر شوی اعتراض به په هغه وخت کښې وارد وی چې د نوح ﷺ په زمانه کښې متعددو قومونو موجودیت درلودی او د همده ﷺ په ښېرا سره هلاک شوي وی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: نوح ﷺ د ﴿ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ ﴾ الآية- مضمون د څه شي څخه معلوم کړ، چې که د ده ﷺ د قوم څخه څوک ژوندي پاتې شي نو هغه به ضرور بندګان ګمراه کوي، او اولاده به یې هم ضرور فاجران او فاسقان وي؟

مونږ وایو چې: د دغه معلومیت دپاره لاندې دوه وجې ګېدلی شي او څه لري نه ده چې دواړه ورته د معلومیت سبب ګرځېدلی وي:

الف: نوح ﷺ ته الله ﷻ وحي وکړه چې: ﴿ أَنَّهُ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ آمَنَ ﴾ [هود: ۳۶] یعنې یقیناً شان دا دی چې هېڅکله به ستا د قوم څخه (د دې وخت څخه وروسته) څوک ایمان رانه وړي، مګر هغه څوک چا چې ایمان راوړی دی (هغه به خپل ایمان ته ادامه ورکړي).

(۱) لسان العرب ج۴ ص۲۹۸
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۴۸
(۳) عمدة القاري علی صحیح البخاري ج۳ ص۱۹۴؛ روح المعاني ج۲۹ ص۸۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نوح ﷺ ته خپلې اوږدې تجربې (چې نهه نیم سوه کاله یې ادامه درلوده) ثابته کړه چې د ده ﷺ قوم د اصلاح استعداد د لاسه ورکړی دی.

## زما کور یعني څه؟

۵ـ مفسرینو کرامو په ﴿ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ ﴾ کښې د "بَيْت" کلمه په متعددو معناوو سره تفسیر کړې ده، لکه بېړۍ او جومات او کور[۱]. مګر ظاهره دا ده چې دلته به همدغه درېمه معنی مراد وي. څه لرې نه ده چې د طوفان د شروع په وخت کښې به نوح ﷺ خپل پیروان خپل کور ته راغونډ کړي وي.

دا د یو پلوه او د بله پلوه مور پلار ته د مغفرت غوښتلو څخه څرګندېږي چې د نوح ﷺ مور پلار دواړه مؤمنان تېر شوي دي[۲].

یعنې ای زما ربه! زه د خپل دعوت په نهایي مرحله کښې تاته څه سوالونه کوم، هغه دا چې:

الف: ماته د هغو ګناهونو (خلاف الاولی کارونو) مغفرت وکړې کوم چې زما څخه په دغه نهه نیم سوه (۹۵۰) کلن دعوت کښې واقع شوي وي.

ب: زما مور او پلار ته هم مغفرت وکړې او ګناهونه ورته وبښې.

ج: هغه چا ته هم مغفرت وربېرزو کړې کوم چې زما کور ته د یوه مؤمن په حیث داخل شوی وي او غواړي چې په بېړۍ کښې راسره اوچت شي.

د: بالآخره ای زما ربه! ته د قیامت تر ورځې پورې تولو نارینه وو مؤمنانو او تولو زنانه وو مؤمنانو ته د ګناهونو څخه ورتېر شې.

## "تبار" څه معنی؟

۶ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الفرقان:۳۹] ایت لاندې لیکلي دي چې: په ﴿ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا تَبَارًۢا ﴾ کښې د "تَبار" کلمه د هلاک معنی ورکوي. یعنې ای ربه! ته د قیامت تر ورځې پورې ظالمانو ته مه زیاتوه مګر هلاک او تباهي، البته هغه ظالمان کومو چې خپل نېک استعداد د پښو لاندې کړی وي او د اصلاح قابلیت یې د لاسه ورکړی وي.

د "نوح" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ الْمَغْفُورِينَ لَهُمْ.

۱۴۲۵/۸/۲۳ هـ ق - ۱۳۸۳/۷/۱۶ هـ ش.

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۱۰۲

(۲) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۴۲

# الجن (۷۲)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

١ـ د دې سورت (الجن) نوم د همدې سورت په لومړني ايت کښې نازل شوی دی او په همدې نامه سره دا سورت د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی.

٢ـ د دې سورت د ايتونو شمېر اته ويشت (٢٨) دي[1].

٣ـ د کلماتو شمېر يې دوه سوه او پنځه اتيا وو (٢٨٥) ته ختلی دی[2].

٤ـ او بالآخره د تورو شمېر يې اته سوه اويا وو (٨٧٠) ته رسېږي[3].

٥ـ دا سورت مکي سورت دی[4] او ټول ايتونه يې د هجرت څخه وړاندې نازل شوي دي.

٦ـ د دې سورت (الجن) محتويات هم د نورو مکي سورتونو غوندې په عقيدوي احکامو پورې ډېر ارتباط لري، لکه د الله ﷻ توحيد د پيغمبر ﷺ نبوت او بعث بعد الموت او داسې نور.

خو دغه عقيدوي احکام په وړاندېني سورت (نوح) کښې د نوح ﷺ د مبارکې خولې څخه راحکايت شوي وه او په دې سورت (الجن) کښې د پېريانو د خولو څخه راحکايت کېږي، ترڅو واضحه شي چې د اسلام دين د واقع سره مطابق دين دی او نبي کريم ﷺ ربښتيانی پيغمبر دی، حتی چې د عناد څخه خالي پېريانو هم وړياندې باور او ايمان خپل کړ.

٧ـ دغه دواړه سورتونه (نُوح، الْجِن) سره يو ترېله ډېر تناسبات لري. د مثال په توګه:

الف: هلته د اولني رسول (نوح ﷺ) څه حالات نازل شوي وه او دلته د آخرين رسول (محمد ﷺ) حالاتو ته اشاره شوې ده حتی چې ځينو پېريانو هم وړياندې ايمان راوړی وه.

ب: هلته د هغو کفارو د سخت دريغ بيان نزول موندلی وه کوم چې د شرکي عقيدې بنياد اېښودونکي او استاذان وه، او دلته د هغو کفارو سخت دريغ ته اشاره کېږي کوم چې په شرکي عقيده کښې د هغوی مخلص شاګردان او پيروان دي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَقَالُوٓا۟ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا ﴿١﴾ يَهْدِىٓ إِلَى
ٱلرُّشْدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا ﴿٢﴾ وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةً وَلَا
وَلَدًا ﴿٣﴾ وَأَنَّهُۥ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى ٱللَّهِ شَطَطًا ﴿٤﴾ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن تَقُولَ ٱلْإِنسُ

(١) تفسير الطبري ج١٩ ص١٠٢
(٢) تفسير الخازن ج٦ ص٣٧٠
(٣) اللباب في علوم الكتاب ج١٩ ص٢٧٨
(٤) روح المعاني ج١٩ ص٨١

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَالْجِنُّ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ﴿٥﴾ وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوهُمْ
رَهَقًا ﴿٦﴾ وَأَنَّهُمْ ظَنُّوا كَمَا ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَبْعَثَ اللَّهُ أَحَدًا ﴿٧﴾ وَأَنَّا لَمَسْنَا السَّمَاءَ
فَوَجَدْنَاهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ﴿٨﴾ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ فَمَن
يَسْتَمِعِ الْآنَ يَجِدْ لَهُ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿٩﴾ وَأَنَّا لَا نَدْرِي أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِي الْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ
بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿١٠﴾ وَأَنَّا مِنَّا الصَّالِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَ كُنَّا طَرَائِقَ قِدَدًا ﴿١١﴾ وَأَنَّا ظَنَنَّا
أَن لَّن نُّعْجِزَ اللَّهَ فِي الْأَرْضِ وَلَن نُّعْجِزَهُ هَرَبًا ﴿١٢﴾ وَأَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدَىٰ آمَنَّا بِهِ
فَمَن يُؤْمِن بِرَبِّهِ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَلَا رَهَقًا ﴿١٣﴾ وَأَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا الْقَاسِطُونَ
فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُولَٰئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿١٤﴾ وَأَمَّا الْقَاسِطُونَ فَكَانُوا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿١٥﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] (ای پیغمبره! خلکو ته) ووایه چې ماته (د الله ﷻ د پلوه) وحې کړی شوې ده چې یقیناً شان دا دی چې د پیریانو څخه یوه ټولګي (زما قرائت ته) غوږ ایښی وه. نو غوږ ایښودونکو پیریانو وویلې چې: یقیناً مونږ لوستل شوی (د هر حیثه) عیجبه کتاب واورېد.

[۲] چې سمې لارې ته ښودانه کوي، نو مونږ وربانديې ایمان راووړ (او عقیده مو وربانديې خپله کړه)، او مونږ به هیڅکله د خپل رب ﷻ سره (په عبادت کښې) هیڅوک شریک ونه ګرځوو.

[۳] او (مونږ په دې باندې هم ایمان راووړ چې) یقیناً شان دا دی چې زمونږ د رب ﷻ شان ډېر لوړ دی، نه یې ملګرې (مېرمن) نیولې ده او نه ولد.

[۴] او (په دې باندې هم چې) یقیناً شان دا وه چې زمونږه ناپوه (او ناپوهانو. شیطان او شیطانانو) به په الله ﷻ باندې د حق څخه ډېرې لرې خبرې کولې (او تېلې چې په مېرمن او ولدیت ورته قائل وه).

[۵] او (مونږ شهادت اداء کوو چې) یقیناً مونږ به ګومان کاوه چې په الله ﷻ باندې به نه انسان دروغ ووايي (وتړي) او نه پېرې (خو دروغژنان په دوارو کښې شته).

[۶] او (مونږ په دې هم شهادت ورکوو چې) یقیناً د انسانانو څخه ځینې سړي وه چې د پیریانو څخه به یې په ځینو سړیو باندې پناه غوښتله. نو هغوی به دوی لره تکبر (او ضلالت) زیاتاوه.

[۷] او (په دې باندې هم چې) یقیناً انسانانو ګومان کاوه لکه چې تاسو ګومان کاوه (ای ملګرو او یا ای قومیانو!) چې هیڅکله به الله ﷻ (د دې څخه وروسته) هیڅوک (د پیغمبر په حیث) مبعوث نه کړي (خو دا ګومان مو غلط ثابت شو).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸] او (په دې باندې هم چې) یقیناً مونږ اسمان ته (د پورته کېدلو) پلټنه وکړه، نو اسمان مو په داسې حال مونده کړ چې په کلکو (سختو) څوکیدارانو او د اور په شغلو سره ډک کړی شوی وه.

[۹] او (په دې باندې هم چې:) یقیناً مونږ پخوا وو چې د اسمان څخه به د ناستې په ځایونو کښې د اورېدلو دپاره کیناستلو.

نو اوس چې (هلته زمونږ څخه) څوک غوږ ونیسي خپل ځان ته به د اور ځارونکې شغله مونده کړي (چې ورباندې به وویشتلی شي).

[۱۰] او (په دې باندې هم چې:) یقیناً مونږ نه پوهېږو چې ایا هغو کسانو ته د شر اراده کړی شوې ده کوم چې په ځمکه کښې (استوګنه) لري، (او) که خپل رب ﷻ ورته د سمې لارې د ښودلو اراده کړې ده؟.

[۱۱] او (په دې باندې هم چې:) یقیناً پخوا زمونږ څخه خینې کسان صالحان وه (چې په موسی ﷺ یا په عیسی ﷺ باندې یې ایمان راوړی وه) او خینې د دوی څخه غیر وه (چې ایمان یې ورباندې نه وه راوړی).

(نو د همدې کبله) مونږ (د دین د حیثه) د مختلفو (او متعددو) لارو درلودونکې وو.

[۱۲] او (په دې باندې هم چې:) یقیناً مونږ باور کوو (او علم لرو) چې مونږ به هیڅکله په ځمکه کښې الله ﷻ عاجز (او ناتوانه) ونه شو ګرځولی (چې ځرته ترې پټ شو) او نه به یې هیڅکله د تېښتېدلو د حیثه (عاجز وګرځولی) شو (چې اسمان ته ترې پورته شو).

[۱۳] او (په دې باندې هم چې:) یقیناً کله چې مونږ هدایت (لارښوونکی کتاب) واورېد نو سمدستي مو ورباندې ایمان راووړ.

نو هرڅوک چې په خپل رب ﷻ باندې ایمان راوړي نو هغه نه د نقصان څخه دارېږي (چې اجر به کم ورکړی شي) او نه د ذلت د احاطې څخه (چې د استحقاق څخه اضافه سزا به ورکړی شي).

[۱۴] او (په دې باندې هم چې:) یقیناً (د عجیبه کتاب د اورېدلو څخه وروسته) زمونږ څخه خینې کسان غاړې ایښودونکې دي او خینې راڅخه ظلم کوونکې دي.

نو هرڅوک چې (په اخلاص سره) غاړه کېږدي (او مسلمان شي) نو همدغو کسانو سمې لارې ته قصد کړی دی (او په سمه لاره روان دي).

[۱۵] او هر چې ظالمان دي نو دوی د دوزخ دپاره خاشاک دي (چې په همدوی باندې به هلته اور بلېږي).

## ارتباط او شان نزول

۱ـ د وړاندېنې سورت (نوح) په وروستنیو ایتونو کښې د بنیادمانو څخه د هغې سخت دریځې کافرې ولې ذکر نازل شوی وه په کومې باندې چې د نهه نیم سوه (۹۵۰) کالو اوږده دعوت هم څه اثر ونه غورځاوه چې په نتیجه کښې د بنیاد ویستونکې عذاب سره مخامخه شوه او تول له پرېنا شوه

په دې ایتونو کښې د پیریانو هغې اسان دریځې ډلې ذکر ته اشاره کېږي کومه چې محض د قرآن کریم په اورېدلو سره، بدون د مستقیم دعوته په ایمان او په توحیدي عقیده باندې مشرفه شوه او سمدستي د همدغې توحیدي عقیدې د اشاعت دپاره دعوت کوونکې ډله هم وګرځېده.

۲ـ د الله ﷻ په توفیق د دغو ایتونو شان نزول د احادیثو په رڼا کښې د [الحجر:۱۸] ایت لاندې تېر شوی دی چې:

الف: د پیریانو یوه ټولګې په داسې حال کښې د نبي کریم ﷺ څخه قرآن کریم واورېد چې د سهار په لمانځه باندې ولاړ وه.

ب: دغه ټولګی پیریان سمدستي په ایمان باندې مشرف شوه او خپل قوم ته د داعیانو په صفت بېرته ورستانه شوه، چې په [الأحقاف:۲۹] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

ج: دغو تازه داعیانو مؤمنانو پیریانو چې خپل قوم په کومو مطالبو باندې دعوت کړی او مخاطب کړی وه د هغو ځینې مهم ټکي په ذکرو شوو ایتونو کښې نازل شوی دی چې خلاصه یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په "بسم الرحمن الرحیم" سره خپل امت مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

ماته د الله ﷻ د پلوه څه مطالب وحې کړی شوي دي د دې دپاره چې په تاسو باندې یې د عبرت اخستلو دپاره قرائت کړم. هغه دا چې:

۱ـ څه وخت وړاندې د پیریانو د جملې څخه یوې ډلې قرآن کریم ته غوږ ایښی وه او زما څخه یې په دقت سره اورېدلی وه، حال دا چې زه وړاندې هیڅ نه وم پوه شوی چې نه وړاندې خبر کړی شوی وم او نه مې هغوی لیدلي وه.

۲ـ دغه ډله پیریان د قرآن کریم په همدغه یو خل اورېدلو سره په ایمان مشرفه شوې وه او د توحید عقیده یې خپله کړې وه.

۳ـ همدغې ډلې ویلي وه چې یقینًا مونږ عجیبه لوستل شوی کتاب واورېد چې په بلاغت او فصاحت کښې ساری نه لري او خپل حقانیت پخپله په اثبات رسوي.

نو مونږ وړاندې ایمان راوړی دی چې هیڅکله به د خپل رب ﷻ سره په عبادت کښې هیڅوک او هیڅ شی شریک ونه ګرځوو.

۴ـ خو په عین وخت کښې همدغه ډله د توحیدي عقیدې د اشاعت دپاره داعیان ګرځېدلي وه او خپل قوم ته یې په څه مطالبو باندې دعوت ورکړی وه چې څو مثالونه یې دا دي:

الف: مونږ عقیده لرو چې یقینًا زمونږ د رب ﷻ شان ډېر لوړ دی او د دې څخه ډېر اوچت دی چې ملګرې (مېرمن) او ولد ونیسي. نو نه یې څوک په مېرمنتوب سره نیولې ده او نه یې څوک په ولدیت او زویتوب سره نیولی دی.

ب: مونږ باور لرو چې زمونږ ساده ګانو او بې عقلانو په الله ﷻ باندې د میرمنې او ولد نیولو تهمت لګولی دی او د حق څخه په ډېرې لرې خبرې باندې قائل شوي دي، نو مونږ به هیڅکله دغه غیر معقول قول مرتکب ونه ګرځو.

ج: مونږ د اسماني کتاب د اورېدلو څخه وړاندې داسې وو چې ګومان به مو کاوه چې هیڅکله به په الله ﷻ باندې نه بنیادم دروغ وتړي چې د ملګري یا ولد په نیولو باندې ورته قول وکړي او نه به پیریان دغه کار وکړي. خو اوس پوه شو چې زمونږ ذکر شوی ګومان غلط وه، بلکې هم په بنیادمانو کښې او هم په پیریانو کښې دروغ تړونکي شته.

د: مونږ پخوا داسې وو چې د انسانانو خینو سړیو به د پیریانو په خینو سړیو سره پنا غوښتله او خپل رب ﷻ به یې هېراوه. نو دغې غوښتنې به د پیریانو تکبر او د حق څخه په څنګ کېدل لا زیات کړه او د هره طرفه به یې ورباندې احاطه وکړه.

نو د دې څخه وروسته مونږ د هغوی پنا غوښتنه باطله ګڼو چې هیڅ التفات ورته نه کوو.

هـ: پخوا د بنیادمانو خینو سړیو دا ګومان هم کاوه چې هیڅکله به الله ﷻ کوم پیغمبر مبعوث نه کړي ځکه چې د مبعوثیت لړۍ پای ته رسېدلې ده.

ای ملګرو! دغه ګومان تاسو هم کاوه چې د پیغمبر لېږلو سلسلې اختتام موندلی دی. خو مونږ ته ثابته شوه چې ذکر شوی ګومان غلط وه. الله ﷻ پیغمبر رالېږلی دی چې محمد ﷺ نومېږي او اصلي ټاټوبی یې مکه معظمه ده.

و: مونږ به پخوا د اسمان په طرف پورته ختلو او څه شدید مقاومت به مو په وړاندې موجودیت نه درلود، خو نن ورځ مونږ د ذکر شوي مطلب پلټنه وکړه نو اسمان مو په داسې کیفیت سره موند چې د څوکیدارانو د حیثه ډک وه او په شدت سره یې زمونږ د پورته ختلو مخنیوی کاوه.

ز: مونږ به پخوا هلته ختلو او څه غیبي خبر به مو ترلاسه کاوه، خو اوس مونږ هلته د ستورو په شغلو باندې ویشتل کېږو او نه پرېښودلی کېږو چې هلته کېنو او څه غیبي خبره واورو.

پخوا به مونږ دغه کار په اساني سره کولی شو، مګر اوس دغه کار څوک په اساني سره نه شي ترسره کولی که څوک یې د لاس ته راوړلو هڅه وکړي نو هرومرو به هلته د ستورو د پلوشو سره مخ مونده کړي چې مطلب ته د رسېدلو مخه به یې بنده کړي او د ځارنې لاندې به یې ونیسي.

ح: ای پیریانو قومیانو! د ذکر شوي کلک حراست او ځارنې پېښه بې حکمته نه وه، نو د هغه کبله مونږ پلټنه پیل کړه ترڅو معلومه کړو چې:

اول: یا د ځمکې اوسېدونکو ته د کوم عذاب د نزول اراده کړی شوې ده او ذکر شوې ځارنه د دې دپاره صورت نیولی دی چې ترڅو به هغوی باندې په ناڅاپي توګه د غفلت په حال کښې نازل کړی شي چې د ډېر زیات حسرت او خجالت سره مخامخ کړی شي.

دوهم: یا دا ده چې خلکو ته خپل رب ﷻ اراده کړې ده چې د سمې لارې ښوونه ورته وکړي او یوه پیغمبر په ذریعه ورته ارشادات ورنازل کړي. په دې احتمال کښې به کلکو تعلیماتو

د میرویس اباسین لخول سکین شو



دپاره صورت ورکړی شوی وي ترڅو هيڅوک ونه کړی شي چې اسمان ته د ختلو د لارې په اوږدو کښې د وحې کومه برخه واوري، او بيا يې خلکو ته بيان کړي او په خلکو باندې د پيغمبر پېژندل ګډوډ کړي. خو مونږ ته د تازه نازل کړی شوي کتاب په اورېدلو سره په اثبات ورسېده چې په ذکرو شوو دوارو احتمالونو کښې دوهم احتمال صحيح دی، د همدې کبله مونږ په پيغمبر (محمد ﷺ) باندې ايمان راوړو او تاسو ته هم دعوت درکوو چې ته هم ورباندې باور او ايمان خپل کړئ.

ط: يقيناً مونږ وو چې په مختلفو او متعددو لارو باندې روان وو چې زمونږ ځينې کسان صالحان وه چاته يې ضرر نه رساوه او ځينې نور داغسې نه وه بلکې نورو خلکو ته يې ضرر رسېده.

يا په بل عبارت زمونږ ځينو کسانو په موسى ﷺ يا په عيسى ﷺ ايمان راوړی وه او صالحان ګرځېدلی وه، او ځينې نور مو په کفري لارو کلک وه. خو مونږ تاسو ته دعوت درکوو چې د همدغه اورېدل شوي کتاب په ذريعه خپل اختلاف د منځه يوسو او ټول ورباندې په اتفاق سره ايمان راوړو او عقيده ورباندې خپله کړو ترڅو ټول خپل ځانونه اصلاح کړو.

ي: ای قومیانو! مونږ په يقين سره وايو چې مونږ به هيڅکله په کفري حالت کښې د الله ﷻ د عذابه خلاصون او نجات مونده نه کړو. او دا څکه چې:

مونږ هيڅکله الله ﷻ په ځمکه کښې عاجز نه شو ګرځولی چې چرته ترې پټ شو او د عذابه يې خپل ځان بچ کړو، او نه يې د تښتېدلو د حيثه عاجز ګرځولی شو چې اسمان ته ترې والوزو. زمونږ د نجات لاره فقط همدا يوه ده چې په الله ﷻ باندې ايمان راوړو او په پيغمبر ﷺ باندې يې عقيده خپله کړو چې رښتيانی پيغمبر دی.

يا: نو د همدې کبله کله چې مونږ د الله ﷻ هدايت او نازل کړی کتاب واورېد نو سمدستي مو ورباندې ايمان راوړو او عقيده مو ورباندې وکړه. او دا څکه چې:

هرڅوک چې په خپل رب ﷻ باندې ايمان راوړي نو هغه به نه د دې څخه وېدار شي چې اجرونه او ثوابونه به يې ناقص کړي او پوره بدله به ورنه کړي، او نه به د دې څخه وېدار شي چې د قيامت په ورځ به ورباندې ذلت او خواري ورنازله کړی شي چې د هرې خوا څخه به ورباندې احاطه وکړي.

يب: مونږ يقين او باور لرو چې په نظر سره ذکر شوی اورېدلی شوي عجيبه کتاب ته به مونږ په دغو دوه وو برخو باندې ووېشلی شو:

اول: يوه ډله به ورباندې عقيده خپله کړي او د مسلمانانو په ډله کښې به شامل شي لکه چې مونږ ورباندې عقيده خپله کړې ده او يا لکه هغه کسان کوم چې زمونږ دعوت قبول کړي او زمونږ په تګلاره باندې روان شي.

دوهم: بله ډله به زمونږ دعوت قبول نه کړي او خپل ځانونه به د ظلم کوونکو په ډله کښې شامل کړي.

يج: نو هر چا چې ايمان راوړو او د مسلمانانو په ډله کښې شامل شو يقيناً دغو کسانو بالکل سمې لارې ته قصد وکړ او په برابره لاره باندې روان شوه، چې همدا د نجات لاره ده.

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



او هر چې ظالمان دي نو هغوی د هر چا څخه وړاندې په خپلو ځانونو باندې ظلم وکړ نو د قیامت په ورځ به د دوزخ خاشاک وي او د دوزخ اور به ورباندې بلېږي.

## توضیحات

۱_ د الله ﷻ په توفیق د [الأحقاف:۲۹] ایت لاندې د ذکرو شوو ایتونو پورې اړوند ځینې مطالب لیکلی شوي دي او ځینې پوښتنې جوابې شوې دي. امید دی چې هلته په یو ځل مراجعې سره به هغه پوښتنې او تشویشونه ټول د منځه لاړ شي کوم چې په دې مقام کښې د چا په زړه کښې راپیدا کېږي.

## یو نحوي تحلیل

۲_ هېر مو نه شي چې د ﴿ وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ ﴾ الآية څخه نیولې تر راتلونکي [۱۴] ایت ﴿ وَأَنَّا مِنَّا ٱلْمُسْلِمُونَ ﴾ الآية پورې د دولسو ایتونو په شروع کښې د "أنَّ" مشدد توری د همزې په زور سره نازل شوی دی چې خپل مدخول تاویلي مفرد ګرځوي.

د دغو دولسو ایتونو په معطوف علیها کښې علماوو کرامو څو احتماله لیکلي دي[1]، مګر بهتر او بې تکلفه احتمال یې دا دی چې دا ټول د وړاندېني ایت د ﴿ ءَامَنَّا بِهِۦ ﴾ په جمله کښې په محلي مجرور ضمیر "هٖ" باندې عطف دي[2].

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: د عربیت د قانون په بنیاد (چې په معطوف علیه کښې مذکور په معطوف کښې مقدر وي) باید د ذکر شوو دولسو ایتونو سره د "آمنّا" کلمه مقدره وګرځولی شي: حال دا چې د دغو دولسو ایتونو څخه په ځینو کښې دغه کلمه مقدره نه شي ګرځېدلې، کوم چې "مؤمن بهٖ" نه دي لکه ﴿ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمْعِ ﴾؟

مونږ وایو چې: په عطف کښې ذکر شوی قانون د عینو کلماتو په تقدیر سره ضرور نه دی ترڅو اعتراض وارد شي، بلکې د متشابه کلمې په تقدیر سره هم د قانون مقتضی اداء کېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې نیم بیت ولولئ:

:: زَجَّجْنَ الْحَوَاجِبَ وَالْعُيُونَا ::

دلته د "الْعُيُون" کلمه په "الْحَوَاجِب" باندې عطفه ده خو د "زَجَّجْنَ" کلمې ورته تقدیر نه دی موندلی بلکې د "كَحَلْنَ" کلمه ورسره مقدره ګڼلې شوې ده[3]. یعنې زنانه وو خپلې وروزي نرۍ کړې او خپلې سترګې یې (په رنجو باندې تورې) کړې. نه دا چې سترګې یې هم نرۍ کړې.

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۴۱۲
(۲) البحر المحيط ج۱۰ ص۲۹۴
(۳) لسان العرب ج۲ ص۲۸۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو څه لږې نه ده چې د مثال په توګه په ﴿ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمْعِ ﴾ کښې د "شهدنا" کلمه مقدره وګڼو. يعني او مونږ شهادت ورکوو چې پخوا به مونږ د اسمان په ځينو ځايونو کښې کېناستلو او خبرو ته به مو غوږ ايښوده، خو اوس دا کار نه شو کولی.

## د "جَد" او "شَطَط" معناوې

۴ـ په ﴿ وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا ﴾ کښې د ﴿ جَدُّ ﴾ کلمه دلته علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسيره کړې ده چې تقريبًا اوو معناوو ته رسېږي[۱]، خو بهتره دا ده چې په "شان" سره معنی شي چې په اوو واړو معناوو باندې مشتمله برېښي[۲].

او په ﴿ عَلَى ٱللَّهِ شَطَطًا ﴾ کښې د "شطط" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الكهف:۱۴] ايت لاندې تفسيره کړې ده چې د ډېر لرېوالي معنی ورکوي.

يعني مونږ په دې ايمان لرو چې زمونږ د رب ﷻ شان د دې څخه ډېر اوچت دی چې ولد يا صاحبه ونيسي، دا د بې عقلانو او ګمراه کوونکو خبره ده چې د حق څخه ډېره لرې ده کوم چې د ابليس او نورو شريرانو د پيروانو څخه عبارت دي.

## ځو نکات

۵ـ په دې مقام کښې لاندې نکات په ذهن کښې ساتل په کار دي:

الف: په ﴿ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ ٱلْجِنِّ ﴾ کښې د جاهليت د زمانې هغه کفري عادت ته اشاره شوې ده د کوم په هکله چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې په هغه وخت کښې به چې کله په انسانانو باندې په بيديا او خوفناک ځای کښې شپه ورغله نو د هغې سيمې د پيريانو په مشر باندې به يې پنا غوښتله[۳]. د هغوی خيال وه چې هره بېديا او هر خوفناک ځای د پيريانو د يوه مشر په لاس کښې قرار لري.

د همدې کبله د پيريانو مسلمانې شوې (دعوت کوونکې) ډلې په ذکرې شوې جملې سره همدغه جاهلي عادت د رد په غرض ياد کړ.

ب: ځينو مفسرينو کرامو د ﴿ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ﴾ جمله د ضمائرو په لحاظ په متعددو معناوو سره تفسيره کړې ده[۴] مګر غوره دا ده چې د دغې جملې مرفوع ضمير په ﴿ رِجَالٌ مِّنَ ٱلْإِنسِ ﴾ کښې "رِجَال" ته راجع شي او منصوب ضمير يې په ﴿ بِرِجَالٍ مِّنَ ٱلْجِنِّ ﴾ کښې "رِجَال" ته راجع شي[۵].

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په همدغې جمله کښې د "رَهَق" کلمه دېته وايي چې يو شی په بل شي

---

(۱) زاد المسير ج۸ ص۱۰۵؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۲۸
(۲) روح المعاني ج۲۹ ص۸۴
(۳) الدر المنثور ج۸ ص۳۰۰
(۴) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۱۰
(۵) روح المعاني ج۲۹ ص۸۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې په قهر او غلبې سره احاطه وکړي[۱]. خو په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو په تکبر او ګمراهۍ سره تفسيره کړې ده[۲]. يعنې د جاهليت په زمانه کښې به چې کله په خوفناکو ځايونو کښې نښادمانو په پيريانو سره پنا وغوښتله نو په دغې غوښتنې سره به يې د پيريانو تکبر او ګمراهي لا اضافه کړه او خپل ځانونه به ورته د هر لوړ رتبه وبرښېدل.

ج: مونږ ته نبي کريم ﷺ په خوفناکو ځايونو کښې د پنا غوښتلو طريقه داسې راښودلې ده چې فرمايلي يې دي: کله چې ستاسو کوم کس په (يوه خوفناکه) مېنه کښې واوروي، نو دا دعا دې وايي چې: «أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق» يعنې د الله ﷻ په کلماتو سره پنا غواړم چې د هر حيثه پوره (او کاملې) دي، (البته) د هغه شي د شر څخه کوم چې الله ﷻ پيدا کړی دی. «فإنه لا يضره شيء حتى يرتحل منه»[۳] نو يقينًا شان دا دی چې نوموړي کس ته به تر هغې پورې هيڅ شی ضرر ونه رسوي ترڅو چې د دې مېنې څخه بار کړي (او تري وکوچېږي).

د: که څوک وايي چې: په ﴿ وَأَنَّهُمْ ظَنُّوا كَمَا ظَنَنتُمْ ﴾ کښې د "أنهم، ظنوا" دواړه ضميرونه انسانانو ته راجع دي خو په ﴿ ظَنَنتُمْ ﴾ سره داعيانو پيريانو کوم کسان مخاطب ګرځولي دي؟

مونږ وايو چې: په دغه ضمير سره يا داعيانو په خپله دله کښې ځينو کسانو ځينو نورو ته خطاب متوجه کړی دی[۴] او يا به يې وريانديې خپل قوم مخاطب ګرځولی وی.

او په ﴿ أَن لَّن يَبْعَثَ اللَّهُ أَحَدًا ﴾ کښې د ﴿ يَبْعَثَ ﴾ کلمه د "بعث" لکه "ضرب" څخه اشتقاق شوې ده. چې ځينو مفسرينو کرامو په بعث بعد الموت سره معنی کړې ده[۵]. يعنې ستاسو ګومان وه چې الله ﷻ به هيڅوک د دوهم ځل دپاره د قبر څخه را اوچت نه کړي.

خو بهتره دا ده چې دلته د بعث څخه د پيغمبر مبعوثيت اراده کړی شي چې په بل ايت کښې وريانديې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ حَتَّىٰ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ اللَّهُ مِن بَعْدِهِ رَسُولًا ﴾ [المؤمن: ۳۴] يعنې آن تردې چې کله يوسف ﷺ وفات شو تاسو وويلې چې د ده ﷺ څخه وروسته به هيڅکله الله ﷻ بل پيغمبر مبعوث نه کړي (او مونږ ته به يې رانه لېږي).

نو د معنی حاصل به يې داسې راوځيږي چې: ځينو داعيانو پيريانو ځينې نور مخاطب کړه او ورته يې وويلې چې: ای ملګرو! د انسانانو يوه غلطي دا وه چې د پيريانو په مشرانو باندې به يې په خوفناکو ځايونو کښې پنا غوښتله او بله غلطي يې دا وه چې ستاسو غوندې هغوی هم ګومان کاوه چې الله ﷻ به هيڅکله د موسی ﷺ يا د عيسی ﷺ څخه وروسته هيڅوک د پيغمبر په حيث رانه لېږي. دغه دی چې ستاسو او د هغوی دواړو ګومان غلط ثابت شوه چې الله ﷻ پيغمبر رالېږلی دی

(۱) مفردات الراغب ص: ۲۱
(۲) تفسير القاسمي ج ۱۶ ص ۳۰۷
(۳) صحيح مسلم ج ۲ ص ۳۴۷
(۴) تفسير الکشاف ج ۴ ص ۶۲۴
(۵) البحر المحيط ج ۱۴ ص ۱۲۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د تورات څخه وروسته يې ورباندې بل عجيب کتاب هم نازل کړی دی چې مونږ په خپلو غوږونو اورېدلی دی.

هـ. په ﴿ وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ ﴾ کښې د ﴿ لَمَسْنَا ﴾ کلمه د "لَمَس" ـ لکه "ضَرَب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، که څه هم د "لَمَس" معنی دا ده چې څوک يو شی په لاس سره مسه کړي[1]، خو په دې مقام کښې د طلب او پلټنې څخه کنايې ده[2].

و. که څوک وايي چې په ﴿ مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ﴾ کښې د "حَرَس" کلمه د "حَارِس" جمعه ده حال دا چې د ﴿ شَدِيدًا ﴾ په کلمې سره توصيفه شوې ده چې مفرده ده او د خپل موصوف سره مطابقت نه لري؟

مونږ وايو چې: ذکره شوې د "حَرَس" کلمه جمعه نه ده چې اعتراض وارد شي بلکې اسم جمعه ده[3] چې نظر لفظ ته په مفرد صفت سره هم توصيفه کېدلی شي.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: مونږ اسمان ته د پورته کېدلو او هلته مو د غوږ نيولو د خای موندلو پلټنه وکړه خو ورباندې بريالي نه شوو، بلکې اسمان مو د پخواني حالت په خلاف د سختو پيردارانو او د اور د شغلو څخه ډک کړی شوی مونده کړ.

ز. که څوک وايي چې: په ﴿ أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِي ٱلْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴾ کښې الله ﷻ مونږ ته کتب مبې د پيريانو داعيانو کلام راحکايت کړی دی. نو پوښتنه دا ده چې: هغوی په څه منظور د شر په بيان کښې مجهوله صيغه ﴿ أُرِيدَ ﴾ استعماله کړه او د خير په بيان کښې يې په معلومه صيغه ﴿ أَرَادَ ﴾ باندې تلفظ وکړ؟

مونږ وايو چې: دا د هغوی حسن ادب وه چې الله ﷻ ته يې مستقيماً د شر د ارادې نسبت ونه کړ، که څه هم خير او شر دواړه د الله ﷻ په ارادې سره صورت نيسي، ترڅو د بې ادبۍ په ارتکاب اخته نه شي.

همدې مطلب ته نبي کريم ﷺ په خپل يوه اورده مناجات کښې اشاره کړې ده چې: «وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ»[4] يعني د خير ټول کارونه ستا په بلا کيفه لاس کښې دي (د شر کارونه هم ستا په واک کښې قرار لري خو) تاته (په انفراد سره) نه نسبت کېږي.

د همدغه حديث په استناد جائزه نه ده چې څوک الله ﷻ ته په "يَا خَالِقَ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيرِ" سره خطاب وکړي چې ای د بېزوګانو او خنزيرانو پيدا کوونکيه!، او دا ځکه چې د دغسې عبارت څخه د بې ادبۍ وږمه اوچتېږي.

---

[1] لسان العرب ج۶ ص۲۰۹
[2] البحر المحيط ج۱۰ ص۲۹۶
[3] تفسير أبي السعود ج۹ ص۴۴
[4] صحيح مسلم ج۱ ص۲۶۳ - سنن النسائي ج۱ ص۱۴۲

په دې ارتباط د الله ﷻ په توفيق د [ص: ۴۱] ایت لاندې بنه پوره وضاحت تېر شوی دی.

ح: په ﴿ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ﴾ کښې د "قِدَد" کلمه د "قِدَّة" ـ لکه "قِطْعَة" ـ جمعه ده چې د ځېرولو او ټوټې-ټوټې ګرځولو معنی ورکوي[1].

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په همدغې جملې سره ورانديني جمله ﴿ وَأَنَّا مِنَّا ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَ ﴾ تفسيره شوي ده يعني د دې اسماني کتاب د اورېدلو څخه وراندې مونږ په مختلفو او متعددو لارو باندې روان وو چې ځينې کسان مو صالحان وه او په موسی ﷺ يا عيسی ﷺ باندې یې ايمان راوړی وه، او ځينو مو د دوی څخه په غير وه چې په شرک او مجوسيت او نورو کفري مسلکونو باندې ويشلي شوي وه.

څرنګه چې اوس حقاني پيغمبر راغلی دی نو په کار دي چې ټول وربانديې په اتفاق سره ايمان راوړو او په يوه اسلامي لاره روان شو.

ط: په ﴿ وَأَنَّا مِنَّا ٱلْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا ٱلْقَٰسِطُونَ ﴾ کښې د "قَاسِطُون" کلمه د "قِسْط" ـ لکه "عِلْم" ـ څخه اشتقاقه شوي ده. د "قِسْط" کلمه د اضدادو څخه ده چې د "عدل" او "ظلم" دواړو په معناوو کښې استعمالېږي، خو په دې مقام کښې تري دوهمه معنی (ظلم) مراده ده[2].

دا د يو پلوه او د بله پلوه په ذکر شوي کلام کښې داعيانو پيريانو د خپل قوم هغه حالت ته اشاره کړې ده، کوم چې هغوی ته د اسماني عجيب کتاب د اورېدلو څخه وروسته پېښېدونکی وه.

يعنې لکه څنګه چې مونږ نظر پخوانيو پيغمبرانو (موسی ﷺ، عيسی ﷺ) ته په صالحانو او غير صالحانو (دوه وو ډلو) باندې ويشلي شوي وو، همدارنګه مونږ په نظر سره تازه مبعوث شوي پيغمبر (محمد ﷺ) ته هم په (دوه وو ډلو) غاړه اېښودونکو او ظلم کوونکو ويشلی کېږو.

نو په کار دي چې هيڅوک خپل ځان د ظالمانو په ډله کښې شامل ونه ګرځوي او په اخلاص سره په همدغه پيغمبر باندې ايمان راوړي.

﴿ وَأَلَّوِ ٱسْتَقَٰمُوا۟ عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَٰهُم مَّآءً غَدَقًا ﴿١٦﴾ لِّنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ۚ وَمَن يُعْرِضْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِۦ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴿١٧﴾ وَأَنَّ ٱلْمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا۟ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدًا ﴿١٨﴾ وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبْدُ ٱللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا۟ يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿١٩﴾ ﴾

[۱۶] او (ای پيغمبره! خپل امت ته ووايه چې: ماته وحي کړی شوي ده چې) يقيناً شان دا دی چې که چرته خلک (انسانان او پيريان) په سمه لاره (د اسلام په دين) برابر ودرېږي، نو مونږ به يې (په دنيا کښې) په ډېرو اوبو (بارانونو) سره خړوب کړو.

---

(۱) لسان العرب ج۳ ص۳۴۴

(۲) مفردات الراغب ص۴۱۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۷] (البته دا) د دې دپاره چې مونږ یې په اوبو (د اوبو په نعمت) کښې د امتحان لاندې ونیسو.
او هر څوک چې د خپل رب ﷻ د ذکر څخه اعراض وکړي (او په سمه اسلامي لاره باندې برابر ونه درېږي) نو خپل رب ﷻ به یې په ډېر سخت عذاب کښې داخل کړي.
[۱۸] او (دا هم راته وحې کړی شوې ده چې:) یقیناً ټول جوماتونه (او د عبادت ځایونه من حیث العبادة) په الله ﷻ پورې اختصاص لري نو تاسو د الله ﷻ سره (په عبادت کښې) هیڅوک مه شریکوئ.
[۱۹] او (دا هم راته وحې کړی شوې ده چې:) یقیناً شان دا دی چې کله د الله ﷻ بنده (محمد ﷺ په نخله نومې مقام کښې لمانځه ته) ودرېد چې الله ﷻ وبلي (او عبادت یې وکړي) نو پېریان نږدې وه چې (د ډېر ازدحام د کبله) ورباندې ورغونډ شي (او خپنې د خپنو نورو د پاسه قرار ولري).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته د پېریانو د کلام په تعقیب عمومي قانون نازل کړی دی چې پېریانو او بنیادمانو (دواړو ډولو) ته شمولیت لري نو حاصل یې داسې راځېږي چې:
۱ـ ای پیغمبره! خپل امت ته ووایه چې ماته د مؤمنانو او کافرانو په ارتباط (انسانان دي او که پېریان) داسې قانون وحې کړی شوی دی چې:
الف: شان دا دی چې دغه دواړه ډلې که چرته همدوی په سمه لاره (اسلامي دین) باندې کلک ولاړ پاتې شي او یا ورباندې ودرېږي او د ظلم او فسق څخه راوګرځي، نو مونږ به یې په دنیا کښې په ډېرو اوبو او ډېرو بارانونو سره خروب کړو چې د ډېرو مالونو او ډېرو باغونو خاوندان به وګرځي.
خو په دې معنی نه چې محاسبه به ورسره صورت نه نیسي بلکې مونږ به په دغو اوبو او په دغه ښه حالت باندې ذکرې شوې دواړه ډلې امتحان کړو. که چرته په امتحان کښې کامیاب شوه نو د جنت باغونه او د جنت ځلور ویالې (لښتې) به هم ورپېرزو کړو.
ب: بالمقابل هر څوک چې د خپل رب ﷻ د ذکر څخه اعراض وکړي او یا په خپل اعراض باندې کلک ولاړ پاتې شي او ادامه ورکړي، نو خپل رب ﷻ به یې په دنیا او آخرت کښې په سخت عذاب کښې ورداخل کړي.
۲ـ ماته دا خبره هم وحې کړی شوې ده چې ای پېریانو او انسانانو! د سجدو ټول ځایونه د سجدو او عبادت په لحاظ په الله ﷻ پورې اختصاص لري، نو تاسو د الله ﷻ سره په عبادت کښې هیڅ شی او هیڅوک مه شریکوئ او په وحدانیت ورته معتقد شئ.
۳ـ دا هم راته وحې کړه شوې ده چې کله د الله ﷻ بنده (محمد ﷺ) لمانځه ته پورته شو چې الله ﷻ وبلي او عبادت یې وکړي نو پېریان په حیرت او تعجب کښې ولوېده، چې صحابه کرام ﷺ په خومره منظمه توګه د الله ﷻ د بنده اطاعت کوي او په رکوع او سجده او همدارنګه په قومه او جلسه کښې یې پیروي کوي. نو پېریان د الله ﷻ په بنده باندې د ننداري دپاره ورغونډ شوه حتی چې نږدې وه چې خپنې د خپنو نورو د پاسه ودرېږي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ای انسانانو! تاسو ته په کار دي چې د پیریانو غوندې په دقت او په مینه دعوت واورئ او غوږ ورته کېږدئ، او د سارانیو خرو غوندې ترې نفرت ونه کړئ.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَأَلَّوِ ٱسْتَقَـٰمُوا۟ عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ ﴾ الآية کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده[۱]:

الف: دغه ایت په ﴿ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ ﴾ باندې عطف دی چې په وحې کړی شوي کلام کښې شامل دی.

ب: "أن" پکښې د مثقل څخه مخفف دی چې اسم یې د "شان" مقدره کلمه ده.

ج: په ﴿ ٱسْتَقَـٰمُوا۟ ﴾ کښې پیریانو او انسانانو دواړو ډلو او یا هرې ډلې ته ضمیر راجع دی.

د: ﴿ عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ ﴾ کښې د ﴿ ٱلطَّرِيقَةِ ﴾ کلمه د اسلام د مستقیم دین څخه عبارت ده.

هـ: په ﴿ مَّآءً غَدَقًا ﴾ کښې د "غَدَق" کلمه ډېرو اوبو ته وضعه شوې ده[۲] چې په دې مقام کښې د ډېر ورښت او باران څخه کنایي ده.

نو حاصل یې همغسې راځېږي لکه چې وړاندې د مطلب په خلاصه کښې ورته اشاره شوې ده.

د دغه ایت یو نظیر وړاندې تېر شوی دی چې: ﴿ يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ﴾ [نوح:۱۱] یعني نوح ﷺ خپل قوم ته وویلې چې د خپل رب ﷻ څخه مغفرت وغواړئ چې په تاسو باندې اسمان په شبېو شبېو وورو‌ي.

## جوماتونه په الله ﷻ پورې اختصاص لري

۲ـ که څه هم په ﴿ وَأَنَّ ٱلْمَسَـٰجِدَ لِلَّهِ ﴾ کښې د "مَساجد" کلمه د "مَسْجِد" جمعه ده چې په دې مقام کښې علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[۳]، مګر ظاهره دا ده چې دلته به ترې هغه ځایونه مراد وي کوم چې د عبادت دپاره جوړ کړی شوي وي، برابره خبره ده چې د مسلمانانو له خوا جوړ کړی شوي وي او یا د نورو ملتونو له خوا[۴] او حتی یا د پیریانو له خوا.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه ذکر شوی ایت شریف هم په وړاندې ﴿ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ ﴾ باندې عطف دی[۵] کوم چې د همدې سورت په اولني ایت کښې نازل شوی دی.

یعني ماته دا هم وحې کړی شوې ده چې کوم ځایونه یا کومې کوټې چې د عبادت دپاره جوړې کړی شوي دي هغه د همدغه عبادت په لحاظ په الله ﷻ پورې اختصاص لري نو په کار دي چې په

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۹۰

(۲) القاموس المحیط ج۳ ص۲۷۴

(۳) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۴۶؛ زاد المسیر ج۸ ص۱۰۸

(۴) تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۲۰، تفسیر البغوي ج۴ ص۴۰۴؛ المحرر الوجیز ج۱۶ ص۱۳۹

(۵) البحر المحیط ج۱۰ ص۳۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه اختصاص باندې پرېښودلی شي او د غير الله ﷻ عبادت پکښې صورت ونه نيسي، لکه څنګه چې د خپل رب ﷻ د ذکر څخه اعراض کوونکي او مخ اړوونکي خلک په دغه مرض اخته دي.

## دوه ډوله تفسير

۳ـ په ﴿ وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبْدُ ٱللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا۟ يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴾ کښې په اتفاق سره د ﴿ عَبْدُ ٱللَّهِ ﴾ څخه دلته محمد ﷺ مطلب دی.

او د "لِبَد" کلمه پکښې د "لِبْدَة" ـلکه "نِعْمَة"ـ جمعه ده چې د هغه شي دپاره وضعه شوې ده د کوم جزونه چې غونډ او راټول شي او ځينې د ځينو د پاسه قرار ولري[1].

خو د دغه ايت په معطوف عليها کښې په لاندې ډول اختلاف دی:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې دا ايت د دې سورت په لومړني ايت کښې په ﴿ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ ﴾ باندې عطف دی[2]. نو په دې تقدير به په ﴿ كَادُوا۟ ﴾، ﴿ يَكُونُونَ ﴾ کښې دواړه ضميرونه پيريانو ته راجع وي. يعني ماته وحې کړی شوې ده چې يقيناً شان دا دی چې کله د الله ﷻ بنده (محمد ﷺ) لمانځه ته پورته شو چې الله ﷻ وبلي او عبادت يې وکړي، نو پيريانو ورته په ډېر شوق او رغبت سره غوږ ونيوه، حتی چې دوی نژدې وه چې د الله ﷻ په بنده باندې ورغونډ شي او ځينې د ځينو نورو د پاسه قرار ولري.

ب: ځينې نور وايي چې دا ايت په وړاندېني [۳] ايت کښې په ﴿ وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا ﴾ باندې عطف دی، نو په دې تقدير به ذکر شوي ضميرونه صحابه کرامو ؓ ته راجع وي او ايت به د پيريانو د کلام په حکايت کښې شامل وي، دا ډول تفسير د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه هم روايت شوی دی[3]. يعني او مونږ شهادت ورکوو چې يقيناً شان دا دی چې کله د الله ﷻ بنده ودرېد چې الله ﷻ وبلي او عبادت يې وکړي نو صحابه کرامو ؓ يې (په قومه او جلسه کښې) په انتهاء درجه اطاعت خپل کړ، حتی چې هغوی نژدې وه چې ټول ورغونډ شي او ځينې د ځينو د پاسه قرار ولري.

## تبصره

۴ـ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري او د بدليت په لحاظ دواړه هم اراده کېدلی شي، مګر د مقام په لحاظ اولنی تفسير غوره برېښي. او دا ځکه چې:

الف: د پيريانو د کلام حکايت وړاندې په [الجن:۱۵] ايت باندې تمام شوی دی.

ب: لکه چې د ﴿ وَأَلَّوِ ٱسْتَقَٰمُوا۟ ﴾ او ﴿ وَأَنَّ ٱلْمَسَٰجِدَ لِلَّهِ ﴾ دواړو ايتونه په اولني ايت کښې په ﴿ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ ﴾ باندې عطف دي، همدارنګه وروسته باندې بايد ذکر شوی ايت هم عطف شي.

---

(۱) لسان العرب ج۳ ص۳۸۷، تفسير الطبري ج۲۹ ص۱۱۷
(۲) تفسير الکشاف ج۴ ص۶۳۰
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۰؛ الدر المنثور ج۸ ص۳۰۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## هېر مو نه شي

۵ـ هېر مو نه شي چې ځينو مفسرينو کړامو[۱] ذکر شوی ايت شريف په درېيم ډول سره هم تفسير کړی دی، چې په ﴿ كَادُواْ ﴾، ﴿ يَكُونُونَ ﴾ کښې يې دواړه ضميرونه ټولو عربو ته راجع ګڼلې دي، او "معطوف عليه" يې ورته د دې سورت په لومړني ايت کښې د ﴿ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ ﴾ کلمات په نظر کښې نيولي دي. يعنې ماته وحې کړه شوې ده چې کله د الله ﷻ بنده (محمد ﷺ) د يو پيغمبر په حيث پورته شو ترڅو د الله ﷻ توحيد ته دعوت وچلوي نو ټولو عربو سره لاس يو کړ او په مقابل کښې يې د مخنيوي دپاره ودرېده، حتی نژدې وه چې ورباندې ورغونډ شي او ځينې د ځينو د پاسه ورسواره شي. البته دا د دې دپاره چې په دغه کلک تعاون او توافق سره د نبوت رڼا مړه کړي او د اسلام دين پرېنږدي چې وده وکړي او په دنيا کښې خور شي

مګر مونږ نه دغه تفسير د مقام په لحاظ او د ايتونو د تناسب په لحاظ په زړه پورې ونه برېښېد نو ځکه مو د درېيم تفسير په حيث قبول نه کړ

﴿ قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُواْ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ بِهِۦٓ أَحَدًا (۲۰) قُلْ إِنِّى لَآ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا (۲۱)
قُلْ إِنِّى لَن يُجِيرَنِى مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٌ وَلَنْ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلْتَحَدًا (۲۲) إِلَّا بَلَٰغًا مِّنَ ٱللَّهِ
وَرِسَٰلَٰتِهِۦ ۚ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا (۲۳) حَتَّىٰٓ إِذَا
رَأَوْاْ مَا يُوعَدُونَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ أَضْعَفُ نَاصِرًا وَأَقَلُّ عَدَدًا (۲۴) قُلْ إِنْ أَدْرِىٓ أَقَرِيبٌ
مَّا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ لَهُۥ رَبِّىٓ أَمَدًا (۲۵) عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا (۲۶)
إِلَّا مَنِ ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا (۲۷) لِّيَعْلَمَ أَن
قَدْ أَبْلَغُواْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصَىٰ كُلَّ شَىْءٍ عَدَدًۢا (۲۸) ﴾

[۲۰] (ای پيغمبره!) ووايه چې: يقيناً زه خپل رب ﷻ (په وحدانيت سره) بلم او هيڅوک ورسره (په عبادت کښې) نه شريکوم.

[۲۱] ووايه چې (ای مشرکانو!) يقيناً زه ستاسو دپاره د ضرر (او نفعې) توان نه لرم او نه (درته) د هدايت (او ضلالت توان لرم).

[۲۲] ووايه چې يقيناً ما به د الله ﷻ څخه هيڅوک هيڅکله خلاص نه کړي او نه به هيڅکله د الله ﷻ څخه په غير زه (د خپل ځان دپاره) د پناه اخستلو ځای مونده کړم (البته که بالفرض چېرته ما د نبوت اراده وکړي).

---

[۱] تفسير "بحری" ج۲۹ مخ۱۴۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۳] مګر زما دنده ستاسو دپاره د الله ﷻ له طرفه او د هغه ﷻ د پیغامونو رسول دي او پیغامونو لخوا د ابلاغ (او رسولو توان لرم او بس).

او هر څوک چې د الله ﷻ او د هغه ﷻ د پیغمبر ﷺ خبره (نه مني په شوره غوږ نه ږدي) نو (د) عصیان (او) ګرې نو یقیناً همدغو (نافرمانانو) ته دوزخ (اماده) شوی دی په داسې حال کښې چې دوی به په کښې همیشه او همیشه وي همیشه.

[۲۴] (کفار به خپلو کړو باندې او پیغمبرانو ته تر هغه (ملامته) ورکوي) تر څو چې هغه شی (د قیامت قیام یا دنیاوي عذاب) ونه ګوري د کوم چې ورسره وعده کړی شوې ده.

نو (په دغه وخت کښې به) کفار پوه شي چې د مرستندویانو له حیثه څوک کمزوري دي او د پیروانو د حیثه څوک د شمیر په لحاظ کم دي؟

[۲۵] ووایه چې زه نه پوهیږم چې هغه شی (د قیامت قیام یا عذاب) به نژدې وي د کوم چې تاسو سره وعده کړی شوې ده (او که) یا به زما رب ﷻ هغه وخت وګرځوي (لرې کړي)؟

[۲۶] یوازې زما رب ﷻ عالم الغیب (په غیبو باندې خبردار) دی (او بس) نو زما رب ﷻ په خپلو غیبو باندې هیچا ته خبرتیا نه ورکوي.

[۲۷] مګر هغه چا ته (وربانډې د حکمت په مقتضی) خبرتیا ورکوي کوم چې زما رب ﷻ (د رسالت دپاره) غوره کړی وي- چې (همدغه څوک د پیغام وروستي خبره عبارت دي) (او هغه خبره د) چې ... او که پرښته وي)

نو یقیناً زما رب ﷻ (هغه) خبرتیا ورکوي په وخت کښې د غوره کړي بنده د وړاندې خوا او د ده د وروسته خوا (مخکې د هره طرفه یې) ساتونکي پرښتې لیږي

[۲۸] (البته دا) د دې دپاره چې غوره کړی بنده پوه شي چې یقیناً شان دا دی چې ساتونکو پرښتو د خپل رب ﷻ پیغامونه (ښه ښه) رارسول حال دا چې زما رب ﷻ په هغه شي (ښه) سره احاطه کړې ده کوم چې (د دغو) ساتونکو پرښتو په نزد (موجود) دي او زما رب ﷻ هر شی د شمیر د حیثه د انضباط لاندې راوستلی دی (چې هیڅ شی ترې نه شي پټېدلی)

د مطلب خلاصه

په دې آیتونو کښې د مشرکانو او کفارو خبره د ارشاداتو سره نبي کریم ﷺ ته اړولې شوي ده چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره د توحید د لاول لاول دلایلو د قرآنکی خبره وروسته اوس څه نور ارشادات په تکلیف کښې ونیسه او کفارو او مشرکانو ته یې ابلاغ کړه او ورته ووایه چې

(... ای مشرکانو) تاسو به دې پوه شئ چې زه یوازې خپل رب ﷻ په وحدانیت سره یقین او عبادات یې کوم چې په عبادات کښې ورسره هیڅوک شریک نه کړ ځوم

دا زما دریځ دی، زه په هغه کې د ریځ ساتونکی، ګڼلی او لاز یې کړه تاسو زما پیروي وکړئ او که ولې نه کړئ زه د خپل دغه دریځ څخه اوړېدونکی نه یم

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ ای مشرکانو! زه په یقیني توګه نه تاسو ته د ګټې رسولو توان لرم او نه درڅخه د ضرر څه مخنیوی کولی شم، او همدارنګه نه تاسو په سمه لاره باندې روانولی شم او نه مې په واک کښې شته چې ستاسو د ضلالت او ګمراهۍ مخه ونیسم.

۳ـ ای مشرکانو! ستاسو ګټه او ضرر خو لا پریږده چې زما په واک کښې نشته حتی زه خپل ځان ته هم د ګټې او ضرر رسولو قدرت نه لرم. د مثال په توګه:

الف: که بالفرض ماته الله ﷻ د نیولو اراده وکړي نو هیڅوک مې ترې هیڅکله نه شي خلاصولی ترڅو د الله ﷻ د ارادې مخه ونیسي.

ب: په همدغه صورت کښې به زه هیڅکله د خپل ځان دپاره د الله ﷻ څخه پرته د پنا اخستلو ځای هم مونده نه کړم، چې د همده ﷻ د نیونې څخه مې بچ کړي.

۴ـ لنډه دا چې زما په توان کښې ستاسو دپاره هیڅ شی نشته پرته د دې څخه چې د الله ﷻ د پلوه تاسو ته رااستولی شوي ارشادات هو بهو درورسوم او درته یې ابلاغ کړم البته کوم چې راباندې تازه نازلیږي.

او همدارنګه پرته د دې څخه چې د الله ﷻ پخواني را استولي شوي پیغامونه هم درته واوروم چې په دې باره کښې شرعي حکم دا دی او په هغې باره کښې دا دی، د مثال په ډول:

ماته د وړاندېنیو نازل شوو ارشاداتو څخه یو ارشاد دا دی چې:

هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ څخه عصیان وکړي او د عوت یې قبول نه کړي نو یقیناً دغو کسانو ته دوزخ ټاکلی شوی دی چې په همدغه دوزخ کښې به دائمي پراته وي او تر ابد الاباد پورې به ترې رابهر نه شي او نه به ترې عذاب څه تخفیف کړی شي.

۵ـ ای پیغمبره! مشرکان تاته د پیغور په توګه وایي چې ستا کومکیان کمزوري دي چې غریبانو او مریانو درباندې ایمان راوړی دی او همدارنګه تاسو په اقلیت کښې یاست چې ستا ملګري (مؤمنان) کم دي، د خلکو اکثریت زمونږ سره دی چې په تاباندې یې ایمان نه دی راوړی.

مشرکان به د دغه پیغور په ارتباط تر هغه وخته پورې په غفلت کښې پراته وي ترڅو چې په خپلو سترګو هغه شی وګوري د کوم چې ورته وعده ورکوله کېږي چې هغه شی د دنیاوي عذاب یا د اخروي عذاب څخه عبارت دی.

او کله چې قیامت قائم شي نو مشرکان به پوه شي چې په دنیا کښې د کومک کوونکو د حیثه څوک کمزوري وه او د عدد د حیثه څوک په اقلیت کښې وه؟. یا په بل عبارت: مشرکان به هلته پوه شي چې په دنیا کښې همدوی د نصرت کوونکي د حیثه کمزوري وه، بلکې هیڅ نصرت کوونکی یې نه درلود. او همدارنګه به پوه شي چې همدوی د عدد د حیثه لږ وه چې د الله ﷻ د پرښتو لښکر فقط ستاسو ملګری دی نه د مشرکانو.

۶ـ ای پیغمبره! مشرکان د استهزاء او ملنډو په توګه له تا څخه پوښتنې چې ذکره شوې د قیامت ورځ به کله قائمه شي د کومې چې مونږ ته وعده راکوله کېږي؟

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ته د مشرکانو په جواب کښې ووایه چې:

الف: زه نه پوهېږم چې دغه وعده به نژدې وي او که الله ﷻ به ورته اوږد وخت ورکړي؟ خو دومره پوهېږم چې تحقق یې بالکل ضروري او یقیني دی.

ب: د دغې ورځې د قیام علم د غیبي علومو څخه دی او غیبي علوم یوازې په الله ﷻ پورې اختصاص لري.

ج: الله ﷻ په دغو غیبي علومو باندې بل هیچا ته خبرتیا نه ورکوي مګر هغه چا ته کوم یې چې د رسالت دپاره د استازي په توګه غوره کړی وي، برابره خبره ده چې دغه استازی پرښته وي او که بنیادم.

د: خو د دې سره-سره الله ﷻ دغه غوره کړی شوي استازي ته هم هومره غیبي علم ورکوي څومره چې ورته ضرورت وي چې خلکو ته یې ابلاغ کړي. او پوره واضحه ده چې د قیامت د قیام علم د یو پیغمبر په حیث زما د ضروریاتو څخه نه دي، نو ماته یې پوښتنه راجع کول حماقت دی.

۷ـ کله چې الله ﷻ اراده وکړي چې خپل غوره کړی شوي استازي بنده ته د هغه د ضرورت په بنیاد څه غیبي علم ورکړي نو:

الف: د همدغه استازي په وړاندې ېږته او چارچاپېر د پرښتو هغه ساتونکې ډله استوي کومه چې د غیبي علم په انتقالوونکې او وحې کوونکې پرښتې باندې مشتمله وي.

ب: البته دا د دې دپاره چې استازی پوه شي چې یقیناً ساتونکو پرښتو ورته د خپل رب ﷻ پیغامونه کټ مټ رسولي دي او د لارې په اوږدو کښې د خلطوالي او لاسوهنې څخه ساتلی شوي دي.

ج: حال دا چې الله ﷻ په علمي لحاظ په هغو ټولو غیبي علومو باندې احاطه کړې ده کوم چې د ساتونکو پرښتو په نزد موجود وي او کوم چې یوه استازي ته د انتقال په مرحله کښې قرار لري، نو بدون د څوکیدارانو څخه هم پکښې هیڅوک لاسوهنه نه شي کولی.

د: بالآخره الله ﷻ هر شی د عدد د حیثه شمارلی دی چې هیڅ شی ترې په علمي لحاظ غیاب نه شي موندلی او نه ترې چرته پټېدلی شي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد په ﴿ لَآ أَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا رَشَدٗا ﴾ کښې یا د ﴿ ضَرّٗا ﴾ په عوض د "غيّا" کلمه نازله نه شوه چې د ﴿ رَشَدٗا ﴾ کلمې مقابله ده او یا د ﴿ رَشَدٗا ﴾ په عوض د "نفعًا" کلمې نزول ونه موند چې د ﴿ ضَرّٗا ﴾ کلمې مقابله ده؟

موږ وایو ـ والله ﷻ اعلم ـ چې: دا د دې دپاره چې د عبارت د لنډون سره-سره نازلې شوې دواړه کلمې هره یوه په خپل مقابل باندې دلالت وکړي[1]. نو ته به وایې چې داسې یې نزول موندلی دی

---

[1]. تفسیر القاسمي ج ۱۶ ص ۳۱۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې "لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًا وَلَا نَفْعًا وَلَا رَشَدًا وَلَا غيًا" يعنې زه ستاسو دپاره نه د ضرر او نه د نفعې توان لرم او نه په لارې باندې د سمولو او نه د گمراه کولو وسه لرم.

د دغه ډول نزول يو نظير وړاندې تېر شوی دی چې: ﴿ وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ ﴾ [النحل: ۸۱]، چې د "حَرّ" کلمه په خپل مقابل د "بَرْد" په کلمې باندې دلالت کوي، يعنې او الله ﷻ ستاسو دپاره داسې کميسونه (جامې) پيدا کړي چې تاسو د گرمۍ (او هم د يخنۍ دواړو) څخه ساتي.

## څو نکات

۲ـ علماوو کرامو په ﴿ إِلَّا بَلَـٰغًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِسَـٰلَـٰتِهِۦ ﴾ کښې د اعراب په لحاظ متعدد احتمالات ليکلي دي[۱]، خو موږ د لاندې نکاتو په شکل کښې د هغو احتمالاتو او تحليلونو په ذکر باندې اکتفاء کوو کوم چې راته غوره برېښېدلی دی. هغه دا چې:

الف: د ﴿ إِلَّا بَلَـٰغًا ﴾ کلمات د وړاندېني ايت ﴿ لَآ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴾ څخه مستثنی واقع شوي دي.

ب: که څه هم په دې تقدير د "مستثنی" او "مستثنی منه" ترمنځ په يوه ايت ﴿ قُلْ إِنِّى لَن يُجِيرَنِى ﴾ الآية- سره فصل (جداوالی) رامنځته کېږي، خو څرنگه چې په دغه ايت کښې د وړاندېني ايت مضمون تاييد او تکميل شوی دی نو داسې گڼل کېږي چې بالکل فصل شتون نه لري او دا ايت د هغه ايت يوه برخه وي.

ج: د ﴿ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ په کلماتو کښې د "مِنْ" توری د "عَنْ" معنی ورکوي او د دې کلماتو څخه هغه پيغامونه مراد دي کوم چې سمدستي يا وروسته نازلېږي.

د: په ﴿ وَرِسَـٰلَـٰتِهِۦ ﴾ کښې د "رِسَالات" کلمه په همدغه ذکر شوي "مِنْ" سره د عطف په لحاظ مجروره ده، او د الله ﷻ هغه پيغامونه ترې مراد دي کوم چې پخوا نازل شوي دي.

يعنې زه ستاسو په هکله په هيڅ ډول سره د بل هيڅ شي ملکيت او توان نه لرم مگر فقط همدا چې تاسو ته د الله ﷻ د پلوه هغه ارشادات کټ مټ ابلاغ کړم کوم چې اوس او يا وروسته نازلېږي، او همدارنگه درته د الله ﷻ د هغو پيغامونو رسونه وکړم کوم چې په ماباندې لا پخوا نازل شوي دي او تاسو ورته اړتيا لرئ.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْا۟ مَا يُوعَدُونَ ﴾ کښې د ﴿ حَتَّىٰٓ ﴾ توری په کومې جملې پورې تعلق نيسي؟

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۴۳۷؛ روح المعاني ج۲۹ ص۹۳؛ حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۵ ص۵۶؛ البحر المحيط ج۱۰ ص۳۰۳؛ تفسير الخازن ج۶ ص۳۷۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: دغه توري په یوې مقدرې جملې پورې تعلق نیسي، چې په عین ایت کښې وړاندې د ﴿ أَضْعَفُ نَاصِرًا وَأَقَلُّ عَدَدًا ﴾ کلمات دلالت کوي.

څه لرې نه ده چې په "لَا يَزَالُونَ عَلَى مَا هُمْ عَلَيْهِ" سره ترې تعبير وکړی شي[۱]. یعني اې پیغمبره! مشرکان به تر هغه وخته پورې په خپل حالت باندې باقي پاتې وي او تاته به د کومک کوونکو په کمزورۍ او د پیروانو په لږوالي پیغور درکوي ترڅو چې په هغوی باندې په دنیا کښې یا په آخرت کښې موعود عذاب ورنازل کړی شي.

## "سلوک" څه معنی؟

۴ـ په ﴿ فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا ﴾ کښې د ﴿ يَسْلُكُ ﴾ کلمه د "سُلُوك" ـ لکه "نُزُول" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، که څه هم "سُلُوك" د داخلولو معنی ورکوي[۲] مګر په دې مقام کښې د لېږلو او روانولو په معنی سره دی[۳].

دا د یو پلوه او د بل پلوه په ذکر شوي عبارت کښې د "رَصَد" کلمه اسم جمعه ده[۴] چې د حفاظت کوونکو او څارونکو دپاره وضعه شوې ده. نو مونږ یې په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

الف: عالم الغيب فقط الله ﷻ دی او بس، الله ﷻ په غیبو باندې هیچا ته خبرتیا نه ورکوي مګر هغه چا ته کوم چې الله ﷻ د رسالت دپاره غوره کړی وي.

ب: دغه غوره کړی شوی کس به کله پیغام وړونکی وي لکه جبرائیل ؑ او کله به پیغام رسوونکی وي لکه محمد ﷺ.

ج: الله ﷻ همدغه غوره کړی شوي کس ته په غیبو باندې په ډېر اهتمام سره اطلاع ورکوي، چې وړاندې ېې ترې بلکې چار چاپېر یې ساتونکې پرښتې استوي، او د شیطان او سرکشه پیریانو د غوږ نیولو څخه یې ساتي او حفاظت ورکوي.

د: همدغه غوره کړی شوي کس ته هم په ټولو غیوبو باندې اطلاع نه ورکوي او نه د چا سره دا توان شته چې په ټولو غیوبو باندې د اطلاع لیاقت ولري، بلکې په هومره غیبو باندې یې خبروي څومره چې ورته ضرورت وي او څومره چې د حکمت غوښتنه وي.

## یو تفسیري تحلیل

۵ـ په ﴿ لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا۟ رِسَـٰلَـٰتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ ﴾ کښې لاندې تحلیل په نظر کښې وساتئ:

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۶۳۲

(۲) لسان العرب ج۱۰ ص۴۴۳؛ القاموس المحیط ج۲ ص۶۰۰

(۳) تفسیر الطبري ج۲۹ ص۱۲۲

(۴) روح المعاني ج۲۹ ص۸۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د ﴿لِيَعْلَمَ﴾ کلمې د "ل" توری په وړاندې ایت کښې په ﴿يَسْلُكُ﴾ پورې تعلق نیسي[1] او مستتر ضمیر پکښې غوره کړی شوی بنده ته راجع دی.

ب: د "أن" توری د مثقل "أنّ" څخه مخفف دی او اسم یې مقدر دی چې په "شان" سره ترې تعبیر کېدلی شي.[2]

ج: د ﴿قَدْ أَبْلَغُوا﴾ او ﴿رَبِّهِمْ﴾ د دواړو ضمیرونو د مرجع په هکله مفسرینو کرامو[3] متعدد احتمالات لیکلي دي خو غوره دا ده چې دغه دواړه ضمیرونه د "رَصَد" کلمې ته راجع دي په کومه باندې چې وړاندې ایت تمام شوی دی کومه چې د ساتونکو پرښتو څخه عبارت ده.

د: که څه هم ابلاغ د غوره کړی شوي کس وظیفه ده او د دغو پرښتو وظیفه فقط څارنه ده مګر څرنګه چې ابلاغ د دوی تر نظارت لاندې صورت نیسي نو دوی داسې ګڼلې کېږي لکه چې پخپله دوی هم ابلاغ کوونکي دي.

هـ: د دغه ډول نسبت څه تحقیق د [البقرة: ۷۲] ایت لاندې تېر شوی دی والحمد لله ﷻ، چې کله-کله په محاوراتو کښې د یو کس فعل ټولې اجتماع ته نسبت کېږي.

نو د پورتني تحلیل په نظر کښې نیولو سره به د ایت شریف د مضمون خلاصه داسې راوځي چې: الله ﷻ د خپل غوره کړي کس (بنده) په شاوخوا کښې ساتونکې پرښتې د دې دپاره استوي ترڅو همدغه غوره بنده په یقین سره پوه شي چې ساتونکو پرښتو ورته د خپل رب ﷻ پیغامونه په درست صورت سره ورسول او هیڅ پکښې مداخله ونه شوه کړی.

## هېر مو نه شي

۶ـ هېر مو نه شي چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران: ۱۷۹] ایت لاندې د غیبي علومو او د اولیاء الله وو د کشف په اړوند یو سوال جواب لیکلی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، هیله ده چې علاقمندان هملته مراجعه وکړي.

په همدې ځای باندې د الله ﷻ په توفیق د "الجن" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو.

رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ.

۱۴۲۵/۹/۴ هـ ق = ۱۳۸۳/۷/۲۷ هـ ش.

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۴۸

(۲) روح المعاني ج۲۹ ص۹۶

(۳) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۳۱۶، زاد المسیر ج۸ ص۱۱۰، تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۳۳

# المزمل (۷۳)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت په نامه (المزمل) باندې د همدې سورت لومړنی ایت مشتمل دی او په همدې نامه باندې دا سورت د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی.

۲ـ د دې سورت ټول ایتونه فقط شل (۲۰) ایتونه دي[۱].

۳ـ د کلماتو شمېر یې دوه سوه او پنځه اتیاوو (۲۸۵) ته رسېږي[۲].

۴ـ د حرفونو تعداد یې اته سوه او اته دېرش (۸۳۸) حرفه دی[۳].

۵ـ دا سورت مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی خو ځینو علماوو کرامو یې په وروستنی ایت کښې اختلاف کړی دی او مدني یې ګڼلی دی[۴]. مګر اصحه خبره دا ده چې د [۲۰] (وروستنی) ایت په شمول ټول مکي دی[۵].

۶ـ د قرآن کریم محتویات څه د احاطې لاندې نه واقع کېږي خو د دې سورت د محتویاتو څو مثالونه په لاندې ډول دي:

الف: په دې سورت کښې نبي کریم ﷺ ته څه ارشادات نازل شوي دي ترڅو ورباندې د هغو په تعمیل سره د دعوت پېټی سپک او خفیف وګرځي.

ب: همدارنګه ورته پکښې توصیه شوې ده چې د مشرکانو په ستغو او سپورو خبرو باندې صبر وکړي او حوصله ورباندې د لاسه ورنه کړي.

ج: همدارنګه په دې سورت کښې د قیامت قیام او هلته د عذابونو ډولونو ته هم اشاره شوې ده او داسې نور.

۷ـ د دې سورت (المزمل) او د وړاندېنې سورت (الجن) د مضامینو تناسب ډېر نژدې دی. د مثال په توګه هلته د نبي کریم ﷺ هغو حالاتو ته اشاره شوې وه کومو چې په جنیاتو (پېریانو) پورې تعلق درلود او دلته یې هغو حالاتو ته اشاره کېږي کوم چې په بنیادمانو پورې اړه لري، ترڅو د قیامت تر ورځې پورې ټولو ته ښه څرګنده شي چې د هغوی یوه ډله په څومره اسانۍ سره په ایمان مشرفه شوه او د دوی یوه ډله (د مکې مشرکان) په خپل کفر او شرک باندې څومره کلک دي؟!.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُزَّمِّلُ ۝١ قُمِ ٱلَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ۝٢ نِّصْفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا ۝٣ أَوْ زِدْ عَلَيْهِ

(۱) تفسیر الطبري ج۲۹ ص۱۲۴
(۲) تفسیر الخازن ج۶ ص۳۸۱
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۴۴۹
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۳۱؛ الدر المنثور ج۸ ص۳۱۱
(۵) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۲۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَرَتِّلِ ٱلْقُرْءَانَ تَرْتِيلًا ﴿٤﴾ إِنَّا سَنُلْقِى عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيْلِ هِىَ أَشَدُّ
وَطْـًٔا وَأَقْوَمُ قِيلًا ﴿٦﴾ إِنَّ لَكَ فِى ٱلنَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا ﴿٧﴾ وَٱذْكُرِ ٱسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ
تَبْتِيلًا ﴿٨﴾ رَّبُّ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱتَّخِذْهُ وَكِيلًا ﴿٩﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] ای په جامو کښې نغښتيه (نغاړليه پيغمبره)!

[۲] توله شپه (لمانځه ته) ودرېږه مګر لږ وخت (د لمانځه څخه خالي پرېږده).

[۳] (لږ وخت) د نيمايي شپې څخه عبارت ده (نو نيمايي شپه ورته په لمانځه ودرېږه).

يا د نيمايي شپې څخه لږ وخت کم کړه (نو د شپې په دريمه برخه کښې قيام وکړه).

[۴] يا په نيمايي شپې باندې (لږ څه) وراضافه کړه (چې نژدې دوه وو دريمو برخو ته ورسېږي).

او (په لمانځه کښې) قرآن کريم په دمې-دمې (تجويد) سره قرائت کوه، په دمې-دمې (تجويد) سره قرائت کول.

[۵] يقيناً مونږ په راتلونکي کښې په تاباندې دورند کلام درغورځوو (درنازلوو، چې د جهاد په فرضيت به مشتمل وي).

[۶] يقيناً (لمانځه ته) د شپې پورته کېدونکی نفس (بنيادم) چې دی همدی (د خپلو خواهشاتو) د تر پښو لاندې کولو (کنټرولولو) د حيثه ډېر سخت (او قوتناک) دی، او د قول (قرائت) د حيثه ډېر سم (او برابر) دی.

[۷] يقيناً ستا دپاره په ورځ کښې اوږد مهاله ګرځېدل راګرځېدل (مشغولتيا) ده.

[۸] او (ای پيغمبره!) ته د خپل رب ﷻ نوم يادوه (د نامه يادولو ته يې ادامه ورکړه)، او همده ﷻ ته (د بل هر شي څخه) ورجدا (او ورپېل) شه، ورجدا کېدل (ورپېلېدل).

[۹] (ستا رب ﷻ) د مشرق او مغرب رب دی (هر څه يې په قدرت کښې دي)، چې په حقه معبود (په ټول عالم کښې) نشته مګر ستا رب ﷻ دی (او بس).

نو همدی ﷻ خپل کارساز ونيسه (کارساز نيولو ته يې ادامه ورکړه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنې سورت (الجن) د ايتونو په وروستني مجموعه کښې دېته اشاره شوې وه چې الله ﷻ د حکمت په مقتضی خپلو پيغمبرانو ته د غيبي علومو څه مناسبه برخه ورکوي.

په دې ايتونو کښې خاتم الانبياء ﷺ د مثال په توګه ذکر شوی دی چې د همدغو علومو څخه ورته څه مناسبه برخه ورکړه شوه او مناسبه توصيه ورته وکړی شوه چې حاصل يې دلسې راځېږي

ای پيغمبره! په "بسم الله الرحمن الرحيم" سره په خپل امت باندې همدغه ارشادات قرائت کړه په

کومو باندې چې ته خپل رب ﷻ مخاطب ګرځولی یې ترڅو ترې د قیامت تر ورځې پورې عبرت واخلي هغه دا چې:

۱ـ ای په جامو کښې نغښتیه او نغاړلیه پیغمبره! ته د خپل ځان په هکله لاندې ارشادات په پام کښې ونیسه او عملي بڼه ورکړه:

الف: ته ټوله شپه په لمانځه سره رڼه کړه مګر لږ برخه یې د لمانځه څخه خالي پرېږده، چې دغه په لمانځه سره رڼه شوې شپه د نیمایي شپې څخه عبارت ده. نو ته نیمایي شپه په عبادت سره رڼه کړه.

ب: یا د دغې نیمایي شپې څخه لږ برخه کمه کړه چې د قیام دپاره د شپې یو ثلث پاتې شي، خو دومره ترې مه کموه چې د عبادت دپاره څلورمه برخه شپه وتاکله شي.

ج: یا په همدغې نیمایي شپې باندې لږ څه وخت وراضافه کړه چې په عبادت سره مشغوله شپه دوه ثلثه وګرځي.

۲ـ ای پیغمبره! د قیام اللیل دپاره چې ته د ذکرو شوو درېوو صورتونو څخه هر یو غوره کړې نو په هغه کښې قرآن کریم په ارامۍ سره لوله او د تجوید لحاظ پکښې ساته، البته هغه قرآن کریم کوم چې درباندې تر اوسه پورې نازل شوی دی.

۳ـ ای پیغمبره! که څه هم قیام اللیل ښه درونډ کار دی خو مونږ په تاباندې د دې دپاره فرض وګرځاوه چې مونږ اراده لرو چې په تاباندې د دې څخه لا درونډ فرمان درنازل کړو او د دین د اشاعت دپاره درباندې وسلوال جهاد فرض وګرځوو، حال دا چې وسلوال جهاد د ډېرو مشکلاتو او مشقاتو سره ملګری دی. نو تاته په کار دي چې مخکې له مخکې په قیام اللیل باندې خپل ځان د مشقت ګاللو سره اشنا کړې.

۴ـ په دې باندې علاوه په تاباندې قیام اللیل د دې دپاره هم فرض کړی شوی دی چې:

الف: د عبادت په موخه د شپې پورته کېدونکی نفس (بنیادم) د خپلو خواهشاتو او نفسیاتو د قابو کولو د حیثه ډېر قوتناک او سخت دی، چې په دغه کار سره هرڅوک خپل ځان ډېر ښه اداره کولی شي او ډېر ښه یې مار کولی شي.

ب: همدارنګه ذکر شوی بنیادم د قول او قرائت د حیثه هم ډېر ښه سم او برابر دی، چې شپه د فراغت وخت دی او قرائت او دعاګانې پکښې په ډېر ښه صورت سره ترسره کېدلی شي.

ج: په دې باندې علاوه (ای پیغمبره!) ستا دپاره د ورځې ډېر کارونه دي چې ته ورباندې مشغول یې او دغسې فراغت پکښې نه شې موندلی څومره چې تاته په شپه کښې میسر کېدلی شي.

۵ـ ای پیغمبره! د تل دپاره دائم خپل رب ﷻ ډېر یادوه (یادښت ته یې ادامه ورکړه). همدارنګه هر وخت د دوام په توګه په اخلاص سره خپل رب ﷻ ته سوالونه کوه او د خپلو اړتیاوو پوره کېدل یوازې د همده ﷻ څخه غواړه او د بل هر شي څخه خاص همده ﷻ ته ورجدا شه. او دا ځکه چې:

یوازې ستا رب ﷻ د مشرق او مغرب بلکې د ټولې دنیا رب دی او هر څه د همده ﷻ په اختیار کښې قرار لري، چې پرته د ده ﷻ څخه د عبادت بل لایق نشته. نو ته یوازې خپل رب ﷻ کارساز

ونیسه او یوازې په همده ﷺ باندې توکل او اعتماد کوه او بس، چې نه یې څوک د ارادې په وړاندې خنډ واقع کېدلی شي او نه يې څوک د واکدارۍ څخه وتلی او بچ کېدلی شي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُزَّمِّلُ ﴾ کښې د "مُزَّمِّل" کلمه د "تزمُّل" _لکه "تكرُّم"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "تزمُّل" په جامه کښې د نغښتلو معنی ورکوي.[1]

دا د یو پلوه، او د بله پلوه که څوک وايي چې د څه حکمت په بنیاد په دې مقام کښې الله ﷻ خپل پیغمبر په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُزَّمِّلُ ﴾ سره مخاطب وګرځاوه؟

مونږ وايو چې: یو ځل نبي کریم ﷺ خبر شو چې مشرکانو ورته ډېر بد دروغین لقبونه ورکړه لکه ساحر، شاعر او داسې نور. نو نبي کریم ﷺ ډېر غمژن کېناست او خپل ځان يې په يوه څادر کښې راتاو کړ، په همدغه حال کښې الله ﷻ په ذکر شوي خطاب سره مخاطب وګرځاوه.[2]

شاید چې په دغه ډول خطاب سره به دېته اشاره شوې وي چې اى پیغمبره! د مشرکانو په ستغو لقبونو باندې ډېر مه غمژن کېږه او د خپل ځان د تسکین دپاره د خپل نبوت ابتدايي وخت درپه زړه کړه کله چې تا خپله مېرمن (خديجة الكبرى رضي الله عنها) مخاطبه کړه چې «زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي»[3] يعنې اى زما اهله! ما په څادر (یا بړستن) کښې راتاوو کړئ، پکښې مې راتاو کړئ کله چې تا ته ورقه بن نوفل رضي الله عنه خبر درکړی وه چې ته به د خپل قوم د لاسه د ډېرو کړاوونو سره مخامخ شې، حتی چې د خپل ټاټوبي (مکې معظمې) څخه به دې وباسي.

## یو تفسیري تحلیل

۲_ مفسرينو کرامو دا کلمات ﴿ قُمِ ٱلَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ۝ نِّصْفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا ۝ أَوْ زِدْ عَلَيْهِ ﴾ په متعددو ډولونو سره تحلیل کړي دي[4]، خو کوم تحلیل چې مونږ ته غوره برېښي او د دې سورت (المزمل) په وروستني ایت کښې ورباندې تقریباً صراحت نازل شوی دی هغه په لاندې ټکو کښې واضحه کوو.

الف: په ﴿ قُمِ ٱلَّيْلَ ﴾ کښې د ﴿ ٱلَّيْلَ ﴾ کلمه د ټولې شپې څخه عبارت ده او په ﴿ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ سره ترې لږ څه برخه ويستلی شوې ده.

ب: د ﴿ نِّصْفَهُۥٓ ﴾ کلمه د همدغې ﴿ ٱلَّيْلَ ﴾ څخه بدل واقع شوې ده د کومې څخه چې لږ برخه ويستلی شوې ده، ته به وايې چې داسې عبارت "قُمْ نِصْفَ اللَّيْلِ" نازل شوی دی. يعنې نيمايي شپه ټوله په عبادت سره ودرېږه.

---

(۱) لسان العرب ج۱۱ ص۳۱۱

(۲) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۳۲؛ الدر المنثور ج۸ ص۳۱۲

(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۳

(۴) تفسير الكشاف ج۴ ص۶۳۶؛ تفسير ابي السعود ج۹ ص۴۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنياد "قُمْ نِصْفَ اللَّيْلِ" نازل نه کړی شو حال دا چې دا عبارت د نازل شوي عبارت څخه لنډ دی او په مضمون کښې ورسره يو شی دی؟

مونږ وايو چې ـوالله ﷻ اعلمـ دا د دې دپاره ترڅو دې ته اشاره صورت ونيسي چې د نيمايي شپې قيام که څه هم په کميت کښې د ټولې شپې څخه لږ دی مګر په کيفيت (اجر او ثواب) کښې ورسره يو برابر دی د همدې کبله د ټولې شپې قائم مقام او بدل واقع کېدلی شي.

نو که بالفرض دغه عبارت نازل شوی وی ذکره شوې اشاره به پټه پاتې وی.

د: په ﴿ أَوِ ٱنقُصۡ مِنۡهُ قَلِيلاً ﴾ کښې د ﴿ مِنۡهُ ﴾ ضمير ﴿ نِّصۡفَهُۥٓ ﴾ ته راجع دی او د ﴿ قَلِيلاً ﴾ څخه دومره وخت مراد دی چې نصف (نيمايي) ايله ثلث (درېمې برخې) ته ورسېږي او دومره نه چې "نصف" درباندې ربعې (څلورمې) ته ورښکته شي.

هـ: په ﴿ أَوۡ زِدۡ عَلَيۡهِ ﴾ کښې د ﴿ عَلَيۡهِ ﴾ ضمير ﴿ نِّصۡفَهُۥٓ ﴾ ته راجع دی او د "قَلِيلًا" کلمه ورسره مراده ده چې د دومره لږ وخت زيادت ترې اراده کېدلی شي چې "نصف" درباندې نژدې دوه وو ثلثو ته ورسېږي او ترې اضافه نه شي.

و: نو د ښه وضاحت دپاره مونږ ټوله شپه په شپږو برخو وېشو چې نبي کريم ﷺ ته پکښې د درېوو صورتونو اختيار ورکړی شوی وه هغه دا:

اول: نيمايي شپه، چې د درېوو سدسو (درېوو شپږمو) څخه عبارت ده.

دوهم: د نيمايي شپې څخه لږ څه کم، چې د دوه وو سدسو (دوه وو شپږمو) يا ثلث (درېمې برخې) معنی ورکوي.

درېم: د نيمايي څخه نژدې يو سدس (شپږمه)، اضافه چې تقريبًا څلورو سدسو (څلورو شپږمو) ته رسېږي او نژدې دوه ثلثه ترې جوړېږي.

## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې د قيام الليل په هکله ځينې معلومات ـان شاء الله ﷻـ د [المزمل: ۲۰] ايت لاندې راروان دي چې د ارتباط په لحاظ وروسته کړی شوي دي.

## ترتيل څه معنی؟

۴ـ په ﴿ وَرَتِّلِ ٱلۡقُرۡءَانَ تَرۡتِيلاً ﴾ کښې د "ترتيل" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الفرقان: ۳۲] ايت لاندې څېړلې ده چې د يوه شي د مرتبو اجزاوو ترمنځ فاصله (وت) واقع کول د "ترتيل" په نامه يادېږي داسې فاصله "وت" لکه څنګه چې د ځينو غاښونو ترمنځ موجوديت لري. يعنې د تهجد په لمانځه کښې قرآن کريم په وقفه نيزه او آرامه توګه قرائت کوه ترڅو د تدبر او تفکر دپاره فرصت ولري.

د "تَرْتِيل" کلمې د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث د مثال په توګه ولولئ:

الف: حفصه رضي الله عنها (ام المؤمنين) په يوه حديث کښې وايي چې: «وَكَانَ يَقْرَأُ بِالسُّورَةِ فَيُرَتِّلُهَا حَتَّى

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تكُونَ أطوَلَ مِنْ أطوَلَ مِنْهَا»[۱] يعنې نبي كريم ﷺ چې وه يو سورت به يې قرائت كاوه نو ترتيل به يې په نظر كښې ساته آن تردې چې لوستل شوى سورت به د هغه څخه د اوږد سورت په نسبت ډېر اوږد شو (د هغه څخه به يې ډېر وخت ونيوه).

ب: أم سلمه رضي الله عنها (ام المؤمنين) وايي چې: «أنَّ النَّبيَّ ﷺ كَانَ يُقَطِّعُ قِرَاءَتَهُ»[۲] يعنې يقيناً نبي كريم ﷺ چې وه خپل قرائت به يې پرې كاوه (قرآن كريم به يې په وقفه ټيزه توګه لوسته چې يو ايت به يې د بل څخه جدا كاوه).

ج: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ اقْرَأْ وَارْقَ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا فَإِنَّ مَنْزِلَتَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا»[۳] يعنې (د قيامت په ورځ به) د قرآن كريم ملګرى (قاري) ته وويلى شي چې قرآن كريم لوله او (په درجاتو كښې) پورته خېژه او (په قرائت كښې) داسې ترتيل كوه لكه څنګه ترتيل به دې چې پكښې په دنيا كښې كاوه. نو يقيناً ستا منزل (مېنه) د وروستني ايت (د قرائت) سره ده چې ته يې قرائت كوې.

## قرآن كريم درونډ كتاب دى

۵ـ په ﴿ إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلاً ثَقِيلاً ﴾ كښې قرآن كريم ته د "ثقيل" لقب وركړى شوى دى چې علماوو كرامو په متعددو معناوو سره تفسير كړى دى[۴]. د مثال په توګه:

الف: دا كتاب د نزول په لحاظ په نبي كريم ﷺ باندې ډېر درونډ وه، لكه چې په احاديثو كښې واضحه كېږي:

اول: عائشه رضي الله عنها (ام المؤمنين) په يوه حديث كښې وايي چې: «وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْيُ فِي الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ فَيَفْصِمُ عَنْهُ وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا»[۵] يعنې او يقيناً ما نبي كريم ﷺ ليدلى دى چې په سخته سړه ورځ كښې ورباندې وحې نازلېدله نو وحې به ترې په داسې حال كښې پرې كېدله (بس كېدله) چې يقيناً اوچولى به يې د خولو د حيشه بهېده (خولې به ورباندې راماتې وې).

دوهم: نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې فرمايلي دي چې: «فَمَا مِنْ مَرَّةٍ يُوحَى إِلَيَّ إِلَّا ظَنَنْتُ أَنَّ نَفْسِي تَفِيضُ»[۶] يعنې نو هيڅ داسې وار نه دى پېښ شوى چې ماته پكښې وحې كېږي مګر (د ډېر مشقت د كبله) زه خيال كوم چې روح مې بهېږي (اوځي).

ب: دا كتاب د عمل په لحاظ ډېر درونډ كتاب دى چې ټول احكام يې عملي شي او حدود يې په عمل كښې پياده كړى شي.

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۲۵۳
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۰
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۶۲۴
(۴) روح المعاني ج۲۹ ص۱۰۴؛ زاد المسير ج۸ ص۱۱۳؛ تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۳۵؛ تفسير الطبري ج۲۹ ص۱۲۷
(۵) صحيح البخاري ج۱ ص۲
(۶) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۶۸۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

۶_ که څه هم قرآن کریم د هر حیثه درووند کتاب دی چې د نزول او عمل لحاظونه هم پکښې شامل دي مګر مونږ ته داسې برېښي چې دلته د "ثقیل" څخه هغه ثقل مطلب دی کوم چې د دغه ایت د نزول تر وخته نه وه موجود شوی او دا ځکه چې په ﴿ سَنُلْقِى ﴾ کښې د "س" توری په راتلونکي زمانه باندې دلالت کوي.

نو زمونږ په فکر قرآن کریم ته د "ثقیل" لقب د وسلوال جهاد په ملحوظ ورکړې شوی دی چې د فرضیت حکم یې په مکه معظمه کښې نه وه نازل شوی او وروسته په مدینه منوره کښې نازل شو.

یعنې ای پیغمبره! په قیام اللیل سره خپل ځان د مشقتونو سره اشنا کړه او په خپل قابو کښې یې راوله، چې په تابانديې په آینده کښې د وسلوال جهاد حکم درنازلېدونکی دی، چې لوړې او تندې او هم بې خوبی او سفرونه پکښې ضرور مخې ته درتلونکي دي.

دا د یو پلوه او د بله پلوه دغه حکم په حقیقت کښې د قیامت تر ورځې پورې ټولو مؤمنانو ته متوجه دی، او همدوی پکښې په غوږ وهلي شوي دي، که نه نو د نبي کریم ﷺ خو خپل ځان د همېش دپاره په قابو کښې وه چې د عصمت خاوند وه او الله ﷻ یې ملګری وه.

همدغه مضمون (د جهاد دپاره خپل ځان تیارولو) ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَأَعِدُّوا۟ لَهُم مَّا ٱسْتَطَعْتُم ﴾ [الأنفال: ۶۰] یعنې تاسو د کفارو د مقابلې دپاره هر هغه شی تیار کړئ کوم چې ستاسو په توان کښې وي (که څه هم د خپلو ځانونو روزنه او ترېننګ وي).

## "نَشء" څه معنی؟

۷_ په ﴿ إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيْلِ ﴾ کښې د ﴿ نَاشِئَةَ ﴾ کلمه د اسم فاعل مؤنث صیغه ده چې د خپل موصوف (نفس) په لحاظ مؤنثه نازله شوې ده[۱]. دا کلمه د "نَشْء" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د اوچتېدلو معنی ورکوي[۲]. یعنې لمانځه ته د شپې اوچتېدونکی نفس (کس) د خپلو نفسانیاتو دپاره د تر پښو لاندې کولو (کنټرولولو) د حیثه ډېر سخت او کلک دی چې خپل خواهشات د خپل قابو لاندې راوستلی شي. او هم د قرائت او وینا د حیثه ډېر سم او برابر دی چې نه تېروځي او په ایتونو کښې په ډېر ښه صورت سره تفکر او تدبر ته ادامه ورکولی شي.

## د "تبتل" معنی

۸_ په ﴿ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ﴾ کښې د "تَبَتَّل" کلمه د امر صیغه ده چې د "تَبَتُّل" _لکه "تَرَحُّم"_ څخه یې اشتقاق موندلی دی او د انقطاع او جدا کېدلو معنی ورکوي[۳].

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۱۰۵
(۲) القاموس المحیط ج۴ ص۳۶۹
(۳) لسان العرب ج۱۱ ص۱۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د يو پلوه، او د بله پلوه په دې مقام کښې د تفعیل او تفعل دواړه بابونه په معنی کښې څه تفاوت او اختلاف نه لري(١)، نو د همدې کبله د ﴿تَبْتِيلًا﴾ کلمه د ﴿تَبَتَّلْ﴾ د کلمې دپاره من غير الباب په مصدريت سره منصوبه کرځول شوې ده او د فواصلو توافق هم حاصل شوی دی.

يعنې ای پيغمبره! د دوام په توګه په عبادت کښې اخلاص خپل کړه او د هر شي څخه بوازې همده ﷻ ته ورمنقطع او ورجدا شه، او د مشرکانو هيڅ پروا مه ساته.

﴿وَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا ﴿١٠﴾ وَذَرْنِي وَٱلْمُكَذِّبِينَ أُولِي ٱلنَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلًا ﴿١١﴾ إِنَّ لَدَيْنَآ أَنكَالًا وَجَحِيمًا ﴿١٢﴾ وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ ٱلْأَرْضُ وَٱلْجِبَالُ وَكَانَتِ ٱلْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ﴿١٤﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَٰهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴿١٥﴾ فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ ٱلرَّسُولَ فَأَخَذْنَٰهُ أَخْذًا وَبِيلًا ﴿١٦﴾ فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ ٱلْوِلْدَٰنَ شِيبًا ﴿١٧﴾ ٱلسَّمَآءُ مُنفَطِرٌۢ بِهِۦ ۚ كَانَ وَعْدُهُۥ مَفْعُولًا ﴿١٨﴾ إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذْكِرَةٌ ۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿١٩﴾﴾

[١٠] (ای پيغمبره!) ته په هغو (سپکو سپورو) خبرو باندې صبر وکړه کومې چې مشرکان يې وايي او دوی (د خپله خانه) جدا کړه نيک (او ښه) جدا کول (ناندری، ورسره مه وهه او دعوت ته يې ادامه ورکړه)

[١١] او ما او تکذيب کوونکي سره پرېږده چې د نعمتونو خاوندان دي (او په همدې غره شوي دي) او دوی ته لږ وخت مهلت ورکړه. (دا څکه چې)

[١٢] يقينًا زمونږ په نزد زولنې دي او سوزونکی دوزخ (هم) دی.

[١٣] او (همدارنګه زمونږ په نزد) داسې خوراک (هم) دی چې په ستوني کښې د نښتلو خاوند دی، او (زمونږ په نزد) دردناک عذاب (هم) دی

[١٤] (دا عذابونه به تکذيب کوونکو ته) په هغې ورځ کښې (ورکړی شي چې) څمکه او غرونه (پکښې) ولړزېږي او (هم پکښې) غرونه د شګو تويېدونکي غونډی وګرځي (او بيا په هوا کښې تيت پرک جوړ شي)

[١٥] (ای خلکو!) يقينًا مونږ تاسو ته پيغمبر (محمد ﷺ) درواستاوه په داسې حال کښې چې په تاسو باندې (د قيامت په ورځ) شهادت ورکوونکی دی، لکه څنګه مو چې فرعون ته پيغمبر (موسی ﷺ د شاهد په حيث) ورلېږلی ده

(١) القاموس المحيط ج١ ص٢١٢

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۶] نو فرعون (او د ده اتباعو) زمونږ د پیغمبر (موسی ﷺ) څخه عصیان خپل کړ (او د پیغمبر په حیث یې قبول نه کړ). نو مونږ فرعون (او د ده اتباع) ونیوه درانه نیول (چې ټول مو په بحیره کښې غرق کړه، نو تاسو به هغوی څه بهتري لرئ؟).

[۱۷] (ای مشرکانو!) که تاسو خپل کفر (او شرک ته) ادامه ورکړئ نو (خپل ځانونه) د داسې ورځې د (عذاب) څخه څنګه ساتئ چې (د ډېرو سختیو د کبله) ماشومان بوډاګان جوړوي؟

[۱۸] چې اسمان پکښې چاودېدونکی (او شکېدونکی) دی.

(ای مشرکانو! د قیامت قیام د الله ﷻ وعده ده چې) د الله ﷻ وعده پوره کړی شوې ده (داسې یقیني ده لکه چې سمدستي پوره کړی شوې وي).

[۱۹] یقیناً دغه (ایتونه د خلکو دپاره) پند ورکول دي (او د هغې لارې ښوونکي دي کومه چې الله ﷻ ته ورغلې ده) نو هغه څوک چې خپل رب ﷻ ته سمه لاره نیسي (نو ودې نیسي چې فقط همدغه لاره سمه ده).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د هغو ارشاداتو نزول ادامه مونډلې ده په کومو باندې چې په وړاندېنیو ایتونو کښې د الله ﷻ د پلوه پیغمبر ﷺ مخاطب ګرځولی شوی وه. نو حاصل یې داسې راځېژي.

۱ـ ای پیغمبره! په هغو سختو او سپورو خبرو او ناوړه لقبونو باندې خپل صبر ته ادامه ورکړه په کومو باندې چې مشرکان قول کوي او ستا په هکله یې بې دلیله مرتکب ګرځي.

نو د همدغه صبر په بنیاد د هغوی څخه جمیله جدایي او هجران خپل کړه او نانذري وړسره مه وهه خو په عین حال کښې یې دعوت ته ادامه ورکړه.

۲ـ ته د هغوی په اقوالو باندې ډېر مه غمژن کېږه او د دغو تکذیب کوونکو سره ما پرېږده زه به یې درته چاره وکړم، هغوی خو د نعمتونو خاوندان دي او په همدغو نعمتونو باندې مغرور او غولېدلي دي. نو ته ورته لږ وخت مهلت ورکړه ترڅو وخت مساعد شي او ترڅو زه په تاباندې د وسلوال جهاد د فرضیت حکم درنازل کړم.

۳ـ په دې باندې علاوه زمونږ په نزد په آخرت کښې هم د همدغو مکذبینو دپاره ډېر عذابونو ټاکلي شوي دي. د مثال په توګه:

الف: کفارو ته مو سختې درنې زولنې تیارې کړې دي چې د اوچتېدلو توان یې د منځه وړي.

ب: دوی ته مو بلېدونکی اور (دوزخ) پیدا کړی دی چې په همدوی باندې به بلېږي.

ج: داسې خوراک مو ورته د دوزخ په داخل کښې خلق کړی دی چې په مریو او ستونو کښې به یې نښتي وي او تر ډېره وخته پورې به یې نه شي تېرولی.

د. بالآخره کفارو ته مو ډېر دردناک عذاب هم ټاکلی دی چې د ډېرو ډولونو درلودونکی دی، د مثال په توګه دغه عذاب په هغو خوځېدونکو اوبو باندې هم مشتمل دی په کومو سره به چې دوزخیان په ستونو کښې نښتی طعام ښکته تېروي چې د مخونو غوښې به یې ورباندې تویېږي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ کفارو ته به ذکر شوي عذابونه د قيامت په ورځ ورکړی شي د کومې شروع چې د هغه وخت څخه صورت نیسي چې: ځمکه او غرونه ولړزېږي او ډېره سخته زلزله پیل شي نو په دغه وخت کښې به يو خل دغه قوي غرونه د شګو د روانېدونکو غونډیو غونډې میده-میده او پاسته ماسته شي او بیا به د ډانډس کړی شوو وړیو غونډې هوا ته والوزي او خواره واره به جوړ شي.

۵_ ای پیغمبره! زمونږ د پلوه مشرکان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: یقینًا مونږ تاسو ته خپل په حقه پیغمبر دراستولی دی ترڅو د قيامت په ورځ په تاسو باندې شهادت اداء کړي چې تاسو ته د توحید دعوت رسېدلی وه خو تاسو نه وه قبول کړی ترڅو تاسو هلته اعتذار وړاندې نه کړی شئ چې مونږ ته د قیامت د ورځې په شمول په عقیدوي احکامو باندې هیڅ اطلاع نه وه راکړې نو ځکه مونږ مشرکان او کفار پاتې شوو.

ب: ای مشرکانو! مونږ تاسو ته په حقه داسې پیغمبر (محمد ﷺ) درلېږلی دی لکه څنګه مو چې فرعون ته په حقه خپل پیغمبر (موسی ﷺ) ورلېږلی وه.

ج: نو فرعونیانو د خپل پیغمبر څخه عصیان وکړ او خپلو کفریاتو ته یې ادامه ورکړه هغوی دعوت قبول نه کړ او په موسی ﷺ باندې یې د جادوګر او کوډګر او داسې نور لقبونه وروتپل.

د: نو په نتیجه کښې مونږ هغوی په ډېرو سختو نیولو سره ونیول او ټول مو د څرمې په بحیره کښې غرق کړه.

هـ: ذکر شوی بنیاد ویستونکی عذاب د فرعونیانو دپاره یوازې دنیاوي عذاب وه چې وریاندې ورنازل کړی شو. اما اخروي عذاب خو لا ورته په مخکښې پروت دی چې د قیامت په ورځ به په دائمي دوزخ کښې ورتېل وهلی شي.

۶_ ای مشرکانو! ایا تاسو نه ډارېږئ چې ستاسو عاقبت به هم د هغوی غونډې وګرځولی شي؟ ایا ستاسو کفریات د هغوی څخه څه کم دي؟ یا په بل عبارت: ایا تاسو خپلو کفریاتو ته د ادامې په صورت کښې د هغې سختې ورځې څخه نه ډارېږئ او د عذاب څخه یې خپل ځانونه نه ساتئ: کومه چې د لاندې خاصیتونو درلودونکې ده:

الف: دغه ورځ به د سختیو او مشکلاتو د شدت د کبله ماشومان سپین ږیري او بوډاګان وګرځوي.

ب: په دغې ورځ کښې به اسمان چاودېدونکی وي او خپل قوت به د لاسه ورکړي چې نه به یې استحکام پاتې وي او نه به یې موجوده شین رنګ بقاء ولري.

۷_ په ذکر شوي مضمون باندې الله ﷻ وعده کوي او د الله ﷻ څخه هیڅوک په خپله وعده کښې ربتینی نشته، بلکې د الله ﷻ وعده داسې یقیني ده لکه چې سمدستي یې تحقق موندلی وي.

۸_ ای پیغمبره! په پای کښې کفارو ته ووایه چې ذکر شوی بیان او ذکر شوي ارشادات محض یو یادښت وه چې تاسو ته درکړی شو چې هیڅ دروغ او خلاف پکښې موجودیت نه لري؟

نو هرڅوک چې خپل رب ﷻ ته د سمې لارې خپلول غواړي هغه دې په همدغو ارشاداتو باندې عقیده او عمل وکړي ځکه چې سمه لاره یوازې په همدغو ارشاداتو کښې نغښتې ده.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ په ﴿ إِنَّ لَدَيْنَا أَنكَالًا ﴾ کښې د "أَنْكَال" کلمه د "نِکل" ـ لکه "قَوْل" یا "عِلْم" ـ جمعه ده، "نِکل" د هغه شي نوم دی په کوم سره چې څاروی د پښو څخه قید کېږي، او یا هغې اوسپنې ته وضعه شوی دی کومه چې د اس په خوله کښې اچولې کېږي[۱]. خو په دې مقام کښې د زولنو معنی ورکوي[۲].

یعنې زمونږ په نزد د کفارو دپاره د قیامت په ورځ زولنې تیارې کړی شوي دي چې د تعذیب دپاره به ورته په پښو کښې اچولی کېږي.

### "غصة" څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ ﴾ کښې د ﴿ غُصَّةٍ ﴾ کلمه د هغه شي دپاره وضعه شوې ده کوم چې په ستوني کښې بند شي چې نه ښکته خي او نه پورته[۳]، خو په دې مقام کښې ترې مصدري معنی مراده ده. یعنې او زمونږ په نزد په دوزخ کښې د کفارو (دوزخیانو) دپاره داسې طعام دی چې په ستوني کښې د بندېدلو والا دی.

نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت شریف په خپل یوه اوږده حدیث کښې ډېر ښه تفسیر کړی دی چې فرمایلي یې دي: «يُلْقَى عَلَى أَهْلِ النَّارِ الْجُوعُ فَيَعْدِلُ مَا هُمْ فِيهِ مِنَ الْعَذَابِ فَيَسْتَغِيثُونَ فَيُغَاثُونَ بِطَعَامٍ مِنْ ضَرِيعٍ لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِنْ جُوعٍ فَيَسْتَغِيثُونَ بِالطَّعَامِ فَيُغَاثُونَ بِطَعَامٍ ذِي غُصَّةٍ فَيَذْكُرُونَ أَنَّهُمْ كَانُوا يُجِيزُونَ الْغُصَصَ فِي الدُّنْيَا بِالشَّرَابِ فَيَسْتَغِيثُونَ بِالشَّرَابِ فَيُرْفَعُ إِلَيْهِمُ الْحَمِيمُ بِكَلَالِيبِ الْحَدِيدِ فَإِذَا دَنَتْ مِنْ وُجُوهِهِمْ شَوَتْ وُجُوهَهُمْ فَإِذَا دَخَلَتْ بُطُونَهُمْ قَطَّعَتْ مَا فِي بُطُونِهِمْ»[۴] یعنې دوزخیان به په دوزخ کښې ډېر وږي شي چې دغه لوږه به دهغه عذاب سره برابره وي په کوم سره چې دوی کړېږي، نو خوراک به وغواړي نو داسې خوراک به ورکړی شي چې د "ضریع" څخه به وي چې نه چاغول کولی شي او نه د لوږې مخه نیسي.

نو دوی به (بیا) د خوراک غوښتنه وکړي نو داسې خوراک به ورکړی شي چې په ستوني کښې به د نښتلو والا وي (په ستونو کښې به یې کلک ونښلي چې نه به ښکته خي او نه پورته)، نو دوی به وریه یاد کړي چې یقیناً دوی به په دنیا کښې وه چې په ستوني کښې نښتي شیان به یې په اوبو سره تېرول نو اوبه به وغواړي چې ستونی ورباندې خلاص کړي نو دوی ته به د اوسپنې د ځنځیرو سره داسې خوټېدونکې اوبه ورکړی شي چې مخونو ته یې نژدې کړي مخونه به یې وریت کړي خو چې دغه اوبه یې ګېډو ته ورداخلې شي نو هغه شی به ټول ټوټه- ټوټه کړي کوم یې چې په ګېډو کښې موجودیت ولري (او په مقعد به یې ښکته وباسي).

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۲۷

(۲) تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۴۶

(۳) القاموس المحیط ج۳ ص۲۹۷

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۸۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "كثيب" او "مهيل" معناوې

۳ـ په ﴿ وَكَانَتِ ٱلْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ﴾ كښې د "كَثِيب" كلمه د شګو د غونډۍ معنى وركوي[۱]. او د "مَهِيل" كلمه يې صفت واقع شوې ده چې هغه شي ته وضعه شوې ده كوم چې ښويېږي او قرار نه شي درلودلی[۲]. يعنې د قيامت په ورځ به د زلزلې په سبب غرونه د شګو د غونډۍ غونډې وګرځي چې ښويېږي به او قرار به نه لري او بيا به د ګردونو او دوړو په شكل په هوا كښې خواره واره جوړ شي، او د ځمكې مخ به ترې خالي شي.

## "وَبِيل" څه معنى؟

۴ـ په ﴿ فَأَخَذْنَٰهُ أَخْذًا وَبِيلًا ﴾ كښې د "وَبِيل" كلمه د "وَبْل" ـلكه "قَوْل"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د دروندوالي معنى وركوي[۳]. د همدې كبله شديد باران ته "وابل" وايي او هغه شي ته "وبال" ويل كېږي د كوم د ضرر څخه چې سړی ډارېږي. يعنې نو مونږ فرعون او د ده پيروان په عذاب سره ونيول دراندە نيول، چې د ځرمې مو په درياب كښې غرق كړه.

## يو اعرابي تحليل

۵ـ ظاهره دا ده چې په ﴿ فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ ٱلْوِلْدَٰنَ شِيبًا ۝ ٱلسَّمَآءُ مُنفَطِرٌۢ بِهِۦ ﴾ كښې لاندې تحليل په نظر كښې ونيولی شي[۴].

الف. د ﴿ تَتَّقُونَ ﴾ كلمه دلته د مجردو "تَقُون" معنى وركوي چې دوه وو مفعولو ته متعدي ده[۵].

ب. يو مفعول يې مقدر دی چې په "أَنْفُسَكُمْ" سره ترې تعبير كېدلی شي، او دوهم مفعول يې د ﴿ يَوْمًا ﴾ كلمه ده.

ج. د ﴿ يَجْعَلُ ٱلْوِلْدَٰنَ شِيبًا ﴾ جمله د ﴿ يَوْمًا ﴾ دپاره لومړنی صفت ده چې په ﴿ يَجْعَلُ ﴾ كښې ورته ضمير راجع دی. دا د يو پلوه، او د بل پلوه په همدغې جمله كښې د ﴿ شِيبًا ﴾ كلمه د "أَشْيَب" ـلكه "أَكْبَر"ـ جمعه ده چې د "شَيب" ـلكه "فِيل"ـ څخه اشتقاقه شوې ده او د وېښتانو د سپينېدلو معنى وركوي[۶].

د. د ﴿ ٱلسَّمَآءُ مُنفَطِرٌۢ بِهِۦ ﴾ جمله يې دوهم صفت ده چې په "بِهِ" كښې ورته ضمير راجع دی او د "ب" توری د "فِي" معنى وركوي[۷].

---

(۱) القاموس المحيط ج۴ ص۱۶
(۲) لسان العرب ج۱۱ ص۶۳۳
(۳) مفردات الراغب ص۵۴۷
(۴) روح المعاني ج۲۹ ص۱۰۸
(۵) تفسير الكشاف ج۴ ص۶۴۱
(۶) لسان العرب ج۱ ص۵۱۳
(۷) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۴۹، تفسير القاسمي ج۱۶ ص۳۲۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: د ﴿إِن كَفَرْتُمْ﴾ جمله شرطیه جمله ده او ذکره شوې جمله ورته یا جزائیه جمله واقع کېږي او یا ورته په جزائیه جمله باندې دلالت کوي (چې دوه مختلف قولونه دي).

یعني ای مشرکانو! نو که چرته تاسو خپل کفر او شرک ته ادامه ورکړئ او د هاغسې بنیاد ویستونکی عذاب څخه خپل ځانونه ونه ساتئ لکه څنګه چې په فرعونیانو باندې په دنیا کښې ورنازل شوی وه، نو د داسې ورځې د عذاب څخه به خپل ځانونه څنګه وساتئ او په کومه ذریعه به ترې خپل ځانونه بچ کړئ، کومه چې د ډېره هیبته ماشومان بوډاګان ګرځوي، په کومه کښې چې دغه قوي اسمان چاودېدونکی دی او پکښې پرق بېلېدونکی دی، حال دا چې دغه ورځ ضرور راتلونکې ده او د الله ﷻ له پلوه شوې وعده ده؟.

## هېر مو نه شي

۶ـ هېر مو نه شي چې دا جمله ﴿يَجْعَلُ ٱلْوِلْدَٰنَ شِيبًا﴾ د الله ﷻ په توفيق د [القلم: ۴۲] ايت او د [الحج: ۲] ايت لاندې ډېره ښه څېړل شوې ده چې بيا څېړلو ته يې څه اړتيا نه ګورو.

خو په دې مقام کښې ورباندې یوه قیصه وراضافه کوو چې یوه شپه یوه خوان سړي د قیامت ورځ په خوب کښې لیدلې وه چې خلک په زنځیرونو کښې دوزخ ته ورغورزول کېده، نو چې راویښ شوی وه تکه توره ږیره یې له ډېرې وېرې تکه سپینه ګرځېدلې وه[1]. والله ﷻ اعلم.

﴿إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيْلِ وَنِصْفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَ ۚ وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ۚ عَلِمَ أَن لَّن تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۖ فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ ۚ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ ۙ وَءَاخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِى ٱلْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ ۙ وَءَاخَرُونَ يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۚ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَقْرِضُوا۟ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا ۚ وَٱسْتَغْفِرُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌۢ ﴿٢٠﴾﴾

[۲۰] یقینًا ستا رب ﷻ پوهېږي چې بې شکه ته د شپې دوه ثلثو ته نږدې قیام اللیل کوې او نیمايي شپه او د شپې یو ثلث هم (لکه څنګه چې درته توصیه شوې ده)، او د هغو کسانو یوه ډله (هم دا کار کوي) کوم چې ستا سره دي (ستا صحابه کرام ﷺ).

حال دا چې یوازې الله ﷻ شپه او ورځ اندازه کوي (اوږدوي او لنډوي).

(نو) الله ﷻ پوهېده چې یقینًا شان دا دی چې تاسو هیڅکله قیام اللیل د کنټرول (ضبط) لاندې

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۶۴۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه شئ راوستلی، نو الله ﷻ په تاسو (په ترخیص او تخفیف سره) رجوع وکړه (او د قیام اللیل فرضیت یې درڅخه ساقط وګرځاوه)، نو تاسو د قیام اللیل څخه هومره وخت لمونځ کوئ څومره چې تاسو ته اسان وي.

الله ﷻ پوهېده چې یقیناً شان دا دی چې په راتلونکي کښې به ستاسو څیني کسان مریضان وي، او څیني نور به مو په ځمکه کښې په داسې حال کښې سفرونه کوي چې د الله ﷻ د لوی فضل څخه څه برخه ولټوي (او حلال مال حاصل کړي) او څیني نور به مو د الله ﷻ په لاره کښې جنګ (جهاد) کوي، نو تاسو د قیام اللیل (د شپې د لمانځه) څخه هومره وخت لمونځ کوئ څومره چې تاسو ته اسان وي.

او تاسو فرض لمونځونه ودروئ او زکاتونه ورکړئ او تاسو الله ﷻ ته نېک قرض ورکړئ (مالي جهاد وکړئ).

او هر شی چې تاسو د خپلو ځانونو دپاره وړاندې واستوئ هر خیر چې وي هغه به د الله ﷻ په نزد (د عوض د حیثه) ډېر بهتر مونده کړئ او د اجر د حیثه به یې ډېر لوی (مونده کړئ).

او تاسو د الله ﷻ څخه د خپلو (ګناهونو) مغفرت غواړئ، یقیناً الله ﷻ ډېر بښونکی (او) ډېر مهربان دی.

## د مطلب خلاصه

په دغه ایت کښې د قیام اللیل د فرضیت هغه حکم منسوخ ګرځولی شوی دی کوم چې د همدې سورت په لومړنیو ایتونو کښې د دغه ایت د نزول څخه یو کال وړاندې نازل شوی وه نو حاصل یې داسې راځېژي چې:

۱_ ای پیغمبره! یقیناً ستا رب ﷻ پوهېږي چې تا خپله فریضه اداء کړه او کوم حکم چې درباندې لازم ګرځولی شوی وه هغه دې ترسره کړ هغه دا چې: ته او ستا د پیروانو څخه یوه ډله لګیا یاست او په لاندې ډولونو سره د شپې لمانځه ته اوچتېږئ:

الف: د شپې نږدې دوه ثلثه په عبادت ولاړ یاست.

ب: د شپې نیمایي برخه په قیام تېروئ.

ج: د شپې دریمه برخه په لمانځه باندې مشغوله ساتئ.

۲_ یا په بل عبارت تاسو ته د الله ﷻ د پلوه د قیام اللیل په هکله درې صورتونه د اختیار په شکل درنازل شوي وه چې تاسو د همدغه درنازل شوي شکل په مطابق تر اوسه پورې عمل وکړ او اجرونه مو حاصل کړه.

حال دا چې د شپې او ورځې اندازه د الله ﷻ په واک کښې ده چې کله شپه اوږدوي او ورځ لنډوي او کله ورځ اوږدوي او شپه لنډوي.

۳_ نو الله ﷻ پوهېده او پوهېږي چې د ذکرو شوو درېواړو صورتونو پېژاندل په تاسو باندې اسان کار نه دی او هیڅ کله یې په کامله توګه د خپل کنټرول لاندې نه شئ راوستلی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ دا دی اوس یې په تاسو باندې په رحمت سره رجوع وکړه او ذکر شوی تکلیفي ارشاد یې درڅخه اوچت کړ او په عوض کښې یې درباندې اسان ارشاد نازل کړ، هغه دا چې:

تاسو ته وروسته د دې څخه دا ارشاد درکول کېږي چې د قیام اللیل د لمونځونو څخه چې درته څومره اسان وي همغومره لمونځونه اداء کړئ، په تاسو باندې په ذکرو شوو دریواړو صورتونو کښې څه محدودیت نشته.

۵_ د ذکر شوي تکلیفي حکم د پورته کولو بله وجه دا ده چې: الله ﷻ پوهېده او پوهېږي چې د ذکر شوي تکلیفي حکم په نه اوچتولو او د قیامت تر ورځې پورې یې په باقي پرېښودلو کښې تاسو ته زښت ډېر مشکلات درمخې ته کېږي. او دا ځکه چې:

الف: ستاسو ځینې کسان به مریضان وي او قیام اللیل به ورباندې ډېر زیات درونډ تمامېږي.

ب: ځینې نور به مو په ځمکه کښې ګرځي راګرځي او د تجارتونو دپاره به سفرونه کوي چې د الله ﷻ فضل او حلال رزق به حاصلوي نو د قیام اللیل موقع به ورته میسره نه وي.

ج: بالآخره ځینې نور به مو د الله ﷻ په لار کښې د کفارو سره په وسلوال جهاد باندې لګیا وي چې قیام اللیل ته به فرصت نه شي موندلی.

نو تاسو یو خل بیا واورئ چې د قیام اللیل په هکله د لمونځونو څخه هومره ودروئ څومره چې تاسو ته اسان وي او دومره قرآن کریم پکښې قرائت کړئ څومره چې درته اسان وي.

۶_ خو تاسو د قیام اللیل څخه په غیر لاندې ارشادات هم په پام کښې ولرئ چې د قیامت تر ورځې پورې باقي دي او نه منسوخېږي هغه دا چې:

الف: تاسو خپل پنځه وخته فرضي لمونځونه ودروئ او د خپلو مالونو فرضي زکاتونه ورکړئ (بدني او مالي دواړه عبادتونه ترسره کړئ).

ب: په دې باندې علاوه تاسو الله ﷻ ته نېک قرض ورکړئ او د خپلو مالونو څخه څه برخه په ډېر اخلاص سره په في سبیل الله جهاد کښې مصرفه کړئ.

ج: تاسو چې د خپلو ځانونو دپاره هر شی وړاندې واستوئ هر خیر چې وي هغه به تاسو د الله ﷻ په نزد بهتر مونده کړئ چې په دنیا کښې به یې عوضونه درکړي، او هم به یې د همده ﷻ په نزد د اجر د حیثه ډېر لوی وموموئ چې په آخرت کښې به اقلا یو په لسه ثوابونه درکړي.

د: بالآخره تاسو په دوامداره توګه د خپلو خلاف الاولی کارونو او خپلو ګناهونو د ارتکاب د امله د الله ﷻ څخه مغفرت وغواړئ او دا ځکه چې الله ﷻ ډېر بښونکی او ډېر مهربان دی.

## توضیحات

په ﴿ إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ ﴾ الآية کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

۱_ د دې سورت (المزمل) په اولني ایت سره په نبي کریم ﷺ باندې قیام اللیل فرض ګرځېدلی وه چې تر یو کاله پورې یې دوام وکړ. او بیا د همدې سورت په دغه وروستني ایت باندې منسوخ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وګرځېد په کوم کښې چې بحث روان دی[۱].

۲_ په صحابه وو کرامو ﷺ باندې هم په هماغه لومړي ایت سره په نبي کریم ﷺ پسې د اتباع په وجه قیام اللیل فرض ګرځېدلی وه[۲]. د همدې کبله په همدغه ناسخ ایت کښې د تخفیف خطابونه په جمعیت سره نازل شوي دي چې مؤمنانو ته هم شمولیت لري لکه ﴿ أن لن تحصوه ﴾، ﴿ علیکم ﴾، ﴿ فاقرءوا ﴾، ﴿ منکم ﴾ او داسې نور.

۳_ که څوک وایي چې د ﴿ وَطَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَ ﴾ د جملې څخه ځرګندېږي چې قیام اللیل په هغه وخت کښې په ټولو مؤمنانو باندې نه وه فرض شوی، که نه نو د دغې جملې په عوض به داسې عبارت نازل شوی وی چې ټولو مؤمنانو ته یې شمولیت درلودی؟

مونږ وایو چې: دلته د "طائفة" کلمې څخه د مؤمنانو هغه ډله مطلب ده کومه به چې د نبي کریم ﷺ سره په جومات کښې په قیام اللیل مشغوله وه لکه چې همدغه مطلب په عین جمله کښې د ﴿ مَعَكَ ﴾ د کلمې څخه ځرګندېږي.

نو څه لرې نه ده چې نورو مؤمنانو به په خپلو کورونو کښې د قیام اللیل فرض اداء کاوه.

۴_ که څوک وایي چې: په دغه ایت کښې چې بحث پکښې روان دی د تخفیف په هکله د ﴿ فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ ﴾ جمله نازله شوې ده چې د قرآن کریم د قرائت په تخفیف باندې دلالت کوي، نه د قیام اللیل په تخفیف باندې؟

مونږ وایو چې: دلته د لمانځه (قیام اللیل) څخه د لمانځه په یوه رکن (قرائت) سره تعبیر شوی دی[۳]، ته به وایې چې داسې عبارت "فصلوا ما تيسر من القرآن" نزول موندلی دی. یعنې نو تاسو د لمانځه (قیام اللیل) څخه هومره لمونځونه اداء کړئ چې څومره درته اسان وي.

د لمانځه څخه په ارکانو سره په نورو ایتونو کښې هم تعبیر نازل شوی دی لکه:

الف: په قیام سره لکه ﴿ قُمِ ٱلَّيْلَ ﴾ [المزمل: ۲] ایت. یعنې د شپې لمونځ وکړه. یا لکه په عین همدغه ایت کښې ﴿ أَنَّكَ تَقُومُ ﴾ یعنې ستا رب ﷻ پوهېږي چې یقینًا ته لمونځ کوې.

ب: په قرآن سره لکه ﴿ وَقُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ ﴾ [الإسراء: ۷۸] یعنې ته د سهار لمونځ اداء کړه.

ج: په رکوع سره لکه ﴿ وَٱرْكَعُوا۟ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴾ [البقرة: ۴۳] یعنې تاسو د رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ (د لمونځ کوونکو سره لمونځونه وکړئ).

همدارنګه کله-کله د لمانځه د یو رکن څخه هم په لمانځه سره تعبیر کېږي لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ ﴾ [الإسراء: ۱۱۰] یعنې او ته (په لمانځه کښې دائمًا) په خپل قرائت سره جهر مه کوه.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۳۲۴
(۲) تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۵۵
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۳۸، تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۵۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵ـ د ذکرو شوو مطالبو په هکله عائشه رضی الله عنها (ام المؤمنین) په خپل یوه اوږده حدیث کښې وایي چې: «فَإِنَّ اللهَ ﷻ افْتَرَضَ قِيَامَ اللَّيْلِ فِي أَوَّلِ هَذِهِ السُّورَةِ فَقَامَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ وَأَصْحَابُهُ حَوْلًا وَأَمْسَكَ اللهُ خَاتِمَتَهَا اثْنَيْ عَشَرَ شَهْرًا فِي السَّمَاءِ حَتَّى أَنْزَلَ اللهُ فِي آخِرِ هَذِهِ السُّورَةِ التَّخْفِيفَ فَصَارَ قِيَامُ اللَّيْلِ تَطَوُّعًا بَعْدَ فَرِيضَةٍ»[۱] یعنې نو یقیناً الله ﷻ د دې سورت (المزمل) په اول ایت کښې قیام اللیل فرض کړخولی وه نبي کریم ﷺ او د ده ﷺ صحابه کرامو ﷺ تر یو کاله پورې قیام اللیل وکړ او الله ﷻ د دې سورت (المزمل) وروستنی ایت دولس میاشتې (یو کال) په اسمان کښې ایسار کړی وه آن تردې چې (یو کال) وروسته یې د همدې سورت په آخر کښې په ﴿ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْءَانِ ﴾ سره تخفیف نازل کړ نو قیام اللیل د فرضیت څخه وروسته نفل وګرځېد.

۶ـ ځینو علماوو کرامو[۲] د ذکر شوي حدیث په تشریح کښې لیکلي دي چې د قیامت تر ورځې پورې د ټول امت څخه په همدغه ایت سره ـ چې بحث پکښې روان دی ـ د قیام اللیل فرضیت سقوط موندلی دی او په همدې باندې اجماع ده. اما په دې کښې اختلاف دی چې د نبي کریم ﷺ څخه هم د قیام اللیل فرضیت سقوط موندلی وه او که نه؟ نو اصحه خبره خو دا ده چې د نبي کریم ﷺ څخه یې هم فرضیت ساقط شوی وه. خو د دې سره‌سره به نبي کریم ﷺ په دوامداره توګه قیام اللیل کاوه، الا ما شاء الله.

عبد الله بن عباس رضی الله عنهما وایي چې: «كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً»[۳] یعنې نبي کریم ﷺ وه چې د تل دپاره به یې د قیام اللیل څخه دیارلس رکعتونه اداء کول.

۷ـ په ﴿ عَلِمَ أَن لَّن تُحْصُوهُ ﴾ او ﴿ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ ﴾ کښې د "أن، أن" دواړه کلمې د مثقل (أنَّ، أنَّ) څخه تخفیفي شوې دي چې د دواړو سره د شان ضمیرونه مقدر دي. یعنې بې شکه الله ﷻ ستاسو په شان باندې پوهېده چې په قیام اللیل باندې به د وخت د حیثه پوره احاطه ونه شئ درلودلی.

بې شکه الله ﷻ ستاسو په شان باندې پوهېده چې ځینې کسان به مو مریضان وي او ځینې نور به مو څه نور ضروریات ولري.

۸ـ که څوک وایي چې: پورتنیو تشریحاتو ته په پام سره د ﴿ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْءَانِ ﴾ مضمون داسې راځېږي چې نو تاسو هومره قیام اللیل وکړئ څومره چې درته اسان وي، داسې نه چې ستاسو څخه قیام اللیل بالکل ساقط شوی دی (لکه چې تاسو وریاندې وړاندې په شپږمه نکته کښې د اجماع دعوه وکړه)؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی ایت شریف په احادیثو کښې ښه پوره تفسیر شوی دی او د ذکر شوي اعتراض مخه پکښې نیولې شوې ده. د مثال په توګه:

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۲۵۶ سنن النسائي ج۱ ص۱۳۷
(۲) شرح النووي على مسلم ج۱ ص۲۵۶
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۱۰۰ شمائل الترمذي ص۱۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: يوه ورځې يوه سړي د نبي كريم ﷺ سره د نورو خبرو په څنګ كښې لاندې سوال جواب هم ترسره كړ:

سړي: اى د الله رسوله! اسلام څه شی دی؟

نبي كريم ﷺ: په شپه او ورځ كښې پنځه لمونځونه اسلام دی.

سړي: ايا په ماباندې په شپه او ورځ كښې د پنځو لمونځو څخه په غير نور لمونځونه شته؟

نبي كريم ﷺ: نه (په تاباندې نور لمونځونه نشته) مګر كه ته پخپله نفل كوې (نو دا ستا كار دی).

نوموړی سړی د سوال جواب څخه وروسته روان شو او ويې ويلې چې: زما دې په الله ﷻ باندې سوګند وي چې زه به په دغو فرضياتو باندې نه څه شی زيات كړم او نه به يې ترې كم كړم.

نبي كريم ﷺ د همده د سوګند په تعقيب وفرمايل چې: «أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ»[١] يعنې دغه سړی كامياب شو كه چرته رښتيا وايي (نو جنت ته به داخل شي).

ب: الله ﷻ د معراج په شپه د آخر الزمان پيغمبر ﷺ په امت باندې په نهايي ډول سره فقط پنځه لمونځونه فرض كړي دي چې په ثواب كښې د پنځوسو لمونځونو سره برابر دي[٢].

٩ـ هو! څرنګه چې دا سورت (المزمل) د مكي سورتونو د اولنيو نازلو شوو سورتونو څخه دی او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الإسراء:١] ايت لاندې ليكلي دي چې د معراج شپې د بعثت په دولسم كال (د هجرت څخه فقط يو كال وړاندې) صورت نيولی وه چې پنځه لمونځونه پكښې فرض ګرځېدلي وه، نو څه لرې نه ده چې تر دغه وخته پورې به په مؤمنانو باندې په اسانه توګه د قيام الليل فرضيت باقي پاتې شوی وي، خو د پنځو لمونځونو د فرضيت څخه وروسته به په يقيني توګه دغه فرضيت سقوط موندلی دی، والله ﷻ اعلم.

## د قرآن كريم يوه معجزه

١٠ـ د ﴿ وَءَاخَرُونَ يُقَـٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ جمله الله ﷻ په داسې حالت كښې نازله كړې ده چې مؤمنان ډېر كمزوري وه او د وسلوال جهاد توان يې نه درلود چې په نتيجه كښې هجرت ته مجبور شوه. نو د دغې جملې په نزول سره مؤمنانو ته د اشارې په توګه يو غيبي زېری وركړی شو چې تاسو به په راتلونكي كښې د وسلوال جهاد توان هم ولرئ، چې دغه زېری په مدينه منوره كښې په معجزانه توګه رښتيا شو او مؤمنانو په وسلوال جهاد لاس پورې كړ، والحمد لله ﷻ على ذلك.

زمونږ په فكر دلته د ﴿ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ دواړو جملو په نزول كښې هم د قرآن كريم دوه وو نورو معجزو ته اشاره ده چې: اى مؤمنانو! په تاسو باندې به په راتلونكي كښې لمونځونه فرض كړی شي، او همدارنګه به د زياتو مالونو خاوندان هم جوړ شئ چې د زكاتونو وركړه به درباندې فرض كړی شي او هم به د نصاب مقادير درنازل كړی شي.

(١) صحيح البخاري ج١ ص١١؛ صحيح مسلم ج١ ص٣٠

(٢) سنن النسائي ج١ ص٧٧؛ جامع الترمذي ج٢ ص١٦٣

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه دواړه غيبي خبرونه هم رښتيا شوه، چې په مؤمنانو باندې د معراج په شپه پنځه لمونځونه فرض وګرځولی شوه، او په مدینه منوره کښې په غنیمتي مالونو سره غنیان جوړ شوه چې د زکاتونو د ورکړې جوګه شوه، نو د نصابونو مقادیر هم ورنازل کړی شوه چې د هر قسم مال نصاب ورویېژندل شو.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۱ـ که څوک وايي چې: د ﴿ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنۡهُ ﴾ جملې مضمون خو په عين ايت کښې وراندې نازل شوی دی چې ﴿ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ ﴾، نو په تکراري نزول کښې يې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: په ذکرو شوو دواړو جملو کښې تکرار نشته بلکې لومړنی جمله په ﴿ عَلِمَ أَن لَّن تُحۡصُوهُ ﴾ باندې مرتبه ده يعني ای مؤمنانو! ستاسو د وسې څخه دا وتلې ده چې شپه په پوره او کامله توګه اندازه کړی شئ نو الله ﷻ درباندې اساني نازله کړه او د قيام الليل د دريواړو صورتونو فرضيت يې درڅخه اوچت کړ. او دوهمه جمله په ﴿ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرۡضَىٰ ﴾ او په نورو معطوفو جملو باندې مرتبه ده. يعني ای مؤمنانو! تاسو ډېر ضروريات لرئ نو الله ﷻ درباندې فضل وکړ او د قيام الليل په هکله يې سهولت درنازل کړ.

## هېر مو نه شي

۱۲ـ هېر مو نه شي چې د ﴿ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ ﴾ جملې لاندې ځينو مفسرينو کرامو[1] د "الفاتحة" سورت موضوع مطرحه کړې ده چې ايا په لمانځه کښې يې قرائت فرض دی او که واجب؟

مګر مونږ ته په دې ځای کښې د نوموړې موضوع څېړل مناسب ونه برېښېدل څکه چې وړاندې په څلورمه توضيح کښې د الله ﷻ په توفيق تېر شو چې د ذکرې شوې جملې معنی د "فصلّوا ما تيسّر من الصّلاة" د معنی سره مساوي ده او د قرائت خصوص مراد نه دی.

نو هيله ده چې علاقمندان هملته او يا د احاديثو شروحو او د فقهي کتابونو ته مراجعه وکړي.

د "المزمل" سورت پښتو ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الْمَغْفُورِينَ لَهُمْ وَالْمَرْحُومِينَ.

۱۴۲۵/۹/۱۰ هـ ق - ۱۳۸۳/۸/۳ هـ ش.

---

(۱) روح المعاني ج ۲۰ ص ۱۱۲، تفسير المظهري ج ۱۰ ص ۱۱۷

# المدثر (٧٤)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ د دې سورت نوم (المدثر) د همدې سورت په لومړني ایت کښې نازل شوی دی، او په همدې نامه سره د نورو سورتونو څخه جدا شوی دی.

۲_ د دې سورت ټول ایتونه شپږ پنځوس (۵۶) ایتونو ته رسیږي[۱].

۳_ د دې سورت د کلماتو شمېر دوه سوه او پنځه پنځوسو (۲۵۵) کلمو ته پورته شوې ده[۲].

۴_ د دې سورت د حروفو تعداد یو زرو لس (۱۰۱۰) حرفونو دی[۳].

۵_ دا سورت په اتفاق سره مکي سورت دی او د هجرت څخه یې وړاندې د بعثت په لومړنیو وختونو کښې نزول موندلی دی[۴].

۶_ دا سورت هم د نورو مکي سورتونو غوندې په عقیدوي ارشاداتو پورې ډېر تړاو لري لکه توحید، نبوت، بعث بعد الموت او داسې نور.

۷_ دا سورت (المدثر) د وړاندېني سورت (المزمل) سره نژدې اړیکې لري د مثال په توګه:

الف: دواړه نبي کریم ﷺ ته په خطاب سره پیل شوي دي چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ ﴾، ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ﴾.

ب: هلته د نبوت په اثبات باندې ټینګار شوی وه او دلته همدغه اثبات پوره واضحه شوی دی چې ای پیغمبره! پورته شه او مشرکان د شرکیاتو څخه منعه کړه.

ج: په دواړو سورتونو کښې نبي کریم ﷺ ته د صبر خپلولو توصیه شوې ده او داسې نور.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ۝١ قُمۡ فَأَنذِرۡ ۝٢ وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ ۝٣ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ ۝٤ وَٱلرُّجۡزَ فَٱهۡجُرۡ
۝٥ وَلَا تَمۡنُن تَسۡتَكۡثِرُ ۝٦ وَلِرَبِّكَ فَٱصۡبِرۡ ۝٧ فَإِذَا نُقِرَ فِي ٱلنَّاقُورِ ۝٨ فَذَٰلِكَ يَوۡمَئِذٖ
يَوۡمٌ عَسِيرٌ ۝٩ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ غَيۡرُ يَسِيرٖ ۝١٠ ﴾

د ډېر مهربان الله (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] ای (په څادر کښې) نغښتیه پیغمبره!

[۲] پورته شه (دعوت وکړه) نو (خلک د الله ﷻ د عذابه) وډار کړه.

[۳] او خپل رب ﷻ ته دې نو لویي (کبریاء) نسبت کړه.

[۴] او خپلو جامو ته نو پاکي ورکړه (د پلیتی څخه یې صافې وساته).

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۵۹

(۲) تفسير الخازن ج۶ ص۳۹۲

(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۴۹۰

(۴) زاد المسير ج۸ ص۱۱۹؛ المحرر الوجيز ۱۶ ص۱۸۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵] او بوتانو ته بېلتون ورکړه (خپل ځان ترې بېل او جدا ولره).

[۶] او ته (په دعوت سره) احسان مه کوه چې (مالونه ورباندې) ډېر کړې (او اجرت ورباندې واخلې).

[۷] او خاص د خپل رب ﷻ (د رضامندۍ) دپاره هر ډول صبر خپل کړه.

[۸] نو کله چې په شپېلۍ کښې پوکې (اواز) وکړې شي (په کفارو باندې به هرځه ډېر سخت جوړ شي)

[۹] نو دغه ورځ ډېره سخته ورځ ده. (زه) په شپېلۍ کښې د پوکي کولو ورځ (اراده کوم چې ډېره سخته ده نه بله).

[۱۰] (دا ورځ) یوازې په کفارو باندې اسانه نه ده (بلکې یوازې په مؤمنانو باندې اسانه ده).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني سورت (المزمل) د وروستني ایت په مضامینو کښې دا مطلب هم شامل وه چې که تاسو هر خیر وړاندې واستوئ هغه به د الله ﷻ په نزد ډېر بهتر او د اجر د حیثه ډېر لوی مونده کړئ.

د دې سورت (المدثر) په ړومبنیو ایتونو کښې د همدغه خیر یوه مثال ته اشاره شوې ده چې د دعوت الی الله ځخه عبارت دی نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په "بسم الله الرحمن الرحیم" سره په خپل امت باندې د خیریه کارونو هغه مثال قرائت کړه په کوم باندې چې ته خپل رب ﷻ مخاطب ګرځولی یې کوم چې د دعوت الی الله ﷻ ځخه عبارت دی. هغه دا چې:

۱ـ ای په جامو کښې نغښتیه پیغمبره! اوچت شه لاندې مطالب په مېړانه عملي کړه:

الف: خلک د خپل رب ﷻ د عذابه وډار کړه چې شرکیات او کفریات پرېږدي او د توحید عقیده خپله کړي.

ب: خپل رب ﷻ ته کبریاء (لويي) نسبت کړه او خلکو ته هم دعوت ورکړه چې د خپل رب ﷻ عظمت وپېژني او په عبادت کښې ورته په شرک قائل جوړ نه شي.

ج: ته خپلې جامې او خپل ځان د پلیتۍ ځخه پاک وساته او د هر ډول نجاست ځخه (ظاهري وي او که باطني وي) خپل اجتناب ته ادامه ورکړه.

د: د بوتانو او باطلو معبودانو ځخه جدايي خپله کړه او هېڅکله مه ورنژدې کېږه.

ه: د خلکو سره داسې احسان مه کوه چې ته ورباندې د خپل ځان دپاره د مالونو ډېروالی غواړې. یا په بل عبارت په دعوت الی الله باندې د هیچا ځخه هیڅ شی مه غواړه او دغه د خیر کار ته خاص د الله ﷻ دپاره ادامه ورکړه.

و: هو! په دغه دعوت الی الله کښې د هر ډول ستونزو زغملو ته اوږه ورکړه او صرف د خپل رب ﷻ د رضامندۍ دپاره صبر کوه او خپل استقامت او حوصله مه خرابوه.

۲ـ ای پیغمبره! ته خکه د عوت الی الله او د خلکو ډارولو ته ادامه ورکړه چې د دوی په وړاندې ډېره سخته ورځ پرته ده هغه دا چې:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کله د قیامت د قیام دپاره په شپېلۍ کښې پوکی وکړی شي نو په دغې ورځ کښې به کار ډېر سخت شي او اساني به د منځه لاړه شي. یا په بل عبارت دغه د شپېلۍ وهلو ورځ په کفارو باندې ډېره سخته ده چې هیڅ اساني پکښې نشته.

خو بالمقابل په مؤمنانو باندې ډېره اسانه ده چې د کومې سختۍ سره به پکښې مخامخ نه شي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ﴾ کښې د "مُدَّثِّر" کلمه د "دِثَارٌ" ـلکه "عِقَابٌ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، دثار هغې جامې ته وایي کومه چې د بلې جامې د پاسه اغوستله کېږي[۱]، د کومې په مقابل کښې چې د "شِعَارٌ" کلمه استعمالېږي.

نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «الْأَنْصَارُ شِعَارٌ وَالنَّاسُ دِثَارٌ»[۲] یعنې انصار لاندینۍ جامه ده (په راز کښې شریکان دي) او نور خلک پاسنۍ جامه ده (رازداران نه دي).

ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د دغو ایتونو شان نزول کټ مټ هغه دی کوم چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [المزمل: ۱] ایت لاندې لیکلی دی[۳] مګر بهتر شان نزول هغه دی کوم چې ماثور دی او د نبي کریم ﷺ څخه روایت شوی دی چې فرمایلي یې دي: په داسې حال کښې چې زه روان وم یو غیبي اواز راته وکړی شو، ما اخوا دېخوا وکتل خو څوک مې ونه لید، کله مې چې د اسمان خوا ته سر اوچت کړ نو هغه پرښته مې ولیده کومه چې راته د حراء په غار کښې راغلې وه، چې په هواء کښې په یو لوی تخت باندې ناسته وه. «فَقُلْتُ دَثِّرُونِي فَدَثَّرُونِي فَصَبُّوا عَلَيَّ مَاءً فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ ﴿ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴾ »[۴] یعنې نو زه ډېر زیات وډار شوم نو خدیجة الکبرى رضي الله عنها ته ورغلم او ورته مې وویلې چې: په کوم څادر کښې مې راونغاړئ نو خپل اهل راونغاړلم نو اوبه یې راباندې راواړولې، نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه چې: ای په څادر کښې نغښتیه پیغمبره! اوچت شه نور خلک وډار کړه (...تر آخره پورې).

## هېر مو نه شي

۲ـ هېر مو نه شي چې نبي کریم ﷺ دوه خله د خدیجة الکبرى رضي الله عنها (أم المؤمنین) څخه غوښتي دي چې په جامو یا څادر کښې مې راتاو کړئ چې د ډېر رعب لاندې راغلی یم:

الف: یو خل هغه وخت کله چېورباندې په لومړي خل د حراء په غار کښې وحي ورنازله شوې وه کوم ته چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [المزمل: ۱] ایت لاندې اشاره کړې ده.

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۲۷۶؛ النهایه في غریب الحدیث والاثر ج۲ ص۱۰۰

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۲۰

(۳) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۳۲۹

(۴) صحیح مسلم ج۱ ص۹۰؛ مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۳۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: بل هغه وخت کله چې وحې د سرېدلو څخه وروسته بیا توده شوه د کوم ذکر چې لږ وړاندې په اولنی توضیح کښې تېر شو.

## متعدد تفسیرونه

۳ـ په دې مقام کښې مفسرینو کرامو څو ایتونه په متعددو ډولونو سره تفسیر کړي دي هغه دا:

الف: په ﴿ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴾ کښې یې د "ثِیَاب" کلمه په ډېرو معناوو سره ترجمه کړې ده چې تقریبًا نهو معناوو ته رسېږي(۱) خو مونږ ته بهتره برېښي چې دا کلمه دلته په خپله متبادره معنی سره تفسیره کړی شي. یعنې ای پیغمبره! ته خپلې جامې د نجاست او خیرو څخه پاکې وساته او د مشرکانو په شان مه کېږه چې خپلې جامې پاکې نه ساتي(۲).

څرنګه چې په دغه وخت کښې لمونځ نه وه فرض شوی(۳) نو په کار دي چې بدون د لمانځه هم مومنان خپلې جامې پاکې وساتي او پلیتې یې نه کړي.

ب: په ﴿ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴾ کښې د "رُجْز" کلمه په ډېرو معناوو سره تفسیره شوې ده چې تقریبًا شپږو معناوو ته رسېږي(۴) خو مونږ ته بهتره برېښي چې دلته دغه کلمه په بوتانو سره تفسیره کړی شي. او دا ځکه چې: دا کلمه "رُجْز" د "رِجْس" کلمې سره مترادفه ده(۵) او د "رِجْس" کلمه الله ﷻ په بوتانو سره تفسیره کړې ده چې فرمایي: ﴿ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ ﴾ [الحج: ۳۰] یعنې تاسو د رجس څخه اجتناب وکړئ چې د بوتانو څخه عبارت دی.

نو دلته به یې معنی داسې راوځېږي چې: ای پیغمبره! د بوتانو څخه خپل بېلتون او هجران ته ادامه ورکړه، او بالکل مه ورنژدې کېږه.

ج: علماء کرامو د ﴿ وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ ﴾ ایت تقریبًا په یوولسو معناوو سره تفسیر کړی دی(۶)، خو کوم تفسیر چې مونږ ته غوره برېښي هغه دا دی چې: د ﴿ تَمْنُن ﴾ کلمه د "مَنّ" ـ لکه "شَدّ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ورکولو او احسان کولو معنی ورکوي. الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ هَٰذَا عَطَاؤُنَا فَامْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ ﴾ [ص:۳۹] یعنې ای سلیمانه! دغه زمونږ ورکړه ده نو ته یې (خلکو ته) ورکړه (احسان پرې وکړه) او یا یې ترې وسپموه (مه یې ورکوه په تاباندې هیڅ محاسبه نشته).

په دې تقدیر به یې د معنی حاصل داسې راووځي چې: ای پیغمبره! ته د خلکو سره داسې احسان مه کوه چې خپل ثروت (مالي پانګه) ورباندې زیاته کړې (چې د ارشاداتو په ابلاغ باندې ترې اجرت وغواړې).

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۱۲۱؛ روح المعاني ج۲۹ ص۱۱۸؛ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۴۱
(۲) تفسیر الطبري ج۲۹ ص۱۴۷
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۰
(۴) زاد المسیر ج۸ ص۱۲۲
(۵) لسان العرب ج۵ ص۳۵۲
(۶) تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۶۷؛ مفردات الراغب ص۴۹۵

همدې مطلب ته الله ﷻ په بل ايت کښې داسې اشاره کړې ده چې: ﴿ أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا ﴾ [القلم:۴۶] يعني ايا ته د مشرکانو څخه د ارشاداتو په ابلاغ باندې څه اجرت غواړې (چې ستا اجرت په هغوی باندې دروند تمامېږي او ايمان درباندې نه راوړي)؟.

## د "ناقور" معنی

۴ـ په ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِى ٱلنَّاقُورِ ﴾ کښې د ﴿ نُقِرَ ﴾ او ﴿ ٱلنَّاقُورِ ﴾ دواړه کلمې د "نقر" ـلکه ضرب ـ څخه اشتقاقي شوې دي، "نقر" هغو ټکولو ته وايي د کوم سره چې اواز پيدا کېږي[۱]. خو په دې مقام کښې ترې د قيامت د قيام شپېلۍ مطلب ده چې پوره تفصيل يې د [الأنعام:۷۳] او [الزمر:۶۸] ايتونو لاندې تېر شوی دی ـوالحمد لله ﷻـ خو په دې مقام کښې دوهمه شپېلۍ مطلب ده[۲] چې مړي راژوندي شي. يعني نو کله چې د دهم ځل دپاره په شپېلۍ کښې پوکی وکړی شي.

## يو نحوي تحليل

۵ـ مفسرينو کرامو په دغو ايتونو ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِى ٱلنَّاقُورِ ۝ فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ۝ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴾ کښې د نحويت په لحاظ متعدد تحليلونه کړي دي[۳]، خو کوم تحليل چې مونږ غوره کړی دی هغه د الله ﷻ په توفيق په لاندې ټکو کښې رانلږوو:

الف: د ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِى ٱلنَّاقُورِ ﴾ جمله شرطيه جمله ده او جزائيه جمله يې مقدره ده چې مونږ ترې په "عَسُرَ الْأَمْرُ عَلَى الْكَافِرِينَ" سره تعبير کولی شو، چې دواړه متصل ايتونهورباندې دلالت کوي.

ب: د ﴿ فَذَٰلِكَ ﴾ کلمه مبتدأ ده او هغه وخت ته اشاره ده په کوم باندې چې د ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِى ٱلنَّاقُورِ ﴾ جمله دلالت کوي.

ج: د همدغې مبتدأ دپاره د ﴿ يَوْمٌ عَسِيرٌ ﴾ کلمات خبر واقع شوی دی خو:

د: د مبتدأ ﴿ فَذَٰلِكَ ﴾ او خبر ﴿ يَوْمٌ عَسِيرٌ ﴾ ترمنځ يو فعل مقدر دی چې مونږ ترې په "أعني" سره تعبير کوو. په همدغه مقدر "أعني" پورې د ﴿ يَوْمَئِذٍ ﴾ کلمات تعلق نيسي نو دغه جمله "أعني يَوْمَئِذٍ" د مبتدأ او خبر تر منځ معترضه جمله ده چې د ﴿ فَذَٰلِكَ ﴾ دپاره تفسير واقع شوې ده.

هـ: د ﴿ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴾ په جملې سره ذکر شوی مضمون تاکيد شوی دی.

نو حاصل به يې داسې راوځېږي: کله چې د قيامت د قيام دپاره په شپېلۍ کښې دوهم ځل پوکی وکړی شي نو په کفارو به حالت ډېر سخت شي. نو دغه ورځ سخته ورځ ده. زه په دغې ورځې سره هغه ورځ اراده کوم په کومه چې د شپېلۍ پوکول صورت ونيسي. دا ورځ په کفارو باندې اسانه نه ده خو په مؤمنانو باندې اسانه ده چې وړاندې يې ورته تياری نيولی دی.

---

(۱) لسان العرب ج۵ ص۲۳۱

(۲) تفسير ابي السعود ج۹ ص۵۶

(۳) تفسير الكشاف ج۴ ص۶۴۷، البحر المحيط ج۱۰ ص۳۲۸، اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۵۰۳، التفسير الكبير ج۳۰ ص۱۹۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا (١١) وَجَعَلْتُ لَهُۥ مَالًا مَّمْدُودًا (١٢) وَبَنِينَ شُهُودًا (١٣)
وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمْهِيدًا (١٤) ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ (١٥) كَلَّآ إِنَّهُۥ كَانَ لِءَايَٰتِنَا عَنِيدًا (١٦)
سَأُرْهِقُهُۥ صَعُودًا (١٧) إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ (١٨) فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ (١٩) ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ (٢٠)
ثُمَّ نَظَرَ (٢١) ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ (٢٢) ثُمَّ أَدْبَرَ وَٱسْتَكْبَرَ (٢٣) فَقَالَ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ (٢٤)
إِنْ هَٰذَآ إِلَّا قَوْلُ ٱلْبَشَرِ (٢٥) سَأُصْلِيهِ سَقَرَ (٢٦) وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سَقَرُ (٢٧) لَا تُبْقِي وَلَا
تَذَرُ (٢٨) لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ (٢٩) عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ (٣٠) ﴾

[۱۱] (ای پیغمبره!) ما او هغه څوک پرېږده کوم چې ما د یوازېتوب په حال پیدا کړی دی.

[۱۲] او (بیا) مې ورته مال پراخه (او ډېر) ګرځولی دی (ورکړی دی).

[۱۳] او (هم) مې ورته زامن حاضر ګرځولي دي (چې د ده حضور څخه نه غائب کېږي).

[۱۴] او (هم) مې ورته (کارونه) برابر کړي دي برابرول (چې د ریاست او مشرۍ خاوند مې ګرځولی دی).

[۱۵] بیا (لا) نوموړی (د کفر سره-سره) تمه لري چې زه به ورته (په قیامت کښې د نورو نعمتونو) زیادت هم وکړم (او جنت به یې داخل کړم).

[۱۶] دغسې نه ده (لکه چې نوموړی خیال کوي. او دا څکه چې:)
یقیناً نوموړی زمونږ ایتونو ته عناد کوونکی دی (عنادي کافر دی).

[۱۷] ډېر ژر دی چې زه به په نوموړي باندې د اور په غره باندې ختل تحمیل کړم.

[۱۸] یقیناً نوموړي ډېر فکر وکړ او اندازه یې وکړه (چې قرآن کریم ته څرنګه منفور لقب ورکړي).

[۱۹] نو نوموړی دې ووژلی شي (ملعون دې وګرځي) چې (د لقب په خوښولو کښې یې) څنګه اندازه وکړه.

[۲۰] بیا دې ووژلی شي (ملعون دې وګرځي) چې (د لقب په خوښولو کښې یې) څنګه اندازه وکړه.

[۲۱] بیا نوموړي (حاضرینو ته) وکتل (او خان یې په غُصه کړ).

[۲۲] بیا یې تندی تریو کړ او (دا کار یې) بې وخته (او بې ځایه) ترسره کړ.

[۲۳] بیا یې (یو خل بیا اسلام ته) شا کړه او تکبر یې خپل کړ.

[۲۴] نو ویې ویلې چې دغه (قرآن) نه دی مګر جادو دی چې (د نورو جادوګرانو څخه) رانقلېږي.

[۲۵] دغه (قرآن) نه دی مګر د بشر (بنیادم) قول دی (د الله ﷻ کلام نه دی).

[۲۶] ژر دی چې نوموړی به زه دوزخ ته داخل کړم

[۲۷] (ای پیغمبره!) ته څه شي پوه کړې چې دوزخ څه شی دی (څومره سخت عذابونه پکښې دي)؟

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۸] دا (دوزخ) نه (دوزخیان) ژوندي پرېږدي او نه یې مړه پرېږدي (نه به پکښې مړه کېږي او نه به پکښې ژوندي کېږي).

[۲۹] (دا دوزخ) بنیادمانو لره سوزوونکی دی (په همدوی باندې بلېږي).

[۳۰] په دوزخ باندې (د مالک په شمول) نولس پرښتې (د مشرانو په حیث ټاکلي شوي) دي.

## ارتباط او شان نزول

۱ـ په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو په تعقیب یو د پته اشاره شوې ده چې باید نبي کریم ﷺ د کفارو په عنادي لقبونو ورکولو حوصله او صبر وکړي او بل دې ته چې د همدغو کفارو په وړاندې ډېر سخت عذاب پروت دی چې د دوزخ څخه عبارت دی.

۲ـ د دې ایتونو په ارتباط د سیرت کتابونو[1] او همدارنګه ځینو مفسرینو کرامو[2] نه اوږد شان نزول لیکلی دی چې موږ یې په لاندې ټکو کښې رانقلوو:

الف: یوه ورځې الولید بن المغیرة د قریشو مشران مخاطب کړه چې:

دغه دی د حج موسم نژدی راروان دی چې د اطرافو څخه به ډلې-ډلې قبائل راځي نو په کار دي چې تاسو د محمد ﷺ په هکله په یوه لقب باندې متفق وکرځئ او همدغه لقب په حاجیانو کښې خور کړئ. که نه نو په ټولو قبائلو کښې به بې اعتباره جوړ شئ.

ب: هغوی وړاندیز وکړ چې ای مشره! ته موږ ته یو لقب راخوښ کړه چې موږ یې په اتفاق سره د خورولو دپاره زیار وباسو.

ج: الولید وویلې چې تاسو د یو څو لقبونو یادونه وکړئ چې زه یې واورم او بیا به پکښې زه کوم یو د خورولو او شهرت ورکولو دپاره غوره کړم.

د: هغوی د کاهن او مجنون او همدارنګه د شاعر او ساحر (جادوګر) لقبونه یاد کړه، خو د نوموړي (الولید) دغه یو لقب هم خوښ نه شو، او ویل به یې چې د محمد ﷺ کلام د دغو کسانو د یوه کس د کلام سره هم ورته والی نه لري.

هـ: نو د قریشو مشرانو بیا خپل وړاندیز تکرار کړ چې: ته مهرباني وکړه او پخپله ورباندې یو نوم کېږده چې همدغه نوم موږ په اتفاق سره خور کړو او شهرت ورکړو.

و: (الولید) د ډېر فکر او سوچ څخه وروسته وویلې چې: د محمد ﷺ سره چې کوم لقب لږ څه نژدېوالی لري او لږ څه ورپورې نښتلی شي هغه د ساحر (جادوګر) لقب دی، چې زوی د پلاره او ورور د وروره او همدارنګه خاوند د مېرمنې څخه او نور خپلوان یو د بل څخه جدا کوي، البته کله چې ورباندې ایمان راوړي.

ز: په همدغه لقب (ساحر) باندې ټول متفق شوه او الله ﷻ ذکو شوي ایتونه رانازل کړه چې حاصل یې داسې راځي:

---

(۱) سیرت ابن هشام ج ۱ ص ۲۷۳

(۲) تفسیر ابن کثیر ج ۴ ص ۴۴۳، الدر المنثور ج ۸ ص ۳۳۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د مشرکانو په ستغو او سپورو خبرو باندې خپله حوصله د لاسه مه ورکوه او خپل استقامت او صبر ته ادامه ورکړه او دا خکه چې زه ستا نصرت کوونکی یم، نو:

۱ـ ما او هغه غټ مشرک او کافر سره پرېږده کوم چې د لاندې څو خاصیتونو درلودونکی دی، زه به یې درته په دنیا او آخرت کښې چاره وکړم:

الف: دغه غټ متکبر کافر ما په داسې حال کښې پیدا کړی دی چې لوڅ وه او هیڅ جامې یې نه درلودې، نه ورسره مالونه وه او نه ورسره اولادونه.

ب: بیا مې نوموړی د ځوانۍ مرحلې ته ورساوه، او ښه پرېمانه مالونه مې ورپېرزو کړه، او د ګڼ شمېر زامنو پلار مې جوړ کړ چې ټول ترې شاوخوا راتاو دي او په وړاندې یې ګرځي راګرځي، دېته څه اړتیا نه لري چې په سفرونو باندې ترې غائب شي.

ج: نوموړي ته مې ښه پوره ارام ژوند ورکړ چې په خپل کور کښې د مشرۍ او ریاست درلودونکی دی، او پوره هوسا او با عزته عمر تېروي.

د: نوموړی د ذکرو شوو نعمتونو د کفران او هم د شرک او کفر د غوره کولو سره-سره نوره تمه هم لري چې نعمتونه به ورا‌ضافه کړم او په آخرت کښې به هم ښه پوره ارام ژوند ورکړم.

هـ: دغسې نه ده لکه چې نوموړی تمه کوي. او دا ځکه چې یقیناً نوموړی زمونږ په ایتونو کښې جګړې کوي او د عناد خپلولو د کبله ترې انکار کوونکی جوړ شوی دی.

و: نو ژر دی چې نوموړی به زه په ډېر سخت عذاب سره احاطه کړم او د اور غره ته ختل به وریاندې (په دوزخ کښې) تحمیل کړم.

ز: نوموړي په زړه کښې ښه په دقت سره فکر وکړ او اندازه یې ولګوله چې پیغمبر ﷺ او هم قرآن کریم ته څه ډول لقب ورکړي ترڅو وریوړې ونښلي او د اعتباره یې وغورزوي.

ح: نوموړی دې ووژلی شي او په لعنت دې ککړ شي چې څنګه یې د بد لقب د ایښودلو دپاره اندازه ولګوله، بیا دې ووژلی شي او د الله ﷻ په لعنت سره دې ملعون وګرځولی شي چې د یو ناوړه لقب موندلو دپاره یې څومره اندازه وکړه او په تفکر کښې څومره زور لاړ؟.

ط: بیا یې حاضرینو ته وکتل چې ټول د دغه ملعون لقب موندلو ته په انتظار کښې ناست وه.

ي: بیا یې په ډېره غُصه او کرکه خپل تندی تریو کړ او بیا یې په عین حال کښې حاضرینو ته مخ کړ او اسلام ته یې شا کړه او پوره غټ تکبر یې اختیار کړ.

یا: نو په همدغه حال کښې یې خوله بېرته کړه او په ډېره توهین آمېزه لهجه یې وویلې چې: دغه قرآن (کریم) د سحر (جادو) څخه پرته بل شی نه دی چې د پخوانیو جادوګرانو څخه را انتقال شوی او حکایت شوی دی او لا را انتقالېږي. دغه قرآن (کریم) نه دی مګر د بشر کلام دی، او الله ﷻ ته د دې دپاره منسوب ګرځولی شوی دی ترڅو ورته پیروان مونده کړي. یا په بل عبارت: دا قرآن جادو دی او راوړونکی یې (محمد ﷺ) جادوګر دی چې په خان باندې یې په دروغو د پیغمبر نوم ایښی دی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ ای پیغمبره! ډېر ژر دی چې د ذکرو شوو خاصیتونو څښتن به زه سقر (جهنم) ته ورداخل کړم چې د نجات لاره به ترې هیڅ مونده نه کړي. ایا ته پوهېږې چې "سقر" دوزخ څه حالت لري او په څومره عذاب باندې مشتمل دی؟.

د عذاب د شدت څه اندازه یې دا ده چې:

الف: دغه دوزخ نه څوک ژوندی پرېږدي چې هوسا ژوند وکړي او نه څوک مړ پرېږدي چې د عذابه خلاص شي، نو نه پکښې څوک مړ کېږي او نه پکښې ژوندی پاتې کېږي او بالآخره نه یې عذاب انتهاء لري.

ب: دغه دوزخ په خلکو (دوزخیانو) باندې بلېږي او خلک سوزي چې دوزخیان او ډبرې یې د خاشاکو حیثیت لري.

ج: په دوزخ باندې نولس پرښتې ټاکلې شوې دي چې په دغه نولسو پرښتو کښې یوه (مالک) نومېږي چې د ټولو مشري په غاړه لري.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ ذَرۡنِي وَمَنۡ خَلَقۡتُ وَحِيدٗا ﴾ کښې د مفسرینو کرامو په اتفاق سره د "مَنْ" کلمه د هغه مشرک څخه کنایې ده کوم چې "الولید بن المغیرة" نومېده[۱] کوم چې په [ن:۷ـ ۱۶] ایتونو کښې په لسو کرغېړنو صفاتو سره یاد شوی دی او کوم چې لس زامن درلودل[۲].

## یو نحوي تحلیل

۲ـ په دغه ایت کښې (ظاهره دا ده) چې د ﴿ وَحِيدٗا ﴾ کلمه د "مَنْ" څخه په حالیت سره منصوبه ده[۳] او وروسته متصل درې ایتونه د دغې کلمې ﴿ وَحِيدٗا ﴾ دپاره تفسیر واقع شوي دي، چې په ﴿ وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمۡهِيدٗا ﴾ کښې د "تَمْهِید" کلمه د کارونو د برابرولو او اصلاح کولو معنی ورکوي[۴].

یعنې دغه غټ کافر ما په داسې حال کښې پیدا کړی وه چې بالکل یوازې وه نه یې مالونه او نه یې زامن درلوده او نه د ریاست او مشرۍ خاوند وه، خو وروسته ورته ما پراخه مالونه ورکړه او د یو زیات شمېر زامنو پلار مې وګرځاوه. بالآخره په قریشو کښې مې ورته د ریاست مقام ورکړ، حتی چې هغوی ورته د "رَیْحَانَةُ قُرَیْش" (د قریشو د کشمالي) لقب ورکړ[۵].

## د یوې خبرې رد

۳ـ په ﴿ ثُمَّ يَطۡمَعُ أَنۡ أَزِيدَ ۝١٥ كَلَّآۖ ﴾ کښې د "الولید بن المغیرة" هغه خبره رده شوې ده چې ویل

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۱۲۱
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۴۲
(۳) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۵۶، تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۷۰
(۴) لسان العرب ج۳ ص۴۱۱
(۵) تفسیر الخازن ج۶ ص۲۹۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به یې "إِنْ كَانَ مُحَمَّدٌ صَادِقًا فَمَا خُلِقَتِ الْجَنَّةُ إِلَّا لِي"[۱] یعنې که محمد (ﷺ) رښتینی وي چې بعث بعد الموت شته نو جنت به فقط زما دپاره پیدا کړی شوی وي (زه به ضرور جنت ته داخلېږم)

## صعود څه معنی؟

۴ـ په ﴿ سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا ﴾ کښې د "صَعُود" کلمه د هر درانه کار یا درانه شي دپاره وضعه شوې ده[۲]. مګر په دې مقام کښې نبي کریم ﷺ په دوزخي غره باندې تفسیره کړې ده چې فرمايي «الصَّعُودُ جَبَلٌ مِنْ نَارٍ يَتَصَعَّدُ فِيهِ سَبْعِينَ خَرِيفًا ثُمَّ يَهْوِي بِهِ كَذَلِكَ أَبَدًا»[۳] یعنې "صَعُود" چې په ایت شریف کښې نازل شوی دی د اور د یوه غره نوم دی چې کافر به پکښې اویا کاله پورته خېژي او بیا به همدارنګه اویا کاله وربانذې ښکته راغورزول کېږي چې دغه عملیه به د همېشه دپاره تکرارېږي.

یعنې ډېر ژر دی چې زه به په دغه کافر باندې د "صَعُود" غره ته ختل تحمیل کړم، چې هله ژر ته وربانذې ورخېژه.

## د "عَبُوس" او "بَسَر" معناوې

۵ـ په ﴿ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴾ کښې د ﴿ عَبَسَ ﴾ کلمه د "عُبُوس" ـ لکه "قُبُول" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "عُبُوس" د مخ د هغه خاې غونجولو ته وايي کوم چې د دوه وو وریځو ترمنځ دی[۴]، نو که موږ ترې په تندي (اوچولي) سره تعبیر وکړو هم څه باک به یې نه وي.

او د "بَسَرَ" کلمې د "بَسْر" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاق موندلی دی، "بَسْر" دېته وايي چې څوک د یو شي په کولو باندې د وخت څخه وړاندې جلتي وکړي[۵]. یعنې ذکر شوي کافر انسان (الولید) خپل تندی (اوچولی) بې وخته او بې ځایه غونج او تریو کړ (خپل خان یې په غُصه کړ) ترڅو به قرآن کریم یا په نبي کریم ﷺ باندې ناوړه لقب (سحر یا ساحر) وروتپي. که بالفرض نوموړي خپل خان نه وی په غُصه کړی او د عناد په خره باندې نه وی سور شوی نو د ذکرو شوو لقبونو ورکولو جرئت به یې کم شوی وی.

## "سَقَر" څه معنی؟

۶ـ په ﴿ سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ۝ وَمَا أَدْرَاكَ مَا سَقَرُ ﴾ کښې د ﴿ سَقَرَ ﴾. ﴿ سَقَرُ ﴾ دواړه کلمې د "سَقْر" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقې شوې دي چې د لمر د ګرمۍ او تودوخې معنی ورکوي[۶]. خو د دوزخي طبقاتو څخه د شپږمې طبقې نوم هم دی[۷]. شاید چې په دې مقام کښې ترې مطلق دوزخ

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۷۲
(۲) مفردات الراغب ص۶۸۸
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۱۸؛ مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۱۵۰
(۴) لسان العرب ج۱ ص۶۸۰
(۵) القاموس المحيط ج۱ ص۲۷۰
(۶) القاموس المحيط ج۲ ص۵۷۸
(۷) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۱۶۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مطلب وي چې د ﴿ لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ ﴾ د جملې مضمون په ټولو دوزخونو باندې صادقېږي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د همدغې جملې معنی دا ده چې ذکر شوی دوزخ هغه څوک ژوندي نه پرېږدي کوم چې پکښې وي او هغه څوک مړ نه پرېږدي څوک چې پکښې وي[1]. يا په بل عبارت نه پکښې څوک مړ کېږي او نه پکښې ژوندی کېږي.

په دغه تفسير باندې په بل ايت کښې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴾ [طه: ۷۴] يعنې کافر به په دوزخ کښې نه مړ کېږي او نه به ژوندی کېږي (چې مستريح وګرځي).

## د "لوح" معنی

۷ـ په ﴿ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴾ کښې د ﴿ لَوَّاحَةٌ ﴾ کلمه د "لَوَّاح" څخه د مبالغې په توګه اشتقاقه شوې ده، چې يوه معنی يې سوزول دي[2]، او په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده.

خينو مفسرينو کرامو[3] ليکلي دي چې دلته د "بَشَر" کلمه د "بشرة" جمعه ده چې د انسان د ظاهري پوستکي معنی ورکوي[4]. يعنې دوزخ د بنيادمانو د پوستکو دپاره ډېر سوزوونکی دی.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به هم د "بَشَر" کلمه د بنيادم په معنی سره وي لکه چې د همدې سورت په [۲۵، ۳۱، ۳۶] ايتونو کښې د "بَشَر" درېواړه کلمې هره يوه د بنيادم معنی ورکوي. يعنې دوزخ د دوزخي بنيادمانو دپاره ډېر سوزوونکی دی چې په همدوی باندې يې اور بلېږي.

په دې مضمون باندې په بل ايت کښې داسې صراحت نازل شوی دی چې: ﴿ وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ ﴾ [البقرة: ۲۴] يعنې د دوزخ خاشاک خلک (کفار) او کاڼي دي.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وايي چې: د ﴿ عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴾ ايت مضمون دا دی چې په دوزخ باندې نولس تنه پرښتې د خازنانو په حيث مقررې دي، حال دا چې تاسو د [الشعراء: ۹۱] ايت لاندې د يوه حديث په رڼا کښې ليکلي دي چې د قيامت په ورځ به څو مليونه پرښتې د محشر ميدان ته دوزخ راکاږي؟

مونږ وايو چې: په دغه ايت کښې د خازنانو د مشرانو ډلې ته اشاره شوې ده کومه چې په عمومي مشر (مالک) باندې هم مشتمله ده[5]، د کومې ذکر چې په [الزخرف: ۷۷] ايت کښې نازل شوی دی. اما د دوزخ د ټولو خازنانو تعداد فقط يوازې الله ﷻ ته معلوم دی او بس، شايد چې په راتلونکي متصل [المدثر: ۳۱] ايت کښې به همدغه عدم حصر ته اشاره نازله شوې وي چې: ﴿ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ﴾ يعنې او ستا د رب ﷻ په لښکرو باندې پوره علم هيڅوک نه لري مګر همدی ﷻ او بس.

---

(۱) تفسير الطبري ج۲۹ ص۱۵۸
(۲) لسان العرب ج۲ ص۵۸۵
(۳) المحرر الوجيز ج۱۶ ص۱۶۱
(۴) روح المعاني ج۲۹ ص۱۲۵
(۵) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۸۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَمَا جَعَلْنَا أَصْحَابَ النَّارِ إِلَّا مَلَائِكَةً وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِلَّذِينَ كَفَرُوا
لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا وَلَا يَرْتَابَ الَّذِينَ أُوتُوا
الْكِتَابَ وَالْمُؤْمِنُونَ وَلِيَقُولَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْكَافِرُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا
مَثَلًا كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ وَمَا
هِيَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ ﴿٣١﴾ كَلَّا وَالْقَمَرِ ﴿٣٢﴾ وَاللَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ﴿٣٣﴾ وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهَا
لَإِحْدَى الْكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾ لِمَن شَاءَ مِنكُمْ أَن يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴿٣٧﴾ ﴾

[۳۱] او مونږ د اور (دوزخ) دائمي ملګري (ساتونکي) نه دي ګرځولي مګر پرښتې او مونږ د دوی شمېر نه دی ګرځولی مګر د هغو کسانو دپاره امتحان کومو چې کفر غوره کړی دی.

(دا د دې) دپاره ترڅو هغه کسان (د قرآن کریم په حقانیت) یقین وکړي کومو ته چې اسماني کتاب (تورات یا انجیل) ورکړی شوی دی.

او ترڅو هغه کسان د ایمان د حیثه زیات شي کومو چې (په محمد ﷺ باندې) ایمان راوړی دی.

او ترڅو هغه کسان کومو ته چې اسماني کتاب ورکړی شوی دی او (هم) مؤمنان (د شیطان په شیطانت سره) شک ونه کړي (او خپل باور ته ادامه ورکړي).

او ترڅو هغه کسان چې په زړونو کښې یې مرض (نفاق) شتون لري او (همدارنګه) څرګند کفار ووایي چې: الله ﷻ په دغه (نولس) عدد سره د عجیبه خبرې د حیثه څه شی اراده کړی؟ (بلکې دغه خبره سراسري دروغه ده).

(ای پیغمبره!) دغه ډول الله ﷻ هغه څوک ګمراه کوي چا ته یې چې اراده وشي او هغه چا ته هدایت کوي کوم ته یې چې اراده وشي.

او ستا د رب ﷻ په لښکرو باندې نه پوهېږي مګر همدی ﷻ (او بس).

او دا (دوزخ) نه دی مګر د بنیادمانو دپاره پند (او عبرت) دی.

[۳۲] دغسې نه ده (چې قرآن کریم د بشر قول دی) سوګند دی په سپوږمۍ باندې.

[۳۳] او په شپه باندې (هم سوګند دی) کله چې شا کړي (او سهار ته مخه کړي).

[۳۴] او په سبا باندې (هم سوګند دی) کله چې ښه روښانه (او سپین) شي (چې دغسې نه ده).

[۳۵] یقیناً دوزخ (د قیامت د لویو آفتونو څخه) یو ډېر لوی آفت (او مصیبت) دی.

[۳۶] (البته) د بنیادمانو دپاره د ډارولو د حیثه.

[۳۷] (یا په بل عبارت) ستاسو څخه د هغه چا دپاره چې (جنت ته) وروړاندې شي او یا (ترې) راوروسته شي.

## ارتباط، شان نزول او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغه مسخره آمېزه اعتراض رد شوی او جواب شوی دی کوم چې د وړاندېنې متصل ایت په ارتباط د خینو کفارو د پلوه راپورته شوی وه. هغه دا چې:

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روایت[۱] کله چې د ﴿عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ﴾ ایت نازل شو نو ابو جهل خپل قوم (قریش) مخاطب کړ چې: د محمد (ﷺ) په خبره د دوزخ خازنان فقط نولس تنه دي او تاسو ربېت ډېر خلک یاست، ایا تاسو نه شئ کولی چې د دغو خازنانو څخه په هر یوه سړي باندې لس-لس کسه احاطه وکړئ او مغلوب یې کړئ (د فعالیت مخه یې ونیسئ)؟.

په دې ترڅ کښې یوه پهلوان مشرک وویلې چې ای قریشو! تاسو فقط د دوه وو نفرو چاره وکړئ د پاتې اولسو نفرو چاره به درته زه وکړم او جنت ته د داخلېدلو مخه به درته خلاصه کړم[۲].

نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! د مشرکانو مسخره آمېزه اعتراض جواب کړه او زمونږ د پلوه ورته ابلاغ کړه چې:

۱ ـ مونږ د دوزخ خازنان او ملکې بنیادمان نه دي ګرځولي ترڅو یې تاسو د مقابلې توان ولرئ او یا یې د مقابلې په فکر کښې ولوېږئ بلکې مونږ د دوزخ واکې همدغو نولسو پرښتو ته په لاس کښې ورکړې دي چې ډېرې قوتناکې او ډېرې زورورې دي.

۲ ـ مونږ د دوزخ د خازنانو شمېر بل شی نه دی ګرځولی مګر د هغو کسانو دپاره مو امتحان او ازمېښت ګرځولی دی کومو چې کفر غوره کړی دی او کفري خبرو او اعتراضونو ته ادامه ورکوي.

یا په بل عبارت مونږ ذکر شوی عدد د دې دپاره په نولسو کښې منحصر کړی دی چې:

الف ترڅو هغه کسان د دې پیغمبر (محمد ﷺ) په حقانیت باندې باور او یقین خپل کړي کومو ته چې وړاندې اسماني کتاب ورکړی شوی دی او ورته معلومه ده چې د دوزخ د خازنانو عدد فقط نولس تنه دی.

ب ترڅو د هغو کسانو ایمان د کیفیت په لحاظ لا زیات او قوي جوړ شي کومو چې په همدغه پیغمبر ﷺ باندې ایمان راوړی دی او په ټولو ارشاداتو کښې یې رښتینی ګڼي. او کومو ته چې د اهل الکتابو په تصدیق سره اطمنان ترلاسه کېږي

ج ترڅو په راتلونکي کښې هم نه د پخوانیو اسماني کتابونو خاوندان د پیغمبر ﷺ او د دې قرآن کریم په حقانیت کښې شک شبهې ته په خپلو زړونو کښې ځای ورکړي او نه پکښې د دې پیغمبر ﷺ پیروان شبه وکړي، چې د خازنانو عدد منصوصي دی او په قرآن سره په ثبوت رسېدلی دی.

د ترڅو د هغو کسانو کفر نه زیات شي کوم چې په زړونو کښې د منافقت مرض لري، او د هغو کسانو کفر هم زیات شي کوم چې خپل کفر نه پټوي او په ډاګه پرې ویاړي.

---

۱ الدر المنثور ج۸ ص۳۳۳

۲ تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۴۴، تفسیر البغوي ج۴ ص۴۱۷

یا په بل عبارت ترڅو چې ذکرې شوې دواړه ډلې خپل کفر ښه قوي کړي او ووايي چې:

الله ﷻ د خازنانو په دغه (نولس) عدد باندې څه شی اراده کوي او څه عجیب مطلب یې په نظر کښې نیولی دی چې نه یې زیات کړ او نه یې کم کړ؟، د دغه عدد حصر خبره سراسري دروغ ده او د قبول قابله نه ده، که نه نو دغه عدد خو به یې لږ تر لږه د نولسو څخه شلو ته اوچت کړی وی چې کامل عدد دی.

۳ـ ای پیغمبره! په ذکر شوي ډول سره الله ﷻ په یوه شي باندې هغه څوک ګمراه کوي کوم ته یې چې اراده وشي او هغه چا ته ورباندې هدایت په برخه کوي کوم ته یې چې اراده وشي. یا په بل عبارت الله ﷻ په یوه شي باندې د ځینو کسانو کفر قوي کوي او د ځینو پرې ایمان قوي کوي، چې همدغه د امتحان معنی ده.

لنډه دا چې د دوزخ د خازنانو د عدد په نولسو کښې حصرول فقط د امتحان او ازمېښت په بنیاد صورت نیولی دی که نه نو ستا د رب ﷻ په لښکرو باندې خو هیڅوک نه پوهېږي چې څومره دي مګر یوازې همدی ﷻ ورباندې پوهېږي او بس.

۴ـ ای پیغمبره! دوزخ نه دی مګر د بنیادمانو دپاره پند او عبرت دی چې باید د خپلو کړو وړو دپاره هغه لاره غوره کړي کومه چې دوزخ ته نه بلکې جنت ته غزېدلې ده.

۵ـ دغسې نه ده لکه چې مشرکان خیال کوي او په قرآن کریم باندې د جادو لقب ږدي او همدارنګه نبي کریم ﷺ د جادوګر په نامه سره یادوي، څکه چې: زه د همدغه مطلب د اثبات دپاره په سپوږمۍ باندې سوګند یادوم او په شپه باندې هم کله چې مخ په شا شي او سبا ته مخه کړي، او بالآخره په سبا باندې هم سوګند یادوم کله چې ښه پوره روښانه او رڼا شي.

نو دغه قرآن کریم د الله ﷻ د پلوه په حقه سره نازل شوی دی سحر او جادو نه دی، په نژدې وخت کښې به ورباندې ټوله دنیا رڼا شي، د کفر شپه مخ په شا شوې ده او د اسلام رڼا مخ په خلېدو ده.

۶ـ ای پیغمبره! هغه دوزخ (کوم چې د مشرکانو دپاره تیار کړی شوی دی) د بنیادمانو دپاره د ډارولو د حیثه د قیامت د لویو آفتونو د جملې څخه د هر لوی آفت او مصیبت دی، نو په کار دي چې هغوی ترې د ایمان په راوړلو سره وډار شي او د نجات لاره ترې خپله کړي.

یا په بل عبارت ای بنیادمانو! دغه ډارول تاسو ته متوجه دي چې د نېکو او بدو دواړو استعدادونه لرئ: نو ستاسو څخه چې هرڅوک ایمان او جنت ته د وړاندې کېدلو اراده لري هغه به وړاندې شي او هرڅوک چې ترې د وروسته پاتې کېدلو اراده لري هغه به ترې وروسته شي.

په همدې بنیاد به د قیامت په ورځ هیچا ته د اعتذار کولو فرصت پاتې نه شي چې زه خبر نه وم او یا راته معلومات نه وه رسېدلي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ ﴾ کښې د ﴿ أَصْحَٰبَ ﴾ کلمه د "صَاحِبُ" جمعه ده، "صَاحِبُ" هغه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي نه ویل کیږي کوم چې د بل شي سره دوامداره ملازمت او پیوستون ولري برابره خبره ده چې انسان وي او یا بل شی[1].

په دې مقام کښې د ﴿ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ ﴾ څخه هغه نولس تنه پرښتې مطلب دي کومې چې د دوزخ سره د خازنانو (ساتونکو) په حیث دائمي ملازمت او پیوستون لري. او کفارو ته دغه لقب ﴿ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ ﴾ د دې کبله ورکړی شوی دی چې د دوزخ سره د تعذیب په لحاظ د دائمي پیوستون او ملازمت درلودونکي دي.

## د اهل الکتابو یقین حاصل شو

۲_ په ﴿ لِيَسْتَيْقِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ ﴾ کښې د اهل الکتابو هغه یقین ته اشاره شوې ده کوم چې په یوه اوږده حدیث کښې په اثبات رسېدلی دی هغه دا چې

یو ورځې اهل الکتابو د نبي کریم ﷺ څخه وپوښتل چې: ای ابو القاسمه! د دوزخ د خازنانو (ساتونکو) عدد څومره دی؟

نبي کریم ﷺ په اشاره سره جواب ورکړه چې «هَكَذَا وَهَكَذَا فِي مَرَّةٍ عَشَرَةٌ وَفِي مَرَّةٍ تِسْعٌ»[2] یعنې دوه خله یې د دواړو لاسونو په ګوتو سره اشاره وکړه چې دومره دي خو یو خل په لسو ګوتو سره او بل خل په نهو ګوتو سره چې ټولې نولس (۱۹) ګوتې شوې، نو هغوی دا جواب تصدیق کړ چې هوا عدد یې همدومره دی.

## دا عجیبه خبره دروغ ده

۳_ په ﴿ وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْكَٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ﴾ کښې په 'هذا' سره ذکر شوی عدد (۱۹) ته اشاره ده او د ﴿ مَثَلًا ﴾ کلمه د همدغه 'هذا' څخه په تمیزیت سره منصوبه ده[3]، چې دلته ترې عجیبه خبره مراده ده[4]. یعنې الله ﷻ په دغه عدد (۱۹) سره د عجیبې خبرې د حیثه څه شی اراده کوي؟ خو اصلاً دغه خبره دروغ ده، د الله ﷻ د پلوه نه ده نازله شوې.

حال دا چې الله ﷻ په خپلو ټولو کارونو کښې د پوره اختیار درلودونکی دی نو په ده ﷻ باندې هیڅ اعتراض نه شي رامنځته کېدی چې اسمانونه دې ولې اوه پیدا کړه او د ځمکو عدد دې ولې په اوو کښې منحصر کړی دی او بالآخره د ټول عالم د پیدا کولو دپاره دې ولې شپږ ورځې وټاکلې؟ او داسې نور.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې ایت کښې د منافقانو په ذکر سره دېته اشاره ده چې د مسلمانانو په اسلامي ټولنه کښې به په راتلونکي کښې منافقان هم شتون ولري.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۲۸۹
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص ۱۷۰
(۳) تفسیر الکشاف ج۴ ص ۶۵۲؛ روح المعاني ج۲۹ ص ۱۲۷
(٤) تفسیر البغوي ج۴ ص ۴۱۷؛ تفسیر القرطبي ج۱۹ ص ۸۲

دغه اشاره په مدینه منوره کښې د معجزې په توګه ربښتیا شوه چې منافقانو هلته وده وکړه لکه چې د [البقرة: ۹] ایت لاندې یې څه تفصیل تېر شوی دی. والحمد لله ﷻ.

### هېر مو نه شي

۴_ هېر مو نه شي چې په دې مقام کښې مفسرینو کرامو دغه ایتونه د ارتباطاتو په ملحوظ په متعددو ډولونو سره توجیه کړي دي[1].

مګر مونږ ته چې کومه توجیه بهتره برېښېدلې ده هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو

الف: په ﴿ وَمَا هِىَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ ﴾ کښې د "هِيَ" ضمیر په وړاندېنۍ ایت کښې د ﴿ سَقَرَ ﴾ کلمې ته راجع دی، او دا جمله د ﴿ عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴾ په جملې باندې عطفه ده.

ب: ﴿ وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ ﴾ کلمات آن تر ﴿ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ﴾ پورې معترضه جمله ده او هغه پوښتنه ورباندې جواب شوې ده کومې ته چې د همدې ایتونو په شان نزول کښې وړاندې اشاره شوې ده والحمد لله ﷻ.

ج: د ﴿ كَلَّا ﴾ کلمه د مشرکانو د هغې خبرې رد دی کومه چې د ﴿ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا قَوْلُ ٱلْبَشَرِ ﴾ په جملې سره راحکایته شوې ده.

د: خو هلته همدغه جمله په ﴿ سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴾ سره تعقیبه شوې وه او دلته د سوګندونو څخه وروسته په ﴿ إِنَّهَا لَإِحْدَى ٱلْكُبَرِ ﴾ سره تعقیبېږي، چې د ﴿ إِنَّهَا ﴾ ضمیر هم په وړاندېنۍ ایت کښې د ﴿ سَقَرَ ﴾ کلمې ته راجع دی.

ه: د سوګندونو جواب مقدر دی چې وړاندېنۍ د ﴿ كَلَّا ﴾ کلمه ورباندې دلالت کوي، او مونږ ترې په "لَيْسَ كَمَا يَقُولُ الْمُشْرِكُونَ" سره تعبیر کولی شو.

و: په ﴿ نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ ﴾ کښې د ﴿ نَذِيرًا ﴾ کلمه مصدر ده او د "اِنْذار" معنی ورکوي لکه چې په ﴿ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴾ [الملك:۱۸] کښې د ﴿ نَكِيرِ ﴾ کلمه د "انکار" په معنی سره ده. او نصب یې د ﴿ لَإِحْدَى ٱلْكُبَرِ ﴾ څخه د تمیز په حیث صورت نیولی دی.

ز: بالآخره په ﴿ لِمَن شَآءَ مِنكُمْ أَن يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴾ کښې د ﴿ لِمَن ﴾ کلمه د ﴿ لِلْبَشَرِ ﴾ څخه بدل واقع شوې ده.

نو پورتنیو ملحوظاتو ته په پام سره یې د معنی لنډ حاصل داسې راخېژي چې:

دا قرآن کریم د بشر قول (جادو) نه دی، نو ډېر ژر به زه د دغې خبرې کوونکی دوزخ ته داخل کړم، چې ډېر سخت عذابي دی، او د بشر دپاره نه دی مګر پند او عبرت دی.

قرآن کریم جادو نه دی، په سپوږمۍ او هم په شپه او ورځ باندې سوګند دی.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۳۴۲؛ تفسیر ابي السعود ج۹ ص۶۰؛ المحرر الوجیز ج۱۶ ص۱۶۴؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۹ ص۲۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت د دنیا نظام د قرآن کریم په حقانیت باندې دلالت کوي که نه نو دغه نظام به سراسري عبث پیدا کړی شوی وی

نو د ذکر شوي قول قائل به زه دوزخ ته داخل کړم. یقینًا دوزخ د آخرت د لویو آفتونو څخه د دارولو د حیثه د بنیادمانو دپاره د ېر لوی آفت او مصیبت دی

البته ای بنیادمانو! ستاسو د جملې څخه د هغه چا دپاره د دارولو د حیثه آفت دی کوم چې جنت ته وروراندې کېږي او یا ترې وروسته کېږي

﴿كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ ﴿٣٨﴾ إِلَّآ أَصْحَٰبَ ٱلْيَمِينِ ﴿٣٩﴾ فِى جَنَّٰتٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٤٠﴾ عَنِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٤١﴾ مَا سَلَكَكُمْ فِى سَقَرَ ﴿٤٢﴾ قَالُوا۟ لَمْ نَكُ مِنَ ٱلْمُصَلِّينَ ﴿٤٣﴾ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ ٱلْمِسْكِينَ ﴿٤٤﴾ وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ ٱلْخَآئِضِينَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٤٦﴾ حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا ٱلْيَقِينُ ﴿٤٧﴾ فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ﴿٤٨﴾ فَمَا لَهُمْ عَنِ ٱلتَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ ﴿٤٩﴾ كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍۭ ﴿٥١﴾ بَلْ يُرِيدُ كُلُّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾ كَلَّا ۖ بَل لَّا يَخَافُونَ ٱلْءَاخِرَةَ ﴿٥٣﴾ كَلَّآ إِنَّهُۥ تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿٥٥﴾ وَمَا يَذْكُرُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ هُوَ أَهْلُ ٱلتَّقْوَىٰ وَأَهْلُ ٱلْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾﴾

[۳۸] هرڅوک به (د قیامت په ورځ) د هغو کړو وړو په سبب ګرو (بند) وي کوم بې چې (په دنیا کښې) کسب کړی وي

[۳۹] مګر اصحاب الیمین (مومنان) به ګرو (بندیان) نه وي (د هر حیثه به خلاص وي).

[۴۰] (اصحاب الیمین) به په جنت کښې (د بې غمی په حالت کښې) پوښتنه کوي

[۴۱] (البته) د مجرمانو (اصحاب الشمال) څخه چې

[۴۲] (ای مجرمانو!) تاسو په دوزخ کښې څه شي داخل کړی؟

[۴۳] هغوی به (په جواب کښې) ووايي چې موږ (په دنيا کښې) د لمونځ کوونکو څخه نه وو.

[۴۴] او موږ نه وو چې مسکين ته خوراک ورکړو

[۴۵] او موږ وو چې په باطلو کښې د بحث کوونکو سره به مو (په باطلو کښې) بحثونه کول (او ورسره به ملګری وو)

[۴۶] او موږ وو چې د جزا ورځې ته به مو د دروغو نسبت کاوه (باور به مو ورباندې نه درلود).

[۴۷] (موږ ذکر شوي حالت ته) تر هغه ادامه ورکړه ترڅو چې راته مرګ راغی (او په همدغه حالت باندې مړه شوو).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۸] نو (په دغې ورځ کښې به) مجرمانو (اصحاب الشمال) ته د شفاعت کوونکو شفاعت څه ګټه ونه رسوي (او نه به شفاعتګران مونده کړي)

[۴۹] نو مشرکانو (اصحاب الشمال) ته څه دي چې د پند (قرآن کريم) څخه اعراض کوونکي دي؟

[۵۰] (داسې اعراض ترې کوي) لکه چې يقيناً دوی تښتېدونکي ساراني خره وي

[۵۱] چې د زمري څخه تښتي (چې ښکار يې نه کړي)

[۵۲] بلکې د مجرمانو (مشرکانو) هر يو سړی غواړي چې پرانستې شوې پاڼې ورکړی شي (او پيغمبر ونګرځولی شي)

[۵۳] دغسې نه ده، بلکې مجرمان د آخرت (د عذابه) نه دارېږي (او ډول- ډول پلمې جوړوي چې د ايمان د راوړلو څخه پرې خانونه بچ کړي).

[۵۴] دغسې نه ده (لکه چې مجرمان خيال کوي) بلکې دا قرآن کريم پند (او نصيحت) دی (چې ګټه پورته کول ترې په پيغمبر جوړېدلو پورې توقف نه لري).

[۵۵] نو هرڅوک چې (د قرآن کريم څخه د ګټې اوچتولو) اراده لري هغه ترې ګټه اوچتولی شي (خو چې عقيده ورباندې وکړي).

[۵۶] او مجرمان (بلکې ټول خلک د قرآن کريم څخه) پند نه اخلي مګر هغه وخت چې الله ﷻ (ورته) اراده وکړي (او توفيق ورکړي).

الله ﷻ د تقوی لايق دی (په کار ده چې خلک ترې وډار شي) او (هم) د مغفرت لايق دی (نو په کار ده چې مغفرت ترې وغواړي).

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د وړاندېنيو ايتونو د وروستني ايت مضمون تعقيب شوی دی چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! په خپل امت باندې د هغو کسانو څه اخروي حالات قرائت کړه کوم چې جنت ته وروړاندې کېږي او د دوزخ څخه وروسته کېږي او همدارنګه د هغو کسانو هم کوم چې بالعکس دوزخ ته وړاندې کېږي او د جنت څخه وروسته کېږي هغه دا چې:

۱_ د قيامت په ورځ به هرڅوک په خپلو کړنو سره نيول شوی او بند وي نو هيڅوک به نجات مونده نه کړي مګر د ښي لاس ملګري چې اعمالنامې ورته په ښيو لاسونو سره ورکړی شوې وي او په محاسبه کښې بريالي وتلي وي، نو د دغو کسانو څه حالات به دا وي چې:

الف: هلته به په عظيم الشانو باغونو کښې وي چې په هر ډول ميوجاتو باندې به مشتمل وي او خلور ډوله لښتي به پکښې بهېږي.

ب: دغه کسان به د مجرمانو او دوزخيانو څخه پوښتنه وکړي البته کله چې دوی په نعمتونو کښې وي او هغوی په عذابونو کښې معذبېږي، داسې پوښتنه چې:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای مجرمانو! تاسو په دوزخ کښې کوم عمل داخل کړئ؟ تاسو په دنیا کښې د څه ډول کړو وړو درلودونکي وئ چې د هغو په سبب بند پاتې شوئ؟.

ج: مجرمان به په جواب کښې ووايي چې مونږ څکه په دوزخ کښې داخل کړی شو چې لاندې کړه وړه مو درلود:

اول: مونږ د لمونځ کوونکو د ډلې څخه نه وو چې بدني عبادت مو نه کاوه.

دوهم: مونږ مسکینانو ته خوراک او څښاک نه ورکاوه چې د مالي عبادت څخه محروم او بې برخې وو.

دریم: مونږ به همېش د باطلو او چټیاتو (عبثیاتو) په مجالسو کښې اشتراک کاوه او د باطل خوښوونکي خلکو سره به مو ناسته ولاړه درلوده.

څلورم: مونږ په دنیا کښې د جزا د ورځې (قیامت) څخه انکار کاوه او دغه ورځ مو دروغ ګڼله چې حقیقت نه لري.

پنځم: لنډه دا چې په دنیا کښې نه زمونږ عقیدوي کړه وړه سم وه او نه عملي، او مونږ په همدغه حالت باندې آن تر مرګه پورې کلک وو او په همدغه حالت باندې مړه شوو چې توبه تائب ترې ونه ګرځېدو.

۲_ ای پیغمبره! ذکر شوي مجرمان به په آخرت کښې د خپلو کړو وړو په سبب په دوزخ کښې بند پاتې شي او د خلاصون يوه لاره به هم مونده نه کړي حتی شفاعت کوونکی به هم مونده نه کړي او که بالفرض المحال شفاعت کوونکی مونده کړي نو شفاعت به يې ورته څه ګټه ونه شي رسولی او د الله ﷻ په نزد به د قبول وړ نه وي.

۳_ ای پیغمبره! کله چې مشرکانو او کفارو ته دغسې سخته ورځ په وړاندې پرته ده نو دوی ته څه مناسب دي او څه باعث دی چې د پند او نصیحت څخه اعراض کوونکي او مخ اړوونکي ګرځي؟.

دوی ته په کار وه چې نن ورځ يې په ایمان راوړلو سره د قرآن کریم په سبب خپل ځانونه د قیامت د ورځې د بند څخه خلاص کړي وی او دا خوی يې نه وی خپل کړی چې د قرآن کریم د اورېدلو څخه داسې تښتي او منډې ترې وهي ته به وايې چې ساراني خره د زمري څخه ترهېدلي دي او په ځغاسته خپلو ځانونو ته نجات ورکوي.

۴_ په کار وه چې مشرکانو د پند او نصیحت (قرآن کریم) څخه ګټه پورته کړې وی خو دوی دا کار ونه کړ بلکې د دوی هر یو کس غواړي چې پرانستی کتاب ورته ورکړی شي او پیغمبر وګرځولی شي.

دغسې نه ده، نه هر څوک د پیغمبری لیاقت لري او نه دا کار د حکمت غوښتنه ده بلکې مشرکان د دغې پلمې څخه د ایمان د نه راوړلو دپاره کار اخلي او اصلاً د قیامت د ورځې څخه انکاري دي، چې ترې نه ډارېږي او تیاری ورته نه نیسي.

دغسې نه ده چې د قرآن کریم څخه د ګټې اوچتولو دپاره پیغمبر جوړېدل ضرور دي بلکې دا قرآن کریم د نجات ښه وسیله ده هر څوک ترې پند اخستلی شي نو په همدې بنیاد هرڅوک چې د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځېل خان د نجات دپاره څه اراده لري هغه دې ترې ګټه پورته کړي او د جادو نوم دې ورباندې نه ږدي، چې اعراض ترې وکړي او د قول البشر نوم ورکړي.

۵ـ ای پیغمبره! مشرکان بلکې هیڅوک د قرآن کریم څخه ګټه نه شي اخستی مګر هله چې الله ﷻ ورته اراده وکړي او توفیق ورکړي. او دا ځکه چې:

یوازې الله ﷻ د تقوی لایق دی نو باید بندګان یې د عذابه وډار شي چې قدرت یې کامل دی او هر شی فقط د همده ﷻ په اراده باندې موجودیت قبلوي او بس. او یوازې همدی ﷻ د مغفرت او بښنې لیاقت لري او بس، چې د ده ﷻ څخه په غیر هیڅوک د ګناهونو د مغفرت توان نه لري او نه چا ته بښنه کولی شي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: ظاهره دا ده چې د ﴿ مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ ﴾ جمله د ﴿ يَتَسَآءَلُونَ ۝ عَنِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ د جملې دپاره بیان واقع شوې ده، نو باید چې حاصل یې داسې راوخېژي چې: اصحاب الیمین به څینې د څینو نورو څخه پوښتنه وکړي چې تاسو په دوزخ کښې څه شي داخل کړئ؟ حال دا چې اصحاب الیمین خو دوزخ ته نه دي داخل شوي؟!

مونږ وایو چې:

الف: دلته په عبارت کښې لږ څه لنډیز رامنځته شوی دی[۱] چې مقام ورباندې دلالت کوي او حاصل یې داسې راخېژي چې: اصحاب الیمین به یو تربله پوښتنه وکړي چې مجرمین به دوزخ ته څه شي داخل کړي وي؟.

نو د دوی څخه به څینې کسان نورو ته ووایي چې. دغه پوښتنه مونږ د هغوی څخه کړې ده چې ﴿ مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ ﴾ یعنې ای مجرمینو! تاسو په دوزخ کښې څه شي داخل کړئ؟

ب: دلته د تفاعل باب د مجردو د باب خاصیت لري، نو د ﴿ يَتَسَآءَلُونَ ﴾ کلمه د "يَسْأَلُونَ" معنی ورکوي[۲]. یعنې اصحاب الیمین به د مجرمانو څخه پوښتنه وکړي چې تاسو په دوزخ کښې څه شي داخل کړئ؟

## ایمان او شرعي احکام

۲ـ ایمان په اجمالي توګه ټولو شرعي احکامو ته شامل دی نو په حقیقت کښې د مجرمانو جواب د ﴿ لَمْ نَكُ مِنَ ٱلْمُصَلِّينَ ﴾ څخه تر ﴿ حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا ٱلْيَقِينُ ﴾ پورې د "لَمْ نَكُ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ" څخه کنایي دی. یعنې مونږ په دوزخ کښې دغه کار داخل کړي یاستو چې مونږ په دنیا کښې کفر غوره کړی وه او د مؤمنانو د ډلې څخه نه وو ګرځېدلي.

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۶۵۵

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۴۶، تفسیر القاسمي ج۱۶ ص۲۴۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د پلوه او د بله پلوه په دې مقام کښې د ﴿ ٱلۡيَقِينُ ﴾ کلمه د مرگ څخه کنايې ده شايد چې داهه لقب په دې خکه ورکړی شوی دي چې د مرگ راتلل يقيني دي او هيڅ شک پکښې نشته.

د همدې مطلب په ارتباط د [الحجر:۹۹] ايت لاندې د يو حديث په رڼا کښې څه بحث تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## قَسْوَرَة څه معنی؟

۳_ په ﴿ فَرَّتۡ مِن قَسۡوَرَةٍ ﴾ کښې د ﴿ قَسۡوَرَةٍ ﴾ کلمه په متعددو معناوو سره استعمالېږي[۱]، خو په دې مقام کښې عامو مفسرينو کرامو په زمري سره تفسيره کړې ده[۲]. يعنې کفار او مشرکان د قرآن کريم د اورېدلو څخه داسې تښتي او تربې لکه چې ساراني خره د زمري څخه تښتي او تربېږي، حال دا چې قرآن کريم ورته د ابدي ژوند سبب دی، نه دا چې د مرگ باعث به يې وگرځي لکه چې زمری د سارانيو خرو دپاره د مرگ باعث گرځي.

## هېر مو نه شي

۴_ هېر مو نه شي چې د ﴿ بَلۡ يُرِيدُ كُلُّ ٱمۡرِيٕ مِّنۡهُمۡ ﴾ الآية- مضمون ته په ورته مضمون باندې وراندې يو ايت [الأنعام:۱۲۴] تېر شوی دی، چې يو خل کتل يې بد نه دي.

## ماثور تفسير

۵_ نبي کريم ﷺ په يوه قدسي حديث کښې د ﴿ أَهۡلُ ٱلتَّقۡوَىٰ وَأَهۡلُ ٱلۡمَغۡفِرَةِ ﴾ کلمات داسې تفسير کړي دي چې فرمايي: «قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَا أَهۡلٌ أَنۡ أُتَّقَى فَمَنۡ اتَّقَانِي فَلَمۡ يَجۡعَلۡ مَعِي إِلَهًا فَأَنَا أَهۡلٌ أَنۡ أَغۡفِرَ لَهُ»[۳] يعنې الله ﷻ وايي چې زه د دې لايق يم چې زما څخه ډار وکړی شي نو هرڅوک چې زما څخه وډار شي او زما سره به په عبادت کښې بل معبود ونه گرځوي نو (په دې صورت کښې) زه لايق يم چې مغفرت ورته وکړم.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا مِنَ الْمُتَّقِينَ الْمَغْفُورِينَ بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ.

د "الْمُدَّثِّر" سورت پښتو ترجمه او تفسير ختم شو.

۱۴۲۵/۹/۲۳ هـ ق - ۱۳۸۳/۸/۱۶ هـ ش.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۱۸؛ لسان العرب ج۵ ص۹۲

(۲) روح المعاني ج۲۹ ص۱۳۴

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۰

# القيامة (٧٥)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (القيامة) د همدې سورت په لومړي ايت کښې نازل شوی دی.

۲ـ دا سورت د مکي سورتونو څخه دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳ـ د دې سورت ټول ایتونه څلوېښتو (۴۰) ته رسېږي[۲].

۴ـ د کلماتو شمېر يې يو کم دوه سوه (۱۹۹) کلمو ته پوره شوی دی[۳].

۵ـ او د حروفو تعداد يې فقط شپږ سوه او دوه پنځوس (۶۵۲) حرفه دی[۴].

۶ـ دا سورت د نورو مکي سورتونو او په خاصه توګه د وړاندېني سورت (المدثر) غوندې عقيدوي احکام بيانوي خو د قيامت په ورځ باندې پکښې ډېر زور اچولی شوی دی.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

﴿ لَآ أُقۡسِمُ بِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ ﴿١﴾ وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ﴿٢﴾ أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَلَّن
نَّجۡمَعَ عِظَامَهُۥ ﴿٣﴾ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ ﴿٤﴾ بَلۡ يُرِيدُ ٱلۡإِنسَٰنُ لِيَفۡجُرَ
أَمَامَهُۥ ﴿٥﴾ يَسۡـَٔلُ أَيَّانَ يَوۡمُ ٱلۡقِيَٰمَةِ ﴿٦﴾ فَإِذَا بَرِقَ ٱلۡبَصَرُ ﴿٧﴾ وَخَسَفَ ٱلۡقَمَرُ ﴿٨﴾ وَجُمِعَ
ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ ﴿٩﴾ يَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذٍ أَيۡنَ ٱلۡمَفَرُّ ﴿١٠﴾ كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ
يَوۡمَئِذٍ ٱلۡمُسۡتَقَرُّ ﴿١٢﴾ يُنَبَّؤُاْ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذِۭ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴿١٣﴾ بَلِ ٱلۡإِنسَٰنُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ
بَصِيرَةٞ ﴿١٤﴾ وَلَوۡ أَلۡقَىٰ مَعَاذِيرَهُۥ ﴿١٥﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] نه (د دنيا نظام بقاء نه لري) زه د قيامت په ورځ باندې سوګند يادوم (چې د دې نظام ړنګوونکې ورځ ده).

[۲] او نه (په قبرونو کښې مړي باقي نه پرېښودل کېږي) زه په ملامته کوونکي (متقي) نفس باندې سوګند يادوم (چې د محاسبې په انتظار دی).

[۳] ايا انسان ګومان کوي چې مونږ به يې هيڅکله (وراسته) هډوکي راغونډ نه کړو (او دنياوي اسکليټ به يې بيا جوړ نه کړو)؟

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۱۳۵؛ زاد المسير ج۸ ص۲۳۲

(۲) تفسير ابي السعود ج۹ ص۶۴

(۳) تفسير الخازن ج۶ ص۴۰۷

(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۱۹ ص۵۴۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴] دغسې نه ده (لکه چې نوموړي ګومان کوي) بلکې (مونږ به یې) په داسې شان کښې (راغونډ کړو) چې په دې باندې هم قدرت درلودونکي یاستو چې د ګوتو سرونه (او څوکې) یې (د پخواني جوړښت غوندې) برابرې کړو.

[۵] بلکې انسان اراده لري چې په مخکښې (راتلونکي) وخت کښې جنایات وکړي (نو ځکه د بعث بعد الموت څخه په انکار باندې کلک دی).

[۶] (نو د همدغه مطلب د کبله) پوښتنه کوي چې د قیامت ورځ به کله وي؟

[۷] نو کله چې (له ډېره هیبته) سترګې ودرېږي.

[۸] او سپوږمۍ بې نوره شي.

[۹] او لمر او سپوږمۍ (دواړه) یو ځای کړی شي.

[۱۰] په دغه وخت کښې به (قیامت قائم شي او) انسان به ووایي چې د تېښتېدلو ځای چرته دی؟

[۱۱] (ورته به وویلې چې:) دغسې نه ده (لکه چې ته امید کوې، نن ورځ) هیڅ د پنا اخستلو ځای نشته.

[۱۲] (ای پیغمبره!) په دغې ورځ کښې خاص ستا رب ﷻ ته (د خلکو) استقرار دی (چې د حساب کتاب دپاره به ورټولېږي او بس).

[۱۳] په دغې ورځ کښې به انسان په هغه شي باندې خبر کړی شي کوم چې (په دنیا کښې) یې وړاندې لېږلی وي او کوم یې چې وروسته پرېښی وي (لکه طریقه حسنه یا سیئه).

[۱۴] بلکې خپله انسان به (په دغې ورځ کښې) په خپل ځان باندې حجت وي (چې اندامونه به یې ورباندې شهادت ورکړي).

[۱۵] اګر که خپل معذرتونه (بهانې) به واچوي (وړاندې کړي، خو څه ګټه به ورته ونه کړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

دا سورت د بیا ژوندي کېدلو د اثبات په دلایلو باندې پیل شوی دی د کوم په انکار باندې چې د وړاندې سورت (الْمُدَّثِر) د ایتونو وروستنۍ مجموعه مشتمله ده، نو حاصل به یې داسې راوخېژي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته د خپل رب ﷻ د پلوه د بعث بعد الموت څه حالات قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ دغسې نه ده چې د دنیا نظام به خراب نه شي، زه د قیامت په ورځ سوګند یادوم چې دغه کار کېدونکی دی، دنیا ازلي او ابدي نه ده او د روزمره بدلونونو غوښتنه دا ده چې یو وخت به لوی بدلون هم رامنځته شي او دا نظام به د منځه لاړ شي.

۲ـ دغسې نه ده چې مړي به په قبرونو کښې باقي پاتې شي، زه په ملامته کوونکي نفس باندې سوګند یادوم کوم چې د مړو د راژوندي کېدلو غوښتونکی دی ترڅو د هر چا د ملامتۍ اندازه څرګنده شي او هرڅوک د خپلو کړو وړو مکافات یا مجازات وګوري.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ ایا انسان ګومان کوي چې مونږ به یې وراسته هډوکي راغونډ نه کړو او یا به یې په راغونډولو باندې توان ونه لرو؟ دغسې نه ده. بلکې مونږ د دغه کار په داسې شان کښې کوونکي یاستو چې د ګوتو د څوکو په برابرولو باندې یې هم قدرت لرو، او کولی شو چې د دوهم خل دپاره یې په همغې بڼه جوړې کړو په کومې باندې مو چې لومړی خل پیدا کړې او جوړې کړې وې.

۴ـ انسان هم پوهېږي چې مونږ په دغه کار باندې توان لرو، خو د دې دپاره ترې انکار کوي ترڅو په راتلونکي ژوند کښې د خپل ځان دپاره د فسق او فجور کولو مخه خلاصه کړي او خپل ځان ته د هر ډول قید څخه د خلاصون لاره او بهانه مونده کړي. نو د همدې مطلب د لاس ته راوړلو په غرض په تعجب سره پوښتنه کوي چې د قیامت ورځ به کله تحقق مونده کړي؟ بلکې دغه ورځ هیڅ تحقق نه شي موندلی.

۵ـ ای پیغمبره! ته یو ځل بیا د بعث الموت انکار کوونکو ته قیامت وروپېژنه او ورته ووایه چې دغه به په هغه وخت کښې پېښ شي چې کله لاندې کارونه صورت ونیسي:

الف په دغې ورځ کښې به سترګې عادي کتل پرېږدي او د ډېر خوف او دهشت د کبله به داسې ګوري لکه چې د روح د قبض په حالت کښې واقع وي.

ب: په دغه وخت کښې به سپوږمۍ بې نوره وګرځي او روښانتیا به د لاسه ورکړي.

ج: لمر او سپوږمۍ به دواړه سره جمعه کړی شي او دواړه به د رڼا څخه خالي کړی شي چې هیڅ روښانتیا به ونه لري او لاندې به راوغورزول شي.

د: په دغه وخت کښې به انسان په ډېره سخته خوفناکه صحنه کښې واقع شي او د ډېرې حیرانتیا په حال کښې به وایي چې ایا نن ورځ د تښتېدلو ځای شته؟ ایا نن ورځ د پنا اخستلو ځای موندلی کېږي؟

هـ: نو همدغه متحیر انسان ته به وویلی شي چې نن ورځ بالکل نه د تښتېدلو ځای شته او نه د پنا اخستلو ځای موندل کېږي (هیڅوک نجات نه شي موندلی).

و: ای پیغمبره! په دغې ورځ کښې به ټول خلک یوازې ستا د رب ﷻ په حضور کښې د محاسبې دپاره قرار ولري او یوازې همده ﷻ ته به ورغونډ کړی شي.

ز: په دغې ورځ کښې به هر انسان په خپلو کړو وړو باندې خبر کړی شي چې دا دې وړاندې لېږلی وه او دا دې وروسته پرېښې وه، برابره خبره ده چې دغه کړه وړه بد وي او که ښه وي، اطاعت وي او که عصیان وي.

ح: که څه هم په دغې ورځ کښې به ملامته انسان خپل معذرتونه وړاندې کړي او د خپلو جنایاتو څخه به کلک انکار وکړي چې زه یې هیڅکله نه یم مرتکب شوی، ترڅو خپل ځان ته نجات ورکړي، مګر همدغه انسان به په خپل ځان باندې حجت وګرځي او خپل ځان به پخپله ملامته کړي چې خپل اندامونه به پرې شهادت اداء کړي او د انکار ټولې دروازې به پرې وتړلی شي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د ﴿ لَآ أُقۡسِمُ بِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ ۝ وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ﴾ په اړه لاندې وضاحتونه په نظر کښې ساتل په کار دي:

الف: د دغو دواړو کلمو ﴿ لَآ أُقۡسِمُ ﴾، ﴿ وَلَآ أُقۡسِمُ ﴾ غوندې يوه کلمه په [الواقعة:۷۵] ایت کښې نازله شوې ده چې هملته د الله ﷻ په توفیق ښه پوره څېړلې شوې ده، نو په کار دي چې همغه څېړنه دلته هم تر اجراء لاندې ونیوله شي، هغه دا چې:

ب: د "لا" هر یو توری په مقدر فعل باندې داخل دی کوم چې د مقام سره ښه پوره تناسب لري نو:

اول: په لومړۍ جمله کښې د ﴿ بِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ ﴾ د کلماتو سره د نظام ګډوډي تناسب لري نو ته به وایې چې داسې نازل شوي وي: "لَا يَبْقَى هَذَا النِّظَامُ أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ" یعنې دغه دنیاوي نظام باقي نه پاتې کېږي، زه د قیامت په ورځ باندې سوګند یادوم په کومې سره چې دغه نظام ګډوډېږي.

دوهم: په دوهمه جمله کښې د ﴿ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ﴾ د کلماتو سره د انسان مهمل پرېښودل مناسب دي نو ته به وایې چې "وَلَا يُتْرَكُ الْإِنْسَانُ سُدًى أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ" نازل شوی وي. یعنې بنیادم مهمل (بې حسابه) نه پرېښودل کېږي زه په ملامته کوونکي نفس باندې سوګند یادوم کوم چې د محاسبې څخه ډارېږي.

ج: ذکرې شوې دواړه مقدرې منفي جملې (د نحویانو په اختلاف سره) یا د دواړو قسمونو دپاره جوابونه دي او یا یې په جوابونو باندې دلالت کوونکې دي.

د: په دغو دواړو جملو باندې د اشارې په توګه متصل ایت ﴿ أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجۡمَعَ عِظَامَهُۥ ﴾ دلالت کوي، د کوم څخه چې د موجود نظام تخریب او بعث بعد الموت معلومېږي.

هـ: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یوسف:۵۳] ایت لاندې انساني نفس د صفاتو په ملحوظ تشریح کړې دی چې په درېو ډولونو سره دی، او یو ډول یې هغه دی کوم ته چې په دې مقام کښې د "لوّامة" لقب ورکړی شوی دی، کوم چې د ګناه په ارتکاب سره خپل خان ته د ملامتیا ګوته نیسي او د محاسبې څخه ډارېږي.

## بنان څه معنی؟

۲ـ په ﴿ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ ﴾ کښې د "بنان" کلمه اسم جمعه ده چې مفرد یې "بنانة" دی، چې د ګوتو او د ګوتو په سرونو کښې استعمالېږي[۱]. یعنې دغسې نه ده بلکې مونږ به د انسان هډوکي په داسې شان کښې راغونډ کړو او اسکلټ به ترې تیار کړو چې آن د ګوتو او د ګوتو د سرونو په جوړولو باندې یې هم د قدرت درلودونکي یاستو.

---

(۱) لسان العرب ج۱۳ ص۵۹، روح المعاني ج۲۹ ص۱۳۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په ذکر شوي عبارت کښې لاندې ټکو ته اشاره ده:

الف: په وړاندې ایت کښې د هډوکو برابرولو ته اشاره ده چې د انسان اسکلټ تشکیلوي او په دې ایت کښې د غوږنو راغونډولو ته اشاره ده. یعنې مونږ به د انسان هډوکي او غوږنې د دنیاوي ژوند په معیار بیا راغونډې کړو.

ب: په دې عبارت کښې دې ته هم اشاره کیږي چې مونږ به د انسان بدن د ټولو خواصو سره بیا پیدا کړو حتی چې د ګوتو د سرونو هغه ډېر نري-نري خطونه به یې هم په خپل-خپل دنیاوي شکل رامعاد کړو کوم چې د هر انسان جدا-جدا دي.

## د "برق" یا "بروق" معنی

۳_ په ﴿ فَإِذَا بَرِقَ ٱلْبَصَرُ ﴾ کښې د ﴿ بَرِقَ ﴾ کلمه د "بَرَق" _لکه "ضَرْب" _ او یا د "بُرُوق" _لکه "قُتُول"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د داسې تحیر او دهشت معنی ورکوي د کوم د شدت د کبله چې سترګې خای په خای ودرېږي او د بنو حرکت د منځه لاړ شي[۱]. همدغې معنی ته په نورو ایتونو کښې داسې اشاره ده چې:

الف: ﴿ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ ٱلْأَبْصَٰرُ ﴾ [إبراهيم:۴۲] یعنې یقیناً د کفارو تعذیب مونږ هغې ورځې ته وروسته کړی دی چې سترګې به یې پکښې له ډېره هیبته خای په خای ودرېږي او بانه به یې پکښې حرکت نه کوي (ته به وایې چې د خنکدن په حال کښې واقع دي).

ب: ﴿ فَإِذَا هِىَ شَٰخِصَةٌ أَبْصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ [الأنبياء:۹۷] یعنې نو (د قیامت په ورځ) ناڅاپه به د هغو کسانو سترګې له حرکته ودرېږي کومو چې کفر غوره کړی دی (او په همدې کفر باندې مړه شوي دي).

## د لمر او سپوږمۍ اجتماع

۴_ مفسرینو کرامو د ﴿ وَجُمِعَ ٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ﴾ ایت په متعددو معناوو سره تفسیر کړی دی[۲]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: لمر او سپوږمۍ به دواړه بې نوره کړی شي او دواړه به د نور (رڼا) په محوه کښې جمعه شي.

ب: لمر او سپوږمۍ به دواړه په اجتماع سره د مغرب څخه طلوع وکړي، او په همدغې طلوع کښې به جمعه کړی شي.

خو مونږ ته بهتره برېښي چې ایت شریف داسې معنی کړی شي چې د قیامت په ورځ به لمر او سپوږمۍ ته سقوط ورکړی شي او لاندې باندې به وغورزولی شي، والله ﷻ اعلم.

---

(۱) القاموس المحيط ج۱ ص۲۵۴

(۲) تفسير البغوي ج۴ ص۴۲۲، المحرر الوجيز ج۱۶ ص۲۷۴، تفسير الطبري ج۲۹ ص۱۸۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "بَصِيرَةٌ" او "مَعَاذِيرَ" معناوې

۵ـ په ﴿ بَلِ ٱلْإِنسَٰنُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ بَصِيرَةٌ ﴾ کښې د ﴿ بَصِيرَةٌ ﴾ کلمه د حجت او شهادت معنی ورکوي[۱] او په ﴿ وَلَوْ أَلْقَىٰ مَعَاذِيرَهُۥ ﴾ کښې د "مَعَاذِيرَ" کلمه د "مَعْذِرَةٌ" جمعه ده[۲]، "مَعْذِرَةٌ" یا "عُذر" دې ته وايي چې څوک د خپلې ګناه د محوه کولو دپاره څه وجه وړاندې کړي چې یا پرې منکر جوړ شي او یا څه بله بهانه ونیسي[۳].

یعنې بلکې په دغې ورځ کښې به (علاوه په دې چې هرڅوک به په خپلو ګناهونو اګاه کړی شي) هر څوک به په خپل ځان باندې پخپله حجت وګرځي او خپل اندامونه به ورباندې شهادت اداء کړي که څه هم ذکر شوي جنايتکار انسان به خپل ډېر معذرتونه وړاندې کړي او ډېرې بهانې به ونیسي خو یوه به یې هم په ګټه تمامه نه شي.

همدغه مضمون ته په لاندې ایتونو کښې ښه وضاحت ورکړی شوی دی چې:

الف: ﴿ قَالُوا۟ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴾ [الأنعام:۲۳] یعنې د قیامت په ورځ به مشرکان (اعتذار وړاندې کړي او) وبه وايي چې په خپل رب الله ﷻ سوګند دی چې مونږ په دنیا کښې مشرکان نه وو (بلکې موحدین وو).

ب: ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَٰرُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ [حم السجدة:۲۰] یعنې آن تردې چې کفار دوزخ ته ورشي نو خپل غوږونه او خپلې سترګې او همدارنګه خپل پوستکي به ورباندې په هغو جنایاتو سره شهادت ورکړي کوم چې دوی وه چې په دنیا کښې به یې کول.

﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِۦٓ ﴿١٦﴾ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُۥ وَقُرْءَانَهُۥ ﴿١٧﴾ فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ فَٱتَّبِعْ قُرْءَانَهُۥ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ ﴿١٩﴾ ﴾

[۱۶] په قرآن کریم سره (د نزول په وخت کښې) د دې دپاره خپله ژبه مه ښوروه چې پرې تلوار وکړې (چې په زده کولو باندې یې بیړه وکړې چې درڅخه هېر نه شي).

[۱۷] یقینًا (ستا په زړه کښې) د قرآن کریم راغونډول او (ستا په ژبه) قرائت کول یې خاص په مونږ باندې دي (دا زمونږ ذمواري ده).

[۱۸] نو کله چې مونږ (د جبرائیل ﷺ په سلسله په تاباندې) قرائت کړ نو د (همدغه) قرائت پیروي کوه (د خپله ځانه سره یې لوله).

---

(۱) القاموس المحیط ج۱ ص۲۸۰
(۲) لسان العرب ج۴ ص۵۵۲
(۳) مفردات الراغب ص۳۳۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۹] بیا خاص په مونږ باندې د قرآن کریم څرګند بیانول هم دي (چې په مطالبو باندې يې ښه پوره پوه شې ترڅو يې خپل امت ته هو بهو او کټ مټ ابلاغ کړې).

## شان نزول او ارتباط

۱ـ د دې ایتونو شان نزول د یوه حدیث په رڼا کښې د الله ﷻ په توفیق د [طه:۱۱۴] ایت لاندې تېر شوی دی، هغه دا چې: د بعثت په لومړیو وختونو کښې به عین د وحې د نزول په حالت کښې نبي کریم ﷺ په وحې باندې مبارکه ژبه ښوروله ترڅو یې ښه پوره زده کړي او ترې هېر نه شي، نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه او د نه هېرېدلو وعده یې ورکړه.

۲ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې دا مضمون هم شامل وه چې د قیامت په ورځ به هر انسان په خپلو تولو کړو وړو باندې خبر کړی شي، په دې ایتونو کښې د همدغه مضمون یو مثال ته اشاره شوې ده چې د وحې د نزول په وخت کښې یې روزمره صورت نیوه. هغه دا چې:

## توضیحات

۱ـ لکه څنګه چې الله ﷻ د خپل پیغمبر ﷺ په مبارک زړه کښې قرآن کریم راغونډوي، چې يو توری یې هم ترې نه هېرېږي، همدارنګه الله ﷻ قدرت لري چې د قیامت په ورځ هر څوک په خپلو دنیاوي کړو وړو باندې خبر کړي چې هیڅ ترې هېر نه شي

۲ـ ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِۦ ﴾ الآية- کښې د "به، به" دواړه ضمیرونه قرآن کریم ته راجع دی، چې د مقام په لحاظ حکمًا مذکور ګڼلی کېږي.

۳ـ الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته د ذکر شوي ارشاد په تعقیب لاندې درې وعدې ورکړې:

الف: ستا ذهن او مبارک زړه کښې د قرآن کریم راغونډول او حفظ کول زمونږ ذمواري ده. همدې وعدې ته په بل ایت کښې داسې ارشاره شوې ده چې: ﴿ سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ﴾ [الأعلى: ۶] یعني ډېر ژر دی چې مونږ به (د جبرائیل ﷺ په ذریعه) په تاباندې (قرآن کریم) قرائت کړو، نو ته به يې نه هېروې (ستا څخه به نه هېرېږي).

ب: ستا په مبارکه ژبه باندې د قرآن کریم قرائت هم زمونږ ذمواري ده. او دا خکه چې په ﴿ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُۥ وَقُرْءَانَهُۥ ﴾ کښې د "قرآن" کلمه دلته د قرائت معنی ورکوي[۱].

ج: د قرآن کریم په مطالبو او ارشاداتو باندې ستا ښه پوهول او بیا ستا د پلوه د خلکو پوهول هم زمونږ ذمواري ده. همدې وعدې ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَقُل رَّبِّ زِدْنِى عِلْمًا ﴾ [طه ۱۱۴] یعني ای پیغمبره! او وایه چې ای زما ربه ما د علم د حیثه زیات کړې (روزمره مې علم ته زیادت ورکړې).

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۱۴۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ د همدې موضوع په ارتباط عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په يوه حديث كښې ويلي دي چې: «فَكَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا أَتَاهُ جِبْرِيلُ اسْتَمَعَ فَإِذَا انْطَلَقَ جِبْرِيلُ قَرَأَهُ النَّبِيُّ ﷺ كَمَا أَقْرَأَهُ»[1] يعنې نو د ذكرو شوو ايتونو د نزول څخه وروسته د الله ﷻ پيغمبر وه چې كله به ورته جبرائيل عليه السلام راغى نو (په سكوت سره) به يې ورته غوږ ايښود، نو كله به چې تري لاړ (او وحې به ختمه شوه) نو نبي كريم ﷺ به داسې قرائت كاوه لكه چې څنګه به ورباندې جبرائيل عليه السلام قرائت كړى وه.

﴿كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُونَ الْآخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ أَنْ يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾ كَلَّا إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَقِيلَ مَنْ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴿٢٩﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾﴾

[۲۰] دغسې نه ده (چې قيامت به قائم نه شي) بلكې تاسو په تلوار سره تېرېدونكې (فاني كېدونكې) دنيا خوښوئ.

[۲۱] او وروسته راتلونكې (باقي پاتې كېدونكې) دنيا پرېږدئ (شا ورا روئ).

[۲۲] په دغې ورځ (اخروي دنيا) كښې به ځينې مخونه ښه تازه (او خوشاله) وي.

[۲۳] او خپل رب ﷻ ته به كتونكي وي (او ديدار به يې په برخه شي).

[۲۴] او په دغې ورځ كښې به ځينې مخونه تغير شوي (او تک تور اووښتي) وي.

[۲۵] ته به ګومان كوي چې آفت ورباندې كړى شوى (نازل شوى) دى (چې ملا يې ورماته كړې ده).

[۲۶] دغسې نه ده (چې دنيا به باقي پاتې شي) كله چې روح (سا) د ستونې شاوخوا ته ورسېږي!

[۲۷] او (د پرښتو د پلوه يو بل ته) وويلې شي چې (د دغه روح) څوک اوچتوونكى دى؟ (د رحمت پرښتې او كه د عذاب پرښتې)؟!

[۲۸] او (چې كله) بنيادم ګومان (يقين) وكړي چې يقينًا دا (حال) جدايي ده!

[۲۹] او (چې كله) يو لينګى يې د بل لينګي سره (له ډېره هيبته) تاو شي (دواړه سره پيوسته شي)!

[۳۰] (اى بنيادمه!) په دغې ورځ كښې خاص خپل رب ﷻ ته ستا ورتګ دى

## ارتباط او د مطلب خلاصه

بنيادم د قيامت د قيام څخه په حقيقت كښې د لاندې دوه وو وجوهو د كبله انكار خپلوي.

۱_ يو دا چې د خپل مسئوليت مخه ونيسي او خپل ځان د شرعي قيده خلاص كړي.

[1] صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۲۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ بل دا چې د حقيرې دنيا څخه څو ورځې استفاده وکړي چې فاني ده خو نغده ده.

په وړاندېنی [القيامة: ۵] ایت کښې اولنۍ وجې ته اشاره شوې وه نو کله چې د هغې وجې مربوط مطالب ختم شوه نو په دې ایتونو کښې د دوهمې وجې بيان پيل کېږي چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د خپل رب ﷻ د پلوه کفار مخاطب کړه چې:

۱_ ای کفارو او مشرکانو! دغسې نه ده چې د قیامت قیام او بعث بعد الموت محال او نه کېدونکي کارونه دي، بلکې تاسو ترې د دې کبله انکاري یاست چې تاسو عاجله او نغده دنیا خوښوئ که څه هم ډېر ژر فاني کېدونکې ده او آخرت هېروئ او تر پښنو لاندې کوئ يې، که څه هم دائمي او نه فاني کېدونکی ده.

۲_ د قيامت په ورځ به خلک په دوه وو ګروپونو ووېشلی شي چې:

الف: ځینې مخونه (مؤمنان بنیادمان) به ښه تروتازه وي او د ډېرې خوشالۍ په حال کښې به د خپل رب ﷻ دیدار کوونکی وي، چې دا نعمت د ټولو نعمتونو څخه عالي او اوچت نعمت دی.

ب: بالمقابل ځینې مخونه (کفار بنیادمان) به ډېر بدموره او خړ پړ او هم به داسې غمژن وي چې ته به پرې ګومان کوې او د ورایه به درته برېښې چې کومه غټه ټکه وریاندې ورلوېدلې ده چې د ملا بندونه (فقرات) يې ورمات کړي دي.

۳_ ای کفارو! دغسې نه ده چې دنیاوي ګټې وټې به ستاسو دپاره بقاء وکړي، بلکې ستاسو هر یو بنیادم ته مرګ وررروان دی چې د لاندې کیفیاتو درلودونکی دی:

الف: د هر بنیادم روح (سا) به د هغه د غاړې او مرۍ غوښو او هډوکو ته وراوچته شي چې د نهایي اتصال او پیوستون ځایونه دي.

ب: په دغه وخت کښې به د هر یو کس حالت داسې وي چې د یو پلوه به يې د وارثانو د پلوه ویل کېږي چې ایا څوک دمګری شته؟ ایا څوک طبيب شته؟ چې د دم او علاج په وسیله دغه کس د مرګه بچ شي (نه دمګری دا کار کولی شي او نه د طبيب د لاسه څه پوره دي). او د بله پلوه به د ارواګانو قبضوونکې پرښتې یو تربله وايي چې د دغه کس روح (سا) څوک اوچتوي او څوک يې قبضوي؟ د دغه روح قبضوونکې پرښتې د رحمت پرښتې دي او که د عذاب پرښتې دي؟

ج: په دغه وخت کښې به د ذکر شوی بنیادم يقين او باور ولري چې اوس د دنيا څخه د رخصت اخستلو او جدا کېدلو وخت دی.

د: په دغه وخت کښې به يې دواړه لينګې یو تربله تاو راتاو شي او په کفن کښې به سره پیوسته وتړلی شي چې په دنيا کښې ستا د قدم اخستلو دپاره نور ځای پاتې نه دی. او هم به په دغه وخت کښې يو غم د بل غم سره لاس یو کړي، چې د یو پلوه به ترې محبوبه دنيا پاتې کېږي او د بله پلوه به مبغوض آخرت ته وصل کېږي، چې د ډول-ډول عذابونو څخه ډک دی (البته دا به د کافر بنیادم حال وي).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: په دغه وخت کښې به نوموړي کس ته وویلی شي چې: په نن ورځ کښې ستا ورتګ او سوق کول فقط خپل رب ﷻ ته صورت نیسي او بس، نو خپل رب ﷻ به درسره هغه چال چلند وکړي کوم چې ستا د حال سره مناسب وي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ۝ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴾ کښې د الله ﷻ دیدار ته اشاره ده چې په جنت کښې به مؤمنانو ته ورعنایت کړی شي، الله ﷻ دې موږ د همدغې ډلې څخه وګرځوي.

د همدې موضوع په ارتباط موږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۱۰۳] او [یونس:۲۶] ایتونو لاندې مناسب تحقیق کړی دی هیله ده چې هملته مراجعه وکړی شي، خو په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو د احادیثو ښې غټې مجموعې راغونډې کړې دي[۱] چې د همدغه مطلب ثبوت یې تقریبا تواتر ته رسولی دی.

## سوال او جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ﴾ کښې د ﴿ بَاسِرَةٌ ﴾ کلمه د "بَسْر" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده او تاسو د [المدثر:۲۲] ایت لاندې لیکلي دي چې په یوه شي باندې بې وخته جلتي کولو ته "بَسْر" وایي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴾ کښې د ﴿ فَاقِرَةٌ ﴾ کلمه هغه آفت ته وضعه شوې ده کوم چې د سړي د فقار (د ملا هډوکی) ماتوي[۲]. یعنې د قیامت په ورځ به ځینې مخونه بې وخته تغیر شي، ته به وایې چې ملا ماتوونکی آفت او مصیبت ورباندې ورنازل شوی دی.

نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد د دغه تغیر څخه په بې وخته تغیر سره تعبیر نازل کړی شو حال دا چې د قیامت ورځ خو د کفارو دپاره د مصیبت او آفت ورځ ده، چې د مخونو تغیربدل خو پکښې بې وخته نه دي؟

موږ وایو چې: په ایت شریف کښې هغه تغیر ته اشاره ده ـوالله ﷻ اعلمـ کوم به چې د محشر په میدان کښې صورت ونیسي، چې د مصیبت او آفت اصلي ځای نه دی، اصلي ځای خو یې دوزخ دی، أعاذنا الله ﷻ منها.

## "تَرْقُوَة" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴾ کښې د "تَرَاقِي" کلمه د "تَرْقُوَة" جمعه ده، او د انسان د بدن هغو برخو

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۴۵۰، الدر المنثور ج۸ ص۳۵۰، تفسیر المظهري ج۱۰ ص۱۴۰

(۲) لسان العرب ج۵ ص۶۱، مفردات الراغب ص۳۹۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته وضعه شوې ده په کومو باندې چې د سينې (تټر) پاسنۍ حصې ختمېږي او د ستونې اولنۍ حصې پرې شروع کېږي[۱].

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ وَقِيلَ مَنْ رَاقٍ ﴾ کښې د ﴿ رَاقٍ ﴾ کلمه د اشتقاق په لحاظ دوه احتماله لري چې دواړه د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت شوي دي[۲] او د دواړو اراده کول سره څه منافات هم نه لري چې په بدليت سره اراده کړی شي، هغه دا:

الف: چې د ﴿ رَاقٍ ﴾ کلمه د "رَقَى، يَرْقِي" ـلکه "ضَرَبَ، يَضْرِبُ"ـ دپاره د اسم فاعل صيغه وګڼله شي، چې د دم کولو معنی ورکوي. نو په دې احتمال کښې به د "مَنْ" کلمه په انکاري استفهام باندې مشتمله وي. يعنې کله چې د بنيادم روح (سا) د پښو د پلوه ورټوله شي او د ستونې شاوخوا ته ورسېږي (وتلو ته نژدې شي) نو د همدغه بنيادم د خپلوانو د پلوه به ويل کېږي چې نن ورغ دمګرې څوک دی؟ علاج کوونکی طبيب څوک دی چې دغه ته د مرګ څخه نجات ورکړي؟ بلکې هيڅوک نشته او هيڅوک نجات نه شي ورکولی.

ب: چې د "رَقِيَ، يَرْقَيُ" ـلکه "عَلِمَ، يَعْلَمُ"ـ دپاره د اسم فاعل صيغه ومنله شي چې د اوچتولو معنی ورکوي. يعنې کله چې د بنيادم روح د ستونې شاوخوا ته ورسېږي او وتلو ته نژدې شي نو په دغه وخت کښې به د هغو پرښتو د پلوه پوښتنه وشي کومې چې د ملك الموت کومکياني دي چې: دغه روح څوک اوچتوي؟ د عذاب پرښتې او که د رحمت پرښتې؟

## د "سَاق" معنی

۴ـ په ﴿ وَٱلْتَفَّتِ ٱلسَّاقُ بِٱلسَّاقِ ﴾ کښې د "سَاق، سَاق" دواړه کلمې هره يوه د انسان د پښې د هغې برخې څخه عبارت ده کومه چې د ښنګرو څخه پيل کېږي او په زنګانه باندې ختمېږي[۳]. په پښتو ژبه کښې د پښې د همدغې برخې شاتنۍ غوښې ته پونډۍ ويله کېږي او هډوکي يې د لينګي په نامه کېږي.

په دې مقام کښې مفسرينو کرامو ذکر شوې دواړه کلمې په لاندې دوه ډوله تفسير کړې دي[۴]:

الف: چې دغه دواړه کلمې خپلې متبادرې معنی ورکوي. يعنې کله چې بنيادم د څنکدن په حالت کښې واقع شي او د ډېرو سختيو د کبله يې يو لينګی يا پونډۍ په بل لينګي يا پونډۍ ورتاو شي او ورپورې ونښلي، او يا دواړه په کفن کښې سره متصلې شي او دواړه وغزېږي.

ب: چې دواړه کلمې دلته د سختيو د شدت څخه کنايې دي، لکه چې په [نَ:۴۲] ايت کښې هم

---

(۱) القاموس المحيط ج۲ ص۳۷۹

(۲) الدر المنثور ج۸ ص۳۶۱؛ تفسير الطبري ج۲۹ ص۱۹۵

(۳) لسان العرب ج۱۰ ص۱۶۸

(۴) تفسير ابن کثير ج۴ ص۴۵۱؛ تفسير البغوي ج۴ ص۴۲۴؛ المحرر الوجيز ج۱۶ ص۱۷۸؛ تفسير القرطبي ج۱۹ ص۱۱۲؛ القاموس المحيط ج۲ ص۶۴۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورنه اشاره شوې ده. يعني كله چې د دنيا د فراق سختي او د آخرت د ناآشنا كور سختي سره دواړه وصل شي او مشكلات ښه پوره ډېل جوړ شي

﴿ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ﴿٣١﴾ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰ أَهْلِهِۦ يَتَمَطَّىٰ ﴿٣٣﴾ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٥﴾ أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰ ﴿٣٩﴾ أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْـِۧىَ ٱلْمَوْتَىٰ ﴿٤٠﴾ ﴾

[۳۱] نو كافر انسان نه (د قيامت په ورځ) تصديق وكړ او نه يې (په توحيد سره) لمونځ (عبادت) وكړ.

[۳۲] مګر (د قيامت قيام يې) تكذيب كړ او (توحيد ته يې) شا كړه.

[۳۳] بيا خپل اهل (او ملګرو) ته په داسې حال كښې لاړ چې تكبر يې كاوه.

[۳۴] (اى كافره انسانه!) تاته دې هلاك وي نو تاته دې هلاك وي.

[۳۵] بيا (وايم چې) تاته دې هلاك وي نو تاته دې هلاك وي.

[۳۶] ايا كافر انسان ګومان كوي چې مهمل (بېكاره) به پرېښودل شي (او مكلف به ونه ګرځولى شي)؟!

[۳۷] ايا انسان (يو وخت) نطفه نه وه كومه چې د داسې مني څخه عبارت ده چې په رحم كښې وراچوله كېږي؟

[۳۸] بيا دا (مني) منجمده وينه شوه، نو الله ﷻ (ورته اندامونه) پيدا كړه نو (په روح سره يې ژوندي كړه او) په ښايسته قوارې سره يې برابر كړه.

[۳۹] نو الله ﷻ د مني څخه دوه ډولونه نر او ښځه پيدا كړه.

[۴۰] ايا دغه (اقدس ذات ﷻ) قادر نه دى چې مړي (يو ځل بيا) راژوندي كړي؟

## د مطلب خلاصه

يعني اى پيغمبره! د سوګندونو او دلايلو څخه وروسته د كافر انسان عكس العمل په خپل امت باندې قرائت كړه هغه دا چې:

۱ـ كافر انسان نه د سوګندونو تر اغېز لاندې واقع شو او نه وړباندې دلايلو څه اثر وغورزاوه، نو د همدې كبله يې خپلې كفري عقيدې ته ادامه وركړه، چې نه يې په بعث بعد الموت باندې تصديق وكړ او نه يې الله ﷻ په وحدانيت سره وپېژاند چې په همدې بنياد يې عبادت او لمونځ كړى وى. بلكې بعث بعد الموت يې تكذيب كړ او توحيد ته يې شا ورواړوله حتى خپله دغه تګلاره يې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



افتخاري لاره وګڼله چې خپل کور او خپلو مربوطينو ته په داسې حال ورستون شو چې د تکبر خپلوونکی وه.

۲_ ای پیغمبره! ته د خپل رب ﷻ د پلوه دغه کافر انسان ته ووایه چې: تاته د الله ﷻ عذاب ډېر نژدې دی او ډېر نژدې دی، بیا وایم چې تاته د الله ﷻ عذاب ډېر درنژدې دی نو ډېر درنژدې دی چې لږ وخت وروسته به ورسره مخامخ شې او په خپله متکبرانه تګلاره به پښېمان شې.

۳_ ای پیغمبره! ایا کافر انسان د دې کبله په خپله کفري او شرکي عقیده باندې کلک دی، چې نه ورته په دنیا کښې مسئولیت متوجه دی او نه د شرعي قیوداتو لاندې واقع دی، او هم نه به د مرګ څخه وروسته بیا ژوندي کړی شي او نه به ورسره حساب کتاب صورت ونیسي؟ خو دغسې نه ده. او دا څکه چې:

الف: ایا انسان په یو وخت کښې د منی یوه نطفه نه وه کومه چې د نوموړي د مور په رحم کښې ورتوی کړی شوه؟.

ب: بیا همدغه په رحم کښې وراچولې شوې نطفه منجمده وینه جوړه شوه.

ج: بیا په همدغې منجده وینه کښې د څو مراحلو څخه وروسته الله ﷻ روح (سا) واچوله نو ښه څېره یې ورکړه او په ښایسته تقویم سره یې تري انسان جوړ کړ.

د: بیا دا خبره هم په دې مقام کښې د یادولو وړ ده چې د همدغې (په رحم کښې د اچولې شوې منی) څخه الله ﷻ دوه متضاد اشخاص جوړ کړه چې یو شخص د نارینه او بل شخص د ښځینه څخه عبارت دی.

۴_ اوس نو پوښتنه دا ده چې: ای کافره انسانه! ایا ذکره شوې ټوله عملیه الله ﷻ عبث اجراء کړې ده چې په ترڅ کښې به حساب ونه لري او نه به ښه جدا شي او نه بد؟ ایا هغه اقدس ذات ﷻ چې ذکره شوې عملیه یې اجراء کړې ده او روزمره یې اجراء کوي، په دې قادر نه دی چې مړي د قبرونو څخه را اوچت کړي او حساب کتاب ورسره وکړي؟

هو! چا چې هغه کار کړی دی او لا کوي یې په دې کار باندې هم د کامل قدرت څښتن دی، او هیڅ مشکلات ورته نه لري.

## توضيحات

۱_ په ﴿ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ يَتَمَطَّىٰٓ ﴾ کښې د ﴿ يَتَمَطَّىٰٓ ﴾ کلمه په اصل کښې "يَتَمَطَّطُ" وه چې وروستنی "ط" یې په "ي" سره بدله شوې ده[۱]، لکه چې "تَقَضِّيَ الْبَازِي" (په ښکار باندې باز وربښکته شو) په اصل کښې "تَقَضُّضَ الْبَازِي" وه چې دوهم "ض" یې په "ي" سره بدلون موندلی دی[۲].

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۱۴۸

(۲) لسان العرب ج۷ ص۲۱۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دې کلمې ﴿ يَتَمَطَّىٰ ﴾ مجرد د "مَطَّ حَاجِبَهُ" جمله ده. يعنې ځلانکې سرې خپلې ورځې کش کړې او تکبر يې خپل کړ[۱].

د همدغه اصل څخه د "مُطَيْطِيَاءَ" کلمې هم اشتقاق موندلی دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «إِذَا مَشَتْ أُمَّتِي الْمُطَيْطِيَاءَ وَخَدَمَهَا أَبْنَاءُ الْمُلُوكِ أَبْنَاءُ فَارِسَ وَالرُّومِ سُلِّطَ شِرَارُهَا عَلَى خِيَارِهَا»[۲] يعنې کله چې زما امت په داسې حال کښې تلل خپل کړې چې تکبر کوونکی وي او په داسې حال چې د پاچاهانو ـ د فارس پاچاهانو او د روم د پاچاهانو ـ زامن يې خدمتګاران جوړ شي. نو په دغه وخت کښې به يې شريران کسان په غوره کسانو باندې مسلط کړی شي.

نو د ايت شريف مضمون به داسې راوځېږي چې: بيا کافر انسان خپلې کفري عقيدې ته ادامه ورکوي او خپل کور او خپل مربوطينو ته د تکبر په حال کښې ورروان شي چې زه نه د سوګندونو د اثر لاندې واقع شوم او نه راباندې دلايلو څه اثر واچاوه بلکې هېڅ شي زما نګلاره بدله نه کړی شوه.

## څلور کرته د "أَوْلَىٰ" کلمه

۲ـ مونږ د الله ﷻ په توفيق د "أَوْلَىٰ" کلمه د [محمد: ۲۰] ايت لاندې تحليله کړې ده چې اصلاً د اسم تفضيل صيغه ده چې د ډېر نژدې معنی ورکوي. خو د کنايې په توګه د "هلاک" په معنی سره هم استعمالېږي.

په دې مقام کښې مفسرينو کرامو ذکره شوې کلمه په دواړو معناوو سره تفسيره کړې ده[۳]. چې د بدليت په لحاظ د دواړو معناوو اراده کول هم څه باک نه لري. يعنې اې کافره انسانه! تاته دې مکرر هلاک وي، او يا تاته په مکرره توګه وايم چې د الله ﷻ عذاب درته ډېر نژدې دی.

## "سُدًى" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴾ کښې د ﴿ سُدًى ﴾ کلمه د "مهمل" معنی ورکوي، چې جمعه او مفرد پکښې دواړه يو برابر دي[۴]. خو په دې مقام کښې مفسرينو کرامو په دوه وو معناوو سره تفسيره کړې ده، چې د بدليت په ملحوظ د دواړو معناوو اراده کول هم بده خبره نه ده. هغه دا چې:

الف: ايا کافر انسان ګومان کوي چې په دنيا کښې به د شرعي قيوداتو څخه ازاد پرېښودل شي او په امر او نهي به مکلف ونه ګرځولی شي؟[۵].

ب: ايا نوموړی ګومان کوي چې په قبر کښې به ښخ کړی شوی پرېښودل شي او د حساب کتاب دپاره به را اوچت نه کړی شي؟[۶].

---

(۱) القاموس المحيط ج۴ ص۲۵۷؛ النهايه في غريب الحديث والاثر ج۴ ص۳۴۰
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۵۲
(۳) تفسير البغوي ج۴ ص۴۲۵؛ تفسير الكشاف ج۴ ص۶۶۴
(۴) لسان العرب ج۱۴ ص۲۷۷
(۵) تفسير ابن كثير ج۴ ص۴۵۲
(۶) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۱۱۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د څو لغاتو معناوې

۴ـ په ﴿ أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ ﴾ کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف ـ د ﴿ نُطْفَةً ﴾ او ﴿ مَّنِيٍّ ﴾ دواړه کلمې مترادفې دي او د نارینه او د زنانه هغو دواړو اوبو ته وضعه شوې دي د کومو څخه چې د مور په ګېډه کښې ماشوم جوړېږي[۱].

ب ـ د ﴿ يُمْنَىٰ ﴾ کلمه د "إِمْنَاء" ـ لکه "اِکْرَام" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د "نطفې" یا د "مني" د اچولو معنی ورکوي[۲].

یعنې ایا انسان په یوه وخت کښې (نطفه) نه وه چې دا (نطفه) د هغې (منی) څخه عبارت ده کومه چې د نوموړي د مور په رحم کښې وراچوله کېږي؟

## دلته جواب په کار دی

۵ـ څرنګه چې دا سورت (الْقِيَامَة) په پوښتنه باندې ختم شوی دی چې: ﴿ أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْـِۧىَ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾، نو د دې سورت قاري ته مناسب دي چې د لمانځه د حالت څخه په غیر د اختتام په وخت کښې هغه جواب ووایي کوم چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت شوی دی چې: «سُبْحَانَكَ فَبَلَى»[۳] یعنې ای ربه! تاته پاکي ده، نو ولې نه دی قادر؟!.

د "الْقِيَامَة" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

آمَنَّا بِاللهِ وَالْيَومِ الآخِرِ وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ. اللّٰهُمَّ أَمِتْنَا عَلَى تِلْكَ الْعَقِيدَة.

۱۴۲۵/۱۰/۱ هـ ق - ۱۳۸۳/۸/۲۳ هـ ش.

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۱۷، القاموس المحيط ج۴ ص۲۸۹

(۲) لسان العرب ج۱۵ ص۲۹۳

(۳) الدر المنثور ج۸ ص۳۶۴

# الدهر (٧٦)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (الدّهر) د همدې سورت په لومړي ایت کښې نازل شوی دی.
۲ـ د څه اختلاف سره سره دا سورت د جمهورو علماوو کرامو په نزد مکي سورت دی[۱].
۳ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دی[۲]:
الف: د ایتونو شمېر یې یو دېرش (۳۱) دی.
ب: د کلماتو شمېر یې دوه سوه او څلوېښت (۲۴۰) دی.
ج: او بالآخره د حرفونو شمېر یې یو زرو څلور پنځوسو (۱۰۵۴) ته اوچت شوی دی.
۴ـ د دې سورت محتویات په لاندې مطالبو باندې اشتمال لري:
الف: د بنیادم د پیدایښت صورت حال.
ب: د شاکرانو او فاجرانو جزا او سزا.
ج: د جنت او دوزخ څه شرحه.
د: نبي کریم ﷺ ته تسلي او ډاډینه.
حال دا چې په وړاندېني سورت (القیامة) کښې د قیامت په قیام او بعث بعد الموت باندې ډېر زور اچولی شوی وه چې د ذکر شوي مطالبو دپاره بنیاد ګڼل کېږي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٞ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا ۝١ إِنَّا خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٍ أَمۡشَاجٖ نَّبۡتَلِيهِ فَجَعَلۡنَٰهُ سَمِيعَۢا بَصِيرًا ۝٢ إِنَّا هَدَيۡنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرٗا وَإِمَّا كَفُورًا ۝٣ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.
[۱] ایا په انسان (بنیادم) باندې د اوږدې زمانې څخه داسې وخت ورغلی دی چې نوموړی یاد کړی شوی شی نه وه؟ (یقیناً دغسې وخت ورباندې ورغلی دی).
[۲] یقیناً مونږ انسان د نارینه او ښځینه د ګډو وډو اوبو (منی) څخه په داسې شان کښې پیدا کړی دی چې مونږ یې د ازمېښت اراده درلوده، نو نوموړی مو اورېدونکی او لیدونکی وګرځاوه.
[۳] یقیناً مونږ انسان ته (په عقلي او نقلي دلایلو سره) په داسې حال کښې لارښوونه ده چې نوموړی به یا شکرګزار وي او یا به ناشکره وي (یا به زمونږ اطاعت کوي او یا عصیان).

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۱۵۰؛ البحر المحیط ج۱۰ ص۳۵۸
(۲) تفسیر الخازن ج۶ ص۴۱۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنۍ سورت (القیامة) د وروستنیو ایتونو په مضمون کښې د انسان خلقت ته اشاره شوې وه او د دې سورت په لومړنیو ایتونو کښې همدغه مضمون تعقیب شوی دی چې د مطلب خلاصه یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه چې:

۱_ یقیناً په بنیادم باندې داسې وخت ورغلی او تېر شوی دی چې په دغه وخت کښې په انسانیت سره یاد نه وه، او د انسان نوم وړبوري اتصال نه شو درلودی.

۲_ بیا مونږ همدغه انسان د عدم مذکوریت د مرحلې څخه وویست او په نومونو سره د یادو شوو شیانو په قطار کښې مو ودراوه. هغه دا چې

الف: مونږ نوموړی د ګډوډې نطفې څخه په داسې شان کښې پیدا کړه چې په امتحان کښې د اچولو اراده مو ورته کړې وه. نو د ښکو او بدو دوارو استعداد مو ورکړ او په عقل باندې علاوه غوږونه او سترګې او هم نور حواس مو ورپېرزو کړل، چې اورېدونکی او لیدونکی مو وګرځاوه.

ب: نوموړي ته مو لارښوونه وکړه چې د عقلي او نقلي دلایلو څخه استفاده وکړي او خپله عقیده او عمل د انحراف څخه بچ وساتي.

ج: نو انسان به زمونږ د امتحان په نتیجه کښې د دغو دوه وو صورتونو څخه خالي نه وي:

اول: یا به په امتحان کښې کامیاب وګرځي چې د دنیا او آخرت دوارو ښېګڼې به یې په نصیب شي، او د شکرګزارانو په ډله کښې به شامل شي

دوهم: یا به پکښې ناکام شي نو دنیا او آخرت به یې دواړه د ناکامۍ سره مخامخ او د ناشکرانو او دوزخیانو په ډله کښې به شامل شي

## توضیحات

۱_ په ﴿ هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ ﴾ الآیة- کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د "هَلۡ" کلمه دلته د تقریري استفهام دپاره ده چې د "قَدۡ" معنی ورکوي[۱].

ب: په دې ایت شریف کښې د ﴿ ٱلۡإِنسَٰنِ ﴾ کلمه ځینو مفسرینو کرامو د آدم ؑ څخه کنایي اخستې ده[۲]. خو بهتره دا ده چې ذکره شوې کلمه دلته د آدم ؑ د اولادې څخه عبارت شي او دا ځکه چې همدغه کلمه ﴿ ٱلۡإِنسَٰنِ ﴾ په متصل ایت کښې بیا ذکره شوې ده او خلقت یې د نطفې څخه ښودلی شوی دی حال دا چې آدم ؑ خو د نطفې څخه نه وه پیدا شوی.

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۷۰
(۲) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۱۸۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د ﴿ حِينٌ ﴾ کلمه د مطلق وخت معنی ورکوي(۱)، برابره خبره ده چې لږ وي او که ډېر وي او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الجاثية:۲۴] ایت لاندې لیکلي دي چې د "دَهر" کلمه د اوږده وخت دپاره وضعه شوې ده.

یعنې یقینًا د آدم په اولاده باندې د اوږدې زمانې څخه داسې وخت هم تېر شوی دی چې هیڅ موجود شی نه وه، او داسې وخت هم وربانذې ورغلی دی چې موجود شی وه خو د انسان په نامه نه یادېد، بلکې د نطفې او منې او یا د علقې په نومونو باندې یادېد.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایې چې: په ﴿ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ ﴾ کښې د ﴿ أَمْشَاجٍ ﴾ کلمه د "مَشج" _لکه "ضَرب" _ او یا د "مَشِیج" _لکه "شَرِیف" _ جمعه ده، چې د ګډوډ شي معنی ورکوي(۲). دغه کلمه ﴿ أَمْشَاجٍ ﴾ دلته د ﴿ نُّطْفَةٍ ﴾ دپاره صفت واقع شوې ده حال دا چې د خپل موصوف ﴿ نُّطْفَةٍ ﴾ سره مطابقت نه لري چې مفرد دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم د ځینو مفسرینو کرامو په نظر د ﴿ أَمْشَاجٍ ﴾ کلمه هم مفرده ده او جمعه نه ده چې اعتراض وارد شي(۳)، مګر د [القیامة:۳۷] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق تېر شو چې د ﴿ نُّطْفَةٍ ﴾ د نارینه او زنانه د دواړو د اوبو هغې مجموعې ته وضعه شوې ده د کومې څخه چې د مور په ګېډه کښې ماشوم جوړېږي. نو په دې تقدیر موصوف او صفت دواړه جمعې دي او مطابقت حاصل دی. یعنې مونږ انسان د داسې متعددو اوبو د مجموعې څخه پیدا کړی دی چې یو تربله ګډې وډې شوې دي.

## د "شاکر" او کفور" مصداقونه

۳_ په ﴿ إِنَّا هَدَيْنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ﴾ کښې د "شاکر، کفور" دواړو کلمو مصداقونه د نبي کریم ﷺ د یوه حدیث څخه ډېر ښه څرګندېږي چې فرمایلي یې دي: «كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو فَبَايِعٌ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا أَوْ مُوبِقُهَا»(۴) یعنې د خلکو څخه هر یو کس چې سبا کړي نو د خپل ځان خرڅوونکی ګرځي، چې ځینې کسان یې په الله ﷻ باندې خرڅوي چې د همده ﷻ د عذابه خلاصون او نجات ورکوي، او ځینې یې په شیطان باندې خرڅوي نو د خپل ځان هلاکوونکي جوړېږي.

﴿ إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَا۟ وَأَغْلَٰلًا وَسَعِيرًا ﴿٤﴾ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ﴿٥﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا ﴿٦﴾ يُوفُونَ

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۳۸
(۲) لسان العرب ج۲ ص۳٦۷
(۳) تفسیر الکشاف ج۴ ص٦٦٦
(۴) صحیح مسلم ج۱ ص۱۱۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِٱلنَّذۡرِ وَيَخَافُونَ يَوۡمٗا كَانَ شَرُّهُۥ مُسۡتَطِيرٗا ﴿٧﴾ وَيُطۡعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسۡكِينٗا
وَيَتِيمٗا وَأَسِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمۡ جَزَآءٗ وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾ إِنَّا نَخَافُ
مِن رَّبِّنَا يَوۡمًا عَبُوسٗا قَمۡطَرِيرٗا ﴿١٠﴾ فَوَقَىٰهُمُ ٱللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمِ وَلَقَّىٰهُمۡ نَضۡرَةٗ وَسُرُورٗا
﴿١١﴾ وَجَزَىٰهُم بِمَا صَبَرُواْ جَنَّةٗ وَحَرِيرٗا ﴿١٢﴾ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِۖ لَا يَرَوۡنَ فِيهَا
شَمۡسٗا وَلَا زَمۡهَرِيرٗا ﴿١٣﴾ وَدَانِيَةً عَلَيۡهِمۡ ظِلَٰلُهَا وَذُلِّلَتۡ قُطُوفُهَا تَذۡلِيلٗا ﴿١٤﴾ وَيُطَافُ عَلَيۡهِم
بِـَٔانِيَةٖ مِّن فِضَّةٖ وَأَكۡوَابٖ كَانَتۡ قَوَارِيرَا۠ ﴿١٥﴾ قَوَارِيرَاْ مِن فِضَّةٖ قَدَّرُوهَا تَقۡدِيرٗا ﴿١٦﴾
وَيُسۡقَوۡنَ فِيهَا كَأۡسٗا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ﴿١٧﴾ عَيۡنٗا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلۡسَبِيلٗا ﴿١٨﴾ ۞ وَيَطُوفُ
عَلَيۡهِمۡ وِلۡدَٰنٞ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيۡتَهُمۡ حَسِبۡتَهُمۡ لُؤۡلُؤٗا مَّنثُورٗا ﴿١٩﴾ وَإِذَا رَأَيۡتَ ثَمَّ رَأَيۡتَ نَعِيمٗا
وَمُلۡكٗا كَبِيرًا ﴿٢٠﴾ عَٰلِيَهُمۡ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضۡرٞ وَإِسۡتَبۡرَقٞۖ وَحُلُّوٓاْ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٖ وَسَقَىٰهُمۡ
رَبُّهُمۡ شَرَابٗا طَهُورًا ﴿٢١﴾ إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمۡ جَزَآءٗ وَكَانَ سَعۡيُكُم مَّشۡكُورًا ﴿٢٢﴾ ﴾

[۴] یقینًا مونږ د کفارو د پاره زنځیرونه او غورابونه او سوزوونکی دوزخ تیار کړی دی.

[۵] بې شکه نېکان خلک به (په جنت کښې) د داسې شرابي جامونو څخه څښي چې کافور (شراب) به ورسره ګډ وي.

[۶] (دا کافور) یوه چینه ده چې د دې څخه به د الله ﷻ خاص بندګان (بدون د ګډوالي) شراب څښي، او هم به دا (چینه په هغو ځایونو کښې) بهوي (کومو ته یې چې زړونه وغواړي) بهول.

[۷] (دا څکه چې) ذکر شوي نېکان (په دنیا کښې) په نذرونو باندې وفا کوي او د داسې ورځې څخه دارېږي د کومې شر (او عذاب) چې خور (او پراخه) دی.

[۸] او دوی (د خپل مالي محبت سره-سره) مسکین او یتیم او هم بندي ته خوراک ورکوي.

[۹] (د حال په ژبه ورته وایي چې) یقینًا مونږ خاص د الله ﷻ د رضامندی (د حصول) دپاره تاسو ته خوراک درکوو، ستاسو څخه نه د بدل اراده لرو او نه د منتې (شکر کولو).

[۱۰] یقینًا مونږ د خپل رب ﷻ څخه په داسې ورځ کښې دارېږو کومه چې ډېره زیاته تروه (او ترخه) ده.

[۱۱] نو الله ﷻ نېکان خلک د دغې ورځې د شر (عذاب) څخه وساتل او د تازګی او خوشالی سره یې پیوسته کړل

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۲] او الله ﷻ ورته د دوی د صبر (او استقامت) په سبب جنت او ورېښمن جزا ورکړه.

[۱۳] په داسې حال کښې چې دوی به په جنت کښې په خاصو تختونو باندې تکیه وهونکې وي، نه به پکښې ډېره ګرمي ګوري او نه ډېره یخني (بلکې معتدله هوا به ګوري).

[۱۴] او (الله ﷻ ورته بل داسې جنت هم جزا وګرځاوه) چې سیورې به یې په دوی باندې د پاسه نژدې وي، او د پخو میوجاتو راشکول به یې ورته اسان ګرځول شوي وي اسان ګرځول.

[۱۵] او په دوی باندې به (د خدمتګارانو د پلوه) د سپینو زرو څخه جوړ لوښي ګرځولی کېږي او داسې ګیلاسونه هم چې ښیښنوي به وي.

[۱۶] (البته) داسې ښیښې (چې په سپینوالي کښې به) د سپینو زرو څخه (جوړې) برېښي. دا (ښیښې او ګیلاسونه) به (د مشروباتو د حیثه) خدمتګارانو اندازه کړې وي اندازه کول (چې نه به ترې زیاتېږي او نه به ترې کمېږي).

[۱۷] او نېکانو ته به په جنت کښې د شرابو ډک داسې جامونه هم ورڅښول کېږي چې زنجبیل (شراب) به ورسره ګډ وي.

[۱۸] (دا زنجبیل) په جنت کښې یوه چینه ده چې (د خوږوالي او ښو تېرېدلو د کبله) د سلسبیل په نامه نومولې کېږي.

[۱۹] او په جنتیانو باندې به داسې هلکان (خدمتګاران) تاوېږي راتاوېږي چې عمر به یې په یوه حالت وي (او تغیر به پکښې نه راځي)، کله چې ته (ای پیغمبره!) هغوی وګورې نو د خورو ورو (ناپیلو) ملغلرو ګومان به پرې وکړې.

[۲۰] او کله چې ته هلته (په جنت کښې) وګورې نو ته به ډېر نعمتونه او ستره پاچاهي وګورې.

[۲۱] په جنتیانو باندې به د پاسه د نریو ورېښمو شنې جامې او (هم) غټ ورېښم شتون لري، او دوی به د سپینو زرو څخه په جوړو بنګړیو سره ګاڼه دار کړی شوي وي او هم به خپل رب ﷻ پاکیزه (امتیازي) شراب وروڅښوي (او پرې خړوب به یې کړي).

[۲۲] (جنتیانو ته به وویلی شي چې) یقینًا دغه (مذکور نعمتونه) ستاسو (د عمل) دپاره مطابقه جزا ده او ستاسو (د اعمالو) شکریه اداء کړی شوې ده (مقبول ګرځولی شوي دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنې ایتونه د "شاکِر، کَفُور" په دوه وو کلمو باندې ختم شوي وه او په دې ایتونو کښې په "کَفُور" باندې څه لنډه رڼا اچولې شوې ده. چې تفصیلوار اخروي حالات یې په وړاندېنې سورت (القیامة) کښې نژدې تېر شوي دي، اما د "شاکِر" په کلمه باندې دلته ښه رڼا اچولې شوې ده چې حاصل یې داسې راځیږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې دامتحان نتیجه قرائت کړه هغه دا:

۱ـ هر څوک چې په امتحان کښې ناکام شي او د ناشکرانو په ډله کښې شمولیت ولري د هغه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره مونږ زنځیرونه او غورابونه او سوزوونکی دوزخ تیار کړی دی، چې د اور په زنځیرونو کښې په تړل کېږي، د اور غورابونه به ورته په غاړو کښې اچول کېږي او د دوزخ په ګرم اور کښې به سوزولی کېږي.

۲_ هرڅوک چې شکرګزار بنده وي او په امتحان کښې کامیاب جوړ شي نو هغه به د نېکانو په ډله کښې شامل شي او په جنت کښې به لاندې نعمتونه ورکړی شي:

الف: هغوی به په جنت کښې د شرابو د هغې پیالې ځخه شراب څښي د کومې سره چې د کافور شراب ګډ کړی شوي وي چې خوشبویي او مزه به یې ورزیاته کړې وي.

ب: د "کافور" په نوم په جنت کښې یوه چینه ده چې د هغې د شرابو ځخه د الله ﷻ ځینې خاص او مقرب بندګان بدون د ګډولو اوبه څښي. او دغه چینه به په جنت کښې د دوی د پلوه هغو ځایونو ته بهوله کېږي کومو ته یې چې خوښه شي او په کوم ډول بهول یې چې زړه وغواړي.

۳_ ذکرو شوو نېکانو ته ځکه د الله ﷻ د پلوه د جنت نعمتونه ورکوّلی کېږي چې دوی په دنیا کښې د لاندې خاصیتونو درلودونکي دي:

الف: دوی په خپلو نذرونو باندې وفا کوي او کوم مالي یا بدني عبادت چې په ځان باندې لازم ګرځوي هغه اداء کوي، او هغه عبادتونه خو په ډېر ټینګار سره پوره کوي کوم چې ورباندې د الله ﷻ د پلوه فرض کړی شوي وي.

ب: دوی په دنیا کښې د هغې ورځې د عذابه ډارېږي او تیاری ورته نیسي د کومې شر او مشکلات چې خواره واره او ډېر دي.

ج: دوی په دنیا کښې _د دې سره‌سره چې د خپل مال او خوراک سره یې مینه او محبت وي_ فقیرانو، یتیمانو او بندیانو ته خوراک او څښاک ورکوي.

د: دوی د خپلو مالونو د خیرات په وخت کښې پټ په زړه کښې وایي چې:

ای خیرات خورو! یقیناً مونږ تاسو ته صرف د الله ﷻ د رضامندۍ د حاصلولو دپاره خوراک او څښاک درکوو، مونږ ستاسو ځخه ورباندې نه بدله غواړو او نه درځخه مننه او شکریه غواړو چې زمونږ احسان ومنې، یقیناً مونږ د ډېرې تروشې ورځې ځخه ډارېږو چې هلته د عذابه نجات مونده کړو او په عذاب مبتلا نه شو.

۴_ ای پیغمبره! الله ﷻ د دغو ابرارو امید پوره کړ او د ذکرې شوې تروې او تروشې ورځې د عذابه یې وساتل او بالمقابل یې د تازګۍ او خوشالۍ سره مخ کړل او د صبر او استقامت په سبب یې ورته لاندې نعمتونه هم وربېرزو کړه:

الف: الله ﷻ ورته د هر ډول میوجاتو باغونه ورکړه او ورته منظور یې کړه، چې هلته به پکښې د ورېښمو ځخه کالي اخلي.

ب: دوی به په جنت کښې په تختونو باندې د پاچاهانو په څېر ناست وي چې په دوامداره توګه به پکښې معتدله هوا وي، نه به پکښې ګرمي وي او نه یخني.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په دوی باندې به د جنتي ونو سوري او څانګې د پاسه نژدې وي چې د میوجاتو راشکول او راغونډول به يې ورته اسان ګرځول شوي وي، هیڅ ستونزه به پکښې نه وي.

د: په دوی باندې به د سپینو زرو لوښي ګرځولی کېږي چې رنګ په رنګ جوسونه او مشروبات به پکښې موجود وي. او هم به وربانديې د ښیښو په ګیلاسونو کښې مشروبات ګرځولی کېږي، البته چې دغه ګیلاسونه به په شفافیت کښې د ښیښو غوندې وي او په سپینوالي کښې به سپینو زرو ته ورته وي. ذکر شوي ګیلاسونه به څروبوونکو په عجیبې اندازې سره اندازه کړي وي چې مشروبات به يې نه د څښلو څخه اضافه کېږي او نه به کمېږي.

ه: جنتیانو ته به د څروبوونکو د پلوه هلته د شرابو څخه ډکې داسې پیالې ورڅښولی کېږي د کومو سره چې د زنجبیل شراب ګډ وي، نو مزه به يې ښه وراضافه کړې وي.

و: زنجبیل به جنت کښې یوه چینه ده چې د سلسبیل په نامه هم یادیږي چې شراب يې ډېر ښه تېرېدونکي او ښه مزه دار دي.

ز: په دوی باندې به هلته د خدمت دپاره خدمتګاران هلکان هم تاوېږي راتاوېږي، چې دوی به د تل دپاره په یوه حالت باندې باقي پاتې وي چې تغیر به پکښې نه پېښېږي. دغه خدمتګاران به دومره ښایسته وي کله چې ته هغوی وګورې نو ته به وربانديې ګومان وکړې چې خورې ورې کړی شوې ملغلرې دي او مجالس يې ښایسته کړي دي.

ح: ای پیغمبره! کله چې ته جنت وګورې او اخوا دېخوا پکښې مخ واړوې نو هلته به بې اندازې زیات نعمتونه وګورې او هم به هلته ډېره لویه پاچاهي وګورې، ته به وایې چې هر یو جنتي بېل‌بېل پاچا دی.

ط: په جنتیانو باندې به د پاسه د نریو وربښمو شنې جامې وي، او غټ وربښم به يې هم اغوستې وي چې یو ډول جامې به يې ترې جوړې وي.

ي: هغوی ته به د سرو زرو بنګړي وربه لاس کړی شوي وي او ګاڼه دار ګرځولی شوي به وي.

یا: هلته به هغوی ته په نورو نعمتونو باندې علاوه خپل رب ﷻ ډېر پاکیزه او په امتیازي مزې سره څه مشروبات ورڅښوي چې پوره معلومات يې یوازې همده ﷻ سره دي.

یب: بالآخره جنتیانو ته به هلته د خوشالولو دپاره وویلی شي چې دا نعمتونه ستاسو د دنیاوي کړو ورو جزا ده او دا څکه چې کوښښونه او عبادتونه د الله ﷻ په نزد نه ضائع کېږي او شکریه يې کېږي چې په څو چنده اضافه بدله ورکوله کېږي او هم به دغه بدله او جزا دائمي وي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ﴾ الآية- کښې د "سلاسل" کلمه د "سلسلة" جمعه ده چې د یوه حدیث په رڼا کښې د [الحاقة:۳۲] ایت لاندې ډېره ښه تفسیره شوې ده. او د "أغلال" کلمه د "غل" جمعه ده چې شرحه يې د [یس ۸] ایت لاندې تېره شوې ده. والحمد لله ﷻ.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دوه ډوله تفسير

۲ـ په ﴿ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ ﴾ الآية- کښې د ﴿ عِبَادُ ٱللَّهِ ﴾ کلمه مفسرينو کرامو په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسيره کړې ده:

الف: دلته د ﴿ عِبَادُ ٱللَّهِ ﴾ څخه خاص بندګان مطلب دي کوموته چې په [الواقعة: ۱۰، ۱۱] ايتونو کښې د "مقربينو" لقب ورکړى شوى دى[۱] يعني د کافور د چينې شراب به د "ابرابرو" بندګانو دپاره په مخلوط ډول ورکولى کېږي او "مقربين" بندګان به د همدغې چينې څخه پرته له ګډوالي شراب څښي او د همدغې چينې شراب به د همدوى په اختيار کښې قرار لري، نو هر ځاى ته يې چې خوښه شي هلته به يې په اشارې سره بهوي او لښتي کنودلو ته به يې څه اړتيا نه پېښېږي.

همدې مضمون ته ورته مضمون وروسته راروان دى چې: ﴿ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ ۝ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴾ [المطففين: ۲۷، ۲۸] يعني (کوم شراب چې نېکانو ته ورکول کېږي) د هغو سره به د تسنيم شراب مخلوط (ګډ) وي، تسنيم يوه چينه ده چې مقرب بندګان به د همدې چينې څخه سوچه (بدون د خلطه) شراب څښي.

ب: دلته د ﴿ عِبَادُ ٱللَّهِ ﴾ څخه "الأبرار" مطلب دي کوم چې په وړاندېني ايت کښې وړاندې صراحت نازل شوى دى[۲]، شايد چې دلته به تري د زيات اعزاز دپاره په ﴿ عِبَادُ ٱللَّهِ ﴾ سره تعبير صورت نيولى وي. يعني: ابرار به د هغه جام د شرابو څخه شراب څښي د کومو سره چې د "کافور" د چينې شراب ګډ کړى شوي وي او مزه يې ښه وراضافه کړې وي، نو د يو پلوه به د الله ﷻ بندګان د ذکر شوې چينې څخه شراب څښي او د بله پلوه به همدغه چينه د دوى په اختيار کښې قرار ولري او هر ځاى ته يې چې زړونه وغواړي هلته به يې بهوي، چې د لښتي کنودلو ته به حاجت يې نه وي او په اشارې سره بهېږي.

## د "قمطرير" معنى

۳ـ په ﴿ يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا ﴾ کښې د "عَبُوس" کلمه د "عُبُوس" ـلکه "قُتُول"ـ څخه اشتقاق شوې ده، او د [المدثر: ۲۲] ايت لاندې ليکلي شوي دي چې "عُبُوس" د اوچولي تريوولو ته وايي. دا د يو پلوه، او د بله پلوه د "قَمْطَرِير" کلمه د "شَدِيد" د کلمې سره مرادفه ده[۳] چې عبوسيت وړاندې تاکيد شوى دى.

نو دغه دواړه کلمې په دې مقام کښې د زښتو ډېرو سختيو څخه کنايي دي. يعنې مونږ د خپل رب ﷻ څخه په داسې ورځ کښې ډارېږو چې ډېره تروه (غونجه) او ډېره مشکله ورځ ده او سختى پکښې زښتې ډېرې دي

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۴ ص۴۴۵

(۲) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۱۲۶

(۳) لسان العرب ج۵ ص۱۱۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"زمهریر" څه معنی؟

۴_ په ﴿ مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ ﴾ الایة- کښې د "ارائك" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [الكهف ۳۱] ایت لاندې ښه پوره تشریح شوې ده چې د خاصو تختونو څخه عبارت ده(۱).

او د "شمس" کلمه په دې مقام کښې د ګرمی د شدت څخه کنایې ده او بالاخره د "زمهریر" کلمه د یخنی شدت ته وضعه شوې ده(۲).

یعنې جنتیان به په جنت کښې په خاصو تختونو باندې ناست وي چې نه به هلته ډېره ګرمي حس کړي او نه به ډېره یخني موجوده وي، بلکې هلته به په دائمي توګه معتدله هوا چلیږي.

## یو اعرابي تحلیل

۵_ په ﴿ وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلَالُهَا ﴾ کښې "دانیة" په نصب کښې علماوو کرامو متعددې وجې لیکلې دي(۳)، بهتره وجه یې دا ده چې دغه کلمه د خپل مقدر موصوف "جنّة" په لحاظ په ﴿ وَجَزَاهُمْ بِمَا صَبَرُوا جَنَّةً ﴾ کښې په ﴿ جَنَّةً ﴾ باندې عطفه ګڼله شي. او دا څکه چې:

د همدغو جنتیانو د خولې څخه الله ﷻ لې وړاندې د ﴿ إِنَّا نَخَافُ مِنْ رَبِّنَا ﴾ کلمات راحکایت کړي دي، او الله ﷻ خو ډارېدونکو ته د دوه وو جنتونو وعده ورکړې ده چې: ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴾ [الرحمن: ۴۶] یعنې د هغه چا دپاره دوه جنته دي کوم چې د خپل رب ﷻ په حضور کښې د درېدلو څخه ډارېږي. نو په دې تقدیر به په دغه ایت کښې -چې بحث پکښې روان دی- دوهم جنت ته اشاره وي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په همدې ایت کښې د "قطوف" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [الحاقة: ۲۳] ایت لاندې شرحه شوې ده چې د پخو میوجاتو معنی ورکوي.

یعنې الله ﷻ به نېکانو کسانو ته دوهم داسې جنت هم د جزا په حیث ورکړي د کوم سورې به چې په دوی باندې د پاسه ښه نژدې وي چې خرانګې به یې ورباندې خورې کړې وي، او هم به د پخو میوجاتو راپرې کول ورته اسان ګرځولی شوي وي اسان ګرځول.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ که څوک وایي چې: ظاهراً په ﴿ قَوَارِيرَا مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا ﴾ کښې د "قواریر" او "فضة" دواړه کلمې سره منافات لري، چې ښیښې شفافې وي او سپین زر شفاف نه وي؟

مونږ وایو چې: دغه پوښتنه عبدالله بن عباس رضي الله عنه ډېره ښه جوابه کړې ده چې: د جنت ګیلاسونه

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۹
(۲) القاموس المحیط ج۲ ص۴۷۷
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۳۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به په صفاوالي کښې د ښيښو غوندې وي او په سپينوالي کښې به د سپينو زرو په څېر وي[۱].

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا ﴾ کښې مستتر ضمير هغو خدمتګارانو ته راجع دی په کومو باندې چې په ﴿ وَيُطَافُ عَلَيْهِم ﴾ کښې د "يُطَافُ" کلمه د اشارې په توګه دلالت کوي[۲]. يعنې دغه ښيښوي ګلاسونه به خدمتګارانو د مشروباتو په لحاظ داسې اندازه کړي وي چې د جنتيانو څخه به نه زياتېږي او نه به ترې کمېږي.

## "سَلسبيل" څه معنی؟

۷ـ په ﴿ تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا ﴾ کښې د "سَلْسَبِيل" کلمه د هغه خوږ (لذيذ) او نرم شي دپاره وضعه شوې ده کوم چې د ستوني څخه ډېر په اسانۍ سره ښکته کېږي[۳].

داسې معلومېږي ـ والله ﷻ اعلم ـ چې دا "سَلْسَبِيل" د هغې چينې صفت دی د کومې محضه نوم چې "زنجبيل" دی.

## يادونه

۸ـ د ﴿ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ﴾ کلمات د الله ﷻ په توفيق د [الطور:۲۴] ايت لاندې د نصوصو په رڼا کښې ډېر ښه تشريح شوي دي چې بيا تشريح کولو ته يې څه اړتيا نه ګورو.

## لويه پاچاهي

۹ـ په ﴿ وَمُلْكًا كَبِيرًا ﴾ کښې چې کومې لويې پاچاهۍ ته اشاره شوې ده هغه په احاديثو کښې ډېره ښه شرحه شوې ده. لاندې دوه مثالونه يې ولولئ:

الف: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: وروستنې جنتي سړي ته به وويلی شي چې: «اذْهَبْ فَادْخُلْ الْجَنَّةَ فَإِنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا وَعَشَرَةَ أَمْثَالِهَا»[۴] يعنې لاړ شه نو جنت ته داخل شه، يقيناً ستا دپاره هلته د دنيا په مثل بلکې د دنيا په لس چنده پراخه پاچاهي ده.

ب: «إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً لَيَنْظُرُ فِي مُلْكِ أَلْفَيْ سَنَةٍ يَرَى أَقْصَاهُ كَمَا يَرَى أَدْنَاهُ»[۵] يعنې يقيناً د درجې د حيثه د جنتيانو ادنی جنتي به د دوه زرو کلونو په پاچاهي کښې کتل کوي چې لرې شيان به داسې ګوري لکه چې نژدې شيان ګوري.

## يو اعرابي تحليل

۱۰ـ په ﴿ عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ ﴾ کښې د ﴿ عَالِيَهُمْ ﴾ په "نصب" کښې علماوو کرامو متعدد

---

(۱) الدر المنثور ج۸ ص۳۷۵
(۲) روح المعاني ج۲۹ ص۱۶۰
(۳) القاموس المحيط ج۲ ص۵۹۳؛ تفسير القرطبي ج۱۹ ص۱۴۲
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۹۷۲؛ صحيح مسلم ج۶ ص۱۰۶
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۲۲۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



احتمالات لیکلي دي[۱] خو ظاهره دا ده چې دغه کلمه په ظرفیت سره منصوبه ده چې د متعلق په لحاظ مرفوعه ده او د ﴿ ثِيَابُ سُندُسٍ ﴾ دپاره مقدم خبر ده، نه به وایې چې داسې نازل شوی وي: ﴿وَفَوْقَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ﴾ یعني د جنتیانو د پاسه به دغه دغه ډول جامې موجودیت ولري.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په همدغه ایت کښې د ﴿سُندُس، اِسْتَبْرَق، أَسَاوِر﴾ درېواړه کلمې د الله ﷻ په توفیق د [الکهف: ۳۱] ایت لاندې ښې تشریح شوې دي چې بالترتیب د نریو ورېښمو، غټو ورېښمو او د بنګړیو څخه عبارت دي، نو بیا تشریح کولو ته یې څه اړتیا نه ګورو.

## درې ډوله شراب

۱۱ـ په دې مقام کښې الله ﷻ د جنتیانو دپاره لاندې درې ډوله شراب ذکر کړي دي:

الف: یو ډول هغه شراب دي چې د «کافور» شراب ورسره ګډ وي او جنتیان به یې پخپله څښي، چې په ﴿ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده.

ب: بل ډول هغه دي چې د «زنجبیل» شراب به ورسره ګډ وي او د خدمتګارانو د پلوه به ورڅښول کېږي، چې په ﴿ وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده.

ج: دریم ډول هغه دي چې د الله ﷻ د پلوه به په بلاکیفه توګه ورکولی کېږي او په ﴿ وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا ﴾ کښې ورته د «طهور» لقب ورکړی شوی دی.

نو داسې معلومېږي چې دغه (دریم ډول شراب) به د نورو دواړو ډولونو څخه څه امتیازات ولري نو الله ﷻ پوهېږي چې هغه امتیازات به څنګه وي، نو الله ﷻ دې پکښې زمونږ برخه وکړي چې امتیازات یې وپېژنو او پرې پوه شو.

﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ تَنزِيلًا ﴿٢٣﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ آثِمًا أَوْ كَفُورًا ﴿٢٤﴾ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٢٥﴾ وَمِنَ اللَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهُ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيلًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ يُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَاءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيلًا ﴿٢٧﴾ نَّحْنُ خَلَقْنَاهُمْ وَشَدَدْنَا أَسْرَهُمْ ۖ وَإِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَا أَمْثَالَهُمْ تَبْدِيلًا ﴿٢٨﴾ إِنَّ هَٰذِهِ تَذْكِرَةٌ ۖ فَمَن شَاءَ اتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِ سَبِيلًا ﴿٢٩﴾ وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٣٠﴾ يُدْخِلُ مَن يَشَاءُ فِي رَحْمَتِهِ ۚ وَالظَّالِمِينَ أَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٣١﴾ ﴾

[۲۳] یقیناً مونږ همدا مونږ په تاباندې قرآن کریم درنازل کړی دی نازلول.

---

(۱) زاد المسیر ج۸ ص۱۵۰، اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۴۲، روح المعاني ج۲۹ ص۱٦۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۴] نو د خپل رب ﷻ حکم ته صبر کوه (او ورته منتظر اوسه چې د جهاد حکم درنازل کړي) او ته د مشرکانو څخه د ستر عاصي یا د ستر ناشکره اطاعت مه کوه (بې اطاعتۍ ته یې ادامه ورکړه).

[۲۵] او خپل رب ﷻ سبا او بېګا یادوه (او اطمنان پرې حاصلوه).

[۲۶] او د شپې په څه برخه کښې هم نو خپل رب ﷻ ته سجدې (لمونځونه) کوه، او (هم) په شپه کښې اوږد وخت خپل رب ﷻ ته تسبیحات وایه (او د پاکۍ نسبت ورته کوه).

[۲۷] یقینًا دغه کفار (او مشرکان) ژر تېرېدونکې (نغده) دنیا خوښوي او د خپلو خانونو څخه اخوا درنه ورځ پرېږدي (چې هېره کړې یې ده).

[۲۸] مونږ بنیادمان پیدا کړي دي او بندونه مو ورته کلک تړلي دي، او کله چې زمونږ اراده وشي نو د دوی په امثالو سره به یې عوض کړو (په نورو بدنونو سره به یې تبدیل کړو) تبدیلول.

[۲۹] یقینًا دغه سورت (ایتونه د خلکو دپاره) پند (او عبرت) دی، نو هرڅوک چې اراده لري چې خپل رب ﷻ ته لاره ونیسي (نو هغه دې په همدغه قرآن کریم سره لاره ونیسي).

[۳۰] او تاسو (سمې لارې ته د نیولو) اراده نه شئ کولی (دغه لاره نه شئ خپلولی) مګر په هغه وخت کښې چې الله ﷻ (ورته) اراده وکړي (او توفیق درکړي).

یقینًا الله ﷻ پوه (او) د حکمت څښتن دی.

[۳۱] الله ﷻ هغه څوک په خپل رحمت (جنت) کښې داخلوي کوم ته یې چې اراده وشي (او د سمې لارې د نیولو توفیق ورپېرزو کړي).

او الله ﷻ ظالمانو (کفارو) ته (تیار کړی دی) دردناک عذاب یې ورته تیار کړی دی.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! څرنګه چې ستا د زمانې کفار نه د ترهیبي دلایلو د اثر لاندې راغله او نه وربانډې ترغیبي دلایلو څه اغېز وکړ نو ته خپله حوصله مه خرابوه او د خپل اطمنان دپاره دغو څو ارشاداتو ته متوجه شه:

۱_ دا قرآن کریم (چې نزول یې روان دی او روزمره دربانډې نازلېږي) فقط مونږ یې په تابانډې درنازلوو او هیڅوک توان نه لري چې د نزول مخه یې ونیسي نو نژدې ده چې په همدې قرآن کریم سره ټوله دنیا روښانه شي.

۲_ نو ته فقط د خپل رب ﷻ حکم ته منتظر اوسه او خپل صبر ته ادامه ورکړه، هغه وخت لرې نه دی چې تاته د جهاد امر درنازل کړی شي.

۳_ که څه هم کفار او ناشکران له تانه غواړي او درته سترګې په لار دي چې ته د دعوت څخه لاس واخلې او غلی کښېنې، مګر پام کوه چې د دغه وړاندیز اطاعت ونه کړې نو د دغو دواړو بې اطاعتۍ ته ادامه ورکړه.

۴_ ای پیغمبره! د تسکین او اطمنان دپاره فقط د خپل رب ﷻ نوم یادوه او خپله حوصله وربانډې پیاوړې کوه، نو همدغه ذکر ته سبا او بېګاه ادامه ورکړه.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵_ د شپې په څه برخو کښې هم خپل رب ﷻ ته سجدې او لمونځونه کوه او هم یې د شپې په اوږدو کښې تسبیحاتو ته ادامه ورکړه او خپل اطمنان ورباندې حاصل کړه.

۶_ په دې باندې علاوه د کفارو په کافر پاتې کېدلو باندې ډېر مه غمژن کېږه، د دوی د کافر پاتې کېدلو وجه دا نه ده چې تا په دعوت کښې قصور کړی دی، ته خو خپله دنده په ډېره ښه توګه سرته رسوې، بلکې وجه یې دا ده چې دغه کسان عاجله دنیاوي ګټه خوښوي او هغه ډېره درنه ورځ یې هېره کړې ده او خپلې شاګانې یې وراړولې دي کومې ته چې دوی ورروان دي، نو د همدې ګبله د بعث بعد الموت څخه منکران دي.

۷_ حال دا چې همدغه منکران دې ته نه ګوري چې: یقیناً مونږ دوی د نشت څخه پیدا کړي دي چې موجودیت یې نه درلود او حتی داسې وخت وربانډې تېر شوی دی چې د انسان اطلاق وربانډې نه کېده، بیا مو ورته اسکلټ جوړ کړ او بندونه مو وروتړل او ښه ښایسته څېره مو ورکړه چې د انسان د اطلاق قابل وګرځېد.

نو کله چې زمونږ اراده وشي دغه منکران به هلاک کړو او د قیامت په ورځ به یې بیا راژوندي کړو چې د موجوده ابدانو غوندې اندامونه به ورعوض کړو او یو ځل به یې بیا بندونه او هډوکي په اعصابو او رګونو سره وتړو او اسلکټونه به ورجوړ کړو.

۸_ ای پیغمبره! دا سورت او دا ایتونه بلکې ټول قرآن کریم فقط پند او نصیحت دی چې ستا د پلوه خلکو ته رسول کېږي ترڅو وربانډې خلک خپل رب ﷻ ته سمه لاره غوره کړي او پرې لاړ شي. نو هرڅوک چې د همدغې لارې د نیولو اراده لري او همدغه لاره نیول خوښوي هغه دې د موقع څخه ګټه اوچته کړي او خپل رب ﷻ ته دې وربانډې لاره ونیسي، او څوک یې چې نه خوښوي نو په تاباندې یې څه ملامته نه پرېوځي.

۹_ خو ای بنیادمانو! تاسو د حقې لارې نیولو ته داسې اراده نه کوئ چې مطلب ته وربانډې ورسېږئ او حقه لاره مونده کړئ مګر هله چې الله ﷻ یې تحصیل ته اراده وکړي او تاسو ته توفیق درپېرزو کړي.

یقیناً الله ﷻ ستاسو په استعدادونو باندې ډېر ښه پوه دی او د حکمت څښتن هم دی چې ټول کارونه یې په همدې بنیاد صورت نیسي.

۱۰_ نو الله ﷻ هغه څوک په خپل رحمت کښې داخلوي او د سمې لارې د نیولو توفیق ورکوي چاته یې چې د خپل علم او حکمت په مطابق اراده وشي.

بالمقابل ظالمانو او کفارو ته یې دردناک عذاب تیار کړی دی، څوک چې دا نه خوښوي چې د قرآن کریم څخه ګټه پورته کړي او خپل رب ﷻ ته وربانډې سمه لاره ونیسي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: په ﴿وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ ءَاثِمًا أَوْ كَفُورًا﴾ کښې د "او" توری په "أحدهما" باندې

دلالت کوي، یعنې ته یا د آثم اطاعت مه کوه یا د کفور اطاعت مه کوه. حال دا چې نبي کریم ﷺ د دغو دواړو د اطاعت څخه ممنوع ګرځولی شوی وه؛ نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد د "أوْ" په عوض "وَ" نازل نه کړی شو؟

مونږ وایو چې: د "أوْ" د توري معنی په دې مقام کښې د "وَ" د توري د معنی څخه ډېره بلیغه ده، ځکه کله چې د "أَحَدَهُمَا" اطاعت ممنوع وګرځولی شو نو د دواړو اطاعت خو په دلالت النص سره ممنوع وګرځولی شو، چې د دواړو مجموعه خو په "أَحَدَهُمَا" باندې مشتمله ده[۱].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې[۲] یوه ورځې عتبه بن ربیعه او الولید بن المغیره دواړو نبي کریم ﷺ ته وړاندیز وکړ چې مونږ به تاته ډېر مالونه درکړو او هم به ډېره ښایسته ښځه په نکاح درکړو، خو په دې شرط چې ته د دعوت څخه لاس واخلې. نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه (چې د دغو دواړو یوه خبره هم مه منه).

خو پوره واضحه ده چې په نصوصو کښې د مفهوم عموم اعتبار لري او خصوص د مورد یا خصوص د شان نزولورباندې څه اثر نه غورزوي.

## د لمانځه پنځه وختونه

۲_ احتمال لري[۳] چې د سبا لمانځه ته په ﴿ بُكْرَةً ﴾ کلمې سره، او د ماسپښین او مازیګر دوه وو لمونځونو ته په ﴿ وَأَصِيلًا ﴾ سره، او د ماښام او ماسخوتن دوه وو لمونځونو ته په ﴿ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَٱسْجُدْ لَهُۥ ﴾ سره اشاره شوې وي.

نو په دې تقدیر به د ﴿ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيلًا ﴾ په کلماتو سره د تهجد لمونځ مراد وي، او الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې پخپله ښه پوهیږي.

## "أَسْر" څه معنی؟

۳_ په ﴿ وَشَدَدْنَآ أَسْرَهُمْ ﴾ کښې د "أسْر" کلمه د بندونو څخه عبارت ده[۴].

او د ﴿ وَإِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَآ أَمْثَٰلَهُمْ تَبْدِيلًا ﴾ جمله ځینو مفسرینو کرامو[۵] داسې تفسیره کړې ده چې: کله چې زمونږ اراده وشي نو کفار به ټول هلاک کړو او په عوض کښې به یې نور خلک پیدا کړو چې دنیا به ورباندې اباده کړو.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به بعث بعد الموت ته اشاره وي، چې دا تفسیر هم د مقام سره

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۴ ص۶۷۵
(۲) تفسیر الخازن ج۶ ص۴۲۷
(۳) تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۱۵۰
(۴) القاموس المحیط ج۱ ص۱۴۵؛ لسان العرب ج۴ ص۱۹
(۵) تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۱۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مناسب دی او هم وربانديې د "إِذَا" کلمه دلالت کوي چې په يقينياتو کښې استعمالېږي. يعنې: مونږ انسانان پيدا کړي دي او د ابدانو بندونه مو ورته په اعصابو او رګونو او هم په غوښو او پوستکو سره ښه کلک تړلي دي، چې په مرګ سره دغه تړل تول د منخه ځي او ټول ابدان خواره واره ګرځولی کېږي، خو چې کله زمونږ اراده وشي چې مړي راژوندي کړو نو د بنيادمانو موجوده ابدان به د دوی د ابدانو په امثالو باندې تبديل کړو تبديلول، چې بيا به يې بندونه وروتړو او داسې کلک به يې سره پيوسته کړو چې تر ابده به سره جدا نه شي.

## هېر مو نه شي

۴ـ په ﴿ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ﴾ کښې علماوو کرامو[۱] ډېر اوږد بحث کړی دی چې بنده په خپلو کارونو باندې نه مطلق قادر دی او نه يې په کولو باندې محض مجبور دی، بلکې د بندګانو د اعمالو په شمول الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی او بندګان خپلو کارونو ته د الله ﷻ په کامل قدرت او توفيق سره صورت ورکوي.

نو که څوک د اوږد بحث شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ دلته د دې کبله ذکره شوې موضوع مطرحه نه کړه چې په هغې باندې د پوهېدلو دپاره څه مقدماتي علوم ضرور دي چې عوام يې نه لري، او پرته د مقدماتي علومو څخه په دغسې موضوعګانو کښې بحث کول د شبهاتو سبب جوړېږي او مونږ نه غواړو چې عوام په شبهاتو کښې واقع کړو.

په همدې ځای د الله ﷻ په توفيق د "الدَّهر" سورت پښتو ترجمه او تفسير ختم شو.

اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ. آمِينَ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ.

۱۴۲۵/۱۰/۷ هـ ق - ۱۳۸۳/۸/۲۹ هـ ش

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۱۶۷، شرح المقاصد الحسنه ج۲ ص۶۴۱، شرح العقيدة الطحاوية ص۱۲۵

# المرسلات (٧٧)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (المُرْسَلات) د همدې سورت د لومړني ایت څخه اخستل شوی دی.

۲ـ دا سورت مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳ـ دا سورت پنځوس (۵۰) ایتونه لري[۲].

۴ـ د کلماتو شمېر یې یو سلو یو اتیا (۱۸۱) کلمو ته رسېږي[۳].

۵ـ د تورو ګڼه یې اته سوه او شپاړسو (۸۱٦) ته رسېدلې ده[۴].

٦ـ دا سورت د نورو مکي سورتونو غوندې او په تېره بیا د وړاندې سورت (الدَّهر) غوندې عقیدوي احکام زیات بیانوي، چې د قیامت حالات او هم د جنت او دوزخ مربوط مسائل پکښې نازل شوي دي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَٱلْمُرْسَلَٰتِ عُرْفًا ۝١ فَٱلْعَٰصِفَٰتِ عَصْفًا ۝٢ وَٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشْرًا ۝٣ فَٱلْفَٰرِقَٰتِ فَرْقًا ۝٤ فَٱلْمُلْقِيَٰتِ ذِكْرًا ۝٥ عُذْرًا أَوْ نُذْرًا ۝٦ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٌ ۝٧ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] د پرله پسې لېږلو شوو پرښتو په ټولګیو باندې سوګند دی.

[۲] نو په تلوار (او تېزۍ) سره د اوامرو اجراء کوونکو پرښتو په ټولګیو باندې سوګند دی، په تلوار سره اجراء کول.

[۳] د (وریځو او رحمت) خوروونکو پرښتو په ټولګیو باندې سوګند دی (وریځې او رحمت) خورول.

[۴] نو (د حق او باطل ترمنځ) د جدایي راوستونکو پرښتو په ټولګیو باندې سوګند دی، جدایي راوستل.

[۵] نو (پیغمبرانو ته) د وحې وراچوونکو (ورنازلوونکو) پرښتو په ټولګیو باندې سوګند دی.

[٦] (البته) د دې دپاره (نازلوونکی) چې (د کفارو) اعتذار محوه شي (او مخه یې بنده شي) یا د دې دپاره چې (دوی) وډارول شي (چې بعث بعد الموت ته تیاري ونیسي).

[۷] (په دغو پنځو ټولګیو سوګند دی چې) یقیناً هغه شی هرومرو واقع کېدونکی دی د کوم شي چې تاسو ته وعده درکوله کېږي (چې د قیامت د قیام څخه عبارت دی).

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۱٦۹

(۲) تفسیر الطبري ج۲۹ ص۲۲۸

(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۲۰ ص۵۹

(۴) تفسیر الخازن ج٦ ص۴۲۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او توضیحات

۱ــ د وړاندېني سورت (الدهر) د وروستنیو ایتونو مضامین د جنتیانو او دوزخیانو په اخروي حالاتو باندې مشتمل وه، دا سورت په هغو سوګندونو باندې پیل شوی دی په کومو سره چې د قیامت د ورځې قیام په اثبات رسېږي چې جنتیان پکښې جنت ته داخلېږي او دوزخیان پکښې دوزخ ته ورټېل وهلی کېږي.

۲ــ دا سورت د "منا" په یوه غار کښې نازل شوی دی چې په عین وخت کښې هلته یو مار (منګور) هم څرګند شو، او په تلوار سره په سوړه ننوت چې د مرداړولو څخه بچ شو. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «وُقِيَتْ شَرَّكُمْ كَمَا وُقِيتُمْ شَرَّهَا»[۱] یعنې ای صحابه وو کرامو! مار (منګور) ستاسو د شره وساتل شو او تاسو د هغه د شره وساتل شوئ.

۳ــ په دې مقام کښې الله ﷻ پنځه سوګندونه په پنځو کلماتو (الْمُرْسَلَاتِ، الْعَاصِفَاتِ، النَّاشِرَاتِ، الْفَارِقَاتِ، الْمُلْقِيَاتِ) سره یاد کړي دي چې څه لنډه شرحه یې لاندې لوستلی شئ:

الف: په لومړیو څلورو کلماتو کښې علماء کرام اختلاف لري چې دا کلمات د پرښتو د ټولګیو څخه عبارت دي او که د بادونو د ډولونو څخه[۲]، خو په پنځمه کلمه (الْمُلْقِيَاتِ) کښې ټول متفق دي چې دا کلمه د پرښتو د ټولګیو څخه عبارت ده[۳] چې په ﴿ فَالتَّٰلِيَٰتِ ذِكۡرًا ﴾ [الصافات: ۳] کښې وړباندې صراحت نازل شوی دی.

ب: که څه هم د بدلیت په لحاظ د اولنیو څلورو واړو کلماتو څخه پرښتې او بادونه دواړه اراده کېدلی شي مګر بهتره دا ده چې پرښتې ترې اراده کړی شي ترڅو د پنځمې کلمې سره توافق او تناسب صورت ونیسي.

ج: ذکر شوې پنځه واړه کلمې هره یوه د پرښتو د جماعتونو صفتونه دي، نو ته به وایې چې د "الْمُرْسَلَاتِ" کلمه "الْجَمَاعَاتُ الْمُرْسَلَاتُ" نازله شوې وی او همداسې نورې.

په همدې ارتباط د الله ﷻ په توفیق د "الصَّافَاتِ" په لومړیو ایتونو کښې ښه پوره وضاحت تېر شوی دی چې یو خل مراجعه ورته بې ګټې نه ده.

د: په ﴿ وَٱلۡمُرۡسَلَٰتِ عُرۡفٗا ﴾ کښې د "عُرْف" کلمه اصلا د اس یالو (د څټ وېښتانو) ته وضعه شوې ده چې په یوه لیکه پیوسته پراته وي[۴]. خو په دې مقام کښې ترې د لېږلو شوو پرښتو د تعاقب او نزول هغه لیکه مطلب ده د کومې یوه مثال ته چې په [الأنفال: ۹] ایت کښې د ﴿ مُرۡدِفِينَ ﴾ په کلمې سره اشاره شوې ده.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۳۴

(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۲۰ ص۶۰؛ تفسير الطبري ج۲۹ ص۲۲۹؛ المحرر الوجيز ج۱۶ ص۱۹۶؛ زاد المسير ج۸ ص۱۵۳؛ روح المعاني ج۲۹ ص۱۷۱

(۳) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۱۵۶

(۴) مفردات الراغب ص۴۳۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه. په ﴿فَٱلۡعَٰصِفَٰتِ عَصۡفٗا﴾ کښې د "عصف" کلمه شدید (تېز) باد ته وضعه شوې ده[1]. خو په دې مقام کښې ترې د پرښتو هغه جماعتونه مطلب دي کوم چې د اوامرو په اجراء کښې د تېز باد غوندې جلتي او تلوار کوي.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې ﴿لَا يَسۡبِقُونَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ وَهُم بِأَمۡرِهِۦ يَعۡمَلُونَ﴾ [الأنبياء:۲۷] یعنې ټولې پرښتې د الله ﷻ څخه په هیڅ خبره کښې سبقت نه خپلوي او همدوی علیهم السلام د الله ﷻ په امر سره کارونه کوي (او هیڅ خند پکښې نه کوي).

و. په ﴿وَٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشۡرٗا﴾ کښې د پرښتو په هغو ټولګیو باندې سوګند یاد شوی دی کوم چې د وریځو په خورولو او د باران په وررولو باندې مقررې دي، کومو ته چې په [الرعد:۱۲] ایت کښې اشاره شوې ده چې هملته یې د نصوصو په رڼا کښې تشریح تېره شوې ده والحمد لله ﷻ.

ز. په ﴿فَٱلۡفَٰرِقَٰتِ فَرۡقٗا﴾ کښې د پرښتو په هغو ټولګیو باندې سوګند یاد شوی دی کوم چې د باطل د بنیاد ویستلو دپاره استول کېږي، د کومو یوه مثال ته چې په [آل عمران:۱۲۳_۱۲۶] ایتونو کښې اشاره شوې ده.

ح. په ﴿عُذۡرًا أَوۡ نُذۡرًا﴾ کښې د "عُذر" کلمه د مصدر (اعذار) دپاره اسم ده چې د معذرت د سلبولو معنی ورکوي[2]. او د "نُذر" کلمه د مصدر (انذار) دپاره وضعه شوې ده چې د ډارولو معنی ورکوي[3].

ط. دغه دواړه کلمې ﴿عُذۡرًا أَوۡ نُذۡرًا﴾ هره یوه د ﴿فَٱلۡمُلۡقِيَٰتِ ذِكۡرًا﴾ دپاره د "مفعول لهٔ" په حیث منصوبه ده[4].

یعنې نو د هغو پرښتو په ټولګیو سوګند دی کوم چې په پیغمبرانو علیهم السلام باندې د دې دپاره د وحې وراچوونکې (ورنازلوونکې) دي ترڅو د قیامت په ورځ د کفارو اعتذار سلب کړي او د معذرت وړاندې کولو مخه یې بنده کړی شي، او یا ترڅو کفار وډار شي او د قیامت ورځې ته د تیارۍ په خاطر د توحید عقیده خپله کړي او د کفر څخه لاس واخلي.

ي. ذکر شوي دلایل پنځه واړه سوګندونه په حقیقت کښې د خپل جواب ﴿إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٞ﴾ د اثبات دلایل او براهین دي چې که بالفرض المحال د قیامت قیام واقعیت نه درلودی نو ذکرو شوو انتظاماتو په صورت نه وی نیولی او هم په ټوله دنیا عبث وی.

﴿فَإِذَا ٱلنُّجُومُ طُمِسَتۡ ۝ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ فُرِجَتۡ ۝ وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ نُسِفَتۡ ۝ وَإِذَا ٱلرُّسُلُ أُقِّتَتۡ ۝ لِأَيِّ يَوۡمٍ أُجِّلَتۡ ۝ لِيَوۡمِ ٱلۡفَصۡلِ ۝ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ

(۱) القاموس المحیط ج۳ ص۲۳۹
(۲) لسان العرب ج۴ ص۵۴۵، اضواء البیان ج۸ ص۶۸۶
(۳) لسان العرب ج۵ ص۲۰۱
(۴) تفسیر الکشاف ج۴ ص۲۷۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(١٤) وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ (١٥) أَلَمْ نُهْلِكِ الْأَوَّلِينَ (١٦) ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْآخِرِينَ (١٧)
كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ (١٨) وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ (١٩) أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّاءٍ مَّهِينٍ
(٢٠) فَجَعَلْنَاهُ فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ (٢١) إِلَىٰ قَدَرٍ مَّعْلُومٍ (٢٢) فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ الْقَادِرُونَ (٢٣) وَيْلٌ
يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ (٢٤) أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ كِفَاتًا (٢٥) أَحْيَاءً وَأَمْوَاتًا (٢٦) وَجَعَلْنَا فِيهَا
رَوَاسِيَ شَامِخَاتٍ وَأَسْقَيْنَاكُم مَّاءً فُرَاتًا (٢٧) وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ (٢٨) ﴾

[٨] نو چې کله ستوري بې نوره (او تور) شي (قيامت به قائم شي)

[٩] او چې کله اسمان وچول شي (او درزونه-درزونه جوړ شي)

[١٠] او چې کله غرونه (په هوا کښې د گردونو په شکل) والوزول شي

[١١] او چې کله پيغمبران تاکلي وخت ته ورسولی شي (او غونډ کړی شي).

[١٢] د کومې ورځې دپاره پيغمبران وروسته کړی شوي دي؟

[١٣] د فيصلې د ورځې دپاره (ترڅو په خپلو-خپلو امتونو باندې شهادت ورکړي).

[١٤] (ای پيغمبره!) څه شي پوه کړې چې د فيصلې ورځ څنگه ورځ ده؟ (او څومره سخته ده؟).

[١٥] په دغې ورځ کښې د تکذيب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک (او افسوس) دی (چې عقيده ورباندې نه خپلوي).

[١٦] ايا مونږ ړومبنی (کفار) نه دي هلاک کړي؟

[١٧] بيا وروستني (کفار) د هغو پيروان جوړوو (دوی هم د تکذيب په سبب د هلاک سره مخامخ کرخوو).

[١٨] همدغه ډول کار (د قيامت تر ورځې پورې) د مجرمانو (کفارو) سره کوو.

[١٩] په دغې ورځ کښې د تکذيب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک (او افسوس) دی (چې د هغوی څخه عبرت نه اخلي).

[٢٠] (ای بنيادمانو!) ايا تاسو مو د حقيرو اوبو (نطفې) څخه نه ياست پيدا کړي؟

[٢١] نو همدا اوبه (نطفه) د قرار نيولو په محکم (ټينګ) ځای کښې کرځوو (چې د مور د رحم څخه عبارت دی)

[٢٢] (البته) د اندازه کړی شوې تاکلې مودې پورې

[٢٣] نو (يوازې) مونږ (په رحم کښې) د مودې اندازه ټاکو، نو ډېر ښه اندازه ټاکونکي ياستو.

[٢٤] په دغې ورځ کښې د تکذيب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک (او افسوس) دی (چې د خپل پيدايښت څخه عبرت نه اخلي)

[٢٥] ايا مونږ ځمکه راغونډوونکې نه ده کرځولې؟

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۶] (البته) ژوندیو بنیادمانو لره (په شا خپله باندې) او مړو بنیادمانو لره (په ګېډه خپله کښې).

[۲۷] او مونږ په دې ځمکه کښې لوړ میخونه (غرونه) ګرځولي دي او تاسو مو په خوږو اوبو سره خړوب کړي یاست.

[۲۸] په دغې ورځ کښې د تکذیب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک (او افسوس) دی (چې د دغو نعمتونو ناشکري کوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د قیامت د ورځې د اثبات دپاره پنځه سوګندونه نازل شوي وه، او په دې ایتونو کښې د یو پلوه د همدغې ورځې څه کیفیاتو نزول موندلی دی او د بله پلوه پکښې د الله ﷻ د کامل قدرت څو مثالونو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېژي:

ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه په خپل امت باندې د قیامت د ورځې په ارتباط څه مطالب قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ نو قیامت به په هغه وخت کښې قائم شي چې لاندې کیفیات صورت ونیسي:

الف: چې کله ستوري بې نوره جوړ شي او ټول راودوړېږي.

ب: چې کله اسمان وچوي (لارې-لارې شي) او پرښتې ترې رابښکته شي.

ج: چې کله غرونه والوزولی شي او په هوا کښې د ګردونو په څېر خواره واره شي.

د: چې کله پیغمبران علیهم‌السلام هغه وخت ته ورسولی شي او ورغونډ کړی شي په کوم کښې به چې په خپلو-خپلو امتونو باندې شهادت اداء کوي. نو:

اول: هغه څنګه ورځ ده چې پیغمبران علیهم‌السلام پکښې راغونډولی کېږي او هر یو په خپل-خپل امت باندې شهادت اداء کوي؟

دوهم: هغه د فیصلې او محاسبې ورځ ده.

دریم: ته څه پوهېږې چې د فیصلې او محاسبې ورځ څومره هولناکه او څومره مشکله ورځ ده؟ د دې ورځې په مشکلاتو باندې پوره پوهېدل لیدلو پورې اړه لري.

څلورم: په دغې ورځ کښې د تکذیب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک او هم دائمي حسرت او افسوس دی.

۲ـ ای کفارو! ایا تاسو نه ډارېږئ چې د کفرهاتو او شرکیاتو د ادامې په صورت کښې به الله ﷻ په تاسو باندې دنیاوي عذاب درنازل کړي او بنیاد به مو وباسي؟ ایا مونږ وړاندېني او پخواني کفار ـلکه عادیان او ثمودیانـ نه دي هلاک کړي؟ ایا ستاسو کفریات او د هغوی کفریات سره تفاوت لري؟

هو! دا کار مونږ کړی دی نو د همدغو کفارو په تعقیب وروستني کفار هم د هلاک او بنیاد ویستونکي عذاب سره مخامخ کوو او د قیامت تر ورځې پورې د مجرمانو سره همدغه چال چلند ته

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ادامه ورکوو. نو د تکذیب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک او دائمي حسرت دی چې کفریاتو ته ادامه ورکوي او زمونږ د نیونې څخه بې غمه دی.

۳ـ ای کفارو! تاسو په څه دلیل د قیامت د قیام او بعث بعد الموت څخه انکاري یاست؟ حال دا چې ایا مونږ د حقیرو او ناچیزه اوبو (نطفې) څخه تاسو نه یاست پیدا کړي؟

هو! مونږ تاسو د ناچیزه اوبو (نطفې) څخه پیدا کړي یاست چې مونږ همدغې نطفې ته د ټاکل شوي وخته پورې په یوه مضبوط قرارخای کښې قرار ورکوو ترڅو د متعددو مراحلو وروسته ترې په بنایسته څېره کښې انسان جوړ کړو. په دغه قرارخای (رحم) کښې زمونږ څخه په غیر نه څوک نطفې ته قرار او ثبات ورکولی شي او نه یې هلته د قرار ورکولو اندازه ټاکلی شي.

نو د قرار ورکولو اندازه ورته یوازې مونږ ټاکو، مونږ ډېر ښه اندازه ټاکونکي یاستو.

نو د تکذیب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک او دائمي حسرت او افسوس دی چې د خپل خلقت څخه د عقیدې د تصحیح ګټه نه اخلي.

۴ـ تاسو خپلې کفري عقیدې ته ادامه ورکوئ حال دا چې: ایا مونږ ستاسو دپاره ځمکه راغونډوونکې نه ده ګرځولې؟ چې د ځمکې مخ مو ستاسو دپاره د استوګنې قابل ګرځولی دی او د دې اضطراري حرکت مو د ښو قوي او دنګو غرونو په نصب کولو سره د منځه وړی دی او هم مو پکښې ستاسو د ژوند ټول وسائل خای په خای کړي دي چې ډول-ډول خوراکونه ترې خورئ او په خوږو او مزناکو اوبو سره مو خړوب کړي یاست او هم مو د ځمکې ګېډه ستاسو د مړو دپاره هدیره او د دفن کولو خای ګرځولی دی نو چې کله زمونږ اراده وشي یو خل به مو بیا د همدې ځمکې څخه ژوندي را اوچت کړو.

نو تکذیب کوونکو (کفارو) ته معنوي هلاک او دائمي حسرت او افسوس دی چې د دغو قدرتي کارونو څخه عبرت نه اخلي چې د کفریاتو او شرکیاتو څخه لاس واخلي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَإِذَا ٱلرُّسُلُ أُقِّتَتْ ﴾ کښې د ﴿ أُقِّتَتْ ﴾ کلمه د "تَوْقِیت" څخه اشتقاقه شوې ده، نو همزه پکښې د "و" څخه بدله ده، چې یوه شي ته د وخت د ټاکلو معنی ورکوي[1].

په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه په ګڼو معناوو سره تفسیر کړی شوې ده[2]، د مثال په توګه:

الف: کله چې پیغمبران علیهم السلام د شهادت ورکولو دپاره راغونډ کړی شي.

همدې تفسیر ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ يَوْمَ يَجْمَعُ ٱللَّهُ ٱلرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبْتُمْ ﴾ [المائدة: ۱۰۹] یعنې هغه ورځ یاده کړه چې الله ﷻ ټول پیغمبران علیهم السلام راغونډ کړي نو ورته ووایي چې هغه کوم شی وه چې تاسو ته ورباندې د خپلو امتونو د پلوه جواب درکړی شوی وه؟

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص۱۰۷

(۲) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۷۸؛ تفسیر القرطبي ج۱۹ ص۱۵۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. کله چې پیغمبران علیهم السلام هغه وخت ته ورسولی شي کوم چې د الله ﷻ د پلوه د شهادت ورکولو دپاره ټاکلی شوی دی.

۱ـ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسیرونه سره څه منافات نه لري، د بدلیت په لحاظ دواړه اراده کېدلی شي، مګر د متصل ایت ﴿ لِأَيِّ يَوْمٍ أُجِّلَتْ ﴾ سره دوهم تفسیر په زړه پوری برېښي، چې د ﴿ أُجِّلَتْ ﴾ کلمه د "تاجیل" څخه اشتقاقه شوې ده چې د تاخیر او وروسته کولو معنی ورکوي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې په دې سورت (المرسلات) کښې د ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾ ایت لس کرته نازل شوي دي، نو په دغه تکراري نزول کښې څه حکمت دی؟

سورې وايو چې دغه لس ایتونه هر یو د یو مطلب څخه وروسته نازل شوی دی چې د همدغو مطلبو په اعتبار سره یو د بل څخه مغایر دي او په هر ارخیزه توګه عینیت (یو والی) نه لري ترڅو اعتراض وارد شي.

په همدغه جواب باندې د الله ﷻ په توفیق د احادیثو په رڼا کښې د [القمر:۱۷] ایت لاندې بنه بحث شوی دی او هم ورته د [الرحمن ۱۳] ایت لاندې اشاره شوې ده.

## ماثور تفسیر

۴ـ په ﴿ أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ ﴾ کښې د ﴿ مَّآءٍ مَّهِينٍ ﴾ کلمات په یوه قدسي حدیث کښې تفسیر شوی دی. هغه داسې چې

یوه ورځې نبي کریم ﷺ د خپلې مبارکې خولې څخه په خپل ورغوي کښې لږ څه لاړې واچولې او بیا یې همدغو لاړو ته اشاره وکړه او ویې وفرمایل چې «قَالَ اللهُ ابْنَ آدَمَ أَنَّى تُعْجِزُنِي وَقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ مِثْلِ هَذِهِ»[۱] یعنې الله ﷻ وايي چې ای بنیادمه! ته به ما څنګه عاجز وګرځوې (چې دوهم ځل به دې راژوندی نه کړی شم) حال دا چې ته ما د دغو لاړو غوندې شي (نطفې) څخه پیدا کړی یې او سم سړی مې درڅخه جوړ کړی دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ الْقَادِرُونَ ﴾ کښې د "قدرنا، قادرون" دواړه کلمې د "قُدْرَة" څخه نه دي اشتقاقي شوې چې د توان معنی ورکوي بلکې د هغه "قدر" څخه دواړو اشتقاق موندلی دی کوم چې د اندازه کولو معنی ورکوي کوم چې په وراندې متصل ایت ﴿ إِلَىٰ قَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴾ کښې نازل شوی دی. په همدې مطلب باندې په بل ایت کښې صراحت نازل شوی دی چې ﴿ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ﴾ [عبس ۱۹] یعنې الله ﷻ انسان (د نطفې څخه) پیدا کړی دی نو اندازه کړی یې دی (چې څومره موده به په رحم کښې قرار لري) او بیا یې ورته د رحم څخه د وتلو لاره اسانه کړې ده

(۱) مسند احمد بن حنبل ج ۶ ص ۲۵۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ځو لغاتو معناوې

۵ـ په دې مقام کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف: په ﴿ أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ كِفَاتًا ﴾ کښې د "كِفَات" په کلمه کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۱].

خو بهتره او بې تکلفه خبره دا ده چې دغه کلمه ـلکه "قِتَال"ـ مصدر ده او د جمعه کولو معنی ورکوي[۲]. دلته یې د مبالغې په توګه ځمکې ته ثبوت ونډلی دی کومه چې جمعه کول نه ده بلکې جمعه کوونکې ده. یعنې ایا مونږ د بنیادمانو دپاره ځمکه جمعه کوونکې (راغونډوونکې) نه ده ګرځولې چې ژوندیو ته یې په خپله شا باندې ځای ورکړی دی او مړه بنیادمان په خپله ګېډه کښې منحل ګرځوي.

ب: په ﴿ رَوَٰسِيَ شَٰمِخَٰتٍ ﴾ کښې د ﴿ شَٰمِخَٰتٍ ﴾ کلمه د "شَامِخ" جمعه ده چې د لوړ او اوچت شي دپاره وضعه شوې ده[۳]. یعنې نو مونږ په ځمکه باندې د لوړو او دنګو غرونو میخونه نصب کړي دي چې د اضطراري حرکته یې غورزولې ده.

ج: په ﴿ مَّآءً فُرَاتًا ﴾ کښې د "فُرَات" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [الفرقان:۵۳] ایت لاندې معنی کړې شوې ده چې د خوندورو او خوږو اوبو دپاره وضعه شوې ده. یعنې ای بنیادمانو! مونږ تاسو په خوندورو او خوږو اوبو سره خړوب کړي یاست.

﴿ ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ مَا كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٩﴾ ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ ظِلٍّ ذِي ثَلَٰثِ شُعَبٍ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ ٱللَّهَبِ ﴿٣١﴾ إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَٱلْقَصْرِ ﴿٣٢﴾ كَأَنَّهُۥ جِمَٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿٣٣﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٤﴾ هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ ﴿٣٦﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٧﴾ هَٰذَا يَوْمُ ٱلْفَصْلِ ۖ جَمَعْنَٰكُمْ وَٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾ فَإِن كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيدُونِ ﴿٣٩﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٠﴾ ﴾

[۲۹] (ای کفارو!) ځئ هغه شي ته لاړ شئ په کوم سره چې تاسو (په دنیا کښې) تکذیب کاوه (او ایمان مو ورباندې نه خپلاوه).

[۳۰] ځئ داسې (تش په نامه) سوري ته ورشئ چې (په هوا کښې) د درېو څانګو خاوند دی (او د دوزخ له اوره پورته کېږي).

---

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۱۷۴، تفسیر القاسمي ج۱۷ ص۲۰
(۲) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۸۰
(۳) القاموس المحیط ج۲ ص۷۴۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۱] (داسې تش په نامه سوری) چې نه سوړ (راحت بښونکی) دی او نه د اور د لمبو مخه نیولی شي

[۳۲] یقیناً جهنم به داسې سپرغۍ (سرګونو) سره ویشتل کوي چې (هره یوه سپرغۍ به) د لویې ماڼۍ غوندې ده.

[۳۳] لکه چې یقیناً دا (سپرغۍ به دیروالي کښې) د زېړو نرانو اوښانو ګله وي

[۳۴] په دغې ورځ کښې د تکذیب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک (او افسوس) دی (چې ذکر شوی دوزخ یې دائمي استوګنځای دی).

[۳۵] دغه (د قیامت ورځ) د دې ورځ ده چې کفار به پکښې خبرې نه کوي (البته په ځینو حالاتو کښې)

[۳۶] او نه به ورته (پکښې) اجازه ورکړی شي چې (د خپلو جنایاتو) معذرت وړاندې کړي.

[۳۷] په دغې ورځ کښې د تکذیب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک (او افسوس) دی (چې نن ورځ د معذرت او توبې په غم کښې نه دی).

[۳۸] دغه ورځ د فیصلې ورځ ده.

(ای تکذیب کوونکو!) مونږ به (پکښې) تاسو راغونډ کړو او پخواني خلک هم.

[۳۹] نو که ستاسو دپاره کوم پټ تدبیر (او چل) وي نو ما سره چل (او پټ تدبیر) وکړئ (چې ځانونو ته نجات ورکړئ).

[۴۰] په دغې ورځ کښې د تکذیب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک (او افسوس) دی (چې په دنیا کښې د نجات دپاره تدبیر نه کوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د څه انفسي او افاقي دلایلو څخه وروسته څه تهدیدي دلایلو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځي:

د قیامت په ورځ به د کړو وړو د تصفیه کولو څخه وروسته لاندې کیفیات صورت ونیسي

۱ ـ کفارو ته به وویلی شي چې تاسو هغه شي ته په چټکۍ سره ورشئ په کوم باندې چې تاسو په دنیا کښې تکذیب خپل کړی وه او باور مو ورباندې نه کاوه.

یا په بل عبارت: تاسو د دوزخ داسې لوګیو او لوخړو ته ورشئ چې د سورو غوندې چتر به یې درباندې جوړ کړی وي او داسې به وي چې

الف: کله چې ذکرې شوې لوخړې اوچتې شي نو د دریوو څانګو درلودونکي به جوړېږي او هره یوه څانګه به یې بېل بېل لور ته خورېږي

ب: دغه د لوخړو او لوګیو سوری به څه یخوالی ونه لري چې ستاسو په درد دوا شي او نه به د اور د لمبو د څه تودوښې مخنیوی کولی شي، بلکې دا په خپل ذات کښې یو ډول تعذیب دی.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ کوم دوزخ ته چې کفار ورتېل وهلی کېږي هغه به د ډېر شدت د کبله شاوخوا داسې سپرغی ولي چې

الف: دغه سپرغی به هره یوه په غټوالي کښې د یوې دنګې ماڼۍ غوندې غټه او اوږده وي.

ب: دغه سپرغی به په ډېروالي کښې د زېړو اوښانو قطارونو ته ورته وي چې هرې خوا ته به یوه د بلې په تعقیب الوزي.

۲_ نو په دغې ورځ کښې د تکذیب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک او دائمي حسرت او افسوس دی چې د دوزخ څخه د نجات په لاره نه خي

۳_ ای پیغمبره! د قیامت ورځ داسې ورځ ده چې کفار به پکښې د سخت خجالت د کبله خبرې نه کوي او په چپه خوله به په غمونو او دردونو باندې اخته وي، او همدارنګه دوی ته به اجازه ورنه کړی شي چې د خپلو کفریاتو اعتذار وړاندې کړي او که بالفرض المحال اعتذار وړاندې کړي نو د قبول مقام ته به ونه شي رسولی.

۴_ نو په دغې ورځ کښې د تکذیب کوونکو دپاره معنوي هلاک او دائمي حسرت دی چې د دغې ورځې څخه په غفلت کښې پراته دي

۵_ په دغې ورځ کښې به کفارو ته وویلی شي چې

دغه ورځ د فیصلې ورځ ده چې په دې کښې به تولې شخړې په حقه سره فیصله کېږي، په دې ورځ کښې مونږ تاسو او ستاسو څخه په دنیا کښې رومبني خلک راغونډ کړي یاست چې هیڅوک پاتې نه دي، نو که بالفرض تاسو _ای کفارو!_ د خپل نجات دپاره د څه چل او پټ تدبیر درلودونکي یاست نو هغه به کار واچوئ او زما د امر په مقابل کښې ترې د سپر کار واخلئ. ایا تاسو نو زما د ارادې مخه نیولی شئ؟

۶_ نو په دغې ورځ کښې د تکذیب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک او دائمي حسرت او افسوس دی چې د الله ﷻ د رضامندۍ په لاره تلل نه کوي

## توضیحات

۱_ په دې مقام کښې لاندې وضاحتونه ضروري دي.

الف: په ﴿ ذِي ثَلَٰثِ شُعَبٍ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې د دوزخ شدیدې لوخړې به هوا کښې خورېږي او په درېو څانګو وېشلې کېږي. لکه څنګه چې په دنیا کښې غټه لوخړه او لوګی د پورته کېدلو څخه وروسته څانګې-څانګې جوړېږي

ب: په ﴿ إِنَّهَا تَرْمِي ﴾ کښې د "ها" ضمیر جهنم (دوزخ) ته راجع دی[۱] چې مقام ورباندې دلالت کوي.

ج: په ﴿ بِشَرَرٍ ﴾ کښې د "شرر" کلمه د "شررة" دپاره اسم جمعه ده چې د سپرغیو معنی ورکوي[۲].

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۶ ص۲۰۲

(۲) القاموس المحیط ج۲ ص۶۹۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: په ﴿ كَٱلْقَصْرِ ﴾ كښې د "قَصر" كلمه د ماڼۍ دپاره وضعه شوې ده چې جمعه يې "قُصُور" لكه "ظُرُوف" استعمالېږي.

هـ: په ﴿ كَأَنَّهُۥ ﴾ كښې د "هٗ" ضمير د "شَرَر" كلمې ته راجع دى[1] چې لفظًا مفرده ده.

و: په ﴿ جِمَٰلَتٌ صُفْرٌ ﴾ كښې د "جِمَالَة" كلمه د نرانو اوښانو هغې ګلې ته وضعه شوې ده په كومه كښې چې ښځې اوښې نه وي شاملې[2].

ز: د دوزخ د اور سپرغۍ دلته په لاندې دوه وو ډولونو سره تشبيه كړى شوې دي:

اول: په غټوالي كښې هره سپرغۍ د يوې دنګې ماڼۍ سره تشبيه كړى شوې ده.

دوهم: په ډېروالي كښې ټولې سپرغۍ د نرانو اوښانو د ګلې غوندې شمېرل شوي دي چې هرې خوا ته به قطارونه-قطارونه شيندلې كېږي.

## سوال جواب

۲ـ كه څوك وايي چې: د ﴿ هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ﴾ ايت مضمون دا دى چې د قيامت په ورځ به كفار خبرې نه كوي، حال دا چې په ډېرو ايتونو كښې د هغوى د خولو څخه خبرې راحكايت شوې دي، د مثال په توګه: ﴿ وَقَالُواْ لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا ﴾ [حم السجدة:۲۱] يعنې او كفار به خپلو پوستكو او اندامونو ته وايي چې: تاسو ولې په مونږ باندې شهادت وركړ؟

مونږ وايو چې: كه څه هم د دغه سوال دپاره علماوو كرامو متعدد جوابونه ليكلي دي[3] او څه وضاحت يې د [النساء:۴۲] ايت لاندې هم تېر شوى دى مګر عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په جواب كښې فرمايلي دي چې: «مَرَّةً يَنْطِقُونَ وَمَرَّةً يُخْتَمُ عَلَيْهِمْ»[4] يعنې د قيامت ورځ اوږده ورځ ده چې كفار به پكښې يو ځل خبرې كوي او بل ځل به ورباندې مهرونه ولګول شي (كله به ناطق وي او كله به ساكت وي).

﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى ظِلَٰلٍ وَعُيُونٍ ﴿٤١﴾ وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٤٢﴾ كُلُواْ وَٱشْرَبُواْ هَنِيٓـًٔۢا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٤٤﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٥﴾ ﴾

[۴۱] يقينًا متقيان (مؤمنان) به (په اخروي ژوند كښې) په يخو سورو او چينو كښې وي.

[۴۲] او هم په ډېرو ميوجاتو كښې (البته) د هغو ډولونو څخه كوم چې د دوى زړونه يې غواړي.

[۴۳] (متقيانو ته به وويلى شي چې): د هغو كړو وړو په سبب چې تاسو (په دنيا كښې) وې چې كول به مو (د نعمتونو څخه) وخورئ او وڅښئ، مبارك خوړل (او مبارك څښل).

(۱) روح المعاني ج۲۹ ص۱۷۶
(۲) لسان العرب ج۴ ص۱۲۵
(۳) تفسير القاسمي ج۱۷ ص۲۳
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۷۳۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۴] يقيناً مونږ دغه ډول جزا (د هرې زمانې) نېکانو ته ورکوو (څنګه چې وړاندې ذکره شوه).

[۴۵] په دغې ورځ کښې د تکذيب کوونکو (کفارو) دپاره معنوي هلاک (حسرت او افسوس) دی.

## ارتباط

په دې ايتونو کښې د کفارو د اخروي حال په تعقيب د پرتلې په توګه د متقيانو (مؤمنانو) څه اخروي حالاتو ته اشاره شوې ده.

﴿ كُلُوا۟ وَتَمَتَّعُوا۟ قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجْرِمُونَ ۝ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ۝ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱرْكَعُوا۟ لَا يَرْكَعُونَ ۝ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ۝ فَبِأَىِّ حَدِيثٍۭ بَعْدَهُۥ يُؤْمِنُونَ ۝ ﴾

[۴۶] (ای مشرکانو!) دنياوي نعمتونه وخورئ او د لږ وخته پورې ترې استفاده وکړئ يقيناً تاسو مجرمان ياست (او د آخرت د نعمتونو څخه بې برخې ياست).

[۴۷] په دغې ورځ (قيامت) کښې د تکذيب کوونکو دپاره معنوي هلاک (او افسوس) دی (چې آخرت يې هېر کړی دی).

[۴۸] او کله چې کفارو (مشرکانو) ته وويلی شي چې رکوع (په اخلاص عبادت) وکړئ نو دوی رکوع (په اخلاص عبادت) نه کوي (خپلو شرکياتو ته ادامه ورکوي).

[۴۹] په دغې ورځ کښې د تکذيب کوونکو دپاره معنوي هلاک (او افسوس) دی (چې د الله ﷻ په توحيد عقيده نه کوي).

[۵۰] (ای پيغمبره! کله چې کفار په قرآن کريم باندې ايمان رانه وړي) نو د قرآن کريم څخه وروسته (په غير) به په کومه خبره ايمان راوړي؟ (ايا د قرآن کريم څخه په غير بله کوره خبره شته؟ ايا د بل کتاب د نزول احتمال شته؟).

## ارتباط

د دلايلو او اخروي حالاتو د بيان څخه وروسته په دې ايتونو کښې مشرکانو او کفارو ته اخطار او تهديد ورکړی شوی دی چې په خپلې تکلارې باندې بيا نظر وکړئ او د دنياوي نعمتونو په سبب د اخروي نعمتونو څخه په غفلت کښې مه واقع کېږئ.

په همدې ځای د "المرسلات" سورت ترجمه او تفسير د الله ﷻ په توفيق پای ته ورسېد، چې ورسره نهه ويشتمه سپاره هم پای ته ورسېده، والحمد لله ﷻ وله الشکر والمنة.

اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا

۱۴۲۵/۱۱/۳ هـ ق - ۱۳۸۳/۹/۲۵ هـ ش

# د دولسم ټوک محتویات

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د مشرکانو مشهور بوتان ............ ۶
نحوي تحلیلونه ............ ۷
ماثور تفسیر ............ ۸
ماثور تفسیر ............ ۱۱
څو نکات ............ ۱۱
تزکیه ............ ۱۲
د مؤمن ورور تزکیه کول ............ ۱۳
په اشارې سره تزکیه ............ ۱۴
سوال جواب ............ ۱۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۱۶
یادونه ............ ۱۷
"کُدْیَة" څه معنی؟ ............ ۲۱
سوالونه او جوابونه ............ ۲۲
د دوه وو لغاتو معناوي ............ ۲۴
د "النَّذِیرُ الْعُرْیَانُ" معنی ............ ۲۷
د "أزف" معنی ............ ۲۷
"کاشِفَة" څه معنی؟ ............ ۲۷
د الله ﷻ له داره بکاء (ژړا) ............ ۲۸
د "سُمُود" معنی ............ ۲۸

**القمر (٥٤)**

سریزه ............ ۳۱
د "شق القمر" په هکله معلومات ............ ۳۴
د څو لغاتو معناوي ............ ۳۷
یو نحوي تحلیل ............ ۳۸
هېر مو نه شي ............ ۳۸
سوال جواب ............ ۴۱
"اِنْهِمَار" څه معنی؟ ............ ۴۲
د "دِسَار" معنی ............ ۴۲
یو نحوي تحلیل ............ ۴۳
یو صرفي تحلیل ............ ۴۳
سوال جواب ............ ۴۳
د "نَحِس" معنی ............ ۴۸
د "سُعُر" معنی ............ ۴۸
د "اَشِر" معنی ............ ۴۸
په یاد ولرئ ............ ۴۹
"لفاطي" څه ته وایي؟ ............ ۴۹
"مُحْتَظِر" څه صیغه ده؟ ............ ۴۹
د "حَاصِب" معنی ............ ۵۲
"طَمَس" څه معنی؟ ............ ۵۲
سوال جواب ............ ۵۲
د نبوت یو بل دلیل ............ ۵۴
"دَاهِیَة" څه معنی؟ ............ ۵۴
د "سَقَر" معنی ............ ۵۶
څو نکات ............ ۵۷
"مَقْعَدِ صِدْقٍ" د کوم مقام نوم دی؟ ............ ۵۷

**الرحمن (٥٥)**

سریزه ............ ۶۰
یو نحوي تحلیل ............ ۶۳
"بَیَان" څه معنی؟ ............ ۶۴
د "حُسْبَان" معنی ............ ۶۴
دوه ډوله تفسیر ............ ۶۴
د "میزان" معنی ............ ۶۵
د "أنام" معنی ............ ۶۶
د څو لغاتو معناوي ............ ۶۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۶۶
د پیریانو جواب ............ ۶۷
سوال جواب ............ ۷۱
دوه مشرقونه او دوه مغربونه ............ ۷۱
"مَرَجَ" څه معنی؟ ............ ۷۱
د "لُؤْلُؤ" او "مَرْجَان" معناوي ............ ۷۲
هېر مو نه شي ............ ۷۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د "نشأ" معنی ..................... ۷۲
يادونې ..................... ۷۳
مجاهد علیه‌الرحمة څه وايي؟ ..................... ۷۴
څو نکات ..................... ۷۶
دوه ډوله تفسير ..................... ۷۷
د "شُوَاظ" او "نُحَاس" معناوې ..................... ۷۸
سوال جواب ..................... ۷۸
هېر مو نه شي ..................... ۷۸
څو نکات ..................... ۸۰
يو نحوي تحقيق ..................... ۸۱
د کفارو د پېژاندلو نښې ..................... ۸۱
يادونې ..................... ۸۱
د "مَقَام" د کلمې تحليل ..................... ۸۴
ماثور تفسير ..................... ۸۵
د شرابو دوه چينې ..................... ۸۶
د ميوجاتو ډولونه ..................... ۸۷
"جَنَا" څه معنی؟ ..................... ۸۷
"طَمث" څه معنی؟ ..................... ۸۷
ماثور تفسير ..................... ۸۸
متقيان پيريان هم جنت ته داخلېږي ..................... ۸۸
د "دُون" معنی ..................... ۹۱
"دُهْمَة" څه معنی؟ ..................... ۹۱
د "نضخ" معنی ..................... ۹۱
يادونه ..................... ۹۱
جنتي خيمې ..................... ۹۲
څو ټکي ..................... ۹۳
د جنتونو په باب څه معلومات ..................... ۹۴
د الله ﷻ اجلال ..................... ۹۵

**الواقعة (۵۶)**

سريزه ..................... ۹۷
څو نکات ..................... ۹۹
دوه ډوله تفسير ..................... ۱۰۰
د "رَجّ" او "بَسّ" معناوې ..................... ۱۰۰
څو نکات ..................... ۱۰۰
د "ثُلة" معنی ..................... ۱۰۴
سوال جواب ..................... ۱۰۵
"وَضْن" څه معنی؟ ..................... ۱۰۵
يادونې ..................... ۱۰۶
د "إبْرِيق" معنی ..................... ۱۰۶
د جنت مرغان ..................... ۱۰۶
يو اعرابي تحليل ..................... ۱۰۷
د څو لغاتو معناوې ..................... ۱۰۹
سوالونه او جوابونه ..................... ۱۱۰
د "يَحْمُوم" معنی ..................... ۱۱۴
"حِنْث" څه معنی؟ ..................... ۱۱۴
دلته د "إلَى" توری د "ل" معنی ورکوي ..................... ۱۱۶
سوال جواب ..................... ۱۱۶
"أهْيَم" څه معنی؟ ..................... ۱۱۶
د "لَوْلاَ" معنی ..................... ۱۲۰
غوره تفسير ..................... ۱۲۱
"تَفَكُّه" څه معنی؟ ..................... ۱۲۱
سوال جواب ..................... ۱۲۲
د "إيْرَاء" معنی ..................... ۱۲۲
د دوارو نسبت ..................... ۱۲۲
د "قِوَاء" معنی ..................... ۱۲۲
څو مطالب ..................... ۱۲۵
سوال جواب ..................... ۱۲۶
دوه لغتونه ..................... ۱۲۷
سوال جواب ..................... ۱۲۸
يو نحوي او تفسيري تحليل ..................... ۱۳۱
د "رَوْح" او "رَيْحَان" معناوې ..................... ۱۳۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هېر مو نه شي ...... ۱۳۳
دوه حديثونه ...... ۱۳۳

## الحديد (۵۷)

سريزه ...... ۱۳۵
د الله ﷻ څلور نومونه ...... ۱۳۸
سوال جواب ...... ۱۳۹
سوال جواب ...... ۱۴۲
د "إسخلاف" معنی ...... ۱۴۲
سوال جواب ...... ۱۴۳
دلته کومه فتحه مراده ده؟ ...... ۱۴۳
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۴۴
صحابه کرامو ﷺ ته بشارت ...... ۱۴۵
يو نحوي تحليل ...... ۱۴۵
سوالونه او جوابونه ...... ۱۴۹
دلته د "وراءکم" د کلمې تفسير ...... ۱۵۰
د "سُور" د کلمې تفسير ...... ۱۵۰
"فِدْيَة" څه معنی؟ ...... ۱۵۱
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۵۱
څو مطالب ...... ۱۵۳
سوال جواب ...... ۱۵۴
د زنګنو زړونو تصفيه ...... ۱۵۵
سوال جواب ...... ۱۵۵
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۵۶
جنت ته وروخغلئ ...... ۱۵۹
سوال جواب ...... ۱۶۲
سوالونه او جوابونه ...... ۱۶۳
سوال جواب ...... ۱۶۶
څو نکات ...... ۱۶۶
هېر مو نه شي ...... ۱۶۸
دوه دوله تفسير ...... ۱۶۹
تبصره ...... ۱۷
ايا دلته د "لا" توری زائد دی؟ ...... ۱۷۰

## المجادلة (۵۸)

سريزه ...... ۱۷۳
څو مطالب ...... ۱۷۷
"ظِهَار" څه معنی؟ ...... ۱۷۸
د "عَوْد" معنی ...... ۱۷۹
"کَبْت" څه معنی؟ ...... ۱۸۱
سوال جواب ...... ۱۸۱
هېر مو نه شي ...... ۱۸۲
ماثور تفسير ...... ۱۸۵
شيطاني جرګه ...... ۱۸۶
څو نکات ...... ۱۸۹
د مجالسو اداب ...... ۱۹۱
سوالونه او جوابونه ...... ۱۹۲
ماثور تفسير ...... ۱۹۶
دروغين سوګندونه ...... ۱۹۶
"حَوْذ" څه معنی؟ ...... ۱۹۷
د خپلوانو کفارو سره د عدم محبت مثالونه ۱۹۹
د "کِتَابَة" او "رُوح" معناوي ...... ۲۰۰

## الحشر (۵۹)

سريزه ...... ۲۰۲
د "أوّلِ الْحَشْر" معنی ...... ۲۰۵
عجيب ډار او رعب ...... ۲۰۶
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۲۰۶
د عبرت او اعتبار معنی ...... ۲۰۷
سوال جواب ...... ۲۰۷
څو وضاحتونه ...... ۲۰۹
څو نکات ...... ۲۱۰
په "فيء" کښې ټول فقيران مؤمنان برخه لري ۲۱۵
هېر مو نه شي ...... ۲۱۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"حاجة" څه معنى؟ ...... ۲۱۶
د "خصاصة" معنى ...... ۲۱۶
"شح" څه معنى؟ ...... ۲۱۸
سوال جواب ...... ۲۱۹
څو مهم مطالب ...... ۲۲۳
سوال جواب ...... ۲۲۴
دلته د انسان څخه څوک مراد دى؟ ...... ۲۲۵
ايا شيطان د الله ﷻ څخه ډارېږي؟ ...... ۲۲۶
د تاكيد څخه تاسيس غوره دى ...... ۲۲۸
د خپل خان سره محاسبه ...... ۲۲۸
همدا مضمون په بل ايت کښې ...... ۲۲۸
سوال جواب ...... ۲۲۹
د الله ﷻ عالي صفات ...... ۲۳۱
سوال جواب ...... ۲۳۱
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۲۳۲
"مؤمن" څه معنى؟ ...... ۲۳۲
هېر مو نه شي ...... ۲۳۲
سوال جواب ...... ۲۳۳

الممتحنة (٦٠)

سريزه ...... ۲۳۵
سوال جواب ...... ۲۳۹
سوالونه او جوابونه ...... ۲۴۰
"ثقف" څه معنى؟ ...... ۲۴۱
څو مطالب ...... ۲۴۴
څو پوښتنې او د هغو جوابونه ...... ۲۴۶
د حديبيې د صلحې د يوه شرط تفصيل ...... ۲۵۰
سوال جواب ...... ۲۵۱
سوال جواب ...... ۲۵۱
څو نكات ...... ۲۵۲
هېر مو نه شي ...... ۲۵۳
څو نكات ...... ۲۵۶
سوالونه او جوابونه ...... ۲۵۹

الصف (٦١)

سريزه ...... ۲۶۲
سوال جواب ...... ۲۶۴
د ايتونو ارشاد ...... ۲۶۵
"زِيغ" څه معنى؟ ...... ۲۶۵
"زَيغ" څه معنى؟ ...... ۲۶۷
د عيسى ﷺ استدلال ...... ۲۶۸
د نبي كريم ﷺ نومونه ...... ۲۶۸
په پخوانيو كتابو كښې د نبي كريم ﷺ ذكر ...... ۲۶۹
هېر مو نه شي ...... ۲۶۹
د اسلام ظهور ...... ۲۷۱
نحوي تحليلونه ...... ۲۷۳
ماثور وضاحتونه ...... ۲۷۵
سوال جواب ...... ۲۷۶

الجمعة (٦٢)

سريزه ...... ۲۷۸
د "أمي" معنى ...... ۲۸۱
بعثت ته ضرورت ...... ۲۸۱
يو نحوي تحليل ...... ۲۸۱
سوال جواب ...... ۲۸۲
څو نكات ...... ۲۸۵
سوال جواب ...... ۲۸۶
د جمعې د لمانځه په ارتباط څه معلومات ...... ۲۸۸
سوالونه او جوابونه ...... ۲۹۰

المنافقون (٦٣)

سريزه ...... ۲۹۴
سوال جواب ...... ۲۹۷
په خبرو او ډېرو مه غولېږئ ...... ۲۹۸
اقتصادي وسله ...... ۳۰۲
څو نكات ...... ۳۰۲
يو نحوي تحليل ...... ۳۰۵
د خنكدن د وخت حسرت ...... ۳۰۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## التغابن (٦٤)


سریزه ........ ۳۰۸
سوال جواب ........ ۳۱۱
د تقدیر مسئله ........ ۳۱۱
د "تَغَابُن" ورځ ........ ۳۱۵
د لويې گټې ورځ ........ ۳۱۶
سوال جواب ........ ۳۱۶
د تقدیر مسئله ........ ۳۱۸
ځينې اولادونه او مېرمنې دښمنان دي ........ ۳۲۱
نعمت او ازموينه ........ ۳۲۱
د خپلې وسې په اندازه تکليف ........ ۳۲۲
يو نحوي تحليل ........ ۳۲۳
الله ﷻ ته قرض ورکول څه معنی؟ ........ ۳۲۳


## الطلاق (٦٥)


سریزه ........ ۳۲۵
نبي کريم ﷺ ته د خطاب ډولونه ........ ۳۲۹
سوال جواب ........ ۳۳۰
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۳۰
ماثور تفسير ........ ۳۳۱
د اميدوارو زنانه وو عدت ........ ۳۳۵
سوال جواب ........ ۳۳۵
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۳۶
يو نحوي تحليل ........ ۳۳۹
د ځمکو عدد هم اوه دی ........ ۳۳۹


## التحريم (٦٦)


سریزه ........ ۳۴۲
دلته د "تَحْرِيم" معنی ........ ۳۴۶
د ايتونو ارشاد ........ ۳۴۷
سوالونه او جوابونه ........ ۳۴۷
د اولادونو په ارتباط احاديث ........ ۳۵۱
د "نَصُوح" معنی ........ ۳۵۳
د "خِيَانَة" معنی ........ ۳۵۵
د دې مثال ارشاد ........ ۳۵۶
هېر مو نه شي ........ ۳۵۶
دلته د "کلمات" تفسير ........ ۳۵۶
کاملې ښځې څوک دي ........ ۳۵۷


## الملك (٦٧)


سریزه ........ ۳۵۹
سوال جواب ........ ۳۶۲
يو اعرابي تحليل ........ ۳۶۲
سوال جواب ........ ۳۶۳
د "شَهِيق" معنی ........ ۳۶۶
"سُحْق" څه معنی؟ ........ ۳۶۶
د خپل رب ﷻ څخه ډار ........ ۳۶۷
يو اعرابي تحليل ........ ۳۶۷
څو نکات ........ ۳۷۰
د ايت شريف ارشاد ........ ۳۷۰
سوال جواب ........ ۳۷۱
"مور" څه معنی؟ ........ ۳۷۲
د "حاصب" معنی ........ ۳۷۲
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۷۲
څو نکات ........ ۳۷۵
سوال جواب ........ ۳۷۶
يو صرفي تحليل ........ ۳۷۶
څو نکات ........ ۳۷۸


## القلم (٦٨)


سریزه ........ ۳۸۱
څو نکات ........ ۳۸۴
سوال جواب ........ ۳۸۷
د دغه لقب يو نظير ........ ۳۸۷
"مَفْتُون" څه معنی؟ ........ ۳۸۸
د ايت شريف ارشاد ........ ۳۸۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د څو لغاتو معناوې ....... ۳۸۸
سوال جواب ....... ۳۹۰
یو نحوي تحلیل ....... ۳۹۰
سوال جواب ....... ۳۹۱
د ایتونو مشهور مصداق ....... ۳۹۱
"حُزطُوم" څه معنی؟ ....... ۳۹۲
"اصحابُ الجنّة" څوک وه؟ ....... ۳۹۷
د "صرام" او "حَزم" معناوې ....... ۳۹۸
"اِستِثناء" څه معنی؟ ....... ۳۹۸
یوه مسئله ....... ۳۹۸
"حَرد" څه معنی؟ ....... ۳۹۹
سوالونه او جوابونه ....... ۳۹۹
د ایتونو ارشاد ....... ۴۰۰
د مشرکانو د ذکرې شوې ادعاء رد ....... ۴۰۴
یو نحوي تحلیل ....... ۴۰۴
دوه احتماله تفسیر ....... ۴۰۵
"ساق" څه معنی؟ ....... ۴۰۵
سوال جواب ....... ۴۰۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۴۰۶
د "اِستِدْراج" معنی ....... ۴۰۹
هیر مو نه شي ....... ۴۱۰
"مکظوم" څه معنی؟ ....... ۴۱۰
دوه ډوله تفسیر ....... ۴۱۱

الحاقة (۶۹)

سریزه ....... ۴۱۴
د قیامت د ورځې دوه نومونه ....... ۴۱۷
څو مطالب ....... ۴۱۷
"حسم" څه معنی؟ ....... ۴۱۸
تبصره ....... ۴۱۹
سوال جواب ....... ۴۱۹
دلته د قیامت کومه یوه شپیلۍ مراده ده؟ ....... ۴۲۱
څو مطالب ....... ۴۲۲
د اخروي حساب مراحل ....... ۴۲۳
سوال جواب ....... ۴۲۴
د "هاؤم" کلمه څه صیغه ده؟ ....... ۴۲۷
سوال جواب ....... ۴۲۷
د سکتې "ه" ځاني ....... ۴۲۷
سوال جواب ....... ۴۲۸
"قطف" څه معنی؟ ....... ۴۲۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۴۲۸
د چا په ګز؟ ....... ۴۲۹
"غِسلین" څه معنی؟ ....... ۴۲۹
سوالونه او جوابونه ....... ۴۲۹
څو پوښتنې او د هغو جوابونه ....... ۴۳۳
هیر مو نه شي ....... ۴۳۵

المعارج (۷۰)

سریزه ....... ۴۳۷
سوالونه او جوابونه ....... ۴۴۰
"معارج" څه معنی؟ ....... ۴۴۱
دا ورځ څومره اوږده ده؟ ....... ۴۴۲
جمیل صبر څه معنی؟ ....... ۴۴۳
د "مُهل" او "عهن" معناوې ....... ۴۴۳
دوه ضمیرونه او دوه لغات ....... ۴۴۳
د "هَلُوع" معنی ....... ۴۴۷
یو نحوي تحلیل ....... ۴۴۷
سوال جواب ....... ۴۴۷
په یاد ولرئ ....... ۴۴۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ....... ۴۴۸
"عِزَة" څه معنی؟ ....... ۴۵۱
سوال جواب ....... ۴۵۱
دوه ډوله تفسیر ....... ۴۵۲
تبصره ....... ۴۵۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




'إيقاض' څه معنی؟ ۴۵۳
دري جلتی او دري غرضونه ۴۵۳

## نوح (۷۱)

سریزه ۴۵۵
سوال جواب ۴۵۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۵۸
دوه ډوله تفسیر ۴۶۲
'طَوْر' څه معنی؟ ۴۶۳
د 'فَجّ' معنی ۴۶۳
د کفارو د ګمراه کولو چلونه ۴۶۵
سوالونه او جوابونه ۴۶۶
یو صرفي تحلیل ۴۶۸
سوال جواب ۴۶۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۶۹
زما کور یعني څه؟ ۴۷۰
'تَبار' څه معنی؟ ۴۷۰

## الجن (۷۲)

سریزه ۴۷۲
یو نحوي تحلیل ۴۷۸
سوال جواب ۴۷۸
د 'جَدّ' او 'شَطَط' معناوي ۴۷۹
څو نکات ۴۷۹
څو مطالب ۴۸۴
جوماتونه په الله ﷻ پورې اختصاص لري ۴۸۴
دوه ډوله تفسیر ۴۸۵
تبصره ۴۸۵
هېر مو نه شي ۴۸۶
سوال جواب ۴۸۹
څو نکات ۴۹۰
سوال جواب ۴۹۰
'سُلوک' څه معنی؟ ۴۹۱
یو تفسیري تحلیل ۴۹۱

## المزمل (۷۳)

سریزه ۴۹۲
د 'مُزَّمِّل' معنی ۴۹۷
یو تفسیري تحلیل ۴۹۷
'ترتیل' څه معنی؟ ۴۹۸
قرآن کریم دروند کتاب ۴۹۹
تبصره ۵۰۰
'نَشء' څه معنی؟ ۵۰۰
د 'تَبَتُّل' معنی ۵۰۰
د 'نَکَل' معنی ۵۰۲
'غُصَّة' څه معنی؟ ۵۰۴
د 'کثیب' او 'مهیل' معناوي ۵۰۵
'وبیل' څه معنی؟ ۵۰۵
یو اعرابي تحلیل ۵۰۵
څو نکات ۵۰۸
د قرآن کریم یوه معجزه ۵۱۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۵۱۲

## المدثر (۷۴)

سریزه ۵۱۴
متعدد تفسیرونه ۵۱۷
د 'ناقُور' معنی ۵۱۸
یو نحوي تحلیل ۵۱۸
یو نحوي تحلیل ۵۲۲
د یوې خبرې رد ۵۲۲
'صَعُود' څه معنی؟ ۵۲۳
د 'عَبُوس' او 'بَسَر' معنی ۵۲۳
'سَقَر' څه معنی؟ ۵۲۳
د 'لَوح' معنی ۵۲۴
سوال جواب ۵۲۴
د 'اصحاب النار' معنی ۵۲۷
د اهل الکتابو یقین حاصل شو ۵۲۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا عجيبه خبره دروغ ده ........................ ۵۲۸
سوال جواب ........................ ۵۳۳
ايمان او شرعي احكام ........................ ۵۳۳
"قَسْوَرَة" څه معنی؟ ........................ ۵۳۴
ماثور تفسير ........................ ۵۳۴

## القيامة (۷۵)

سريزه ........................ ۵۳۶
څو وضاحتونه ........................ ۵۳۹
"بَنَان" څه معنی؟ ........................ ۵۳۹
د "بَرِق" يا "بُرُوق" معنی ........................ ۵۴۰
د لمر او سپوږمۍ اجتماع ........................ ۵۴۰
د "بَصِيرَة" او "مَعَاذِير" معناوي ........................ ۵۴۱
نبي كريم ﷺ ته د الله ﷻ د پلوه درې وعدې ۵۴۲
په جنت كښې د الله ﷻ ديدار حق دی ........................ ۵۴۵
سوال جواب ........................ ۵۴۵
"تَرْقُوَة" څه معنی؟ ........................ ۵۴۵
د "سَاق" معنی ........................ ۵۴۶
د "يَتَمَطَّى" د كلمې تحليل ........................ ۵۴۸
څلور كرته د "أَوْلَى" كلمه ........................ ۵۴۹
"سُدًى" څه معنی؟ ........................ ۵۴۹
د څو لغاتو معناوې ........................ ۵۵۰
دلته جواب په كار دی ........................ ۵۵۰

## الدهر (۷٦)

سريزه ........................ ۵۵۲
څو نكات ........................ ۵۵۳
سوال جواب ........................ ۵۵۴
د شاكرانو او كفور مصداقونه ........................ ۵۵۴
دوه ډوله تفسير ........................ ۵۵۹
د "قَمْطَرِير" معنی ........................ ۵۵۹
"زَمْهَرِير" څه معنی؟ ........................ ۵۶۰
يو اعرابي تحليل ........................ ۵۶۰
يوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۵۶۰
"سَلْسَبِيل" څه معنی؟ ........................ ۵۶۱
لويه پاچاهي ........................ ۵۶۱
يو اعرابي تحليل ........................ ۵۶۱
درې ډوله شراب ........................ ۵۶۲
سوال جواب ........................ ۵۶۴
"أَسْر" څه معنی؟ ........................ ۵۶۵
هېر مو نه شي ........................ ۵۶۶

## المرسلات (۷۷)

سريزه ........................ ۵۶۸
څو توضيحات ........................ ۵۶۹
"تَوْقِيت" څه معنی؟ ........................ ۵۷۳
سوال جواب ........................ ۵۷۴
ماثور تفسير ........................ ۵۷۴
د څو لغاتو معناوې ........................ ۵۷۵
څو وضاحتونه ........................ ۵۷۷
سوال جواب ........................ ۵۷۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

